ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ


تعلیم الکتاب

آسانہ تکی پہ تکی او روانہ ترجمہ



مولانا مفتی محمد ایاز صاحب


بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
هُوَاللّٰهُ
الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ
الرَّحْمٰنُ
الرَّحِيْمُ
الْمَلِكُ
الْقُدُّوْسُ
السَّلَامُ
الْمُؤْمِنُ
الْمُهَيْمِنُ
الْعَزِيْزُ
الْجَبَّارُ
الْمُتَكَبِّرُ
الْخَالِقُ
الْمُصَوِّرُ
الْغَفَّارُ
الْقَهَّارُ
الْوَهَّابُ
الرَّزَّاقُ
الْفَتَّاحُ
الْعَلِيْمُ
الْقَابِضُ
الْبَاسِطُ
الْخَافِضُ
الرَّافِعُ
الْمُعِزُّ
الْمُذِلُّ
السَّمِيْعُ
الْبَصِيْرُ
الْحَكَمُ
الْعَدْلُ
اللَّطِيْفُ
الْخَبِيْرُ
الْحَلِيْمُ
الْعَظِيْمُ
الْغَفُوْرُ
الشَّكُوْرُ
الْعَلِيُّ
الْكَبِيْرُ
الْحَفِيْظُ
الْمُقِيْتُ
الْحَسِيْبُ
الْجَلِيْلُ
الْكَرِيْمُ
الرَّقِيْبُ
الْمُجِيْبُ
الْوَاسِعُ
الْحَكِيْمُ
الْوَدُوْدُ
الْمَجِيْدُ


لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ
الْبَاعِثُ الشَّهِيْدُ الْحَقُّ الْوَكِيْلُ الْقَوِيُّ
الْمَتِيْنُ الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ الْمُحْصِيُ
الْمُبْدِئُ الْمُعِيْدُ الْمُحْيِ الْمُمِيْتُ الْحَيُّ
الْوَاجِدُ الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الْاَحَدُ
الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ
الْاَوَّلُ الْاٰخِرُ الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ
الْوَالِيْ الْمُتَعَالِيْ الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ
الْعَفُوُّ الرَّءُوْفُ مَالِكُ الْمُلْكِ ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ
الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِيْ الْمَانِعُ
الضَّآرُّ النَّافِعُ النُّوْرُ الْهَادِيْ
الْبَدِيْعُ الْبَاقِيْ الْوَارِثُ الرَّشِيْدُ الصَّبُوْرُ

سریزه

قران پاك د انسان د رشد و هدایت د پاره نسخهٔ کیمیا ده. د امت د اولو او اخرو خلقو د هدایت ضامن کتاب دے. انسانیت عموماً او امت مسلمه خصوصاً به د دے په ذریعه دنیا او اخرت کښ نجات موی او د گمراهی نه به بچ کیږی.

د دے اهمیت پیش نظر علماء کرامو او دَ امت فکر او درد لرونکو همیشه قران پاك ته خپله هم توجه کړے ده او امت ئے هم دے طرف ته متوجه کړے دے.

خصوصاً دَیر صغیر خلق چونکه عجم دی او قران پاك په عربی کښے دے نو د دے آسمانی هدایت نامے نه د استفادے په خاطر هر دور کښ علماو د دے په مختلفو ژبو مثلاً فارسی، اُردو، پښتو کښ ترجمے کړے دی.

په پښتو ژبه کښ "تعلیم الکتاب" نومے ټکی په ټکي او روانه ترجمه هم د دغے سلسلے یوه کړے ده او د رجوع الی القرآن په تحریك کښ خپله حصه اچول دی.

د دَې ترجمے څه دا خصوصیات دی چه:

★ دے "تعلیم الکتاب" کښے دوه ترجمے لیکلی شوی دی یو لفظی ټکي په ټکي او دویمه محاوره یعنی روانه ترجمه. لفظه ترجمه د یادولو د پاره او محاوره د فهم او پوهي د پاره ده.

★ په لفظی ترجمه کښ د تحت اللفظ ترجمے خیال ساتلو سره سره د عربی گرامر، ترکیب او ضمائرو پوره خیال ساتلې شوې دې.

★په "تعلیم الکتاب" ترجمه کښے د پښتو اسانه لهجه یعنی یوسفزئ لهجه استعمال کړے شوے ده ،کومه چه اصل تحریری او د میدانی علاقو صافه لهجه ده.

★ دا ترجمه اصل د حضرت مولانا مفتي محمد ایاز درانی صاحب ترجمه ده چه د دې تصحیح او نظر ثانی د جامعه تبلیغ القرآن یوسف آباد مدرس مولانا عبد الباری راشد او دوباره د عربیت او د ترجمے نظر ثانی د جامعه تبلیغ القرآن مدرس مولانا جعفر خان صاحب په ډیر عرق ریزے سره کړے ده.

گویا که دا ترجمه د دې علماؤ یو مشترکه سعی ده. او دَ دے په تیارے تقریباً دَ درېو کالو طویله زمانه صرف کړے شوے ده.

الله رب العزت دے دا سعی خپل دربار کښ قبول کړی او د خلقو د استفادے د پاره دے فائده مند کړی او دے ته دے الله رب العزت قبول عام نصیب کړی. او الله تعالیٰ دے مصنف،مرتب او مصححین حضراتو ته دنیا او آخرت کښے دَ دے ښه بدلے ورکړي.

و السلام دائریکټر العلم پبلیکیشنز قصه خوانی پشاور

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ

تعلیم الکتاب

آسانه ټکی په ټکی او روانه ترجمه

تالیف

مولانا مفتی محمد ایاز صاحب

ترتیب و تصحیح

مولانا عبدالباری صاحب　　مولانا جعفر خان صاحب

مدرسین جامعه تبلیغ القرآن پشاور

العلم پبلیکیشنز

عبدالغنی پلازہ محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور شہر

091-2580325 - 2590315

0333-4532836 / 0332-9241690

آیاتها[۷]	سورة الفاتحة مكّيّة	رکوعها[۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴿۱﴾ الرَّحْمٰنِ

ټول صفتونه | خاص د الله دپاره دی | چه پالونکے | د ټولو مخلوقاتو دے | ډیر مهربان دے

دخدائیتوب ټول صفتونه (خاص) دهغه الله دپاره دی چه د ټولو مخلوقاتو پالونکے دے عام مهربان دے (په دنیا کښ)

الرَّحِيْمِ ۙ﴿۲﴾ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ؕ﴿۳﴾ اِيَّاكَ

زیات رحم کونکے دے | واکدار دے | د ورځے | د بدلے | خاص ستا

او خاص مهربان دے (په آخرت کښ) د جزاء د ورځے مالک دے۔ اے الله مونږ خاص ستا

نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ؕ﴿۴﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ

عبادت کوو مونږ | او خاص ستانه | مدد غواړو مونږ | اوښایه مونږ ته | لار

عبادت کوو (د ځان کوو) او خاص ستانه مدد غواړو (د ځان نه غواړو) (اے الله) مونږ په نیغه لاره باندے

الْمُسْتَقِيْمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ

نیغه | لار | د هغه خلقو | چه تا انعام کړے دے

کلک اوساته یعنی د هغه خلقو په لار چه تا په هغوی (خپل خاص) انعام

عَلَيْهِمْ ۙ﴿۵﴾ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ

په هغوی باندے | (یعنی چه) نه غضب شوے دے | په هغوی باندے

کړے دے چه غضب پرے هم نه دے شوے

وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴿۷﴾ ع

اونه | گمراهان دی |

او نه هغوی گمراه دی.

آياتها [٢٨٦]	سورة البقرة مدنية	ركوعاتها [٤٠]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم ـ

الٓمّٓ ۚ ① ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۚ

الم | دا | کتاب دے | هيڅ شک نشته | په دے کښ

الله پوهيږی په معنی ددے حروفو، دا (قرآن) يو داسے کامل کتاب دے چه هيڅ معمولی شک هم پکښ نشته

هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۙ ② الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

لاره ښودونکے دے | متقيانو ته | هغه کسانو ته | چه ايمان راوړی

دا د هغه متقيانو خلقو د پاره عظيم الشان هدايت دے چه هغوی په نادیده څيزونو باندے

بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا

په پټو څيزونو باندے | او قائموی | مونځ | او (بعضے د) هغه څه نه

ايمان راوړی او د مانځه پابندی کوی او مونږ چه ورله څه ورکړی دی د هغے نه

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۙ ③ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

چه مونږ ورکړی دی دوی ته | خرچ کوی ئے | او هغه کسانو ته (لاړ شائی) | چه ايمان راوړی

څه حصه د الله په لار کښ خرچ کوی او دا هغه خلق دی چه کوم کتاب

بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ

په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | تاته | او په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی

تاته نازل شوے دے او چه کوم کتابونه تانه مخکښے نازل شوی دی

مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ؕ ④

ستانه مخکښے | او په آخرت باندے | دوی | (پوره) يقين ساتی |

په هغے تولو دوی ايمان راوړی او د آخرت په ورځ هم پوخ يقين لری

أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٥﴾

دغه کسان | په هدایت دی | د خپل رب د طرف نه | او دغه کسان | هم دوی کامیاب دی

هم دغه صفاتو والا خلق د خپل رب د طرف نه په (دنیا کښې) صحیح لاره باندے روان دی او هم داخلق (آخرت کښے)

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ

بیشکه | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | برابره ده | په دوی باندے | که ته ویروے دوی | یا

پوره کامیاب دی یقیناً چا چه د ضد دوے نه کفر اختیار کړے دے هغوی ته ستا نصیحت کول او نه کول برابر دی

لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٦﴾ خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

ونه یروے دوی | دوی ایمان نه راوړی | مهر وهلے دے | الله | د دوی په زړونو

دوی هیڅ کله ایمان نه راوړی. الله تعالی (په دنیا کښے) د دوی زړونه او غوږونه بند کړی دی

وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ

او د دوی په غوږونو | او د دوی په سترګو | پردے دی | او د دوی د پاره | عذاب دے

او په سترګو ئے ناشنا پردے لګیدلے دی او د دوی د پاره (آخرت کښے) ډیر لوے عذاب تیار دے

عَظِيمٌ ﴿٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ ع

ډیر لوے | او بعضے د خلقو نه | هغه دی | چه وائی | مونږ (هم) ایمان راوړے دے | په الله

او څه خلق دا سے هم شته دے چه په ژبه دعوی کوی چه مونږ الله او آخرت منو حالانکه د زړه نه بلکل مومنان

وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ

او په ورځ روستنۍ | او نه دی دوی | ایمان راوړونکی | دوی دوکه ورکوی الله ته | او هغه خلقو ته

نه دی. دوی (په خپل ګمان کښې) د الله تعالی او د رشتنے مومنانو سره چل وَل (دوکه) کوی خو حقیقت دا دے چه دوی

آمَنُوا ۚ وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾

چه ایمان ئے راوړے دے | او دوی دوکه نه ورکوی | مګر | خپلو ځانونو ته | او دوی نه پوهیږی

د خپل ځان نه سوا بل څوک نه شی دوکه کولے لیکن دوی ته د دے خبرے احساس قدرے هم نشته. د دوی په زړونو کښې

فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ ۖ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

د دوی په زړونو کښې | مرض دے | پس زیات کړو دوی له | الله | (دا) مرض | او د دوی د پاره | عذاب دے

(د منافقت) مرض دے نو الله تعالی ورله هغه مرض نور هم زیاتوی او د (همیشه) دروغو ویلو په وجه به د دوی د پاره

أَلِيمٌ ۢ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا

ډیر دردناک | په سبب د دے | چه دوی به | دروغ ویل | او هر کله | چه اوو ئیلے شی | دوی ته | (چه) فساد مه کوئ

(آخرت کښے) ډیر دردناک عذاب وی. او (د دوی دا حال دے چه) کله هم دوی ته اوو ئیلے شی چه

فِي الْأَرْضِ ۖ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾ أَلَا إِنَّهُمْ

په زمکه کښې | (نو) دوی وائی | (چه) بیشکه | مونږ | اصلاح کوونکی یُو | خبردار | بیشکه هم دوی

په دنیا کښې فساد مه خوروئ نو دوی وائی چه مونږ خو اصلاح والا خلق یو خو یاد ساتئ هم دوی

هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿١٢﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ

فساد کوونکی دی | لیکن | دوی نه پوهیږی | او هر کله | چه اووئیلے شی | دوی ته

فساد خورونکی خو دوی د فساد په حقیقت نه پوهیږی او کله چه دوی ته اووئیلے شی چه

اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ

چه ایمان راوړئ | لکه څنګه چه | ایمان راوړے دے | (نورو) خلقو | نو دوی وائی | (چه) آیا مونږ ایمان راوړو | لکه څنګه چه

تاسو هم هغه شان ایمان راوړئ څنګه چه مخلص مؤمنانو ایمان راوړے دے نو دوی وائی چه آیا مونږ هم

اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ

ایمان راوړے دے | بے عقلو | خبردار | بیشکه هم دوی | بے عقله دی | لیکن

ددے بیوقوفانو پشان ایمان راوړو. ښه پوهه شئ چه هم دوی پخپله بیوقوفان دی لیکن دوی په دے

لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣﴾ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا

دوی نه پوهیږی | اوهر کله چه | دوی ملاقات اوکړی | دهغه چاسره | چه ایمان ئے راوړے دے | نو دوی وائی

خپل بے وقوفتوب نه پوهیږی. او کله هم چه دوی د مومنانو سره ملاوشی نو هغوی ته وائی چه مونږ (هم)

اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا

چه مونږ (هم) ایمان راوړے دے | اوهر کله | چه څانله شی | د خپلو شیطانانو سره | نو وائی | چه بیشکه

ایمان راوړے دے او کله چه خپلو شیطانانو (مشرانو) له لاړ شی نو (بیا) هغوی ته وائی چه مونږ خو

مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٤﴾ اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ

مونږ هم تاسو سره یُو | بیشکه | مونږ (خو) | ټوقے کونکی یُو | الله | ټوقے کوی | دوی پورے

هم ستاسو ملګری یُو خو دے مؤمنانو پورے موهسے ټوقے کوو. الله تعالی دوی ته ددوی دټوقو سزا ورکوی

وَيَمُدُّهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿١٥﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

او زیاتوی دوی لره | ددوی په سرکشئ کښے | په داسے حال کښ چه دوی سرګردان دی | هم دا | هغه خلق دی

او الله دوی لره ددوی په سرکشئ کښ په داسے حال کښے اضافه کوی چه دوی سرو هلی برو هلی کړئ. هم دا هغه خلق دی

اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى ۪ فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا

چه وائے خسته | ګمراهی | په څای دهدایت | (پس هیڅ) ګټه ونه کړه | ددوی تجارت | اونه دی دوی (اوس)

چه دهدایت په څائے ئے ګمراهی خوښه کړه نو نه خوئے په دے سوداګرئ کښ ګټه اوکړه اونه ورته

مُهْتَدِيْنَ ﴿١٦﴾ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ۚ فَلَمَّآ

لار موندونکی | مثال ددوی | په شان دمثال | دهغه کس دے | چه بل کړے ئے وی | اور | نو هر کله چه

سمه لار نصیب شوه. ددوی حال دهغه کس دَحال په شان دے چه په تیاره کښ ئے اور بل کړے وی بیا چه کله

اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ

روښانه کړودے (اور) | چاړچاپیره ددهٔ | نو بوتله | الله | رنړا ددوی | اوپرے ئے ښودل دوی

دغه اوردے سړی چاړچاپیره رنړا کړی نو الله تعالی ددے خلقو دغه رنړا ختمه کړی اوپه تیارو کښ ئے پریګدی

فِیْ ظُلُمٰتٍ لَّا یُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷﴾ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْیٌ فَهُمْ

په داسے تیارو کښ | چه هیڅ نه وینی | کانه دی | گونګیان دی | راندہ دی | پس دوی

نو بیا هیڅ نه وینی. دوی پشان دکلو دی او پشان دګونګیانو دی او پشان دړندو دی (په حق نه قبلولو کښ)، نو (اوس) دوی دحق طرفته

لَا یَرْجِعُوْنَ ﴿۱۸﴾ اَوْ كَصَیِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِیْهِ ظُلُمٰتٌ

واپس نه راځی | یا په شان د (هغه) دیر باران دے | چه د آسمان نه وی | چه په هغے کښ | تیارے وی

نه راګرځی یا دوی حال دهغه چا په شان دے چه داسے دیر شیبه دباران پرے دبره نه وریږی چه په هغے کښے دیر تیارے

وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ ۚ یَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِیْۤ اٰذَانِهِمْ

او ګړزار (ګړګوړ) | او بریښنا | نو ننباسی دوی | خپلے ګوتے | په خپلو غوږونو کښ

دتندر ګړزار او دبجلۍ پرق هم وی نو دا خلق دتندر دسخت آواز نو دوے (او) دمرګ دویرے نه په غوږونو کښے دګوتو سره نه اږدی

مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ؕ وَاللّٰهُ مُحِیْطٌۢ بِالْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۹﴾

دتندر ونو (دګړزار) دلاسه | دَوے دویرے | دمرګ نه | او الله | راګیرونکے دے | کافرانو لره

(دغه حال دکافرانو وی کله چه دقرآن دَوی باران نازلیږی) خو الله تعالی دلاسے کافران دهر طرف نه په خپل قدرت کښ راګیر کړی دی

یَكَادُ الْبَرْقُ یَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ؕ كُلَّمَاۤ اَضَآءَ لَهُمْ

نزدے دہ | بریښنا | چه اوتختوی | د دوی نظرونه | هر کله | چه رنړا کړی (دابرق) | دوی ته (څه لاړ)

قریب دہ چه دا بریښنا د دوی د سترګو نظرونه ختم کړی کله هم چه دوی ته رنړا شی

مَّشَوْا فِیْهِ ۙ وَاِذَاۤ اَظْلَمَ عَلَیْهِمْ قَامُوْا ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

نو دوی ځی | په هغے کښے | او هر کله | چه تیاره کړی | په دوی | نو دوی ودریږی | او که چرے | غوښتلے | الله

نو دوی پکښ روان شی او کله چه پرے تیاره شی نو دوی ایسار شی او که الله تعالی غوښتلے

لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ

نو خامخا به ځی خستے وے | د دوی غوږونه | او د دوی سترګے | بیشکه | الله | په هر یو څیز باندے

نو د دوی د غوږونو (د اوریدو) او د سترګو (د لیدو) طاقت به ځے ختم کړے وے یقیناً الله تعالی په

قَدِیْرٌ ﴿۲۰﴾ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ع

دیر قادر دے | اے خلقو | عبادت اوکړئ | د رب خپل | هغے | چه تاسو ځے پیدا کړی یئ

هر څیز باندے قادر دے۔ اے خلقو د خپل هغه رب بندګی خاص کړئ چه تاسو

وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۲۱﴾ الَّذِیْ جَعَلَ

او هغه خلق | چه تاسو نه مخکښ وو | دے دپاره چه تاسو | پرهیزګاره شئ | هغه ذات | چه جوړه کړے ځمکه

او تاسو نه مخکښے خلق ځے پیدا کړی دی چه تاسو پرهیزګاران شئ دهغه رب چه

لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً ۖ وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ

ستاسو دپاره | زمکه | فرش | او آسمان | چت | او راورولے ځے دی | د آسمان نه

ستاسو دپاره ځے زمکه خوره کړے ده او آسمان ځے چت جوړ کړے دے او د دبره نه ځے اوبه راورولی دی

مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا

اوبه | بیائے راویستلی دی | په هغے سره | د میوو نه | رزق | ستاسو دپاره | پس مه جوړوئ

بیائے د هغے په ذریعے ستاسو د خوراک دپاره (قسماقسم) میوے راپیدا کړی دی نو اوس سره د یو ے

لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا

دالله سره | برابر (شریکان) | اوتاسو (خو) | پوهیږئ | اوکه چرے | یئ تاسو | په شک کښ | دهغه څه نه

دالله تعالی سره شریکان مه جوړوئ. اوکه په هغه قرآن کښ ستاسو لږ شک هم وی کوم چه

نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ ۪ وَادْعُوْا

چه الیږلے دے مونږ | په خپل بنده | نو تاسو راوړئ | یو سورت | د دے پشان | او راوبلئ

مونږ په خپل بنده (محمد) باندے نازل کړے دے نو تاسو د دے پشان صرف یو سورت قدر ے جوړ کړئ

شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ

خپل گواهان | د الله نه سوا | اکه چرے | یئ تاسو | رشتنی | پس که چرے

او الله تعالی نه سوا خپل ټول مددگاران راوبلئ که تاسو (په خپله دعوی کښے) رشتنی یئ۔ بیا هم

لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا

ونه کړو تاسو (داکار) | او هیڅ چرے به اونه کړے شئ تاسو | نو اویَرِیږئ | د اور | هغے نه | چه د هغے خشاک

که تاسو داکار (مقابله د قرآن) اونه کړے شئ او یقیناً هیڅ کله ئے نه شئ کولے نو د هغه اور نه ځان بچ کړئ

النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٤﴾ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ

خلق | او گټے دی | هغه تیار کړے شویدے | د کافرانو دپاره | اوزیرے ورکړه | هغه خلقو ته

چه د هغے خشاک خلق او کانی دی (او) د کافرانو دپاره تیار شوے دے. اوچا چه ایمان راوړے دے

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ

چه ایمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نیک | داچه بیشکه | شته د دوی دپاره | (داسے) جنتونه

او نیک عملونه ئے کړی وی (پیغمبره!) هغوی ته د داسے جنتونو زیرے ورکړه چه د هغے

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ

چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | هرکله | چه ورکړی شی دوی ته | د هغے نه | څه میوه

داونو ډالندے به نهرونه بهیږی کله هم چه دوی ته د دغه جنت نه د خوراک دپاره څه میوے ورکړے شی

رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ وَاُتُوْا

دپاره د خوراک | (نو) وائی به | دا (خو) | هم هغه څیز دے | چه راکړے شوے مونږ ته | د دے نه مخکښ | اوراوړلے به شی دوی ته

نو وائی به چه دا خو د دے نه مخکے هم مونږ ته راکړے شوے وے او دوی ته به د رزق هم دا سے ورکړے کیږی چه په کتلو کښ به

بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا

دا میوے | یو شان | او دوی دپاره به | په هغے کښ | ییبیانے وی | پاکیزه | او دوی به | په هغے کښ

یو شان بنکاری او خوند او فائدے به ئے جدا جدا وی او دوی دپاره به هلته د هر قسمه عیب نه پاکیزه ییبیانے وی او هلته به همیشه اوسیږی

خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا

همیشه وی | بیشکه | الله | شرم نه کوی | ددے (خبرے) | چه بیان کړی | یَو مثال

یقیناً الله تعالی ددے خبرے پرواه نه ساتی چه د خبرے د وضاحت دپاره د ماشی

مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ

د ماشی | یا ددے نه زیات (معمولی) | نو هغه کسان | چه ایمان ړاوړے دے | پس هغوی پوهیږی

یا ددے نه دغټ یا د وړوکی څیز څه مثال بیان کړی پس کوم خلق چه مومنان دی نو هغوی ښه پوهیږی

اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَيَقُوْلُوْنَ

چه بیشکه دا (مثال) | حق دے | ددوی د رب د طرف نه | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | نو هغوی وائی چه

چه دا مثال د هغوی د رب د طرف نه یوه حقه خبره ده او کوم چه کافران دی نو هغوی وائی چه په دے مثال

مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْرًا ۙ وَّيَهْدِيْ

د څه | اراده کړے ده | الله | په دے | مثال سره | ګمراه کوی هغه | په دے سره | ډیر خلق | او هدایت کوی هغه

بیا نو لوکښ د الله تعالی څه مطلب دے؟ (خو) الله تعالی په دے مثال سره ډیرو خلقو ګمراهی پښکاره کوی

بِهٖ كَثِيْرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ الَّذِيْنَ

په دے سره | ډیرو خلقو ته | او نه ګمراه کوی هغه | په دے سره | مګر | نافرمانه خلق | هغه کسان

او ډیر خلق په هدایت کلکوی البته الله تعالی هم هغه خلق ګمراه کوی کښ اخته کوی کوم چه نافرمانه وی (او)

يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۪ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ

چه ماتوی | لوظ | د الله | روستو | د پوخوالی نه ډهغے | او پریکوی | هغه څه

چه (هغوی) د الله سره کړے مضبوط وعدے (بیا بیا) ماتوی او د کومو تعلقاتو (رشتو)

اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ

چه حکم کړے دے | الله | په هغے | چه پیوست کړے شی | او فساد کوی | په زمکه کښ

چه الله تعالی د پیوست کولو حکم کړے دے هغه ختموی او په دنیا کښ فساد خوروی

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۲۷﴾ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ

د غه کسان | هم دوی تاوان والا دی | څنګه | انکار کوئ تاسو | د الله (نه) | او حال دا دے چه وئ تاسو

هم دا سے خلق پوره تاوانیان دی۔ اے خلقو تاسو د الله تعالی (د توحید نه) څنګه انکار کوئ؟ حالانکه تاسو

اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ اِلَيْهِ

مړه | نو هغه ژوندی کړئ تاسو | بیا به | هغه مړه کوی تاسو | بیا به | ژوندی کوی تاسو | بیا | هم هغه ته به

نشت وئ نو هغه پیدا کړئ بیا به (موهم) هغه مړه کوی (دنیا کښے) بیا به موژوندی کوی (آخرت کښے) بیا به هم هغه ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۸﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ

تاسو واپس کولے شئ | (الله) هغه ذات دے | چه پیدا کړی ئے دی | ستاسو د پاره | هغه څه | چه په زمکه کښ دی

واپس ورځئ (د حساب د پاره)۔ خاص الله تعالی هم هغه ذات دے چه د زمکے هر څه ئے ستاسو (د فائدے) د پاره پیدا کړی دی

جَمِيْعًا ۙ ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ؕ

ټول | بیا | ارادہ اوکړه هغه | آسمان ته | نو برابر ئے کړل هغے لره | اوه | آسمانونه

بیا ئے آسمان ته توجه اوکړه نو اوه آسمانونه ئے برابر جوړ کړل

وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ۲۹ وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّىْ ع

او هغه | په هر څیز باندے | ډیر پوهه دے | او کله چه | اوویل | ستاړب | ملائکو ته | چه بیشکه زه

او هغه د هر څیز پوره علم لری. او هغه وخت دیادولو قابل دے کله چه ستاړب ملائکو ته اوویل چه زه

جَاعِلٌ فِى الْاَرْضِ خَلِيْفَةً ؕ قَالُوْٓا اَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ

کرزونکے یم | په زمکه کښ | یو خلیفه | اوویل هغوی | چه آیا ته کرزوے | په دے کښ | هغه څوک

په زمکه کښ یو خلیفه پیدا کول غواړے نو هغوی ورته اوویل چه آیا ته په زمکه کښ داسے مخلوق پیدا کوے

يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ

چه فساد به کوی | په دے کښ | او تویوی به | وینے | او مونږ | پاکی وایو | سره د حمد ستا

چه فساد به پکښ خوروی او دیوبل وینے به تویوی حالانکه مونږ خو هر وخت ستا په تسبیح او حمد

وَنُقَدِّسُ لَكَ ؕ قَالَ اِنِّىْٓ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۳۰ وَعَلَّمَ

او بزرګی بیانوو | ستا | اویل (الله) | بیشکه زهٔ | پوهیږم | په هغه څه | چه تاسو (پرے) نه پوهیږئ | او اُښودل الله

او تقدیس کښ لکیا ئُو. الله ورته اُویل چه زهٔ په هغه څه پوهیږم چه تاسو پرے نه پوهیږئ او الله تعالی

اٰدَمَ الْاَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ ۙ فَقَالَ

آدم ته | نومونه | ټول | بیا ئے | وراندے کړل هغه څیزونه | ملائکو ته | پس وے ویل

آدم علیه السلام ته ټول نومونه د هر قسمه څیزونو (سره د فائدو) اُښودل بیا ئے هغه څیزونه ملائکو ته وراندے کړل او ورته ئے اویل

اَنْۢبِـُٔوْنِىْ بِاَسْمَآءِ هٰٓؤُلَآءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۳۱ قَالُوْا

چه خبر را کړئ ماته | په نومونو | د دے څیزونو | که چرے یئ تاسو | رښتنی | اُویل هغوی

که تاسو په خپله خبره کښ رښتنی یئ نو د دے څیزونو نومونه راته اوښایئ هغوی اوویل

سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

(پاکی وایو تا لره) پاکی ستا | نشته هیڅ علم | مونږ لره | سوا | د هغے نه | چه تا اُښودلے دے مونږ ته | بیشکه | هم ته

ته پاک ذات ئے تا چه مونږ له کوم علم را کړے دے د هغے نه سوا نور په څه نه پوهیږو یقیناً هم ته

الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۳۲ قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۚ فَلَمَّآ

ښه پوهه | ډیر حکمت والا ئے | اوویل الله | اے آدمه! | خبر ور کړه دوی ته | په نومونه د دے څیزونو | پس هر کله

ډیر لوئی علم او لوئی حکمت والا ئے. الله تعالی اوویل: اے آدمه! دوی ته د دے څیزونو نومونه بیان کړه کله چه

اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۙ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّىْٓ اَعْلَمُ

چه خبر ئے ور کړو دوی ته | په نومونو د دے څیزونو | اویل (الله) | آیا نه وو ویلے ما | تاسو ته | چه بیشکه زهٔ | پوهیږم

ورته هغه بیان کړل نو الله تعالی ملائکو ته اویل: آیا ما تاسو ته نه وو ویلے چه زهٔ

غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۙ وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا

په پټو څیزونو | د آسمانونو | او د زمکے | اوزه پوهیږم | په هغه څه | چه تاسو ښکاره کوئ | اوپه هغه څه

د آسمانونو او د زمکے په پټو خبرو پوهیږم اوستاسو په ښکاره او پټو خبرو

كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ۝ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ

چه تاسوئ | پټوئ | او کله | چه اوویل مونږ | ملائکو ته | (چه) سجده اوکړئ | آدم ته

هم پوهیږم ـ اوکله چه مونږ ملائکو ته اوویل چه آدم ته (د تعظیم او انقیاد ښکاره کولو دپاره) سجده اوکړئ

فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ ۫ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

نوسجده اوکړه ټولو | مګر | ابلیس | هغه انکار اوکړو | اوځان ئے لوئے اوکنړلو | اووده | د کافرانو نه

نود ابلیس نه سوا ټولو سجده اوکړه. هغه انکار اوکړو اوځان ئے لوئ اوګڼلو اوپه کافرانو کښ شمیر شو

وَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا

او اوویل مونږ | اے آدم | اوسیږه | ته | او ستا بی بی | په جنت کښ | اوخورئ دواړه | ددے نه

او مونږ آدم ته اوویل چه ته سره د خپلے بی بی په جنت کښ اوسیږئ اوچه چرته موزړه غواړی ښه فراخه خورئ

رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ۪ وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا

فراخه | چرته چه | خوښه وی ستاسو | اومه نزدے کیږئ | دے | اوئے ته | گنی نو شئ په تاسو

خو یاد ساتئ چه دغے وئے ته ورنزدے هم نه شئ گنی ځان له به نقصان ورکړئ

مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا

د زیاتی کونکو نه | پس اوخوئیول ئے دواړولره | شیطان | دهغے اوئے په وجه | نوراوئے ویستل دواړه | دهغه څه نه

بیا شیطان دواړه داوئے په وجه دهوکه کړل اوپه کوم ژوند کښ چه وو د هغے نه ئے راویستل

كَانَا فِيْهِ ۪ وَقُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ

چه وودوی | په هغے کښ | اوفرمایل مونږ | (چه) کوز شئ تاسو | بعضے ستاسو به | د بعضو | دشمنان وی

او مونږ ورته حکم اوکړو چه اوس زمکے ته کوز شئ تاسو به دیو بل دشمنان یئ

وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ۝ فَتَلَقّٰٓى

اوستاسو دپاره | په زمکه کښ | ځای داوسیدو دے | او (لږه) فائده ده | څه وخته پورے | پس زده کړے

اوستاسو دپاره په زمکه کښ دیوے مودے پورے اوسیدل اوځه فائده اخستل مقرر دی.

اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ

آدم | د خپل رب نه | یو څو کلمے | نورجوع درحمت اوکړه الله | په ده | بیشکه هم | هغه دیر توبه قبلونکے

بیا آدم د خپل رب نه یو څو کلمے زده کړے (اوو ئیلے ئے) نو الله پرے دیره مهربانی اوکړه یقیناً هغه دیر معافی کونکے

الرَّحِيْمُ ۝ قُلْنَا اهْبِطُوْا مِنْهَا جَمِيْعًا ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ

زیات مهربان دے | اوویل مونږ | کوز شئ | ددے (جنت) نه | ټول | پس که چرے | راغے تاسو ته

اوزیات مهربان دے. مونږ ورته اوویل اوس تاسو ټول دلته نه لاړ شئ بیا که زما د طرف نه تاسو ته

مِّنِّیْ هُدًی فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ

زما د طرفه | څه هدایت | نو څوک | چه روان شو | زما هدایت پسے | نونه به وی څه ټیره | په هغوی باندے

څه هدایت (کتاب) درغے نو څوک چه زما هدایت پسے روان شو نو په هغوی به نه څه ټیره وی (په آئنده کښے)

وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَآ

او نه به غمژن شی | او هغه خلق | چه انکار ئے اُکړو | او دروغژن ئے اوګڼل | زمونږ آیتونه

اونه به (دنیا کښے) غمژن شی او چا چه کفر اوکړو او زمونږ آیتونه ئے دروغژن اوګڼل

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ یٰبَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ

نو دغه خلق | اُور والا دی | دوی به | په هغے کښ | همیشه وی | اے اولاد دیعقوب

نو دغه خلق دوزخیان دی (چه) په هغے کښ به همیشه اوسیږی۔ اے بنی اسرائیلو دشکر ئے په طور

اذْكُرُوْا نِعْمَتِیَ الَّتِیْٓ اَنْعَمْتُ عَلَیْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِیْٓ

یاد کړئ | نعمتونه زما | هغه | چه ما کړی دی | په تاسو | اوپوره کړئ | وعده زما

زما هغه نعمتونه یاد کړئ چه ما په تاسو کړی وو او (ماسره) کړے خپله وعده (دتابعدارئ) پوره کړئ

اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ ۝ وَاٰمِنُوْا بِمَآ

زه به پوره کړم | وعده ستاسو | او خاص زمانه | اویریږئ | او ایمان راوړئ | په هغه څه باندے

نو زه به هم تاسو سره خپله وعده (دانعام) پوره کړم او صرف زمانه اویریږئ (په احکامو منلو سره) او په هغه کتاب (قرآن) باندے

اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍ

چه ما نازل کړی دی | چه تصدیق کونکی دی | دهغه څه | چه تاسو سره دی | او تاسو مه کیږئ | اول | انکار کونکی

ایمان راوړئ کوم چه ما ستاسو د کتابونو په تصدیق کښ نازل کړے دے او تاسو نه مومی تاسو د دے نه انکار مه کوئ

بِهٖ ۪ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا ۫ وَّاِیَّایَ فَاتَّقُوْنِ ۝

د دے نه | او مه اخلئ | زما په آیتونو | پیسے | لږے | او خاص زمانه | اویریږئ

او زما آیتونه د معمولی قیمت (دنیا) په عوض کښ مه خرڅوئ او صرف زمانه اویریږئ (دحرامو بارہ کښے)

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝

او مه گډوډوئ | حق | د باطل سره | او مه پټوئ | حق | او تاسو | (خو) پوهیږئ

او په خلقو حق د باطل سره مه گډوډوئ او حق هم مه پټوئ حالانکه تاسو ښه پوهیږئ (چه دا کناه ده)

وَاَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِیْنَ ۝

او قائموئ | مونځ | او ورکوئ | زکات | او رکوع کوئ | د رکوع کونکو سره

او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ او د رکوع کونکو سره رکوع کوئ

اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ

آیا تاسو حکم کوئ | خلقو ته | د نیکئ | او هیروئ تاسو | خپل ځانونه | او حال دا دے چه تاسو | لولئ

آیا تاسو نورو خلقو ته د نیکئ بیان کوئ او خپل ځانونه هیروئ؟ حالانکه تاسو خو کتاب هم لولئ

الْكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَاِنَّهَا

کتاب | آیا نو تاسو عقل نه لرئ | او مدد غواړئ | په صبر | او مانځه سره | اوبیشکه دا

آیا بیا هم نه پوهیږئ ـ او د صبر او د مانځه په ذریعه (د الله) مدد حاصل کړئ یقیناً

لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ

خامخا دیر گران دے | مگر | په عاجزی کونکو باندے | هغه خلق | چه یقین لری | په دے چه بیشکه

مونځ دیر گران کار دے مگر هغه چا ته نه دے گران چه په زړه سره د الله نه یریږی ـ دغه کسان

مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۝ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

دوی ملاقات کونکی دی | د خپل رب سره | او په دے چه بیشکه دوی | هغه ته | واپس کیدونکی دی | اے اولاد د یعقوب

دد ے خبرے یقین لری چه د خپل رب سره به ملاویږی او هم دهغه طرف ته به واپس کیږی ـ اے بنی اسرائیلو بطور شکریه

اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ

یاد کړئ | زما نعمتونه | هغه | چه کړی دی ما | په تاسو باندے | او دا چه ما | غوره کړی یئ تاسو

زما هغه نعمتونه یاد کړئ چه په تاسو مے کړی وو او خاصکر دا هم یاد کړئ چه (د خپلے زمانے) په ټولو خلقو مے درته

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ

په ټولو خلقو | او ویریږئ | د هغے ورځے نه | چه بدله به ورنه کړی | یو نفس | د بل نفس نه

فضیلت درکړے وو او د هغے ورځے د عذاب نه اویریږئ چه په هغے کښ به یو نیک کس د بل (مجرم مشرک) کس په کار نه راځی

شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ

ډهیځ شے | او نه به قبول کړے شی | د هغے نفس نه | څه سفارش | او نه به اخستلے کیږی | د هغے نه | څه بدله (فدیه)

چه ضمانت ئے او کړی او نه به د ده په حقله د چا سفارش قبلولی شی او نه به د ده په حقله د چا نه څه فدیه (معاوضه) اخستلے شی

وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝ وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ

او نه به دوی سره | څه مدد کولے شی | او کله چه | خلاص کړئ مونږ تاسو | د فرعونیانو نه | چه رسول به ئے تاسو ته

او نه به ئے مدد کیدے شی ـ او هغه وخت یاد کړئ کله چه مونږ تاسو د فرعونیانو نه خلاص کړئ چه تاسو ته به ئے

سُوْٓءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ

سخت عذاب | ذبح کول به ئے | ځامن ستاسو | او ژوندئ به ئے پریښودلے | زنانه ستاسو

سخت عذابونه درکول او ځامن به ئے ذبح کول او ژوندئ به ئے درله د خپل خدمت د پاره ساتل وو ـ بے حیاء کولو د پاره)

وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝ وَاِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ

او په دے کښ | از میښت وو | د طرفه د رب ستاسو نه | دیر لوئے | او کله چه | او چولو مونږ | ستاسو د پاره

ژوندئ پریخودلے او په دے مصیبت نو کښ او نجات درکولو کښ ستاسو د رب د طرفه نه دیر لوئے امتحان وو ـ او کله چه مونږ ستاسو د پاره

الْبَحْرَ فَاَنْجَيْنٰكُمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ۝

دریاب | پس خلاص کړئ مونږ تاسو | او غرق کړل مونږ | فرعونیان | او حال دا چه تاسو | (ورته) کتل

دریاب (بحر قلزم) او شلولو نو تاسو مو بچ کړئ او فرعونیان مو غرق کړل او تاسو د هلاکت د دشمن د انظار په خپلو سترګو لیدلے.

وَاِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰٓى اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ

اوکله چه | وعده واخسته له مونږ | د موسیٰ نه | د څلویښتو | شپو | بیا | جوړ کړو تاسو | سخے (معبود د خپل)

اوهغه وخت یاد کړئ کله چه مونږ د موسیٰ سره د تورات د حصول د پاره د څلویښتو شپو وعده مقرر کړه بیا تاسو د هغه د تلو نه روسته

مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

پس د تللو د هغه نه | او تاسو | ظالمان وئ | بیا | مونږ معافی او کړه | تاسو ته | پس

د سخی عبادت شروع کړو او په خپل ځان مو ظلم او کړو (په شرک سره) ـ بیا د دے هر څه نه پس (هم ستاسو په توبه)

ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

د دے نه | د دے د پاره | چه تاسو شکر گزار شئ | او کله چه | ورکړو مونږ | موسیٰ ته | کتاب

مونږ تاسو د دے د پاره معاف کړئ چه تاسو (په دے احسان) شکر او باسئ. او هغه وخت یاد کړئ کله چه مونږ موسیٰ ته کتاب

وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ

او فرق کونکے | د دے د پاره | چه تاسو په هدایت شئ | او کله چه | اووېل | موسیٰ | خپل قوم ته

او فیصله کونکے قانون د دے د پاره ورکړو چه تاسو سمه لاره اومومئ ـ او هغه وخت یاد کړئ کله چه موسیٰ خپل قوم ته

يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ

اے قومه زما | بیشکه تاسو | ظلم کړے دے | په خپلو ځانونو باندے | په سبب د نیولو ستاسو | سخی لره (په خدائی سره)

اووېل چه اے زما د قوم خلقو! یقیناً تاسو د سخی په خدائتوب نیولو سره په خپلو ځانونو ظلم کړے دے

فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

نو توبه اوباسئ | خپل پیدا کونکی ته | پس وژنئ | خپل ځانونه | دا | د پاره غوره ده | ستاسو د پاره

نو خپل خالق ته توبه اوباسئ او خپل ځان قتل (ته پیش) کړئ دا ستاسو د خالق په نزد

عِنْدَ بَارِئِكُمْ ؕ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ

په نزد | د پیدا کونکی ستاسو | نو بیا هغه مهربانی او کړه | په تاسو | بیشکه | هم هغه | د پاره توب قبلونکے

ستاسو د پاره د پاره غوره ده نو د هغه شان په قتل د بعضو سره الله په تاسو توله آسانتیا راوسته یقیناً هم هغه د پاره توبه قبلونکے

الرَّحِيْمُ ﴿۵۴﴾ وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى

د پاره مهربان دے | او کله چه | اووېل تاسو | (چه) اے موسیٰ | مونږ هرگز یقین نه کوو | په تا باندے | تر دے

او د پاره مهربان دے ـ او هغه وخت را یاد کړئ کله چه تاسو موسیٰ ته اووېل چه اے موسیٰ مونږ ستا په خبره تر هغے پورے باور

نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾

چه مونږ اووینو | الله | ښکاره | نو ونیولئ تاسو | تندر | او تاسو (ورته) | کتل

نه کوو تر څو چه مونږ الله تعالیٰ په خپلو سترګو ښکاره اونه وینو نو بس په تاسو باندے تندر راغے او تاسو (یو بل) ته لیدل.

ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾

بیا | مونږ راژوندی کړئ تاسو | پس د مرګ ستاسو نه | د دے د پاره چه تاسو | شکر گزار شئ

بیا (هم) مونږ تاسو د مرګ نه پس (د موسیٰ په دعا) راژوندی کړئ چه شکر او باسئ

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ

اومونږسورے کړے | په تاسو باندے | وریځے | اومونږنازل کړل | په تاسو | ترنجبین | او مرزان

او مونږ په تاسو باندے دوریځو سورے جوړ کړل او مَن او سلوی مو درته در کړه (او مونږ درته اووئیل چه)

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ

خورئ | دپاکیزه څیزونو نه | هغه | چه مونږدرکړی دی تاسوته | اودوی ظلم نه وو کړے په مونږباندے | لیکن

کوم پاکیزه رزق مونږدرکړے دے هغه خورئ نود ے خلقوپه نافرمانئ کولوسره زمونږهیڅ نقصان اونه کړو

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ

دوی به(پخپله) | په خپلو ځانونو | ظلم کولو | اوکله چه | اووئیل مونږ | (چه) داخل شئ تاسو | دے | کلی ته

بلکه پخپله ځپخپلو ځانونو نقصان اوکړو. اوهغه وخت هم یاد کړئ کله چه مونږ اُویل چه دے بنار (بیت المقدس) ته داخل شئ

فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ

پس خورئ | ددے نه | چرته چه | خوښه وی ستاسو | فراخه | او داخل شئ | دروازے ته

او چه چرته موزړه غواړی فراخه خوراک پکښ کوئ او په دروازه چه داخلیږئ

سُجَّدًا وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ

سجده کونکی | او وایئ | اوبخښے مونږ | نواوبه بخښو مونږ | تاسو ته | ستاسو خطاګانے

نو سرونه ښکته کړئ اوداوایئ چه اے الله زمونږ ګناهونه معاف کړه نو مونږ به ستاسو ګناهونه معاف کړو

وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا

اوزیږزیاده مونږزیات کړو(اجر) | دَ نیکی کونکو | پس بدل کښ اُویله | هغه خلقو | چه ظلم نے کړے وو | یوه وینا

اوخامخا نیکانو خلقو ته به مونږ زیات اجر ورکړو۔ خو اوشوه دا چه دوی ته کومه خبره شوے وه نودے ظالمانو

غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

سوا | دهغے نه | چه ویلی شوے وه | دوی ته | پس راولیږلو مونږ | په هغه خلقو | چه ظلم نے کړے وو

هغه بدله کړه (په دانو دَ غنمو سره) نوبس مونږ په دغه ظالمانو باندے دبَره نه عذاب راولیږلو

رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۵۹﴾ ع وَاِذِ اسْتَسْقٰى

عذاب | د آسمان نه | په دے وجه | چه دوی | نافرمانی کوله | اوکله چه | اوبهٔ اوغوښتلے

ځکه چه دوی نافرمانیانے کولے۔ او هغه وخت هم یاد کړئ کله چه موسیٰ

مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ فَانْفَجَرَتْ

موسیٰ | دخپل قوم دپاره | نومونږ (ورته) اُویل | چه اووهه | په خپله همسایانو دے | ګټه | نوروانے شوے

دخپل قوم دپاره (دالله نه) اوبه اوغوښتلے نو مونږ ورته اووئیل چه په خپله همسا داګټه اووهه نو دهغے نه

مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ

دهغے نه | دولس | چینے | یقیناً | پیژندلو | هر یَو | ډلے | ځانے دځکلو خپلو

دولس چینے روانے شوے هر ے قبیلے خپل خپل کودر یقینی طور پیژندلو

كُلُوْا وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝٦٠

خوړئ | او څکئ | د رزق د الله نه | اومه ګرځئ | په زمکه کښ | فساد کونکی

(او مونږ ورته اوویل چه) د الله تعالی رزق خوړئ څکئ او په زمکه کښ فساد مه خوروئ

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ

اوکله چه | اُوویل تاسو | اے موسیٰ | هیڅ کله مونږ صبر نه شو کولے | په خوراک | یو قسم باندے

اوهغه وخت یاد کړئ کله چه تاسو موسیٰ ته اوویل چه اے موسیٰ مونږ په یو قسم خوراک (من اوسلوی) باندے نور صبر نه شو کولے

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ

نو ته اوغواړه | زمونږ د پاره | د خپل رب نه | چه راوباسی | زمونږ د پاره | دهغه څه نه | چه راوزرغونوی ئے | زمکه

نو ته د خپل رب نه زمونږ د پاره دعا اوکړه چه زمونږ د پاره د زمکے نه راتوکیدونکی څیزونه

مِنْۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُوْمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ؕ قَالَ

د سبزے ددے نه | او د بادرنګو ددے نه | او د اوګے ددے نه | او د مسور ددے نه | او د پیاز ددے نه | اُوویل (موسیٰ)

لکه ترکاریانے، بادرنګ، اوګه، دال او پیاز پیدا کړی (نو) موسیٰ علیه السلام ورته اُوویل

اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِيْ هُوَ اَدْنٰى بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ ؕ اِهْبِطُوْا

آیا تاسو اغستل غواړئ | هغه څیز | چه هغه | معمولی دی | په بدل د هغے کښ | چه هغه | ډیر ښه دے | لاړ شئ

چه آیا تاسو د یو غوره بهتر څیز په بدله کښ یو معمولی څیز اخستل غواړئ

مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ؕ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ

یو ښار ته | پس بیشکه (هلته) | شته ستاسو د پاره | هغه څه | چه تاسو غوښتے دی | او ټاپه کړے شو | په دوی باندے

(که هم دا څیزونه غواړئ) نو یو ښار ته لاړ شئ څه چه غواړئ هلته به درته ملاوشی او (دنعمت دناشکرئ په وجه)

الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ۗ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

ذلت | او محتاجی | او اخته شول دوی | په غضب | د الله | دا څکه چه | بیشکه دوی به

په دے یهود و باندے ذلت او محتاجی مسلط کړے شوه او د الله تعالی په غضب اخته شول دا هر څه

كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ

کفر کولو | په آیتونو د الله | او وژل به ئے | پیغمبران | په ناحقه

څکه وشو چه دوی به د الله د آیتونو نه انکار کولو او پیغمبران به ئے په ناحقه وژل

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۝٦١ ع اِنَّ الَّذِيْنَ

دا | په دے وجه | چه دوی نافرمانی کړے وه | او وو دوی چه د حد نه به تیریدل | بیشکه | هغه خلق

دا څکه چه دوی نافرمانی شروع کړه او د حد نه واوړیدل۔ حقه خبره دا ده

اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ مَنْ

چه ایمان ئے راوړے دے | او هغه خلق | چه یهودیان دی | او عیسایان دی | او صابیان دی | چا چه

چه څوک که مسلمان وی که یهودی وی که عیسائی وی که صابی وی

اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ

ایمان راوړو | په الله | او په ورځ روستنۍ | اوعمل ئې اوکړو | نیک | نو دوی دپاره | اجر دَدوی دے

خو چه په الله تعالی او دآخرت په ورځ ایمان راوړی اونیک عمل اوکړی نو دوی به دخپل رب سره دخپل اجر

عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾ وَاِذْ

د خپل رب سره | اونه به وی څه یَرَه | په دوی | او نه به دوی | غمژن شی | اوکله چه

مستحق وی اونه به پر ے څه یَرَه وی او نه به پر ے څه غم راځی۔ اوهغه وخت یاد کړئ کله چه

اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ

واخستله مونږ | پخه وعده ستاسونه | او اوچت کړو مونږ | ستاسو دپاسه | طور | اونیسئ | هغه څه

مونږ ستاسونه (په تورات باندے دعمل کولو) پخه وعده واخستله او کوه طور موستاسو دپاسه اوچت کړو (اودرته مواووئیل چه) کوم

اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾

چه مونږ درکړی دی تاسونه | مضبوطئ سره | اویاد کړئ | هغه څه | چه په دے کښ دی | دے دپاره چه تاسو | پرهیزګاران شئ

کتاب مونږ تاسونه درکړے دے هغه کلک اونیسئ اوپه هغے کښ چه څه دی هغه یاد کړئ چه تاسو بچ شئ داُور نه.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

بیا | تاسو مخ واړولو | د دے نه وروسته | پس که چرے نه وے | فضل د الله | په تاسو

د دے هر څه باوجود بیا هم تاسو د دے وعدے نه مخ واړولو نو که چرے د الله تعالی فضل

وَرَحْمَتُهٗ لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ

اودهغه رحمت | نو وئ به تاسو | د تاوانیانو نه | او یقیناً | تاسو پیژنئ | (حال) دهغه خلقو

اورحمت په تاسو باندے نه وے نو تاسو به ضرور نقصان موندلے وو۔ اوتاسو هغه خلق ښه پیژنئ چه

اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً

چه زیاتے ئ کړے وو | ستاسونه | د خالی په ورځ کښ | نومونږ اوویل | دوی ته | (چه) شئ تاسو | شادوکان

د خالی دورځے په معامله کښ د حد نه اوړیدلی وو نو مونږ هغوی ته اوویل ذلیل او خوار

خٰسِـِٕيْنَ ﴿۶۵﴾ فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا

ذلیله | پس کړه مونږ دا واقعه | عبرت | دهغه چاپیره | چه هغه وخت وو | اودهغه چاپیره | چه وروسته راتلونکی وو

بیزوکان شئ (نو بیزوکان شو) اومونږ دغه واقعه دهغه زمانے دخلقو دپاره اودرُوستنو خلقو دپاره دعبرت

وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۶۶﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ اِنَّ اللّٰهَ

او یَو نصیحت | د متقیانو دپاره | اوکله چه | اوویل | موسیٰ | خپل قوم ته | (چه) بیشکه الله

اودمتقیانو دپاره دنصیحت ذریعه جوړه کړه۔ اوهغه وخت یاد کړئ کله چه موسیٰ خپل قوم ته اوویل چه الله تعالی تاسو ته

يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ قَالُوْٓا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ قَالَ

حکم کوی تاسو ته | چه ذبح کړئ | یوه غوا | اوویل هغوی | آیا ته کوے مونږ پورے توقے | اُوویل (موسیٰ)

دیوے غوا ذبح کولو حکم کوی (نو) هغوی ورته اوویل آیا ته مونږ پورے توقے کوے؟ موسیٰ ورته اوویل چه دتوقو کولو نه

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ۝ قَالُوا ادْعُ لَنَا

زه پناه غواړم | په الله | دد مے نه | چه شم زه | د جاهلانو نه | اُوویل دوی | اوغواړه | زمونږ دپاره

زه په الله سره پناه غواړم ځکه چه استهزاء کار د جاهلانو دے۔ دوی ورته اُوویل: ته زمونږ دپاره دخپل رب نه دعاء اوغواړه

رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ

دخپل رب نه | چه بیان کړی | مونږ ته | څنګه دهغه (غوا) | اُوویل موسیٰ | بیشکه | الله وائی | بیشکه دا | یوه غوا ده

چه مونږ ته صفا اُوائی چه دد مے غوا عمر څه دے؟ موسیٰ ورته اوویل چه الله فرمائی چه دا غوا داسے ده

لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا

چه نه بوډۍ ده | او نه ځوانه | درمیانه ده | ددے دواړو په مینځ کښی | پس اوکړئ تاسو | هغه څه

چه نهٔ بوډۍ ده اونه ځوانه بلکه درمیانه عمر والا ده بس اوس چه درته دځه حکم کیږی په هغے عمل اوکړئ۔

تُؤْمَرُوْنَ۝ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا

چه تاسو ته ځکم کولے شی | اوویل دوی | اوغواړه | زمونږ دپاره | دخپل رب نه | چه بیان کړی | مونږ ته | چه څنګه دے

دوی (بیا) اوویل چه ته د خپل رب نه زمونږ دپاره بیا دعاء وغواړه چه مونږ ته صفا صفا اووائی چه

لَوْنُهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا

رنګ ددے | اوویل (موسیٰ) | چه بیشکه | هغه وائی | چه بیشکه دا یوه غوا | زیړه ده | خالص دے | رنګ ددے

ددے غوا رنګ به څنګه وی؟ موسیٰ ورته اوویل: چه الله فرمائی چه دا به یوه داسے تکه زیړه غوا وی چه د کتونکو

تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ۝ قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا

خوشحالوی | کتونکو لره | اوویل دوی | اوغواړه | زمونږ دپاره | دخپل رب نه | چه بیان کړی | مونږ ته

زړونه به خوشحالوی۔ دوی (بیا) اوویل چه ته د خپل رب نه مونږ دپاره دعاء اوغواړه چه مونږ ته صفا صفا بیان کړی

مَا هِيَ ۙ اِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ؕ وَاِنَّآ اِنْ شَآءَ

چه څه دے صفت ددے | بیشکه | دا غوا | ګډوډه شوے ده | په مونږ باندے | اوبیشکه مونږ | که اوغواړی

چه ددے غوا صفت دَعمل څه دے؟ دے غوا خو مونږ په شک او شبهه کښ اچولی یُو او که الله اوغوښتله

اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ۝ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُوْلٌ

الله تعالیٰ | خامخالا مونږ ته نکی یُو (دیته) | اوویل (موسیٰ) | بیشکه | هغه وائی | چه بیشکه دا | یوه (داسے) غواده | چه جوتی نه ده

نو مونږ ته به ددے صحیح معلومات اوشی۔ موسیٰ ورته اوویل چه الله فرمائی چه دا به یوه داسے غوا وی چه نه به په

تُثِيْرُ الْاَرْضَ وَلَا تَسْقِى الْحَرْثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيْهَا ؕ

چه اړوی زمکه | او نه اوبه کوی | فصل لره | روغه موټه ده | نشته هیڅ داغ | په دے کښ

یوه کښ جوتی شوی وی او نه به فصل ته اوبه ورکوی صحیح سالمه او بے داغه به وی نو دوی موسیٰ ته

قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ؕ فَذَبَحُوْهَا وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ۝

اوویل دوی | اوس | تا راوړه | پوره خبره | نو دوی ذبح کړه هغه | اونه وونزدے دوی | چه داکار ے کړے وے

اوویل اوس دے راته واضحه خبره اوکړه اخیر دوی دیر په مشکله دا غوا ذبحه کړه خو دزړه نه ورته تیار نه وو

وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادّٰرَءْتُمْ فِيْهَا ؕ وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ

اوکله چه | اوژلو تاسو | یو کس | نوتاسو جګړه اوکړه | دهغه په باره کښ | او الله | ښکاره کولګے وو

او هغه وخت یاد کړئ چه کله تاسو یو کس اووژلو او (بیا) په یو بل مو الزامونه لګول او الله تعالی هغه

مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ۚ فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا ؕ كَذٰلِكَ

دهغه څه | چه تاسو | پټول | پس مونږ اوویل | اووهئ دامړے | په څه حصه دے سره | دغه شان

(راز) ښکاره کول (غوښتل) چه تاسو پټولو۔ نوبس مونږ اوویل چه دامړے دے غوایاددے مړی په یوه حصه ووهئ

يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ۙ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝ ثُمَّ

ژوندی کوی الله | مړی | او ښائی تاسو ته | خپلے نخښے | دے دپاره چه تاسو | پوهه شئ | بیا

هم دغه شان الله تعالی مړی ژوندی کوی او تاسو ته دخپل قدرت نخښے دے دپاره ښائی چه تاسو د عقل نه کار واخلئ

قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ

کلک شول | ستاسو زړونه | روستو د دے نه | نو هغه | په شان دکانړو شو | یا دهغے نه هم زیات

بیا د دے واقعاتونه روستو ستاسو زړونه داسے سخت شو لکه کانړی بلکه دکانړو نه هم زیات سخت

قَسْوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ

سخت | او بیشکه | بعضے دکانړونه | هغه دی | چه بهیږی | د هغے نه | نهرونه | او بیشکه

(ځکه چه) په کانړو کښ (خو) څه کانړی داسے وی چه د هغے نه نهرونه رابهیږی او څه کانړی پکښ

مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا

بعضے دکانړونه | هغه دی | چه اوچوی | نو راوځی | د هغے نه اوبه | او بیشکه | بعضے د دے نه

داسے وی چه پخپله اوچوی او اوبه ترے راوځی او څه کانړی پکښ داسے هم وی

لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا

هغه دی | چه رارغړی | د ډیرے د الله نه | او نه دے الله | ناخبره | د هغه څه نه

چه د الله تعالی ډیرے نه خکته رارغړی او تاسو چه څه کوی الله تعالی د هغے نه بے خبره نه دے۔

تَعْمَلُوْنَ ۝ اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ

چه تاسو ئے کوئ | آیا طمع لرئ تاسو | چه دوی به ایمان راوړی | ستاسو په وینا | او یقیناً | وه

اے مومنانو! آیا اوس هم تاسو دا طمع لرئ چه دا خلق به ستاسو په وینا ایمان راوړی حالانکه په دوی کښ

فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ مَا

یوه ډله | د دوی نه | چه اوریدو ئے | کلام | د الله | بیا ئے | بدلولو هغه | پس د دے نه

یوه ډله داسے وه چه د الله کتاب به ئے اوریدلو چه ښه به پرے پوهه شو نو بیا به ئے سره د علم نه

عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چه پوهه به شو په هغے | او دوی | پوهیدل | اوکله چه | مخامخ شی دوی | د هغه خلقو سره | چه ایمان ئے راوړے دے

هغے کښ تحریف لفظی او معنوی کولو۔ او دا خلق چه کله هم د مومنانو سره ملاویږی نو ورته وائی

قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ قَالُوْٓا

(نو) وائی | چه مونږ (هم) ایمان راوړے دے | اوکله چه | خانله شی | بعضے د دوی | د بعضو سره | نووائی (ورته)
چه مونږ (هم) ایمان راوړے دے اوکله چه دا منافقین د خپلو ملیانو یهود و سره یوازے شی نو هغه ملیان خپل یهود و دے منافقینو ته وائی چه آیا تاسو

اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ

آیا تاسو خبروی دوی (مسلمانان) | په هغه څه | چه ښودلی دی | الله | تاسو ته | د مے دپاره چه جګړه او کړی دوی تاسو سره
مسلمانانو ته هغه خبرے د تورات پیانوی کومے چه الله تعالیٰ تاسو ته ښکاره کړی دی (په بارګاه د مے نبی کښ نو نتیجه به ځه شی) چه دا (مسلمانان) به

بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ

په هغے سره | په نزد د رب ستاسو | آیا نو تاسو د عقل نه کار نه اخلئ | آیا دوی نه پوهیږی | چه بیشکه الله
پر مے ستاسو د رب په نزد تاسو سره جګړه کړی (او غالب به شی په حجت کښ) آیا تاسو کښ د و مره عقل نشته؟ آیا داخلق په دے نه پوهیږی

يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۝ وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ

پوهیږی | په هغه څه | چه دوی ځپټوی | او په هغه څه | چه دوی ښکاره کوی | او بعضے د دوی نه | امیان دی
چه الله تعالیٰ ته تو لے خبر مے معلوم دی چه که دوی ځپټوی او (که) ښکاره کوی۔ او په دوی کښ څه خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ۝

چه نه پوهیږی | په کتاب | مګر | د دروغو ارزوګانے | او نه دی دوی | مګر | ګمان کوی
دا سے امیان دی چه د غلطو (باطلو) خیالاتو نه سوا نور د کتاب علم نه لری او تش ګمانونه کوی

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ۗ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ

پس تباهی ده | د هغه خلقو دپاره | چه لیکی | کتاب | په خپلو لاسونو | بیا | وائی
نو (پس) د هغه خلقو د پاره هلاکت دے چه په خپلو لاسونو کتاب لیکی او بیا وائی

هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَوَيْلٌ

(چه) دا | د الله د طرف نه دے | دے دپاره چه واخلی | په دے باندے | قیمت | لږ | پس تباهی ده
چه دا د الله د طرف نه راغلے دے، دے دپاره چه د هغے په بدل کښ لږ قیمت واخلی پس تباهی ده

لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا

د دوی دپاره | د هغه څه په وجه | چه لیکلی دی | د دوی لاسونو | او تباهی ده | د دوی دپاره | د هغه څه په وجه
د دوی دپاره د هغه لیکلو په وجه چه د دوی لاسونو کړی دی او د دوی دپاره تباهی ده د هغه مال په وجه چه دوی ځپلی (په دے کار)

يَكْسِبُوْنَ ۝ وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ

چه دوی ځپلی | او وائی دوی | هیڅ کله به ونه رسی مونږ ته | اور | سوا | د یو څو ورځو | د شمار لے شوونه
او دوی (دا هم) وائی چه مونږ ته به د یو څو ورځو نه سوا د دوزخ اور رانزدے کیږی هم نه ته ورته وویل چه آیا تاسو د الله تعالیٰ نه دا سے

قُلْ اَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ عَهْدَهٗٓ

اووایه | آیا تاسو اخستے دے | د الله نه | څه وعده | پس هیڅ کله به خلاف ونه کړی الله | د خپلے وعدے
څه وعده اخستلے ده چه تاسو ته به عذاب نه ډر کوی (که دا سے شوے وی) نو بیا خو هیڅ چرے الله د خپلے وعدے نه خلاف نه کوی

أَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ بَلٰى مَنْ كَسَبَ

بلکه تاسو وایئ | په الله | هغه دروغ | چه تاسو (پرے) نه پوهیږئ | ولے نه | (هغه) چا | چه کړی ئے وی

خو حقیقت دا دے چه تاسو په الله تعالیٰ باندے هغه خبرے تړئ چه تاسو ته ئے ثبوت هم نشته؟ چه دا خبرے د الله طرف نه دی.

سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓئَتُهٗ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ

څه ګناه | او راګیر کړے وی | ده ګله | خپلے ګناه | نو دغه خلق | دوزخیان دی | دوی به

دا سے نه ده څنګه چه د دوی خیال دے بلکه څوک چه ګناه او کړی او خپله ګناه ئے هر طرف نه راګیر کړی تر مرګه پورے

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

په دے کښ | همیشه وی | او هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیک

نو هم دا سے خلق دوزخیان دی (او) په هغے کښ همیشه به اوسیږی۔ او څوک چه ایمان راوړی او نیک عمل او کړی

ع ۱۲ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَاِذْ اَخَذْنَا

نو دغه خلق | جنتیان دی | دوی به | په دے کښ | همیشه وی | او کله چه | مونږ واخستله

نو دا سے خلق جنتیان دی او دوی به په هغے کښ همیشه اوسیږی۔ او هغه وخت یاد کړئ کله چه مونږ

مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ ۙ وَبِالْوَالِدَيْنِ

پخه وعده | د بنی اسرائیلو نه | (چه) عبادت به نه کوئ | مګر د یوالله | او (کوئ به) دمور او پلار سره

د بنی اسرائیلو نه پخه وعده واخستله چه د الله تعالیٰ نه سوا به د بل چا عبادت نه کوئ او د مور او پلار.

اِحْسَانًا وَّذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ

ښیګړه | او د خپلوانو سره | او یتیمانو سره | او مسکینانو سره | اووایئ | خلقو ته

رشته دارانو، یتیمانو او مسکینانو سره به احسان کوئ او خلقو ته ښه خبره کوئ

حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۭ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا

ښه خبره | او کوئ | مونځ | اوورکوئ | زکات | بیا | تاسو مخ واړولو | مګر

او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ خو بیا په تاسو کښ د لږو خلقو نه سوا

قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ

لږو | ستاسو نه | او تاسو | مخ اړونکی یئ | او کله چه | واخستله مونږ | پخه وعده ستاسو نه

نورو ټولو د دے نه مخ واړولو او ستاسو عادت مخ اړول دی۔ او هغه وخت یاد کړئ کله چه مونږ

لَا تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ

چه نه به توی ئ | وینے خپلے | او نه به اوباسئ | خپل خلق | د خپلو کورونو نه

ستاسو نه پخه وعده واخستله چه دیو بل وینے به نه توی ئ او خپل هم جنس خلق به دهغوی د کورونو نه نه شړئ

ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ۝ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُوْنَ

بیا | تاسو اقرار او کړو | او تاسو | ګواهان یئ | بیا | تاسو | هغه خلق یئ | چه وژنئ

بیا تاسو د دے اقرار او کړو او تاسو پخپله د دے ګواهان هم یئ۔ (د دے نه پس) تاسو هم هغه کسان یئ

اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ مِّنْ دِيَارِهِمْ تَظٰهَرُوْنَ

یو بل | او اوباسئ تاسو | یو ډله | ستاسو نه | دهغوی دکورونو نه | مدد کوئ (دیو بل)
چه خپل خلق وژئ او دخپلے ډلے څه خلق دهغوی دکورونو نه شړئ او د هغوی خلاف

عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ؕ وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى

دهغوی په خلاف | په ګناه | او زیاتی سره | او که چرے | راشی دوی تاسو ته | قیدیان
په ګناه او زیاتی کولو کښ د هغوی د دشمنانو مدد کوئ او که هغوی تاسو سره قیدیان شی

تُفٰدُوْهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ؕ

نو تاسو خلاصوئ هغوی په خپلو زرکولو سره | او حال دادے | چه حرام (کړے شوی) دی | په تاسو باندے | ویستل د هغوی
نو د هغوی د خلاصولو دپاره جرمانه ورکوئ حالانکه د هغوی شړل په تاسو حرام وو

اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَآءُ

آیا نو تاسو منئ | بعضے (حکم) (د) کتاب | او انکار کوئ | د بعضے (حکم د کتاب) نه | پس نه دے | سزا
نو آیا تاسو د تورات څه حکمونه منئ او څه نه انکار کوئ نو څوک چه په تاسو کښ داسے کار کوی

مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

دهغه چا | چه کوی | داکار | ستاسو نه | سوا | درسوایئ نه | په ژوند | دنیوی کښ
نو دهغه سزا ددے نه سوا نور بل څه نشی کیدے چه د دنیا په ژوند کښ به رسوا وی

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

او په ورځ | د قیامت به | واپس کړے شی دوی | دیر سخت عذاب ته | او نه دے الله | بے خبره
او د قیامت په ورځ به دیر سخت عذاب ته اولیږلے شی او الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

دهغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ | (هم) دا | هغه خلق دی | چه اختیار ئے کړے | ژوند د دنیا
ناخبره نه دے۔ دا هغه خلق دی چه د آخرت په ځای ئے د دنیا ژوند غوره کړے دے

بِالْاٰخِرَةِ ۪ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ۝ ع

په بدل د آخرت کښ | پس کم به نه کړے شی | د دوی نه | عذاب | او نه به ددوی | مدد او کړے شی
نو بس نه خو به د دوی عذاب کښ کمی کیږی او نه به ورسره څه مدد کیږی

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ ۪

او یقیناً | مونږ ورکړے وو | موسیٰ ته | کتاب | او پرله پسے مونږ ولیږل وو | د هغه نه روستو | دیر پیغمبران
او یقیناً مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړے وو او د هغه نه روسته مو پرله پسے دیر پیغمبران راولیږل

وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ

اوورکړی وو مونږ | عیسیٰ | څوی | د مریم | واضحه دلیلونه | او مونږ مضبوط کړے وو هغه | په روح
او عیسیٰ بن مریم ته مو ښکاره نښانے او معجزات ورکړی وو او د روح القدس په ذریعه مو

الْقُدُسِ ؕ اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُكُمُ

پاک سره | آیا نو هرکله | چه رابه ورو تاسوته | ټیو پیغمبر | هغه (حکم) | چه له به خوښولو | ستاسو نفسونو

هغه مضبوط کړے وو (دا ستاسو عادت جوړ شوے دے) چه کله هم تاسوته یو پیغمبر ستاسو د خواهش نه خلاف

اسْتَكْبَرْتُمْ ۚ فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ ۗ وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ ۝ وَقَالُوْا

نو تاسو به لوئ او کړه | نو یوه ډله به | تاسو دروغژنه او ګنله | او یوه (بله) ډله به | تاسو اووژله | او وائ دوی

حکم راوړو نو تاسو سرکشی او کړه نو بعضے پیغمبران تاسو دروغژن او ګنل او بعضے مو اووژل۔ او دا خلق وائ

قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ

(چه) زمونږ زړونه | په پردو کښ دی | بلکه | لعنت کړے دے په دوی باندے الله | د دوی د کفر په وجه

چه زمونږ په زړونو باندے پردے دی نو ستاسو په خبرونه پوهیږو (پردے نه دی) بلکه د دوی د کفر په وجه الله تعالیٰ په دوی

فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

پس ډیر لږ | دوی ایمان راوړی | او هرکله چه | راغے دوی ته | ټیو کتاب | د الله د طرف نه

لعنت کړے دے ځکه ډیر کم د دوی نه ایمان راوړی۔ او هرکله چه دوی ته د الله د طرف نه هغه کتاب راغے

مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ

تصدیق کونکے | د هغه څه | چه دوی سره دی | او وو دوی | د دے نه مخکے | چه فتحه به ئے غوښتله

چه د هغه کتاب تصدیق ئے کوو چه د دوی سره دے او دوی به د دے نه مخکښ هروخت (په سبب د دَرا تلو د دے پیغمبرؐ)

عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا

په هغه خلقو | چه کفر ئے کړے دے | ییا هرکله چه | راغے دوی ته | هغه څوک | چه دوی پیژندلو | نو کفر ئے وکړو

د کافرانو په مقابله کښے د الله نه فتح غوښتله خو چه کله ورته هغه پیغمبر راغے چه دوی ښه پیژندلو

بِهٖ ۗ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا

په هغه باندے | پس لعنت دے وی د الله | په کافرانو باندے | ډیر بد دے هغه شے | چه خرڅ کړی دی دوی

نو د هغهٔ نه ئے انکار او کړو پس په دا سے کافرانو باندے دے د الله لعنت وی۔ د کوم څیز په بدله کښ

بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ

په هغے سره | خپل ځانونه | دا دے چه انکار کوی دوی | د هغه څه نه | چه نازل کړی دی الله | دوے د حسد له په وجه | چه نازلوی

چه دوی خپل ځانونه خرڅ کړل هغه ډیر بد څیز دے او هغه دا چه د الله تعالیٰ د نازل کړی کتاب نه صرف

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ

الله | خپل فضل | په (هغه) چا | چه اوئ غواړی | د خپلو بندګانو نه | پس اخته شو دوی

د بغض په وجه انکار کوی چه الله خپل فضل په خپلو بندګانو کښ چه په چا اوغواړی ولے نازلوی؟

بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝ وَاِذَا

په غضب | د پاسه د (بل) غضب | او د کافرانو د پاره | عذاب دے | سپکونکے | او کله چه

نو دے بغض په وجه دوی د غضب د پاسه په بل غضب کښ اخته شو او کافرانو د پاره شرمونکے عذاب تیار دے

قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ

اووېلی شی | دوی ته | چه ایمان راوړئ | په هغه څه | چه نازل کړی دی الله | نووائی دوی | مونږ ایمان راوړو | په هغه څه

او کله چه دوی ته اووېلی شی چه الله تعالی چه کوم کلام رالیږلے دے په هغے ایمان راوړئ نو دوی وائی چه

اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۚ وَهُوَ الْحَقُّ

چه نازل کړے شوی دی | مونږ ته | اودوی انکار کوی | دهغه څه نه | چه (ددے) نه سوا دی | اوحال داچه هغه | حق دی

مونږ صرف په هغه کلام ایمان راوړو کوم چه مونږ ته نازل شوے دے او د هغے نه سوا دنورو نه انکار کوی

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ

تصدیق کونکی دی | دهغه څه | چه ددوی سره دی | اووایه | نوولے | وړل تاسو | پیغمبران د الله

حالانکه هغه (هم) حق دی (او) د دوی د کتاب تصدیق کوی اے نبی اته ورته ووایه که تاسو واقعی

مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوْسٰى

مخکے ددے نه | که چرے یئ تاسو | مؤمنان | اویقیناً | راغلے ووتاسو ته | موسیٰ

په تورات باندے ایمان لرلو نو بیا تاسو ددے نه مخکښ دالله پیغمبران ولے وړل؟ اویقیناً موسیٰ (هم) تاسو ته

بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ۝

په ښکاره دلیلونو سره | بیا | تاسو نیولے وو | سخے (معبود) | ددهٔ نه وروسته | او تاسو | ظالمان وئ

په ښکاره دلیلونو او احکامو سره راغلے وو بیا تاسو دهغه د تلونه روستو د اظلم او کړو چه د سخی نه مو معبود جوړ کړو.

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ۭ خُذُوْا

او کله چه | واخستله مونږ | پخه وعده ستاسو نه | اواوچت کړو مونږ | ستاسو د پاسه | طور | اونیسئ

او هغه وخت (هم) یاد کړئ کله چه مونږ ستاسو نه پخه وعده واخستله او کوه طور مو ستاسو د پاسه اوچت کړو (او دا مو درته اووېل چه)

مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاسْمَعُوْا ۭ قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ۚ

هغه څه | چه مونږ درکړی دی تاسو ته | په قوت سره | او واورئ | اووېل دوی | واوریدل مونږ | اونافرمانی کوو مونږ

کوم کتاب مو درکړے دے هغه کلک ونیسئ او (حکم) ښه په غور سره واورئ نو دوی اووېل مونږ واوریدل (خو) منوے نه

وَاُشْرِبُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۭ قُلْ بِئْسَمَا

او وڅکولے شوه | د دوی په زړونو کښ | (مینه د) سخی | په وجه د کفر د دوی | اووایه | ډیر بد دی هغه څه

(اصل کښ) د دوی د کفر په وجه د سخی محبت د دوی زړونو ته ورلنوتے وو۔ اے نبی ورته ووایه که چرے

يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ اِيْمَانُكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ قُلْ

چه حکم کوی تاسو ته | د هغے | ستاسو ایمانونه | که چرے یئ تاسو | مومنان | اووایه

تاسو واقعی مومنان یئ نو ستاسو (دا) ایمان خو تاسو ته د ډیر بد و خبرو تعلیم درکوی؟. اے نبی ورته ووایه

اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً

که چرے وی | ستاسو دپاره | کور روستنے | په نزد د الله | یواځے

که چرے د آخرت کور د الله په نزد د ټولو خلقو په ځائے صرف ستاسو دپاره مخصوص وی

مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۹۴﴾

بغیر د نورو خلقو نه | نو آرزو اوکړئ د مرګ | که چرے یئ تاسو | رشتینی
نو که تاسو واقعی رشتینی یئ نو لږ د مرګ آرزو خو اوکړئ

وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ

او هیڅکله به دوی آرزو اونه کړی (د مرګ) | همیشه | په سبب دهغه څه | چه مخکښ لیږلی دی | لاسونو د دوی | او الله
لیکن دوی چه کوم عملونه مخکښے لیږلی دی دهغے په وجه به دوی هیڅ کله د مرګ آرزو نه کړی او الله تعالی ته

عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۵﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۛ

ښه پوهه دے | په ظالمانو | اوته به خامخا بیاموے دوی | زیات حرص کونکی د نورو خلقو نه | په ژوند
ظالمان پیر ښه معلوم دی (بلکه) یقیناً ته به دا خلق د نورو خلقو نه زیات په ژوندون پسے حرصناک بیاموے

وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ

او دهغه خلقو نه (هم) | چه شرک کړے دے | خوښوی | هریو د دوی نه | چه کاش | عمر ورکړے شی حقه | زر
تر دے چه د مشرکانو نه هم زیات حرصناک، په دوی کښ هریو دا خواهش لری چه کاش چه زر کاله

سَنَةٍ ۚ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ

کاله | اونه دے | دا (عمر) | خلاصولکے دے لره | د عذاب نه | یعنی چه (عمر) ورکړے شی | او الله
عمر ورته ملاو شی خو که دومره اوږد عمر ورته ملاو هم شی نو د عذاب نه ئے خو بچ کولے نه شی

بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّهٗ ع

ښه لیدونکے دے | دهغه څه | چه دوی ئے کوی | اووایه | هغه څوک | چه وی | دشمن | د جبریل | لوبیشکه هغه (خو)
او دوی چه څه عمل کوی هغه الله تعالی ښه وینی۔ اے نبی خلقو ته اووایه اڅوک چه د جبریل دشمن وی (نو وی دے تباه به شی)

نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

نازلوی دا (قرآن) | ستا په زړه | په حکم د الله | چه تصدیق کونکے دے | دهغه څه | چه د دهٔ نه مخکښ دی
څکه هغه خو دا کتاب د الله تعالی په اجازه ستا په زړه نازل کړے دے چه د مخکے کتابونو تصدیق کونکے دے

وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۷﴾ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ

او هدایت | او زیرے دے | د مؤمنانو دپاره | هغه څوک | چه وی | دشمن | د الله
او د مومنانو دپاره هدایت او زیرے دے۔ څوک چه د الله او دهغه د ملائکو او دهغه د پیغمبرانو

وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ

او دهغهٔ د ملائکو | او دهغهٔ د پیغمبرانو | او د جبریل | او د میکائیل | نو بیشکه | الله | دشمن دے
او خاصکر د جبریل او د میکائیل دشمن وی نو هغه دے واوری چه الله تعالی هم د دا سے کافرانو دشمن دے

لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ

د کافرانو | او یقیناً | مونږ نازل کړی دی | تاته | آیتونه | واضحه | او کفر نه کوی
او یقیناً مونږ تاته دا سے آیاتونه نازل کړی دی چه حق لره واضح کونکی دی او د دے نه انکار هم هغه خلق کوی

بِهَآ اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ ۝ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ

په دے باندے | مګر نافرمان | آیا هر کله | چه دوی وعده وکړی | یَوه وعده | نو او غورځوی هغه لره | یَوه ډله

چه بد کردار ه دی۔ آیا (داسے نه ده څه) چه دوی کله هم یوه پخه وعده کړے ده نو د دوی

مِّنْهُمْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ

د دوی نه | بلکه اکثر د دوی نه | ایمان نه راوړی | او هر کله | چه راغے دوی ته | پیغمبر

یوے ډلے هغه همیشه ماته کړے ده حقیقت دادے چه په دوی کښ اکثر خلق بے ایمانه دی

مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ

د الله د طرف نه | تصدیق کونکے | د هغه څه | چه دوی سره دی | (نو) اوغورځولو | یوے ډلے

او کله چه دوی ته د الله د طرف نه هغه پیغمبر راغے چه د دوی د کتابونو تصدیق ئے کولو نو د اهل کتابو

مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ

د هغه خلقو نه | چه ورکړے شوے وو هغوی ته کتاب | کتاب | د الله | روستو | د خپلو شاګانو نه

یوے ډلے د الله کتاب داسے شاته اوغورځولو لکه چه هیڅ دوی نه پوهیږی

كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ

لکه چه دوی | نه پوهیږی | او روان شو دوی | په هغه څه پسے | چه لوستل به | شیطانانو

او په هغه (منتر و) پسے روان شو کوم به چه د سلیمانؑ په بادشاهۍ کښ شیطانانو لوستل

عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ

په زمانه د بادشاهۍ د سلیمان کښ | او کفر نه وو کړے | سلیمان | لیکن | شیطانانو

او سلیمانؑ خو د سره د کفر خبره قدر ے هم نه وه کړے بلکه شیطانانو په خپله کفر کړے وو

كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ

کفر کړے وو | نبودلو به ئے خلقو ته | جادو | او په هغه څه پسے (روان شو) | (چه) نازل کړے شوی وو | په دوو ملائکو

چه خلقو ته ئے جادو نبودلو او دوی په هغه څه پسے (هم) روان شو چه په بابل ښار کښ په دوو فرشتو

بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى

په بابل ښار کښ | هاروت | او ماروت باندے | اونه نبودل دے دواړو | هیڅ یو کس ته | تر دے چه

هاروت او ماروت باندے نازل شوی وو او هغوی دواړو به تر هغه وخته پورے هیڅ چا ته تعلیم نه ورکولو تر څو پورے

يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ؕ فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا

اُوبه ویل دے دواړو | (چه) بیشکه | مونږ (خو) | ازمیښت یُو | نو تاسو کفر مه کوئ | پس دوی به زده کول | د هغه دواړو نه

به ئے چه ورته دا اونه ویل چه (کوره) مونږ د ازمیښت دپاره رالیږلی شوی یو نو تاسو (د جادو په وجه) کفر مه اختیارو ئ

مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ؕ وَمَا هُمْ

هغه جادو | چه جدائی به ئے راوستله | په هغے سره | په مینځ | د سړی | او د ښځے د هغه کښ | اونه وو دوی

خو بیا هم دے خلقو د هغوی نه هغه څه زده کول چه د هغے په ذریعه به ئے د ښځے او د خاوند په مینځ کښ

بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا

ضرر رسونکی | په هغے سره | هیڅ چاته | مګر | په حکم د الله | او دوی به زده کول | هغه څه

جدائی راوستله حالانکه (بیا هم) دوی د الله تعالی د حکم نه بغیر په جادو سره هیڅ چاته نقصان نه شو رسولے

يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ؕ وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ

چه نقصان به ئے ور کولو دوی ته | او فائده به ئے نه ور کوله دوی ته | یقیناً | دوی پوهه وو | چه چا | واخستلو دغه (جادو)

بلکه دوی هغه څه زده کول چه نقصان ئے ور کولو دوی ته او فائده ئے نه ور کوله او یقیناً دوی ته ښه پته وه چه څوک

مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ؕ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا

نو نه به وی دهغه دپاره | په آخرت کښ | څه حصه | او خامخا ډیر بد دے | هغه شے | چه دوی خرڅ کړل

دا جادو واخلی نو په آخرت کښ دهغه هیڅ حصه نشته او حقیقت دا دے چه هغه څیز ډیر بد دے چه دهغه

بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ؕ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا

په هغے باندے | خپل ځانونه | کاش که دوی | پوهیدلے | او که چرے | دوی | ایمان راوړے وے

په بدله کښ دوی ځانونه خرڅ کړل کاش چه دوی ته دده خبرے علم وے۔ او که چرے دوی ایمان راوړے وے

وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ؕ لَوْ كَانُوْا

او ځان ئے ډډ کړے وے | نو خامخا هغه ثواب | چه د طرفه د الله نه وو | ډیر غوره وو | کاش که دوی

او تقوی ئے اختیار کړے وے نو د الله تعالی د طرف نه ملاویدو لکے ثواب یقیناً ډیر غوره وو کاش چه دوی

يَعْلَمُوْنَ ۝ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا ع

پوهیدلے | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | مهٔ وایئ | (لفظ د) راعنا | او وایئ

په دے خبره پوهیدلے۔ اے مومنانو! د راعنا ټکے مه وایئ بلکه انظرنا وایئ

انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ

او کوره مونږ ته | او واورئ | او د کافرانو دپاره | عذاب دے | ډیر دردناک | نه خوښوی | هغه خلق

او خبره په غور اورئ (ددے دپاره چه انظرنا ته ضرورت پیدا نشی) او د کافرانو دپاره دردناک عذاب تیار دے۔ کافر خلق کهٔ

كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ

چه کفر ئے کړے دے | د اهل کتابو نه | او نه مشرکان | (دا) چه | نازل کړے شی

اهل کتاب دی او که مشرکان دا نه غواړی چه په تاسو دے ستاسو د رب د طرف نه څه خیر (وحی) نازل شی

عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ

په تاسو باندے | څه خیر | ستاسو د رب د طرف نه | او الله | خاص کوی | په خپل رحمت سره

حالانکه الله تعالی خپل رحمت خاص هغه چا لره ورکوی چه چا لره ئے اوغواړی

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝ مَا نَنْسَخْ

هغه څوک | چه اوئے غواړی | او الله | مالک دے د فضل | ډیر لوے | هغه چه | منسوخ کړو مونږ

او الله تعالی د ډیر لوئ فضل مالک دے. کله چه مونږ یو آیت منسوخ کړو

مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ

یو آیت | یا هیر کړو هغه (ستانه) | نو مونږ راوړو | ډیر غوره | ډهغے نه | یا ډهغے په شان | آیا ته نه پوهیږے

یا ځکه هیر کړو ځه مصلحت په بنیاد، نو (بیا) ډهغے نه زیات غوره یا ډهغے په شان نازل کړو آیا ته ددے خبرے پته نشته چه

اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۶﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ

چه بیشکه الله | په هر څیز باندے | ډیر قدرت والا دے | آیا ته نه پوهیږے | چه بیشکه الله

الله تعالی په هر څه پوره قدرت لری ؟. آیا ته دا معلومه نه ده چه د آسمانونو او د زمکے بادشاهی

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ډهغه ډپاره ده | بادشاهی | د آسمانونو | او د زمکے | او نشته | ستاسو ډپاره | د الله نه سوا

یوا ځے د الله تعالی ده او د الله تعالی نه سوا هیڅ څوک نه ستاسو دوست شته

مِنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۰۷﴾ اَمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَسْـَٔلُوْا رَسُوْلَكُمْ

هیڅ څوک دوست | او نه څوک مددګار | آیا تاسو غواړئ | چه تهوسونه او کړئ | د خپل پیغمبر نه

او نه مددګار۔ آیا تاسو دا غواړئ چه د خپل پیغمبر نه هغه شان تهوسونه د اعتراض په طور او کړئ

كَمَا سُئِلَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ

لکه څنګه | چه تهوس کړے شوے وو | د موسیٰ نه | د دے نه مخکے | او چا چه | (بدل کښ) واخستلو | کفر

لکه څنګه چه تاسو نه مخکښ د موسیٰ نه شوے وو او چا چه د ایمان په ځائے کفر اختیار کړو

بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۱۰۸﴾ وَدَّ كَثِيْرٌ

په ځای د ایمان | نو یقیناً | هغه ګمراه شو | د سے | لارے نه | خوښوی | ډیر

یقیناً هغه د سے لارے نه واوړیدلو۔ اے مسلمانانو ! ډیر اهل کتاب

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا ۚ

د اهل کتابو نه | چه واړوی تاسو | پس د ایمان (راوړلو) ستاسو نه | کافران

د حسد په وجه دا غواړی چه د ایمان راوړلو نه پس بیا تاسو کافران کړی

حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ

دوے د حسد نه | چه د دوی په زړونو کښ دے | پس د دے نه | چه نبه ښکاره شوے دے | دوی ته

سره د دے چه حق ورته پوره واضح شوے دے

الْحَقُّ ۚ فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِىَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ

حق | پس معافی او کړئ | او مخ واړوئ | تر دے چه | راولیږی الله | خپل حکم | بیشکه

پس تاسو (ئے) معاف کړئ او مخ ترے واړوئ تر دے چه الله تعالی خپل بل حکم راولیږی یقیناً

اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ

الله | په هر څیز باندے | ډیر قدرت والا دے | او پابندی کوئ | د مونځ | او ورکوئ | زکات

الله تعالی په هر څه باندے قادر دے او د مانځه پابندی کوئ او زکات ورکوئ او

وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

اوهغه (څه) | چه تاسو ځمخکښ لیږئ | دخپل ځانونو دپاره | د څه نیکئ له | نوتاسو به بیاموئ هغه | د الله سره
(یاد ساتئ) تاسو چه څه قسم نیک عمل د ځان دپاره مخکے لیږئ (د) هغے (اجر) به د الله سره بیاموئ

اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ

بیشکه الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | او وائی دوی | چه هیڅ کله به داخل نه شی
یقیناً الله تعالیٰ ستاسو ټول کارونه ښه وینی. اودایهودیان اوعیسایان وائی چه دیهودیانو اوعیسایانو

الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ؕ

جنت ته | مګر | هغه څوک | چه وی | یهودیان | یا عیسایان | دا | د دوی ارزوګانے دی
نه علاوه به بل هیڅ څوک جنت ته نه ځی دا د دوی ځانے ارزوګانے دی

قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ بَلٰى ۚ مَنْ

اووایه | (چه) راوړئ | خپل (یقینی) دلیل | که چرے | یئ تاسو | رښتینی | ولے نه | هغه څوک
ته ورته ووایه که تاسو واقعی رښتینی یئ نو خپل څه یقینی دلیل پیش کړئ۔ ولے نه (قاعده خو داده) چه څوک هم

اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗۤ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۪

چه تابع کړی | خپل ځان | الله ته | اووی هغه | ښائسته عمل کونکے | نو دهغه دپاره | اجر دده دے | د رب خپل سره
الله ته خپل ځان اوسپاری او نیک عمله هم وی نو ده ته به خپل اجر د خپل رب سره ملاویږی

وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ ع وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ

اونه به وی څه ډیره | په دوی باندے | اونه به دوی | غمژن شی | او وائی | یهودیان
اوپه داسے خلقو به نه څه ډیره وی او نه به غمژن کیږی۔ او یهودیان وائی چه

لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۖ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ

(چه) نه دی | عیسایان | په هیڅ دین باندے | او وائی | عیسایان | (چه) نه دی
عیسایان په صحیح دین باندے نه دی اوعیسایان وائی چه یهودیان په صحیح دین باندے نه دی

الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ

یهودیان | په هیڅ دین باندے | اوحال دادے چه دوی (ټول) | لولی | کتاب | دغه شان
حالانکه ټول آسمانی کتاب لولی دغه شان خبره

قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ

وائی | هغه خلق (هم) | چه نه پوهیږی | په شان د خبرو د دوی | پس الله به | فیصله اوکړی
هغه مشرکان هم کوی چه د آسمانی کتاب علم نه لری نو بس دوی چه په کومه خبره کښ اختلاف کوی

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝ وَمَنْ

دَدوی په مینځ کښ | په ورځ د قیامت | په هغه څه کښ | چه دوی به | په هغے کښ | اختلاف کولو | اوځوک دے
الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ د دوی په مینځ کښ د هغے فیصله اوکړی۔ اودهغه چا نه به

أَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ

غټ ظالم | دهغه چا نه | چه منع کوی | د جماتونو د الله نه | یعنی دا چه | یاد کړی شی | په دے کښ | نوم د هغهٔ
غټ ظالم څوک وی چه د الله په جماتونو کښ دهغه نوم اخستل منع کوی

وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ

او کوشش کوی | د هغے په خرابولو کښ | دغه خلق | نه دی پکار | د دوی دپاره | چه داخل شی دے (جماتونو) ته
او د هغے په ورانولو کښ کوشش کوی دَدا سے خلقو خلاف جهاد کول پکار دی چه دوی ویاړ دے جماتونو ته نه داخلیږی مګر په یَرَه سره

اِلَّا خَآئِفِيْنَ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

مګر | یریدونکی | د دوی دپاره | په دنیا کښ | رسوائی ده | او د دوی دپاره | په آخرت کښ
دا سے خلق په دنیا کښ هم رسوا دی او په آخرت کښ به ورله هم

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَاَيْنَمَا

عذاب دے | ډیر لوے | اوخاص د الله دے | مشرق | او مغرب | پس کوم طرف ته
ډیر لوے عذاب وی۔ او مشرق او مغرب (ټول جهتونه) د الله (په اختیار کښ) دی نو که تاسو څوک دَجماتونو نه منع کړی او تاسو

تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ وَقَالُوا

چه مخ اړوئ تاسو | نو هلته | مخ د الله دے | بیشکه الله | فراخ والا | ډیر پوهه دے | او وائی دوی
کوم طرف ته هم مخ اړوئ او توجه موالله ته وی نو هلته د الله ذات شته یقیناً الله ډیر وسعتونو والا نه پوهه دے۔ او دا خلق وائی

اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ لَّهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

چه نیولے دے الله | څوے | (دا سبحٰنهٗ دہ) پاک دے الله | بلکه | خاص دهغه دی | هغه څه | چه په آسمانونو
چه الله تعالیٰ څوے (نیازبین) لری (نه) هغه پاک ذات دے بلکه د آسمانونو او د زمکے هر څه دهغه

وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ۝ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

او په زمکه کښ دی | ټول | یوا ځے دهغه | تابعداری کونکی دی | ناشنا پیدا کونکے دے | د آسمانونو | او د زمکے
(په اختیار کښ) دی او ټول هغهٔ ته عاجزی کونکے دی۔ (هم) هغه په ناشنا طریقه د آسمانونو او د زمکے پیدا کونکے دے

وَاِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۝ وَقَالَ

او کله چه | فیصله او کړی | دیو کار | نو بیشکه | وائی | هغهٔ ته | (چه) شه | نو هغه اوشی | او وائی
او کله چه هغه یو کار کول غواړی نو بس دومره ورته اُوائی چه موجود شه نو هغه (فوراً) موجود شی۔ او کوم خلق

الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ ؕ

هغه خلق | چه نه پوهیږی | چه ولے خبرے نه کوی زمونږ سره الله | یا ولے نه راځی مونږ ته | یوه نخښه
چه علم نه لری هغوی وائی چه الله تعالیٰ مونږ سره په خپله خبرے ولے نه کوی یا مونږ ته یوه نخښه

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ تَشَابَهَتْ

دغه شان | ویلی وو | هغه خلقو | چه د دوی نه مخکښ وو | په شان | د وینا د دوی | یو شان شوی دی
(معجزه) ولے نه راځی نو ته خفه کیږه همهٔ ځکه چه د دوی نه پخوا نو خلقو به هم دغه شان خبرے کولے د دوی تر اوزرونه ده شان شوی دی

قُلُوْبُهُمْ ؕ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِنَّاۤ اَرْسَلْنٰكَ

زړونه ددوی | یقیناً | مونږ بشکاره کړی دی نخښې | دپاره دهغه قوم | چه یقین کوی | بیشکه مونږ | رالیږلے ئے ته

حقیقت دادے چه یقین لرونکو دپاره مونږ ډیرے نخښے واضحه بیان کړی دی ۔ اے نبی! مونږ ته

بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۹﴾

په حقه | زیرے ورکونکے | او ویرونکے | اوتپوس به اونه کړے شی ستانه | د دوزخیانو باره کښ

ته په حق سره زیرے ورکونکے او ویرونکے لیږلے ئے او د دوزخیانو باره کښ به تانه هیڅ تپوس نه کیږی

وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ

او هیڅکله به خوشاله نه شی | ستانه | یهودیان | او نه عیسائیان | تردے چه | ته روان شے

او یهودیان او عیسائیان به ستانه تر هغے پورے هیڅکله خوشحاله نه شی ترڅو چه ته دوی په دین پسے

مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ

ددوی په دین پسے | اووایه | بیشکه | هدایت | د الله | هم هغه | پوره هدایت دے | اوکه چرے

روان نه شے . ته ورته ووایه چه حقیقی هدایت خو هم د الله هدایت دے اوکه چرے

اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ

ته روان شوے | ددوی خواهشاتو پسے | پس د دے نه | چه راغے تاته | علم

ته د وحی د راتلو نه پس د دوی په خواهشاتو پسے روان شوے نو د الله (د عذاب) نه

مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۲۰﴾ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

نونه به وی ستا دپاره | د الله د طرف نه | څوک دوست | اونه څوک مددګار | هغه خلق | چه مونږ ورکړے دے هغوی ته

د بچ کولو دپاره به هیڅوک ستا دوست یا مددګار نه وی ۔ کومو خلقو ته چه مونږ کتاب ورکړے دے

الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ

کتاب | لولی هغوی دا کتاب | څنګه چه حق دے | دلوستلو دے | دغه خلق | ایمان راوړی | په دے کتاب

هغوی هغه دا سے لولی څنګه چه ئے دلوستلو حق دے هم دا خلق (په حقیقت کښ) په دے ایمان لری

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ يٰبَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ ع

اوڅوک چه | انکار اوکړی | ددے نه | هم دغه خلق | پوره تاوانیان دی | اے د یعقوب اولاد

او څوک چه ددے نه انکار کوی نو همدا سے خلق خپل پوره تاوان کوی ۔ اے بنی اسرائیلو!

اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْۤ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ

یاد کړئ | زما نعمتونه | هغه | چه ما کړی دی | په تاسو | اوداسے (هم) چه بیشکه ما | غوره کړی وئ تاسو

زما هغه نعمتونه یاد کړئ چه په تاسو مے کړی وو او دا هم یاد کړئ چه په تولو خلقو مے تاسو له په

عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ

په ټولو خلقو | او اویر یږئ | د(هغه) ورځے نه | چه بدله به ورنکړی | یَوکس | د بل کس نه

خپله زمانه کښے فضیلت درکړے وو۔ اود هغے ورځے نه اویر یږئ چه هیڅ یو کس به د بل کس په کار نه راځی

شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ

کهیڅ څیزنه | اونه به هیڅ قبلولے | د هغه نه | څه فدیه مال | اوفائده به نه ورکوی هغه ته | څه سفارش | اونه به ددوی

اونه به دچا نه څه فدیه اوجرمانه قبلیږی اونه به ورله سفارش فائده ورکوی (بغیر د اذن د الله نه) اونه به ورسره مدد کیدے شی

يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ

مدد اوکړے شی | اوکله چه | ازمیښت اوکړو | په ابراهیمؑ باندے | خپل رب | په څو خبرو | نو هغه پوره کړے هغه (خبرے)

او هغه وخت یاد کړه کله چه په ابراهیمؑ باندے خپل رب په څو کارونو ازمیښت اوکړو نو هغه هغه ټول کارونه پوره کړل

قَالَ اِنِّيْ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ

اوویل (الله) | چه بیشکه زهٔ | جوړونکے یم تالره | د خلقو د پاره | پیشوا | اوویل هغه (ابراهیمؑ) | اوزما د اولاد نه هم

نو الله ورته اوویل چه زه تا د خلقو امام جوړوم نو ابراهیمؑ اوئیل او زما اولاد ته هم امامت ورکړه

قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۹﴾ وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ

اوویل (الله) | نه به رسی | زما وعده | ظالمانو ته | اوکله چه | جوړ کړو مونږ | بیت الله

نو الله ورته اوویل: زما وعده د امامت به ستا د اولاد ظالمانو ته نه رسیږی۔ اوهغه وخت یاد کړه چه مونږ بیت الله

مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى ؕ

د ثواب ځائ | د خلقو د پاره | او د امن (ځائ) | او جوړ کړئ | مقام د ابراهیمؑ | ځائے د مانځه

د خلقو د راجمع کیدو ځائ او د امن ځائ مقرر کړو او مونږ خلقو ته اوویل چه تاسو مقام ابراهیمؑ د مانځه ځای جوړ کړئ

وَعَهِدْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ

او مونږ حکم اوکړو | ابراهیمؑ ته | او اسماعیلؑ ته | چه پاک اوساتئ | زما کور | د طواف کونکو د پاره

او مونږ ابراهیمؑ او اسماعیلؑ ته داتاکیدی حکم اوکړو چه زما دا کور د هغه خلقو د پاره پاک اوساتئ

وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۵۰﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ

او د اعتکاف کونکو | او د رکوع کونکو | سجده کونکو د پاره | اوکله چه | اوویل | ابراهیمؑ | اے زما ربه

چه دلته طواف کوی او اعتکاف ته کیني او رکوع او سجدے کوی۔ اوکله چه ابراهیمؑ دعاء اوغوښتله

اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا وَّارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ

ته جوړ کړه | دا ښار | امن والا | او (روزی) ورکړه | ددے اوسیدونکوته | د میوو نه | هغه چاته

چه اے زما ربه دا ځای د امن والا ښار جوړ کړه او د دے په اوسیدونکو کښ چه څوک په الله

اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ

چه ایمان راوړی | د دوی نه | په الله | او په ورځ روستنۍ | اوویل (الله) | اوهغه څوک چه کفر اوکړی

او آخرت ایمان راوړی هغوی له دخوراک دپاره قسما قسم میوے ورکړه نو الله اوویل اوچا چه کفر اوکړو

فَاُمَتِّعُهٗ قَلِيْلًا ثُمَّ اَضْطَرُّهٗۤ اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ؕ

نوزه به فائده ورکړم هغه ته | لږه | بیابه | بوځم هغه په زوره | عذاب | د اور ته

هغه له به هم څه وخته پورے فائده ورکړم خو بیا به ئے د دوزخ عذاب ته راکاکم

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝ وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ

اودا (دوزخ) ډیر بد ځای | دور تلودے | اوکله چه | اوچتول | ابراهیم | بنیادونه | د بیت الله

اودا دوزخ داوسیدو ډیر بد ځای دے۔ اوهغه وخت یاد کړه کله چه ابراهیم او اسماعیل د بیت الله بنیادونه اوچتول (اودا

وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

او اسماعیل (هم) | اے زمونږ ربه | ته قبول کړه | زمونږ نه (داکار) | بیشکه | هم ته | ښه اوریدونکے ئے | ښه پوهه ئے

دعاء ئے غوښتله چه) اے زمونږ ربه زمونږ نه (دا خدمت) قبول کړه یقیناً صرف ته هره خبره اورے (او) په هر څه پوهیږے۔

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَاۤ اُمَّةً مُّسْلِمَةً

اے زمونږ ربه | اوجوړ کړه مونږ | (همیشه) تابعدار | ستا | او زمونږ داولادنه (هم) | یوه ډله | (همیشه) تابعداره

اے زمونږ ربه مونږ دواړه همیشه خپل تابعدار جوړ کړے او زمونږ په اولاد کښ هم یوه ډله خپله تابعداره

لَّكَ ۠ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ

ستا | او اوښایه مونږ ته | طریقے د عبادت زمونږ | او توبه قبوله کړه زمونږ | بیشکه | هم ته | ډیر توبه قبلونکے

جوړه کړه او مونږ ته زمونږ د عبادت طریقے اوښایه او مهربانی راباندے اوکړه یقیناً هم ته ډیر توبه قبلونکے

الرَّحِيْمُ ۝ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ

ډیر مهربان ئے | اے زمونږ ربه | او راولیږه | په دوی کښ | یو پیغمبر | د دوی نه | چه لولی | دوی ته

زیات مهربان ئے۔ اے زمونږ ربه په دے خلقو کښ یو داسے پیغمبر راولیږه چه هم د دوی نه وی چه

اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ

ستا آیتونه | او ښائی دوی ته | کتاب | او حکمت | او پاکوی دوی | بیشکه | هم ته

ستا آیتونه ورته لولی او د کتاب او د حکمت تعلیم ورکوی او دوی پاکوی یقیناً هم ته

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝ وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا

پوره غالب | لوئے حکمت والا ئے | او څوک دی | چه مخ واړوی | د دین | د ابراهیم نه | سوا

غالب او لوئے حکمت والا ئے۔ او د ابراهیم د طریقے نه دهغه چا نه سوا څوک مخ اړولے شی؟

مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ

دهغه چاته | چه کم عقل کړی | خپل ځان | اویقیناً | غوره کړے وو مونږ هغه لره | په دنیا کښ | اوبیشکه هغه به وی

چه پخپله ځان کم عقل کړے وی او یقیناً مونږ هغه په دنیا کښ (هم) غوره کړے وو

فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ ۙ

په آخرت کښ | د نیکانو نه | کله چه | اوویل | هغه ته | خپل رب | تابعدار اوسه

اوپه آخرت کښ به هم هغه دکاملو نیکانو سره وی۔ کله چه ورته خپل رب اوویل زما حکم ته همیشه غاړه کیږده

قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ

اوویل هغه | زه تابعداریم | د رَب | د مخلوقاتو | اووصیت کړے وو | ددے خبرے | ابراهیم

نوهغه اوویل چه ما درب العالمین هر حکم ته غاړه کیخودلے دے۔ اوهم ددے کلمے دَ توحید وصیت ابراهیم

بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ؕ يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ

خپلو ځامنوته | اویعقوبؑ (هم) | اے زما ځامنو! | بیشکه الله | غوره کړے دے | ستاسو دپاره | (دا) دین

اویعقوبؑ خپلو ځامنوته کړے وو چه اے زما ځامنو! یقیناً الله تعالی دا دین ستاسو دپاره خوښ کړے دے

فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ

پس مه مړئ تاسو | مګر | (په دا سے حال کښ) چه تاسو | مسلمانان یئ | آیا وئ تاسو | حاضر

نوتاسو له دے مرګ هم په دا سے حالت کښ راشی چه تاسو مسلمانان یئ۔ آیا تاسو په هغه وخت کښ موجود وئ

اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ

کله چه | راغے | یعقوبؑ ته | مرګ | کله چه | اوویل هغه | خپلو ځامنوته | چه څه عبادت به کوئ تاسو

کله چه دیعقوبؑ د مرګ وخت راغے او خپلو ځامنوته ئے اوویل چه زما نه روستو به د چا

مِنْ بَعْدِيْ ؕ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ

زمانه روستو | اوویل هغوی | مونږ به عبادت کوو | ستا د معبود | او دَ معبود دپلارنیکه ستا | چه ابراهیمؑ

عبادت کوئ؟ (نو) هغوی ورته اوویل چه مونږ به هم دهغه یو معبود عبادت کوو کوم چه ستا او ستا دپلارنیکه

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝

او اسماعیلؑ | او اسحاقؑ دے | چه معبود دے | یک یَو | او مونږ | خاص دهغه | تابعداری کونکی یُو

دابراهیمؑ داسماعیلؑ اود اسحاقؑ معبود دے او مونږ به همیشه (یوا ځے) هم دهغه حکم منونکی یُو

تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا

دغه | یوه ډله وه | چه تیره شوے ده | دهغوی دپاره دی | هغه څه | چه کړی دی هغوی | اوستاسو دپاره دی | هغه څه

دغه انبیاء یوه ډله وه چه تیره شوه هغوی ته به د خپلو عملونو بدله ملاویږی او تاسو ته به ستاسو د عملونو بدله ملاویږی

كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَقَالُوْا

چه کړی دی تاسو | اوتاسونه به تپوس اونه کړے شی | دهغه څه باره کښ | چه هغوی به | کول | او وائی دوی

اوتاسونه به دهغوی دعملونو باره کښ تپوس نه کیږی۔ اودایهودیان اوعیسایان وائی چه (اے مسلمانانو) تاسوهم

كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى تَهْتَدُوْا ۭ قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ

شئ تاسو | یهودیان | یا عیسائیان | نوپه هدایت به شئ | اووایه | بلکه | (مونږ وان یو) په دین | دابراهیمؑ سے

یهودیان یاعیسایان شئ نوسمه لار به بیاموئ ته ورته اووایه چه نا. بلکه مونږ خو به دابراهیمؑ ددین تابعداری کوو

حَنِيْفًا ۭ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

چه یو مخیز وو | او نه وو هغه | د مشرکانو نه | اووایئ (چه) | مونږ ایمان راوړے دے | په الله

چه صرف دَ یو الله منونکے وواودَ مشرکانو دے لنه نه وو۔ اے مسلمانانو دوی ته اووایئ چه مونږ (خو) په الله تعالیٰ باندے ایمان لرو

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ

اوپه هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | مونږ ته | اوپه هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | ابراهیمؑ ته

او په هغه کتاب چه مونږ ته نازل شوے دے او په هغه کتابونو هم چه ابراهیمؑ

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ

او اسماعیلؑ | او اسحاقؑ | او یعقوبؑ ته | او اولاد (د یعقوب) ته | اوپه هغه څه | چه ورکړے شوی وو

اسماعیلؑ، اسحاقؑ، یعقوبؑ او دهغوی اولاد ته نازل شوی وو او په هغه کتابونو هم چه موسیٰؑ اوعیسیٰؑ ته

مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ

موسیٰؑ | او عیسیٰؑ ته | اوپه هغه څه | چه ورکړے شوی وو | (نورو) پیغمبرانو ته | دخپل رب د طرف نه

ورکړے شوی وو او په هغه کتابونو هم چه نورو ټولو پیغمبرانو ته د خپل رب د طرف نه ورکړے شوی وو

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝

مونږ فرق نه کوو | په مینځ د هیڅ یوتن کښ | د دوی نه | او مونږ | خاص د الله | تابعداری کونکی یو.

او مونږ په دے پیغمبرانو باندے ایمان راوړو کښ هیڅ فرق نه کوو او مونږ هم یوا ځے د الله تابعدار یُو

فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ

پس که چرے | دوی ایمان راوړو | په شان د هغه (ایمان) | چه تاسو ایمان راوړے دے | په هغے | نو یقیناً | دوی به په سمه لار شی

(د دے نه پس هم) که دے خلقو هغسے ایمان راوړو څنګه چه تاسو په دے کتاب ایمان راوړے دے نو یقیناً سمه لار به بیاموی

وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ

او که مخ ګرځوار ولو | نو بیشکه | دوی دی | په مخالفت کښ | پس زړه چه کافی به شی تالره د دوی نه | الله

او که چرے مخ ګرځوار ولو نو دوی ستاسو مخالف دی خو دوی په مقابله کښ ستاد پاره یوا ځے الله کافی دے او هغه الله هر څه اوریدونکے

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣٧﴾ صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ

او هغه | ښهٔ اوریدونکے | ښه پوهه دے | (مونږ قبول کړے دے) رنګ دالله | او څوک دے | زیات ښائسته

اوپه هر څه باندے پوهه دے۔ (اے مسلمانانو ووایئ چه) مونږ دالله (دَدین) رنګ اختیار کړے دے اودالله تعالیٰ نه غوره رنګول دبل چا

مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۖ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿١٣٨﴾ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا

د الله نه | په رنګ کښ | او مونږ | خاص دهغه | عبادت کونکی یُو | اووایه | آیا تاسو جګړه کوئ زمونږ سره

کیدے شی؟ او مونږ هم دهغه عبادت کونکی یُو۔ اے نبی اووایه (ورته) آیا تاسو مونږ سره دالله تعالیٰ دوحدانیت باره کښ جګړه کوئ

فِى اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَآ اَعْمَالُنَا

دالله په باره کښ | اوحال دادے چه هغه | زمونږ (هم) رب دے | اوستاسو (هم) رب دے | اوزمونږ دپاره | زمونږ عملونه دی

حالانکه هغه ستاسو هم رب دے او زمونږ هم رب دے او مونږ ته به زمونږ د عمل بدله ملاویږی

وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿١٣٩﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ

اوستاسو دپاره | ستاسو عملونه دی | او مونږ | خاص دهغه دپاره | (په) اخلاص (عبادت) کونکی یُو | آیا تاسو وایئ

او تاسو ته به ستاسو د عمل بدله او مونږ خپله بندګی الله دپاره خالص کړے ده۔ اے یهودو

اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا

چه بیشکه | ابراهیمؑ | او اسماعیلؑ | او اسحاقؑ | او یعقوبؑ | او (دهغه) اولاد | وو

اوعیسایانو آیا تاسو دے خبرے قائل یئ چه ابراهیمؑ، اسماعیلؑ، اسحاقؑ، یعقوبؑ او دهغه اولاد (دا ټول)

هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ۗ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ۗ وَمَنْ اَظْلَمُ

یهودیان | یا عیسایان | اووایه | (چه) آیا تاسو | ښه پوهه یئ | که الله | اوځوک دے | زیات ظالم

یهودیان یا عیسایان وو؟ اے نبی ته ورته ووایه چه تاسو ښه پوهیږئ که الله؟ او دهغه چا نه زیات ظالم

مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ

دهغه چا نه | چه پټه کړے ئ | ګواهی | چه دده سره وی | دالله د طرف نه | اونه دے الله | بے خبره

څوک کیدے شی چه دا سے ګواهی اوعلم پټوی چه دالله طرف نه ده ته رسیدلے وی او الله تعالیٰ ستاسو د عملونو نه

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٠﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ

دهغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ | دغه | یوه ډله وه | چه تیره شوے ده | دهغوی دپاره دی | هغه څه | چه هغوی کړی دی

ناخبره نه دے۔ دغه یوه ډله وه چه تیره شوه هغوی ته به د خپلو عملونو بدله ملاویږی

وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٤١﴾ ع ١٦

اوستاسو دپاره دی | هغه څه | چه تاسو کړی دی | اوتاسو نه به تپوس اونه کړے شی | دهغه څه باره کښ | چه هغوی به | کول

او تاسو ته به د خپلو عملونو بدله ملاویږی او تاسو نه به د هغوی د عملونو باره کښ تپوس نه کیږی۔

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ

زړه چه اوبه وائی | بے وقوفان | د خلقو نه | څه شی واړول دوی | د قبلے خپلے نه | هغه
اوس به ناپوهه خلق خامخا وائی چه دا (مسلمانان) د خپلے هغے قبلے نه چه دوی په هغے باندے

كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ

چه وو دوی | په هغے باندے | اووایه | الله دپاره دی | مشرق | او مغرب | هدایت کوی هغه | چاته
تر اوسه وو څه شی واړول ـ اے پیغمبره اته دوی ته اووایه چه مشرق او مغرب (داتول طرفونه) د الله په اختیار کښ دی

يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝١٤٢ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا

چه اوغواړی | په طرف دلارے نیغے | او هم دغه شان | گرځولی ئے مونږ تاسو | یو امت | غوره
الله چه چالره اوغواړی نو په سمه لارے ئے روان کړی ـ او هم دغه شان مونږ تاسو یو غوره امت

لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ

چه شئ تاسو | گواهان | په خلقو باندے | او شی پیغمبر | په تاسو باندے | گواه
جوړ کړی ئے د دے دپاره چه تاسو په نورو خلقو باندے (په قیامت کښ) گواهی اوکړئ او پیغمبر په تاسو گواه شی

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ

اونه ده گرځولے مونږ | قبله هغه | چه وے ته | په هغے باندے | مگر | چه ښکاره کړو | هغه څوک
او ته چه تر اوسه پورے په کومه قبله وے هغه مونږ صرف د دے دپاره بدله کړه چه څوک د پیغمبر تابعداری کوی

يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ

چه تابعداری کوی د رسول | د هغه چا نه | چه اوړی | په پوندو خپلو | او بیشکه | ده داقبله
هغه د هغه چا نه جدا کړو (ښکاره) کړو چه د پیغمبر د تابعداری نه په خپلو پوندو واړی، او یقیناً دا معامله د تبدیلِ قبلے

لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ

ډیره گرانه | مگر | په هغه کسانو | چه الله ورته هدایت کړے دے | او نه دے | الله
ډیره گرانه ده په هر چا مگر هغه کسانو ته هیڅ گرانه نه ده چا ته چه الله تعالیٰ د پیغمبر د تابعداری توفیق ورکړے دے او یادساتی الله تعالیٰ

لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝١٤٣

چه ضائع کړی | ایمانونه ستاسو | بیشکه الله | په خلقو باندے | خامخا ډیر مهربان | ډیر رحم کونکے دے
هیڅ کله دا سے نه کوی چه ستاسو ایمانونه (مونځونه) برباد کړی ځکه چه بیشکه الله په خلقو باندے (خاص کر په مومنانو)

قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً

یقیناً | وینو مونږ | اوړیدل | د مخ ستا | اسمان ته | پس خامخا اړوو مونږ تا | (دا سے) قبلے ته
ډیر مهربانه او ډیر رحم کونکے دے ـ اے پیغمبره یقیناً اسمان طرف ته (دوی په انتظار) بار بار ستا مخ اړول مونږ وینو پس مونږ خامخا تا

تَرْضٰىهَا ۪ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ

چه ته خوښوے هغه | پس ته واړوه | مخ خپل | په طرف | د مسجد حرام | او کوم ځائے
هغے قبلے ته اړوو کومه چه ستا خوښه ده نو اے پیغمبره اته په مانځه کښ که په خپل کلی کښ ـ ئے هم خپل مخ د عزتمند جومات (کعبے) طرف ته

مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

چه ئے تاسو | نو اړوئ | مخونه خپل | په طرف دهغے (مسجد حرام) | او بیشکه | هغه کسان

او کر څوه او اوس اے مسلمانانو تاسو (هم) چه په هر ځائے کښ یئ نو (د خپل پیغمبر په تابعداری) کښے خپل مخونه مسجد حرام

اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ

چه ورکړے شوے دے هغوی ته | کتاب | خامخا پوهیږی | چه بیشکه دا حق دے | د طرفه د رب د دوی نه

طرف نه کړ ځوئ او یقیناً کوم خلق ته چه (آسمانی کتاب) اسمانی کتاب ورکړے شوے دے هغوی په دے نبه پوهه دی چه دا د قبلے

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ

اونه دے الله | ناخبره | دهغه څه نه | چه دوی ئے کوی | او که چرے | راوړے ته | هغه کسانو ته

د بدلیدلو حکم د دوی د رب د طرف نه دے. او الله تعالیٰ د دے اهل کتابو د عملونو نه ناخبره نه دے. او کوم خلق ته چه

اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ

چه ورکړے شوے دے هغوی ته کتاب | هر قسم نښه | نو تابعداری نه کوی دوی | د قبلے ستا

آسمانی کتاب ورکړے شوے دے که ته (اے پیغمبره) هغوی ته هر قسم دلیل (د قبلے د بدلیدو په صداقت) پیش کړے

وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ؕ

او نه ئے ته | تابعداری کونکے | د قبلے د دوی | او نه دی | بعض د دوی نه | تابعداری کونکی | د قبلے د بعضو

نو بیا هم دوی ستا قبله نه منی او ته هم د دوی د قبلے منونکے بالکل نه ئے او دا اهل کتاب خو په خپل مابین کښ هم د ضد دوے نه

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ

او که چرے | تابعداری او کړه تا | د خواهشاتو د دوی | پس د دے نه | چه راغلے دے تا ته | علم

د یو بل د قبلے تابعداری نه کوی او که بالفرض ته د اهل کتابو په خواهشاتو پسے روان شے د هغه وحی نه پس چه کومه تا ته راغلے ده

اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

نو بیشکه ته به هم | د غه وخت | د ظالمانو نه شے | هغه کسان | چه ورکړے دے مونږ هغوی ته | کتاب

نو یقیناً ته به بیا په ظالمانو کښ شمار شے. کوم کسانو ته چه مونږ آسمانی کتاب (آسونه مخکښ) ورکړے دے هغوی

يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ

پیژنی هغوی (بدلیدل د قبلے) | لکه څنګه چه | پیژنی هغوی | خامن خپل | او بیشکه | یوه ډله | د دوی نه

دا حکم د قبلے د بدلیدو او دا نبئ دا سے نبه پیژنی لکه څنګه چه خپل خامن نبه پیژنی او یقیناً په دوی کښ

لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ

خامخا پټوی | حقه خبره | او دوی پوهیږی | دا حق دی | د طرفه د رب ستا نه | نو مه کیږه ته

یوه ډله سره د پوهے حق پټوی۔ دا د قبلے بدلیدل خو ستا د رب د طرف نه حقه خبره ده نو ته د دے په باره کښ

مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ۝ وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا فَاسْتَبِقُوا

د شک کونکو نه | او دهر چا د پاره | یو طرف دے | چه هغه | مخ اړولے دے هغے طرف ته | پس وړاندے شئ

هیڅ شک مه کوه۔ او دهر یو د ډلے د پاره یو طرف مقرر دے چه هغوی هغے طرف ته مخ کوی نو د یو بل نه

الْخَيْرٰتِ ؕ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

نیکو کارونو ته | کوم ځائ | چه یئ تاسو | رابه ولی | تاسو لره | الله | ټول | بیشکه الله

دنیکئ په کارونو کښ دوړاندے والی کوشش او کړئ تاسو که په هر ځائ کښ یئ نو الله به تاسو ټول (خپل خواته) راجمع کړی یقیناً الله په

عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ

په هر یو څیز باندے | ډیر قدرت والا دے | او د کوم ځائ نه | چه اوځے ته | نو واړوه | مخ خپل

هر کار قدرت لری. او کوم ځائ ته چه ته (د خپل کلی نه) اوځے نو (دمانځه په وخت کښ) کعبے طرف ته مخ کوه څکه چه (دقبلے بدلیدل)

شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَاِنَّهٗ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَمَا اللّٰهُ

په طرف | د مسجد حرام | اوبیشکه دا (قبله برقرار سائل) | خامخا حق دی | د طرف د رب ستانه | اونه دے الله

ستاد رب د طرف نه برحقه فیصله ده. او تاسو چه څه عمل نه کوئ نو الله دهغے نه معمولی هم ناخبره نه دے. او (اے پیغمبره)

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ

ناخبره | دهغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ | او د کوم ځائ نه | چه اوځے ته | نو واړوه | مخ خپل

د کوم ځای څخه چه ته (د سفر د پاره) اوځے نو (په مانځه کښ) د کعبے طرف ته مخ کوه او (اے مسلمانانو) تاسو چه په هر ځائ کښ یئ (نو دمانځه

شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ

په طرف | د مسجد حرام | او کوم ځائ | چه یئ تاسو | نو واړوئ | مخونه خپل

په وخت کښ) کعبے طرف ته مخ کوئ دا حکم څکه درکړے شو چه خلقو (مخالفین اهل کتابو) ته ستاسو خلاف د اعتراض کولو څه

شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ

طرف دهغے (کعبے) ته | د پاره د دے چه نه وی | د خلقو د پاره | په تاسو | څه دلیل | سیوا دهغه کسانو نه

موقع پاتے نه شی البته کوم چه په دے اهل کتابو کښ بے انصافه او ضدیان دی (هغوی هیڅکله هم نه پاتے کیږی خامخا به څه اعتراض کوی)

ظَلَمُوْا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِىْ ۙ وَلِاُتِمَّ

چه ظلم ئے کړے دے | د دوی نه | پس مه یریږئ تاسو د دوی نه | او ما یریږئ خما نه | او د پاره د دے چه پوره کړم څه

نو تاسو د هغوی نه مه یریږئ بلکه خما نه او یریږئ (او خما حکم او منئ) او دا حکم څکه درکړے شو چه په دے (بدلولو دقبلے) سره

نِعْمَتِىْ عَلَيْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝ كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ

نعمت خپل | په تاسو | او دے د پاره چه تاسو | لار بیا مومئ | لکه څنګه چه | راولیږلو مونږ | په تاسو کښ

په تاسو خپل دینی نعمت پوره کړم او چه تاسو په سمه لار باندے کلک شئ. دا بدلول د قبلے لوئ نعمت دے پشان دے نعمت چه مونږ

رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ

یو رسول | ستاسو نه | چه هغه لولی | په تاسو | آیتونه زمونږ | اوپاکوی تاسو لره | او بنائی تاسو ته

تاسو ته ستاسو (د جنس) نه یو عظیم الشان پیغمبر راولیږلے دے (چه دهغه ذمه واری داده چه) تاسو ته زمونږ آیتونه بیانوی او دهر قسم

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ۝

کتاب | او حکمت | او بنائی تاسو ته | هغه څه | چه تاسو نه پوهیدئ په هغے

معصیت نه موپاکوی او د کتاب او سنت تعلیم هم درکوی او تاسو ته هغه (احکام) بنائی چه (مخکښ د اسلام نه) تاسو ته معلوم نه وو۔

فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿١٥٢﴾ ع

پس یاد کړئ تاسو ما | یاد به کړم څه تاسو | او شکر اوکړئ ځما | او ناشکری مه کوئ زما

نو تاسو ما یاد وئ (په عبادت سره) نوزه به تاسو یاد وم (په اجر وثواب سره) او تاسو ځما د نعمتونو احسان اومنئ او ځما د نعمتونو ناقدری

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مدد حاصل کړئ | په صبر کولو | او په مانځه سره | بیشکه الله

مه کوئ۔ اے مومنانو په صبر او مونځ کولو سره د الله مدد حاصل کړئ (ځکه چه) یقیناً الله تعالیٰ د صبر کونکو

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

سره د صبر کونکو دے | او مه وایئ تاسو | هغه چاته | چه وژلے شی | په لاره د الله کښے

خاص ملګرے دے۔ او اے مومنانو اکومر کسان چه د الله په لاره کښ شهیدان شی نو تاسو هغوی عبث مړه مه کړئ ځکه چه

اَمْوَاتٌ ۭ بَلْ اَحْيَاۗءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿١٥٤﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ

مړه | بلکه (دوی) ژوندی دی | لیکن | تاسو شعور نه لرئ | او خامخا ازمایو به مونږ تاسو

هغوی خو په حقیقت کښ (الله په نزد) ژوندی دی خو تاسو ئے په ژوند نه پوهیږئ (او اے مومنانو یاد ساتئ) مونږ په تاسو

بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ

په څه څیز سره | د یرے نه | او د لوږے نه | او په کمو الی د مالونو | او (په کمو الی) د نفسونو

خامخا ازمیښت کوو کله په یرے سره، کله په لوږے سره، او کله د مالونو او نفسونو او د میوو په کمی سره۔ او اے پیغمبره!

وَالثَّمَرٰتِ ۭ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٥٥﴾ۙ الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ

او (په کمو الی) د میوو سره | او زیرے ورکړه | صبر کونکو ته | هغه کسان | چه کله | ورسیږی هغوی ته

په حال سے حال تو کښ چه څوك صبر کوی ته هغوی ته زیرے ورکړه۔ دا صبر کونکی هغه کسان دی چه کله هم په دوی څه مصیبت (ورو کیږی)

مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿١٥٦﴾ ۭ

څه مصیبت | نو وائی هغوی | بیشکه مونږ | د الله یو | او بیشکه مونږ | دهغه طرف ته | واپس ورتلونکی یو

راشی نو (دشکوو په څای) په ژبه وائی (او په زړه کښ دا عقیده ساتی) چه یقیناً مونږ خو د الله په اختیار کښ یو او مونږ به هم

اُولٰۗىِٕكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۟ وَاُولٰۗىِٕكَ

دغه کسان | په دوی باندے | مهربانیانے دی | د طرفه د رب خپل نه | او رحمت دے | او دغه کسان

هغه ته واپس کیږو۔ په دغه صبر کونکو کسانو د خپل پروردګار د طرف نه خصوصی عنایتونه او برکتونه (شاباسے) اور حمتونه دی

هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿١٥٧﴾ اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَاۗىِٕرِ اللّٰهِ ۚ

هم دوی | هدایت موندونکی دی | بیشکه صفا | او مروه | د نخښو د الله نه دی

او هم دغه کسان سمه لار موندونکی دی۔ یقیناً صفا او مروه خو د الله (د عبادت او د دین) په نخښو کښ شامل دی نو که

فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ

پس څوك | چه حج د کعبے کوی | یا عمره کوی | نو نیشته ګناه | په ده باندے | چه طواف (سعی) او کړی

څوك د خانه کعبے حج یا عمره کوی نو هیڅ ګناه پرے نشته چه دده دواړو په مینځ کښ سعی او کړی (لکه چه بعض مسلمانان نو

بِهِمَا ؕ وَ مَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ

په هیڅ ددواړو کښې | او هغه څوک | چه اوکړي په خوشالۍ سره | څه نیکي | نو بیشکه الله | دیر قدردان

داسلام نه مخکښې په دے کښې ګناه نشته) او څوک چه دزړه په خوشالۍ دنیکۍ څه کار اوکړي نو الله قدردان دعملونو

عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ

ښه پوهه دے | بیشکه هغه کسان | چه پټوي هغوي | هغه څه | چه نازل کړي دي مونږ | د ښکاره دلیلونو نه

اوښه پوهه په نږدې تو نوده دے۔ یقیناً هغه کسان چه هغوي هغه واضح حکمونه اودهدایت خبرے پټوي کومے چه مونږ په کتاب اوسنت کښې)

وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِى الْكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ

او هدایت نه | پس د دے نه | چه بیان کړي دي مونږ هغه | خلقو ته | په کتاب کښے | دا خلق دي

نازل کړي دي سره د دینه چه مونږ هغه خلقو ته په کتاب کښې ښه وضاحت سره بیان کړي دي نو په دغه خلقو الله

يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللّٰعِنُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا

چه لعنت کوي په دوي باندے | الله | او لعنت پرے کوي | لعنت کونکي | مګر هغه کسان | چه توبه ئے اوویستله

هم لعنت کوي او نور لعنت ویونکي پرے هم لعنت وائي۔ خو کوم کسان چه توبه اوباسي

وَ اَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا فَاُولٰٓئِكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَاَنَا

اوعمل ئے خپل سم کړو | اوبیان ئے کړو (حق) | نو دغه کسان چه دي | زه توبه قبلوم | د دوي | او زه یم

اود خپل عملونو اصلاح اوکړي اوحق پوره وضاحت سره بیان کړي نو زه دهغوي توبه قبلوم (څکه چه) زه

التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ

دیر توبه قبلونکے | دیر رحم کونکے | بیشکه | هغه کسان | چه هغوي کفر اوکړو | اومړه شو | په حال سره کښې چه دوي

دیر توبه قبلونکے دیر مهربان یم۔ یقیناً کوم خلقو چه کفر اختیار کړو او بیا ورله مړ ک هم د کفر په حالت

كُفَّارٌ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ۙ﴿۱۶۱﴾

کافران وي | دا خلق | په دوي باندے | لعنت دے دالله | او د ملائکو | او د خلقو | ټولو

کښې راغے نو په دغه خلقو د الله او د ملائکو او د ټولو خلقو لعنت دے

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ

همیشه به وي دوي | په دے کښے | سپک به نکړے شي | د دوي نه | عذاب | او نه به دوي ته

په دغه لعنت کښې به دوي همیشه دپاره وي، نه خو به (ددوي نه) څه عذاب کم کړے شي اونه به ورته نور څه قدرے

يُنْظَرُوْنَ ﴿۱۶۲﴾ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ

مهلت ورکړے شي | اومعبود ستاسو | یو معبود دے | یلك یَو | نشته بل حقدار د بندګۍ | مګر سوا د هغه نه | (چه) رحمٰن دے

مهلت ورکړے شي۔ او (یاد ساتئ) ستاسو د بندګۍ لائق خو صرف اِلٰك یَو معبود دے چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د بندګۍ لائق

الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۳﴾ اِنَّ فِىْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ ع

او رحیم دے | بیشکه | په پیدا کولو کښې | د آسمانونو | او زمکے | او په اختلاف

نشته هغه عام او خاص مهربانو والا دے۔ یقیناً د اسمانونو او د زمکے په پیدا کولو کښې او

الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِمَا

د شپے | او د ورځ کښې | او په کشتو کښې | هغه | چه روانے وی | په دریاب کښې | په هغه څیزونو سره

د شپے او د ورځے په تلو راتلو کښې او په هغه کشتو کښې چه په دریاب کښې د خلقو د فائدے

يَنْفَعُ النَّاسَ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ

چه فائده رسوی | خلقو ته | او په هغه څه کښې | چه نازلوی ئے | الله | د آسمان نه | چه او به دی

سامان (څیزونه) اوړی راوړی او په هغه باران (اوبو) کښې چه الله ئے د آسمان (برہ) نه راوړی او بیا دهغے

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ

نو ژوندئ کوی الله | په هغے سره | زمکه | پس د مرګ دهغے نه | او خوروی | په هغے کښې | د هر قسم

په ذریعه اوچه زمکه آباده (تازه) کړی او هر قسم ځناور پکښې خواره کړی

دَآبَّةٍ ص وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ

زنده سړی (د ساه مخلوق) | او په چلن | د هوا کانو کښې | او په وریځو کښې | چه په قابو کښې دی

او د بادونو (هوا کانو) په چلولو کښې او په هغه وریځو کښې چه د اسمان او د زمکے په مینځ کښې د الله د حکم

بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝

په مینځ | د آسمان | او زمکه کښې | خامخا پیرے نښانے دی | د پاره ډهغه قوم | چه د عقل نه کار اخلی

تابع دی (په دے ټولو کښې) د هغه خلقو د پاره چه د عقل نه کار اخلی بے شماره نښانے دی

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ

او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی | چه جوړوی (کښړی) | سوا د الله نه | شریکان | مینه کوی دهغوی سره

او په خلقو کښې څه داسے خلق هم شته چه د الله تعالیٰ نه علاوه نور د الله تعالیٰ سره داسے شریکان (برخه دار) ګڼړی چه دهغوی

كَحُبِّ اللّٰهِ ط وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ط

پشان د مینے | د الله | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | هغوی ډیر کلک دی | په مینه کښې | د الله سره

سره داسے مینه کوی څنګه مینه چه د الله سره کول پکار دی او مومنان خو صرف د الله سره د ټولو نه زیاته مینه لری

وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ لا

او کاشکے | او لیدلو | هغه کسانو | چه ظلم ئے کړے دے (خپل حالت) | کاشکه چه | اوویني هوی | عذاب (او یقین به ئے راشی)

که چرے ظالمان (مشرکان) خپل حالت په هغه وخت کښې اوویني چه کاشکه به عذاب اوویني نو په دے خبره به ئے

اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا لا وَّاَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعَذَابِ ۝ اِذْ

چه بیشکه طاقت | خاص دے الله لره | ټول | او بیشکه | الله دے | سخت | عذاب والا | کاشکه چه

یقین راشی چه یقیناً ټول طاقت خو صرف الله لره حاصل دے او الله سخت عذاب والا دے

تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا

بیزاره به شی | هغه کسان | چه تابعداری ئے کړے شوے وه | د هغه کسانو نه | چه تابعداری ئے کړے وه

په هغه وخت چه پیشوایان به د خپلو پیروی کونکو (مریدانو) نه د بیزارئ اظهار اوکړی

وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

او اوبه وینی دوی | عذاب | او پرے به شی | ددوی | تعلقات | او اوبه وائی | هغه کسان

او ټول به عذاب اووینی او د دوی په مینځ کښې به دیو بل سره تعلقات ختم شی او پیروی کونکی (مریدان) به

اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ

چه تابعداری ـے کړه وه | ارمان چه وے | زمونږ دپاره | دوباره تگ (دنیا ته) | نو بیزاره شوی به وے مونږ

اووائی چه ارمان مونږ ته یو ځل بیا دُنیا ته دتلو یوه موقع را کړے شوه نو مونږ به هم ددے خپلو پیشوا یانو نه

مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوْا مِنَّا ؕ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ

ددوی نه | لکه څنګه چه | دوی بیزاره شو | زمونږ نه | دغه شان به | ښائی دوی ته | الله | عملونه ددوی

داسے بیزاره شو لکه څنګه چه دوی لن زمونږ نه بیزاره (جدا) شو ـ هم دغه شان الله تعالیٰ به دوی ته ښائی

حَسَرٰتٍ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ع

افسوسونه | په دوی باندے | اونه به وی دوی | بَهر وتونکی | د اورنه | اے خلقو!

چه ددوی عملونه ددوی دپاره ارمانونه جوړ شوے دی او اوس به دوی په هیڅ صورت د اور نه وتلے نه شی ـ اے خلقو!

كُلُوْا مِمَّا فِى الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ّۖ وَّلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ

خورئ | دهغه څه نه | چه په زمکه کښې دی | حلال | پاکیزه | اوپیروی مه کوئ | د قدمونو

زمکه کښې چه څه حلال او پاکیزه دی هغه خورئ (استعمالوئ) او د شیطان په نقش قدم مه ځئ

الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٦٨﴾ اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ

د شیطان | بیشکه هغه (خو) | ستاسو | دشمن دے | ښکاره | بیشکه | حکم کوی هغه تاسو ته | د بدئ

(څکه چه) یقیناً هغه خو ستاسو ښکاره دشمن دے یقیناً شیطان خو تاسو ته هم دا حکم کوی چه تاسو د بدئ

وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٦٩﴾ وَاِذَا

او د بے حیایئ | او دا چه | اووایئ تاسو | په الله باندے | هغه څه | چه تاسو پرے نه پوهیږئ | او هر کله

او د بے حیائ کارونه کوئ او دا چه تاسو په الله (دالله په دین کښې) هغه دروغ جوړ کړئ چه تاسو ته ـ ثبوت نشته په ذریعه د دې او هر کله چه

قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ

چه اووئیلے شی | دوی ته | چه پیروی او کړئ تاسو | دهغه څه | چه رالیږلی دی | الله | نو وائی دوی | (چه نا) بلکه

دے کافرانو ته اووئیلے شی چه دهغه کتاب تابعداری او کړئ چه الله رالیږلے دے نو دوی په جواب کښې وائی چه نا امونږ خو (صرف)

نَتَّبِعُ مَاۤ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ

پیروی کوو مونږ | دهغه څه | چه موندلی دی مونږ | په هغے باندے | پلار نیکه خپل | آیا اګر که وو | پلار نیکه ددوی

دهغه خبرو تابعداری کوو په کومو چه مونږ خپل مشران لیدلے دی ایا دوی بیا هم تابعداری کوی د خپلو مشرانو اګر که

لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه نه پوهیدل | په هیڅ څیز | اونه ـے سمه لار موندله | او مثال | د هغه کسانو | چه کفر ـے کړے دے

هغوی په دین کښې په هیڅ نه پوهیدل اونه ورته څه (اسمانی) هدایت حاصل وو ـ او دے کافرو ته د دعوت ورکونکی مثال داسے دے

كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ

په شان دمثال | دهغه کس دے | چه آواز کوی | هغه څه ته | چه نه اوری | مګر | بلنه | او چغه

لکه چه شپونکے څاروونه آواز کوی او هغه (څاروی) د چغے سوے نه سوا نور هیڅ نه اوری (نه پوهیږی پرے) دغه شان دا کافر د حق

صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

کانړه دی | ګونګیان دی | ړانده دی | پس دوی | نه پوهیږی | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے

د اوریدونه کانړه دی او د حق د ګوټیلو نه چارا ګان دی او د حق د لیدونه ړانده دی نو دوی اوس په هیڅ هدایت نه پوهیږی

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

خورئ | د هغه پاکیزه څیزونو نه | چه درکړی دی مونږ تاسو ته | او شکر کوئ | د الله | که چرے | ئے تاسو

اے مومنانو! هغه پاک څیزونه چه مونږ تاسو ته درکړی دی هغه (بے تکلفه) خورئ او د الله شکر ادا کړئ که تاسو

اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ۝ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ

چه خاص د هغه | عبادت کوئ | بیشکه | حرام کړے دے (الله) | په تاسو | مردار ه | او وینه

په حقیقت کښ صرف د الله عبادت کولکی ئے۔ یقیناً الله (حرام کړی دی) په تاسو خوراک د مردار ے او بهیدونکے وینه

وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَاۤ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ

او غوښه | د خنزیر | او هر هغه څه | چه نوم اغستلے شوے وی | په هغه باندے | سوا د الله نه | پس څوک

او د خنزیر غوښه او هر هغه شئ چه په هغے باندے د غیر الله نوم د قربت د پاره اغستلے شوے وی خو څوک چه دے حرام څیزونو ته

اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَاۤ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ

چه مجبوره کړے شو | حالانکه نه وی سرکشی کونکے | او نه وی د حد نه تیریدونکے | پس نشته | هیڅ گناه | په هغه باندے

محتاج شو په دے شرط (چه زیاتے کونکے نه وی او نه د حد نه اوریدونکے وی نو په هغه باندے دے څیزونو

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ

بیشکه | الله | بخښونکے دے | ډیر مهربان دے | بیشکه | هغه کسان | چه پټوی | هغه څه | چه نازل کړی دی | الله

په خوړلو (استعمال) کښ هیڅ گناه نیشته یقیناً الله بخښونکے ډیر مهربان دے یقیناً کوم خلق چه د الله نازل کړے شوے

مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ

چه کتاب دے | او | اخلی | د هغے په بدله کښ | عوض | لږ | د غه خلق | نه | خوری

کتاب پټوی او د هغے په بدله کښ لږ غوندے قیمت اخلی نو هغوی په حقیقت کښ خپلے خیتے داور نه سوا په

فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا

په خیټو خپلو کښ | مګر | اور | او نه به کوی خبرے د دوی سره | الله | په ورځ د قیامت | او نه به

بل څه نه د کوی او د قیامت په ورځ به ورسره الله خبرے هم نه کوی او نه به ئے د گناه نه

يُزَكِّيْهِمْ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا

پاک کړی دوی لره | او د دوی د پاره | عذاب دے | دردناک | هم دا | هغه کسان دی | چه واغستله دوی

پاک کړی او د دردناک عذاب به ورته ورکولے شی ۔ هم دا هغه کسان دی چا چه گمراهی

الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ

گمراهی | په بدل دهدایت کښی | او عذاب | په بدل دمغفرت کښی | پس څومره لوئ صبر دے دَ دوی

دهدایت په ځائے او عذاب دمغفرت په ځائے خوښ کړو نو دوی څه عجیبه حوصله لری چه دوزخ په اور باندے

عَلَى النَّارِ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

په اور باندے | داپه دے وجه | چه بیشکه الله | نازل کړو | کتاب | په حق سره | او بیشکه | هغه کسان

راضی دی داعذابونه به څکه وی چه الله په حق باندے مشتمل کتاب رالیږلے دے (نو دوی یکښی اختلاف شروع کړو) نو کوم کسان

ع ۱۹ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ۝ لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ

چه اختلاف ئے اوکړو | په کتاب کښے | خامخا پریوتل په ضد کښ | ډیر لرے | نه ده | نیکی | دا چه

چه دداسے کتاب بارہ کښ دمخالفت رویه اختیار کړی نو هغوی په ضد او دشمنئ کښ ډیر لرے اووتل۔ نیکی (خو یوا څے)

تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ

تاسو واړوئ | مخونه خپل | په طرف | د مشرق | او مغرب | لیکن | نیکی (خو داده)

دا نه ده چه تاسو مشرق او مغرب ته مخ کړئ بلکه نیکی خو دا ده چه خلق

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰۗىِٕكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ

چه څوک | ایمان راوړی | په الله | او په ورځ د آخرت | او په ملائکو | او په کتابونو | او په پیغمبرانو

په الله او د آخرت په ورځ او په ملائکو او په اسمانی کتابونو او په پیغمبرانو ایمان راوړی

وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰي حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنَ

او ورکړی | مال | په محبت دالله کښ | خپلو خپلوانو ته | او یتیمانو ته | او مسکینانو ته

او مال ورکړی د الله په محبت کښ رشته دارانو ته او یتیمانو ته او مسکینانو ته

وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّاۗىِٕلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ

او مسافرو ته | او سوال کونکو ته | اوپه ازادولو دغلامانو کښ | او قائم کړی | مونځ

او مسافرو ته او سوال کونکو ته او د غلامانو د آزادولو دپاره او د مونځ پابندی اوکړی

وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ وَ

او ورکړی | زکاة | او پوره کونکی وی | وعدو خپلو لره | کله چه | اوکړی وعده | او (ستائنه کوم)

او (فرض) زکاة ورکړی او دَ وعدے د پوره کولو عادت ئے وی کله چه هم وعده اوکړی

الصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَاۗءِ وَالضَّرَّاۗءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ

د صبر کونکو | په تنګدستئ | او په تکلیفونو کښ | او په وخت | د جنګ کښ | دا

اوپه تنګدستئ او تکلیفونو کښ د صبر کونکو خلقو خاص کر ستائنه کوم. دغه صفتونو والا کسان د نیکئ

الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

هغه کسان دی | چه رښتنی دی | اوهم دا کسان چه دی | دوی | پرهیزګاران دی | اے هغه کسانو

اودا ایمان په دعوٰی رشتینی دی او هم دا کسان په حقیقت کښ دوی متقیان اوپرهیزګاران دی.

اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ؕ

چه ایمان مو راوړے دے | فرض کړے شوے دے | په تاسو باندے | قصاص (برابروالے) | په وژلے شوو کښ

اے مومنانو اخوك چه (ناحقه) قتل کړے شی نو دهغے په باره کښ په تاسو باندے (حکم د) قصاص فرض شوے دے

اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ؕ

آزاد به | په بدله د ازاد کښ | او غلام به | په بدله د غلام کښ | او ښځه به | په بدله د ښځه کښ (قصاص یږی)

(هغه داسے چه) د ازاد په بدله کښ ازاد او د غلام په بدله کښ غلام او د ښځے په بدله کښ ښځه به په قصاص کښ قتلیږی

فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ

پس هغه څوك | چه معافی اوشوه | هغه ته | د طرفه د ورور خپل نه | د څه څیز | نو ورپسے کیدل دی په قاتل پسے

بیا که قاتل ته د خپل ورور (د مقتول د وارثانو) د طرف نه څه قدرے معافی اوشی نو په ښه طریقه د قاتل نه

بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ

په ښه طریقه | او اداء کول (دیت) دی | هغه ته (وارث د مقتول ته) | په ښه سلوك سره | دا | اسانتیا ده

د دیت مطالبه کول د مقتول د وارثانو حق دے او دا دیت په ښه سلوك سره اداء کول په قاتل باندے فرض دی دا حکم

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ

د طرفه د رب ستاسو نه | او رحمت دے | پس چاچه | زیاتے اوکړو | پس | د دے (فیصلے) نه | نو دے د هغه د پاره

ستاسو د رب د طرف نه یو قسم اسانی او رحمت دے د دے فیصلے نه پس که هر چاڅه زیاتے اوکړو نو هغه د

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰۤاُولِي الْاَلْبَابِ

عذاب دردناك | او ستاسو د پاره | په قصاص کښ | ژوند دے | اے خاوندانو د عقل

دردناك عذاب مستحق دے. او اے عقل مندو ستاسو د پاره د قصاص د حکم په جاری کولو کښ یو لوئ د خوښحالو ژوند دے

لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ

امید دے چه تاسو | ځان بچ اوساتئ | فرض کړے شوے دے | په تاسو باندے | کله چه | راشی | یو کس ته په تاسو کښ

اُمید دے چه تاسو د دے د خلاف ورزئ نه ځان بچ اوساتئ. (اے مومنانو) کله چه په تاسو کښ د یو کس

الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ

مرګ | که هغه پریخودلے وی | څه مال | وصیت کول | د پاره د مور او پلار | او د پاره د خپلو خپلوانو

د مرګ وخت نږدے شی او هغه څه مال پریخودلے وی نو په ښه طریقه د مور او پلار او د خپلو خپلوانو د پاره وصیت کول په تاسو

بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ۝ فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ مَا

په ښه طریقے سره | د احق دے | په متقیانو باندے | پس هغه څوك | چه بدل کړی د وصیت | پس د دے نه

فرض کړے شوے دی دا حکم په متقیانو باندے ضروری اولازمی دے. د وصیت د اوریدو نه پس که څوك په هغے کښ

سَمِعَهٗ فَاِنَّمَاۤ اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه واوریدو د هغه د وصیت | نو بیشکه چه | گناه ددے | په هغه کسانو ده | چه بدلوی هغوی وصیت لره | بیشکه | الله

تبدیلی اوکړی نو د هغے گناه په تبدیلی کونکو باندے ده یقیناً چه الله

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٨٢﴾ فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا

اوریدونکے | پوهه دے | پس هغه څوك | چه یره کوی | د وصیت کونکی نه | د ظلم | یا د ګناه

دهر څه اوریدونکے اوپه هر څه پوهه دے. بیا که چاته چه د اخطره وی چه وصیت کونکی په خطائی سره ظلم (په وصیت کښ طرفداری) کړے ده

فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

پس اصلاح ئے او کړه | په مینځ دهغوی کښ | نو نشته هیڅ ګناه | په ده باندے | بیشکه | الله | دیر بخښونکے

یا ئے په قصد سره ګناه کړے ده اودے دوارثانو په مینځ کښ صلح راولی نو په ده باندے هیڅ ګناه نشته یقیناً الله دیر بخښونکے

رَّحِيْمٌ ﴿١٨٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ع

دیر رحم کونکے دے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | فرض کړے شوی دی | په تاسو باندے | روژے

او دیر مهربان دے ـ اے مومنانو په تاسو روژے داسے فرض کړے شوے دی

كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ

لکه څنګه چه | فرض کړے شوے وے | په هغه کسانو | چه مخکښ تاسو نه وو | ددے دپاره چه تاسو

لکه چه تاسو نه مخکښ خلقو باندے فرض کړے شوے وے د دے دپاره چه تاسو

تَتَّقُوْنَ ﴿١٨٤﴾ لا اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا

متقیان شئ | څو ورځے دی | شمارلے شوے | پس هغه څوك | چه وی | ستاسو نه | بیمار

متقیان شئ. روژے (خو) د شمار یو څو ورځے دی بیا که په تاسو کښ څوك بیمار وی (اور روژه نه شی نیولے)

اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ وَعَلَى الَّذِيْنَ

اویاوی په سفر باندے | نو شمار دے (په ده باندے) | د ورځو | نورو | او په هغه کسانو باندے

یا مسافر وی نو په هغه باندے په نورو ورځو کښ د هغه ورځو قضاء راوړل لازم دی، او کومو کسانو چه د روژے

يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ؕ فَمَنْ تَطَوَّعَ

چه طاقت نه لری د روژے | فدیه ورکول دی | خوراك | د یو مسکین | پس هغه څوك | چه په خوشحالئ او کړی

د نیولو طاقت نه لری نو په هغوی باندے د روژے په بدل کښ د یو مسکین فدیه یعنی په مړه کیدو خوراك ورکول لازم دی

خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ ؕ وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ

نیکی | نو دا | غوره ده | دهغه دپاره | او چه | روژه اونیسئ تاسو | دا دپاره غوره ده | ستاسو دپاره | کهڅرے

او څوك چه په خوشحالئ سره څه نیکی کوی (لکه فدیه د یو نور ورکول) نو دا د هغه دپاره د یره غوره ده. او که چرے تاسو پوهیږئ نو بهر حال

كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٥﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ

تاسو | پوهیږئ | میاشت | د رمضان | هغه ده | چه نازل کړے شوے دے | په هغے کښے | قرآن

روژے نیول ستاسو دپاره بهتر دی ـ د رمضان هغه مبارکه میاشت ده چه په هغے کښ قرآن نازلول شروع کړے شوے و وچه هغه (قرآن)

هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ ۚ

چه هدایت دے | د پاره د خلقو | او ښکاره دلیلونه دی | د هدایت | او (د حق او باطل په مینځ کښ) د حد لایځ (دلیلونه دی)

د خلقو د پاره سراسر هدایت دے او د هدایت (لیږے لارے) او د حق او د باطل په مینځ کښ د فرق کولو ښکاره دلائل دی

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ؕ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا

پس هغه څوك | چه حاضر شي | ستاسو نه | دے میاشت ته | نو روژے دے اونیسی | اوڅوك | چه وی | بیمار

نو په تاسو کښې چه هر چا دا میاشت اومومندله نو خامخا دِ دَدے روژے اونیسی او که څوك بیمار وی (اور روژه نه شی نیولے)

اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ

یا | وی په سفر باندے | نو (په هغه باندے) شمار پوره کول دی | د ورځو نورو | غواړی | الله | په تاسو

یا مسافر وی (نو هغه دے په نورو ورځو کښې د قضاء شوؤ روژو تعداد پوره کړی) الله تاسو باندے

الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ۘ وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ

اسانی | او نه غواړی | په تاسو | تنګی | اودے دپاره چه پوره کړئ تاسو | شمار (تعداد)

آسانی پیدا کول غواړی او تاسو دپاره څه تنګی (مشکل) پیدا کول نه غواړی دا (د قضاء حکم) دے دپاره دے چه تاسو د روژو شمار پوره کړئ

وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٨٥﴾

او چه لوئے بیان کړئ تاسو | د الله | په دے | چه هدایت کړے دے هغه تاسو ته | او دپاره دے دے چه تاسو | شکر اوباسئ

او چه د الله لوئی تاسو په هغه طریقه بیان کړئ چه تاسو ته ئے ښودلے دے. او چه تاسو شکر گزار جوړ شئ.

وَ اِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ ؕ

او هر کله | چه تپوس کوی تانه | بندگان زما | زما په باره کښې | پس (ورته ووایه) چه بیشکه زه | نزدے یم

اے پیغمبره! کله چه زما بندگان تانه زما په حقله تپوس او کړی نو هغوی ته اووایه چه زه هغوی ته دومره نزدے یم چه کله

اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ

قبلوم زه | دعا (فریاد) | دیَو دعا کونکی | کله چه | هغه زمانه غواړی | پس دوی دے اومنی | حکم زما

زمانه غواړی (ماته فریاد کوی) نو زه د دعا غوښتونکی (فریاد کونکی) دعا او فریاد قبلوم نو دا بندگان دِ خامخا زما حکم پوره او منی

وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ ﴿١٨٦﴾ اُحِلَّ لَكُمْ

او یقین دے اوساتی | په ما باندے | دے دپاره چه دوی | سمه لار بیا مومی | حلال کړے شوے دے | ستاسو دپاره

او په ما دِ یقین اوساتی (د دعا د قبلولو په باره کښے) دے دپاره چه (دوی) خپل مقصد ته اورسی. اے مومنانو! تاسو دپاره د روژے

لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَآئِكُمْ ؕ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ

په شپه د روژو کښې | کوروالے | د ښځو خپلو سره | هغوی | جامه ده | ستاسو د پاره

په موده کښې د خپلو بیبیانو سره د شهوت یو ځائے کیدل (صحبت کول) روا کړے شوی دی دا بیبیانے ستاسو پر ده ده

وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ

او تاسو | جامه یئ | د هغوی دپاره | پوهه وو | الله | چه بیشکه تاسو به | خیانت (نقصان) کړے وے

او تاسو د هغوی پر ده یئ (که الله دا حکم باقی سلتلے وے) نو الله ته معلومه وه چه تاسو به د خپلو ځانونو سره خیانت کړے وے

اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَ عَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْئٰنَ

د ځانونو خپلو سره | پس مهربانی او کړه الله | په تاسو | او معافی ئے او کړه | تاسو ته | پس اوس

نو الله مهربانی او کړه (چه په تاسو ئے د حکم اسانتیا راوستله) او معافی ئے درته او کړه نو اوس (د دے حکم نه پس)

بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوْا

نزدیکت (کوروالے) کوئ تاسو دهغوی سره | اوغواړئ | هغه څه | چه لیکلی دی | الله | تاسو دپاره | اوخورئ

دخپلو بیبیانو سره صحبت (کوروالے) کوئ اوالله چه تاسو دپاره کوم (اولاد) مقرر کړے دے هغه طلب کړئ اودشپے

وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ

او څکئ | تردے | چه بنه بنکاره شی | تاسوته | تار | سپین | د | تار | تور نه

خوراك څكاك كوئ تر دے چه د صبا صادق سپین تار درته دشپے دتور تار نه بنه رابنکاره شی

مِنَ الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ

د صبا صادق نه | بیا | پوره کړئ | روژے | تر شپے پورے | اومه کوئ تاسو نزدیکت دبیبیانو سره

(اوصبا صادق راوخیژی) نو بیاتر مابنامه پورے روژه پوره اوسائ اوکله چه تاسو په جوماتونو کښ معتکفین یئ نو

وَاَنْتُمْ عٰكِفُوْنَ ۙ فِى الْمَسٰجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ

په دا سے حال کښ چه تاسو | اعتکاف کونکی یئ | په جوماتونو کښ | دا | حدونه دی | د الله

خپلو بیبیانو ته مه ورنزدے کیږئ دا د الله مقرر کړئ شوی حکمونه دی نو ددے خلاف ورزئ ته بالکل

فَلَا تَقْرَبُوْهَا ۗ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ

پس مه ورنزدے کیږئ دے ته | دغه شان | بیانوی | الله | آیتونه خپل | د پاره د خلقو

ورنزدے نه شئ هم دغه شان الله تعالیٰ بنه په وضاحت سره خلقو ته خپل حکمونه بیانوی چه خلق د غلط

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٨٧﴾ وَلَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ

دے دپاره چه دوی | پرهیزګاره شی | اومه خورئ تاسو | مالونه خپل | په خپل مینځ کښ | په ناحقه (طریقے)

کارونو نه ځان بچ کړی. او (اے مسلمانانو) تاسو په خپلو کښ دیو بل مال په ناروا طریقو مه خورئ

وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ

اومه ورکوئ تاسو | دا مالونه | حاکمانو ته | دے دپاره چه اوخورئ تاسو | څه حصه | د | مالونو | د خلقو نه

اوپه دے غرض دمال مقدمه حاکمانو ته مه رسوئ چه تاسو دخلقو دمال څه حصه سره دپوهے (چه داکار حرام دے)

بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٨٨﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ۗ

په ګناه (ظلم) سره | اوحال دادے چه تاسو | پوهیږئ | تپوس کوی دوی ستانه | د میاشتو په باره کښ

په ناروا طریقه حاصل کړئ. اے پیغمبره اخلق ستانه دسپوږمئ (دوریدو اولوئیدو) په حقله تپوس کوی

قُلْ هِىَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ

ته اووایه | چه دانخښے دی دوختونو مقررولو | دپاره دخلقو | اودپاره دحج | او نه ده | نیکی | داچه

ته ورته ووایه چه دا خو دخلقو (دمختلفو معاملاتو) اودحج دوختونو متعین کولو دپاره نخښے دی اوداخو څه نیکی نه ده چه

تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ

راځئ تاسو | (خپلو) کورونوته | دشا دطرفه نه | لیکن | نیکی خو داده | چه څوک دحرامونه ځان بچ کړی

تاسو خپلو کورونو ته د شا دطرف نه ورننوځئ بلکه نیکی خو دا ده چه بنده د حرامو نه ځان بچ کړی

وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٨٩﴾

اوراځئ تاسو | کورونو ته | دهغے د دروازونه | اوویریږئ | د الله نه | دے دپاره چه تاسو | کامیاب شئ

نو تاسو کورونو ته نیغ په دروازه ورننوځئ او د الله نه یریږئ چه کامیابی حاصل کړئ

وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ

اوجنګ اوکړئ تاسو | په لار د الله کښ | دهغه کسانو سره | چه جنګ کوی تاسو سره | او زیاتے مه کوئ

اوتاسو دالله په لار کښ(ددین دپاره) دهغه خلقو سره اوجنګیږئ کوم چه تاسو سره جنګیږی او(دبوډا کالوماشومانو په وژلو)

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿١٩٠﴾ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ

بیشکه | الله | نه خوښوی | زیاتی کوونکی | او وژئ دوی | چرته چه | موميځ تاسو دوی لره

زیاتے مه کوئ یقین اوساځ چه الله تعالی زیاتی کوونکو سره مینه نه کوی. اوداکافران چه تاسو چرته هم راالاندے کړئ

وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ

او اوباسئ دوی | دکوم ځائے نه چه ئے | ویستلے وئ تاسو | او فتنه | زیاته سخته ده | د قتل نه

نووژئ دوی اودهغه ځائے نه ئے اوشړئ دکوم ځائے نه ئے چه تاسو شړلی وئ اوشرک دقتل نه سخته ګناه ده

وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ

اوجنګ مه کوئ تاسو | ددوی سره | په خوا | د مسجد حرام کښ | تر دے | چه دوی جنګ اوکړی تاسو سره

او د مسجد حرام په خوا کښ ورسره تر هغے جنګ مه کوئ تر څو چه ئے په خپله تاسو سره په هغے کښ جنګ شروع

فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ كَذٰلِكَ جَزَآءُ

په هغے کښ | پس که چرے | جنګ اوکړی دوی تاسو سره | نو اووژئ دوی لره | دغه شان | سزا ده

کړے نه وی نو که هغوی تاسو سره جنګ شروع کړو (په حرم کښے) نو بیا ئے اووژئ دا سے کافرانو هم داسزا ده

الْكٰفِرِيْنَ ﴿١٩١﴾ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٢﴾ وَقٰتِلُوْهُمْ

د کافرانو | پس که | منع شودوی | نوبیشکه | الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان دے | اوجنګ کوئ تاسو دوی سره

بیا که داکافر (دجنګ اود کفر نه) منع شونو یقیناً الله دیر بخښونکے دیر رحم کوونکے دے اوتاسو دوی سره جنګ کړئ

حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ فَاِنِ انْتَهَوْا

تر دے | چه پاتے نه شی | فتنه | او شی | دین | خاص د الله | پس که چرے | منع شو دوی

تر دے چه دشرک (اودکافرانو) زور په دنیا کښ پاتے نه شی اوتر دے چه دالله تعالی دین قائم اوغالب شی بیا که دوی منع شو

فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩٣﴾ اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ

نو نشته سختی | مګر | په | ظالمانو | میاشت | عزتمنده | په بدله دمیاشتے

(نو پوهه شئ چه) د ظالمانو نه سوا په بل چا باندے سختی نه ده پکار. د عزتمندے میاشتے بدله

الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ

عزتمندے کښ ده | اوټول عزتونه (حرمتونه) | برابر دی | نو چا چه | زیاتے اوکړو | په تاسو

عزتمند میاشت ده اونورو حرمتونو (عزتونو) کښ به هم دبرابرئ احکام جاری کیږی نو بیا که څوک (په میاشتو دعزت کښ) په تاسو

فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۠ وَاتَّقُوا

نوتاسو هم زیاتے او کړئ | په هغه باندے | په شان دهغے | چه زیاتے ئے کړے دے | په تاسو | او اویرپرئ

څه زیاتے او کړی نو تاسو هم بدله (سزا) دزیاتی ور کړئ په شان دهغه زیاتی چه په تاسو ئے کړے دے او دالله نه

اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٩٤﴾ وَاَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دالله نه | او پوهه شئ | چه بیشکه | الله | سره | دمتقیانو دے | او خرچ کوئ | په لاره د الله کښ

ویرپرئ اوپه دے پوهه شئ چه الله دهغه چاملگرے دے څوك چه دالله نه یرپرئ او دالله په لاره کښ مال ولږوئ

وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَاَحْسِنُوْا ۛ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

اومه غورزوئ | خپلونه خپل | هلاکت ته | او نیکی (احسان) کوئ | بیشکه | الله | مینه کوی

او په خپل لاس ځان هلاکت ته مه غورزوئ او نیکی کوئ یقیناً الله نیکی کونکو سره

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٩٥﴾ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ۭ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ

دنیکی (احسان) کونکوسره | اوپوره کړئ | حج | او عمره | دپاره دالله | پس کچرے | منع کړے شوئ

مینه کوی. او حج اوعمره دالله درضا دپاره پورا پورا ادا کړئ بیا کچرے په لار کښ حصار (منع) کړے شوئ

فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى

(نولازم دی په تاسو) هغه څه | چه آسان وی | د قربانئ نه | او مه خروئ | سرونه خپل | تر دے

نو د خپل وس مناسب قربانی ورکړئ او خپل سرونه ترهغه وخته پورے مه خروئ ترڅو چه

يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ۭ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى

چه ورسیږی | قربانی | ځائے حلالے خپل ته | پس که څوك | وی | ستاسو نه | بیمار | یا په هغه باندے تکلیف وی

قربانی خپل ځائے ته نه وی رسیدلے بیا که په تاسو کښ څوك بیمار وی یا ئے په سر کښ تکلیف وی

مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ

د سر نه | نو (په ده باندے) فدیه ورکول لازم دی | د روژو نه | یا د صدقے نه | یا د قربانئ نه

(او سر خرول غواړی) نو د فدیے په طور دے یا روژے او نیسی یا دے خیرات ورکړی یا دے قربانی او کړی

فَاِذَآ اَمِنْتُمْ ۪ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ فَمَا

بیا هر کله چه | تاسو په امن شئ | پس چاچه | فائده واغستله | په عمرے کولو | سره د حج | نولازم دی (پرے) هغه څه

بیا کله چه تاسو ته امن حاصل شی نو څوك چه د حج سره د عمرے نه هم فائده واخلی نو د خپل وس مناسب

اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ

چه آسان وی | د قربانئ نه | پس چاچه | اونه موندله قربانی | نو په هغه باندے | روژے دی | درے

قربانی (دشکرئے په طور) دا وکړی خو که دچا د قربانئ طاقت نه وی نو درے روژے د حج په ورځو کښ

اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ۭ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۭ ذٰلِكَ

ورځے | په حج کښ | او اووه ورځے | کله چه | واپس شئ تاسو | دا شوے | لس | پوره | دا (حکم)

اونیسی او اووه روژے دے هله اونیسی کله چه د حج نه واپس شئ دا لس ورځے پوره دی په ثواب کښ

لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَ اتَّقُوا

دپارہ دھغہ چادے | چہ نہ وی | کورنۍ دھغہ | پہ خواؤشا | د مسجد حرام کښ | او ویریږئ

داحکم (حج اوعمرہ جمع کول) دھغہ چا دپارہ دے چہ کورنۍ ئے دمسجد حرام پہ خواؤشا کښ نہ اوسیږی او

اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٩٦﴾ اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ ع

دالله نہ | او پوھہ شئ | چہ بیشکہ | الله | سخت | عذاب ورکونکے دے | د حج | میاشتے

دالله نہ اویریږئ اوښہ پوھہ شئ چہ الله سخت عذاب ورکونکے دے . دَحج میاشتے (خوھر چاتہ) معلومے دی

مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ ۙ

معلومے دی | پس چاچہ | لازم کړو | پہ دے (میاشتو) کښ | حج | نونہ دے کوی جماع | او نہ گناہ

نوځکہ چہ پہ دے میاشتو کښ (پہ احرام تړلوسرہ) پہ ځان باندے حج لازم کړی نو دحج دوران کښ بہ نہ کوروالے کوی

وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ

اونہ جھگړہ | پہ حج کښ | اوځہ چہ | کوئ تاسو | د نیکئ نہ | نوپوھہ دے پہ ھغے باندے | الله

اونہ بہ نور گناھونہ اوجھگړے کوی، اوتاسوچہ څہ ھم دنیکئ کار کوئ نو ھغہ الله تہ معلوم دے اودحج پہ سفر کښ دځان سرہ

وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ۫ وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿١٩٧﴾

اوتوښہ واخلئ (دځان سرہ) | بیشکہ | بھترہ | توښہ | تقوٰی دہ | او ویریږئ زمانہ | اے خاوندانو دعقل

توښہ واخلئ ځکہ چہ بھترینہ توښہ دسوال کولونہ (ځان ساتل دی) اواے عقل مندو ازمادنافرمانے نہ ځان اوساتئ

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ فَاِذَآ

نشتہ | پہ تاسو | څہ گناہ | چہ | لتوئ تاسو | فضل | د رب خپل | پس ھر کلہ

اوتاسو باندے دحج پہ دوران کښ (دتجارت یادمزدورئ پہ ذریعے) دخپل پرودگار رزق لتولو کښ ھیڅ قسم گناہ نشتہ

اَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۪

وایس شئ تاسو (روان شئ) | د عرفات نہ | نو یادکړئ | الله | پہ خوا | د مشعر حرام کښ

بیا ھر کلہ چہ تاسو د عرفات نہ واپس راروان شئ نو دَ مشعر حرام (مزدلفے) پہ خوا کښ دالله ذکر کوئ

وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ

اویادکړئ الله | لکہ څنگہ چہ | ښودنہ کړے دہ ھغہ تاسوتہ | اویقیناً | وئ تاسو | مخکښ ددے نہ

اوپہ ھغہ شان الله یادکړئ لکہ څنگہ چہ دَرتہ الله طریقہ ښودلے دہ اگر کہ ددے نہ مخکښ تاسو ناخبرہ وئ

لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿١٩٨﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ

خامخا د ناخبرو نہ | بیا | واپس شئ | د کوم ځائے نہ چہ | واپس کیږی | عام خلق

بیا تاسو ھم د ھغہ ځائے نہ واپس راروان شئ دَ کوم ځائے نہ چہ نور خلق واپس راروانیږی

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٩٩﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمْ

اوبخښنہ اوغواړئ | د الله نہ | بیشکہ | الله | دیر بخښونکے | دیر مھربان دے | پس کلہ چہ | پورہ کړئ تاسو

اود الله نہ معافی غواړئ یقیناً الله دیر بخښونکے دیر مھربان دے . بیا چہ کلہ دحج کارونہ پورہ کړئ

مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ

کارونه دحج خپل | نو یاد کړئ | الله | په شان دیادولو ستاسو | خپل پلار نیکه لره | بلکه | دیر زیات

نو څنګه به چه تاسو خپل مشران یادول نو (په منی کښ) الله هم هغه شان یاد کړئ بلکه ددے نه ډیر زیات

ذِكْرًا ؕ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا

یادول (ددیته) پس بعضے | د خلقو نه | هغه څوک دی | چه وائی | اے ربه زمونږ | را کړه مونږ ته | په دنیا کښ (چه څه را کوے)

یاد کړئ اوس بعضے خلق داسے دی چه هغوی (په دعا کښ) وائی چه اے زمونږ پروردګاره امونږ له چه څه را کوے نو بس په دنیا کښ ئې را کړه

وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۝٢٠٠ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ

او نشته دپاره دهغه | په اخرت کښ | څه برخه | او بعضے په دوی کښ | هغه څوک دی | چه وائی

ددا سے بنده دپاره په اخرت کښ (د رحمت) هیڅ برخه نشته. او هم په دے خلقو کښے داسے خلق هم شته چه هغوی دعا کښ وائی چه

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا

اے ربه زمونږ | را کړه مونږ ته | په دنیا کښ | خوشحالی | او په اخرت کښ (هم) | خوشحالی | او بچ کړه مونږ ه

اے زمونږ پروردګاره امونږ له په دنیا کښ هم ښه ژوند او دنیکۍ توفیق را کړے او په اخرت کښ هم بښنګنسته ژوند او بدله دلیکۍ را کړه

عَذَابَ النَّارِ ۝٢٠١ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ

د عذاب | د اورنه | دغه کسان | دپاره ددوی | برخه ده | دهغے څه نه | چه دوی کړی وو | او الله

او مونږ د دوزخ د عذاب نه بچ اوساته۔ هم دغه کسان دی چه د خپلو عملونو بدله به ورته ملاؤ شی او الله تعالی

سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝٢٠٢ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ

زر | حساب اخستونکے دے | او یادوئ | الله | په څو ورځو | شمیر لے شوے کښ | نو څوک چه

زر حساب کوونکے دے. او د شمیر په دغه یو څو ورځو کښ (په منی کښ) الله یادوئ بیا څوک چه

تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ

ټنډی او کړی | په دوؤ ورځو کښ | نو نشته | څه ګناه | په هغه | او څوک چه | وروستو پاتے شو | پس نشته

په دوؤ ورځو کښ (د منی نه) زر لاړو نو په هغه هم هیڅ ګناه نشته او څوک چه (د دغه ځنه هم یو ورځ) وروستو لاړ شی (د منی نه) نو په هغه

اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ

څه ګناه | په هغه | (د احکم) دپاره د هغه چا دے | چه ډیر ډیر ویریږی د الله نه | او ډیر ډیر ویریږئ | د الله نه | او پوهه شئ | چه بیشکه تاسو

هم هیڅ ګناه نشته د احکم او تفصیل د هغه چا دپاره دے چه د الله د نافرمانۍ نه ډیر ډیر ویریږی او تاسو ټول د الله نه ډیر ډیر ویریږئ (تقوی اختیار کړئ)

اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝٢٠٣ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ

خاص هغه ته به | جمع کولے شئ | او بعضے د خلقو نه | هغه څوک دی | چه تعجب کښ اچوی تا لره | وینا د هغه

او یقین اوساؤ چه تاسو ټول به الله ته ورجمع کولے شئ. او په دے خلقو کښ داسے هم شته چه د دنیوی معاملو تو بارہ کښ د هغه خبرے

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ

په ژوند د دُنیوی کښ | او ګواه کوی هغه | الله | په هغه څه | چه په زړه د هغه کښ دی | او حال دا دے چه هغه

په تا ډیر ښے او خوږ ے لګی او په زړه کښ ئے چه څه دی په هغے باندے الله هم ګواه کوی حالانکه هغه

اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ

ډیر سخت | جګړه ماردے | او کله | چه لاړشی (ستادَ خوانه) | کوشش کوی | په زمکه کښ | چه فساد خور کړی

(ستاسو په دشمنانو کښ) ډیر سخت جګړه ماردے او هر کله چه ستانه لاړشی (یا مرتبه بیا مومی) نو په وطن (زمکه) کښ ددې کوشش داوی چه فساد

فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَاِذَا

په زمکه کښ | اوچه تباه کړی | فصل | او نسل | او الله | نه خوښوی | فساد | او کله

پکښ خور کړی اودمسلمانانو فصلونه اودهغوی څاروی (یادبنیادمونسل) تباه کړی حالانکه الله فساد (خورولکی) هیڅ کله نه خوښوی

قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ

چه اووئیلے شی | دۀ ته | ویریږه | دالله نه | نوراونیسی دۀ لره | غیرت | په (کولو د) ګناه | پس پوره دے دۀ لره

اوکله چه ورته اووئیلے شی چه دالله نه ویریږه نوغرور ئے په نوره ګناه آماده کړی نو بس دا سے کس دپاره

جَهَنَّمُ ۗ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ

جنهم | او خامخا ډیر بد | ځائے دے (داجهنم) | اوبعضے دخلقونه | هغه څوك دی | چه خرڅوی | ځان خپل

جنهم پوره دے اوجهنم ډیر بد ځائے دے. (بل طرف ته) په خلقو کښ دا سے خلق (هم) شته چه دالله درضا حاصلولو دپاره د خپل ځان

ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

دپاره د لټولو | د رضامندئ | د الله | او الله | ډیر مهربان دے | په بنده ګانو | اے هغه کسانو

سودا کوی (خپل سرونه ورکوی) او الله هم په دا سے بنده ګانو ډیر مهربان دے۔ اے مومنانو!

اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ۪ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ

چه ایمان مو راوړے دے | داخل شئ | په اسلام کښ | پوره | او پیروی مه کوئ | د قدمونو

اسلام کښ پوره په پوره ورننوځئ او د شیطان په نقش قدم باندے مه ځئ

الشَّيْطٰنِ ۗ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٢٠٨﴾ فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

د شیطان | بیشکه هغه | ستاسو | دشمن دے | ښکاره | پس که چرے | اوخوید لئ تاسو | پس ددے نه

یقین اوسئ چه شیطان ستاسو ښکاره دشمن دے. نو که چرے ددے ښکاره دلیلونو د راتلو نه پس هم

جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٠٩﴾

چه راغلل تاسو ته | ښکاره دلیلونه | نوپوهه شئ | چه بیشکه | الله | غالب (زورآور) | اوحکمت والا دے

تاسو (ټول اسلام نه) واوړیدلئ نو یادسئ چه الله (په هرچا باندے) غالب دے (قدرت ئے کامل دے) او حکمت والا ذات دے

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ

نه کوی داخلق | انتظار | مکر | دا | چه راشی دوی ته | الله | په سورو کښے | د وریځو نه

(که دوی اوس هم ایمان نه راوړی) نو ولے دوی ددے خبرے انتظار کښی دی چه الله په خپله د وریځو په سورو کښ ورته راشی

وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ ۗ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٢١٠﴾ ع

او (راشی) ملائکے | او فیصله کړے شی | کار | او خاص دالله طرف ته | ورګرځولے شی | ټول کارونه

او فرشتے ورسره هم وی او ټوله خبره انجام ته ورسی؟ او (اخر به) ټولے معاملے هسے هم الله ته پیش کیږی

سَلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۭ بَيِّنَةٍ ؕ وَمَنْ

تپوس او کړه | د بنی اسرائیلو نه | چه څومره | ورکړے وے مونږ دوی ته | نخښے | ښکاره | او څوک

(اے پیغمبره!) د بنی اسرائیلو نه (خولږ) تپوس او کړه چه مونږ دوی ته څومره ډیرے واضحه نخښے (معجزے) ورکړے وے او

يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾

چه بدل کړی | نعمت | د الله | پس ددے نه | چه راغلے نعمت دے ته | پس بیشکه | الله | سخت | عذاب ورکونکے دے

چاته چه د الله نعمت راشی او هغه ئے بیا (په ناشکرئ کولو) بدل کړی نو یاد ساتئ چه د الله عذاب ډیر سخت دے

زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ

ښائسته کړے شوے دے | هغه کسانو ته | چه کفر ئے کړے دے | ژوند | دُنیوی | او ټوقے کوی

کافرانو ته د دُنیوی ژوند ډیر ښائسته ښکاره کړے شوے دے او دوی (د مالدارئ دوجے نه) په مومنانو پورے

مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ وَالَّذِيْنَ اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ

په هغه کسانو پورے | چه ایمان ئے راوړے دے | او هغه کسان | چه پرهیزګاره دی | د پاسه دهغوی به وی

ټوقے کوی حالانکه څوک چه د الله نه یریږی نو هغوی به د قیامت په ورځ د دوی (کافرو) نه اوچت وی

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢١٢﴾

په ورځ | د قیامت | او الله | ورکوی روزی | چاته | چه اوغواړی | بے حسابه

او الله چه چا ته اوغواړی (په دنیا کښ) بے حسابه رزق ورکوی

كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۟ فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ

وو | خلق | ډله | یوه | پس راولیږل | الله | پیغمبران | زیری ورکونکی

اول ټول خلق په یو دین باندے وو (بیا چه دوی کښ اختلاف پیدا شو نو) الله پیغمبران راولیږل

وَمُنْذِرِيْنَ ۪ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ

او ویرونکی | او راوئے لیږل | د دوی سره | کتاب ونه | په رښتیا (برحق) | د پاره دے چه فیصله اوکړی

چه نیکانو ته زیرے ورکونکے او بدانو ته ویره ورکونکی وو او الله پیغمبر انو سره په حق باندے مشتمل کتابونه هم راولیږل

بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَمَا اخْتَلَفَ

په مینځ | د خلقو کښ | په هغه څه کښ | چه اختلاف کړے وو دوی | په هغے کښ | او نه وو کړے اختلاف

دے د پاره چه د خلقو په کومو خبرو کښ اختلاف دے (الله یا د کتابونه) د هغے فیصله اوکړی (د افسوس خبره داده)

فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ

په هغے کښ | مګر | هغه کسانو | چه ورکړے شوے وو هغوی ته (کتاب) | پس ددے نه | چه راغلل هغوی ته

چه هغه کسان چه کتابونه ورته ورکړے شوی وو هم هغوی د ښکاره دلیلونو د راتلو نه پس

الْبَيِّنٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ښکاره دلیلونه | د وجے د ضد نه | په خپل مینځ کښ | پس هدایت اوکړو | الله | هغه کسانو ته | چه ایمان ئے راوړے وو

په خپل مینځ کښ د حسد او د ضد د وجے نه اختلاف شروع کړے وو بیا الله (په خپل حکم)

لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ

دهغه خبرے | چه اختلاف کړے وو دوی | په هغے کښ | د حق نه | په حکم خپل | او الله | هدایت کوی

مومنانو ته په اختلافی خبرو کښ سمه لار اوښودله او الله چه

مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا

چاته چه | اوغواړی | په طرف | د لارے | نیغے | آیا تاسو (دا) خیال کوئ | چه داخل به شئ

چا لره اوغواړی نیغے لارے ته ئے رسوی۔ ستاسو گنی دا خیال دے چه (هیڅ بے هیڅه) به جنت ته لاړ شئ

الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ

جنت ته | اوحال دادے چه نه دے | راغلے تاسو ته | حالت | دهغه کسانو | چه تیر شوی دی | مخکښ تاسو نه

حالانکه په تاسو باندے هغه شان سخت حالات لا نه دی راغلے لکه څنګه چه تاسو نه په مخکښنو خلقو راغلی وو

مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ

رسیدلے وه هغوی ته | تنګی | او تکلیفونه | اوجړ قولے شوی وو | تر دے | چه اوبه وئیل | پیغمبر

په هغوی باندے داسے مالی سختئ او بدنی تکلیفونه راغلی وو او په مصیبتونو سره دومره جړ قولے شوے وو چه پیغمبر

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ

او هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے وو | ددهٔ سره | کله به وی | مدد | د الله | خبردار | بیشکه | مدد

او د هغه مومنانو ملګرو به څنګه کړے چه د الله مدد به کله راځی؟ خبر شئ چه یقیناً د الله مدد

اللّٰهِ قَرِيْبٌ ۝ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ ؕ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ

د الله | لزدے دے | تهوس کوی دوی ستاته | چه څه | خرچ کړی؟ | اووایه | هغه څه | چه خرچ کوئ ئے تاسو

(پر لزدے دے۔ (اے پیغمبره!) خلق تاته تهوس کوی چه د الله د رضا د پاره څه خرچ کړو (او په چا ئے خرچ کړو؟) نو ته ورته اووایه چه تاسو

مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ

د مال نه | نو هغه دمور او پلار | او خپلوانو | او یتیمانو | او مسکینانو | او مسافرو د پاره دی

چه د خپل وس مطابق څومره مال هم خرچ کوئ نو هغه په مور او پلار او په خپلو خپلوان او په یتیمانو او په مسکینانو او په مسافرو

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ۝ كُتِبَ عَلَيْكُمُ

او څه | چه کوئ تاسو | د نیکئ کار | پس بیشکه | الله | په هغے | ښه پوهه دے | فرض کړے شوے دے | په تاسو

خرچ کوئ او تاسو چه د نیکئ څه کار هم کوئ نو الله تعالیٰ د هغے نه پوره خبر دے۔ (اے مسلمانانو) په تاسو باندے د الله په لار کښ

الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا

جهاد کول | اوحال دادے چه دا (جهاد) | ګران (بد) لګی | تاسو ته | اوکیدے شی | چه نه به خوښوئ تاسو | یو څیز

جنګ کول فرض کړے شوی دی حالانکه هغه ستاسو په طبیعت باندے بد لګی او دا خبره بالکل ممکن ده چه تاسو به یو څیز بد ګڼئ

وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ

اوهغه به | غوره وی | تاسو د پاره | اوکیدے شی | چه خوښوئ به تاسو | یو څیز | اوهغه به | بد وی | تاسو د پاره

خو هغه به ستاسو په حق کښ بهتر وی او دا هم ممکن ده چه تاسو به یو څیز غوره ګڼئ خو هغه به تاسو د پاره بد وی

ع ٢٧ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢١٦﴾ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ

او الله | پوهیږی | او تاسو | نه پوهیږئ | تهوس کوی دوی ستاته | په بارہ د میاشتے | عزتمنده کښ

څکه چه الله پوهیږی په خیر او شر او تاسو (پرے) نه پوهیږئ. (اے پیغمبره!) دا خلق تاته تهوس کوی چه د حرمت په میاشتو کښ

قِتَالٍ فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ وَ صَدٌّ

د جنګ کولو نه | په دے کښ | اووایه | چه جنګ کول | په دے کښ | لویه ګناه ده | او منع کول (خلقو لره)

جنګ کول څنګه دی؟ ووایه ورته اووایه چه په دے میاشتو کښ جنګ کول هم ډیر غټ جرم دے خو (هغه طرف ته) د الله د دین نه

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ كُفْرٌ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۫ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ

د | لارے | د الله نه | او کفر کول | په الله | او د مسجد حرام نه (خلق منع کول) | او شرل | دهغے ډاوسیدونکو

خلق منع کول او د الله نه انکار کول او د کعبے نه خلق بندول او دهغے اوسیدونکی (مستحقین) دهغے نه شرل (داټول)

مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ؕ وَلَا يَزَالُوْنَ

دهغے نه | ډیره غټه ګناه ده (دے جنګ نه) | په نزد د الله | او فتنه | ډیر لوی جرم دے | د قتل نه | او همیشه به وی دوی

د الله په نزد (د جنګ نه) غټ جرم نه دی او فتنه را پورته کول یا شرک کول د قتل نه هم ډیر غټ جرم دے او دا کافر خو به

يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ؕ

چه جنګ به کوی تاسو سره | تر دے | چه واړوی تاسو | د دین خپل نه | که چرے | وس ئے برابر شی

تاسو سره تر هغه وخته پورے جنګیږی د چه وس ئے برابر شی نو تاسو به د خپل دین (اسلام) نه واړوی

وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ

او څوک | چه واوړیدو | ستاسو نه | د دین خپل نه | او بیا مړ شو | په دا سے حال کښ چه دے | کافر وی

او (یا دا سې) څوک چه په تاسو کښ د خپل دین نه مرتد شو او بیا ورله مرګ هم د کفر په حالت کښ راغے

فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

پس دغه کسان | برباد (ضائع) شو | عملونه د دوی | په دنیا کښ | او په اخرت کښ | او هم دغه کسان

نو د هغوی ټول د خیر عملونه په دنیا او په آخرت کښ ضائع لاړل او هم دا سے کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٢١٧﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اُور والا دی | دوی به | په هغے کښ | همیشه وی | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے

دوزخیان دی چه په هغے کښ به همیشه همیشه وی۔ (د دے په عکس) یقیناً چا چه ایمان راوړے دے

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ

او هغه کسان | چه هجرت ئے کړے دے | او جهاد ئے کړے دے | په لار | د الله کښ | دغه کسان

او چا چه کلے وطن پریخودلے دے (هجرت ئے کړے دے) او د الله په لار کښ ئے جهاد کړے دے نو هم دغه کسان

يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢١٨﴾ يَسْئَلُوْنَكَ

اُمید لری | د رحمت | د الله | او الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | تهوس کوی دوی تاته

د الله د رحمت امید وار دی او الله ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے. اے پیغمبره! دا خلق تا نه

عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ؕ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ

په بارہ دشرابو کښې | اوجواریٔ کښې | اووایه | چه په دے دواړو کښې ده | ګناه | غټه | اوفائدے دی

دشرابواودجواریٔ په بارہ کښې تپوس کوی نوته ورته اووایه چه پدے دواړو ه کښې (یعنی په هریو کښې) ډیره غټه ګناه ده اودخلقو

لِلنَّاسِ ۫ وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا

دپاره د خلقو | او ګناه د دواړو | ډیره غټه ده | د فائدے د دواړو نه | اوتپوس کوی دوی تانه | چه څه

دپاره پکښې څه فائدے هم شته خو ګناه ئې ډیر فائدے نه لري ډیره زیاته ده او (پیغمبره) خلق تانه تپوس کوی چه دالله په لار کښې څه

يُنْفِقُوْنَ ؕ قُلِ الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ

خرچ کړی | اووایه | د ځان نه زیاتی | هم دغه شان | بیانوی | الله | تاسو ته | آیتونه

خرچ کړی؟ نوته ورته اووایه کوم چه ستاسو د ضرورت نه زیاتی وی. هم دغه شان الله تعالیٰ تاسو ته خپل حکمونه ښه واضح بیانوی

لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۙ﴿٢١٩﴾ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْئَلُوْنَكَ

دے دپاره چه تاسو | سوچ اوکړئ | په بارہ د دنیا | اود آخرت کښې | اوتپوس کوی دوی تانه

چه تاسو د دنیا اود اخرت په بارہ کښې غور او فکر اوکړئ. او خلق تانه د یتیمانو په بارہ کښې تپوس کوی

عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ

په بارہ د یتیمانو کښې | (ورته) اووایه | چه اصلاح لټول | دهغوی | ډیر غوره دی | اوګه چرے | شریکیږئ تاسو دوی سره

نوته ورته اووایه چه د دوی سره ښیګړه کول ډیر غوره دی اوګه تاسو د دوی خرچ شریک اوسائ (د ځان سره) نو (خیر دے)

فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ

نو (دوی) ورونړه دی ستاسو | او الله | پیژنی | فساد کونکی | د اصلاح کونکی نه | اوګه چرے غوښتلے

ځکه چه دوی خو ستاسو ورونړه دی اوالله معاملات خرابونکی اوسمونکی ښه پیژنی اوګه الله غوښتلے وے نو په تاسو به ئے

اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٢٠﴾ وَلَا تَنْكِحُوا

الله | نو خامخا تکلیف به ئے راوستے وو په تاسو | بیشکه | الله | زوراور | حکمت والا دے | او نکاح مه کوئ

دا معامله سخته کړے وه یقیناً دالله عزت هم کامل دے او حکمت ئے هم. او (اے مومنانو!) دمشرکانو ښځو سره

الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ

دمشرکانو ښځو سره | تر دے | چه ایمان راوړی دوی | او خامخا یوه ویناړه | مومنه | ډیره غوره ده | دیو مشرکے ښځے نه

تر هغه وخته پورے نکاح مه کوئ تر څو چه ئے ایمان نه وی راوړے او یقیناً یوه مومنه ویناړه دمشرکے ښځے نه ډیره ښه ده

وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ

اګر که دامشرکه | ښه لګی تاسو ته | اوپه نکاح مه ورکوئ (خپلے زنانه) | مشرکانو سړو ته | تر دے | چه دوی ایمان راوړی

اګر که هغه (د حسن یا مال په وجه) ستاسو خوښه وی او مشرکانو سړو ته خپلے زنانه تر هغه وخته پورے په نکاح مه ورکوئ تر څو چه

وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ

اوخامخا یو غلام | مومن | ډیر غوره دے | د مشرک نه | اګر که | تعجب کښې اچوی دے تاسو لره | دغه کسان

هغوی ایمان نه وی راوړے او یقیناً یو مومن غلام د یو مشرک نه ډیر بهتر دے اګر که هغه تاسو ته (مال او د جمال خوښ له) خوښ وی

يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۚ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ

رابلی (خلقو لره) | په طرف داور | او الله | رابلی (خلق) | په طرف دجنت | اومغفرت ته | په حکم خپل سره
دامشرکان خو خلق ددوزخ طرف ته رابلی اوالله په خپل حکم سره خلق جنت اومغفرت ته رابلی او الله تعالی خلقو ته

ع ۳۱ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۲۲۱ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ

اوبیانوی (الله) | ایتونه خپل | دپاره دخلقو | چه دوی | نصیحت واخلی | اوتپوس کوی دوی تانه
خپل حکمونه دے دپاره ښه په وضاحت سره بیانوی چه خلق ترینه نصیحت واخلی۔ اوخلق تانه دحیض په باره کښی

عَنِ الْمَحِيْضِ ۭ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَاۗءَ

په باره د حیض کښے | ته اووایه | چه دا | پلیتی (ضرر) دے | پس جدا شئ | د زنانو نه
تپوس کوی نوته ورته اووایه چه داخو یو ضرر (بیماری اوپلیتی) ده لودحیض په حالت کښی دزنانو نه جدا اوسئ

فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ فَاِذَا تَطَهَّرْنَ

په حالت د حیض کښی | اومه نزدے کیږئ دوی ته | تردے | چه پاکے شی دوی | پس کله | چه ښه پاکے شی دوی
اوځو پورے چه دحیض نه پاکے شوے نه وی نو هغے پورے ورسره قربت (جماع) مه کوئ بیاهر کله چه هغوی ښے پاکے شی

فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ

نوراځئ دوی ته | د هغے ځائے نه | چه حکم کړے دے تاسو ته | الله | بیشکه | الله | خوښوی | دیرتوبه ویستونکو لره
نوورته په هغه طریقه نزدیکت کوئ په کومه طریقه چه الله تاسو ته اجازت کړے دے یقیناً الله توبه کوونکی

وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ۲۲۲ نِسَاۗؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۠ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ

او خوښوی | ځان پاک ساتونکو لره | بیبیانے ستاسو | فصل (پتی) دی | ستاسو | پس راځئ | فصل خپل ته
اوپاکیزه اوسیدونکی خلق خوښوی ستاسو بیبیانے خو ستاسو فصل دے نو خپل فصل ته چه څنګه ستاسو خوښه وی

اَنّٰى شِئْتُمْ ۡ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا

څنګه چه | خوښ وی ستاسو | اومخکښ اولیږئ | دپاره د ځانونو خپلو (نیک عمل) | او ویریږئ | دالله نه | او پوهه شئ
ورتلے شئ اودخپل ځان (دفائدے) دپاره نیک عملونه دمخکښ نه اولیږئ اودالله نه ویره ساتئ اویقین ساتئ

اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ۭ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۲۲۳ وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً

چه بیشکه تاسو | ملاقات کونکی ئے دهغه سره | اوزیرے ورکړه | مومنانو ته | اومه جوړوئ | (نوم د) الله | نخښه (ډال)
چه تاسو به الله ته پیش کیږئ اوا ے پیغمبره ! مومنانو ته (دلجات) زیرے ورکړه۔ اودالله تعالی نوم په خپلو قسمونو کښی

لِّاَيْمَانِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ ۭ

دپاره دقسمونو خپلو | چه نه به نیکی کوئ | اونه به پرهیزګاری کوئ | اونه به اصلاح کوئ | په مینځ د خلقو کښی
په دے غرض مه استعمالوئ چه هغے په وجه ځان دنیکی کولو نه اودتقوی دکارونو نه اودخلقو په مینځ کښی دصلح کولو نه منع کړئ

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۲۲۴ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ

او الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | نه نیسی تاسو (لره) | الله | په لغوه سره | په قسمونو ستاسو کښی
اوالله تعالی هر څه اوری اوپه هر څه پوهه دے۔ الله ستاسو په لغو (بے ارادہ) قسمونو ستاسو گرفت نه کوی بلکه په هغه قسمونو

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

لیکن | نیسی تاسو | په هغه څه | چه (قصدئ) کړے وی | زړونو ستاسو | او الله | دیر بخښونکے

ستاسو کرفت کوی کوم چه تاسو د زړه په قصد اوارادے خوړلے وی او الله دیر بخښونکے دیر صبر کونکے دے

حَلِيْمٌ ۝٢٢٥ لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ

دیر صبر ناک دے | د پاره د هغه کسانو | چه قسم خوری | د خپلو ښځو نه | انتظار کول دی | څلور | میاشتے

څوک چه خپلو ښځو سره ایلاء اوکړی (هغوی سره د نزدیکت نه کولو قسم اوخوری) نو د هغوی د پاره څلور میاشتے مهلت دے نو که پدے

فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٢٢٦ وَاِنْ عَزَمُوا

پس که چرے | واپسی اوکړه دوی | نو بیشکه | الله | دیر بخښونکے | دیر رحم کونکے دے | او کچرے | دوی کلك قصد کړے وی

مینځ کښ دوی قسم نه ملت کړی اور جوع اوکړی نو یقیناً الله دیر بخښونکے او دیر مهربان دے او که چرے دوی (خاوندان) ښځو د پر یخولو

الطَّلَاقَ فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝٢٢٧ وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ

د طلاق | نو بیشکه | الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | او طلاقشوے ښځے (به) | انتظار کوی

پخه اراده کړی وی نو یقیناً الله هر څه اوری او په هر څه پوهه دے۔ کومو زنانو ته چه طلاق ورکړے شوے وی هغوی دے

بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ

په ځانونو خپلو | درے | حیضه | اوله دی روا | د پاره د دوی | چه پټ کړی | هغه څه | چه پیدا کړی دی

درے حیضونو پورے خپل ځان دپلے نکاح نه بند اوساتی او که په الله او اخرت ئے ایمان وی نو د دوی په رحمونو کښ

اللّٰهُ فِيْٓ اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

الله | په کیدو د دوی کښ | که چرے | دوی | ایمان لری | په الله | او په ورځ روستنئ

چه الله څه (حیض یا حمل) پیدا کړی دی د هغے پټول ورله جائز نه دی

وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا

او خاوندان د دوی | دیر حقدار دی | په واپسی د دوی | په دے موده کښ | کچرے | ارادے لری دوی

او کچرے د دوی خاوندان خپل کور روغ جوړ ساتل غواړی نو په موده د عدت کښ هغوی دیر حق لری چه دا زنانه خپل

اِصْلَاحًا ؕ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ

د اصلاح | او د پاره د زنانو (حقونه) دی | په شان | د هغے (حقونو) | چه په دے ښځو باندے دی (د خاوندانو د پاره)

زوجیت کښ واپس راولی او دستور او د عُرف مطابق ښځو ته هم حقوق دی لکه څنګه چه په ښځو باندے سړو ته حاصل دی

بِالْمَعْرُوْفِ ۖ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝٢٢٨

په ښه طریقے سره | او شته د پاره د سړو | په ښځو باندے | او چتوالے | او الله | دیر زور اور | لوئی حکمت والا دے

البته سړو ته په ښځو باندے یو درجه او چتوالے زیات حاصل دے او الله غالب او حکمت والا ذات دے

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۖ فَاِمْسَاكٌ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌ بِاِحْسَانٍ ؕ

طلاق (رجعی) | دوه ځله دے | پس یا خو ساتل دی (ښځے) | په ښه طریقه | او یا پریښودل دی | په ښه ټیکرے کولو سره

هغه طلاق چه رجوع کښ کیدے شی دوه ځله دے بیا پس (خاوند سړو ته) اختیار دے دی یا خو (ښځه) د شریعت مطابق ځان سره وساتی او یا یه ښه طریقه (صلح) کولو سره پریږدی

وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ

اونه دی روا	ستاسو دپاره	چه	واخلئ تاسو	دهغه څخه	چه ورکړی دی تاسو دوی ته	څه شی (دمال نه)	مکر	دا چه

(او اے خاوندانو!) تاسو دپاره دا نه دی روا چه کوم مهر تاسو هغوی ته ورکړے وو هغه ترینه واپس واخلئ البته که

يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا يُقِيْمَا

یَرَیږی دواړه	چه نه هی پابندی کولے	د حکمونو	د الله	نو که	تاسو یرَیږئ	چه نشی کولے دواړه پابندی

بنځه خاوند دواړه یرَیږی چه د نکاح باقی ساتلو په صورت کښ به د الله د حکمونو پابندی او نکړے هی نو که تاسو سره یرَه وی

حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ

د حکمونو	د الله	نو نشته	هیڅ گناه	په دواړو باندے	په هغه څه (مال) کښ	چه بدل ورکوی دا بنځه په هغے سره	په بدل د نفس خپل کښ

چه دا دواړه به د الله د حکمونو پابندی او نکړے هی نو په دے کښ په دواړو باندے هیڅ گناه نشته چه بنځه مالی معاوضه ورکړی

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ

دا	حکمونه	د الله دی	نو دے دینه بهر مه ووځئ (تجاوز مه کوئ)	او څوک	چه بهر ووتلو	د حکمونو

او خان د خاوند نه خلاص کړی دا د الله مقرر کړے شوی حکمونه دی د دینه تجاوز مه کوئ او څوک چه د الله د حکمونو نه

اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٢٢٩ فَاِنْ طَلَّقَهَا

د الله نه	پس هم دغه کسان	دی	ظالمان	پس که چرے	طلاق ورکړو خاوند (په دریم ځل)

تجاوز کوی هم دغه خلق غټ ظالمان دی. بیا که چرے خاوند دریم طلاق ورکړو

فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ

نو نه ده روا دا بنځه	د پاره د هغهٔ	پس د دے (طلاق) نه	تر دے	چه دا (بنځه) نکاح او کړی	د خاوند	بل سره

نو لوس د دریم طلاق نه پس دا بنځه د هغه خاوند د پاره تر هغے پورے روا نه ده تر څو پورے چه دا بنځه بل خاوند سره نکاح (او نزدیکت) او نکړی

فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ

بیا که چرے ده (بل خاوند) هم	طلاق ورکړو دیته	نو نشته هیڅ گناه	په دواړه باندے	چه یو بل ته رجوع او کړی

نو بیا که (اتفاقاً) هغه بل خاوند (وَرله) هم طلاق ورکړو اود اولنی خاوند او دے بنځے غالب گمان وی

اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ

(په دے شرط) چه گمان کوو دے دواړه	چه پابندی به او کړی حوی	د حکمونو	د الله	او دا	حکمونه	د الله دی

چه د الله د حکمونو خیال به ساتی نو که بیا دوی دواړه نوے نکاح کوی نو هیڅ گناه پرے نشته او دا ټول د الله حکمونه دی

يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝٢٣٠ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ

(چه) بیانوی ئے	د پاره د هغه قوم	چه پوهیږی	او هر کله	چه طلاق ورکړئ تاسو	خپلو بنځوته	بیا وُرسی دوی

چه د هغه چا د پاره ئے واضحه بیانوی چه پوهیږی۔ او کله چه تاسو بنځوته طلاق ورکړئ او بیا هغوی د خپل عدت ختمیدو ته

اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪

عدت خپل ته	نو اوساتئ دوی	په ښه طریقه	(او) یا ئے پریږدئ	په ښه طریقه

ورنزدے هی نو یا خو ئے په ښه طریقه په خپله نکاح کښ اوساتئ او یا ئے په ښه طریقه رخصت کړے (پریږدئ)

وَّلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ

او مه حصاروئ دوی | دپاره دضرر رسولو | (کنی انجام به داشی) چه زیات قبله اوکړئ تاسو (په دوی) | او چا چه | اوکړو | دا کار

اود تکلیف رسولو په خاطر ئے دځان سره مه حصاروئ چه ظلم پرے اوکړئ او څوک چه دا سے اوکړی

فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۭ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۡ وَّاذْكُرُوْا

نو یقیناً | هغه ظلم وکړو | په ځان خپل | او مه نیسئ (مه کنړئ) | ایتونه | د الله | توے | او یاد کړئ

نو یقیناً په خپل ځان ئے ظلم اوکړو او د الله تعالیٰ حکمونه کپ (مذاق) مه کنړئ او الله چه تاسو ته کوم

نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ

نعمت | د الله | په ځانونو خپلو | او هغه څه | چه نازل کړی دی الله | تاسو ته | د کتاب | او د حکمت نه

نعمتونه در کړی دی هغه یادساځ او تاسو دپاره چه ئے کوم کتاب او د حکمت خبرے دنصیحت کولو دپاره راالیږلے دی

يَعِظُكُمْ بِهٖ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

نصیحت کوی الله تاسو ته | په هغے | او ویریږئ | د الله نه | او پوهه شئ | چه بیشکه | الله | په هر څیز

نو په هغے درته نصیحت کوی (دعمل کولو) او د الله نه ویریږئ او یقین اوساځ چه الله په هر څه ښه پوهه دے

عَلِيْمٌ ۝ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاۗءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

ښه پوهه دے | او کله | چه طلاق ورکړئ تاسو | ښځو ته | او وُرسی دوی | نیټے (عدت) خپلے ته

او کله چه تاسو خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ او بیا دَهغوی عدت پوره شی

فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ

پس مه منع کوئ دوی | چه نکاح اوکړی دوی | د خاوندانو خپلو سره | کله چه | راضی وی دوی | په مینځ خپل کښ

نو بیا ئے د خپلو خاوندانو سره د نکاح کولو نه مه منع کوئ خو په دے شرط چه کله هغوی خپل مینځ کښ په ښه طریقه

بِالْمَعْرُوْفِ ۭ ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ

په ښه طریقه | دا (حکم) | نصیحت کولے شی | په دے سره | هغه چا ته | چه وی | ستاسو نه | چه ایمان لری

(د دستور مطابق) راضی شی په دے خبرو سره په تاسو کښ هغه چا ته نصیحت کیږی څوک چه په الله او د آخرت په ورځ

بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ۭ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

په الله | او په ورځ روستنۍ | دا (طریقه) | دیره پاکیزه ده | دَپاره دَستاسو | او دیره صفا ده | او الله | پوهیږی

ایمان لری هم دا طریقه تاسو لره د بدنامئ نه ښه بچ کونکی ده او تاسو لره د زنا نه پاکونکے هم ده او الله په هر څه پوهیږی

وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ

او تاسو | نه پوهیږئ | او مَیندے دے | پئ ورکوی | بچو خپلو ته | دوه کاله

او تاسو نه پوهیږئ۔ او مَیندے دے خپلو بچو ته پوره دوه کاله پئ ورکوی

كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ۭ وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ

پوره | (دا) دپاره دهغه چا | چه غواړی | چه پوره کړی | موده دپیو ورکولو | او په پلار باندے

خو دا حکم دهغه چا دپاره دے چه څوک دپیو دورکولو موده پوره کول غواړی او په پلار باندے دعرف مطابق

رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا

خوراك دهغوی | اوجامه دهغوی (لازمی) ده | د عُرف مطابق | تکلیف نه شی ورکولے | هیڅ چاته | مګر

دمَیندو (دپیځ ورکونکو) خوراك جامه خرچه ورکول واجب دی (اوپه دے خبره کښ) په هر چا باندے دخپل وس منلسب

وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۚ

مطابق دوس دهغه | ضرر دے ورنکړے شی | مور ته | په سبب دبچی خپل | او نه پلار ته | په سبب دبچی دهغه

ذمه واری ده نه خودے مور دخپل بچی په وجه په تکلیف کړے شی اونه دے پلار دخپل بچی په وجه په تکلیف کړے شی

وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا

او په وارث باندے (هم) | په شان | ددے (نان نفقه) ده | بیا که | اوغواړی مور اوپلار | پریکول دپیو نه

اوهم دغه شان ذمه واری (دنان نفقے) په وارث هم ده بیا که مور اوپلار دواړه په خپلے رضامندئ سره ددوه کالونه مخکښ

عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ

په رضامندئ | ددے دواړو | اوپه مشورے (ددے دواړو) سره | نو نشته هیڅ ګناه | په دواړو باندے | اوکه چرے

ماشوم د تِی (پیو) نه پریکول غواړی نو هیڅ ګناه پرے نشته او که تاسو

اَرَدْتُّمْ اَنْ تَسْتَرْضِعُوْٓا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

غواړئ تاسو | چه پئ ورکونکے ښځه اونیسئ | دپاره داولاد خپل | نو نشته هیڅ ګناه | په تاسو باندے

خپل اولاد دپاره څوك پئ ورکونکے ښځه (انا) نیول غواړئ نو هیڅ ګناه دربانده نشته

اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا

کله چه ورکوئ تاسو هغے ته | هغه څه | چه مقرر کړی دی تاسو | مطابق د دستور | او ویریږئ | د الله نه | او پوهه شئ

خوپه دے شرط چه تاسو (دهغے دپاره) کوم اُجرت مقرر کړے وی هغه ورله په ښه طریقه ورکړئ اود الله نه ویریږئ اویقین اوساتئ

اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٣٣﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ

چه بیشکه | الله | دهغه څه | چه تاسو ئے کوئ | لیدونکے دے | اوهغه کسان | چه مړه شی | ستاسو نه

چه الله ستاسو عملونه ښه وینی ۔ او په تاسو کښ چه څوك مړ شی

وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ

اوپریږدی هغوی | ښځے | انتظار به کوی دا ښځے | په خانونو خپلو | څلور | میاشتے | اولس ورځے

اوبیبیانے پریږدی نو هغه بیبیانے به خپل خانونه څلور میاشتے اولس ورځے دَ بلے نکاح نه بندساتی

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ

نو کله | چه ورسی دوی | ختمیدلو دعدت (نیټے) خپلے ته | نو نشته هیڅ ګناه | په تاسو | په هغه څه کښ | چه کوی ئے ښځے

بیا کله چه د هغوی عدت پوره شی نو که د دستور مطابق هغوی دخپل خان په حقله څه (مثلا دویمه نکاح) کوی

فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿٢٣٤﴾

دخپل خان په حق کښ | د دستور مطابق | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | ښه خبردار دے

نو په تاسو هغے څه ذمه واری (ګناه) نشته او الله تعالی ستاسو د ټولو عملونه ښه خبردار دے

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا عَرَّضْتُمْ بِهٖ مِنْ خِطْبَةِ

اونشته | څه ګناه | په تاسو باندے | په (وئیلو) دَهغه الفاظو کښ | چه اشاره کوئ تاسو | په هغے سره | د غوښتنے

او (دَعدت په دوران کښ) که تاسو دغه زنانو ته په اشارو سره د نکاح پیغام ورکوئ

النِّسَآءِ اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ

د ښځو نه | یاځے اِرادہ ساتئ تاسو | په زړونو خپلو کښ | عِلم دے | الله ته | چه بیشکه تاسو به | خامخا یادوئ دوی لره

یادهغوی سره دنکاح اراده په زړه کښ پته ساتئ نو هیڅ ګناه درباندے نشته الله ته پته وه چه تاسو به دهغوی خیال په زړه کښ ضرور راولئ

وَلٰكِنْ لَّا تُوَاعِدُوْهُنَّ سِرًّا اِلَّآ اَنْ تَقُوْلُوْا قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ؕ

لیکن | مه کوئ وعدے (دنکاح) دوی سره | په پټه | مګر | داچه | اووایئ تاسو | څهٔ خبره | مطابق د دستور

خو پټے وعدے (دَیو بل سره) مه کوئ مګر که په مناسب طریقے وَرسره خبره کول غواړئ نو کولے شئ

وَلَا تَعْزِمُوْا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتّٰى يَبْلُغَ الْكِتٰبُ اَجَلَهٗ ؕ وَاعْلَمُوْٓا

او مه کوئ اراده | د ترلو | د نکاح | تردے | چه ورسی | عدت | مقرروخت خپل ته | او پوهه شئ

اوترهغے دنکاح د ترلو اراده مه کوئ ترڅو پورے چه عدت پوره شوے نه وی او یقین وساتئ

اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا

چه بیشکه | الله | پوهیږی | په هغه څه | چه دی په زړونو ستاسو کښ | نو ویریږئ دهغه نه | او پوهه شئ

چه ستاسو په زړونو کښ چه څه دی نو الله هغه ښه پیژنی نو دهغه نه یَره کوئ او یقین ساتئ

اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ۝٢٣٥ لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ ع

چه بیشکه | الله | ډیر بخښونکے دے | ډیر صبر کونکے دے | نشته | څه ګناه | په تاسو باندے | که چرے | طلاق ورکړئ تاسو

چه الله ډیر بخښونکے ډیر صبر کونکے دے۔ په تاسو باندے په دے کښ هیڅ ګناه نشته چه ښځو ته په دا سے

النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۖۚ

ښځو ته | کله چه لاس نه وی ورورے تاسو دوی ته | او نه وی مقرر کړے تاسو | دوی لره | څه مَهر

وخت کښ طلاق ورکړئ چه نه موهغوی ته لاس وَرورے وی او نه مو ورله څه مهر مقرر کړے وی

وَّمَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ

او څه سامان (فائده) ورکړئ دوی ته | شته په مالدار باندے | دخپل وس مناسب | او په تنګ دست باندے | دخپل وس مناسب

او (په دا سے صورت کښ) څه نه څه تحفه (خرچه) ورکړئ دوی ته مالدار دے دخپل وس مطابق او غریب دے دخپل وس مطابق

مَتَاعًا ۢ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ ۝٢٣٦ وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ

څه سامان (فائده) | د دستور مطابق | (دا) لازم دی | په نیکانو باندے | او که چرے | طلاق ورکړئ تاسو دوی ته

په ښه طریقه څه فائده ورکړی دا په نیکانو خلقو لازم ده۔ او که چرے د لاس وَرورو نه

مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً

مخکښ | د دینه | چه لاس ورورے وی تاسو دوی ته | او مقرر کړے وی تاسو | د پاره دوی | څه مَهر

مخکښ مخکښ تاسو هغوی ته طلاق ورکړو حالانکه مهر تاسو مقرر کړے وی نو بیا هغوی ته د مقرر شوی

فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا الَّذِیْ

نو(ځدوی دپارې) نیمه حصه | دهغے مهر دے | چه مقرر کړے وی تاسو | مګر | که معافی او کړی دوی | او یا معافی او کړی | هغه کس

مهر نیمه حصه ور کول واجب دی البته دا بیله خبره ده که ښځه معافی او کړی (دنیم مهر مطالبه هم او نکړی) او یا هغه کس (خاوند) چه

بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ؕ

چه په لاس دهغه کښ | غوټه (عقد) | د نکاح ده | او معافی کول ستاسو | دیره نزدے ده | تقوای ته

په لاس کښ ے غوټه که هغه معافی او کړی (پوره مهر ور کړی) او که تاسو ذکر می ته کار واخلئ او پوره مهر ور کړئ نو دا خبره تقوای ته دیره نزدے ده

وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٢٣٧﴾

او مه هیروئ تاسو | احسان کول | په خپل مینځ کښ | بیشکه | الله | په هغه څه | چه تاسو (ے ئ) کوئ | ښه لیدونکے دے

او په خپل مینځ کښ (ډیوبل سره) احسان او ښه سلوك مه هیروئ یقیناً الله ستاسو ټول عملونه ښه وینی

حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾

حفاظت کوئ | د مونځونو ټولو | او د مونځ | مینځنی | او اودریږئ | الله ته | عاجزی کونکی

او په ټولو مونځونو همیش کیږی کوئ او خاصکر په مینځنی مونځ او الله ته دیر په ادب عاجزئ او تابعدارئ سره چپ او دریږئ

فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

پس که چرے | یریږئ تاسو | نو (مونځ کوئ) پیاده | یا سوارۀ | بیاکله چه | په امن شئ تاسو | نو یادوئ | الله

بیا کچرے تاسو (ځدشمن نه) یریږئ نو مونځ کوئ برابر ښه خبره ده که پیاده ئ او که سوارۀ بیاکله چه تاسو په امن شئ نو الله په هغه طریقه

كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ

لکه څنګه چه ئ | ښودلی دی تاسو ته | هغه څه | چه تاسو پرے | نه پوهیدئ | او هغه کسان | چه مړۀ شی

یاد کړئ کومه چه الله تاسو ته ښودلی ده چه تاسو پرے مخکښ نه پوهیدئ ۔ او په تاسو کښ چه کوم کسان مړۀ شی

مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا ۖ۬ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا

ستاسو نه | او پریږدی | ښځے | (نوهغوی دے) وصیت کوی | د پاره د ښځو خپلو | د خرچ ور کولو

او خپلے بیبیانے پریږدی نو دهغوی په حقله دے دیو کاله پورے د خرچے ور کولو وصیت او کړی

اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

تر یو کاله پورے | بغیر د (کورنه د) ویستلو | پس که چرے | بهر ووځی دوی | نو نشته | څه ګناه | په تاسو

او د کور نه دے نه شی ویستلے که هغوی په خپله ووځی او د خپل ځان په حقله

فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ

په هغه څه کښ | چه کوی ے دوی | په حقله د ځانونو خپلو | د څه ښۀ کار نه | او الله | دیر زور اور

په شریعت مطابق څه ښۀ کار کوی نو په تاسو ے هیڅ ګناه نشته او الله زور آور او

حَكِيْمٌ ﴿٢٤٠﴾ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٤١﴾

اولوی حکمت والا دے | اوشته د پارې د طلاقو شوو ښځو | خرچ ور کول | د دستور مطابق | دا حق دی | په متقیانو باندے

حکمت والا دے او دعامو طلاقو شوو ښځو د پاره د عرف مطابق فائده (متعه) ور کول د متقیانو سره لائق دی ۔

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٢٤٢﴾ اَلَمْ تَرَ

دغه شان | بیانوی | الله (تعالی) | تاسو ته | ایتونه خپل | چه تاسو | عقل (فکر) نه کار واخلئ | آیا نه کورے ته

الله خپل حکمونه تاسو ته هم دغه شان وضاحت سره بیانوی چه تاسو د عقل او فکر نه کار واخلئ۔ آیا تاته

اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ

هغه کسانو ته | چه وتلی وو | د کورونو خپلو نه | په داسے حال کښ چه دوی | په زرګونو وو | د یَرے

دهغه خلقو حال معلوم نه دے چه د مرګ نه د بچ کیدو په غرض د خپلو کورونو نه وتلی وو حالانکه هغوی

الْمَوْتِ ۪ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ۫ ثُمَّ اَحْيَاهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

د مرګ نه | پس اووئیل | دوی ته | الله | مړه شئ | بیا ئے | راژوندی کړل دوی | بیشکه | الله

د زرګونو په تعداد کښ وو نو الله ورته اووئیل چه مړه شئ (نو مړه شو) بیا ئے راژوندی کړل یقیناً الله په خلقو

لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٢٤٣﴾

خامخا د فضل والا دے | په خلقو باندے | لیکن | ډیر | خلق | شکر نه ادا کوی

باندے زیات فضل کونکے (مهربان) دے۔ خو ډیر خلق د الله شکر نه ادا کوی

وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ

او اوجنګیږئ | په لار | د الله کښ | او پوهه شئ | چه بیشکه | الله | اوریدونکے (دهر څه)

او د الله په لار کښ جهاد اوکړئ او یقین اوکړئ چه الله هر څه اوریدونکے

عَلِيْمٌ ﴿٢٤٤﴾ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ

پوهه دے (په هر څه) | څوک دے | هغه کس | چه قرض ورکړی | الله ته | قرض | ښه | پس زیات به ئے کړی الله

او په هر څه ښه پوهه دے۔ دا سے څوک شته چه الله ته قرض حَسنه ورکړی چه الله به ئے ورله په څو

لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ

دپاره دَهغهٔ | په زیاتوالی | ډیر | او الله | تنګسیا راولی | او فراخی راولی | او خاص هغه ته به

چنده زیات کړی او (هم) الله (د خلقو) روزی تنګوی او فراخوی او خاص دَ الله طرف ته به تاسو

تُرْجَعُوْنَ ﴿٢٤٥﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ

تاسو واپس کولے شئ | آیا نه کورے ته | هغه ډلے ته | د | بنی اسرائیلو نه | (چه راغلے وه) پس

ورکړ څولے شئ۔ آیا تاته د موسیٰ نه پس دَ بنی اسرائیلو دهغه ډلے واقعه معلوم نه ده؟ کله چه هغوی

مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا

د موسیٰ نه | کله چه | اووئیل دوی | نبی | خپل ته | چه مقرر کړه | زمونږ دپاره | یو بادشاه

خپل پیغمبر ته وئیلے وو چه زمونږ دپاره یو بادشاه (امیر) مقرر کړه چه د الله په لار کښ جهاد اوکړو

نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ

چه مونږ وجنګیږو | په لار | د الله کښ | اووئیل هغه (نبی) | یقیناً نزدے ښے تاسو (دیته) | که | فرض کړے شی

(نو) هغه (پیغمبر) ورته اووئیل چه تاسو نه داقوی اُمید دے چه کچرے جهاد دَرباندے فرض شی

عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَآ

په تاسو باندے | جنګ | نو جنګ (جهاد) به اونکړئ تاسو | اووئیل هغوی | او څه شوی دی په مونږ

او تاسو به ئے اونکړئ نو هغوی اووئیل چه دا لا څنګه کیدے شی چه

اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا

چه اوبه نه جنګیږو مونږ | په لار | د الله کښ | حال دادے چه راویستلے شوی یو مونږ | د کورونو خپلو نه

مونږ به د الله په لار کښ جهاد نه کوو حالانکه (سره ددینه چه) مونږ د خپلو کورونو نه شړلے شوی یو

وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا

او د ځامنو خپلونه | نوکله چه | فرض کړے شو | په دوی باندے | جنګ | نو مخ واړولو تولو (د جنګ نه) | سیوا

او د خپل اولاد نه جدا کړے شوی یو خو (بیا هم داسے اوشوه) چه کله پرے جهاد فرض کړے شو نو سوا د لږو کسانو نه

قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ

د لږو کسانو | د دوی نه | او الله | ښه پوهه دے | په ظالمانو باندے | اووئیل | دوی ته | پیغمبر خپل

نورو تولو شاکړه (اوتختیدل) او الله دا سے ظالمان (نافرمانه) ښه پیژنی۔ او دوی ته خپل پیغمبر اووئیل چه

اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ قَالُوْٓا اَنّٰى

چه بیشکه | الله | مقرر کړے دے | تاسو د پاره | طالوت | بادشاه | (نو) اووئیل دوی | څنګه

یقیناً الله طالوت ستاسو بادشاه (امیر) مقرر کړے دے نو دوی اووئیل هغه لره په مونږ باندے

يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ

کیدے شی | د ده | بادشاهی | په مونږ باندے | او (حال دادے چه) مونږ | د ډیر حقدار یو | د بادشاهۍ

د بادشاهۍ حق د کومے راغے . (حالانکه) د هغه نه خو مونږ زیات د بادشاهۍ حقدار یو

مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ

د ده نه | حالانکه نه دے ورکړے شوے دے هغه | فراخی | د مال | اووئیل (نبی) | چه بیشکه | الله | غوره کړے دے ده لره

او هغه خو څه مالدار سړے هم نه دے پیغمبر ورته اووئیل چه یقیناً الله هغه ته

عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ

په تاسو باندے | او زیاته ئے کړے دے ده ته | فراخی | په علم | او جسم کښ | او الله | ورکوی

په تاسو فضیلت ورکړے دے او (تاسو نه ئے) ورله ښه زیات علم او ښه بدن ورکړے دے او د الله

مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ وَقَالَ لَهُمْ

بادشاهی خپله | چا ته چه ئے | اوغواړی | او الله | فراخ (فضل والا) | ښه پوهه دے | اووئیل | دوی ته

چه چا ته خو ښه شی نو هغه ته حکومت (د دنیا) ورکوی هغه دوسعتونو مالک او پوهه دے . او پیغمبر دوی ته اووئیل

نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ

پیغمبر خپل | چه بیشکه | د نبنبه | د بادشاهۍ دهغه | دا ده | چه راته به شی تاسو ته | هغه صندوق | چه په کښ

چه د طالوت د بادشاهۍ د نښه به داوی چه تاسو ته به هغه صندوق واپس راشی په کوم کښ چه ستاسو د رب د طرف نه

سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ بَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى

تسلی ده | دطرفه درب ستاسو | اوهغه پاتے شوی شیزونه | دهغے څخه نه | چه پریښودلے دی | آل | د موسٰی

ستاسو دزړونو دپاره تسلی (اوسکینت) دے او آل دموسی او آل دهارون چه څه پریښودلے دی دهغے نه څه پاتے شوی

وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ

او آل | دهارون چه راپورته کړے به وی هغه له | ملائکو | بیشکه | په دے کښ | خامخا نښه ده | ستاسو دپاره

شیزونه پکښ هم دی (او) راوړی به ئے فرشتے که ستاسو یقین وی نو په دے کښ ستاسو دپاره خامخا غټه نښه

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ

که چرے | یئ تاسو | باور کوونکی | پس هرکله | چه جدا شو | طالوت | سره دلښکرو | (نو وئیل

(دلیل) دے ـ هرکله چه طالوت دخپلو لښکرو سره روان شو نو وئے وئیل چه یقیناً

اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ

چه بیشکه | الله | ازمیښت کونکے دے په تاسو | په یو نهر سره | پس څوك | چه اوڅکی (اوبه) | ددے نه | نو نه به وی هغه

الله دیو نهر په ذریعه ستاسو امتحان اخلی نو که چا دنهر نه اوبه اوڅکلے نو هغه به (په دے جهاد کښ) ځما تابعدار

مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ

زما (دملګرو) نه | او چا چه | اونه څکلے دے نهر نه | نو بیشکه هغه به | زما (دملګرو) نه وی | سوا | دهغه چا نه | چه راڅه کړی

ملګرے نه وی او چا چه (بالکل) وُنه څکلے نو هغه به زما ملګرے وی خو که څوك په خپل لاس یو لپه اوبه

غُرْفَةًۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ

یو لپه | په لاس خپل | پس (نو) اوڅکلے هغوی تولو | دهغے نهر نه | سوا | دلږو کسانو | دهغوی نه | پس هرکله | چه پورے وتلو

راوا خلی او وئے څکی (نو خیر دے) نو سوا دلږو کسانو نه نورو تولو اوبه اوڅکلے بیا هرکله چه طالوت او دهغه ایماندار ملګری

هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا

هغه (طالوت) | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے وو | دهغه سره | (نو) اووئیل هغوی | نشته | هیڅ طاقت | زمونږ

دنهر نه پورے وتل نو هغه کسان چه اوبه ئے اوڅکلے وے هغوی اووئیل چه نن خو مونږ کښے د جالوت او دهغه دلښکرو سره

الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ

نن ورځ د مقابلے د جالوت | او دهغه دلښکرو سره | اووئیل | هغه کسانو | چه یقین ئے لرو | چه بیشکه دوی

د مقابلے کولو هیڅ طاقت نشته (نو) هغه کسانو چه دهغوی یقین وو چه دالله سره به مخامخ کیږو هغوی (ورته) اووئیل

مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةًۢ

مخامخ کیدونکی دی | دالله سره | چه ډیر ځله | یوه ډله | وړه | زورور شوے ده | په ډله | لویه باندے

چه ډیر ځله وړے ډلے (لښکرے) د الله په حکم او مدد سره په غټو ډلو (لښکرو)

بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۲۴۹﴾ وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ

په حکم (مدد) | د الله | او الله | سره | د صبر کونکو دے | او هرکله | چه مخامخ شول دوی | د جالوت

غالب شوی دی او الله د صبر کوونکو ملګرے دے۔ او هرکله چه هغوی د جالوت او دهغه د لښکرو مقابلے ته راووتل

وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ

او دهغه د لښکرو سره | (نو) وے ویل | اے ربه زمونږ! | راتوے کړه | په مونږ باندے | صبر | او کلکے کړه

نو دعا ئے اوغوښتله چه اے زمونږ ربه! مونږ له ډیر صبر را کړه او زمونږ خپے کلکے کړه

اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾ فَهَزَمُوْهُمْ

خپے زمونږ | او مدد او کړه زمونږ (غلبه را کړه مونږ ته) | په قوم | کافرانو باندے | پس شکست ئے ورکړو هغوی ته

او د کافرانو په مقابله کښ زمونږ مدد او کړه۔ نو هغوی د الله په حکم (مدد) سره

بِاِذْنِ اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ

په حکم (مدد) | د الله | او ووژلو | داؤدؑ | جالوت لره | او ورکړه دهٗ ته | الله | بادشاهی

جالوت او دهغه لښکروته مات (شکست) ورکړو او داؤدؑ جالوت لره قتل کړو او الله داودؑ ته حکومت (بادشاهی)

وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ

او دانائی (یا پیغمبری) | اوو ئے ښودل دهٗ ته | دهغه څه نه | چه (الله) غوښتل | او که چرے نه وے | دفع کول | د الله

او حکمت ورکړو او (نور) چه څه الله مناسب کنړل هغه ئے ورته اوښودل او که الله خلقو لره یو

النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

خلقو لره | بعضو لره د دوی نه | په بعضو نورو (په یو بل) | نو خامخا ورانه شوے به وه | زمکه | لیکن | الله

د بل په وجه نه منع کول نو په زمکه کښ به فساد خور شوے وو

ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ

د فضل والا دے | په مخلوق باندے | دا | آیتونه | د الله دی | چه لولو ئے مونږ | تا ته (تا باندے)

لیکن الله فضل والا دے په مخلوق باندے۔ دا د الله ایتونه دی چه مونږ ئے تا ته په حقه سره بیانوو

بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۵۲﴾

په حقه سره | او بیشکه ته | خامخا د رسولانو نه ئے |

او یقیناً ته د رسولانو نه ئے۔

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَّنْ

دغه (ټول) | رسولان | فضیلت ورکړے دے مونږ | بعضو ته ددوی نه | په بعضو نورو باندے | بعضے ددوی نه | هغه دی
دغه پیغمبران (چه مونږ د مخلوق د اصلاح د پاره رالیږلے وو) دوی له مونږ په یو بل باندے فضیلت ورکړے دے

كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى

چه خبرے (ورسره) کړے دی | الله | اولوچت کړی دی (الله) | بعضے ددوی نه | په درجو سره | اوور کړے مونږ په | عیسیٰ
بعضے پکښ داسے هم دی چه الله ورسره خبرے کړے دی او بعضو لره ئے درجے ډیرے زیاتے اوچتے کړی دی

ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَ اَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ وَلَوْ شَآءَ

حُوے | دمریم ته | ښکاره معجزے | اوکلك کړے وو مونږ هغه لره | په روح | پاك (جبرئیل) سره | اوکه چرے | غوښتلے
او عیسیٰ ابن مریم ته مونږ ښکاره معجزے ورکړے وے او د روح القدس په ذریعه موهغه مضبوط کړے وو.

اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا

الله | نوجنګ به نه وے کړے (په خپل مینځ کښ) | هغه کسانو | چه روستو ددوی (رسولانو) نه وو | پس د هغے نه
که الله غوښتلے نو د پیغمبرانو نه پس د ښکاره معجزو د راتلو باوجود به خلق خپلو کښ نه وو جنګیدلے

جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ

چه راغلل دوی ته | ښکاره دلیلونه | لیکن | اختلاف اوکړو دوی | پس بعضے ددوی نه | هغه خلق دی
لیکن هغوی په خپله اختلاف وکړو نو بعضو پکښ ایمان راوړو او بعضو پکښ

اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۟

چه ایمان ئے راوړو | او بعضے ددوی نه | هغه خلق دی | چه کفر ئے اوکړو | اوکه چرے | غوښتلے | الله | نوجنګ به نه وو کړے ددوی
کفر اختیار کړو او که الله غوښتلے نو خپلو کښ به دوی نه وو جنګیدلی لیکن الله هم

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ۟ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا ع

لیکن | الله | کوی | هغه څه | چه غواړی ئے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | خرچ کړئ
هغه څه کوی چه څه کول غواړی اے مومنانو! مونږ چه تاسو ته کوم رزق درکړے دے

مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ

بعضے دهغه څه نه | چه درکړی دی مونږ تاسو ته | مخکښ ددینه | چه راشی | یوه (داسے) ورځ | چه نه به وی خرڅول (او اغستل)
نو دهغه ورځ د راتلو نه مخکښ مخکښ ئے (دالله په لار کښ) اولګوئ چه په هغے کښ به نه اغستل خرڅول وی

فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝

په هغے کښ | اونه (به وی) دوستانه | اونه (به وی) سفارش | او کافران | هم دوی دی | ظالمان
او نه به دوستی پکار راځی او نه به د زور سفارش چل او کافران خاص هم دوی ظالمان دی

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ

الله | نشته دے | هیڅوك لائق د بندګۍ | سوا | د هغه | (همیشه) ژوندے دے | سنبهالونکے (د ټول عالم) دے | نه نیسی ده ئے لره
(اے خلقو!) الله هغه ذات دے چه د هغه له سوا بل هیڅ څوك د بندګۍ لائق نشته چه همیشه ژوندے دے او ټول کائنات ئے

سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

پرکالی | او نه خوب | هم ددهٗ په اختیار کښ) دی | ټول هغه څهٔ | چه اسمانونو کښ دی | اوټول هغه څه | چه زمکه کښ دی
سنبهال کړے دی چه نهٔ پرے پرکالی راځی اونهٔ خوب ،زمکه اواسمانونو کښ چه څهٔ دی داټول صرف دهغه په اختیار کښ دی

مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا

څوك دے | هغه کس | چه سفارش اوکړی | هغهٔ ته | مکر | په اجازت دهغهٔ | هغه پوهیږی (پیژنی) | هغه څه
هیڅ څوك داسے نشته چه دهغهٔ د اجازت نه بغیر هغهٔ ته د چا سفارش اوکړی

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ

چه وړاندے ددوی (مخلوق) دی | اوهغه څهٔ | چه وروستو ددوی دی | اونشی راګیرولے دوی | هیڅ څه شے
دمخلوق دمخکښ وروستو ټولو حالاتونه خبردار دے مخلوق دهغه دعلم (معلوماتو) نه په هیڅ څیز احاطه نشی کولے

مِّنْ عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ

دعلم دهغه (الله) نه | ماسوا | دهغے نه | چه الله ځ اوغواړی | راګیر کړی دی | کرسئ دهغه | اسمانونو
(نه پرے پوهیږی) سوا دهغے نه چه الله ځ چاته په خپله اوغواړی اودهغهٔ کرسئ ټول اسمانونه اوزمکه راګیر کړی دی

وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ۝٢٥٥

او زمکے لره | اونه ستړے کوی هغهٔ لره | حفاظت ددے دواړو | اوهغه (الله) | اوچتے درجے والا | دیر لوئے دے
او د دواړو حفاظت (ساتنه) په هغه باندے هیڅ بوج نه دی او هغه الله اوچت او لوئے ذات دے

لَاۤ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ ۙ قَدْ تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ

نشته دے زور کول (په چا) | په دین (منلو) کښ | یقیناً | ښه ښکاره شوے دے | هدایت | د کمراهئ نه
ددین په قبلولو کښ (په چا باندے) هیڅ زور زیاتے نشته (ځکه چه) یقیناً سمه لار (د هدایت) د غلطو لارو د کمراهئ نه ښه جدا

فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ

پس هغه څوك | چه انکار اوکړی | د شیطان یا د غیر الله (د بندګئ) نه | اوایمان راوړی | په الله باندے | نو یقیناً | هغه مضبوطه اونیوله
شوے ده نو څوك چه د غیر الله د بندګئ نه منکر شی او په الله ایمان راوړی نو یقیناً ده دا سے مضبوطه کړئ

بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝٢٥٦

کړئ (رسئ) | مضبوطه | چه نشته دے شلیدل دهغے | او الله | ښهٔ اوریدونکے | ښه پوهه دے
اونیوله چه دهغے د ماتیدلو امکان نشته او الله اوریدونکے دے په هر څه ښهٔ پوهه دے

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۙ يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

الله | دوست دے | دهغه کسانو | چه ایمان ځ راوړے دے | راوباسی الله دوی لره | د تیارو نه
الله د مومنانو دوست (مددګار) دے چه د کفر د تیارو نه ځ د ایمان رنړا

اِلَى النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ

رنړا ته | او هغه کسان | چه کفر ځ کړے دے | دوستان دهغوی | شیطانان دی
ته راوباسی او د کافرانو ملګری شیطانان دی

يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

راوباسی داشیطانان هغوی لره | د رڼرا نه | تیارو ته | هم دغه کسان دی | اور والا (جهنمیان)

(چه) د ایمان د رڼرا نه ئے د کفر د تیارو طرف ته بوځي هم دغه کسان دوزخیان دی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهِيْمَ ع

دوی به | په هغے کښ | همیشه وی | آیاتانه دی کتلی | هغه کس ته | چه جګړه ئے کوله | د ابراهیم سره

چه په هغے کښ به همیشه وی (اے پیغمبره!) آیاتا دهغه چا په قصه کښ غور نه دے کړے چه د ابراهیمؑ سره ئے

فِيْ رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ

درب دهغه کښې | ددے وجے نه | چه ورکړے وه هغه ته | الله | بادشاهي | کله چه | اووئیل | ابراهیم

دالله په باره کښ ددے وجے نه چه جګړه ئے کوله چه الله ورته حکومت ورکړے وو. کله چه ورته ابراهیمؑ اووئیل

رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ؕ

چه رب زما | هغه (ذات) دے | چه ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی | نو اووئیل هغه | زه هم ژوندی کول کوم | او مړه کول کوم

چه زما رب خو هغه ذات دے چه ژوندی کول او مړه کول کوی نو هغه اووئیل چه ژوندی کول او مړه کول (خو) زه کوم

قَالَ اِبْرٰهِيْمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ

(نو) اووئیل (ورته) | ابراهیم | چه بیشکه | الله | راخیژوی | نمر | د مشرق نه | نو ته راوخیژوه

(نو) ابراهیم ورته اووئیل چه زما رب (خو) نور د مشرق نه راخیژوی (څه) ته ئے (لږ) د مغرب نه

بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِيْ كَفَرَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

دا نمر | د مغرب نه | پس حیران شو | هغه کس | چه کفر ئے کړے | او الله | لار نه ښائی

راوخیژوه، نو (پدے خبره) هغه کافر حیران پاتے شو او الله تعالیٰ ظالم قوم ته دلیلونه (دهدایت) نه ښائی

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ وَّهِيَ

قوم | ظالمانو ته | یا | لکه هغه کس | چه تیرشو | په یو کلی باندے | او حال دادے چه هغه کلے

یا تا د هغه سړی په واقعه غور کړے دے؟ چه هغه په یو داسے (تباه شوی) کلی باندے تیریدو

خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ

راپریوتے وو | په چتونو خپلو باندے | (نو) اوئیل | چه په څنګه (طریقه) به | راژوندی کوی | دا (کلی والا) | الله

چه چتونه ئے پرمځے راپریوتی وو نو ئے ووئیل چه الله تعالیٰ به ددے کلی مړی دمرګ نه پس په کومه طریقه

بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ قَالَ

پس | دمرګ ددینه | پس مړ اوساتلو هغه لره | الله | سل | کاله | بیا ئے راژوندے کړو | (اوورته ئے) اووئیل

راژوندی کوی؟ نو الله هغه لره سل کاله پورے مړ اوساتلو بیا ئے راژوندے کړو (او) ورته ئے اووئیل

كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ

چه څومره وخت | دے تیر کړو؟ | (نو) اووئیل هغه | وخت تیر کړو ما | یوه ورځ | یا څه حصه د ورځے

چه څومره موده دے په دے حالت کښ تیره کړه (نو) هغه اووئیل چه یوه ورځ یا د دینه څه قدر دے کم وخت می تیر کړے دے

قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ

(نو) اووئيل (ورته الله) | چه نا بلكه | وخت تير كړو تا | سل | كاله | پس اوگوره | خوراك خپل ته
(نو) الله ورته اووئيل چه نا بلكه تا خو سل كاله موده تيره كړه نو اوس دِ خپل د خوراك څكاك سامان ته اوگوره

وَ شَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ وَ لِنَجْعَلَكَ

او څكاك خپل ته | چه نه دے څخا (خراب) شوے | او اوگوره | خر خپل ته | او دا چه اوگرځو مونږ تا
چه (لتراوسه) څخا شوے نه دے او خپل (دسورلې) خر ته وگوره (چه څنگه خاورے شوے دے) (اودا موځكه وكړل)

اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا

يوه نخښه (نمونه) | د پاره (د عبرت اخستلو) د خلقو | او اوگوره | هډو كو (د خر) ته | (چه) څنگه | خوزوو (يو ځاى گوو) مونږ دے لره
چه مونږ تا د مخلوق د پاره (د خپل قدرت) يوه نخښه (نمونه) جوړه كړو او د خر دے هډو كو ته وگوره

ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ؕ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ اَعْلَمُ

بيا | (څنگه) وراغوندو وو هغے ته | غوښه | نو هر كله | چه ښه ښكاره شوه | هغه ته | (نو) اوئ وئيل | چه زه پوهه يم
چه څنگه ئے مونږ را يو ځاى گوو او بيا وَرته غوښه اغوندو وو نو هر كله چه ټول حقيقت وَرته ښه ښكاره شو نو وئ وئيل

اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ

چه بيشكه | الله | په هر | څيز باندے | قادر دے | او هر كله | چه اووئيل | ابراهيم | اے ربه زما
چه زما يقين دے چه الله په هر څيز باندے قادر دے . او كله چه ابراهيم اووئيل چه اے زما ربه ماته (دا)

اَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ قَالَ اَوَ لَمْ تُؤْمِنْ ؕ

اوښايه ماته | چه څنگه به | راژوندى كوے ته | مړى | (نو) اووئيل (ورته) الله | آيا (ولے) | ستا يقين نشته څه؟
اوښايه چه ته په كومه طريقه مړى راژوندى كوے (نو) الله ورته وفرمائيل چه ولى (ايا) ستا يقين نشته څه؟

قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ ؕ قَالَ فَخُذْ

ابراهيم اووئيل | ولے نه | ليكن | دے د پاره چه مطمئن شى | زړه زما | (نو) اووئيل (ورته) الله | (چه) اونيسه
ابراهيم اووئيل ولے نه (يقين خو مى شته) خو چه ډاډگر كوپه ليدو سره (نور هم) زما زړه مطمئن او كلك شى (نو) الله ورته اوفرمائيل

اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ

څلور | د مارغانو نه | بيا ئے اموخته كړه | دځان سره | او بيا | كيږده | په هر (لرے دے) غر باندے
چه يو څلور مارغان راونيسه او دځان سره ئے اموخته (پلل) كړه او بيا ئے ذبح كړه او بيا دهغوى يوه يوه ټكړه په

مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَاْتِيْنَكَ سَعْيًا ؕ وَاعْلَمْ اَنَّ

د دوى نه | يوه يوه ټكړه | بيا | آواز وكړه دوى ته | (نو) را به شى تا ته | په منډه | او ښه پوهه شه | چه بيشكه
هر لرے دے غر باندے كيږده او بيا وَرته آواز وُكړه نو په منډه به دَ ته راشى او يقين وساته چه الله زور آور

اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝ ع مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ

الله | زور آور | او حكمت والا دے | مثال | دهغه كسانو | چه خرچ كوى | مالونه خپل
او حكمت والا دے۔ كوم خلق چه د الله په لار كښ خپل مال لگوى د هغوى مثال دَ يو ے

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ

په لار | دالله کښې | په شان د مثال | دَيو مے داسے دانے | راز رغون کړی | (داسے) اووۀ |
وګی

داسے دانے دے چه هغه اووه وړی راز رغون کړی چه په هر وړی کښې سل دانے وی (هم دغسے)

فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ

(چه) وی په هر | وګی کښې | سل | دانے | او الله | (ددینه هم) ډیر زیاتوی | چا دپاره | چه وغواړی

الله چه چاله وغواړی د دینه هم زیات ثواب ورکوی (ځکه چه) هغه وسعتونو والا

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ

او الله | فراخ والا | ښه پوهه دے | هغه کسان | چه خرچ کوی | مالونه خپل | په لار

او لوئے علم والا دے کوم خلق چه د الله په لار کښې خپل مال لګوی

اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ

دالله کښې | بیا | نه ورپسے کوی | په هغه څه پسے | چه خرچ کړی ئے وی | څه احسان (زباتل) | او نه څه ضرر

او بیا دلګولو نه پس نه څه زباتنه کوی او نه څه تکلیف رسوی نو هم دغه خلق به دخپل رب سره خپل ثواب

لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

شته دپاره ددوی | ثواب د دوی | د دوی د رب سره | او نه به وی څه ډیره | په دوی باندے | او نه به دوی

اوموی او نه به پرے څه ډیره وی او نه به غمژن ځی (فقیر ته) ښه خبره کول او د فقیر په څه نامناسب حرکت

يَحْزَنُوْنَ ۝ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ

غمژن ځی | خبره (نرمه) | ښه | او معافی کول | ډیر ښه دی | دهغه خیرات نه | چه هغے پسے

اوخبره هغۀ ته معافی کول داکار دهغه صدقے نه ډیر غوره دے چه دهغے نه پس ضرر رسول وی

اَذًى ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ضرر (خفه کول) وی | او الله | بے حاجته (بے نیازه) | صبر کونکے دے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے

او الله ډیر بے پرواه بے حاجته او صبر ناک ذات دے ۔ اے مومنانو په

لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ يُنْفِقُ

مه ضائع کوئ | خیرات نه خپل | په زباتلو | اوپه تکلو (ضرر ورکولو) سره | په شان دهغه چا | چه خرچ کوی

زباتلے او تکلیف رسولو سره خپل خیرات نه دهغه چا په شان مه ضائع کوئ چه خلقو ته دښودلے دپاره

مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ

مال خپل | دپاره دښودلے | خلقو ته | او ایمان نه لری | په الله | او په ورځ | روستنے | نو مثال ددۀ

مال لګوی او په الله او د آخرت په ورځ یقین نه لری نو دهغه د خیرات مثال خو دیو داسے

كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ

په شان | دهغه صفا ګټے دے | چه وی په هغے باندے | خاوره | (نو بیا وورپوری په هغے باندے | تیز باران | نو پریږدی دا باران هغے ته

هموارے صفا ګټے په شان دے چه دپاسه پرے خاورے پرتے وی (خو) تیز باران پرے وشی نو بالکل صفا (خوړه) ئے

صَلْدًا ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

خویه (بالکل صفا) | لاس به ئے بر نشی | په هیڅ یو څیز دهغه څهٔ نه | چه کړی دی حوی | او الله | لار نه ښائی

پاتے کړی (دغه شان) دے خلقو چه هم څه کتلی دی دهغے په ثواب به ئے هیڅ لاس بر نشی او الله ناشکری کونکو ته هدایت

الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ

قوم | کافرانو ته | او مثال (د صدقاتو) | دهغه کسانو | چه خرچ کوی | مالونه خپل | د پاره د لټولو

(لارے د اخلاص) نه ورښائی (یا کفر کونکو ته ثواب نه ورکوی) او دهغه کسانو (د خیراتونو) مثال چه خپل مال د الله

مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۢ بِرَبْوَةٍ

د رضا | د الله | او د پاره د مضبوطولو | د خپلو زړونو | په شان د مثال | د یو داسے باغ دے | چه وی په لوچت ځائے

د رضا حاصلولو او د خپلو زړونو د کلکولو د پاره لکه د یو داسے باغ دے چه په اوچت (او څوږ ب) ځائے باندے وی

اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا

چه شوے وی په هغے باندے | په شپیو (تیز باران) | نور کړی دهغه باغ | میوے خپلے | غبرگے (دوے زیاتے) | پس که چرے | اوښکی په هغے باندے

چه تیز باران پرے وشی نو (هم) دیرے زیاتے میوے ورکوی (کوی) او که چرته تیز باران ورباندے اوښکی

وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ

تیز باران | نو لږ باران ورله پورے | او الله | هغے لره | چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | آیا غواړی | یو کس په تاسو کښ

نو بیا هم لږ باران ورله کافی دے او تاسو چه څه عمل هم کوئ نو الله ئے ښه وینی۔ آیا په تاسو کښ به د چا دا خوښه وی

اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

دا چه | وی دے | د دهٔ | یو داسے باغ | د کجهورو | او د انګورو | چه بهیږی | لاندے (داونو) دهغے نه

چه د هغهٔ دے د کجهورو او د انګورو (یو داسے) باغ وی چه د اونو لاندے ئے نهرونه بهیږی

الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ

نهرونه | اووی هغهٔ د پاره په هغے باغ کښ | د هر قسم | میوو نه | اور سیدلے وی هغهٔ | بوډا والے | او د ده بچی وی

او د دے باغ نه هغه ته نور هم د هر قسم میوے حاصلیږی او دے پخپله بوډا وی، او بچی ئے هم دیر کمزورے وی

ضُعَفَآءُ ۖ فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ

(دیر) کمزوری | نو اور سیږی دیته | تیزه سیلۍ | چه په هغے کښ | اُوروی | نو اوسوزی هغه باغ | هم دغه شان

پس ناڅاپه په دے باغ دا سے تیزه سیلۍ راشی چه پکښ اور وی نو باغ پرے اوسوزی، دغه شان

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ ع

بیانوی | الله | تاسو د پاره | آیتونه | دے د پاره | چه تاسو فکر وکړئ | اے هغه کسانو

بیانوی الله تاسو ته مثالونه (یا خپل قدرتونه درته ښائی) چه تاسو پکښ غور او فکر وکړئ۔ اے مومنانو!

اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ

چه ایمان مو راوړے دے | خرچ کړئ | د پاکیزه | هغه څیزونو (مالونو) نه | چه کتلے دی تاسو | او دهغه څیزونو نه

څه چه تاسو کتلی دی او څه چه مونږ تاسو د پاره د زمکے نه پیدا کړی دی دهغے نه کره او عُمده

أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ

چه راویستلے دی مونږ | تاسو دپاره | د زمکے نه | او اراده مه کوئ | د ردی | ددے (مال) نه

څیز خرچ کړئ او دانیت (اراده) مه کوئ چه پس دمال خرابه او بیکاره برخه (څیز) به د الله

تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغْمِضُوا فِيهِ ۚ

حال داچه تاسو خرچ کوئ (دارډی) | او نه یئ تاسو | اغستونکی هغے لره | مگر | داچه | ستر گے پتی کړئ تاسو | په هغے کښ

په لار کښ خرچ کوئ حالانکه هغه (معمولی) څیز تاسو په خپله نه اخلئ مگر هله چه ستر گے پرے پتے کړئ یقین وسائ

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾ الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ

او پوهه شئ | چه | الله | بے حاجته | ستائیلے شوے دے | شیطان | یږوی تاسو | د غریبئ نه

چه الله بے حاجته (بے پرواه) اودصفتونو لائق دے . شیطان (خو) تاسو دمحتاجئ اوغریبئ نه یږوی اودنا کاره کارونو

وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَاءِ ۖ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ

او حکم کوی تاسو ته | د بے حیائ (دشومتیا) | او الله | وعده کوی تاسو سره | د مغفرت | د خپل طرفه | او د فضل

(بخل وغیره) حکم درته کوی او الله درسره د خپل مغفرت او د مهربانئ وعدے کوی

وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن

او الله | فراخئ والا | ښه پوهه دے | ورکوی (الله) | پوهه (ددین) | چاته | چه وغواړی | او چاته

او الله ډیر وسعت والا او ډیر علم والا دے۔ الله چه چاله وغواړی ددین پوهه ورکړی او چاته چه د ددین

يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا

چه ورکړے شوه | پوهه | نو یقیناً | ورکړے شو هغه ته | خیر | ډیر | او پند (نصیحت) نه اخلی | مگر

پوهه ورکړے شوه یقیناً هغه ته ډیر (لوئے) خیر ورکړے شو (او ددے خبرونه) صرف عقل مند خلق سبق

أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَا أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ

عقلمند خلق | او هغه | چه خرچ کوئ تاسو | د څه قسمه خرچنه | یا منخته کوئ تاسو | د څه قسمه منختنے نه

(نصیحت) اخلی . او تاسو چه څه خرچ کوئ یا څه قسمه نذر منئ (د طاعت یا د معصیت) نو هغه الله ته ښه

فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبْدُوا

نو بیشکه | الله | پوهه دے په هغے باندے | او نشته دے | د پاره د ظالمانو | څوک مدد کار | که ښکاره ورکوئ تاسو

معلوم دی او د ظالمانو دپاره هیڅ مدد کار نشته۔ که تاسو خیراتونه ښکاره ورکوئ

الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ

خیراتونه | نو (هم) ښه خبره ده | دا | او که چرے | پټ ئے ورکوئ تاسو | او ورکوئ ئے | فقیرانو ته | نو دا

نو دا هم ډیره ښه خبره ده او که پټ ئے فقیرانو ته ورکوئ نو دا هم درله ډیره بهتره ده او الله به ئے ستاسو

خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا

ډیره غوره ده | تاسو دپاره | اولرے به کړی | تاسو نه | بدئ ستاسو | او الله | په هغه څه

د بدو کفاره جوړه کړی (الله به ستاسو گناهونه معاف کړی) (یا ستاسو مصیبتونه به لرے کړی) او الله ستاسو

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝ لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ

چه تاسو ئے کوئ | ښه خبر دار دے | نشته دے | ستا په ذمه | هدایت ورکول دوی ته | لیکن | الله | هدایت کوی

دکارونو نه پوره خبر دار دے ۔ (اے پیغمبره !) کافر په سمه لار روانول ستا ذمه واری نه ده لیکن الله چه چا ته

مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْنَ

چا ته | چه وغواړی | اوهغه | چه خرچ کوئ ئے تاسو | دځه مال نه | نو (هغه مو) دخپل ځان دپاره دی | اونه خرچ کوئ تاسو

اوغواړی نو هدایت ورنصیب کړی اوتاسو چه څه مال (هم) لګوئ (خرچ کوئ) نو فائده ئے تاسو خپله ده ځکه ستاسو صفت داد ے

اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ

مګر | دپاره د لټولو | د رضا | د الله | اوهغه څه | چه خرچ کوئ ئے تاسو | دځه مال نه | نو پوره به درکړے شی (بدله دهغے) | تاسو ته

چه تاسو خو د الله د رضاء حاصلولو نه سوا بل څه غرض دپاره مال نه لګوئ ۔ اوتاسو چه څه مال (هم) لګوئ نو تاسو ته به دهغے پوره بدله ملاویږی

وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ۝ لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ

اوپه تاسو به | ظلم اونه کړے شی | (داصدقات دی) دپاره د فقیرانو | هغه کسان | چه بند کړے شوی دی | په لار

اوپه تاسو به ظلم اونه کړے شی ۔ دا خیرات تر اونه (خو) دهغه فقیرانو حق دے چه د الله په لار کښ بند

اللّٰهِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ ۡ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ

د الله کښ | (او حلال ئے ګڼلے) چه نه طاقت دی ورسره | د ګرځیدو (د کسب کولو) | په زمکه کښ | (او ګمان کوی په هغوی باندے | ناخبره سړے

شوی دی او د تجارت اوکاروبار دپاره چرته تلے راتلے (هم) نشی (او) دسوال نه کولو په وجه وربانده ے ناخبره سړے

اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ ۚ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ۚ لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ

دمالدارانو | دوجد څخه سائلو (دسوال نه) | پیژنے ئے به ته دوی لره | په نخښو د دوی | سوال نه کوی دوی | د خلقو نه

دمالدارو ګمان کوی (خو) ته د دوی په نخښو سره پیژندلے شے ۔ د خلقو نه بے ضرورته (اوپه واړه خُلۀ

اِلْحَافًا ۭ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ۝ ع

په انبتو سره | اوهغه څه | چه خرچ کوئ ئے تاسو | دځه مال نه | نو بیشکه | الله | په هغے | ښه پوهه دے

اوپه سخت سره) سوال نه کوی او تاسو چه څه مال (هم) لګوئ نو یقیناً الله دهغے نه ښه خبر دے

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

هغه کسان | چه خرچ کوی | مالونه خپل | د شپے | او د ورځے | په پټه | او په ښکاره

کوم خلق چه د شپے او د ورځے په پټه او په ښکاره خپل مالونه لګوی

فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

نو د دوی دپاره | اجر خپل دے | د رب خپل سره | اونه به وی څه پَرَه | په دوی باندے | اونه به دوی

نو د دوی دپاره د خپل رب سره خپل اجر او ثواب دے نه خو به په دوی باندے څه پَرَه راشی او نه به

يَحْزَنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا

غمژن شی | هغه کسان | چه خوری (اخلی) | سود | له به پاسی (قبرونو نه پورته ورځ د قیامت) | مګر | پشان

غمژن شی ۔ کوم خلق چه سود اخلی هغوی به د هغه چا پشان پاڅی چه

يَقُوْمُ الَّذِیْ یَتَخَبَّطُهُ الشَّیْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ ذٰلِكَ

دپاسیدلو | دهغه کس | چه ګډوډ (لیونے) کړے وی هغه لره | شیطان | درسیدو دوجے نه | دا ځکه

شیطان په خپل تسلط (لاس لګولو) سره لیونے کړے وی دا حالت به د دوی ځکه وی چه

بِاَنَّهُمْ قَالُوْۤا اِنَّمَا الْبَیْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَ اَحَلَّ اللّٰهُ

چه بیشکه دوی به | وئیل | چه بیشکه | سوداګری | پشان | د سود دہ | اوحالانکه حلال کړے ده | الله

دوی به وئیل چه سوداګری (خو) پشان د سود ده حالانکه الله سوداګری روا کړے ده

الْبَیْعَ وَ حَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ

سوداګری | اوحرام کړے ئے | سود | نوهغه څوك | چه راغے ده ته | نصیحت | د طرفه د رب خپل نه

او سود ئے حرام کړے دے نو چاته چه د خپل رب د طرف نه نصیحت راغے او دے د سود نه منع شو نو

فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَ اَمْرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ وَ مَنْ

پس دے منع شو | نو دے دپاره دده | هغه | چه مخکښ ئے کړے دی | او معامله دده | (سپارلے شوے ده) الله ته | او څوك چه

په ماضی کښ ئے چه څه مال ور کړے وو هغه دده ئے او معامله دده سړی په حساب او جزاء کښ الله تعالیٰ ته سپارلے شوے ده

عَادَ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِیْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

واپس شو (حلال ګټه لود سود ته) | نو دغه کسان دی | اور والا | چه وی به | هغے کښ | همیشه

او څوك چه بیا هم سود کوی (او داکار حلال ګڼړی) نو دغه کسان جهنم والا دی چه په هغے کښ به همیشه وی

یَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَ یُرْبِی الصَّدَقٰتِ ؕ وَ اللّٰهُ لَا یُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ

ختموی (کموی) | الله | (مال د) سود | او زیاتوی | (مال د) صدقو | او الله | نه خوښوی | هر غټ ناشکره

الله د سود مال ختموی (بے برکته کوی) او د صدقو مال زیاتوی (برکت پکښ اچوی) او الله هر یو ناشکره (کافر) او بدعمله بنده

اَثِیْمٍ ۝ اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ

دیر ګناهکار | بیشکه | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او عمل کوی | نیك | او قائموی | مونځ

نه خوښوی۔ یقیناً کومو خلقو چه ایمان راوړے دے او (د پیغمبر په طریقه) ښه کارونه کوی او د مونځ پابندی کوی

وَ اٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ

او ورکوی | زکات | شته دپاره دَدوی | اجر دَدوی | د رب خپل سره | او نه به وی (څه) یَره | په دوی باندے

او زکات ادا کوی نو هغوی د خپل رب سره د اجر (ثواب) مستحق دی (چه) نه به پرے څه یَره راځی

وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ذَرُوْا

او نه به غمژن شی | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | ویریږئ | د الله نه | او پریږدئ

او نه څه غم۔ اے مومنانو د الله نه او یَریږئ او که تاسو رشتینے مومنان ئے نو باقی پاتے سود

مَا بَقِیَ مِنَ الرِّبٰۤوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۝ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا

هغه مال | چه باقی پاتے دے | د سود نه | که | یئ تاسو | ایمان لرونکی | پس که چرے | او نکړو تاسو داکار

(که چرے ستاسو دَچا په ذمه وی نو) هغه پریږدئ، نو که تاسو داسے او نه کړل او منع نه شوئ

فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ

نو خبر شئ | په جنګ | د طرفه د الله نه | او د رسول د هغهٔ نه | او که چرے | توبه اوويستله تاسو | نو دی تاسو د پاره

نو د الله او د هغه د رسول سره د جنګ اعلان واورئ او که تاسو د سود نه توبه وکړه نو ستاسو

رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ۝ وَاِنْ كَانَ

اصل | د مالونو ستاسو | نه به ظلم کوئ تاسو | او نه به ظلم کيږی په تاسو | او که چرے | وی (قرضدار ے)

اصل سرمايه ستاسو حق دے تاسو به په قرضداری ظلم نه کوئ (په طلب کولو د زياتی مال) او نهٔ به په تاسو ظلم کيږی

ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ۭ وَاَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ

تنګدست (غريب) | نو مهلت ورکول دی هغهٔ ته | تر مالدارئ پورے | او داچه | خيراتی پريږدئ تاسو (دهغه مال) | نو دير ه غوره ده

(په ټال متول او نقصان سره) او که چرے قرضدار تنګدسته وی نو د مالدارئ پورے ورته مهلت ورکړئ او که تاسو ئے ورته

لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ

ستاسو د پاره | که چرے تاسو | پوهيږئ | او اويريږئ | د هغے ورځے نه | چه واپس کولے به شئ تاسو | په هغے کښ

خيراتی پريږدئ نو که تاسو پوهيږئ نو داستاسو په حق کښ ډير بهتر دی. او د هغے ورځے (د عذاب) نه ويريږئ په کومه کښ

اِلَى اللّٰهِ ۡ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ

الله ته | بيا به | پوره ورکړے شی | هر يو کس ته | بدله د هغه څه | چه کړے ئے وی | او په دوی باندے به

به چه تاسو الله ته واپس کيږئ بيا به هر يو کس ته د خپلو ټولو کړو پوره بدله ملاؤ شی او هيڅ

لَا يُظْلَمُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ ع

ظلم نشی کيدے | اے هغه کسانو | چه ايمان مو راوړے دے | که (هم) | چه معامله کوئ تاسو د يو بل سره | په قرض باندے

زياتے به پرے نه کيږی، اے مومنانو! که هم چه تاسو (دَيو ے) مقرر ے نيټے پورے په قرض وباندے معاملات کوئ

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوْهُ ۭ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ

تر يو نيټے | مقرر ے پورے | نو اوليکئ هغه | اوليکل دے اوکړی | په مينځ ستاسو کښ | يو ليکونکے

نو هغه ليکئ او ستاسو په مينځ کښ دے يَو ليکوال (منشی) په انصاف ليکل اوکړی

بِالْعَدْلِ ۠ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ

په انصاف سره | او نه دی کوی انکار | ليکونکے | د ليکلو نه | لکه چه | ښودنه کړے ده هغه ته | الله

اوليکوال دے د ليکلو نه انکار نه کوی لکه څنګه چه ورته الله ښودنه کړے ده هغه شان دے

فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ

نو ليکل دے اوکړی | او بيان (املاء) دے اوکړی | هغه کس | چه دے په هغه باندے | قرض | او اودے يَريږی

اوليکی او په چا چه قرض (حق) وی هغه دے بيان (املاء) اوکړی او الله (چه رب ددهٔ دے) نه دے ويريږی

اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـــًٔا ۭ فَاِنْ كَانَ الَّذِيْ

د الله نه | چه رب ئے دے | او نه دے کموی | د هغے (حق) نه | څه څيز | پس که چرے | وی | هغه کس

او پدے حق (قرض) کښ دے څه کمے نه کوی. هاں! په چا چه حق دے

عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ

چه دے په هغه باندے | قرض | بے عقله (ناپوهه) | یا کمزورے | یا نه لری وَس | چه بیان وکړی

که هغه ناپوهه یا کمزورے وی یا پخپله د بیان (املاء) کولو وَس نه لری

هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ۭ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ

هغه پخپله | نو بیان دے اوکړی | وا کدار (نائب) دهغه | په انصاف سره | او گواهان ونیسئ | دوه گواهان

نو بیا دے دَهغهٔ سرپرست (ولی) په انصاف بیان اوکړی او پخپلو سړو کښ پرے دوه کسان

مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ

د نارینو ستاسو نه | پس که چرے | نه وی | دوه سړی | نو یو سړے | او دوه ښځے

گواهان اونیسئ او که دوه سړی نه وو نو بیا دے یَو سړے او دوه ښځے گواهان شی

مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاۗءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا

دهغه کسانونه | چه خوښوئ ستاسو | د گواهانو نه | (دا پاره دے) که هیره ول اوکړی | یوه په دے دواړو کښ

(خو) دهغه گواهانونه چه ستاسو خوښ وی (او دا دوه ښځے ځکه) چه که دیو ے نه گواهی هیره شی (یا خطاء شی)

فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ۭ وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَاۗءُ اِذَا مَا دُعُوْا ۭ

نو رایاد به کړی | یوه ددے دواړونه | بلے ته | او نه دی کوی انکار | گواهان | هرکله | چه راوبللے شی

نو بله به ئ ورته رایاد کړی او گله چه د گواهئ دپاره گواهان راوبللے شی نو انکار دے نه کوی

وَلَا تَسْـَٔـمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا

اومه ستړے کیږئ تاسو | ددینه | چه او لیکئ تاسو دغه (معامله) | خو اگهٔ وړه وی | او که لویه

او گومه معامله چه دمقرر ے نیټے سره تعلق لری نو که وړه وی او که غټه خو دهغے په لیکلو کښ سستی مه کوئ

اِلٰٓى اَجَلِهٖ ۭ ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ

تر نیټے خپلے پورے | (ستاسو) داطریقه گار | دیر (لوئے) انصاف دے | په نزد | دالله | اوښه یادونکی دے | دپاره د گواهئ

داخبره دالله په نزد دیره دانصاف او د گواهئ دپاره دیره مناسبه ده او (ستاسو دپاره) دشك شبهے نه بچ کیدو ته

وَاَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً

او دیره نزدے ده دیته | چه وبه نکړئ تاسو شك | مګر | دا چه | وی (دا معامله) | سوداګری | لاس په لاس (دَستی)

زیاته نزدے ده لیکن که دا معامله ستاسو خپل مینځ کښ لاس په لاس (نقد او په منقولی شیز کښ) وی

تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَلَّا تَكْتُبُوْهَا ۭ

چه اخلئ راخلئ تاسو هغه | په مینځ خپل کښ | نو نشته دے | په تاسو | څه گناه | که ونه لیکئ تاسو هغه

نو د هغے په نه لیکلو کښ په تاسو څه الزام (گناه) نشته

وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا تَبَايَعْتُمْ ۠ وَلَا يُضَاۗرَّ كَاتِبٌ

او گواهان ونیسئ | گله چه | اغستل خرڅول کوئ تاسو (خپل مینځ کښ) | او ضرر به نشی ورکولے | لیکونکی ته

او گله چه هم څه اغستل خرڅول کوئ نو گواهان پرے مقرر کوئ او نهٔ دے لیکوال ته تکلیف ورکولے شی

وَّلَا شَهِيْدٌ ؕ وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ
او نه گواه ته | اوکه چرے وکړو تاسو دا کار | نو بیشکه دا | گناه ده | په تاسو باندے | اوویریږئ | د الله نه
او نه گواه ته اوکه داسے مو اوکړل نو دا به ستاسو د طرف نه نافرمانی وی او د الله نه ویریږئ
وَ يُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝٢٨٢ وَاِنْ كُنْتُمْ
اوپوهه (در) کوی تاسو ته | الله | او الله | په هر | شیز باندے | ښه پوهه دے | اوکه چرے | یئ تاسو
او الله تاسو ته (دمعاملاتو دد رستگ) تعلیم در کوی او الله په هر شیز باندے ښه پوهه دے۔ اوکه چرے تاسو
عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ فَاِنْ اَمِنَ
په سفر باندے | او اونه مومئ تاسو | څوک لیکونکے | نو گانړه اغستل جائز دی | قبضه کړے شوے | پس که چرے | اعتبار او کړی
په سفر کښ یئ او څوک کاتب درته ملا ونه شی نو (د ضمانت په طور) د قبضے سره په گانړه معامله کوئ
بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ
بعضے ستاسو نه | په بعضے نور وباندے | نو اداده کړی | هغه کس | چه اعتبار شوے دے (په هغه باندے) | حق خپل
بیا که چرے تاسو کښ څوک په یو بل اعتبار وکړی (په قرض سودا اغستلو کښ) نو په چا چه اعتبار شوے دے هغه دے خپل قرض
وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا
اووُدے یریږی | د الله نه | چه رب ئے دے | او مه پټوئ تاسو | گواهی | او چا چه | پټه کړه دا گواهی
خاوند د قرض ته پوره پوره ادا کړی او د الله نه دے اویریږی او (د حق نه ادا کولو) گواهی مه پټوئ ځکه چا چه گواهی پټه کړه
ع فَاِنَّهٗۤ اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ۝٢٨٣ ع لِلّٰهِ
نو بیشکه | گناهگار دے | زړه د ده | او الله | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | ښه پوهه دے | خاص الله په اختیار کښ دی
نو یقیناً د هغه زړه گناهگار دے۔ او تاسو چه څه عمل هم کوئ نو الله د هغے نه ښه خبر دے۔ څه چه په
مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِى الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا
(ټول) هغه څه | چه اسمانونو کښ دی | او (ټول) هغه څه | چه زمکه کښ دی | او که | ښکاره کوئ تاسو | هغه څه
اسمانونو کښ دی او څه چه په زمکه کښ دی ټول یوا ځے د الله په اختیار کښ دی او ستاسو په زړونو کښ چه څه دی
فِىْۤ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ؕ فَيَغْفِرُ
چه دی په زړونو ستاسو کښ | یا پټوئ ئے تاسو | نو حساب به کوی تاسو سره | په هغے باندے | الله | پس بخښنه کوی الله
که هغه تاسو ښکاره کوئ او که پټ ئے ساتئ نو الله به پرے د سره حساب کوی بیا چا ته چه د الله خو ښه شی
لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
چا ته چه | او غواړی | او سزا ورکوی | چا لره چه | او غواړی | او الله | په هر | شیز باندے
نو معافی ورته اوکړی او چا لره چه او غواړی نو سزا ورکړی او الله په هر شیز باندے
قَدِيْرٌ ۝٢٨٤ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ
قادر دے | ایمان راوړے دے | پیغمبر | په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | ده ته | د طرفه د رب خپل نه
قادر دے۔ دے پیغمبر (محمد صلی الله علیه وسلم) او مومنانو (ورسره هم) په هغه څه ایمان راوړے دے چه د الله د طرفه

وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ

لومونانوهم (ایمان راوړے دے) | دوی ټولو | ایمان راوړے دے | په الله باندے | اوپه ملائکو دهغهٔ | اوپه کتابونو دهغهٔ

دهٔ ته نازل شوی دی ، دوی ټولو په الله او په ملائکو او په کتابونو او په

وَرُسُلِهٖ ۣ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۣ وَقَالُوْا

اوپه پیغمبرانو دهغهٔ | (اووائی چه) فرق نه کوو مونږ | په مینځ | دیو کس کښ | د پیغمبرانو دهغهٔ نه | او وائی چه

پیغمبرانو ایمان راوړے دے (اووائی چه) مونږ دالله په پیغمبرانو کښ (په ایمان راوړلو کښ) فرق نه کوو اووائی چه مونږ

سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۫ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ۝

واوریدل مونږه | او اومنل مونږه | بخښنه غواړو تا نه | اے ربه زمونږ | اوخاص ستا طرف ته | واپسی ده

دالله حکمونه واوریدل او (په خوشحالئ سره په هغے) عمل کوو اے زمونږ ربه تا نه مغفرت غواړو اوهم ستا طرف ته (زمونږ) واپسی ده

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ

نه ورکوی تکلیف | الله | هیڅ یو کس ته | مګر | مطابق د طاقت دهغهٔ | دے (نفس) چاره دی | (ثواب د) هغه څهٔ | چه کړے ئے دی (کومه نیکی عمل)

الله چا ته هم دهغه دوس نه زیات تکلیف (ذمه واری) نه ورکوی چا چه څهٔ نیکی او کړه نو دهغے فائده به بیا مومی

وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ

اوپه دے (نفس) باندے دی | هغه څهٔ | چه کړی ئے دی (کومه بد عمل) | اے ربه زمونږ | مهٔ نیسه مونږ | که چرے

اوچا چه څهٔ بدی او کړه نو دهغے سزا به اوخوری او مومنان وائی چه اے زمونږ ربه! که زمونږ نه ستا یو حکم هیر شی یا قصدا

نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا

هیر شی زمونږ نه (ستا یو حکم) | یا خطائی گناه اوکړو مونږ | اے ربه زمونږ | اومه اړوه | په مونږ باندے | دروند بوج | لکه څنګه چه

څه گناه او کړو نو مونږ په هغے مهٔ نیسه او اے زمونږ ربه اپه مونږ باندے داسے دروند بوج مهٔ اړوه څنګه چه زمونږ نه

حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا

ایښودلے ووتا | په هغه کسانو | چه مخکښ ووزمونږ نه | اے ربه زمونږ | اومهٔ بوج کوه په مونږ | هغه مصیبتونه

په مخکښ خلقو دے بوج کیخودلے وو، اے ربه زمونږ په مونږ باندے داسے مصیبتونه مهٔ اچوے چه دهغے دبرداشت کړلو

لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۟ وَاغْفِرْ لَنَا ۟ وَارْحَمْنَا ۟

چه نشته دے طاقت | زمونږ | دهغے (داوچتولو) | اومعاف اوکړه | مونږ ته | اوبخښنه اوکړه | مونږ ته | اورحم اوکړه په مونږ

طاقت په مونږ کښ نه وی او زمونږ گناهونه لرے کړه او پرده راباندے واچوه او ائنده مودگناهونو نه بچ کړه

اَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝ ع

(هم) ته ئے | مولا (مددگار) زمونږ | نو مدد اوکړے زمونږ | په مقابلے د قوم | کافرانو کښ

ته زمونږ مددگار ئے نو د کافرانو په مقابله کښ مونږ له غلبه راکړه

آیاتها [۲۰۰]	سورة اٰل عمران مدنیّة	رکوعاتها [۲۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓمّٓ ۝١ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝٢

الٓمّٓ | الله (دا سے ذات دے) | (چه) نشته (هیڅوك) | لائق دبندګۍ | سوا | دهغهٔ نه | هیشه ژوندے دے | سنبهالونکے (دعالم) دے

الله دا سے ذات دے چه دهغهٔ نه سوا بل هیڅوك دبندګۍ لائق نشته هیشه ژوندے دے او دکائنات سنبهالوونکے دے

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

نازل کړے ئے دے | په تاباندے | کتاب | په حق سره | تصدیق کونکے دے | دهغه کتابونو | چه مخکښ وو ددهٔ نه

هغه تاته د حق د ښکاره کولو د پاره دا سے کتاب رالیږلے دے چه د تولو مخکښ کتابونو تصدیق کوی

وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝٣ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ

اونازل کړے ئے دے | تورات | او انجیل | مخکښ د دینه | (چه) هدایت (وو) | د پاره د خلقو

او هم هغه تورات او انجیل د دے قرآن نه مخکښ د خلقو د هدایت د پاره رالیږلی وو

وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

اونازل کړے ئے دے | فرق کونکے (نور کتابونه) | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | په آیتونو | د الله

او د حق او د باطل بیلو ونکی (نور کتابونه) ئے (هم) رالیږلی وو یقیناً کوم خلق چه د الله د آیتونو نه انکار کوی

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝٤ اِنَّ

شته د پاره د ډوی | عذاب | (ډیر) سخت | او الله | زور آور دے | بدله اغستونکے دے | بیشکه

هغوی د پاره سخت ترین عذاب دے او الله زور آور او د بدئ بدله (سزا) ورکونکے ذات دے. یقین او ساتئ

اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاۗءِ ۝٥

الله | نه پټیږی | د هغهٔ نه | هیڅ شئ | په زمکه کښ | او نهٔ | په آسمان کښ

چه د الله نه په زمکه او اسمان کښ هیڅ یو څیز نه شی پټیدلے۔

هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاۗءُ ۭ

خاص الله | هغه ذات دے | چه صورتونه جوړوی ستاسو | په رحمونو کښ | څنګه چه | (ئے) اوغواړی

الله هم هغه ذات دے چه تاسو لره د میندو په کیږو کښ هغه شان شکلونه درکوی څنګه چه د هغه خوښه وی

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝٦ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ

نشته دے | حاجت پوره کونکے | سوا | د هغهٔ نه | چه زور آور | او حکمت والا دے | خاص الله | هغه ذات دے | چه نازل کړے ئے دے

د هغه نه سوا هیڅوك حاجت پوره کونکے نشته هغه ډیر زور آور او دلوئے حکمت خاوند دے۔ اے پیغمبره! الله هم هغه ذات دے

عَلَيْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ

په تاباندے | کتاب | دهغے نه | څه آیتونه دی | محکم (بنکاره مطلب والا) | (چه) هغه دی | اصل | د کتاب

چه تاته ځ(دا سے) کتاب رالیږلے دے چه څه ایتونه پکښ بنکاره مطلب والا (محکمات) دی چه هغه دتول کتاب اصل بنیاد دے

وَ اُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ

او څه نور دی | متشابهات (پټ مطلب والا) | پس هغه کسان | چه دے په زړونو دهغوی کښ | کوږ والے

او څه ایتونه پکښ پټ مطلب والا دی (متشابه) (اوس) د کومو خلقو په زړونو کښ چه (دحق نه باطل ته) میلان دے

فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَ ابْتِغَآءَ

نو پیروی کوی | دهغه څهٔ | چه متشابه وی | دے (کتاب) نه | د پاره دلټولو | د فتنے | او د پاره د لټولو

نو هغوی د فتنے پیدا کولو او دهغے ایتونو د معنیٰ او مطلب حاصلولو په طلب او کوشش کښ متشابهات تو پسے لګی حالانکه

تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗۤ اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَ الرّٰسِخُوْنَ

د معنیٰ (مراد) دهغے | او نه پوهیږی | په معنیٰ او مراد دهغے | سوا | د الله نه بل هیڅ څوك | او کومو کسان چه پاخه (کلك) دی

دهغے متشابهاتو په سَم مطلب او معنیٰ د الله نه سوا بل هیڅ څوك نه پوهیږي او د کومو خلقو چه علم مضبوط دے

فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ

په علم کښ | هغوی وائی | مونږ ایمان راوړے دے | په دے باندے | دا ټول | د طرفه د رب زمونږه دی

هغوی وائی چه زمونږ په هغه مطلب او معنیٰ (چه الله ته معلوم دے) ایمان دے دا ټول زمونږ د رب د طرف نه دی

وَ مَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ

او نصیحت نه اخلی | مګر | عقلمند | اے ربه زمونږه | مه کړوه | زړونه زمونږ | پس دے نه

او (دَسَمو خبرونه خو) صرف هوښیار خلق سبق (عبرت) اخلی. (او دا سوال کوی چه) اے زمونږ ربه! زمونږ زړونه

اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ

چه لاره دے وښودله مونږ ته | او را کړه | مونږ ته | د خپل طرف نه | رحمت | بیشکه | هم ته ئے

دهدایت را کولونه پس مه کړوه او مونږ ته د خپل طرفه نه (خاص) رحمت را کړه یقیناً ته ډیر څه ورکونکے ئے

الْوَهَّابُ ۝ رَبَّنَاۤ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ؕ

ډیر عطاء کونکے | اے ربه زمونږ | بیشکه ته | جمع کونکے | د خلقو ئے | د اسے ورځ ته | چه نشته دے هیڅ شك | په هغے کښ

اے زمونږ ربه! یقیناً ته به ټول خلق په دا سے ورځ راغونډ وے چه دهغے په راتلو کښ هیڅ شك نشته

ع ١٦ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ

بیشکه | الله | نه مأتوی | (خپله) وعده | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هیڅ کله به پکار رانشی

یقیناً الله د خپلے وعدے خلاف نه کوی حقیقت (هم) دا دے چه کومو خلقو کفر او کړو نو دهغوی مالونه

عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَاۤ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ

د هغوی | مالونه دهغوی | او نه اولاد دهغوی | د (عذاب د) الله نه | هیڅ (څیز) | او دغه کسان دی

او دَهغوی اولاد دهغوی نه د الله د عذاب نه هیڅ څیز نشی لرے کولے او هم دغه کسان د جنهم (اُور)

وَقُوْدُ النَّارِ ۝١٠ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ

خشاك | د اُور | (حال دَدوی) پشان | دحال دفرعونیانو دے | او دهغه کسانو دے | چه مخکښ وو ددوی نه

خشاك دے. ددوی حالت (په هلاکیدلو او په فائده نه راتلو دَمال او اولاد کښ) دفرعونیانو او دهغه پخوانو (نافرمانه)

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ

دروغ وګڼل هغوی | آیتونه زمونږ | پس ونیول هغوی | الله | په وجه دګناهونو دهغوی | او الله | سخت

خلقو پشان (دے) چه زمونږ ایتونه ے دروغژن ګڼلی وو نو الله دَځپلو ګناهونو په وجه راؤنیول او الله سخت ترین

الْعِقَابِ ۝١١ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ

عذاب ور کونکے دے | اووایه | هغه کسانو ته | چه کفر ے ګړے دے | زر ده چه مغلوب به کړے شئ تاسو | او جمع به کړے شئ تاسو

عذاب ور کونکے دے۔ اے پیغمبره! کافرانو ته اووایه چه ډیر زر به تاسو مغلوب (کمزورے) شئ

اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝١٢ قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ

جهنم ته | او ډیر بد دے | ځای ګیار کړے شوے (دا جهنم) | یقیناً | شته | تاسو دپاره | عبرت (نخښه)

او (بیا به په آخرت کښ) دوزخ ته راغونډ کړے شئ. او دا دوزخ ډیر بد ځای دَآرام دے. یقیناً تاسو دپاره

فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى

په هغه دوو ډلو کښ | چه مخامخ شوے وے یوبل سره | یوه ډله | جنګیدله | په لار | دالله کښ | او بله ډله

په هغه دوو ډلو کښ ډیر عبرت پروت دے چه دیو بل سره جنګیدلے وے یوه ډله دالله په لار کښ جنګیدله او بله ډله

كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْيَ الْعَيْنِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ

کافره هغه وه | چه لیدل ے ډاډ مسلمانان | دوچند خپل | په لیدو | د سترګو | او الله | ګلکوی

د کافرانو وه چه په خپلو سترګو ے مسلمانان دخپل ځان نه دوچند لیدل (اګرچه دا مسلمانان په اصل کښ کم وؤ دَدوی نه) او الله چه

بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ۝١٣

په مدد خپل سره | چا لره | چه اوغواړی | بیشکه | په دے کښ | خامخا عبرت دے | دپاره د پوهه خلقو

د چا دپاره او غواړی نو په خپل مدد سره ے تائید کوی یقیناً په دے (واقعه) کښ د پوهه خلقو دپاره عبرت دے۔

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ

خائسته (ښکاره) کړے شوے ده | دپاره د خلقو | مینه | دهغه څیزونو چه زړه ے غواړی | د ښځو نه | او د ځامنو نه

خلقو ته د زړه غوښتونکو څیزونو سره مینه کول ښائسته (ښکاره) کړے شوے دی (خلقو ته نفساتی خواهشونه

وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ

او دَ خزانو | جمع کړے شوو | د سرو زرو نه | او سپینو زرو نه | او د اسونو

ښائسته کړے شوی دی) لکه ښځے او ځامن (شول) او د سرو او سپینو ډیرې (شول) او ښائسته سارِبهٔ او تعلیم یافته

الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ

خائسته نه (علامت کړے شوونه) | او د څاروونه | او دَ فصل نه | دا (خو) | سامان (دے) | د ژوند

نخښه دار اسونه (شول) او څاوری او پوله پتی (شول) دا ټول خو د دنیا د ژوند سازو سامان دے

الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿١٥﴾ قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ

دُنیوی | او الله | سره (دے) | ښائسته ځائے | د ورتلو | اووایه | آیا خبر کړم تاسو | په دیر غوره

اوډیر خائسته ژوند (دآخرت) (خو) دالله تعالی سره دے. اے پیغمبره اورته اووایه چه آیا زهٔ تاسوته ددینه ډیر

مِّنْ ذٰلِكُمْ ۭ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ

د دینه | شته دپاره دهغه کسانو | چه پرهیزګاره دی دهغوی دپاره | په نزد | د رب د دوی | (دا سے) جنتونه دی | چه بهیږی به

بهتر څیز اوښائم؟ کوم خلق چه پرهیزګاره دی دهغوی دپاره د خپل رب سره (دا سے) جنتونه دی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ

لاندے (داونو) ددے نه | نهرونه | همیشه به وی | په دے کښ | او بیبیانے به وی | پاکے (سائلے شوے)

چه د (اونو) لاندے به ئے (قسمه قسم) نهرونه بهیږی چه په هغے کښ به همیشه وی اوپاکیزه بیبیانے به وی

وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿١٥﴾ الَّذِيْنَ

اورضامندی به وی | د الله د طرفه نه | او الله | بنه لیدونکے دے | (خپلو) بندګانو لره | هغه کسان

او د الله رضا مندی به (هم) وی او الله خپل ټول بندګان بنهٔ وینی. دا هغه خلق دی

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا

چه وائی | اے ربه زمونږ | بیشکه مونږ | ایمان راوړے دے | پس اوبخښے مونږته | گناهونه زمونږ

چه وائی اے زمونږ ربه یقیناً مونږ ایمان راوړے دے نو ته زمونږ گناهونه مونږته معاف کړه

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٦﴾ الصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالْقٰنِتِيْنَ

اوساته مونږ | د عذاب | د اُورنه | (دوی) صبر کوونکی (دی) | اورشتیا ویونکی | او تابعداری کوونکی

او د اور د عذاب نه مو بچ اوساته۔ دوی صبر کوونکی دی اورشتیا ویونکی او تابعداری کوونکی

وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿١٧﴾ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ

او مال لګوونکی | او بخښنه غوښتونکی (دی) | په وخت د سهار کښ | بیان کړے دے | الله | چه بیشکه

اومال لګوونکی دی اوډیر شمیر په وخت کښ معافی غوښتونکی دی. الله بیان کړے دے داخبره اوحکم ئے ورباندے کړے دے

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَاۗىِٕمًۢا

نشته معبود هیڅوک | لائق د بندګۍ | سوا | د هغهٔ نه | او ملائکو هم | او عالمان هم | په داسے حال کښ چه کاله دی

چه د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د بندګۍ لائق نشته او ملائکه او عالمان هم په دے گواهی اودریږی وارته په انصاف باندے اوپه ور کولو

بِالْقِسْطِ ۭ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾ اِنَّ الدِّيْنَ

(داتول) په انصاف | نشته معبود هیڅوک | حکمت پوره کونکے | سوا | د هغهٔ نه | (چه) زور آور | او حکمت والا دے | بیشکه | (غوره) دین

د حق کښ خلوند د حق نه کاله ولاړ دی چه دالله نه سوا بل هیڅ څوک لائق د بندګۍ نشته چه زور آور هم دے او حکمت والا هم دے. یقیناً الله ته

عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۣ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

په نزد | د الله | اسلام دے | او اختلاف نه دے کړے | هغه کسانو | چه ورکړے شوے وو هغوی ته | کتاب

(مقبول او معتبر) دین صرف اسلام دے او اهل کتابو چه باوجود د علم اوپوهے کوم اختلاف کړے دے

اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ وَ مَنْ

مګر | پس دَدے نه | چه راغے دوی ته | علم | دوے د ضدنه | په مینځ خپل کښ | او څوک چه

نودَ هغے وجه صرف په خپل مینځ کښ ضد بازی وه او څوک (هم) چه دالله دایتونو نه انکار اوکړی نوهغه لره

يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝١٩ فَاِنْ

کفر اوکړی | په آیتونو | د الله | نو بیشکه | الله | زر | حساب کولکے دے | نو که چرے

یادساتل پکار دی چه الله تعالی ډیر زر حساب اغستولکے دے نو که اوس هم دوی تاسره (دعیسیٰ متعلق)

حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ

جګړه کوی دوی تاسره | نو (ورته) اووایه | چه سپارلے دے ما | ځان خپل | الله ته | اوهغه چا هم | چه تابعداری کوی زما

جګړه کوی نو ورته اووایه چه ما او زما پیروکارو د الله حکم ته غاړه ایښودلے ده

وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ

او اووایه | هغه کسانو ته | چه ورکړے شوے دے هغوی ته | کتاب | او (نورو) اُمیانو ته (هم) | آیا اسلام راوړئ تاسو؟

او اهل کتابو او د عربو اُمیانو (مشرکانو) ته اووایه چه آیا تاسو دالله حکمو نو ته غاړه ایږدئ؟

فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ

پس که چرے | اسلام راوړودوی | نو یقیناً | هدایت ځیاموندو | او که چرے | مخ واړولو دوی | نو بیشکه | (لازم) دی په تا

نو که غاړه ځے کیښودله نو یقیناً سمه لار به بیا مومی او که انکار ځے اوکړو (نو بیا ځے پریږده)

الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝٢٠ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ ع

رسول (ددین) | او الله | ښه لیدونکے دے | بندګانو لره | بیشکه | هغه کسان | چه کفر کوی | په آیتونو

ځکه چه ستا ذمه واری خو صرف حکمونه رسول دی او الله بندګان ښه وینی. یقیناً کوم خلق چه دالله دایتونو نه انکار کوی

اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ

د الله | او وژنی | پیغمبران | په ناحقه | او وژنی | هغه کسان | چه حکم (بیان) کوی

او وژنی پیغمبران بغیر د څهٔ جرم شرعی نه او هغه خلق هم وژنی چه د انصاف (د توحید) حکم کوی

بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٢١ اُولٰٓئِكَ

د انصاف (د توحید) | د (عامو) خلقو نه | نو زیرے (خبر) ورکړه دوی ته | په عذاب | دردناک | هم دغه

نو دوی ته د دردناک عذاب خبر (زیرے) ورکړه۔ هم دا هغه کسان دی

الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۫ وَمَا لَهُمْ

کسان دی | چه برباد (ضائع) شول | (نیک) عملونه دوی | په دنیا | او آخرت کښ | اونۀ به وی | دپاره دَ دوی

چه په دنیا او آخرت کښ ځے (نیک) عملونه ضائع او برباد شول او هیڅ څوک

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝٢٢ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ

هیڅوک مددګاران | آیا ته نۀ ګورے | هغه کسانو ته | چه ورکړے شوے دے هغوی ته | څهٔ حصه | د کتاب نه

مددګار به ځے نه وی. آیا تا دهغه خلقو په حال غور نه دے کړے چه د کتاب څه برخه ورته ورکړے شوے ده

يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلّٰى

(چه) راللے شی دوی | په طرف د کتاب | د الله | ځدے دپاره چه فیصله اوکړی الله | په مینځ ځدوی کښی | بیا هم | مخ اړوی

چه د الله کتاب ته (کله) دے دپاره راوللے شی چه هغوی په مینځ کښی فیصله وکړی نو دهغوی یوه ډله

فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ وَهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٣﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا

یوه ډله | د دوی نه | او دوی | مخ اړونکی دی همیشه | دا ځکه | چه بیشکه دوی | وائی

(ترینه) مخ اړوی او دوی همیشه د حق نه مخ اړوی۔ دا ځکه چه دوی وائی

لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۖ وَّغَرَّهُمْ

(چه) هیڅ کله اوبه نه رسی مونږته | اُور | مګر | یو څو ورځی | شمارلے شوے | اودهوکه کړے دی دوی لره

چه د شمیر د یو څو ورځو نه سوا مونږ اور نشی سوزولے. او دا ځکه چه د دین په معامله

فِيْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ اِذَا

په دین د دوی کښی | هغه څهٔ (دروغ) | چه دوی به | دځان نه جوړول | پس (نو) څنګه حال به وی ددوی | کله چه

کښی دوی هغه خبره په دهوکه کښی اچولے دی چه د ځان نه ئے دروغ جوړ کړے دی. نو په هغه وخت به ئے څه حال وی چه

جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۗ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ

راجمع کړو مونږ دوی | د اسے ورځ ته | چه نشته دے هیڅ شك | په هغے کښی | اوپوره به ورکړے شی | هر یو کس ته

کله ئے مونږ د قیامت په دا سے ورځ راجمع کړو چه د هغے په راتلو کښی هیڅ شك نشته اوهر یو کس ته به د خپلو کړو

مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ

بدله د هغه څهٔ | چه کړی ئے دی | اوپه دوی به | هیڅ کله ظلم نشی کولے | اووایه | اے الله! | اے مالکه | د بادشاهئ

پوره پوره بدله ملاؤ شی او بالکل ظلم زیاتے به پرے نه کیږی. اے پیغمبره! اووایه چه اے الله

تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ

ورکوے ته | حکومت | چا ته | چه اوغواړے ته | او (واپس) اخلے ته | حکومت | دچا نه | چه اوغواړے ته

د اقتدار مالکه! چه چا ته اوغواړے اقتدار (حکومت) ورکوے او دچا نه چه دے خوښه شی اقتدار (حکومت) اخلی

وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ۭ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۭ

او عزت ورکوے ته | چا ته | چه اوغواړے ته | او ذلیله کوے ته | چا نه | چه اوغواړے ته | په لاس ستا کښی دے | ټول خیر

او چا ته چه اوغواړے عزت ورکړے او څوك چه اوغواړے نو ذلیله ئے کړے هم ستا په لاس کښی ټول خیر ونه دی

اِنَّكَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ

بیشکه ته | په هر | څیز باندے | قادر ئے | داخلوے ته | شپه | په ورځ کښی

یقیناً ته په هر څیز باندے وس (قدرت) لری۔ هم ته شپه په ورځ کښی او ورځ په شپه کښی ننباسے

وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۡ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ

او داخلوے ته | ورځ | په شپه کښی | اوراوباسے ته | ژوندے | د مړی نه | اوراوباسے ته

او هم ته ژوندے د مړی نه او مړے د ژوندی نه راوباسے (پیدا کوے)

الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۲۷﴾ لَا يَتَّخِذِ

مړے | دژوندی نه | اورزق ورکوے تهٔ | چاته | چه اوغواړے | بے حسابه (ډیر) | نه دے نیسی

او چا لره چه وغواړے (نو) بے حسابه رزق ورکوی ۔ مومنان دے

الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ

مومنان | کافرانو لره | دوستان | علاوه | د مومنانو نه | او چا چه | اوکړو

د مسلمانونو نه علاوه کافرانو لره دوستان نه جوړوی او څوک چا داسے وکړل

ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ

دا کار | نو نهٔ دے هغه | (دډلے) د الله نه | په هیڅ څیز کښ | مګر | کهٔ | ځان سائ تاسو | د دوی نه

نو د الله تعالیٰ سره ئے هیڅ تعلق نشته خو که تاسو دهغوی د ظلم زیاتی نه د بچ کیدو څهٔ طریقه اختیار وئ

تُقٰىةً ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸﴾ قُلْ

په ځان ساتلو سره | او ویږوی تاسو | الله | د ځان خپل نه | او خاص الله ته | واپسی ده | اووایه

(نو خیر دے) او الله تاسو د خپل ځان نه ویږوی او (آخر) مو الله ته واپسی ده۔ اے پیغمبره! ورته اووایه

اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ

که څه چرے پټ ساتئ تاسو | هغه څهٔ | چه دی په سینو ستاسو کښ | یا ښکاره کوئ تاسو هغه | (نو) پوهیږی په هغے باندے | الله

چه که تاسو د خپل زړه خبرے پټے اوساتئ او کهٔ ښکاره ئے کړئ خو الله ته معلومے دی

وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ

اوپوهیږی الله | په هغه څهٔ | چه دی په اسمانونو کښ | اوپه هغه څه چه دی | په زمکه کښ | او الله

او څهٔ چه په اسمانونو او زمکه کښ دی ټول الله ته معلوم او ښکاره دی او الله

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

په هر | څیز باندے | قادر دے | په هغه ورځ | چه ویاړه مومی | هر یو کس | هغه څهٔ | چه کړے ئے وی

په هر څه باندے قدرت لری۔ هغه ورځ (یاده لرئ) په کومه به چه هر هغه کس چه څه نیک کارونه ئے کړی وی

مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ تَوَدُّ

د نیکئ نه | حاضر کړے شوے | اوهغه څه | چه کړے ئے وی | د بدئ نه | غواړی به دا کس

دهغے نتیجه به مخامخ اوینی او د خپلو بدو کارونو نتیجه به هم وینی نو دغه وخت به تمنا کوی چه کاش!

لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ

چه کاش وے | په مینځ دده | اوپه مینځ د بدعمل دده کښ | مزل | ډیر لرے | او ویږوی تاسو | الله

دهٔ او د دے بدعمل په مینځ کښ ډیر لرے (اوږده) فاصله وے. او الله تاسو د خپل ځان

نَفْسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾ قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ ع ۱۱

د ځان خپل نه | او الله | ډیر شفقت کونکے دے | په بندګانو (خپلو) | اووایه | که چرے | تاسو | مینه ساتئ

نه ویږوی او الله د بندګانو سره ډیر شفقت کوی. اے پیغمبره! خلقو ته اووایه که تاسو د الله سره مینه کوئ

اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ؕ

دالله سره | نوتابعداری اوکړئ زما | مینه به اوکړی تاسوسره | الله | او اوبه بخښي | تاسوته | ګناهونه ستاسو

نو زما تابعداری اوکړئ الله به درسره مینه (هم) وکړی او ګناهونه به مو هم معاف کړی

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۱﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ۚ

اوالله دے | ډیر بخښونکے | ډیر رحم کونکے | اووایه | (په خوشحالئ) اومنئ | حکم دالله | او د پیغمبر

اوالله ډیر معافی کونکے ډیر مهربان دے. اے پیغمبره اورته اووایه چه دالله اودهغهٔ درسول حکمونه په خوشحالئ سره اومنئ

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ اِنَّ اللّٰهَ

پس که چرے | مخ واړوی دوی | نو بیشکه | الله | نه خوښوی | کافران | بیشکه | الله

بیا هم که دوی مخ واړولو (نو دوی کافران دي) اویقیناً الله کافران نه خوښوی۔ یقیناً الله ادم (علیه السلام)

اصْطَفٰٓى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرٰنَ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾

غوره کړے دے | آدم | او نوح | او اولاد د ابراهیم | او کورنئ د عمران | په ټولو خلقو باندے

اونوح (علیه السلام) اوداابراهیم (علیه السلام) کورنئ اود عمران (علیه السلام) کورنئ د ټولو خلقونه غوره کړے ده

ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾ اِذْ قَالَتِ

بعضے د دوی پیدا شوی وو د بعضے نورو نه | او | الله | ښهٔ اوریدونکے | ښهٔ پوهه دے | کله چه | اووئیل

دادیوے سلسلے خلق دی اودیو بل د کورنئ دی اوالله هرڅه اوري اوپه هرڅه پوهه دے۔ (الله هغه دعاهم اوریدله) کله چه

امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِيْ بَطْنِيْ

ښځے | د عمران | اے ربه زما | بیشکه ما | نذر کړو | ستادپاره | هغه څه | چه دی په ګیډه زما کښ

دعمران ښځے اووئیل چه اے زما ربه! کوم ماشوم چه زما په ګیډه دے زهٔ ستاپه نوم دهغے منخښته (نذر)

مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۵﴾

آزاد کړے شوے (ستادعبادت دپاره) | پس قبول ئے کړه | زمانه | بیشکه | هم ته ئے | ښه اوریدونکے | ښه پوهه

کوم چه ستادد ین کارته به آزادوی نو ته ئے زمانه قبول کړه یقیناً هم ته هرڅهٔ اورے اوپه هرڅه پوهه ئے۔

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ؕ وَاللّٰهُ

هرکله چه ئے | اوزیږولله | نو وئے وئیل | اے ربه زما | بیشکه ما | (خو) وزیږولله دا | جینئ | او الله

نو کله چه دهغے جینئ اوشوه نو (په حسرت سره ئے) اووئیل چه زما ربه زما خو جینئ (لور) اوشوه حالانکه

اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ وَاِنِّيْ

زیات پوهه دے | په هغه څه | چه وزیږولو هغے | او نه دے | (هغه) هلك | پشان (ددے) جینئ | او بیشکه ما

الله ته ښهٔ پته وه چه دهغے څهٔ شوے دی (هلك یا جینئ) اوکوم هلك چه دے غوښتلے ووهغه ددے جینئ پشان نهٔ وو

سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَاِنِّيْٓ اُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ

نوم کیښودلو ددے | مریم | او بیشکه څه | په پناه کښ ورکومدا | دَستا | او اولاد ددے | د شیطان

اوما ددے نوم مریم کیښودلو او زهٔ دا او ددے اولاد دلعنتی شیطان د حملے نه

الرَّجِيْمِ ۝ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ

رتلی شوی نه | پس قبوله کړه دے لره | رب ددے | په قبلولو | ښه سره | او رالویه ئے کړه | په لویولو | ښه سره

ستا په پناه کښې درکوم نو الله هغه جینئ په ښه شان سره قبوله کړه او ډیره نیکه ئے لویه کړه

وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ؕ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ

او اوئے سپارله هغه | زکریا ته | هر کله | چه داخل به شو | په دے باندے | زکریا | عبادت خانے ته

او زکریا (علیه السلام) ئے ورله سرپرست (ذمه وار) جوړ کړو کله چه به هم زکریا دهغے خواله عبادت خانے ته ورغے

وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ؕ

(نو) اوبه ئے موندلو | ددے سره | (ناشنا) رزق | (نو) اووئیل هغه | چه اے مریمه! | دکوم ځائنه دے | تاته ره | دا رزق؟

نو هغے سره به ئے دخوراک څیزونه موندل نو تهوس به ئے کړینه او کړو چه اے مریم دا ناشتا خوراک تاته ره دکومے راځی؟

قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ

اووئیل هغے | دا (راځی) | د طرفه | د الله نه | بیشکه | الله | رزق ورکوی | چاته | چه اوغواړی

نو هغے به ورته اووئیل چه دا (خو) د الله د طرفه دے یقیناً الله چه چاته اوغواړی به حسابه

بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ

بے حسابه | دغلته (دغه وخت) | سوال اوکړو | زکریا | رب خپل ته | وے وئیل | اے ربه زما

رزق ورکوی. په دغه موقع زکریا علیه السلام خپل رب ته سوال او فریاد اوکړو، اوئے وئیل

هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ۝

راکړه | ماته | د خپل طرف نه | اولاد | نیک (پاک) | بیشکه ته | اوریدونکے | د دعائے

اے زما ربه ماته د خپل طرف نه نیک اولاد راکړه یقیناً ته (دهر چا) دعا ګانے اورے او قبلوے

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ

نو آواز اوکړو دده ته | ملائکو | او دے | ولاړ وو | (چه) مونځ ئے کولو | په عبادت خانه کښې | چه بیشکه

نو (یوه ورځ) پدا سے حال کښې چه زکریا په عبادت خانه کښې ولاړ وو مونځ ئے کولو ملائکو ورته اواز اوکړو

اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا

الله | زیږے درکوی تاته | (په پیدا کیدلو) دیحییٰ | چه تصدیق به کوی | دیوے کلمے | د الله | اوسردار به وی

چه یقیناً الله تاته دیحییٰ (د پیدائښ) زیږے درکوی چه هغه به د الله دیوے کلمے تصدیق کوی او سردار به وی

وَّحَصُوْرًا وَّنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ

او پاکدامن به وی | او پیغمبر به وی | د کاملو نیکانو نه | اووئیل (زکریا) | اے ربه زما! | څنګه | به اوهی

او پاکدامن به وی او پیغمبر به وی (او) د کاملو نیکانو په ټولنې کښې به شامل وی. زکریا علیه السلام اووئیل اے زما ربه

لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ قَالَ

زما | خوئے | اوحال دا دے چه | رسیدلے دے ماته | بوډاوالے | او ښځه زما | شنډه ده | وئے وئیل

ما کړه به لا څنګه هلک پیدا شی؟ حالانکه زه هم بوډا شوے یم او ښځه مے هم شنډه ده ملائکے یا الله ورته اووئیل

كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۝٤٠ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ

دغه شان (به ځي) | الله | کوی | څه چه | اوغواړی | وې وئیل | اے ربه زما | مقرر کړه | د پاره زما | څه نخښه

دغه شان به ځي الله چه څه غواړي هغه کوي زکريا اووئيل اے زما ربه زما د پاره (خو) يوه نخښه

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ

الله (ورته) اوئيل | نخښه ستا داده | چه خبرے به نشے کولے نه | د خلقو سره | درے | ورځے | مګر | په اشاره

مقرر کړه الله ورته اوفرمائيل چه نخښه دِ داده چه درے ورځے به د خلقو سره د اشارو نه سوا خبرے نه شے کولے

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ۝٤١ وَاِذْ

او يادوه | رب خپل | ډير | اووايه تسبيح | بيګاه | او صبا | او کله چه

او په شکريه کښ خپل رب ډير ډير يادوه او سحر او ماښام تسبيح او پاکي بيانوه۔ او (داهم ياد کړه) کله چه

قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ

اووئيل | ملائکو | اے مريمه! | بيشکه | الله | غوره کړے ئے ته | او پاکه کړے ئے ته

ملائکو اووئيل چه اے مريمه! يقيناً الله ته غوره کړے ئے او پاکه ئے ساتلے ئے او ته ئے

وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ۝٤٢ يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ

او غوره کړے ئے ته | په زنانو | د خپلے زمانے | اے مريمه! | تابعداري کوه | د رب خپل

غوره کړې ئے (د خپلے) زمانے) د ټول عالم په زنانو باندے۔ اے مريمه! د خپل رب تابعداري (عبادت) کوه

وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ۝٤٣ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ

او سجده کوه | او رکوع کوه | سره | د رکوع کوونکو | دا | بعضے خبرونه دي | د غيبو

او سجده کوه او د رکوع کونکو سره رکوع کوه۔ اے پيغمبره! دا د غيبو څه خبرونه دي چه مونږ ئے تاته

نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ؕ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ

(چه) وحي ئے کوو مونږ | تاته | او نه وے ته | د دوي سره حاضر | کله چه | غورزول دوي | قلمونه خپل

وحي کوو او ته د دوي سره په هغه وخت کښ (موجود) نه وے کله چه دوي خپل قلمونه د پاره غورزول

اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ

چه څوک به د مريم ساتنه (پرورش) کوي | د مريم | او نه وے ته | د دوي سره (حاضر) | کله چه

چه څوک به د مريم ساتنه (پرورش کوي) او نه ورسره ته هغه وخت موجود وے کله چه دوي پربل سره

يَخْتَصِمُوْنَ ۝٤٤ اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ

دوي (د پربل سره) جګړه کوله | کله چه | اووئيل | ملائکو | اے مريمه! | بيشکه | الله | زيرے درکوي تاته

جګړه کوله۔ کله چه ملائکو اووئيل۔ اے مريمه! يقيناً الله تاته د يوے (داسے) کلمے (د پيدائش) زيرے درکوي

بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ۖ اسْمُهُ الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيْهًا

د يوے کلمے | د خپل طرفه نه | چه نوم د هغه به | مسيح | عيسٰى | څوے | د مريم وى | مخوريز (عزتمند) به وى

چه نوم به ئے مسيح عيسٰى ابن مريم وى او په دنيا او آخرت کښ به مخوريز (عزتمند) وى

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۙ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ

په دنیا | او آخرت کښ | اووی به دکرامت دے کړے شوونه (الله ته) | او کوی به خبرے | دخلقو سره

او د الله په مقربینو کښ به شمار وی. او د خلقو سره به په زانګو کښ هم خبرے کوی

فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ

په زانګو کښ | اوپه بوډاتوب کښ | اووی به دکاملو نیکانو نه | اووئیل مریم | اے ربه زما | څنګه به | کیږی

اوپه زوړوالی (غټ عمر) کښ هم او کاملو نیکانو کښ به شامل وی۔ مریم اووئیل اے زما ربه! زما به لا څنګه نجګ کیږی

لِيْ وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ

زما | څوئ | اوحال دا دے چه ما ته مے سید لمس نه | هیڅ یو انسان | اووئیل (جبریل) | هم دغه شان | الله | پیدا کوی

حالانکه هیڅ یو نارینه ما ته لاس قدرے هم نه دے راوړے ملائکے یا الله اووئیل چه خبره به هم دغسے وی څنګه چه ته وائے

مَا يَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۝

څه چه | اوغواړی | کله چه | اراده (فیصله) اوکړی | دیو کار | نو بیشکه | وائ | هغۀ ته | شه (موجود) | نوشی (موجود)

الله چه څۀ غواړی هغه پیدا کوی کله چه هغه دیو کار فیصله وکړی نو ورته اووائی چه موجود شه نو بس هغه موجود شی۔

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝ وَرَسُوْلًا

اوښائی به ورته الله | کتاب | او حکمت | او تورات | او انجیل | او (لیږی به دۀ لره) رسول

او الله به ورته کتاب او حکمت او تورات او انجیل اوښائی۔ او د بنی اسرائیلو دپاره به ئے رسول

اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ اَنِّيْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ

بنی اسرائیلو ته | چه بیشکه ما | راوړے دے تاسو ته | نخښه (معجزه) | د طرفه د رب ستاسو نه

مقرر کړی (چه ورته به وائی) چه یقیناً ما تاسو ته ستاسو د رب د طرف نه یوه غټه نخښه راوړے ده

اَنِّيْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ

(داچه) بیشکه زۀ | به جوړوم | تاسو دپاره | د څښتے نه | پشان د شکل | د مارغه | بیا پوکے به اوُوهم

هغه دا چه زۀ به ستاسو په وړاندے د څښتے نه د مارغۀ پشان یو شکل جوړوم بیا به په کښ پوکے وهم

فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ

په هغے کښ | نو شی به | مارغۀ (الوتونکے) | په حکم | د الله | او جوړوم به زۀ | پیدائشی رونده

نو د الله په حکم به مارغۀ شی او زۀ به پیدائشی رونده او د برګی مرض والا

وَالْاَبْرَصَ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا

او د برګی مرض والا | او ژوندی کوم به زۀ | مړی | په حکم | د الله | او خبروم به زۀ تاسو | په هغه څه

جوړوم او د الله په حکم به مړی راژوندی کوم او تاسو چه په کورونو کښ

تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

چه خورئ ئے تاسو | او په هغه څۀ | چه ذخیره کوئ ئے تاسو | په کورونو خپلو کښ | بیشکه | په دے کښ

څه خورئ یا ئے ذخیره کوئ د هغے نه به مو خبروم که تاسو ایمان راوړئ نو یقیناً په دے کښ تاسو دپاره

لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَ مُصَدِّقًا

خامخانخښه(معجزه)ده | ستاسو دپاره | که چرے | یئ تاسو | ایمان راوړونکی | او تصدیق کونکے یم زهٔ

لویه نخښه (معجزه) ده اوزما نه چه مخکښ کوم کتاب نازل شوے دے یعنی تورات دهغے تصدیق به کوم

لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَ لِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ

دهغه څهٔ | چه وړاندے دی زمانه | چه هغه تورات دے | اوچه حلال کړم زه | تاسو دپاره | بعضے | هغه څیز

او دے دپاره راليږلے شوے یم چه بعضے هغه څیزونه چه په تاسو

حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۖ فَاتَّقُوا

چه حرام کړے شوے دے | په تاسو | اوراوړے ده ماتاسو ته | نخښه (معجزه) | دطرفه درب ستاسو نه | پس ویریږئ

حرام کړے شوے ووهغه درلره حلال کړم اوماتاسو ته ستاسو درب طرف نه نور ے نښے هم راوړے دی نو دالله نه اویریږئ

اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوْنِ ۝ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ

دالله نه | او حکم اومنئ زما | بیشکه | الله | رب زما | اورب ستاسو دے | نو عبادت اوکړئ (یواځے) دهغهٔ

اوزما خبره اومنئ۔ یقیناً الله زما هم رب دے اوستاسو هم رب دے نو یوا ځے دهغهٔ عبادت وکړئ

هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝ فَلَمَّاۤ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ

دا | لار ده | نیغه (سمه) | نوکله چه | محسوس کړو | عیسیٰ | د دوئ نه | کفر

هم داسمه لار ده۔ نو هر کله چه عیسیٰؑ محسوسه کړه چه بنی اسرائیل زمانه انکار کوی نو وئے ویل چه

قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ

(نو) وئے ویل | څوك دی | مددگاران زما | (دین) د الله ته | (نو) اووئیل | خالصو ملګرو (دعیسیٰؑ) | مونږ یُو

د الله په لار کښ به څوك زما مددگار کړی؟ نو حواریانو (مخلصینو ملګرو دعیسیٰؑ) اووئیل چه مونږ د الله

اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَ اشْهَدْ بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝

مددگار | دالله (دین) | ایمان راوړے دے مونږ | په الله باندے | او گواه شه تهٔ | چه بیشکه مونږ | مسلمانان یُو

دین مددگاران یُو مونږ په الله ایمان راوړے دے اوته په دے خبره گواه اوسه چه مونږ د الله حکمونو ته غاړه ایښودلے ده

رَبَّنَاۤ اٰمَنَّا بِمَاۤ اَنْزَلْتَ وَ اتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا

اے ربه زمونږ | ایمان راوړے دے مونږ | په هغه څهٔ | چه نازل کړی دی تا | اوتابعداری کړے ده مونږ | د دے پیغمبر | اولیکه ته مونږ په

اے زمونږ ربه اتا چه څهٔ نازل کړی دی په هغے باندے مونږ ایمان راوړے دے اومونږ د دے پیغمبر تابعداری کړے ده نو ته مونږ

مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝ وَ مَكَرُوْا وَ مَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ

سره | دگواهی کونکو (دتوحید) | اوپټ تدبیر اوکړو دوی (دوژلو دعیسیٰؑ) | اوتدبیر اوکړو | الله (دهغهٔ دخلاصی) | او الله | بهتر تدبیر کونکے دے

دتوحید دگواهی کونکو سره اولیکه او کافرانو دعیسیٰؑ خلاف پټ چلونه جوړ کړل او الله دهغهٔ دخلاصیٔ تدبیر اوکړو

الْمٰكِرِيْنَ ۝ اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰۤى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَ رَافِعُكَ

د تدبیر کونکو نه | کله چه | اووئیل | الله | اے عیسیٰ! | بیشکه زهٔ | پورته غستونکے یم تاله | اوپورته کونکے یم تاله

او الله د دیر بنهٔ تدبیر کونکے دے اوددے تدبیر په وخت الله اوفرمائیل چه! اے عیسیٰ! زهٔ تاله

اِلَيَّ وَ مُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ

طرف خپل ته | اوپاکوونکے یم تالره | د هغه کسانو نه | چه کفر ے کړے دے | اوجوړوونکے یم | هغه کسانولره

صحیح سلامت واپس اخلم او خپل طرف ته دے اوچتوم اود کافرانو دتهمتونونه دی پاکوم اوستاتابعدار

اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ

چه تابعداری ے کړے حصتا | غالب | په هغه کسانو | چه کفر ے کړے دے | تر ورځ د قیامت پورے | بیا | خاص ماته

به تر قیامته پورے په کافرانو باندے غالب کړم بیا ماته ستاسو دټولو واپسی (راتلل) دی نو زهٔ به ستاسو

مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٥٥﴾

واپسی ده ستاسو | نو فیصله به اوکړم زهٔ | په مینځ ستاسو کښ | په هغه څهٔ کښ | چه تاسو به | په هغے کښ | اختلاف کولو

په مینځ کښ دهغه خبرو فیصله اوکړم په کومو کښ چه تاسو اختلاف کړے دے

فَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَاُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا فِي الدُّنْيَا

پس هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | نو عذاب به ورکوم دوی ته | عذاب | ډیر سخت | په دنیا

نو چه کوم خلق کافر دی هغوی ته به په دنیا او آخرت کښ سخت ترینه سزا ورکړم

وَ الْاٰخِرَةِ ۫ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او په آخرت کښ | اونه به وی | دپاره ددوی | هیڅ څوک مدد کار | او | هغه کسان | چه راوړے ئے ایمان

او ددوی دپاره به هیڅ څوک مدد کار نه وی۔ او کومو خلقو چه ایمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ

او کوی عملونه | نیك | نو پوره به ورکړی هغوی ته | ثوابونه د هغوی | او الله | نه خوښوی

او نیك کارونه (عملونه) ئے کړے دی نو هغوی ته به الله دهغوی پوره پوره اجرونه (ثوابونه) ورکړی او الله تعالیٰ

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٧﴾ ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿٥٨﴾

ظالمان | دا چه | بیانوئے مونږ | تاته | آیتونو دی | او نصیحت دے | ډك د حکمت نه

ظالمان (بے انصافه) خلق نه خوښوی۔ داهغه ایتونه او د حکمت نه ډك نصیحتونه دی چه مونږ ئے تاته اوروو (بیانوو)

اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ۭ خَلَقَهٗ

بیشکه | حال | د عیسیٰ | په نزد | د الله | پشان د حال | د آدم دے | پیدا کړے ئے وو آدم

یقیناً دالله په نزد خو د عیسیٰ مثال داسے دے لکه آدم چه الله دخټے نه دهغهٔ پیدائش شروع کړے وو بیا ئے

مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿٥٩﴾ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ

د خاورو نه | بیا ئے | اووئیل | هغه ته | شه (موجود) | نو شو (موجود) | دا حق دے | د طرفه د رب ستانه

ورته اوفرمائیل چه ژوند ے اوپوره انسان شه نو ژوند ے اوپوره انسان شو. داستاد رب د طرف نه رشتینے حقیقت دے

فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَاۗجَّكَ فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا

پس مه کیږه تهٔ | د شك کوونکو | نه | نو که څوك | جګړه کوی تاسره | په دے کښ | پس د دے نه

نو ته پکښ (د بعضے خلقو پشان) شك مه کوه د عیسیٰ د دے صحیح واقعے بیانولو نه پس که څوك تاسره پدے معامله کښ حجهٔ

جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَاَبْنَآءَكُمْ

چه راغلے دے تاته | علم (وحی) | نو(ورته)اووایه | راځئ | (چه) راوغواړو | ځامن خپل | اوځامن ستاسو

بحث او جګړه کوی نو ورته اووایه چه راځئ مونږ به خپل ځامن راوبلو اوتاسو خپل او مونږ به

وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَاَنْفُسَنَا وَاَنْفُسَكُمْ ۟ ثُمَّ نَبْتَهِلْ

او ښځے خپلے | او ښځے ستاسو | اوځانونه خپل | اوځانونه ستاسو | بیا به | زاری (عاجزی) اوکړو

خپلے ښځے راوبلو اوتاسو خپلے او مونږ به هم موجود یو اوتاسو به هم موجود یئ او بیا به په عاجزئ سره

فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ۝٦١ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ

نواوبه گرځومونږ | لعنت | د الله | په دروغژنو باندے | بیشکه | (هم) دا | دے خامخا | بیان

دا سے دعا اوکړو چه په دروغژنو دے د الله لعنت وی ـ یقیناً هم دا بالکل رشتینے واقعات دی (بیان دے)

الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

رشتینے | اونشته دے | هیڅ څوك لائق دبندګئ | سوا | د الله نه | او بیشکه | الله | خامخا هغه دے | زورآور

او د الله نه سوا بل هیڅ څوك د بندګئ لائق نیشته او یقیناً هم الله زورآور او

الْحَكِيْمُ ۝٦٢ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ ۝٦٣ ع

(ع) او حکمت والا | پس که چرے | مخ واړولودوی | نو بیشکه | الله | ښه پوهه دے | په فساد کونکو باندے

حکمت والا دے که بیا هم داخلق انکار اوکړی (نو الله به سزا ورکړی) (ځکه چه) الله ته فساد کونکی خلق پیر ښه معلوم دی.

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا

اووایه | اے | اهل کتابو | راځئ | یوے داسے کلمے اوخبرے ته | چه برابره (شریکه) ده | په مینځ مونږ

اے پیغمبره! یهودیانو او عیسائیانو ته اووایه چه اے اهل کتابو راځئ چه په یو داسے خبرے متفق شو

وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا

اوپه مینځ ستاسو کښ | چه بندګی به نه کوو | سوا | د الله نه دبل چا | او نه به شریك جوړوو | دهغه سره | هیڅ شے

چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښ مشترکه ده هغه دا چه د الله نه سوا به دبل چا عبادت نه کوو

وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ

او نه به نیسی | بعضے زمونږ نه | بعضو لره | پالونکی (خدایان) | غیر | د الله نه | پس که چرے

او نه به دهغهٔ سره هیڅ څوك شریك جوړوو او د الله نه سوا به په خپل مینځ کښ یو بل ته رب نه وایو نو که

تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝٦٤

مخ واړولودوی | نو اووایئ (ورته) | گواهان اوسئ (خبر شئ) تاسو | په دے باندے چه بیشکه مونږ | یو مسلمانان

بیائے هم انکار اوکړو نو تاسو (اے مسلمانانو) ورته اووایئ چه تاسو پدے گواه اوسئ چه مونږ خو مسلمانان یو

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمَآ اُنْزِلَتِ

اے اهل کتابو | ولے جګړه کوئ تاسو | په باره دابراهیم کښ | اوحال دادے چه نه دے نازل کړے شوے

اے اهل کتابو تاسو (د مسلمانانو سره) دابراهیم په باره کښ ولے بحث او جګړه کوئ حالانکه

التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٥﴾ هٰۤاَنْتُمْ

تورات | او انجیل | مکر | پس دهغهٔ نه | آیا نه پوهیږئ تاسو؟ | خبر دار اتاسو

تورات او انجیل خو دابراهیم نه پس نازل شوے وو تاسو کښ دومره عقل هم نشته. گورئ تاسو هغه خلق یئ چه کومو مسئلو کښ

هٰۤؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ

هغه خلق یئ | چه جگړه کوئ | په هغه څه کښ | چه څه تاسو سره | په هغے باندے | علم | نو ولے | جگړه کوئ

درسره څه نا څه علم وو (حال د عیسیٰ یا صفات د محمد چه دَدوی په کتابونو کښ ذکر وو) نو په هغے کښ بهٔ بحثونه او جگړے کوئ

فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ

په هغه څهٔ کښ | چه نشته درے | تاسو سره | په هغے باندے | څهٔ پوهه (علم) | او الله | پوهیږی | او تاسو

او په کومو مسئلو کښ چه درسره د سَره علم نشته (چه حال د ابراهیمؑ دے) نو په هغے کښ ولے بحثونه او جگړے کوئ او الله

لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ

نه پوهیږئ | نهٔ وو | ابراهیم | یهودی | اونهٔ | عیسائی | لیکن | وو هغه

پیر بهٔ پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ حقیقت هم دادے (چه) ابراهیم خو نه یهودی وو او نه عیسائی وو بلکه هغه خو سیدها

حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ

په نیغه لار (کلك په توحید) | منونکے حکم دالله لره | او نهٔ وو هغه | د مشرکانو نه | بیشکه

حق پرست او په توحید باندے کلك فرمانبردار بنده وو او مخلص مسلمان وو او هغه (بالکل) په مشرکانو کښ نهٔ وو شامل

اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ

زیات نزدے | د ټولو خلقونه | ابراهیم ته | خامخا هغه کسان دی | چه تابعداری ئے کړے ده دهغهٔ | او دا | پیغمبر

یقیناً ابراهیم ته د ټولو خلقونه لائق (نزدے) هغه کسان دی چا چه دهغهٔ پیروی کړے ده او دا پیغمبر

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ

او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | او الله | دوست | د مومنانو دے | د زړه نه غواړی | یوه ډله

او ټول مومنان ورته د ټولو نه زیات نزدے دی لائق دی او الله د مومنانو دوست (کارساز) دے داهل کتابو یوه ډله

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّاۤ اَنْفُسَهُمْ

د اهل کتابو | (کاش) چه | گمراه کړی دوی تاسو لره | او نشی گمراه کولے هغوی | مکر | ځانونه نه خپل

دا غواړی او ارمان کوی چه تاسو گمراه کړی حالانکه د خپل ځان نه سوا بل څوك نشی گمراه کولے (خو) ددے

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

او دوی نهٔ پوهیږی | اے اهل کتابو | ولے | کفر کوئ تاسو | په آیتونو | د الله

احساس ورته هم نشتے. اے اهل کتابو تاسو د الله دایتونو نه انکار ولے کوئ حالانکه تاسو خو دهغے د حقانیت

وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ

او حالانکه تاسو | گواهان یئ | اے اهل کتابو | ولے | گډوډوئ تاسو | حق | د باطل سره

گواهان یئ (خبر یئ چه دا آیتونه من جانب الله حق دی) اے اهل کتابو ولے تاسو حق د باطل سره گډوډ کوئ

وَ تَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ وَ قَالَتْ طَّآىِٕفَةٌ

او (ولے) پتوئ تاسو | حق؟ | اوحال دادے چه تاسو | پوهیږئ | او اووئیل | یوے دلے
او ولے سره دپوهے حقه خبره پتوئ۔ او داهل کتابو یوے دلے (خپلو ملګرو ته) اووئیل

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ

د اهل کتابو نه | ایمان ښکاره کړئ | په هغه کتاب | چه نازل کړے شوے دے | په هغه کسانو
چه په مسلمانانو چه کوم کلام (دین) نازل شوے دے په هغے باندے دسحر په وخت کښ ایمان ښکاره کړئ

اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ

چه ایمان ئے راوړے دے | په اول سر | دور ځے کښ | او انکار (ترینه) اوکړئ | په آخر دور ځے کښ | دے دپاره چه دوی
او بیا ماښام ترینه انکار اوکړئ امید دے چه پدے سره به دا مسلمانان دخپل دین نه واوړی

يَرْجِعُوْنَ ۝ وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ

ولیږی شی (داسلام نه) | اومه منئ خبره دهیڅ چا | مګر | دهغه چا | چه تابعداری کوی | ددین ستاسو | اووایه | چه بیشکه
اوصرف دهغه چا خبره منئ څوک چه ستاسو دین تابع وی (ځکه چه هدایت صرف مونږ سره دے) نوته ورته جواب کښ اووایه

الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ

صحیح هدایت | هدایت (دین) | دالله دے | دے دپاره چه ورنکړے شی | بل چاته | پشان دهغه څه | چه درکړے شوی دی تاسوته
چه یقیناً صحیح هدایت دالله هدایت دے (اودبل چا خبره ځکه مه منئ) چه ورنکړے شی بل چاته هغه نبوت او اسمانی کتاب کوم چه

اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ

یا چه دوی غالب نه شی په تاسو | په نزد | درب ستاسو | اووایه | (چه) بیشکه | فضل | په لاس | دالله کښ دے
تاسوته درکړے شوے دے اوبل داچه دوی غالب نه شی په تاسو باندے په حجت قائمولو کښ په ورباندے درب ستاسو (پیغمبر ته جواب ورکړه)

يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ يَّخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ

ورکوی ئے | هغه چاته | چه اوغواړی | او الله دے | فراخئ والا | ښه پوهه | خاص کوی | په رحمت خپل سره
اووایه چه فضل (خو) ټول دالله په لاس کښ دے چاله ئے چه وغواړی ورکوی ئے او الله لوے ئے وسعت او لوے ئے علم والا دے او الله

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝ وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

څوک | چه اوغواړی | او الله دے | خاوند | د فضل | لوئ | او بعضے | د اهل کتابو نه
په خپل رحمت سره خاص کوی څوک ئے چه خوښ شی، او الله ډیر لوئ فضل والا دے۔ او په اهل کتابو کښ څه دا سے خلق هم شته چه

مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ ۚ وَمِنْهُمْ

هغه دی | که چرے | اعتبار اوکړے ته په هغه باندے | د پوره خزانے | نوادا کوی ئے | تاته | او څنے ددوی نه
که ته ورسره دیر مال دامانت په طور کیږدے نو هم به ئے درته پوره پوره واپس درکړی او دا سے پکښ هم شته

مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ

هغه څوک دی | که چرے | اعتبار اوکړے ته په هغه باندے | دیو سے روپئ | نو نه ئے ادا کوی | تاته | مګر | چه ته ئے همیشه
چه که ته ورسره یوه روپئ (اشرفئ) امانت کیږدے نو تر هغے به ئے نه درکوی تر څو چه هر وخت ته دهغه دسر دپاسه

عَلَيْهِ قَآئِمًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ

په(سرد)هغه باندے | ولاړ | دا ځکه | چه بیشکه دوی | وائی | نشته دے | په موږ باندے | په باره دامیانو کښ

ولاړ نه یئ دا ځکه چه دَدوی خیال دے چه دامیانو د مالونو په باره کښ په موږ هیڅ

سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾

څهٔ ملامتیا(گناه) | او وائی دوی | په الله باندے | دروغ | اوحال دادے چه دوی | پوهیږی

ملامتیا نشته او سره د پوهے په الله باندے دروغ وائی

بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

ولے نهٔ! | څوك چه | پوره کړی | لوظ خپل | او پرهیزگاره شی | نو بیشکه | الله | خوښوی

ولے نهٔ ملامت او گناه شته؟ (قاعده داده چه) څوك هم چه خپله وعده پوره کړی او دالله نه ویریږی نو یقیناً الله

الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ

پرهیزگاران | بیشکه | هغه کسان | چه اخلی | په لوظ | د الله | او په قسمونو خپلو

دا سے متقیان خوښوی (او ددے په عکس) یقیناً کوم خلق چه دالله په لوظ او په خپلو قسمونو معمولی

ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

قیمت | لږ | دغه کسان دی | (چه)نه به وی هیڅ برخه(ثواب) | دپاره دَدوی | په آخرت کښ

دنیا اخلی نو دغه کسانو دپاره په آخرت کښ هیڅ برخه نشته

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۪

اونهٔ به کوی خبرے ددوی سره | الله | او نهٔ به گوری | دوی ته | په ورځ د قیامت | اونهٔ به پاك کړی دوی لره

اونهٔ به ورسره الله(درحمت) خبرے او کړی اونهٔ به ورته دقیامت په ورځ(درحمت په نظر) گوری اونهٔ به ځُدگناهونو نه پاك کړی

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۷﴾ وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ

او دپاره ددوی | عذاب دے | دردناك | او بیشکه | شته دَدوی نه | خامخا یوه ډله | چه تاوَوی

اودَدوی دپاره دردناك عذاب دے. او یقیناً پدے اهل کتابو کښ یوه ډله داسے هم شته چه دکتاب دلوستلو

اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ

ژبے خپلے | په کتاب باندے | دے دپاره چه گمان او کړئ تاسو په هغے باندے | : کتاب | اوحال دادے چه نه دے هغه

په وخت کښ پرے ژبه تاوَړاتاوَ کړی چه تاسو پرے دالله دکتاب گمان او کړئ حالانکه هغه دالله دکتاب

مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ

د کتاب نه | او وائی دوی | دا | د طرفه | دالله نه دے | اوحال دادے چه نه دے | هغه

خبره نه وی او وائی دا چه مونږ څه وایو دا د الله دطرف نه راغلے خبره ده حالانکه هغه دالله

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۸﴾

د طرفه | دالله نه | او وائی دوی | په الله باندے | دروغ | اوحال دادے چه دوی | پوهیږی

د طرف نه نه وی او سره د پوهے په الله باندے دروغ وائی۔

مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَ النُّبُوَّةَ

جائز نه دی | دیو بشر دپاره | چه ورکړی دهٔ ته | الله | کتاب | او پوهه د دین | او پیغمبری

دهیڅ یو بنیادم دپاره داکار مناسب نهٔ دے چه الله خو ورله کتاب او د دین پوهه (حکمت) او پیغمبری ورکړی

ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

(او) بیا (دِ) | وائی هغه | خلقو ته | (چه) شئ تاسو | بندگان | زما | سوا | د الله نه

او هغه دے بیا خلقو ته وائی چه د الله نه سوا زما بندگان شئ

وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ

لیکن (وائی دے) | (چه) شئ تاسو | الله والا | په دے وجه | چه تاسو | ښودنه کوئ (خلقو ته) | د کتاب

بلکه هغه به خلقو ته دا وائی چه الله والا شئ ددے وجے نه چه تاسو د کتاب تعلیم ورکوئ

وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ

او پدے وجه | چه تاسو | لولئ (کتاب) | او نه به | حکم کوی تاسو ته دغه (پیغمبر) | چه جوړ کړئ تاسو | ملائکو لره

او پخپله ځُکم لولئ (او هم پدے تعلیم او تعلم دَ کتاب الله سره دِ یانیت حاصلیږی) او نه به هغه (پیغمبر) تاسو ته ددے حکم کوی چه ملائکے

وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ

او پیغمبران نو لره | خدایان (حقدار د بندگئ) | آیا حکم به کوی هغه تاسو ته | د کفر | پس ددے نه | چه یئ تاسو

او پیغمبران خدایان او گنړئ دا کله کیدے شی چه ستاسو د اسلام راوړلو نه پس دے هغه تاسو ته د کفر کولو

مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ ع ۱۱

مسلمانان (موحدین) | اوکله چه | واغستله | الله | پخه وعده | د پیغمبرانو نه | که څه چرته | زهٔ تاسو ته څهٔ درکړم

حکم درکړی؟ او هغه وخت یاد کړئ کله چه الله دَ پیغمبرانو نه پخه وعده اغستله وه چه که چرته ما تاسو ته دَ کتاب

مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا

کتاب | او حکمت (پوهه په دین) | بیا | راشی تاسو ته | دا سے رسول | چه تصدیق کونکے وی | د هغه کتابونو

او حکمت (دَ دین) پوهه درکړه او ستاسو په وخت کښ دا سے یَو پیغمبر راشی چه هغه ستاسو د کتابونو او

مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ

چه تاسو سره دی | نو خامخا تصدیق به کوئ تاسو | د دغه پیغمبر | او خامخا مدد به کوئ تاسو د هغهٔ | اووئیل (ورته الله) | آیا اقرار او کړوتاسو؟

د دین تصدیق کوی نو تاسو به خامخا د هغهٔ تصدیق کوی او مدد به ئے هم کوئ (بیا) الله پیغمبر انو ته اوفرمائیل

وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ ؕ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ

او قبوله کړه تاسو | پدے باندے | وعده زما | (نو) اووئیل دوی | اقرار او کړو مونږ | اووئیل (الله)

چه تاسو ددے خبرے اقرار کوئ او زما د طرف نه درکړے شوے ذمه واری قبلوئ نو ټولو اووئیل چه او امونږ اقرار کوو

فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

نو گواه اوسئ | او زه (هم) | تاسو سره یم | د گواهانو نه | نو چا چه | مخ واړلو | پس د دینه

نو الله ورته اوفرمائیل چه پدے اقرار گواه اوسئ او زهٔ هم تاسو سره دَ گواهی کونکو نه یم د دینه پس چه څوک (دهدایت)

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٨٢﴾ اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ

نو هم دغه کسان دی | پوره نافرمان | آیا غیر | د دین | د الله نه | لټوی دوی (بل دین)

مخ واړوی نو هم دا سے کسان پوره نافرمانه دی۔ نو ولے (آیا) د الله د دین نه سوا دوی څه بل دین غواړی

وَ لَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّ كَرْهًا

اوخاص هغه ته | غاړه کیخودلے ده | هغه چا | چه دی په آسمانونو | او زمکه کښ | په خوښه | او په ناخوښه

حالانکه اسمانونو اوزمکه کښ چه څومره مخلوق دے خواه که په خوښے سره وی او که ناخوښے او مجبورے سره وی تولو الله ته

وَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿٨٣﴾ قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ

اوخاص هغه ته به | واپس کولے شی دوی | اووایه | ایمان راوړے دے مونږ | په الله باندے | اوپه هغه څه | چه نازل کړے شوے دی

غاړه ایښودلے ده او تول به الله ته ورګرځی. اے پیغمبره! خلقو ته اووایه چه مونږ (خو) په الله اوپه هغه کتاب چه مونږ ته

عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ

په مونږ | اوپه هغه څه | چه نازل کړے شوے دی | په ابراهیم | او په اسماعیل | او په اسحاق

نازل شوے دے او په هغه څه چه ابراهیم اسماعیل، اسحاق، او یعقوب، او دهغه اولاد ته نازل شوی دی

وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ

او په یعقوب | او په اولاد دهغه | اوپه هغه څه | چه ورکړے شوے دی | موسٰی | او عیسٰی | اونورو پیغمبرانو ته

اوپه هغه کتابونو چه موسٰی او عیسٰی اونورو پیغمبرانو ته د خپل رب طرف نه ورکړے شوی وو په هغه تولو موایمان راوړے دے

مِنْ رَّبِّهِمْ ۖ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٨٤﴾

د طرفه رب خپل نه | نه کوو فرق مونږ | په مینځ | دیو کسد | دوی کښ | او مونږ ه | (خاص) دهغه | تابعدار یو

مونږ دے تولو په مینځ کښ (په منلو او نه منلو کښ) هیڅ فرق نه کوو او مونږ خاص د الله حکم ته غاړه ایخودلے ده

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ

او څوك | چه غواړی | سوا | د اسلام نه | (بل) دین | نو هیڅ کله به قبول نکړے شی هغه | د ده نه | او دے به

څوك هم چه د اسلام نه سوا بل دین اختیار کړی نو هیڅ کله به ترینه دغه (بل) دین قبول نکړے شی او په

فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٨٥﴾ كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا

په آخرت کښ | د تاوانیانو نه وی | څنګه به | هدایت اوکړی | الله | (دا سے یو) قوم ته | چه کفر ے کړے دے

آخرت کښ به د تاوان مونډونکو په ډله کښ داخل شی۔ دا سے قوم ته به الله څنګه هدایت ورکړی چه دا سلام راوړونه پس ے کفر

بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ

پس | د ایمان راوړلو نه | او گواهی ے کړیده | چه بیشکه | (دا) پیغمبر | حق دے | او راغلی دی دوی ته

اختیار کړو حالانکه دا گواهی ے هم ورکړے ده چه دا پیغمبر په حقه دے او ښکاره دلیلونه ورته هم راغلی وو

الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٦﴾ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ

ښکاره دلیلونه | او الله | هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته | دغه کسان | سزا ددوی دا ده

او الله تعالی ظالم قوم ته هدایت نه کوی ـ د داسے خلقو سزا دا ده

اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٧﴾

چه بیشکه وی به | په دوی باندے | لعنت | د الله | او د ملائکو | او د خلقو | ټولو

چه د الله او د ملائکو او د ټولو خلقو لعنت به پرے وی

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٨﴾

همیشه به وی | په دے کښ | نه به شی سپکولے | ددوی نه | عذاب | او نه به | دوی ته | مهلت ورکولے شی

او په دغه لعنت کښ به همیشه وی نه به ئے په عذاب (سزا) کښ څه کمے راځی او نه به ورته څه مهلت ورکولے شی

اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۫ فَاِنَّ اللّٰهَ

مګر | هغه کسان | چه توبه ئے اوکړه | پس د دینه | اوو ئے کړل نیک کارونه | نو بیشکه | الله

هاں چه کومو کسانو ددینه پس توبه اوویسته له اوخپل عملونه ئے درست کړل (خپله اصلاح ئے اوکړه) نو یقیناً الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٨٩﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ

ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے اوکړو | پس | د ایمان راوړلو نه

ډیر معافی کونکے ډیر رحم کونکے دے ـ (ددے په عکس چه) یقیناً کومو خلقو د ایمان راوړو نه پس کفر اختیار کړو

ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

بیا | زیات (کلک) شو | په کفر کښ | هیڅکله به قبوله نکړے شی | توبه د ددوی | او هم دغه کسان دی

او بیا په کفر کښ وړاندے لاړل، او په کفر کښ کلک شول نو د ددوی توبه به هیڅکله قبوله نشی او دغه خلق

هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ

دوی (پوره) ګمراهان | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے اوکړو | او مړه شول | په داسے حال کښ چه وو دوی | کافران

پوره ګمراهان دی ـ یقیناً کومو خلقو چه کفر اختیار کړو او (بیا) د کفر په حالت ورله مړ ک راغے

فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ افْتَدٰى

نو هیڅکله به قبول نکړے شی | د هیڅ یو کس ددوی نه | په مقدار د ډکوالی | د زمکے | سره زر | اګر که فدیه ورکول اوغواړی

نو که په دوی کښ یو کس ټوله زمکه د سرو زرو نه ډکه کړی او د فدیے په طور ئے پیش کړی

بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٩١﴾ ع

په دے سره | هم دغه کسان | خاص ددوی دپاره | عذاب دے | دردناک | اوله به وی | دوی دپاره | هیڅ (څوک) مدد کاران

نو هم به ترینه قبوله نه شی او هم د دغه خلقو دپاره دردناک عذاب دے او هیڅ څوک مدد کار به ئے نه وی

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۬ؕ وَ مَا

هیڅ کله نشئ حاصلولے نۀ سو | نیکی | تر دے | چه خرچ کړئ نۀ سو | دهغه څه نه | چه خوښوئ ے نۀ سو | او هغه څه
نۀ سو پوره نیکی تر هغه وخته پورے نه شئ حاصلولے تر څو چه نۀ سو دخپل محبوب څیزونو نه څۀ حصه د الله

تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ﴿۹۲﴾ كُلُّ الطَّعَامِ

چه خرچ کوئ ے نۀ سو | د څه څیز نه | نو بیشکه | الله | په هغے باندے | پوهه دے | ټول | خوراکونه
په لار کښ اونه لګوئ او نۀ سو چه څۀ څیز هم د الله په لار کښ لګوئ نو الله ته هغه ډیر ښه معلوم دے. دتورات دنازلیدو نه مخکښ

كَانَ حِلًّا لِّبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِیْلُ عَلٰى نَفْسِهٖ

وو | حلال | د پاره د بنی اسرائیلو | مګر | هغه | چه حرام کړی وو | یعقوب | په ځان خپل باندے
دخوراک ټول څیزونه (کوم چه دمسلمانانو دپاره حلال دی) دبنی اسرائیلو دپاره (هم) حلال وو سوا دهغے څیزونو نه چه یعقوب

مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَاۤ

مخکښ | د نازلیدلو | د تورات نه | اووایه | پس راوړئ | تورات | نو اولولئ هغه
پخپله په ځان باندے بند کړے وو اے پیغمبره ایهودیانو ته اووایه چه کۀ تاسو رشتینی یئ نو تورات راوړئ

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

کۀ چرے یئ تاسو | رشتینی | پس چا | چه وترل | په الله باندے | دروغ
اووئ لولئ۔ د دے وضاحت نه پس بیا هم چه څوک الله باندے دروغ وائی

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۹۴﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۟

پس د دے (وضاحت) نه | نو هم دغه کسان | دی ظالمان | اووایه | رشتیا اووئیل | الله
نو هم دغه کسان غټ ظالمان دی. پیغمبره اته ورته اووایه چه (الله څه وئیلے دی) رشتیا ئے وئیلے دی

فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا ؕ وَ مَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۹۵﴾

پس تابعداری اوکړئ | د ملت | د ابراهیم | چه کلك ووپه توحید | او نه وو هغه | د مشرکانو نه
نو تاسو د ابراهیم چه حق پرست وو او د مشرکانو نه نۀ وو دهغۀ د دین تابعداری اوکړئ.

اِنَّ اَوَّلَ بَیْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِیْ بِبَكَّةَ

بیشکه | اولنے | کور | چه جوړ کړے شوے دے | د پاره د خلقو | خامخا هغه دے | چه په مکه کښ دے
یقیناً رومبنے کور چه د خلقو د عبادت د پاره جوړ شوے دے هغه کور دے چه په مکه کښ دے

مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِیْنَ ﴿۹۶﴾ فِیْهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ مَّقَامُ

د برکت نه ډک کړے شوے | او هدایت دے | د پاره د خلقو | په هغے کښ | نښانے دی | ښکاره | څائے د اودریدو
چه د برکت څائے دے او د خلقو د پاره د هدایت مرکز دے۔ (او) په هغے کښ ښکاره نښانے دی چه یو د هغے نه مقام

اِبْرٰهِیْمَ ۚ۬ وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ

د ابراهیم | او څوك | چه داخل شو دے ته | نو شو هغه | په امن | او خاص الله د پاره دے | په خلقو
ابراهیم دے او څوك چه داخل شو دے کورته نو هغه په امن شو او دَچا چه هلته د رَسیدو وَس وی

حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ

حج | د بیت الله | څوك | چه طاقت لری | دے ته | د لارے | اوچا چه | انکار اوکړو | نو بیشکه

نوپه هغهٔ باندے د الله درضا دپاره دبیت الله حج فرض دے اوکهٔ څوك انکار اوکړی نو الله دټول

اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ

الله | بے نیازدے | د مخلوقاتو نه | اووایه | اے اهل کتابو! | ولے انکار کوئ تاسو

مخلوقاتو نه بے نیازدے. اے پیغمبره! اهل کتابو ته اووایه چه تاسو دالله دایتونو نه انکار ولے کوئ؟

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۸﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

د آیتونو | دالله نه | او الله | خبر دے | په هغه څهٔ | چه تاسوئ کوئ | اووایه | اے اهل کتابو!

حالانکه الله ستاسو دټولو کارونو نه خبر دے چه تاسوئ کوئ. اے پیغمبره! اووایه اهل کتابو ته چه تاسو

لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا

ولے منع کوئ تاسو | د لار د الله نه | هغه څوك | چه ایمان ځړاوړے دے | لټوئ تاسو په دے کښې

دالله د لارے نه هغه څوك ولے منع کوئ چه ایمان ځړاوړے دے (او) تاسو دالله په دین کښې

عِوَجًا وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۹﴾

کوږوالے | اوحال دادے چه یئ تاسو | گواهان (عالمان) | اونه دے الله | لے خبره | دهغه څهٔ نه | چه تاسوئ کوئ

د کوږوالی پیدا کولو کوشش کوئ حالانکه تاسو دحقیقتِ حال گواهان یئ او الله ستاسو دعملونو نه بے خبره نه دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | که چرے خبره اومنئ تاسو | د یوے ډلے | د هغه کسانو

اے مومنانو کهٔ چرے تاسو د اهل کتابو د یوے ډلے خبره اومنله نو د ایمان

اُوْتُوا الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَكَيْفَ

چه ورکړے شوے دے ورته | کتاب | نو وایه ږوی تاسو لره | پس | دایمان راوړلو ستاسونه | کافران (کفرته) | او څنګه به

راوړو نه پس به مو دوباره کافران (مرتد) کړی. او تاسو به په دے حالت کښې کفر

تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ

کفر کوئ تاسو | اوحال دادے چه | لوستلے شی | په تاسو باندے | آیتونه | دالله | اودے په تاسو کښې (موجود)

څنګه خو بهوئ چه تاسو ته دالله دایتونو تلاوت اوبیان کیږی اوپه تاسو کښې دالله پیغمبر هم موجود دے (په ژوند دهغهٔ کښې

رَسُوْلُهٗ ؕ وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى

پیغمبر دالله | اوچا چه | مضبوط اونیولو | (دین) دالله | نو یقیناً | هدایت اوکړے شو هغه ته | په طرف

اوپس دَ وفات نه سنت دَ هغهٔ) او (دالله سنت دا دی چه) څوك هُم دالله دین مضبوط اونیسی

صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ

د لارے | نیغے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | اویریږئ | دالله نه | څنګه چه حق دے

نوسمے لارے ته اورسولے شو. اے مومنانو! دالله نه داسے ډیره اوکړئ څنګه چه دهغهٔ نه ډیریدو

تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝ وَاعْتَصِمُوْا

دهغه ته لکه دیره ویره | او مه مره کیږئ تاسو | مګر | په داسے حال کښ چه ګڼ تاسو | مسلمانان | او مضبوط او نیسئ

حق دے او پکار دی چه تاسو له دِ مرګ په داسے حالت کښ راشی چه تاسو مسلمانان او منونکی د توحید یئ او ټول

بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا ۠ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

رسئ | د الله | ټول | او مه کیږئ جدا جدا | او یاد کړئ | نعمت | د الله | په تاسو

په شریکه د الله رسئ (دین) مظبوطه او نیسئ او خپلو کښ ډله بازی مه کوئ او د دغه رسئ نه مه جدا کیږئ او د الله

اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ

کله چه | وئ تاسو | دشمنان | نو الله محبت واچولو | په مینځ | د زړونو ستاسو کښ | نو شوئ تاسو

د اسلام په برکت یاده کړئ چه تاسو خو دیو بل دُشمنان وئ خو الله ستاسو په زړونو کښ محبت واچولو

بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ۚ وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ

په سبب د نعمت دهغه | زُونړه (دیو بل) | او وئ تاسو | په غاړه | د کندے | د | اور

او د الله په مهربانئ سره تاسو زُونړه زُونړه جوړ شوئ او تاسو د اور د کندے په غاړه ولاړ وئ خو الله ترینه

فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ

نو بچ کړئ الله تاسو | دهغے اُورنه | هم دغه شان | بیانوی | الله | تاسو ته | آیتونه خپل

خلاص کړئ هم دغه شان الله خپل قوانین او آیتونه تاسو ته دے د پاره بیانوی چه تاسو په

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝ وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ

دے د پاره چه تاسو | هدایت او مومئ | او خامخا دے وی | ستاسو نه | یوه ډله (داسے) | چه بلنه کوی

سَمه لار باندے پاتے شئ ۔ او په تاسو کښ داسے یَوه ډله ضرور پکار ده چه خلقو ته دنیکئ

اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ۭ

د خیر طرف ته | او حکم کوی | په نیکئ باندے | او منع کوی | د بدئ نه

دعوت ورکوی او د ښو کارونو حکم وَرته کوی او د بدو کارونو نه ځ منع کوی

وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا

او دغه کسان | خاص دوی | کامیاب دی | او مه کیږئ تاسو | پشان د هغه کسانو | چه ډلے ډلے شو

او هم دغسے خلق کامیابی مونډونکی دی. او (اے مومنانو) تاسو د هغه چا پشان مه کیږئ چه د بنکاره دلیلونو د راتلو

وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَاۗءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ

او اختلاف ځ او کړو | پس د دے نه | چه راغلل دوی ته | بنکاره دلیلونه | او دغه کسان | شته د پاره د دوی

نه پس د خپل نبی د کتاب او سنت په پریخودلو کښ ځ له ځ له شول او اختلاف ځ او کړو د کتاب او سنت نه. هم دغسے خلقو د پاره

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ۚ

عذاب | دیر لوئے | په کومه ورځ | چه سپین به شی | څه مخونه | او تور به شی | څه مخونه

دیر لوئے عذاب مقرر دے (څکه چه د اکارونه د کفر دی). په کومه ورځ چه بعضے مخونه به سپین او بعضے مخونه به تور شی

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ ۫ اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ

پس هغه کسان | چه تور شوے وی | مخونه دهغوی | (اوبه ویلے شی) آیا کفر کړے ووتاسو | پس دایمان خپل نه

نودچا مخونه چه تور شوی وی هغوی ته به اووئیلے شی چه آیا تاسو دایمان راوړونه پس بیا کفر اختیار کړے وو

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

نو اوشکئ | عذاب | په بدله ددے کښی | چه تاسو همیشه | کفر کړے وو | او هغه کسان

نو اوس د خپل کفر په سزا کښی د عذاب خوند اوشکئ او (بل طرف ته) د چا مخونه چه

ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمْ فِيْهَا

چه سپین شوی وی | مخونه دهغوی | نووی به (هغوی) | په رحمت | دالله کښی | دوی به | په دے رحمت کښی

سپین شوی وی نو هغوی به د الله په رحمت کښی وی او په هغے کښی به

خٰلِدُوْنَ ۝ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَمَا

همیشه وی | دا | آیتونه | دالله دی | چه بیانوو مونږ دے لره | تاته | په حق سره | اونه دے

همیشه ژوند تیروی. دا د الله حکمونه دی چه مونږ ئے تا ته ټیک ټیک بیانوو

اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

الله | چه اراده لری | د ظلم | په مخلوقاتو باندے | او خاص دالله (په اختیار کښی) دی | هغه څهٔ | چه په اسمانونو کښی دی

او الله په مخلوقاتو باندے ظلم کول نه غواړی. او په آسمانونو او زمکه کښی چه څهٔ دی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝ كُنْتُمْ خَيْرَ ع

او هغه څهٔ | چه په زمکه کښی دی | او خاص الله ته | واپس کولے شی | ټول کارونه | یئ تاسو (همیشه) | دیر غوره

هغه ټول یوا ځے دالله په اختیار کښی دی او ټولے معاملے به اخر الله ته پیش کیږی. اے مسلمانانو تاسو خو

اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ

امت (ډله) | چه راویستلے شوے یئ | د پاره د خلقو | (څکه چه) حکم به کوئ تاسو | د نیکئ | او منع کوئ به تاسو

ډهمیشه نه دا سے غوره امت یئ چه د خلقو د فائدے (هدایت) د پاره پیدا کړے شوی یئ او دا څکه چه تاسو به خلقو ته د نیکئ حکم کوئ

عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ

د بدئ نه | او ایمان به لرئ تاسو | په الله | او که چرے | ایمان راوړی | اهل کتاب (هم)

اود بدو نه به ئے منع کوئ او په الله باندے به کامل ایمان لرئ او که دا اهل کتاب ایمان راوړی

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ

نو خامخا وی به دا | غوره | د پاره د دوی | بعضے د دوی نه | مومنان دی | او ډیر د دوی نه

نو دا به د دوی د پاره (فی نفسه) غوره وی په دوی کښی لږ ایمان دار دی او ډیر پکښی

الْفٰسِقُوْنَ ۝ لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ اِلَّاۤ اَذًى ؕ وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ

نافرمان دی | هیڅ کله نشی رسولے دوی تاسو ته نقصان | مګر | صرف تنګول په ژبو | او که چرے جنګ او کړی دوی تاسو سره

نافرمانه (کافر) دی۔ دا اهلِ کتاب سوا د تنګولو او خفه کولو نه تاسو ته نور هیڅ تکلیف نشی رسولے او که چرته دوی

يُوَلُّوكُمُ الْاَدْبَارَ ۫ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ

نو اوبه گرځوی دوی تلسوته | شاکانے خپلے | بیا به | مدد او نکرے شی ددوی | وهلے شوے دے | په دوی باندے

تلسو سره جنګ شروع کړی نو زړه مړ ته شاکړی او تیښته به او کړی د جنګ نه. او دوی سره به هیڅ امداد نشی کیدے. چرته چه هم

الذِّلَّةُ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ

ذلت | هر ځائے | چه اومونده لے شی دوی | مګر (چه مضبوط کړی ځان) | په رسئ | د الله پورے | او په رسئ

دوی ټول نو ظاهري ذلت به پرے مسلط وی خو که د الله په پناه کښ خپل ځانونه ور کړی او د مومنانو په پناه کښ نو د ظاهري هر قسمه

مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ

د مؤمنانو پورے | او اخته شوی دی دوی | په غضب | د الله | او تاپه کړے شوے دے | په دوی باندے

ذلت نه به بچ شی (سوا د جزیے نه) او دوی د الله په غضب کښ راګیر شوی دی او د زړونو محتاجی او خواری پرے

الْمَسْكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

خواری (محتاجی) | دا په دے وجه | چه بیشکه دوی | وو | چه کفر ئے کولو | په آیتونو | د الله

کلکه تاپه کړے شوے ده دا ځکه چه دوی به د الله د ایتونو نه انکار کولو

وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا

او وژل ئے | پیغمبران | په ناحقه | دا | په دے وجه | چه نافرمانی کوله دوی | او وؤ دوی

او پیغمبران به ئے په ناحقه شهیدان کول. او د دے وجه دا وه چه دوی نافرمانی کړے وه او

يَعْتَدُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ لَيْسُوْا سَوَآءً ؕ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ

چه د حد نه به تیریدل | نه دی دوی ټول | برابر | د اهل کتابونه | یوه (داسے) ډله ده

د حد نه تیروتلے وو. (خو) ټول اهل کتاب یو شان نه دی بلکه په دوی کښ دا سے یوه ډله هم شته

قَآئِمَةٌ يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

ولاړه (په دین) ده | چه لولی | آیتونه | د الله | په وختونو | د شپے کښ | او دوی | سجدے کوی (الله ته)

چه په حق مظبوط ولاړه ده د شپے په وخت کښ د الله ایتونه لولی او هغه ته په سجده پراته وی

يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

ایمان لری دوی | په الله | او په ورځ | روستنئ باندے | او حکم کوی دوی | د نیکئ

په الله تعالی او په آخرت باندے یقین لری او خلقو ته د نیکئ حکم کوی

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ

او منع کوی | د بدئ نه | او ګندی کوی | په نیکو کارونو کښ | او دغه کسان

او د بدو کارونو نه ئے منع کوی او د نیکئ په کارونو کښ دیوبل نه وړاندے کیږی او هم دغه اهل کتاب

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ؕ

د نیکانو نه دی | او هغه څه | چه کوی ئے دوی | څه د نیکئ نه | نو هیڅ کله به محرومه نکړے شی ثواب د هغے نه

د نیکانو په ډله کښ دی. او دوی چه څه نیکی هم کوی نو د هغے به هیڅ کله ناقدری نه کیږی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ

او الله | ښه پوهه دے | په متقیانو باندے | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | هیڅ کله به لرے نکړی

او الله متقیان ښه پیژنی (د دے برعکس) یقیناً کومو خلقو چه کفر اختیار کړے دے

عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاُولٰٓئِكَ

د دوی نه | مالونه د دوی | او نه اولاد د دوی | (د عذاب) د الله نه | هیڅ څیز | او دغه کسان

نو د الله د عذاب په مقابل کښې به نه د دوی مالونه پکار راشی او نه د دوی اولاد او دغه کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ

اور والا دی | دوی به | په دے کښې | همیشه وی | مثال | د هغه څه | چه خرچ کوی ئے دوی

همیشه دوزخیان دی (او دا مالونه ورته څه فائده نه ورکوی) چه کوم مالونه دوی سره د خپل کفر او شرک نه په دے دنیوی ژوند

فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ

په دے | ژوند دنیوی کښې | پشان | د (داسے) سیلۍ دے | چه وی په هغے کښې | سخته یخنی (یا گرمی او)

کښې خرچ کوی (نو په آخرت کښې) د هغے مثال په شان د داسے سیلۍ دے چه په هغے کښې سخته گرمی او یا گرمی او وی او دا یو داسے قوم

اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ

چه اورسی (داسیلۍ) | فصل | د هغه قوم ته | چه ظلم کړے وی هغوی | په ځانونو خپلو | نو برباد کړی هغه سیلۍ دے فصل لره

فصل ته اورسی چه هغوی په خپلو ځانونو باندے (په سبب د ګناهونو) ظلم کړے وی نو دغه سیلۍ ورله ټول فصل او برکت د هغے تباه کړی

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او نه دے ظلم کړے په دوی باندے | الله | لیکن | دوی په خپلو ځانونو | (په خپله) ظلم کوی | اے هغه کسانو

او دا الله د طرف نه په دوی باندے ظلم نه دے بلکه دوی په خپله (په سبب د کفر او شرک سره) ظلم کړے وو په خپلو ځانونو اے مومنانو

اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ

چه ایمان مو راوړے دے | مه نیسئ | (څوک) راز دار دوست | سوا ستاسو (ایمان والو) نه | نه کوی کیدے دوی تاسو ته

د مسلمانانو نه سوا نور داسے خلق مه راز دار کوئ چه ستاسو په برباد ولو کښې هیڅ

خَبَالًا ؕ وَدُّوْا مَا عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ

په نقصان رسولو کښې | غواړی دوی | تکلیف کښې اچول ستاسو | یقیناً | ښکاره شوے دے | بُغض

کوتاهی نه کوی او هغه خبره خو ښه وی په کومه چه تاسو ته تکلیف رسی بُغض ئے د خُولو نه ښکاره شوے دے

مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۖۚ وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ؕ قَدْ

د خُولو د دوی نه | او هغه څه | چه پټوی ئے | سینے د دوی | دیر زیات لوئ دی (د خولو د خبرونه) | یقیناً

او کوم (عداوت) چه ئے په سینو کښې پټ دے هغه د دینه هم زیات دے که تاسو د عقل نه کار اخلئ نو یقیناً

بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝ هٰٓاَنْتُمْ اُولَآءِ

بیان کړی دی مونږ | تاسو ته | نخښے د دوی | که تاسو | عقل لرئ | خبردار تاسو | هغه خلق یئ (اے مومنانو)

مونږ تاسو ته (د هغوی د دشمنئ) نخښے اوښودلے گورئ تاسو لکیا یئ

تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ

چه محبت کوئ تاسو دوی سره | او محبت نه کوی دوی تاسو سره | او منئ تاسو | کتابونه | ټول

دوی سره مینه کوئ خو دوی تاسو سره مینه نه کوی او تاسو ټول آسمانی کتابونه منئ (او دوی صرف خپل کتاب منی)

وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۖۚ وَاِذَا خَلَوْا

او کله چه | ملاقات او کړی دوی تاسو سره | نو وائی | مونږ (هم) ایمان راوړے دے | او کله چه | خالله شی (ستاسو نه)

او کله چه دوی تاسو سره ملاقات او کړی نو وائی چه مونږ هم مومنان یُو او کله چه خالله یوا خے شی

عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۭ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ

نو چکونه لګوی | ستاسو دوے نه | په سرونو د ګوتو | د غصے نه | اووایه | مړه شئ | په غصه خپله کښ

نو د ډیرے غصے دوے نه د ډیرے په ګوتو چکونه لګوی. ورته اووایه چه په دے خپله غصه کښ مړه شئ

اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ اِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ

بیشکه | الله | ښه پوهه دے | په راز | د سینو | که چرے | اور سیږی تاسو ته | څهٔ خوشحالی

یقیناً الله ته د ټولو انسانانو د زړونو حال معلوم دے. که چرے تاسو ته څه خوشحالی (فائده) وُرسی نو په هغے خفه کیږی

تَسُؤْهُمْ ۡ وَاِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَّفْرَحُوْا بِهَا ۭ وَاِنْ

نو خفه کوی دوی لره | او که چرے | اور سیږی تاسو ته | څهٔ مصیبت | نو خوشحاله شی دوی | په هغے | او که

او که په تاسو څه مصیبت راشی نو په هغے خوشحاله شی او که چرے تاسو

تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـــًٔا ۭ

تاسو صبر وکړو | او پرهیزګاری مو اوکړه | نو ضرر نشی رسولے تاسو ته | تدبیر (مکر) د دوی | هیڅ

د صبر او تقوٰی نه کار واخلئ نو د دوی چالونه تاسو ته هیڅ ضرر نه شی رسولے

اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ۝ وَاِذْ غَدَوْتَ ع

بیشکه | الله | په هغه څه | چه کوی ئے دوی | احاطه کونکے (پوره خبردار) دے | او کله چه | سحر وختی اووتلے ته

یقیناً الله د دوی د عملونو نه پوره خبردار دے۔ او اے پیغمبره! هغه وخت یاد کړه کله چه ته

مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۭ وَاللّٰهُ

د کورنئ خپلے نه | تیارول (کینول) تا | مومنان | په مورچو کښ | د پاره د جنګ | او الله

د خپل کور نه سحر وختی راووتلے او مومنان دے په مورچو کښ د جنګ د پاره مقرول او الله

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝ اِذْ هَمَّتْ طَّاۗىِٕفَتٰنِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا ۙ

ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے | کله چه | قصد اوکړو | دوو ډلو | ستاسو نه | چه همت بائیلی هغوی دواړه

اوریدونکے او پوهه دے (په هغه مشوره چه د جنګ بارہ کښ کیدے). کله چه په تاسو کښ دوو ډلو د نامړئ او د همت بائیللو کلکه اراده اوکړه

وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ وَلَقَدْ

او الله | دوست د دوی وو | او خاص الله باندے | ځان دے اوسپاری | مؤمنان | او یقیناً

حالانکه الله د هغوی مددګار وو او مومنانو لره خو همیشه په الله باندے بهروسه ساتل پکار دی. او (د دینه وړاندے)

نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

مدد کړے دے ستاسو | الله | په بدر کښ | پداسے حال کښ چه وئ تاسو | کمزوری | نو اویریږئ | د الله نه

الله دبدر په میدان کښ (هم) ستاسو امداد کړے وو حالانکه هغه وخت کښ تاسو ډیر کمزوری وئ نو د الله نه ویریږئ

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ

دے دپاره چه تاسو | شکر ادا کړئ | کله چه | اوئیل تا | مومنانو ته | آیا نه ده کافی تاسو لره

چه شکر گزار جوړ شئ. کله چه د بدر په موقع تا مومنانو ته اوئیل چه آیا تاسو دپاره دا خبره پوره نه ده

اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾

دا چه | مدد اوکړی ستاسو | رب ستاسو | په درے | زره | ملائکو | را کوزے کړے شوے (د آسمان نه)

چه الله (ستاسو د امداد دپاره) درے زره ملائکے د اسمان نه را کوزے کړی

بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ

ولے نه (ده کافی) | که تینګ شوئ تاسو | اوپرهیزګاری اوکړه تاسو | او حمله اوکړی دوی په تاسو | سمدستی (په خپله غصه کښ)

ولے نه (کافی ده) که تاسو په جنګ کښ ثابت قدم پاتے شوئ او دبزدلئ او ناشکرئ نه مو پرهیز اوکړو او دشمن په جوش کښ

هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ

دغه دے | مدد به وکړی ستاسو | رب ستاسو | په پنځه | زره | ملائکو سره

سمدستی په تاسو حمله اوکړی نو نزدے ده چه الله به په پنځوزرو ملائکو ستاسو امداد اوکړی چه خاص

مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ

چه نشان دار ے به وی | اونه دے | اګر خو لے دغه (مدد) | الله | مګر | زیرے | ستاسو دپاره | او چه مطمئن شی

نخښے به ئے دَ جنګ لګولے وی. او دَ دے مدد انتظام خو الله ځکه اوکړو چه تاسو خوشحاله شئ او زړونه مو

قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ۭ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ

زړونه ستاسو | په دے سره | اونه دے | مدد | مګر | د طرفه | د الله نه دے | (چه) زور اور

په ځائے شی او غلبه خو صرف د الله د طرف نه ده چه زور اور او حکمت والا

الْحَكِيْمِ ﴿۱۲۶﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ

لوحکمت والا دے | دا دپاره دے چه هلاک کړی الله | یوه ډله | دهغه کسانو نه | چه کفر ے کړے دے | او یا ذلیل کړی دوی

ذات دے (جنګ بدر کښ مدد الله دے دپاره اوکړو) چه دکافرو یوه ډله هلاک کړی یا ئے خوار او ذلیل کړی

فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ

نو واپس به شی دوی | ناکامه (ناامیده) | نشته دے | ستا | په دے کار کښ | هیڅ شیز (داختیار نه)

نو نامراده به واپس لاړ شی۔ اے پیغمبره! (ددوی) فیصله ستا په لاس کښ نه ده (که الله ته خوښه وی)

اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۲۸﴾

یا به (خو) | مهربانی اوکړی الله | په دوی باندے | یا به | سزا ورکړی دوی ته | پس بیشکه دوی | ظالمان دی

نو توفیق دَ ایمان به ورکړی او توبه به ئے قبوله کړی او یا به ورله عذاب ورکړی ځکه چه دا خلق ظالمان دی

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ يَغْفِرُ

اوخاص (دالله په اختیار کښ) دی | هغه څه | چه دی په آسمانونو کښ | اوهغه څه | چه دی په زمکه کښ | بخښنه کوی الله

او په اسمانو نو او زمکه کښ چه څهٔ (هم) دی هغه ټول دالله په اختیار کښ دی چاته چه غواړی نو بخښه

ع ۱۹ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۱۲۹

چاته | چه اوغواړی | اوسزا ورکوی | چاته | چه اوغواړی | اوالله | دیر بخښونکے | دیر مهربان دے

ورته کوی او چاته چه غواړی نو عذاب ورکوی او الله تعالیٰ دیر معافی کوونکے دیر مهربان دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۪

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه خورئ تاسو | سُود | دوچند | په دوچند

اے مومنانو! تاسو سود مهٔ خورئ چه په څو څوچنده ځے عادتًا خورئ او په سود خورلو کښ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝۱۳۰ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ

اوأویریږئ | دالله نه | دے دپاره چه تاسو | کامیاب شئ | او اویریږئ | د اور نه | هغه | چه تیار کړے شوے دے

دالله نه اویریږئ چه کامیاب شئ څکه چه سود شیوه دَ کفر ده او کفر سبب د اور دے لو دهغه اور نه ځان بچ وساتئ چه د کافرانو

لِلْكٰفِرِيْنَ ۝۱۳۱ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝۱۳۲

دپاره د کافرانو | او حکم اومنئ | د الله | او د رسول | دے دپاره چه په تاسو | رحم اوکړے شی

دپاره تیار کړے شوے دے او (په خوشحالئ) دالله او دهغه د رسول خبره اومنئ چه په تاسو رحم اوکړے شی

وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ

او منډه کړئ | بخښنے | دَ رب خپل ته | او جنت ته | چه پلنوالے د هغے | د آسمانونو

او دخپل رب دَ مغفرت طرف ته او دهغه جنت د حاصلولو دپاره دیوبل نه وړاندے اوکړئ چه د هغے پلنوالے د اسمانونو

وَالْاَرْضُ ۙ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝۱۳۳ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ

اودزمکے (برابر) دے | تیار کړے شوے دے | دپاره د متقیانو | هغه کسان | چه خرچ کوی | په خوشحالئ کښ

اودزمکے برابر دے او دا دهغه متقیانو دپاره تیار شوے دے چه په خوشحالئ او بدحالئ د هر حالت نو کښ خلقو ته د فائدے رسولو په

وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ

اوپه تکلیف کښ | اوتیږوونکی (خوړونکی) | د غصے دی | اومعافی کوی | خلقو ته | او الله

غرض دالله د رضا دپاره موافق د حکم دالله خپل مال لګوی او دوی دا چه خلق د خپل ضرر نه بچ ساتی دا دے موجب غصه پیه قابو کښ ساتی

يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝۱۳۴ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا

خوښوی | (داسے) نیکان | اودا هغه کسان دی | کله چه | اوکړی | څهٔ بدکار | یا ظلم اوکړی

او دوی دا چه د خلقو قصورونه معاف کوی او الله د دا سے نیکانو خلقو سره مینه کوی او دوی دا سے خلق دی چه کله ترینه د دا سے حیائی څهٔ کار اوشی

اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۪ وَمَنْ

په ځانونو خپلو | نو یاد کړی | الله لره | (پس) بخښنه غواړی | د خپلو جرمونو | او څوك دے

یا په ځان څه زیاتے اوکړی نو (فورًا) الله را یاد کړی او د خپلو گناهونو بخښنه ترینه غواړی

يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۫ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا

چه اوبخښي | ګناهونه | سوا | دالله نه | او نه دوی ټینګیږي | په هغه ګناه باندے | چه اوے کړی

اود الله تعالی نه سوا څوک ګناهونه بخښلے شی؟ او په خپلو ګناهونو باندے سره د پوهے

وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ

اوحال دادے چه دوی | پوهیږی | دغه کسان دی | بدله د دوی | بخښنه ده | د طرفه د رب خپل نه

همیشوالے نه کوی هم د دا سے خلقو بدله د خپل رب د طرف نه مغفرت دے او دا سے

وَجَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَنِعْمَ

او (دا سے) جنتونه دی | چه بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښ | او ښه دے

جنتونه دی چه د هغے د اونو د لاندے به نهرونه بهیږی اودوی به په هغے کښ همیشه وی اودنیك عمل کوونکو دپاره

اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ فَسِيْرُوْا

اجر | د عمل کوونکو | یقیناً | تیر شوی دی | مخکښې ستاسو نه | واقعات (دهلاکت دقومونو) | نو وکړئ

دا دپیره ښه بدله ده یقیناً تاسو نه مخکښې پیر واقعات (دمخکینو منکرینو امتونو) تیر شوی دی نو تاسو (خو) په

فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝

په زمکه کښ | نو اوګورئ | (چه) څنګه | شوے وُو | انجام | د دروغ ګنړونکو

زمکه لږ د عبرت حاصلولو دپاره وګرځئ چه چا دالله پیغمبران دروغژن ګنړل دهغوی څه انجام شو

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ وَلَا تَهِنُوْا

دا (قرآن) | بیان دے | دپاره د ټولو خلقو | اوهدایت دے | اونصیحت دے | دپاره د متقیانو | اومه سُستیږئ

دا قرآن د ټولو خلقو دپاره بیان اووضاحت دے خو فائده د هدایت اونصیحت ترینه صرف متقیان حاصلوی ـ اے مسلمانانو اد دنیا د محبت

وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ اِنْ

اومه غمژن کیږئ | او تاسو به | غالب یئ | که چرے یئ تاسو | مومنان | که چرے

دَ و جنے په جهاد کښ سستی مه کوئ او د مال او اولاد او د ملګرو په جدائی اظهار د غم مه کوئ او که تاسو واقعی مومنان یئ نو هم تاسو به غالب یئ

يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ

اور سیږی تاسو ته | څه زخم (لږ کمزورے کیږئ مه) | حُکه چه یقیناً | رسیدلے دے | قوم (کافرو) ته | زخم

په جهاد کښ (اے مؤمنانو) پدے جنګ (اُحد) کښ څه زخم رسیدلے دے نو کافرانو ته هم ددے نه مخکښ اواوس

مِّثْلُهٗ ؕ وَتِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ

پشان دَدے | او دا (خو) | ور څے دی | اړوورا روو ئے مونږ | په مینځ | د خلقو کښ | اودے دپاره چه ښکاره کړی

دغه شان زخم رسیدلے دے او دا خو حالات دی چه مونږ ئے د خلقو په مینځ کښ د څه حکمت په تو ګه بدلوو اوبدلوو په دے تکلیف کښ

اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ

الله | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | اوداچه جوړ کړی | بعضے د ستاسو نه | شهیدان | او الله

مقصد دا هم ووچه الله تعالی ایماندار د منافقانو نه ښکاره (جدا) کړی او په تاسو کښ بعضو ته د شهادت درجه نصیب کړی

لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نه خوښوی | ظالمان | اودے دپاره چه پاک کړی | الله (دګناه نه) | هغه کسان | چه ایمان ـ ځړاوړے دے

اوداعارضی فتحه ددے وجه نه نه ده چه دوی نه الله خوشحاله دے ځکه چه دالله ظالمان خوښ نه دی اومقصد پکښ داهم وو

وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ

او چه هلاك کړی | کافرانو لره | آیا | ګمان کوئ تاسو | داچه | داخل به شئ تاسو | جنت ته

چه الله تعالیٰ مومنان دګناهونو نه ښه پاك کړی او کافران تباه کړی۔ ستاسو ګنی داخیال دے چه بغیر دجهاد اوصبر نه په

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ

اولاتر اوسه پورے نه دی | ښکاره کړی | الله | هغه کسان | چه جهاد ځ کړے دے | په تاسو کښې

دخولِ اوّلی سره به جنت ته داخل شئ حالانکه تر اوسه پورے (خو) الله تعالیٰ په تاسو کښې مجاهدین نه دی جدا کړی

وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ

اولانه دی ښکاره کړی الله | صبر کونکی | اویقیناً | وئ تاسو | چه آرزو مو کوله | دمرګ (دشهادت) | مخکښې

او نه ځ لا صبر کونکی جدا کړی دی او تاسو خو پخپله ددے شهادت دلیدو نه مخکښې دمرګ دشهادت

اَنْ تَلْقَوْهُ ۪ فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۳﴾ وَمَا ع

دمخامخ کیدلو ستاسو نه ددے شهادت سره | نو یقیناً | ولیدو تاسو دے لره | او حال دادے چه تاسو | کتل | اونه دے

آرزو کاڼے کړے وے نو اوس در له الله دغه تمنا پوره کړه او مرګ دشهادت مو په خپلو سترګو اولیدو ، او محمد (علیه السلام)

مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ اَفَاۡئِنْ

محمد (علیه السلام) | مګر | یورسول دے | یقیناً | تیر شوی دی | مخکښې ددهٔ نه | دیر پیغمبران | پس که

خپل ځانه دے چه مرګ به پرے نه راځی بلکه رسول دے نو مرګ به پورته راځی لکه څنګه چه ددغه مخکښې ګڼو رسولان تیر شوے دی

مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ؕ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ

مړ شودے | یا اووژلے شو | نو اوړئ به تاسو | په پوندو خپلو | او څوك | چه واوړیدو

اومرګ پرے راغلے دے ، دے په خپل مرګ وفات شی یا شهید اووژلے شی نو آیا تاسو به (په خپلو پوندو) داسلام نه اوړئ؟

عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَسَيَجْزِى اللّٰهُ

په پوندو خپلو | نو هیڅ کله | ضرر نشی رسولے | الله ته | دهیڅ شیز | اوډیر زر به بدله ورکړی | الله

اویادساتی څوك (هم) چه داسلام نه واوړیدو نو هغه الله ته هیڅ نقصان نشی رسولے او الله به ډیر زر شکر ګزاروته (په دین باندے کلکو

الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ

شکر ګزارو ته | او ممکن نه دی | دیو کس دپاره | چه مړ شی | بغیر | د حکم | د الله نه

خلقو ته) بدله ورکړی او هیڅ یو کس د الله د حکم نه بغیر مړ کیدے نشی د مرګ وخت خو مخکښې پخپله مقرر نیټه لیکلے شوے دے

كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ

(دامرګ) لیکل دی | په نیټے سره | او څوك | چه غواړی | بدله | د دنیا | (نو) ورکوو مونږ هغه | دد ے (دنیا) نه

لهٰذا په جهاد کښې سستی مه کوئ او څوك چه په خپل عمل سره د دنیا بدله غواړی نو مونږ به ورله په دنیا کښې څه برخه (بدله) ورکړو

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَسَنَجْزِي

او څوك | چه غواړي | بدله | د آخرت | نوور كوو مونږ هغه ته | د دے (آخرت) نه | او ډير زر به بدله ور كړو مونږ

او څوك چه د اخرت د ثواب د پاره نيك كار كوي نو په (دنيا او په) اخرت كښ به ورله بدلے ور كړو او ډير زر به مونږ

الشّٰكِرِيْنَ ۝ وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ

شكر گزارو ته | او ډيرو وو | د پيغمبرانو نه | چه جنگ كړے وو | د هغوى په ملگرتيا كښ | د خدائى خلقو | ډيرو

د غسے شكر گزارو ته بدله ور كړو چه نيكى د آخرت د پاره كوى او (ستاسو نه وړاندے) ډير پيغمبران (دا سے) وو چه د هغوى په ملگرتيا كښ ډيرو

فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا

نو نه (خو) | همت بائيلو دوى | د وجے د مصيبتونو نه | چه رسيدلى وو دوى ته | په لار | د الله كښ | او نه كمزورى شوى وو

الله والو خلقو جهاد كړے وو نو نه خو هغوى د الله په لار كښ د تكليفونو د وجے نه بزدله شوى وو او نه ئے (دشمن ته) كمزورى بنكاره كړے وه

وَمَا اسْتَكَانُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ

او نه ښكته شوى وو | او الله | خوښوى | صبر كوونكى | او نه وه | ويناد دوى | سوا د دے نه

او نه ئے (دشمن ته) سر ټيټ كړے وو او الله هم دا سے ثابت قدمه خلقو سره مينه كوى. د دغه الله والو خلقو خو بس صرف دا دعاوه

اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا

چه وئيل به ئے | اے ربه زمونږ | او بخښه مونږ ته | گناهونه زمونږ | او زياتے زمونږ | په كار زمونږ كښ

چه اے زمونږ ربه مونږ ته زمونږ گناهونه او زمونږ په كار كښ چه زمونږ نه كومه كمے زياتے شوے دے هغه را ته معاف كړه

وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝ فَاٰتٰىهُمُ

او كلك كړه | قدمونه زمونږ | او مدد (غلبه) را كړه مونږ ته | په قوم | كافرانو باندے | پس ور كړو دوى ته

او زمونږ قدمونه مظبوط كړه او كافرانو باندے مونږ له فتح را كړه نو الله ورله

اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

الله | ثواب (بدله) | د دنيا | او ښه | ثواب (بدله) | د آخرت | او الله | خوښوى

هم د دنيا بدله ور كړه او هم د اخرت بهترين ثواب (ئے ور كړو) او الله دا سے نيكانو خلقو سره

الْمُحْسِنِيْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ ع

نيكان | اے هغه كسانو | چه ايمان مو راوړے دے | كه چرے خبره او منئ تاسو | د هغه كسانو

محبت كوى۔ اے مسلمانانو! كه تاسو د كافرانو خبرے او منلے نو

كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝

چه كفر ئے كړے دے | نو وا به ړوى تاسو | په پوندو ستاسو | نو شئ به تاسو | تاوانيان

واپس به مو (په خپلو پوندو) كفر ته واړوى او بيا به په سخت نقصان كښ پرېوځئ (حكه كافران ستاسو خير خوايان

بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ۝ سَنُلْقِيْ

بلكه | الله | كارساز (مالك) دے ستاسو | او هغه | ډير ښه | مدد كار دے | زر به او غورځوو مونږ

نه دى) بلكه الله ستاسو كارساز (خير خواه) دے او هغه ډير ښه مدد كار دے ډير زر به مونږ

فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ

په زړونو | دهغه کسانو کښ | چه کفر ئے کړے دے | رعب | پدے وجه | چه حصه دار کړے دے دی | دالله سره

دکافرانو په زړونو کښ ستاسو رُعب او هیبت واچوُ حُکه چه دوی دالله سره دا سے څیز ونه شریك کړی دی

مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ

هغه څوک | چه نه دے رالیږلے الله | په هغے باندے | څه دلیل | اوځائے دورتلو دَ دوی | اُور دے

چه الله دهغے په شرکت باندے هیڅ دلیل نه دے رالیږلے اوددوی ځائے دَورتلو دوزخ دے اودا جهنم

وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ

اوډیر نکاره | ځائے داوسیدو | د ظالمانو دے | او یقیناً | رشتیا کړه تاسو سره | الله | وعده خپله

دظالمانو دپاره ډیر بد ځائے دَاوسیدو دے او الله تعالیٰ (خو) تاسو سره خپله وعده په هغه وخت پوره کړے وه

اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ

هغه وخت | چه وژل تاسو دوی لره | په حکم دالله | تر دے | چه کله | کمزوری اوښودله تاسو | اوجګړه اوکړه تاسو

کله چه تاسو دهغه په حکم کافران (دشمنان) وژل تر دے پورے چه تاسو کمزوری اوښودله اودپیغمبر دحکم په بارہ کښې

فِي الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ ۭ

په حکم (دپیغمبر) کښ | اونافرمانی اوکړه تاسو | پس ددے نه | چه اوښودل الله تاسو ته | هغه فتح | چه خوښوله تاسو

موخپلو کښ اختلاف اوکړو او نافرمانی مواوکړه تاسو اودا هر څه پس ددے نه وڅه الله تعالیٰ تاسو ته هغه فتح

مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ

بعضے په تاسو کښ | هغه دی | چه غواړی | دنیا | اوبعضے په تاسو کښ | هغه دی | چه غواړی | آخرت

اوغنیمت ښودلے وو چه تاسو ورسره مینه کوله په تاسو کښ بعضے خلقو دنیا اراده لرله اوبعضے دآخرت طلبګار وو

ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ ۭ

بیا ئے | واړولئ تاسو | ددوی نه | دے دپاره چه ازمیښت اوکړی په تاسو | او یقیناً | معافی کړے دے الله | تاسو ته

بیا الله ستاسو مخه دکافرانو نه واړوله چه ستاسو امتحان واخلی او یقیناً الله تاسو معاف کړی ئے او الله په مومنانو

وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا تَلْوٗنَ

او الله | فضل والا دے | په مومنانو باندے | کله چه | روان وئ تاسو (مدینے ته) | او شاته نه کتل تاسو

باندے دیر فضل کونکے دے. (هغه وخت یاد کړئ) کله چه تاسو (مدینے طرف ته) روان وئ او په شا مو هیڅ ته نه کتل

عَلٰٓى اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ

هیڅ چا ته | او پیغمبر علیه السلام | اواز کولو تاسو ته | په دے حال کښ چه هغه لاړوو په ډله ډله ستاسو کښ | نو په بدل کښ ورکړو تاسو ته الله تعالیٰ

او پیغمبر (علیه السلام) درته دورُوستو نه اواز ونه کول نو الله درته دَتور وغمونو نه علاوه یو غټ غم دَپیغمبر دمرګ دخبر خوریدلو متعلق

غَمًّۢا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰي مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ۭ

غم سره دبدل غم نه | دے دپاره چه غمژن نشئ تاسو | په هغه څه | چه لاړل ستاسو دلاس نه | او نه په هغه څه | چه اورسیدل تاسو ته

درأورسولو دے دپاره چه کوم غنیمت ستاسو دلاس نه لاړو او کوم مصیبتونه چه درته مخکښ دررسیدلے وو په هغے غمژن نشئ

وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ

او الله | ښه خبردے | په هغه څهٔ | چه کوئ ے ئ تاسو | بیا | راولیږلو الله | په تاسو | پس د غم نه

او الله ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دے. بیا الله د دے (لوئ) غم نه پس ستاسو زړونو کښ

اَمَنَةً نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ قَدْ

امن | (یعنی) پر کالی | چه پتوله ئ | یوه ډله | ستاسو نه | اویوه بله ډله وه | چه یقینا

اطمینان پیدا کړو چه یو ټولی (مسلمانانو) له خوب جوتے ور کولے اویو ے ډلے (منافقانو) سره (په دغه وخت کښ) هم صرف

اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ

په غم کښ اچولی وو هغوی لره | ځانونو خپلو | ګمان ئ کولو | په الله باندے | ناحق | ګمان

د خپل ځان فکر وو چه د الله باره کښ ئے په ناحقه د جاهلیت والو پشان

الْجَاهِلِيَّةِ ؕ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ؕ

د جاهلیت | وئیل دوی | چه آیا شته دپاره زمونږ | د کار نه | څه شئ؟

بد ګمانیانے کولے (او دوی) وئیل چه په دے کار کښ زمونږ څهٔ مدد او نهٔ شو

قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ يُخْفُوْنَ فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ مَّا

اووایه | چه بیشکه | اختیار | ټول | دالله دے | پټول دوی | په زړونو خپلو کښ | هغه څه

اے پیغمبره اته ورته اووایه چه اختیار د نصرت خو ټول دالله سره دے. دا منافقان په زړونو کښ هغه خبرے پټے ساتی چه ستا

لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ؕ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ

چه نه ئے ښکاره کول | تا ته | وئیل به ئے | که چرے وے | زمونږ دپاره | د اختیار نه | څه شئ

په وراندے ئے نهٔ ښکاره کوی په خپل مینځ کښ وائی که څهٔ اختیار (هم) زمونږ په لاس کښ وے نو

مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ

نو نه به وژلے شوی مونږ | دلته | اووایه | که چرے وئ تاسو | په کورونو خپلو کښ | نو خامخا راوتلے به وے

مونږ به دلته نه وژلے شوی. اے پیغمره ته ورته اووایه چه که تاسو په خپلو کورونو کښ هم ناست وے

الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ

هغه کسان | چه لیکلے شوے وو | په هغوی باندے | مرګ | ځایونو د غورځیدلو خپلو ته

نو د چا په نصیبه کښ چه مرګ لیکلے وو هغوی به د خپل مرګ ځایونو ته خامخا راوتلی وو

وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ

اودے دپاره چه اوزمائی | الله | هغه څه | چه وو په سینو ستاسو کښ | اودے دپاره چه پاک کړی الله | هغه څه | چه په زړونو ستاسو کښ وو

دا هر څه الله ځکه او کړل چه الله د منافقانو د سینو په پټ نفاق باندے ازمیښت او کړی او د مؤمنانو د زړونو ایمان

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا

او الله | ښه پوهه دے | په راز | د سینو | بیشکه | هغه کسان | چه په شاشو

صفا کړی او هغے ته جلا نصیب کړی او الله ته د زړونو رازونه ډیر ښه معلوم دی. په کومه ورځ چه دوه ډلے سره

مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ

ستاسو نه | په هغه ورځ | چه مخامخ شوے | دوه ډلے | بیشکه | خوئیولی وو دوی لره | شیطان

مخامخ شوے په هغه ورځ چه په تاسو کښ کومو خلقو د جنګ نه مخ اړولے وو نو داځکه چه د دوی دبعضے

بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

په سبب دبعضے | هغه عملونو | چه کړی وو دوی | او یقینا | معافی کړے ده | الله | دوی ته | بیشکه | الله

عملونو په وجه شیطان د دوی قدمونه خوئیولی وو (خواوس) یقین اوسائ چه الله دوی ته معافی کړے ده یقینا الله

غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ ع

دیر معافی کونکے | دیر صبر کونکے دے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه کیږئ | پشان دهغه کسانو

دیر معافی کونکے دیر صبر ناک دے۔ اے مومنانو! د هغه کافرانو منافقانو پشان مه جوړیږئ

كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِي الْاَرْضِ

چه کفر ئے کړے دے | او وائ | په بارہ دورونړو خپلو کښ | کله چه | سفر او کړی دوی | په زمکه کښ

چه د هغوی خپل خپلوان چرته په سفر لاړ شی یا غزا (جهاد) له لاړ شی (او مړه شی) نو وائ که چرے

اَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا ۚ

او یا وی دوی | غزا کونکی | که چرے وے دوی | زمونږ سره | نو نه به وو مړه شوی | او نه به وژلے شوی وو

دوی دلته زمونږ سره وے نو نه به مړه شوی وو او نه به قتل شوی وو او دوی داخبره کوی چه انجام ئے داشی چه

لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۭ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۭ

دے د پاره چه او کړی خوی | الله | دا (خبره) | افسوس | په زړونو د دوی کښ | او الله | ژوندی کول کوی | او مړه کول کوی

د دوی داعقیده او خبره الله دَدوی په زړونو کښ د حسرت سبب او کړی خوی (ځکه چه) ژوندی کول او مړه کول خو الله کوی

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ وَلَىِٕنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او الله | د هغه څه | چه کوئ یئ تاسو | لیدونکے دے | او که چرے | او وژلے شئ تاسو | په لاره | د الله کښ

او ستاسو عملونه الله وینی که تاسو د الله په لار کښ شهیدان شئ یا په خپل مرګ

اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝

یا مړه شئ | نو خامخا بخښنه | د طرف نه الله | او مهربانی (د هغه) | دیره غوره ده | د هغه څه نه | چه جمع کوی دوی

مړه شئ نو د الله د طرف نه مغفرت او رحمت د هر هغه مال نه دیر غوره دے چه د اخلق ئے راجمع کوی.

وَلَىِٕنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ۝ فَبِمَا رَحْمَةٍ

او که چرے مړه شئ تاسو | یا او وژلے شئ | نو خامخا به الله طرف ته | راجمع کولے شئ تاسو | نو (پس) په سبب | د رحمت

او که تاسو په خپل مرګ مړه شئ یا او وژلے شئ نو په هر حال کښ الله ته به راجمع کیږئ۔ د دے واقعاتو نه (پس) دا هم په دوی باندے

مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ

د طرف نه الله | نرم شوے ته | د پاره د دوی | او که چرے وے ته | سخت خویه | سخت زړه والا

د الله تعالیٰ خصوصی رحمت دے چه ته الله نرم زړه پیدا کړے ئے. او که چرے ته سخت خویه بدزبانه او سخت زړه وے

لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۪ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ

نو خامخا خوارۂ شوی به وودوی | د خوا ستانه | پس معاف کړه ته | دوی | او بخښنه غواړه | دپاره د دوی
نو دا ټول صحابه کرام به ستا د چارچاپیر خوارۂ وارۂ شوی وو نو معافی ورته او کړه او دالله نه ورله بخښنه غواړه

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْاَمْرِ ۚ فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ

او مشوره کوه د دوی سره | په کار کښې | نو کله چه | قصد او کړے ته | نو خان سپارۂ (توکل کوه) | په الله باندے
او په اهمو معاملاتو کښې ورسره مشوره (هم) کوه بیا کله چه د ډهغه اهم کار د کولو قصد او کړے نو صرف په الله توکل کوه (اسباب

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا

بیشکه | الله | خوښوی | الله ته خان سپارونکی | که چرے | مدد او کړی تاسو سره | الله | نو نشته
استعمالوه خو اعتماد په الله کوه یقیناً الله متوکلین و سره مینه کوی که الله ستاسو مدد کول غواړی نو هیڅوک په تاسو زور اور (غالب)

غَالِبَ لَكُمْ ۚ وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ

هیڅ غالب زور اور | په تاسو | او که چرے | پریږدی هغه تاسو بیا رومددګار | نو څوک دے | هغه کس | چه مدد او کړی ستاسو سره
کیدے نه شی او که الله موږ ته یار و مددګار پریږدی نو څوک دا سے کیدے شی چه د هغه (الله) نه پس ستاسو

مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ

پس د (په خپله د لود) الله نه | او خاص په الله | د ے توکل او کړی | مومنان | او نه دی ممکن | دپاره د یو پیغمبر
مدد او کړی او مومنانو لره خاص په الله باندے خان سپارل پکار دی۔ د هیڅ یو نبی دا کار نه دے چه هغه دے

اَنْ يَّغُلَّ ؕ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَاْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ

دا | چه خیانت او کړی | او چا چه | او کړو خیانت | نو راځی به هغه | د خیانت خپل سره | په ورځ د قیامت
خیانت او کړی او څوک هم چه خیانت او کړی نو هغه څیز به د قیامت په ورځ

ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۱﴾

بیا به | پوره ورکړے شی | هر یو کس ته (بدله) | د هغه څه | چه کړی ے وو | او حال دا دے چه په دوی به | ظلم نشی کیدے
خان سره راوړی بیا به هر یو کس ته د خپلو کړو (عملونو) پوره پوره بدله ملاوشی او په هیڅ چا به ظلم نه کیږی

اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ

نو آیا هغه څوک | چه روان دے | په رضا | د الله پسے | پشان د هغه چا دے؟ | چه اخته وی | په غضب | د الله
آیا هغه څوک چه د الله په رضا چلیږی د هغه چا پشان کیدے شی څوک چه د الله په غضب کښې کیږی

وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶۲﴾ هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

او ځای ئې ورته د وزخ | جهنم وی | او ډیر بد ځای دے | د ورته | دوی | درجو والا دی | په نزد | د الله
او دوزخ ئې ټیکاو نړه وی او هغه ډیر بد ځای دے۔ د الله سره د دے خلقو جدا جدا (مختلفے) درجے دی

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

او الله | ښه لیدونکے | د هغه څه دے | چه کوی ئې دوی | یقیناً | احسان کړے دے | الله | په مومنانو باندے
او څه عمل چه کوی الله ئې وینی۔ حقیقت دا دے چه الله په مسلمانانو غټ احسان کړے دے

اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ

کله چه | راوے لیږلو | په دوی کښ | یو پیغمبر | (هم) ددوی نه | چه لولی | دوی ته

چه په دوی کښ ځ د دوی نه یَو پیغمبر راولیږلو چه هغه ورته د الله ایتونه لولی

اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ

آیتونه د الله | او پاکوی دوی لره | او بنائی دوی ته | کتاب (قرآن) | او حکمت (سنت) | او بیشکه

او زړونه ځ پاکوی او د قرآن او د سنت تعلیم ورته ورکوی اګرچه د دینه وړاندے

كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ

وو دوی | مخکښ د دینه | خامخاپه ګمراهۍ | ښکاره کښ | آیا هر کله چه | اورسیږی تاسوته | مصیبت (داسے)

خو داخلق خامخاپه ښکاره ګمراهۍ کښ پراته وو۔ کله چه تاسوته داسے مصیبت اورسیږی چه دهغے دوچند تاسو

قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ؕ قُلْ هُوَ

چه رسولے وی تاسو | دوچند دهغے نه (کافروته) | نووایئ تاسو | چه دکوم ځای نه | (راغے) دا | اووایه | دا (خو)

دشمن ته رسولے وی نو آیا تاسو به په دا سے موقع دا وایئ چه دا مصیبت دکوم ځای نه راغے؟ پیغمبره ته ورته اووایه چه دا خو

مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۶۵﴾

د طرفه | دنفسونو ستاسونه دے | بیشکه | الله | په هر | شیز باندے | قادر دے

ستاسو د خپله لاسه راغلے دے یقیناً الله په هر شیز باندے قادر دے

وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ فَبِاِذْنِ اللّٰهِ

اوهغه (مصیبت) | چه اورسیدو تاسوته | په هغه ورځ | چه مخامخ شوے (یو بل ته) | دوه ډلے | نو (دا) په حکم | د الله (وو)

اوتاسوته چه کوم مصیبت په ورځ اُحد اورسیدو په کومه ورځ چه دوه ډلے (لښکرے) یو بل ته مخامخ شوے نو

وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ ۙ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ۚ

اودے دپاره چه ښکاره کړی الله | مومنان | اودے دپاره چه ښکاره کړی الله | هغه کسان | چه منافقت ځ کړے دے

داهم د الله په حکم وو او دے دپاره وو چه الله مومنان ښکاره کړی او هغه منافقان (هم) جدا او ښکاره کړی

وَقِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِ ادْفَعُوْا ؕ

او (حال دا دے چه) وئیلے شوی وو | دوی ته | چه راشئ | جنګ اوکړئ | په لار د الله کښ | یا (کم از کم) منع کړئ دشمن

چه ورته وئیلے شوی وو چه راشئ یا خو د الله په لار کښ وجنګیږئ یا (کم از کم) (د دشمن نه) دخپل کور کلی حفاظت اوکړئ

قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ ؕ هُمْ لِلْكُفْرِ

(نو) اووئیل دوی | که چرے پوهیدلے مونږ | چه دا جنګ دے | نو خامخا د غلی به وو مونږ په تاسو پسے | دوی | کفر ته

نو دوی اووئیل چه (یره) که مونږ ته پته وے چه دا جهاد فی سبیل الله دے نو مونږ به ضرور ستاسو تابعداری کړے وے خو دا خو

يَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ

په دغه ورځ | دیر نزدے وو | په نسبت د دوی | (نزدے) ایمان ته | وائی دوی | په خولو خپلو

(ګویا) دا کول دی ځکه چه کافر دیر او مونږ کم یُو نو دوی ددے وینا دَوجنه په دغه ورځ د ایمان په نسبت کفر ته دیر نزدے شول

مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُوْنَ ۚ﴿۱۶۸﴾

هغه څه | چه نشته | په زړونو دَ دوی کښې | او الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه پټوی ئے دوی

خو هغه کلمه د ایمان وائی چه زړونو کښې ئے نشته او کوم نفاق چه پټوی هغه الله ته ښهٔ معلوم دے

اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا

داهغه کسان دی | چه وائی | په بارهٔ دڑونړو خپلو کښې | اولاست دی په خپله (د جنګ نه) | که چرے خبره منلے وے دوی زمونږ

داهغه خلق دی چه د خپلو شهیدانو ژونړو (خپلو خپلوانو) بارهٔ کښې ئے وئیل چه که دوی زمونږ خبره منلے وے

مَا قُتِلُوْا ؕ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ

نونهٔ به ووژلے شوی | اووایه | پس لرے کړئ | د ځانونو خپلونه | مرګ | کهٔ یئ تاسو

نو وژلے شوی به نهٔ وو نوته ورته اووایه (څه) د خپلو ځانونو نه مرګ لرے کړئ که تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿۱۶۹﴾ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

رشتینی یئ او ګمان مه کوه هیڅ کله ته | په هغه کسانو باندے | چه شهیدان شوی دی | په لار | د الله کښې

رشتینی۔ او ګمان مه کوه هیڅ کله ته په هغه کسانو باندے چه شهیدان شوی دی د الله په لار کښې

اَمْوَاتًا ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ۙ﴿۱۷۰﴾ فَرِحِيْنَ

د مړو | بلکه دوی | ژوندی دی | په نزد | د رب خپل | روزی ورکولے کیږی دوی ته | (او) خوشحالی کوی

د مړو بلکه دوی ژوندی دی په نزد د رب خپل روزی ورکولے کیږی روحونو دَ دوی ته (دا سے حال کښې چه) خوشحالی کوی دوی

بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ

په هغه څه | چه ورکړی دی دوی ته | الله | د فضل خپل نه | او زیږی به اخلی دوی | په بارهٔ د هغه کسانو کښې

په هغه نعمتونو چه الله دوی ته ورکړی دی د خپل فضل نه او خوشحالیږی به (زیږے به اخلی) دوی په بارهٔ د هغه کسانو کښې

لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ اَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

چه لا نه دی یو ځائے شوی | د دوی سره | وروستو د دوی نه | چه نهٔ به وی یَرهٔ | په هغوی باندے | او نه به هغوی

چه لا نه دی یو ځائے شوی د دوی سره رُوستو د دوی نه، زیږی په دے خبره چه نه به وی یَرهٔ په هغوی باندے او نه به

يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ ۙ وَّاَنَّ

غمژن شی | زیږی به اخلی دوی | په نعمت | د الله | او په فضل (دهغه) | اوپدے خبره چه بیشکه

هغوی غمژن شی۔ او دوی به زیږی اخلی په نعمت د الله (چه پوره ملاویدل دبدلے دی) او په فضل (دهغه) چه زیاتی به ورکوی

اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ ۚ اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ

الله | نه ضائع کوی | اجر | د مومنانو | داهغه کسان دی | چه وئے منلو | حکم د الله

اوپدے خبره چه بیشکه الله د مومنانو اجر نه ضائع کوی (په کمولو یا په وُرکولو) داهغه خلق دی چا چه

وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ ؕ لِلَّذِيْنَ

او د رسول د الله | پس د دے نه | چه رسیدلے وو دوی ته | زخم | د پاره دهغه کسانو

د زخم خوړلو نه پس (هُم) د الله او د هغه دَ رسول خبره او حکم او منلو دا سے

اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝ اَلَّذِيْنَ

چه نیکی ئے کړے دہ | د دوی نه | او تقوٰی ئے اختیار کړے دہ | اجر دے | ډیر لوئے | داهغه کسان دی

نیکانو او متقیانو خلقو دپاره ډیر لوئے اجر (تیار) دے . دا هغه خلق دی

قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ

چه اووئیل | دوی ته | خلقو (جاسوسانو) | چه بیشکه | خلقو (کافرانو) | جمع کړی دی لښکرے | ستاسو دپاره

چاته چه جاسوسانو اووئیل چه دمکے کافرانو نه اویریږئ ځکه چه هغوی ستاسو دمقابلے دپاره بیا لښکرے

فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ

نو اویریږئ تاسو دوی نه | پس زیات کړو دې خبرې دوی لره | ایمان | اووئیل دوی | کافی دے زمونږ دپاره | الله | او هغه ډیر ښه

راجمع کړی دی نو په دے خبره ددوی ایمان نور هم زیات شو او اوئے وئیل چه زمونږ دپاره الله کافی دے او هغه ډیر

الْوَكِيْلُ ۝ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ

کارساز دے | نو واپس شول دوی | سره د نعمت | د الله نه | اوسره د فضل (دهغه) نه | (او) نه وو رسیدلے دوی ته

ښه کارساز دے نو نتیجه داشوه چه مومنان دالله دنعمت او فضل سره داسے واپس شول چه هیڅ تکلیف ورته

سُوْٓءٌ ۙ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ۝

څه تکلیف | او تابعداری ئے اوکړه | د رضا | د الله | او الله | خاوند دے | د فضل | لوئے

نه وو رسیدلے او د الله د رضا تابعداری ئے هم اوکړه او الله دلوئے فضل مالک دے په حقیقت کښ دا (جاسوس)

اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَاۗءَهٗ ۠ فَلَا تَخَافُوْهُمْ

بیشکه | دا (خو) | شیطان دے | چه یَروی (تاسو لره) | د دوستانو خپلونه | نو مهٔ یریږئ تاسو دوی نه

شیطان دے چه تاسو د خپل دوستانو نه یَروی (خو) که تاسو مومنان ئ نو دهغوی نه مهٔ ویریږئ بلکه

وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ

او اویریږئ زمانه | که یئ تاسو | مومنان | او خفه دے نکړی تاله | هغه کسان | چه | ژغل

صرف زمانه یَره کوئ او (اے پیغمبره) ته دهغه خلقو په کارونو مه خفه کیږه کوم چه په کفر کښ دیو بل نه وړاندے کیږی

فِي الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـــًٔا ۭ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَلَّا يَجْعَلَ

په کفر کښ | بیشکه دوی | هیڅ کله ضرر نشی رسولے | الله ته | د هیڅ څیز | غواړی | الله | چه اونهٔ گرځوی

او د کفر د ترڅ دپاره منډے وهی. یقین اوساته چه دوی الله ته هیڅ کله ضرر نشی ورکولے (خو) الله دا غواړی

لَهُمْ حَظًّا فِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ اِنَّ

دپاره د دوی | څهٔ برخه | په آخرت کښ | او دپاره د دوی | عذاب دے | لوئے | بیشکه

چه دوی ته په آخرت (جنت) کښ هیڅ حصه (برخه) ورنکړی او د دوی دپاره ډیر لوئے عذاب تیار کړے شوے دے یقیناً

الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـــًٔا ۚ

هغه کسان | چه خوښ کړے ئے | کفر | په څای ئے د ایمان | هیڅ کله ضرر نشی رسولے | الله ته | د هیڅ څیز

چا چه د ایمان په بدل کښ کفر خوښ کړو نو هغوی الله ته هیڅ نقصان نشی رسولے

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

اودپاره ددوی | عذاب دے | دردناك | اوګمان دے نه کوی هیڅ کله | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے

او ددوی دپاره دردناك عذاب دے۔ کافران دے دا خیال بالکل نه کوی چه مونږ کوم مهلت دوی ته ور کړے دے

اَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ۭ اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ

چه بیشکه | مهلت ورکول زمونږ | دوی ته | بهتر دے | د دوی دپاره | بیشکه چه | مهلت ورکوو مونږ | دوی ته

هغه کفر ددوی دپاره بهتر او ښه دے نا . البته مهلت مونږ څکه ورکوو چه دوی په ګناهونو

لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝ مَا كَانَ اللّٰهُ

دے دپاره چه زیات کړی دوی | ګناهونه | اودپاره ددوی | عذاب دے | سپکوونکے | نه دے | الله

کښې مخکښې لاړشی او ددوی دپاره سپکوونکے عذاب تیار دے دا سے نشی کیدے چه الله تاسو په هغه حالت

لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰي مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ

چه پریږدی | مومنان | (ګډوډ) په هغه حال | چه یئ تاسو | په هغے باندے | تر دے | چه جدا کړی الله

باندے پریږدی په کوم کښې چه اوس تاسو یو بل سره ګډوډ یئ بلکه هغه به پلیت (منافق) ډپاک (مخلص مؤمن) نه

الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۭ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَي الْغَيْبِ

پلیت | د پاك نه | او نه دے | الله | چه خبر درکړی تاسو ته | په غیبو باندے

جدا کوی اودا سے (هُم) نشی کیدے چه الله تاسو ټول (پرانستی) دغیبو نه خبر کړی (البته الله چه څومره خبرول غواړی)

وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ ۠ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

لیکن | الله | غوره کوی | دخپلو پیغمبرانو نه | چا لره | چه او غواړی | پس ایمان راوړئ | په الله باندے

نو دهغے دپاره په خپلو پیغمبرانو کښې ئے چه څوك خوښ شی نو چونږ (غوره) ئے کړی نو تاسو په الله او دهغه په

وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝

او په پیغمبرانو دهغه (باندے) | او که چرے ایمان راوړو تاسو | او پرهیزګاری مو اوکړه | نو دے ستاسو دپاره | اجر | لوئے

پیغمبرانو ایمان لرئ او که تاسو دا ایمان او پرهیزګاری په لاره روان شوئ نو دیر لوئے اجر حقدار به شئ

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ

اوګمان دے نه کوی هیڅ کله | هغه کسان | چه شومتیا کوی | په هغه څه | چه ورکړی دی دوی ته | الله

کوم خلق چه په هغه مال کښې شومتیا کوی چه الله ورله دخپل فضل نه ورکړے دے او فرض زکوٰة ترینه نه ادا کوی

مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ۭ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ۭ

د فضل خپل نه | چه دغه (بخل) | ښه دے | دپاره ددوی | بلکه | دغه بخل | ډیر بد دے | دپاره ددوی

هغوی دے هیڅ کله دا خیال نه کوی چه دا شومتیا د مال ددوی دپاره بهتره (فائده منده) ده بلکه دا خو ورله ډیر لوئے نقصان دے

سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلِلّٰهِ

زر ده چه غړے ته به واچولے شی ددوی | هغه مال | چه شومتیا ئے کړے وه | په هغے | په ورځ | د قیامت | او خاص الله ته

د دغه مال به ورته د قیامت په ورځ په غاړه کښې تیز ندئ کړے شوی او د اسمانونو او د زمکو ټول

ع ۱۹ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۱۸۰

باقي پاتے کیدل (میراث) | د آسمانونو | او د زمکے دی | او الله | دهغه عملونونه | چه کوئ ے ئ تاسو | ښه خبر دے
میراث دالله تعالیٰ دے اوداهر څهٔ بالآخر هغهٔ ته پاتے کیدونکے دی اوالله تعالیٰ ستاسو دعملونو (کارونو) نه پوره خبر دے.

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ

یقیناً | واوریدہ | الله | خبره | دهغه کسانو | چه وئیل ے ئ | چه بیشکه | الله | محتاج دے | او مونږ
یقیناً الله د هغه خلقو خبره اوریدله ده چه وئیل ے ئ چه الله محتاج دے او مونږ غنیان یو (څکه مونږ ته ترغیب

اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ

غنیان یُو | خامخالیکو مونږ | هغه خبرے | چه کوی ے ئ دوی | اووژل ددوی | پیغمبرانو لره | په ناحقه
دَانفاق را کوی) مونږ به خامخا دوی داقسمه خبرے اواعتراضونه اوپه ناحقه پیغمبران وژل (ددوی په عملنامو کښ) اولیکو

وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝۱۸۱ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ

او وایو به مونږ | (چه) اوځکئ | عذاب (داُور) | سوزونکی | دا | په وجه دهغه څه | چه وړاندے لیږلی دی
اوورته به دَقیامت په ور ځے اووایو چه دسوزونکی اورد عذاب خوند اوځکئ دا ستاسو د خپلو لاسونو د کړو سزا ده

اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝۱۸۲ ۚ اَلَّذِيْنَ

لاسونو ستاسو | اوچه بیشکه | الله | نه دے | ظلم کوونکے | په بندګانو باندے | دا هغه کسان دی
(ورنه) الله تعالیٰ (خو) په خپلو بندګانو ذره ظلم نه کوی۔ داهغه کسان دی چه وائی الله زمونږ نه

قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى

چه وائی | بیشکه | الله | حکم کړے دے | مونږ ته | چه ایمان به نه راوړو مونږ | په یَو پیغمبر | تر دے
داوعده اغستے ده اوحکم ئے کړے دے چه په هیڅ یو پیغمبر به تر هغه وخته پورے ایمان نه راوړئ تر څو پورے

يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ ؕ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ

چه هغه راوړی مونږ ته | داسے قربانی | چه اوے ئ خوری (وے ئ سوزی) | اُور | اووایه | یقیناً | راوړی وو تاسو ته
چه هغه زمونږ په وړاندے داسے قربانی اونکړی چه اُور ئے اوخوری. اے پیغمبره! ته ورته اووایه چه زمانه مخکښ

رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ

پیغمبرانو | مخکښ زمانه | ښکاره دلیلونه (معجزے) | اوهغه څه (هُم) | چه وایئ تاسو | نو ولے
پیغمبرانو تاسو ته ښکاره نښے راوړے وے اوهغه څه ئے هم راوړی وو چه تاسو ئے غواړئ نو که تاسو واقعی مومنان یئ نو

قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۱۸۳ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ

وژل تاسو هغوی لره | که یئ تاسو | رښتینی | که ٔ چرے | دروغژن ګڼړی دوی تاله | نو یقیناً
هغه پیغمبران مو وے لے وژل (شهیدان کول). اے پیغمبره! که ٔ بیا هم دوی تاله دروغژن ګڼړی (نو داخو څه نوے خبره نه ده)

كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ

دروغژن ګڼړلے شوی وو | دیر پیغمبران | مخکښ ستانه | (چه) راوړی وو هغوی | ښکاره دلیلونه | او صحیفے
څکه چه تاله مخکښ هم داسے دیر پیغمبران دروغژن ګڼړلے شوی وو چه هغوی ښکاره نښے او لیکلے شوے

وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۱۸۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ

او کتاب | روښانه | هر یو کس | څکونکے دے | د مرګ | اوبیشکه | پوره به درکړے شی تاسو ته

صحیفے او رُوښانه کتاب راوړے وو۔ هر ژوندے به یو ځل مری او تاسو ته به ستاسو د عملونو پوره پوره بدله

اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ

اجرونه ستاسو | په ورځ | د قیامت | نو څوک چه | لرے اوساتلے شو | د اُور نه | اوداخل کړے شو | جنت ته

د قیامت په ورځ ملاویږی نو څوک چه د دوزخ داور نه بچ اوساتلے شو او جنت ته داخل شو نو یقیناً هغه

فَقَدْ فَازَ ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۱۸۵﴾

نو یقیناً | هغه کامیاب شو | او نه دے | ژوند | دُنیوی | مکر | سامان | د دُهوکے

صحیح کامیاب شو او د دنیا ژوند خو (د آخرت په مقابله کښ) نور څهٔ نه دی مکر د دهوکے سامان دے۔

لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ۫ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ

خامخا ازمائیلے به شی تاسو | په مالونو خپلو کښ | او ځانونو خپلو کښ | او خامخا به اوریځ تاسو | دهغه کسانونه

اے مسلمانانو! په تاسو به ستاسو د مالونو او د ځانونو په باره کښ امتحان ضرور کیږی

اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا

چه ورکړے شوے دے هغوی ته | کتاب | مخکښ ستاسو نه | او د هغه کسانونه | چه شرک ئے کړے دے

او اهل کتابو او د مشرکانو نه به ډیرے د تکلیف خبرے اوریځ

اَذًى كَثِيْرًا ؕ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ

د اذیت خبرے | ډیرے | اوکه چرے | صبر اوکړو تاسو | اوپرهیزګاری مواوکړه | نو بیشکه | دا | د همت والو

اوکه تاسو د صبر او تقوٰی نه کار واغستلو نو دا ډیر دلوئے همت کار دے

الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾ وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

کارونونه دی | اوکله چه | واغستلو | الله | پوخ لوظ | دهغه کسانونه | چه ورکړے شوے وو هغوی ته | کتاب

(او هغه وخت هم یاد کړئ) کله چه الله د اهل کتابو نه دا وعده واغستله چه دا کتاب به خلقو ته

لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ ز فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ

(چه) خامخا به بیانوئ تاسو دا کتاب | خلقو ته | اونه به ئے پټوئ تاسو | نو اوغورزولو دوی دا (کتاب) | وروستو | د شاګانو خپلونه

خامخا بنکاره بیانوئ او پټوئ به ئے نه (خو) دوی د الله کتاب شاته اوغورزولو

وَاشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾

اووائے غستلو | په هغے باندے | عوض | لږ (معمولی) | پس ډیر بد دی | هغه څه | چه واغستل دوی

او دهغه کتاب په بدل کښ ئے لږ (معمولی) قیمت واغستلو نو ډیر بد څیز ئے واغستلو

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اَتَوْا وَّيُحِبُّوْنَ اَنْ

کمان مه کوه (هیڅ کله) تهٔ | په هغه کسانو باندے | چه خوشحالیږی | په هغه څه | چه کوی ئے دوی | او مینه کوی | دا دے

هرګز دا خیال مه کوه چه کوم خلق د حق په پټولو تکبر او خوشحالی کوی او حق ئے نه دے بیان کړے او بیا هم دا غواړی

يُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ

چه تعریف دے او کړے شی ځکه وی | په هغه څه | چه نه دی کړی دوی | پس گمان مه کوه ته هیڅ کله په دوی باندے | د خلاصی

چه په داسے کارونو ځکه وی مدح او ثنا ئے شی چه کړے ئے نه دے نو په داسے خلق باندے هیڅ کله دا گمان مه کوه چه دوی به

مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

د عذاب نه | اود دوی دپاره | عذاب دے | دردناک | او خاص الله لره ده | بادشاهی | د اسمانونو

د عذاب نه په بچ کیدو کښ کامیاب شی دوی دپاره (خو) دردناکه سزا (تیاره) ده ـ او د اسمانونو او

ع ۱۹ وَالْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اِنَّ فِيْ خَلْقِ

او د زمکے | او الله | په هر | څیز باندے | قادر دے | بیشکه | په پیدائش

د زمکے حکومت (بادشاهی) یوا ځے د الله ده او الله په هر څیز باندے پوره قدرت لری یقینا

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ

د آسمانونو | او د زمکے کښ | او په اختلاف | د شپے | او د ورځے کښ | خامخا نښے دی

د آسمانونو او د زمکے په پیدائش کښ او د ورځو او د شپو په یو بل پسے تلو راتلو کښ دهغه

لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ۝ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا

دپاره د عقلمندو | دا هغه کسان دی | چه یادوی | الله | په ولاړه | او په ناسته

عقل مندو دپاره دیرے نښے دی چه په ولاړه او په ناسته او په اړخ (هر حال کښې)

وَّعَلٰي جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

او په اړخونو خپلو | او فکر کوی | په پیدا کولو | د آسمانونو | او د زمکے کښ

الله یادوی او د اسمانونو او د زمکے په پیدائش کښ غور او فکر کوی

رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ

(اووائی) اے ربه زمونږ | نه دی پیدا کړی تا | دا | عبث (بے فائدے) | پاک ئے ته | پس اوساته مونږ | د عذاب

او وائی چه اے ربه! تا دا هر څه بے مقصده نه دی پیدا کړی او اے الله ته د هر قسمه عیب نه پاک ئے

النَّارِ ۝ رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ۭ

د اور نه | اے ربه زمونږ | بیشکه ته چه | څوک | داخل کړے | اور ته | نو یقینًا | رسوا کړو تا هغه

پس مونږ د دوزخ د عذاب نه بچ اوساته. اے زمونږ ربه! یقینا تا چه څوک دوزخ ته داخل کړل نو هغه دے دیر اوشرمولو

وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا

اونشته دے | دپاره د ظالمانو | هیڅ څوک مددگار | اے ربه زمونږ! | بیشکه مونږ | واوریدو | یو اواز کوونکے

او د ظالمانو دپاره (خو) هیڅ څوک مددگار نشته ـ اے زمونږ ربه! یقینا مونږ د یو اواز کوونکی آواز واوریدو

يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۡ رَبَّنَا

چه اواز ئی کولو | په طرف د ایمان | چه | ایمان راوړئ | په رب خپل | نو ایمان راوړو مونږ | اے ربه زمونږ

چه د ایمان طرف ته ئے بلنه کوله چه په خپل رب ایمان راوړئ نو مونږ ایمان راوړو نو اے زمونږ ربه!

فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ

نو او بخښنے | مونږ ته | ګناهونه زمونږ | او لرے کړه | زمونږ نه | بدئ زمونږ | او مرګ راولے مونږ له | سره

زمونږ ګناهونه معاف کړه او زمونږ بدیانے زمونږ نه لرے کړه او دنیکانو خلقو سره مو خاتمه او کړه

الْاَبْرَارِ ۚ﴿۱۹۳﴾ رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ

د نیکانو | اے ربه زمونږ | اوراکړه مونږ ته | هغه څه | چه وعده ئے کړے ده تا مونږ سره | په ژبه د پیغمبرانو خپلو

او اے زمونږ ربه! تا چه د خپلو پیغمبرانو په ذریعه مونږ سره کومے وعدے کړی دی هغه هم مونږ ته راکړه

وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾ فَاسْتَجَابَ

اومه رسوا کوه مونږ | په ورځ | د قیامت | بیشکه ته | نه کوے خلاف | دوعدے خیلے نه | پس قبوله کړه دعا

او د قیامت په ورځ مونږ مه شرموه یقیناً ته د خپلے وعدے خلاف نه کوے۔ نو د هغوی

لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَاۤ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ

د دوی | رب دَدوی | چه بیشکه زهٔ | نهٔ ضائع کوم | عمل | د یَو عمل کونکی | د ستاسو نه | نارینه وی

رب د هغوی دعا قبوله کړه (او ورته ئے اووئیل) چه یقیناً په تاسو کښ به د هیڅ چا عمل نه ضائع کوم نارینه وی

اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا

او که زنانه | بعضے ستاسو نه | د بعضو نورو نه دی | پس هغه کسان | چه هجرت ئے کړے دے | او ویستلے شوے دی

که زنانه وی تاسو ټول زما په نزد په خپل میڅ کښ یو برابر یئ (ځکه ټول د یو آدم اولاد یئ) نو چا چه هجرت کړے دے

مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا

د کورونو خپلو نه | او تکلیف ورکړے شوے دے | په لار زما کښ | او جنګیدلے دی | او وژلے (شهیدان) شوی دی

او د خپلو کورونو نه ویستلے شوے دی او زما په لار کښ ورته تکلیفونه ورکړے شوے دے او د دین د پاره جنګیدلے دی

لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

نو خامخا به لرے کړم زهٔ | د دوی نه | ګناهونه د دوی | او خامخا داخل به ئے کړم | (دلته) جنتونو ته | چه بهیږی به

او شهیدان شوی دی نو خامخا به د دوی ګناهونه معاف کړم او دا سے جنتونو ته به ئے داخل کړم چه

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ

لاندے دهغے نه | نهرونه | دابدله ده | د طرفه | د الله نه | او الله | سره دے | ښه

لاندے به ترینه نهرونه بهیږی دا ټول د الله د طرف نه یو انعام دے او د الله سره دیر ښه انعام دے

الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ؕ﴿۱۹۶﴾

ثواب | دهوکه دے نکړی تا | ګرځیدل راګرځیدل | دهغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | په ښارونو کښ

اے پیغمبره! چا چه کفر اختیار کړے دے (نو) په ښارونو کښ په عیش او عشرت سره د هغوی ګرځیدل راګرځیدل

مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۖ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾

(دا خو) فائده ده | لږه | بیا | ځائے د ورتلو د دوی | جهنم دے | او دیر بد | ځائے د آرام دے

دے تا په دهوکه کښ وانه چوی دا (خو) لږه شان مزه ده د دنیا، بیا د دوی ځائے د ورتلو دوزخ دے او هغه دیر بد ځائے د آرام دے

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ

لیکن | هغه کسان | چه یَرپیږی | درب خپل نه | دپاره دَدوی | (دا سے) جنتونه دی | چه بهیږی به

لیکن څوك چه د خپل رب نه ویریږی دهغوی دپاره دا سے جنتونه دی چه دَهغے دَاونو دَلاندے

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښ | میلمستیا (ده) | د طرفه | د الله نه

به نهرونه بهیږی د الله دَطرف نه به د میلمستیا په طور به په هغے کښ همیشه اوسیږی او د الله سره چه کوم نعمتونه دی

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

او هغه څه | چه دی د الله سره | هغه ډیر غوره دی | دپاره د نیکانو | او بیشکه | بعضے د اهل کتابو نه

د نیکانو دپاره هغه ډیر غوره او بښه دی۔ او یقیناً په اهل کتابو کښ داسے خلق هم شته چه

لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَمَآ

خامخا هغه څوك دی | چه ایمان راوړی | په الله باندے | او په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | تاسو ته | او په هغه څه

په الله باندے او په هغه کتاب چه تاسو ته نازل شوے دے او په هغه کتابونو چه دوی ته نازل شوی دی

اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا

چه نازل کړے شوی دی | دوی ته | عاجزی کونکی دی | الله ته | نه اخلی | په آیتونو | د الله | عوض

ایمان لری او الله تعالیٰ ته عاجزی کوی او د الله ایتونه په دنیا او په لږ قیمت نه خرڅوی

قَلِيْلًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

لږ | دغه کسان | خاص دَدوی دپاره | اجر دَدوی دے | په نزد | د رب خپل | بیشکه | الله | زر

هم دا کسان د خپل رب سره د اجر مستحق دی یقیناً الله زر حساب اغستونکے دے

الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا

حساب کونکے دے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | اوکړئ صبر | او غالب شئ په صبر کښ (په دشمن)

اے مومنانو! صبر اختیار کړئ او د مقابلے په وخت کښ ثابت قدمی ښکاره کړئ

وَرَابِطُوْا ۟ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾ ع

او تیاری اوکړئ (د جهاد دپاره) | او اوږدږئ | د الله نه | دے دپاره چه تاسو | کامیاب شئ

او د سرحدا تو حفاظت اوکړئ او د الله نه ویریږئ چه کامیاب شئ۔

آیاتها [۱۷۶]	سورة النسآء مدنیة	رکوعاتها [۲۴]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَنوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ

اے خلقو | اویَر یږئ | درب خپل نه | هغه ذات | چه پیدا کړی ئے یئ تاسو | د نفس | یَو نه

اے خلقو د خپل هغه رب نه اویَر یږئ چا چه دیَو نفس نه تاسو پیدا کړی یئ او هم دهغه نه ئے دهغه

وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا

او پیدا ئے کړه | ددهٔ نه | ښځه ددهٔ | او خوارهٔ ئے کړل | ددے دواړو نه | نارینه | ډیر

بی بی حوا پیدا کړه او (بیا ئې) دهغے دواړو نه ډیر نارینه او ډیر زنانه (په دنیا کښ) خواره کړل

وَّنِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ

او زنانه (هُم) | او اویږیږئ | د الله نه | هغه ذات | چه سوال کوئ تاسو دیَو بل نه | په نوم دهغه

او دهغه الله نه اویَر یږئ د چا په نوم چه تاسو دیو بل نه حقونه غواړئ او دخپلوئ (دتعلقاتو) دپرے کولو نه ځان

وَالْاَرْحَامَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ۝ وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى

(اوویږیږئ) دپرے کولو دخپلوئ نه | بیشکه | الله | دے | په تاسو | نگران | او ورکړئ | یتیمانو ته

بچ کړئ یقیناً الله ستاسو ساتونکے دے او یتیمانو ته د هغوی مالونه ورکړئ

اَمْوَالَهُمْ ۠ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ۠ وَلَا تَاْكُلُوْٓا

مالونه د دوی | او مه اخلئ | پلیت | په بدل د پاک کښ | او مهٔ خورئ

او حلال (مال) په حرام (مال) مهٔ بدلوئ او د هغوی مالونه د خپلو مالونو سره

اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝ وَاِنْ خِفْتُمْ

مالونه دهغوی | د مالونو خپلوسره | بیشکه دا | ده | ګناه | غټه | او که چرے | ایَر یږئ تاسو

(شریك) مه خورئ یقیناً دا ډیره غټه ګناه ده۔ او که تاسو سره یَره وی

اَلَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ

چه اوبه نکړئ تاسو انصاف | دیتیمانو جینکو په حق کښ | نو نکاح اوکړئ | هغه (زنانۂ) سره | چه حلالے دی | ستاسو دپاره

چه دیتیمانو جینکو سره به انصاف اونکړے شئ نو د خپلے خوښے نورو زنانو سره نکاح اوکړئ

مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا

د (نورو) زنانو نه | دوه دوه | اودرے درے | او څلور څلور | پس که چرے | ایَر یږئ تاسو | چه اوبه نکړئ عدل تاسو

که دوه وی که درے وی او که څلور که بیا درسره یَره وی چه دګنړو ښځو سره به انصاف اونکړے شئ

فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۭ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى

نو یوے ښځے سره | یا هغے وینځے سره | چه مالك ئے دی | ښی لاسونه ستاسو | دا کار | ډیر نزدے دے دیته

نو بیا په یوے ښځے یا په هغه وینځو چه ستاسو ملکیت وی په هغے ګزاره اوکړئ دا کار دَے انصافئ نه

اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝ وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ۭ فَاِنْ

چه ظلم اونکړئ تاسو | او ورکړئ | ښځو ته | مهرونه ددوی | په خوشحالئ سره | بیا که چرے

بچ کیدو ته ډیر نزدے دے۔ او ښځو ته دهغوی مهرونه په خوشحالئ ورکړئ بیا که چرے هغوی درته

طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوْهُ هَنِيْٓـًٔا

راضی وی دوی | تاسو ته | (په پریخودلود) څه څیز | دهغه (مهر) نه | د زړهٔ نه | نو خوړئ ئے | په خوشحالئ

پخپله د زړه په خوشحالئ څه حصه پریږدی نو هغه ښهٔ په خوند او مزے خوړے شئ

مَّرِيْٓـًٔا ۝ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِيْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ

خوش هضمه | او مه ورکوئ | بے وقوفانو ته | مالونه خپل | هغه | چه جوړ کړے دے | الله | تاسو دپاره

او ناپوهه کسانو ته خپل هغه مالونه مه ورکوئ کوم چه الله ستاسو دژوند سبب (د ګزران) ګرځولی دی

قِيٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِيْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا

سبب د ګزران | او خوراک ورکوئ دوی ته | دهغے نه | او جامے ورکوئ دوی ته | او وایئ | دوی ته | خبره

البته هغوی له پکښې دوډئ او جامے ورکوئ او خبرے ورسره په نرمئ کوئ

مَّعْرُوْفًا ۝ وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ

ښه (نرمه) | او ازمیښت کوئ | په یتیمانو | تر دے | چه کله | اورسی | (د) نکاح (عمر) ته | نو که چرے

او یتیمانو باندے تر هغه وخته پورے امتحان کوئ تر څو پورے چه د نکاح عمر (بلوغت) ته نهٔ وی رسیدلی

اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ

معلوم کړو تاسو | د دوی نه | هوښیارتیا | نو ورکړئ | دوی ته | مالونه د دوی

نو که تاسو پکښې لږ دیر تمیز (هوښیار توب) بیا موندو نو بیا ورته خپل مالونه حواله کړئ او د دوی دا مال

وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ۭ وَمَنْ كَانَ

او مه خورئ هغه (مال) | په فضول خرچئ (زیاتی) سره | او په تلوار سره | دے دے نه چه لوئ نهٔ به شی دوی | او څوک | چه وی

د دے نه چه لوئ نهٔ به شی په فضول خرچئ او په تلوار مه خورئ او (په سر پرستانو کښې چه) څوک دولتمند (مالدار) وی

غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ

مالدار | نو ځان دے اوساتی (ترینه) | او څوک | چه وی | فقیر | نو خوری دے (ترینه) | په ښه طریقه

نو هغه دے د یتیم د مال خوړلو نه ځان پوره بچ اوساتی او که محتاج وی نو په قدر د ضرورت دے ترینه خوری

فَاِذَا دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ۭ

بیا (پس) هر کله چه | ورکوئ تاسو | دوی ته | مالونه د دوی | نو ګواه اونیسئ | په دوی باندے

بیا چه کله دوی ته خپل مالونه حواله کوئ نو ګواهان پرے اونیسئ او الله

وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ

او پوره دے | الله | حساب کونکے | د پاره د نارینو | برخه ده | دهغه څه نه | چه پریښودلی وی | مور او پلار

حساب اغستلو د پاره پوره (کافی) دے. د نارینو د پاره په هغه مال کښې (مقرره) برخه ده کوم مال چه مور او پلار

وَالْاَقْرَبُوْنَ ۠ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ

او رشته دارو | او د پاره د زنانو | برخه ده | دهغه څه نه | چه پریښودلی وی | مور او پلار

او نزدے خپلوانو پریښودلے وی او د زنانو د پاره هم دهغه مال نه (مقرر) برخه ده کوم چه مور او پلار

وَالْاَقْرَبُوْنَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ اَوْ كَثُرَ ؕ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ۝

او رشته دارو | دهغه څه نه | چه لږ وی دغه | د دے ترکے نه | یا ډیر وی | برخه (ده) | مقرر کړے شوے

اونزدے خپلوانو پریښودلے وی که هغه مال (ترکه) لږ وی او که ډیر . دا برخے د الله د طرف نه مقرر ے دی

وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ

او کله چه | حاضر شی | تقسیم ته | خپل خپلوان | او یتیمان | او مسکینان

او د تقسیم په وخت کښ که دا سے خپل خپلوان او یتیمانان او غریبان حاضر شی چه هغوی وارثان

فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝ وَلْيَخْشَ

نو ورکړئ تاسو دوی ته | د دے نه | او وایئ | دوی ته | خبره | نیه | او او د یَر یږی

نه وی نو بیا هم هغوی له پکښ څه ناڅه ورکړئ او خبرے ورسره په نرمئ کوئ. او کوم کسان چه د یتیمانو حق

الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا

هغه کسان | که | پریږدی دوی | رُوستو د خپل ځان نه | بچی | کمزوری | نو یَر یږی

خوری نو هغوی دے د دے خبرے نه او یر یږی چه که دوی د خپل ځان نه رُوستو دا سے کمزوری بچی پریږدی

عَلَيْهِمْ ۪ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۝ اِنَّ

په هغوی باندے | پس او دِیَر یږی | د الله نه | او وائی دے | خبره | برابره (حقه) | بیشکه

نو دهغوی باره کښ به څومره فکرمند وی نو پکار دی چه د الله نه دے او یر یږی او سمه د شفقت او حُسنِ ادب خبره دے کوی.

الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ

هغه کسان | چه خوری | مالونه | د یتیمانو | په ظلم سره | نو بیشکه | خوری (اچوی) دوی

یقین او ساتئ چه کوم خلق د یتیمانو مال، په ناحقه خوری هغوی خپلے خپتے د اُورنه ډکوی

فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ۝ ع يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ

په گیډو خپلو کښ | اُور | او زرده چه داخل به شی دوی | سوزونکی اُور ته | مضبوط حکم کوی تاسو ته | الله

او ډیر زر به دوزخ ته داخل شی۔ ستاسو دبچو (د میراث) په باره کښ الله تعالیٰ تاسو ته دا

فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ ۗ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ۚ فَاِنْ كُنَّ

په باره د بچو ستاسو کښ | چه د پاره د یو نارینه | پشان | د برخے | د دوو زنانو ده | پس که چرے | وی بچی

مضبوط حکم کوی چه د یو نارینه برخه د دوو ښځو (زنانو) برابره او که چرے (وارثان)

نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ وَاِنْ

صرف زنانه | زیاتے | د دوو نه | نو د پاره د دوی | دوه برخے | دهغه (درے حصو د مال دی | چه پریښودلے وے (مړی) | او که چرے

یوا ځے جینکئ وی دوه یا د دو و نه زیاتے نو هغوی ته به په دریو کښ دوه برخے ورکولے شی او که یوه زنانه

كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ؕ وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ

وی | یوه زنانه | نو د پاره د هغے | نیمه برخه ده | او د پاره د مور او پلار د هغه (مړی) | د پاره د هریو تن

وارثه وه (او نور اولاد نه وی مذکر یا مؤنث) نو هغے ته به د تول مال نیمه ملاویږی او که د مړی بچی وو (نارینه یا زنانه)

مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ

دَدوی نه | شپږمه برخه ده | دهغه مال نه | چه پریښودلے وی مړی | په دے شرط | چه وی | دهغه (مړی) | بچی

نو مور او پلار (دواړو) کښ به هر یَو تن ته شپږمه (شپږمه) برخه ملاویږی

فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ

پس که چرے | نه وو | د مړی | بچی | او میراث اوړی ددهٔ نه | صرف مور او پلار | نو دپاره د مور

او که د مړی اولاد نه وی او وارثان ئے صرف مور او پلار وی نو د مور دپاره ئے (بیا) دریمه برخه مقرر ده

الثُّلُثُ ۚ فَاِنْ كَانَ لَهٗۤ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ

دریمه برخه ده | او که چرے | وو | د مړی | زُونړه خویندے | نو دپاره د مور | شپږمه برخه ده

او که چرے (د مړی) زُونړه خویندے وی نو د مور دپاره بیا شپږمه برخه ده

مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ بِهَاۤ اَوْ دَيْنٍ ؕ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ

خو پس | دهغه وصیت نه | چه وصیت کوی دامړے | په هغے سره | او پس د قرض نه | پلاران ستاسو | او څامن ستاسو

(خو داټول تقسیم به) د مړی د وصیت پوره کولو او د قرض ادا کولو نه پس کولے شی تاسو ته دا پوره پته نشته

لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ؕ فَرِيْضَةً

نه پوهیږئ تاسو | چه کوم یو په دوی کښ | زیات نزدے دے | تاسو ته | په فائده کښ | (دا برخے) مقرر کړے شوی دی

چه ستاسو په پلارانو (مشرانو) او په څامنو کښ تاسو ته په فائده کښ څوک زیات نزدے دے دا برخے الله فرض کړی دی

مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَلَكُمْ نِصْفُ

د طرفه د الله نه | بیشکه | الله | دے | ښه پوهه | ښه حکمت والا | او تاسو دپاره ده | نیمه برخه

(دَذوی الفرو ضو دپاره او باقی پاتے شوے حصے دَعصبَو دی) یقیناً الله ښه پوهه او حکمت والا دے . او ستاسو ښځے

مَا تَرَكَ اَزْوَاجُكُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ

دهغه مال | چه پریښودلے وی | ښځو ستاسو | په دے شرط | چه نه وی | د دوی | بچی | پس که چرے

چه کوم مال پریږدی نو په هغے کښ نیمه برخه ستاسو ده په دے شرط چه دهغوی بچی نه وی او که

كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْۢ بَعْدِ

وو | د دوی | بچی | نو تاسو دپاره ده | څلورمه برخه | دهغه مال | چه پریښودلے دے دوی | پس

بچی ئے وی نو څلورمه برخه ستاسو ده او دا تقسیم به د هغوی د وصیت پوره کولو

وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْنَ بِهَاۤ اَوْ دَيْنٍ ؕ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ

دهغه وصیت نه | چه وصیت کوی دوی | د هغے | او پس د قرض نه | اود دوی دپاره ده | څلورمه برخه

او د قرض دا ادا کولو نه پس وی او تاسو چه کوم مال پریږدئ نو د هغے څلورمه برخه ستاسو د ښځو ده

مِمَّا تَرَكْتُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ

دهغه مال نه | چه پریږدئ تاسو (خلوندان) | په دے شرط چه نه وی | ستاسو | بچی | پس که چرے | وی | ستاسو

خو په دے شرط چه ستاسو بچی نهٔ وی او که ستاسو بچی وی

وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ

بچی | نو د دوی دپاره | اتمه برخه ده | دهغه مال نه | چه پریږدئ ځلمو (خاوندان) | پس | دهغه وصیت نه

نو بیا د دے ښځو اتمه برخه ده ستاسو د وصیت د پوره کولو او د قرض د ادا کولو نه پس

تُوْصُوْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۭ وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ

چه وصیت کوئ تاسو | دهغے | اوپس د قرض نه | او که چرے | وی | سړے | چه میراث ترینه اوړے شی

او که چرے یو سړے یا یوه ښځه په دا سے حال کښ مړه شی چه نه ئے پلار نیکه وی

كَلٰلَةً اَوِ امْرَاَةٌ وَّلَهٗٓ اَخٌ اَوْ اُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

میرات | یا یوه ښځه (وی دغه شان) | او د ده | رُور | یا خور وی (مور شریک) | نو د هر یو تن دپاره | د دوی نه

اونه ئے نارینه اولاد وی او یو رُور یا یوه خور ئے وی (مور شریکه، اخیافی) نو هر یو ته به شپږمه برخه ملاویږی

السُّدُسُ ۚ فَاِنْ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاۗءُ

شپږمه برخه ده | پس که چرے | وی دوی | ډیر | د دینه | نو دوی ټول | شریکان دی

او که (دغه اخیافی) رُونړه خویندے ئے ډیر نه زیات وو نو هغوی ټول به په دریمه برخه کښ برابر شریک وی

فِي الثُّلُثِ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۙ

په دریمه برخه کښ | پس | دهغه وصیت نه | چه وصیت کړے شوی وی | دهغے | اوپس د قرض نه

دا تقسیم به هله کیږی چه وصیت پوره کړے شی او قرض ادا کړے شی خو چه وصیت د درے حصے نه

غَيْرَ مُضَاۗرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ۝۱۲

اونه ښه وی | ضرر ورکونکے هیڅ چا ته | دا حکم کړے شوے دے | د طرفه د الله نه | او الله | ښه پوهه | ښه صبر کونکے دے

زیات مقدار کښ نه وی ورنه بیا به ضرر رسونکے شئ دا د الله کلک حکم دے او الله ښه پوهه او صبر ناک دے

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ

دا (احکام) | پولے | د الله دی | او څوک | چه حکم او منی | د الله | او د پیغمبر دهغه | (نو) داخل به کړی هغه لره

دا د الله (مقرر کړی) حدونه دی او څوک چه د الله او د هغه د رسول حکمونه منی نو الله به ئے (داسے)

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ

(داسے) جنتونو ته | چه بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه | همیشه به وی دوی | په دے کښ | او دا

جنتونو ته داخل کړی چه لاندے به ترینه نهرونه بهیږی (او) په هغے کښ به همیشه اوسیږی او دا ډیره لویه

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۳ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ

کامیابی ده | ډیره لویه | او څوک | چه نافرمانی کوی | د الله | او د پیغمبر دهغه | او ورتیر شی

کامیابی ده۔ او څوک چه د الله او د هغه د رسول حکمونه نه منی او د الله د مقرر کړو حدونو (حکمونو) نه تجاوز کوی

حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خٰلِدًا فِيْهَا ۠ وَلَهٗ عَذَابٌ

د ډیرو لو دهغه نه | (نو) داخل به کړی الله دهغه لره | اُور ته | چه همیشه به وی | په دے کښ | او د ده دپاره | عذاب دے

نو الله به ئے دوزخ ته داخل کړی چه په هغے کښ به همیشه وی او رسوا کونکے عذاب به ورله وی

مُّهِيْنًا ۝ وَالّٰتِيْ يَاْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا

سپکوونکے | او هغه زنانه | چه کوی | بے حیائی | د زنانۍ ستاسو نه | نو گواهان جوړ کړئ

اوستاسوپه زنانو کښ چه څوك بدکاری (زنا) اوکړی نو په دوی باندے دخپلو سړو (مسلمانانو) نه

عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ

په هغوی باندے | څلور | ستاسو (دنارینو) نه | نو که | گواهی ورکړه دوی | نوبندے کړئ دوی (ښځے)

څلور گواهان اونیسئ نو که هغوی گواهی ورکړه نو بیا دا ښځے تر هغه وخته پورے

فِي الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰىهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ

په کورونو کښ | تر دے | چه وابه خلی دوی لره | مرگ | اویابه مقرر کړی | الله | ددوی دپاره

په کورونو کښ بندے اوساتئ چه یا خو ئے مرگ واخلی او یا ورله الله څه بله لاره راوباسی

سَبِيْلًا ۝ وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ

څهٔ لار | اوهغه دوه کسان | چه کوی بدکاری | ستاسو نه | نو تکلیف اورسوئ دوی ته | نو که چرے

اوپه تاسو کښ چه کوم دوه کسان بدکاری اوکړی نوهغوی ته تکلیف ورکړئ بیا که چرے دوی

تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا

توبه اوکړی دوی | اواصلاح اوکړی | نو مخ واړوئ تاسو | دَدوی نه | بیشکه | الله | دے | دیر توبه قبلوونکے

توبه اوباسی اوخپل ځان سم کړی نوبیا ئے پریږدئ یقیناً الله دیر توبه قبلوونکے دیر مهربان دے

رَّحِيْمًا ۝ اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ

دیر رحم کونکے | بیشکه | توبه | په نزد د الله | دپاره دهغه کسانو دده | چه کوی | بدکارونه

یقیناً الله د هغه چا توبه قبلوی چه په ناپوهئ سره بدعمل اوکړی او بیا

بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ

په ناپوهئ سره | بیا | توبه اوکړی | سَمدَستی | نو دغه کسان دی | توبه قبلوی | الله

سَمدستی توبه اوباسی نو د هُم داسے کسانو توبه الله قبلوی

عَلَيْهِمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ

د دوی | او دے | الله | ښه پوهه | پوره حکمت والا | او نشته دے | توبه | دپاره دهغه کسانو

او الله په هر څه پوهه او حکمت والا ذات دے۔ او دهغه خلقو توبه قبوله نه ده

يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ

چه کوی | گناهونه | تر دے | چه کله | حاضر شی | یوتن ته په دوی کښ | مرگ | (نو) وائی

چه گناهونو کښ اخته وی تر دے چه کله په دوی کښ دچا د مرگ وخت راشی نو بیا د مرگ په وخت کښ وائی

اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۭ

چه بیشکه | ما توبه اوکړه | اوس | اونه دهغه کسانو دپاره | چه مری | په داسے حال کښ | چه دوی کافر وی

چه زهٔ اوس توبه او باسم او نه دهغه کسانو توبه قبوله ده چه د کفر په حالت کښ ورله مرگ راشی

أُولٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ۝ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

دغه کسان دی | تیار کړے دے مونږ | دَدوی دپاره | عذاب | دردناک | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دی

دا سے کسانو دپاره خو مونږ دردناک عذاب تیار کړے دے۔ اے مومنانو!

لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ

نه دی حلال | تاسو دپاره | چه میراث کښ واخلئ تاسو | ښځے | په زور | او مهٔ تنګوئ دوی

تاسو دپاره دا روا نه دی چه په زبردستئ ځان د ښځو وارثان (مالکان) کړئ او پدے غرض ئے مهٔ تنګوئ

لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَآ آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ

دے دپاره چه واخلئ تاسو | بعضے دهغه مهر نه | چه ورکړے دے تاسو دوی نه | مګر | دا چه | اوکړی دوی | بے حیائی

چه تاسو ورله څهٔ ورکړی دی دهغے څه برخه ترینه واخلئ هاں کهٔ دوی څهٔ ښکاره

مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسٰٓى

ښکاره | اوژوندتیروئ دَدوی سره | په ښهٔ طریقه | پس که چرے | نه خوښوئ تاسو دوی لره | نو کیدے شی

بدکاری اوکړی او ژوند ورسره په ښه طریقه تیروئ پس که تاسو دوی نه خوښوئ

أَنْ تَكْرَهُوا شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ۝ وَإِنْ

چه نه به خوښوئ تاسو | یو څیز | او پیدا به کړی | الله | په هغے کښ | خیر | ډیر | او که چرے

نو دا (هم) کیدے شی چه یو څیز ستاسو خوښ نه وی او الله په هغے کښ ډیره فائده ایښودی وی او که تاسو

أَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ۙ وَّآتَيْتُمْ إِحْدٰىهُنَّ

غواړئ تاسو | بدلول | دیَو مے ښځے | په ځائے | دبلے ښځے | او ورکړے وی تاسو | یو مے ته دَدوی نه

دیَو مے ښځے په ځائے بله ښځه (په نکاح) کول غواړئ او په دوی کښ یَو مے ښځے ته تاسو ډیر زیات مهر ورکړے وی

قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ أَتَأْخُذُونَهُۥ بُهْتَانًا وَّإِثْمًا

لویه خزانه (ډیر مال) | نو مهٔ اخلئ تاسو | دهغے مال نه | څهٔ څیز | آیا اخلئ تاسو دا | په بهتان لګولو | او په ګناه

نو بیا هم ترینه هیڅ یو څیز واپس مهٔ اخلئ ایا تاسو به ترینه په بهتان تړلو او په ښکاره ګناه (ظلم) کولو هغه مال واپس اخلئ

مُّبِينًا ۝ وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُۥ وَقَدْ أَفْضٰى بَعْضُكُمْ إِلٰى بَعْضٍ

ښکاره | او څنګ | اغستے شئ تاسو دغه مال | او حالانکه | رسیدلی دی | بعضے ستاسو | بعضو نورو ته

(ځکه دا سے کار خو بدکار مے ښځے سره کولے شی او یا به خالص ظلم وی) او (آخر) تاسو ترینه هغه مال څنګه واپس اخلئ حالانکه

وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ۝ وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ

او اغستے دے دوی | ستاسو نه | لوظ | مضبوط | او نکاح مه کوئ | هغه چا سره | چه نکاح (ورسره) کړی وی

تاسو (ښځے او خاوند) یو بل سره لیدلے کاته کړی دی او دوی تاسو نه دنکاح پوخ قول او اقرار اغستے دے. او کومو ښځو سره چه ستاسو

اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً

پلار انو ستاسو | د ښځو نه | مګر | هغه | چه مخکښ تیر شوی دی | بیشکه دا | ده | بے حیائی

پلار نیکه نکاح کړی وه دهغوی سره تاسو نکاح مه کوئ اودده حکم نه وړاندے چه څه شوے دی نو هغه خیر دے یقیناً

وَّ مَقْتًا ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ ع

اودغضب خبره | او ډیره بده | طریقه ده | حرام کړے شوی دی | په تاسو باندے | مَیندے ستاسو

دا ډیره د بے شرمئ اود غصے خبره ده او ډیر خراب دستور دے. په تاسو باندے حرام دی ستاسو میندے

وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْاَخِ

او لونړه ستاسو | اوخوَیندے ستاسو | او تروریانے ستاسو | اودمور خوَیندے ستاسو | او لونړه | دړور (اوریرے)

اوستاسو لونړه او ستاسو خوَیندے او دستاسو پلار انو خوَیندے او دمیندو خوَیندے او ستاسو اوریرے

وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ

او لونړه | د خور (خورزے) | اومَیندے ستاسو | هغه | چه تے ئے دکړی وی تاسوته | اوخوَیندے ستاسو

اوخورزے او ستاسو هغه مَیندے چه تاسو ته ئے تے درکړے وی او ستاسو د تِی خوَیندے

مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ

دتِی د رُودلونه (دپَیوډوډے نه) | او مَیندے | د ښځو ستاسو (خوانبیانے) | او پرکتی ستاسو | هغه

او ستاسو خوانبیانے او ستاسو هغه پرکتئ چه ستاسو په

فِيْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ۫ فَاِنْ

چه دی په غیږ (پروش) ستاسو کښ | د ښځو ستاسو هغو نه | چه کوروالے کړے دے تاسو | ډهغوی سره | پس که چرے

پرورش کښ وی دهغه ښځو نه چه تاسو وَرسره نزدیکت (کوروالے) کړے وی او که تاسو وَرسره نزدیکت

لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ ۫ وَحَلَآئِلُ

نه وئ | یوځائے شوے تاسو | د هغوی سره | نو نشته څه گناه | په تاسو باندے | او ښځے

(کوروالے) نه وی کړے نو بیا د پرکتئ سره په نکاح کولو کښ څه گناه په تاسو باندے نشته او دخپلو ځامنو

اَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ

د ځامنو ستاسو | خوهغه ځامن | چه دی ستاسو د شاګانونه | اودا چه | جمع کړئ تاسو | په مینځ

ښځے (اینګورپانے) او د دوَو خوَیندو سره په یوځائے نکاح کول درباندے هُم حرام کړے شوے دی

الْاُخْتَيْنِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۳﴾

دډوخیندو کښ | مګر | هغه څه | چه مخکښ تیر شوی دی | بیشکه | الله | دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان

مګر چه څه تیر شوے دی هغه تیر شوے دی یقیناً الله ډیر معافی کونکے ډیر مهربان دے

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ

او وادۀ شوے | د ښځو نه | مګر | هغه ویښځے | چه مالکان دی | ستاسو نبی لاسونه (دهغوی)
اووادۀ شوے ښځے هم په تاسو حرامے دی سوا دوینزو نه څکه ویښز مے تاسو له حلالے دی اګر که دکافرو په نکاح کښ وی مخکښ حقیدنه

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ

لیکلے شوے حکم دے | د الله | په تاسو | اوحلال کړے شوی دی | ستاسو دپاره | هغه | چه ماسوا دی | د دینه
الله دا حکمونه په تاسو فرض کړی دی اودے منه سوا اودهغه زنانو نه علاوه چه په نور و نصوصو کښ ذکر دی) چه څوم مرد زنانه دی نو تاسو له حلالے دی

اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ فَمَا

چه طلب کوئ تاسو (دازنانه) | په بدل دمالونو خپلو | (په دا سے حال کښ) چه نکاح کوونکی یئ | نه یئ زنا کوونکی | بیا هغه مهر
څکه چه تاسو دا ښځے طلب کوئ په بدله دمالونو خپلو کښ او عقد نکاح کوونکے ئے نه ئے زنا کوونکے که چرته تاسو

اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ

چه فائده واغستله تاسو | په سبب دهغے | د دوی نه | نو ورکړئ دوی ته | مهرونه د دوی | مقرر کړے شوے
د مهر په بدله کښ د دے ښځو نه د جماع فائده حاصله کړئ نو بیا په تاسو باندے دوی ته د پوره مقرر شوی مهرور کول واجب دی

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ؕ

اونشته څه ګناه | په تاسو باندے | په هغه کښ | چه راضی شوی وئ تاسو | په هغے | پس | د مقرر کولو نه
او که د مهر مقرر کولو نه پس تاسو ښځه خلوند د یو بل په رضامندئ سره څه کمے زیاتے په مهر کښ کول غواړئ نو هیڅ ګناه مو باندے نشته

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ

بیشکه | الله | دے | ښه پوهه | ښه حکمت والا ذات | او څوک | چه نه لري وس | د ستاسو نه
یقیناً الله ډیر پوهه دے په مصلحت د بندګانو خپلو او حکیم دے په بیانولو د احکامو۔ او په تاسو کښ څه چې دازادو

طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ

دفراخئ دمال | تر دے چه نکاح او کړی | د آزادو | مومنانو ښځو سره | نو (نکاح دِ او کړی) دهغه چا سره | چه مالکان ئے دی
مسلمانانو ښځو سره د نکاح کولو وس نه وی نو هغه له جائز دی چه د بل مسلمان رور و ینز مے سره نکاح او کړی چه کومه مومنه وی

اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ؕ

نبی لاسونه ستاسو | د وینځو ستاسو نه | چه مومنانے دی | او الله | ښه پوهه دے | په ایمانونو ستاسو
د و ینزو مے سره د نکاح کولو دپاره هغے ظاهری ایمان پورے دے او باقی زړه و نو حالت الله ته معلوم دے او د ځهل نسبی او چتوالی خو جنه د و ینزو مے نه

بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

بعضے ستاسو | د (جنس د) بعضونه دی | نو نکاح او کړئ د دوی سره | په اجازت | د مالکانو د دوی
نفرت مه کوئ څکه تاسو تول یو بل سره په جنس او دین کښ شریک یئ او د و ینزو سره نکاح د هغوی د مالکانو په اجازت باندے او کړئ

وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ

اوورکړئ دوی ته | مهرونه د دوی | مطابق د دستور | په دا سے حال کښ چه پاکدامنے وی | نه وی ښکاره زنا کوونکی وی
او د قاعدے مطابق ورله مهرور کړئ خو په دے شرط ورسره نکاح او کړئ چه دوی پاکدامنے وی ښکاره بدکاره نه وی

وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ

او نه وی نیوونکی | په پټه اشنایان | بیا کله چه | وادهٔ کړے شی دوی | نو که چرے | اوکړه دوی
اونهٔ په پټه اشنایان نیولکے وی نو چه دوی (وینزے) په نکاح کښ راشی نو که بیائے بدکاری اوکړه

بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ

بے حیائی (بدکاری) | نوده په دوی باندے | نیمه | دهغے | چه ده په آزادو ښځو باندے
نو دوی له د ازادو ښځو په نسبت نیمه سزا مقرره ده

مِنَ الْعَذَابِ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ وَاَنْ

د سزا نه | دا (دی) | دهغه چا دپاره | چه یَریږی | د ګناه (زنا) نه | دَستاسو نه | او
دانکاح کول دَوینزے سره په تاسو کښ دهغه دچا دپاره ده چه په ګناه کښ داَخته کیدو یَرهٔ ورسره وی او که تاسو څان

تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ يُرِيْدُ اللّٰهُ ع

صبر کول ستاسو | دیر غوره دی | ستاسو دپاره | او الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان دے | غواړی | الله
قابو کړئ دَنکاح دَوینزے نه نو دا در له دیره غوره ده او الله دیر بخښونکے دیر مهربان دے. الله غواړی چه تاسو ته خپل

لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ

چه بیان کړی | تاسو ته | او اوښائی تاسو ته | طریقے | دهغه کسانو | چه مخکښ وو ستاسو نه | اور حم اوکړی
حکمونه دَحلالو او حرامو واضحه کړی او کوم نیکان خلق او انبیاء کرام چه تاسو نه مخکښ تیر شوی دی دهغوی طریقے در ته اوښائی

عَلَيْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ

په تاسو | او الله | ښه پوهه | دحکمت خاوند دے | او الله | غواړی | چه توبه قبوله کړی
اوپه تاسو رحم اوکړی په بیانولو دا احکامو کښ او الله ښه پوهه دے په مصلحتونو دے احکامو. او که کوتاهی درنه اوشی نو الله غواړی

عَلَيْكُمْ ۖ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوٰتِ اَنْ تَمِيْلُوْا

ستاسو | او غواړی | هغه خلق | چه پیروی کوی | دخواهشاتو (خپلو) | چه واړوی تاسو (دحق نه)
چه توبه درله قبوله کړی او کوم خلق چه نفسانی خواهشاتو پسے روان دی هغوی غواړی چه په دے احکامو کښ تاسو دَبیان

مَيْلًا عَظِيْمًا ۝ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ

په اوریدلو | دیرو سره | غواړی | الله | چه کم کړی | ستاسو نه (بندے) | اوپیدا کړے شوے دے
شوے لارے نه بل طرف ته واړوی۔ الله غواړی چه تاسو سره په ټول دین کښ دآسانئ معامله اوکړی ځکه چه

الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ۝ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ

انسان | کمزورے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه خورئ | مالونه خپل
انسان کمزورے پیدا شوے دے۔ اے مومنانو! خپلو کښ د یَو بل مال په

بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ

په خپل مینځ کښ | په ناحقه | لیکن | چه وی دا مالونه | تجارت | په رضامندئ دَیو بل
ناحقه طریقه مهٔ خورئ مګر کهٔ دے مالونو لَین دَین او تجارت په رضامندئ دَیَو بل سره اوشی (نو داکار منع نه دے)

مِّنْكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ۝

د ستاسو نه | او مهٔ وژنئ تاسو | ځانونه خپل | بیشکه | الله | دے | په تاسو | دیر مهربان

او (په خپلو کښ) یو بل مه وژنئ بیشکه الله په تاسو دیر مهربان دے (حکه ئے د بنی اسرائیلو پشان په توبه د قتل کښ

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ

او څوك | چه او کړی | داکار | چه زیاتے کونکے وو | او ظلم کونکے وو | پس زر ده | چه داخل به کړو مونږ هغه

په قتل د نفسونو نه ئے مکلف کړی). او څوك چه په ظلم او زیاتی سره دا منهیات او کړی نو هغه به مونږ اورته داخل کړو

نَارًا ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَي اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝ اِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَاۗىِٕرَ

اُور ته | او دے | دا کار | په الله باندے | اسان | که چرے | ځان اوساتئ تاسو | د غټو

او داکار الله ته بالکل اسان دے۔ که تاسو (پس د قدرت نه په غټو گناهونو باندے) د غټو گناهونو نه ځان اوساتئ

مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

هغه گناهونو نه | چه منع کولے شئ تاسو | د هغے نه | نو لرے به کړو مونږ | ستاسو نه | وارهٔ گناهونه ستاسو

د کومونه چه تاسو منع کړے شوی ئ نو دا اسے عمل صالح دے چه مونږ به تاسو ته په سبب د ے ستاسو (وارهٔ) گناهونه خامخا

وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ۝ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ

او داخل به کړو مونږ تاسو | ځائے د داخلید لو | عزتمند ته | او تمنا (حسد) مه کوئ | د هغه څهٔ | چه غوره کړی دی | الله

معاف کړو او د عزت ځائے (جنت) ته به مو داخل کړو۔ او الله تعالیٰ چه په تاسو کښ یو لر په په بل باندے څهٔ فضیلت ور کړے دے نو په هغے

بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰي بَعْضٍ ۭ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا

په هغے سره | بعضے ستاسو نه | په بعضو باندے | د پاره د سړو | برخه ده | د هغه عمل

باندے یو بل سره حسد مه کوئ او سړو چه په خپل عمل (د خیر یا د شر) سره څه کسب کړی دی نو د دوی د پاره هم د هغے برخه ده

اكْتَسَبُوْا ۭ وَلِلنِّسَاۗءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۭ وَاسْـَٔـلُوا اللّٰهَ

چه کسب کړے دی دوی | او د پاره د زنانو | برخه ده | د هغه څهٔ نه | چه کسب کړی دی دوی | او غواړئ | د الله نه

(د ثواب یا د عقاب نه) او بنځو چه په خپل عمل (د خیر یا د شر) سره څه کسب کړے دی نو د دوی د پاره هم د هغے برخه ده (د ثواب یا د عذاب نه)

مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝ وَلِكُلٍّ

(هر یو څیز) د فضل د هغه نه | بیشکه | الله | دے | په هر څیز باندے | ښهٔ پوهه | او د هر یو د پاره

او د الله نه د هغه فضل غواړئ یقیناً الله په هر یو څیز باندے ښه پوهه دے۔ مونږ د هر هغه مال د پاره

جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ۭ

مقرر کړی دی مونږ | وارثان | د هغه مال | چه پریښود لے وی | مور او پلار | او نزدے خپلوانو

وارثان مقرر کړی دی کوم چه مور او پلار او نزدے خپلوانو پریښود لے وی

وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ۭ

او هغه کسان | چه کلک شوی دی (ورسره) | لوظونه ستاسو | نو ور کړئ دوی ته | برخه د دوی

او د چا سره چه تاسو لوظونه د رور ولئ یا د ځوی والئ کړی دی نو هغوی له هم خپله برخه ور کړئ

ع ۵ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ۝ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ

بیشکه | الله | دے | په هر | څیز باندے | خبر لرونکے | سړی | نګران دی

یقیناً الله په هر څیز باندے خبر لرونکے دے نو د هغه اطاعت کوئ۔ سړی د ښځو نګران دی

عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّ بِمَآ

په زنانو باندے | په سبب دے | چه غوره کړی دی | الله | بعضے دوی نه | په بعضو نور باندے | او په سبب دے

څکه چه الله تعالیٰ په دوی کښ یو له په بل باندے فضیلت ورکړے دے او څکه چه سړو (په ښځو باندے)

اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ

چه خرچ کړی دی خوی | د مالونو خپلو نه | پس نیکانے ښځے | تابعداری کونکے دی | حفاظت کونکے دی

خپل مالونه لګولی دی نو (پس) نیکانے زنانه هغه چه تابعداری کوی دالله، د رسول او د خاوند، او د خاوند په غیر حاضرئ کښ

لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ

پشی شا | په هغے وجه | چه حفاظت کړے دے | الله دوی | او هغه ښځے | چه یَرِیږئ تاسو | د بدخویئ (نافرمانئ) دَدوی نه

د خاوند دمال او د خپل عزت حفاظت کونکے دی په دے وجه چه الله دَدوی حفاظت کړے دے او تاسو ته چه د کومو ښځو

فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ

نو نصیحت او کړئ دوی ته | او پریږدئ دوی یواځے | په بستر و کښ | او اووهئ دوی

د سرکشئ اندیښنه پیدا شی نو اول ورته نصیحت او کړئ او بیا ئے څانله په جدا بستر و څلوئ او (که بیا هم نه منی نو) وے وهئ

فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

پس که چرے | او منله دوی خبره ستاسو | نو مه لټوئ | په دوی باندے | څه لار | بیشکه | الله | دے

پس که چرے ستاسو خبره او منی نو بیا دهغوی خلاف سختی مه کوئ او د طلاق لار مه لټوئ یقیناً چه الله

عَلِيًّا كَبِيْرًا ۝ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا

دیر اوچت | دلوئے شان والا | او که چرے | او یرِیږئ تاسو | د مخالفت نه | په مینځ د دواړو کښ | نو مقرر کړئ تاسو

دیر اوچت دے په مرتبه کښ او دیر لوئے ذات دے۔ او که چرے تاسو ته ښځے او خاوند ترمینځه د بے اتفاقئ یَرِه (اندیښنه)

حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا

یو مُنصف (فیصله کونکے) | د خپلوانو د سړی نه | او یو مُنصف | د خپلوانو د ښځے نه | که چرے | غواړی دوی دواړه | اصلاح کول

پیدا شی نو یو ثالث د خاوند د کورنئ نه او یو ثالث د ښځے د کورنئ نه مقرر کړئ که هغوی دواړه اصلاح کول غواړی په اخلاص سره

يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ۝ وَاعْبُدُوا

نو جوړ ئ به راولی | الله | په دواړو کښ | بیشکه | الله | دے | ښه پوهه | ښه خبردار | او عبادت کوئ

نو الله به دوی په مینځ کښ اتفاق راولی یقیناً الله دیر پوهه دے په ظاهری حالت د ښځے خاوند او خبردار دے په لیتو نو دوی باندے

اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا

د الله | او مه شریکوئ | د هغه سره | هیڅ یو څیز | او د مور او پلار سره | نیکی (کوئ)

او یواځے د الله عبادت کوئ او هیڅ څوک ورسره شریک (برخه دار) مه جوړوئ

وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى

او دخپلو خپلوانو سره هُم | او دیتیمانو سره هُم | او مسکینانو سره هُم | او کاونډی | رشته دار سره هُم

او د مور او پلار سره او د خپلوانو سره او د یتیمانو سره او د غریبانو سره

وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ

او کاونډی | پردی (لرے) سره هُم | او د ملګری سره هُم | چه دلاړ خاوناستے پاستے ملګرے وی | او د مسافر سره هُم

او کاونډیانو سره که خپلوان وی او که پردی او د ناستے پاستے ملګری سره او د مسافرو سره

وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ

او هغه چاسره هُم | چه مالکان دی | ستاسو نبی لاسونه (دهغوی) | بیشکه | الله | نه خوښوی | هغه څوک | چه وی

او وینرو (مریانو) سره ښه سلوک (نیکی) کوئ یقیناً الله

مُخْتَالًا فَخُوْرَا ۝ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ

کبرژن | فخر کوونکے | هغه کسان دی | چه کوی شومتیا | او حکم کوی | خلقو ته | دشومتیا (کولو)

کبرژن او لاڅے وهونکی نه خوښوی دادے خلق دی چه په خپله هم شومتیا (بخل) کوی او نورو ته هم دشومتیا تعلیم ورکوی

وَيَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۭ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ

او پټوی | هغه څه | چه ورکړی دی دوی ته | الله | د فضل خپل نه | او تیار کړے دے مونږ | د کافرانو دپاره

او الله تعالیٰ چه ورله د خپل فضل نه څه (مال او علم) ورکړے دے هغه پټوی او هم دادے کافرانو دپاره

عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝ وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَاۗءَ النَّاسِ

عذاب | رسوا کوونکے | او دوی هغه کسان دی | چه خرچ کوی | مالونه خپل | دپاره د ښودنے | د خلقو

مونږ رسوا کوونکے عذاب تیار کړے دے او هغه خلق (هم دالله خوښ نه دی) چه خلقو ته د ښودنے دپاره خپل

وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ

او ایمان نه لری | په الله | او نه | په ورځ | روستنۍ | او هغه څوک | چه وی | شیطان

مال لګوی او نه په الله ایمان لری او نه د اخرت په ورځ باندے بلکه دوی د شیطان ملګرتیا کوی او شیطان چه د چا ملګرے شی

لَهٗ قَرِيْنًا فَسَاۗءَ قَرِيْنًا ۝ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

د هغه | ملګرے | نو ډیر بد دے | دا ملګرے | او څه نقصان به وے | په دوی باندے | په ایمان راوړلو دوی کښ | په الله

نو هغه ډیر خراب ملګرے دے او د دوی به څه تاوان شوے وو که په الله

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ

او په ورځ | روستنۍ | او په خرچ کولو دوی کښ | د هغه څه نه | چه ورکړی دی دوی ته | الله | او دے | الله

او د اخرت په ورځ ایمان راوړے وے او الله چه ورله کوم رزق ورکړے دے د هغے نه څه د الله په لار کښ لګولے وے

بِهِمْ عَلِيْمًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ

په دوی باندے | ښه پوهه | بیشکه | الله | نه کوی ظلم | په قدر | د زرے | او که چرے وی د زرہ

او الله تعالیٰ ته د دوی ټول حالات ډیر ښه معلوم دی. یقیناً الله تعالیٰ د ذرے برابر (هم) په هیڅ چا ظلم نه کوی او که څوک

حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝

نیکی | (نو) زیاتوی هغے لره | او وَرکوی | دخپل طرف نه | اجر | ډیر لوئے

دزرے برابر نیکی اوکړی نو هغه ورله الله تعالیٰ په څو چنده زیاتوی اودخپل طرف نه ورله ډیر لوئے اجر (جنتونه) ورکوی

فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ

نو څه حال به وی دهغے خلقو | کله چه | راولو مونږ | د هر | اُمت نه | یو گواه | اوراولو مونږ | تا

نو (داخلق دے لږ سوچ اوکړی) چه هغه وخت به ددوی څه حال وی کله به چه مونږ د قیامت په ورځ د هر امت نه

عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ۝ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په دے اُمت باندے | گواه | په دغه ورځ | ارمان به کوی | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے

یو بیان کوونکے گواه راولو اودے امت د خلقو د پاسه به تاگواه کړو (او داگواهی به د پیغمبرانو په خپل تبلیغ او د خلقو په اعمالو

وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ وَلَا يَكْتُمُوْنَ

او نافرمانی ے کړے ده | د پیغمبر | دے خبرے چه هواره کړے شی | په دوی باندے | زمکه | او نه به شی پټولے

باندے دوی) کومو خلقو چه کفر کړے دے او د پیغمبر نافرمانی ے کړے ده نو په دغه ورځ به دوی ارمان کوی چه کاش دوی دفن

اللّٰهَ حَدِيْثًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ ع

د الله نه | هیڅ خبره | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه نزدے کیږئ | مانځه ته

کړے شوے او خاوره په دوی باندے هواره کړے شوے او دالله تعالیٰ نه به هیڅ خبره نشی پټولے اے مومنانو اکله چه تاسو دنشے

وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا

په داسے حال کښ چه تاسو | نشه یئ | تر دے | چه پوهیږئ تاسو | په هغه څه | چه وایئ تاسو | او نه په حالت د جنابت کښ

په حالت کښ یئ نو تر هغه وخته پورے مانځه ته مه ورنزدے کیږئ څو پورے چه تاسو څه وایئ (په مانځه کښ) په هغے پوهه نشئ

اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى

مگر | چه تیریدونکی یئ | دلار (مسافر یئ) | تر دے | چه غسل اوکړئ تاسو | او که | یئ تاسو | بیماران

او د جنابت په حالت کښ هم مونځ مه کوئ، او مسجد ته هم مه داخلیږئ تر دے چه تاسو غسل اوکړئ

اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَاۗىِٕطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ

یا په سفر باندے یئ | یا راشی | یوتن | ستاسو | د قضائے حاجت نه | یا یوځائے شوی یئ تاسو

او که چرے تاسو بیماران یئ یا مسافر یئ یا په تاسو کښ یو کس داودس ماتی نه راشی یا تاسو بنځو سره نزدیکت

النِّسَاۗءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاۗءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا

د زنانو سره | او نه مومئ تاسو | اوبه | نو قصد اوکړئ | د خاورے | پاکے | نو مسح اوکړئ

کړے وی او په دے تولو احوالو کښ تاسو اوبه بیا نه مومئ نو په پاکه خاوره باندے تیمم اوکړئ او طریقه د تیمم

بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ۝

په مخونو خپلو | او په لاسونو خپلو | بیشکه | الله | همیشه دے | معافی کوونکے | بخښنه کوونکے

دادے چه په دے خاورے سره په مخونو او په لاسونو مسح اوکړئ یقیناً الله همیشه معافی کوونکے د خطاء دے او دیر بخښنه کوونکے دگناه دے

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ

آیا تہ نہ گورے | هغه کسانو ته | چه ور کړے شوے دهغورته | څهٔ برخه | د کتاب نه | اخلی دوی

ولے تا هغه کسان نه دی کتلی چه د تورات د علم نه ورته څه بعضے حصه ملاو شوے ده او بیا هم

الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ۝ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

گمراهی | او غواړی دوی | چه گمراه شئ تاسو | د نیغے لارنه | او الله | ښه پوهه دے

گمراهی خوښوی او په دے کوشش کښ دی چه تاسو (هم) د سمے لارنه لے لارے کړی. او الله ستاسو دشمنان ستاسو نه زیات

بِاَعْدَآئِكُمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ۝

په دُشمنانو ستاسو | او پوره دے | الله | دوست | او پوره دے | الله | مدد کوونکے

پیژنی نو یَرَ ته ترینه مه کوئ څکه چه الله ستاسو پوره حفاظت کونکے دے او پوره مددگار دے په یهودیانو کښ دا سے خلق هم شته چه

مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ

بعضے د هغه کسانو نه | چه یهودیان دی | (هغه دی چه) بدلوی | کلمے (د الله د کتاب) | د ځایونو خپلو نه | او وائی دوی

د تورات الفاظ د خپل باطل مقصد د پاره د خپل مناسب ځایونو نه بدلوی را بدلوی او کومه خبره چه د دوی د خواهشاتو نه خلاف وی)

سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا

واوریدل مونږ | او نافرمانی کوو مونږ | او واوره ته | وادِنه اور ولی شی تاته | او (وائی دوی) راعنا لفظ | په داسے محل کښے چه تلوهی

نو دوی وائی چه مونږ د واوړیدو خونه ځُمنو او وائی دوی نبی ته چه ته زمونږ خبره واوړه او تاته د اِ واوریدل او نکړے شی (نه دے مړ شے)

بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى الدِّيْنِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا

ژبے خپلے | او عیب لگوی | په دین کښ | او که چرے دوی | وئیلے وے | چه واوریدل مونږ

او دوی راعنا لفظ په رابشکلو سره وائی (په هغے) او په دین اسلام باندې عیب لگوی - حالانکه که دوی داسے وئیلے وے چه مونږ

وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ

او منل کوو مونږ | او واوره | او گوره مونږ ته | نو خامخا وے به دا | د پیر غوره | د پاره د دوی | او د پیر درست

ستا کلام واوړیدو او تابعداری کوو مونږ ته او ته زمونږ کلام واوړه او زمونږ لحاظ او کړه نو دا به ورله فی نفسه د پیره غوره

وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

لیکن | لعنت کړے دے په دوی باندے | الله | په وجه د کفر د دوی | پس ایمان نه راوړی دوی | مگر | لږ

او د اِنصاف خبره وے لیکن د دوی د کفر په وجه الله په دوی لعنت کړے دے نو د لږو کسانو نه سوا نور ایمان نه راوړی

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا

اے هغه کسانو | چه ور کړے شوے دے ورته | کتاب! | ایمان راوړئ | په هغه کتاب | چه را لیږلے دے مونږ

اے اهل کتابو! مونږ چه کوم کتاب نازل کړے دے چه هغه ستاسو د کتاب

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا

تصدیق کوونکے | د هغه کتاب چه | چه دی ستاسو سره | مخکښ د دے نه | چه وُران به کړو مونږ | مخونه

تصدیق کوونکے دے هغه او منئ د دے نه اوړاندے چه مونږ ستاسو مخونه وُران کړو او د شادو گانو مخونه ترینه جوړ کړو

فَنَرُدَّهَا عَلٰٓى اَدْبَارِهَآ اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ

اوڅه ګرځوو هغې لره | په شاګانو د هغې | يا لعنت به او کړو په دوی باندې | لکه چه | لعنت کړے دے مونږ

پس اوګرځو دے لره پشان د ستونږ يا پرے دا سے لعنت اوکړو لکه څنګه چه مو په

اَصْحٰبَ السَّبْتِ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ

په خالی والو باندے | او ده | فيصله | د الله هميشه | پوره کړے شوے | بيشکه | الله

سبت والو باندے کړے وو (چه په قسما قسم بداخلاقو کښ اخته شوی وو) او د الله حکم به خامخا په ځائے (پورا) کيږی

لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ

نه بخښی | دا چه | شرک اوکړے شی | دهغه سره | او بخښی | هغه | چه علاوه دی | ددے نه | هغه چا ته

الله خو بس يوشرک نه معاف کوی او ددے نه سوا هر څومره ګناهونه چه چا ته اوغواړی نو معاف کوی ـ ځورته اوچا چه د الله سره شريک

يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا

چه اوئے غواړی | او څوک | چه شرک اوکړی | د الله سره | نو يقينا | جوړے کړه په الله باندے | ګناه

جوړ کړو او په خپل خيال کښ ـ ځکه دَ جواز نسبت الله ته کولو نو يقين اوسائی چه هغه د ډيرے غټے ګناه دروغ جوړ کړل په الله باندے

عَظِيْمًا ۝ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ بَلِ اللّٰهُ

ډيره لويه | آيا ته ګورے | هغه کسانو ته | چه پاک ګڼری | ځان خپل | بلکه | الله

آيا ته نه ګورے (بلکه اوګوره دَ پار ه تعجب کولو) هغه کسانو ته چه سره دَ کفر او شرک نه پخپله د خپلو پاکدامنی تعريفونه کوی حالانکه لائق

يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۝ اُنْظُرْ كَيْفَ

پاکوی | چا لره | چه اوغواړی | او ظلم به نه شی کيدے په دوی باندے | د تار ډهپو ی دَ کجورے برابر | اوګوره | څنګه

دَ پاکوالی هغه څوک دی چه الله ئے پاک کړی په بيخ ساتلو سره دَ ګناهونو نه او په دے دواړو قسمو خلقو به معمولی

يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا ۝

تړی دوی | په الله باندے | دروغ | او پوره دی | دا دروغ | ګناه | ښکاره

قدرے ظلم هم اونکړے شی (لږ) اوګوره دا خلق څنګه په الله تعالیٰ باندے دروغ تړی. او دَدوی د مجرمتيا دپاره دا ښکاره ګناه بس ده

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ

آيا ته نه ګورے | هغه کسانو ته | چه ورکړے شوے دهغوی ته | څه برخه | د کتاب نه | ايمان راوړی دوی

آيا ته بطور تعجب نه ګورے هغه چا ته چه د تورات د علم څه حصه ورته ملاو شوے ده (بيا هم) هغوی

بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

په بتانو (مَنتروں) | او په شيطان باندے | او وائی | په بارہ د هغه کسانو کښ | چه کفر ئے کړے دے

(دَ بل ګمراه کولو د پاره) د بتانو او د شيطانانو تصديق کوی او (مشرکانو ته) دَ هغوی دَ شرک په بارہ کښ وائی

هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ۝ اُولٰٓئِكَ

دا خلق | زيات رسيدو نکے دی | د هغه کسانو نه | چه ايمان ئے راوړے دے | حق لارے ته | هُم دا

چه تاسو د مومنانو نه زيات په سمه لار روان ئ هم دا هغه کسان دی چه الله

الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ

هغه خلق دی | چه لعنت کړے دے په دوی باندے | الله | او هغه څوک | چه لعنت پرے وکړی | الله | نو چرے به اونۀ مومے ته

پرے لعنت کړے دے او په چا چه الله لعنت اوکړی نو ته به هیڅ کله دهغۀ دپاره

لَهٗ نَصِيْرًا ۝ اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَاِذًا

دهغه دپاره | څوک مدد کار | آیا شته د پاره ددوی | څۀ برخه | د بادشاهئ نه | پس په دغه وخت کښ

مددګار پیدا نه مومے ـ ولے ددوی دالله په بادشاهئ کښ څه حصه شته؟ که دا سے وے نو دوی خو به دَ څپل بخل دَ وجے خلقو ته

لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِيْرًا ۝ اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰى مَآ

ورپه نه کړی | خلقو ته | په اندازه دَ داغ دکجورے | آیا حسد کوی دوی | د خلقو سره | په هغه څه

دغَرے برابر څیز هم نه ووَر کړے ـ یا الله تعالی چه په خپل فضل خلقو ته څه مال، دولت، نبوت، عزت ور کړے دے نو دوی

اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ

چه ور کړی دی دوی ته | الله | د فضل خپل نه | پس یقیناً | ور کړی وو مونږ | اولاد | د ابراهیم ته

ورسره پیدا دے حَسد کوی (که حلاسوی) نو دَ ابراهیم کورنۍ ته (چه موسٰی، عیسٰی، اوداؤد دے او داټول ستاسو مشران وو) او دوی ته مونږ

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ۝ فَمِنْهُمْ مَّنْ

کتابونه | او پوهه ددین | اوور کړے وه مونږ دوی ته | بادشاهی | ډیره لویه | پس بعضے دَ دوی نه | هغه څوک دی

کتاب او حکمت ور کړے وو او هغوی ته مولویه بادشاهی هم ور کړے وه (نو بیا هغوی سره هم حسد کوئ) نو بیا

اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ؕ وَكَفٰى

چه ایمان ګڼلو رے دے | په هغه (کتابونو) باندے | او بعضے دَ دوی نه | هغه څوک دی | چه منع شو | دهغے نه | او کافی دے

په دوی کښ بعضو ایمان راوړو په هغه څه چه آل ابراهیم سره وو او بعضو ترینه مخ واړولو (دغه دے کافرانو دپاره)

بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ

دوزخ | بل کړے شوے | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | په ایتونو زمونږ | زر دے

د دوزخ ګرم اور کافی دے ـ یقیناً چا چه زمونږ د ایتونو نه انکار کړے دے هغوی به مونږ ډیر زر

نُصْلِيْهِمْ نَارًا ؕ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ

چه داخل به کړو مونږ دوی | اُور ته | هر کله چه | اوسوزی | څرمنے ددوی | نو بدل به کړو مونږ دوی ته

اُور ته او غورزوو کله چه دهغوی څرمنے په سوزیدو پخے شی نو مونږ به ورته دهغے په ځائے نورے څرمنے ور واغوندو

جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا

څرمنے | نورے | دے دپاره چه اوخکی دوی | عذاب | بیشکه | الله | دے | زور اُور

(یعنی څرمن به هم هغه وی خو صفت به ئے بدل شی) دے دپاره چه دعذاب خوند (ښه) اوخکی یقیناً الله ډیر زور اور

حَكِيْمًا ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ

(او) حکمت والا | او هغه کسان | چه ایمان ګڼلو رے دے | او کړی ئے دی عملونه | نیک | نو زړه ته چه داخل به ئے کړو مونږ به

اولوئے حکمت والا دے. او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ئے کړے دی نو مونږ به هغوی داسے جنتونو ته داخل کړو

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَآ اَبَدًا ؕ

(دا سے) جنتونوته | چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په دے کښ | همیشه دپاره
چه د هغے لاندے به نهرونه بهیږی او په هغے کښ به همیشه وی

لَهُمْ فِیْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِیْلًا ۝۵۷

وی به ددوی دپاره | په دے (جنت) کښ | بیبیانے | پاکے | اوداخل به کړو مونږ دوی لره | سوری | دهمیشه راحت ته
هلته به ددوی دپاره پاکیزه بیبیانے هم وی او مونږ به دوی دهمیشه آرام والا سوری ته داخل کړو

اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰۤی اَهْلِهَا ۙ وَاِذَا

بیشکه | الله | حکم کوی تاسو ته | چه ادا کړئ تاسو | حقونه | خپل حقدار ته | او کله چه
اے مسلمانانو ایقیناً الله تاسو ته حکم کوی چه امانتونه د هغے (خپلو) حقدارو ته ورسوئ او کله چه

حَكَمْتُمْ بَیْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

فیصله کوئ تاسو | په مینځ د خلقو کښ | (نو الله حکم کوی تاسو ته) چه فیصله وکړئ | په انصاف سره | بیشکه | الله
د خلقو په مینځ کښ فیصله کوئ نو د انصاف فیصله کوئ یقین وساتئ چه الله تاسو ته د کومے خبرے نصیحت کوی

نِعِمَّا یَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِیْعًۢا بَصِیْرًا ۝۵۸

دپاره د هغه شیز | چه نصیحت در کوی تاسو ته | په هغے سره | بیشکه | الله | دے همیشه | اوریدونکے | او لیدونکے
هغه ډیر ښه (غوره) ده یقیناً الله هره خبره اوریدونکے او هر څه لیدونکے دے

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | تابعداری اوکړئ | د الله | او تابعداری اوکړئ | د پیغمبر
اے مومنانو د الله تعالیٰ (د کتاب) خبره اومنئ او د هغه د رسول (سنت) اومنئ او د خپلو مسلمانانو حاکمانو خبره هم

وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ فَرُدُّوْهُ

او د حاکمانو | چه دی ستاسونه | پس که چرے | اختلاف اوکړو تاسو | په یو شئ کښ | پس واپس کړئ هغه
اومنئ بیا که چرے په یو خبره کښ ستاسو په مینځ کښ اختلاف پیدا شی نو د الله کتاب ته او د رسول سنت ته

اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

الله ته | او پیغمبر ته | که تاسو | ایمان لرئ | په الله | او په ورځ | روستنئ
ے واپس کړئ (د علماء د صحیح قیاس په ذریعه) که واقعی ستاسو په الله او د آخرت په ورځ (ایمان) یقین وی

ذٰلِكَ خَیْرٌ وَّاَحْسَنُ تَاْوِیْلًا ۝۵۹ اَلَمْ تَرَ اِلَی الَّذِیْنَ یَزْعُمُوْنَ ع ۱۰

داکار | ډیر غوره دے | او ډیر ښه | انجام والا دے | آیا نه کورے ته | هغه کسانو ته | چه گمان (دعوی) کوی
دا ډیره ښه خبره ده او ډیر ښائسته دے انجام (هم) ډیر ښائسته دے. اے پیغمبره! آیا ته تعجب نه کوې د هغه کسانو نه چه

اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْكَ وَمَاۤ اُنْزِلَ

چه بیشکه دوی | ایمان راوړے دے | په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | تا ته | او په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی
دعوی کوی چه یقیناً دوی په هغه کتاب هم ایمان لری کوم چه تاته نازل شوے دے او په هغه کتابونو هم ایمان لری

مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ

مخکښ ستا نه | غواړي دوی | چه فیصله یَوسی | طاغوت (غیر الله) ته | او (حال دادے) چه یقیناً

کوم چه ستا نه مخکښ نازل شوی دی لیکن بیاهم خپلے فیصلے طاغوت اوکافرانو ته اوړل غواړي حالانکه دوی ته دا

اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ

حکم شوے دے دوی ته | چه انکار به کوی | په (فیصله) دهغهٔ باندے | اوغواړي | شیطان | چه گمراه کړی دوی

حکم شوے دے چه دطاغوت دفیصلے نه به انکار کوئ اوپه هغه به کفر کوئ اوشیطان خو داغواړي چه دوی په ډیر لرے

ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۝۶۰ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ

په گمراهئ | لرے سره | اوکله چه | اووئیلے شی | دوی ته | راشئ | هغه څهٔ (منلو) ته | چه رالیږلی دی

گمراهئ کښ اوغورزوی اوکله چه دے منافقانو ته اووئیلے شی چه دهغه کتاب دَ منلو طرف ته راشئ چه

اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ

الله | او (راشئ) پیغمبر ته | گورے به ته | منافقان | چه اوړی | ستا نه

الله نازل کړے دے اودَ پیغمبر طرف ته راشئ نو ته به دا منافقان گورے چه تا نه به پوره

صُدُوْدًا ۝۶۱ فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا

په اوړیدلو سره | نوځنګه حال به وی (ددوی) | کله چه | اورسی دوی ته | څه میصبت | په سبب دهغه عملونو

مخ اړوی نو بیا په هغه وخت به ئے څهٔ حال وی؟ چه دخپله لاسه پرے څه میصبت راشی (او قتل شی)

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۖ بِاللّٰهِ

چه اوړاندے لیږلی دی | لاسونو ددوی | بیا | راشی دوی تا ته | په دے حال کښ چه قسمونه خوری | په الله باندے

نو بیا تاله راځی او الله باندے قسمونه خوری چه

اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّآ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ۝۶۲ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ

چه نهٔ غوختله مونږ | مګر | نیکی | او جوړ جاړے | هم دا | هغه کسان دی | چه پوهه دے | الله

زمونږ غرض خو صرف بنیګړه لتول او اتفاق راوستل وو (په دغه فیصله سره) دا منافقان هم هغه کسان دی چه الله ته ددوی

مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۗ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ

په هغه څه | چه په زړونو ددوی کښ دی | پس مخ واړوه ته | ددوی نه | او نصیحت کوه دوی ته | اووایه | دوی ته

دزړه خبرے ښه معلومے دی نو ته ددوی دخبرو پرواه مه کوه او نصیحت ورته کوه او دا سے (اثر ناکے) خبرے ورته کوه

فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًۢا بَلِيْغًا ۝۶۳ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا

په بارهٔ دنفسونو ددوی کښ | وَینا | اثر ناکه | او نه دے رالیږلے مونږ | هیڅ یو پیغمبر | مګر

چه دهغوی په زړونو کښ خائے ونیسی او مونږ هر یو پیغمبر فقط ددے دپارهٔ لیږلے دے چه دهغهٔ خبره او منلے شی څکه چه په

لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

دے دپاره چه خبره او منلے شی دهغه | په حکم | دالله | او که چرے | دوی | کله چه | ظلم او کړودوی | په خان خپل

دے الله حکم کړے دے او کله چه (دے) منافقانو په خان زیاتے او کړو (په پریخودلو دَ اطاعت دَ رسول سره) نو که

جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ

راغلے وے تاته | پس بخښنه ئے غوښتلے وے | د الله نه | او بخښنه غوښتلے وے | دوی دپاره | پیغمبر

په دغه وخت دوی ستا خوا له راغلی وے او دالله نه ئے بخښنه غوښتلے وے او پیغمبر ورله هم بخښنه غوښتلے وے

لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

نو خامخا موندلے به وے دوی | الله | توبه قبلوونکے | ډیر مهربان | پس نه دے دا سے | او قسم دے په رب ستا | چه نشی دوی مومنان کیدے

نو یقیناً الله به ئے ډیر بخښونکے او مهربانه موندلے وے. اے پیغمبره دمنافقانو خیال غلط دے ستا په رب مے دے قسم وی

حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا

تر دے | چه فیصله او کړی په تا | په هغه اختلاف کښ | چه پیدا شوی دی | په مینځ د دوی کښ | او بیا | او نه مومی دوی

چه داخلق تر هغه وخته پورے مومنان نشی کیدے تر څو چه خپلو جګړو کښ تا حکم او نه منی او بیا چه ته کومه فیصله او کړے

فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۶۵﴾

په زړونو خپلو کښ | هیڅ تنګی | د هغه فیصلے نه | چه کړے ده تا | او منل او کړی دوی | پوره منل

نو دوی په خپلو زړونو کښ په هغے باندے هیڅ تنګی او خفګان محسوس نکړی او ستا فیصلے ته پوره غاړه کیږدی

وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا

او که چرے | مونږ | فرض کړے وے | په دوی باندے | چه اووژئ | خپلوانه خپل | یا اووځئ

او که چرے مونږ دپیغمبر په اطاعت کښ په دوی دا فرض کړے وے چه خپل خپلوان اووژئ یا د خپلو کورونو نه اووځئ

مِّنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ

د کورونو خپلو نه | (نو) نه به وو کړے دوی داکار | مګر | لږ و کسانو | د دوی نه | او که چرے | دوی

نو د لږو کسانو نه سوا به هیڅوا د دوی نه عمل نه وے کړے او که چرے دوی په دغ نصیحت

فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ

کړے وے | هغه کار | چه نصیحت کولے شی دوی ته | د هغے | نو خامخا وے به | دا ډیر غوره | د دوی دپاره

عمل کړے وے نو دا به ورله ډیره غوره وے او د دوی د ایمان د کلکوالی ذریعه به

وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿۶۶﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّاۤ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۶۷﴾

او ډیر | کلکوالے (د ایمان) | او دغه وخت | خامخا ورکړے به وے مونږ دوی ته | د خپل طرف نه | اجر | ډیر لوئے

ګرځیدلے وه او مونږ به ورله د خپل طرف نه ډیر لوئے اجر ورکړے وے

وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۶۸﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ

لوخامخا ورښودلے وے دوی ته | په لار | نیغه | او څوک | چه خبره او منی | د الله | او د پیغمبر

او په دا سے لار به مو روان کړے وے چه هغه به رسولے وے مقصد ته. څوک چه د الله او د پیغمبر حکمونه منی

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ

نو هم دغه خلق به وی | د هغه کسانو سره | چه انعام کړے دے | الله | په هغوی باندے | چه پیغمبران دی

نو هغوی به د هغه کسانو سره ملګری وی په چا چه الله خپل نعمتونه کړی دی چه هغه پیغمبران دی.

وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ

او پوره ریشتینی دی | او شهیدان دی | او نیکان دی | او ډیر ښه دی | دغه خلق

او پاخهٔ ریشتنی . او شهیدان او نیکان دی. او دا خلق ډیر ښه ملګری دی

رَفِيْقًا ۝ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ۝ ع

په ملګرتیا کښ | دا | فضل دے | د الله د طرف نه | او کافی دے | الله | پوهه (عالم)

دا فضیلت د الله طرف نه ملاویږی او ددے په حقیقت باندے یواز ے د الله علم پوره دے.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | واخلئ | سامان د بچاؤ خپل | بیا اوځئ تاسو | جدا جدا

اے مومنانو! د دشمن نه د حفاظت سامان د ځان سره تیار ساتئ بیا (دجهاد دپاره) یوا ځے یوا ځے د ډلو په شکل کښ اوځئ

اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا ۝ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ

یا اوځئ ټول | په یو ځائے | او بیشکه | بعضے ستاسو نه | خامخاهغه خلق دی | چه خامخا روستو کیږی

او یا ټول په یو ځائے اوځئ . او یاد ساتئ چه په تاسو کښ دا سے خلق هم شته چه د جهاد په موقع سستی کوی

فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ

بیا که | اورسیږی تاسو ته | څه مصیبت | نو وائی | چه یقیناً | احسان اوکړو | الله | په ما باندے

بیا که په تاسو چرته مصیبت راشی نو هغه وائی چه الله په ما باندے لوئے احسان وکړو

اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ۝ وَلَىِٕنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ

چه په دغه وخت کښ | نه وو م زهٔ | د دوی سره | حاضر (موجود) | او که | اورسیږی تاسو ته | فضل

چه زه ورسره موجود نهٔ وو م او که په تاسو باندے د الله فضل اوشی او غنیمت درته ملاؤ شی

مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ

د طرفه د الله نه | نو خامخا وائی | گویا که | نه وه | ستاسو په مینځ کښ | او ددهٔ په مینځ کښ

نو بیا به وائی چه لکه ستاسو او ددهٔ تر مینځه هیڅ څه دوستانه نه وه

مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝

دوستانه | کاش چه وے | زه (هُم) | د دوی سره | نو کامیاب شوے به وے زهٔ | په کامیابئ | لویه

او کاش! چه زهٔ هم ورسره وے نو ځما په لاس به هم ډیر څه راغلی وو۔ پس حکومت له پکار دی

فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

پس جنګ دے اوکړی | په لاره | د الله کښ | هغه خلق | چه خرڅوی (قربانوی) | ژوند | د دنیا

چه دا سے خلق تیار کړی چه هغوی د الله په لار کښ جهاد کونکی وی او د دنیا ټول ساز و سامان

بِالْاٰخِرَةِ ۭ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ

په آخرت باندے | او چا | چه جنګ اوکړو | په لاره | د الله کښ | پس شهید کړے شی

قربانونکی وی د آخرت دپاره او دا عقیده لری چه څوک د الله په لار کښ جهاد کوی او شهید کړے شی

أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ۝ وَمَا لَكُمْ

یا غالب شو | نو زر ده | چه ور به کړو مونږ دهٔ ته | اجر | دیر لوئے | او څه عذر دے ستاسو

او یا غالب راشی نو مونږ به ورله دیر زر دیر لوئے اجر ورکړو۔ او اے مسلمانانو! په تاسو باندے څه شوی دی

لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ

چه جهاد نه کوئ | په لاره | د الله کښ | او دپاره (د خلاصولو) د کمزورو | نارینو

چه د الله په لار کښ جهاد نه کوئ او د هغه کمزور سړو

وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ

او زنانو | او ماشومانو | هغو چه | وائ | اے ربه زمونږ | او باسه مونږ | د دے

او ښځو او ماشومانو د خاطره نه جنګیږئ چه هغوی دا دعا غواړی: اے زمونږ ربه!

الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا ۚ

کلی نه | چه ظالمان دی | اوسیدونکی دی دے | او مقرر کړه | مونږ لره | د خپل طرف نه | څوک دوست

مونږ دے د کلی نه او باسه چه خلق ئے ظالمان دی او زمونږ دپاره د خپل طرف نه څوک ملګرے بچ کونکے د ظلم نه

وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا ۝ الَّذِينَ آمَنُوا

او مقرر کړه | مونږ لره | د خپل طرف نه | څوک مدد کار | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے

او مدد کار په ویستلو د کلی نه جوړ کړه۔ (او) چا چه ایمان راوړے دے هغوی (خو)

يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ

جهاد کوی | په لاره | د الله کښ | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | جنګ کوی

د الله په لار کښ جنګیږی او جهاد کوی او کافران

فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ ۖ إِنَّ كَيْدَ

په لاره | د شیطان کښ | نو جهاد او کړئ | د دوستانو | د شیطان سره | بیشکه | چال

د شیطان په لار کښ جنګیږي. نو اے مسلمانانو! د شیطان دوستانو سره او جنګیږئ. یاد ساتئ چه د شیطان چالونه

الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا ۝ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ

د شیطان | وی | کمزوری دے | آیا ته نه ګورے | هغه کسانو ته | چه اوو ئیلے شو | هغوی ته

همیشه کمزوری وی. آیا ته د تعجب په نظر نه ګورے هغه خلقو ته چه ورته اوو ئیلے شی چه فی الحال ماحول د جهاد نه دے

كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ۖ فَلَمَّا

چه بند او ساتئ | لاسونه خپل | او پابندی کوئ | د مانځه | او ورکوئ | زکات | پس هر کله

نو تاسو تر اوسنۍ حاصلوئ په مونځ کولو سره او زکوة ورکولو سره نو بیا کله چه حالات د جهاد د پاره مساعد شی او الله په دوی باندے

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَخْشَوْنَ

چه فرض کړے شو | په هغوی باندے | جنګ (جهاد) | نو دغه وخت کښ | یوه ډله | د دوی نه | یَرَه کوی

جهاد فرض کړی نو په دغه وخت کښ منافق انسان د دنیا د محبت د وجه نه په جهاد کښ سستی شروع کړی او د دشمن نه دا سے

النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا

د خلقو نه | پشان دیَرِیدلو | د الله نه | یاد هغے نه هم زیات | یَرِیدل | اووائی | اے ربه زمونږ

یَره کوی څنګه چه د الله نه یَره کول پکار دی. بلکه د دینه هم زیاته یَره کوی اوا خبر مے کوی چه اے زمونږ ربه!

لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ

ولے | فرض کړوتا | په مونږ باندے | جهاد (جنګ) | ولے روستو نکړو تا مونږه | مودے (نیټے)

په مونږ دے (اوس) جهاد ولے فرض کړو څه وخته پورے نور مهلت دے ولے رانکړو

قَرِيْبٍ ۭ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ

نزدے ته | اووایه | چه فائده | د دنیا | دیره لږه ده | او آخرت | دیر غوره دے | د پاره دهغه چا

اے پیغمبره اته ورته اووایه چه د دنیا فائده ے (مزے) دیر ے لږ ے دی او څوک چه د الله نه یَر یږی دهغه د پاره (خو)

اتَّقٰى ۣ وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۝ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ

چه یَر یږی د الله نه | او ظلم به نه شی کولے په تاسو باندے | په اندازه د تار د تهوګ د کجورے | چرته (هم) | چه یئ تاسو | را کیږی به کړی تاسو

آخرت دیر غوره دے او په تاسو به پوټے قدرے ظلم هم او نشی تاسو چه چرته هم یئ نو یونه یو ورځ به درله

الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ۭ وَاِنْ تُصِبْهُمْ

مرګ | اګر که | یئ تاسو | په قلاګانو | مضبوطو کښ | او که چرے | اور سیږی دوی ته

مرګ خامخا راځی اګر که تاسو په مظبوط قلاګانو کښ یئ. او کله چه دے منافقانو ته څه فائده

حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ

خوشحالی | نو وائی | دا ده | د طرفه | د الله نه | او که چرے | اور سیږی دوی ته

(خوشحالی) اور سیږی نو وائی چه دا (خو) د الله د طرف نه مقرره وه او چه کله پرے څه مصیبت راشی

سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ۭ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ

څه مصیبت | (نو) وائی | دا دے | ستا د طرف نه | اووایه | داټول (دی) | د طرف | د الله نه

نو بیا وائی چه داستاپه وجه اوشو. اے پیغمبره ته ورته اووایه چه دا هر څه د الله د طرفه دی

فَمَالِ هٰٓؤُلَاۗءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ۝ مَآ

پس څه حال دے | د دے | قوم | چه لږ دے نه دی | چه پوهه شی | په خبره | هغه څه

آخر په دے خلقو څه شوی دی چه په هیڅ خبره نه پوهیږی۔ تاته چه څه (قسم)

اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ۠ وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ

چه اور سیده تاته | څه خوشحالی | نو دا د طرف | د الله نه دی | او هغه څه | چه اور سیدو تاته | څه تکلیف

فائده (هم) رَسی نو هغه (صرف) د الله فضل دے او څه قسم تاوان (نقصان) چه د رَسی نو هغه ستا

فَمِنْ نَّفْسِكَ ۭ وَاَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

نو دا دے ستا د نفس د طرف نه | او لیږلے ئے مونږ ته | د پاره د خلقو | پیغمبر | او پوره دے | الله

د عمل په وجه وی او اے پیغمبره اته خو مونږ رسول خلقو ته لیږلے ئے او په دے خبره یو ازے د الله

شَهِيْدًا ﴿۸۰﴾ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ

گواه | هغه څوك | چه خبره اومني | د پيغمبر | نو يقيناً | هغهٔ خبره اومنله | دالله | او څوك

گواهي كافي ده چا چه درسول خبره اومنله نو يقيناً هغه دالله خبره اومنله او چا چه مخ اوكړ څو، نوا مے پيغمبره ستانه به دهغه باره كښ

تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۱﴾ وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۫

چه مخ واړوى | نو نه ځ ليږلے مونږ ته | په هغوى باندے | نگران (نگهبان) | او وائى دوى | (زمونږ كار) خبره منل دى ستا

تپوس نه كيږى څكه ته خو مونږ په دوى باندے نه ځ مقرر كړے او دا منافقان (په مخامخ) وائى چه مونږ ستا خبره ومنو

فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِىْ

بياكله چه | اوځى (لاړشى) | ستا د خوا نه | (نو) مشوره كوى (شپه) | يوه ډله | دَدوى نه | خلاف دهغے نه

خو كله چه ستا د مجلس نه لاړ شى نو بعضے پكښ د شپے ستا د خبرو خلاف مشورے كوى

تَقُوْلُ ؕ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ

چه وئيلے وى دوى | او الله | ليكى | هغه څه | چه مشورے ځ كوى دوى | پس مخ واړوه ته | دَدوى نه

او دوى چه د شپے څه مشورے كوى هغه الله ليكى نو ته ځ پرواه مه كوه او الله باندے

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۸۲﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ

او توكل كوه | په الله باندے | او پوره دے | يوا ځے الله | كارساز (مدد كار) | آيا پس نه كوى غور دوى

بَهر وسه ساته او يوازے الله ستا مدد د پاره پوره دے آيا دا خلق په قرآن كښ غور او فكر نه كوى

الْقُرْاٰنَ ؕ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ

په قرآن كښ | او كه چرے | وے دا (قرآن) | د طرف | د غير الله نه | نو خامخا موندلے به وے دوى | په دے كښ

كه چرے دا قرآن د الله نه سوا د بل چا د طرف نه وے نو خلقو به پكښ ډير اختلاف (تضاد د مضمون ډيو بل سره، تفاوت په كلمات و كښ په

اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۳﴾ وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ

اختلاف | ډير | او كله چه | راشى دوى ته | څه خبره | د امن | يا د ډَ يَرے

اعتبار د فصاحت او بلاغت سره او نورے قسمه قسم غلطي) موندلے وو او كله چه دوى دامن يا د ډَ يرے څهٔ خبر ته اوري د ډَ دشمن د طرف نه

اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ

نو خوره كړى دوى | هغے لره | او كه چرے | رسولے وے دوى دا خبره | پيغمبر ته | او پوهه كسانو ته

نو بغير د تحقيق نه ځ خلقو كښ خوره كړى. او كه چرے دوى دا سے خبر پيغمبر ته يا خپلو مشرانو ته رسولے نو ضرور به

مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ

د دوى نه | نو خامخا پوهه شوے به وے په دے باندے | هغه كسان | چه هغوى پوهيږى په حقيقت د دے خبرے | دَدوى نه

دهغے په حقيقت باندے پوهه خلق خبر شوى وے او دوى به ځ هم خبر كړى وے او كه چرے په تاسو باندے د الله

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ

او كه چرے | نه وے فضل | د الله | په تاسو باندے | او رحمت دهغه | نو خامخا تلى به وئ تاسو | شيطان پسے

فضل په راليږلو د قرآن سره او رحمت دهغهٔ په راليږلو د پيغمبر سره نهٔ وے نو ديو څو كسانو نه سوا به نور ټول شيطان پسے روان

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۸۴﴾ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ

سوا | دلږو خلقو نه | نو قتال کوه | په لاره | دالله کښ | نشته ذمه واری په تا | مګر | دځان خپل

شوی ویځ. نو دالله په لار کښ جنګ (جهاد) کوه تا باندے دخپل ځان نه سوا دبل چا ذمه واری نشته نو یوخوته پخپله عمل کوه

وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ

او تیز کړه | مومنان (په جهاد) | نزدے ده | چه الله | بند کړی | جنګ | دهغه کسانو

او دویم مومنانو له (دجهاد) ترغیب ورکوه او امید ساته چه دیر زر به الله دکافرانو (دجنګ) زور

كَفَرُوْا ۭ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿۸۴﴾ مَنْ

چه کفر ئے کړے دے | او الله | دیر سخت | جنګ والا دے | او دیره سخته | سزا ورکونکے دے | چا چه

ختم کړی او په دنیا کښ دالله جنګ دتولو نه زیات (سخت) دے او په آخرت کښ دهغهٔ سزا هم دیره سخته ده. څوك چه

يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ

اوکړو سفارش | سفارش | نیک | (نو)وی به | دهغهٔ دپاره | برخه (دثواب) | دهغے دوے (نه) | او چا چه

دنیک عمل سفارش اوکړی اودعوت ورکړی هغه ته به دهغے برخه دثواب ملاویږی او څوك چه

يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ۭ وَكَانَ اللّٰهُ

اوکړو سفارش | سفارش | بد | (نو) وی به | دهغهٔ دپاره | بوج (ذمه واری) | دهغے په وجه | اوده | الله

دبدئ سفارش اوکړی او هغے ته دعوت ورکړی هغه ته به دهغے بدئ بده برخه ملاویږی او الله په

عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا

په هر څیز باندے | طاقت لرونکے | اوکله چه | پیشکشی اوکړے شی تاسو ته | څخه قسمه پیشکش | نوتاسو هم پیشکش اوکړئ

هر څیز باندے نظر ساتونکے یا طاقت لرونکے دے. اوکله چه تاسو ته دسلام یا دډوډۍ څخه قسمه هدیه پیشکش اوکړے شی نو تاسو

بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ

په ډیر ښه طریقه سره | دهغے | یا کم از کم (واپس کړئ هدیه غوندے پیشکشی ترڅو په جواب کښ) | بیشکه | الله | دے | په هر | څیز باندے

دهغے په جواب کښ دهغے نه په بهتره طریقه پیشکش اوکړئ یا کم از کم دهغے په شان پیش کشی اوکړئ. یقیناً الله دهر څه خبرے

حَسِيْبًا ﴿۸۶﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ لَيَجْمَعَنَّكُمْ

حساب کوونکے | الله (دا سفات دے) | (چه) نشته | لائق دبندګئ | سوا | دهغه نه. | خامخا راجمع کوی به هغه تاسو

حساب اغستونکے دے. الله (هم هغه ذات) دے چه هیڅ څوك دهغه نه سوا دبندګئ لائق نشته (نو هم دهغه درضا دپاره جهاد اوکار

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ۭ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ

ورځ | دقیامت ته | (چه) نشته دے هیڅ شك | په هغے کښ | اوڅوك دے | زیات رښتونے | دالله نه

دهغه دعوت کوئ) هغه به خامخا تاسو ټول دقیامت په ورځ راجمع کوی چه هیڅ شك دهغے په راتلو کښ نشته او دالله نه زیات رښتینے خبره

حَدِيْثًا ﴿۸۷﴾ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ

په خبرو کښ | نو څه اوشو په تاسو | (چه شوئ تاسو) په بارہ دمنافقانو کښ | دوه ډلے | او الله

ښه دچا کیدے شی؟ اے مسلمانانو! دا په تاسو څه شوی دی چه دمنافقانو په بارہ کښ دوه ډلے شوئ

اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا

واپس کړی دی حوی (کفر ته) | په سبب د هغه عملونو | چه کړی دی دوی | آیا تاسو غواړئ | چه لار اوښایئ

حالانکه الله دوی لره د خپل بد عملونو په وجه کفر ته واپس کړی دی آیا تاسو داغواړئ چه هغه خلقو ته سمه لار اوښائ

مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ

هغه چا ته | چه الله لارې کړی دی | الله | اوځوک چه | بې لارې کړی | الله | نو هیڅ کله نشی موندلے ته | هغه د پاره

(د په هدایت اوکړې هغه خلق) کوم چه الله گمراه کړی دی. اوځوک چه الله گمراه کړی هغه د پاره به ته هیڅ لار د هدایت نه مومی.

سَبِيْلًا ۝۸۸ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ

څه لار (د هدایت) | غواړی دوی | چه کفر اوکړئ تاسو | څنګه چه | کفر کړے دے دوی | نو شئ به تاسو (ټول)

دوی خو غواړی چه تاسو کافران شئ څنګه چه دوی کافران دی نو په دغه وخت کښ تاسو به د دوی سره برابر شئ په نفاق کښ، نو هر کله چه دوی

سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ

برابر (په کفر کښ) | نو مه نیسئ تاسو | د دوی نه | دوستان | تر دے | چه هجرت اوکړی دوی | په لار

تاسو سره تو مړه شئ په ډیره کښ پته سلۍ نو تاسو ترینه مکمل براءت اوکړئ او دوستانه ور سره تړلے هغه وخته پورې مه کوئ تر څو چه په دوی کښ

اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

د الله کښ | نو که | مخ وارولو دوی | نو (بیا) نیسئ دوی | او ووژنئ دوی | چرته

کا یمان صحیح علامت نه وی موجود شوی چه هغه هجرت کول دی د دار کفر نه دار اسلام ته پس که دوی (د هجرت نه) مخ وارولو نو بیا کوم ځائے

وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۙ۸۹

چه مومئ تاسو دوی لره | او مه نیسئ | د دوی نه | هیڅ څوک دوست | او نه مدد کار

چه پلاس درځی هلته ګرفتار کړئ او وژنئ ګوپه دوی کښ هیڅ چرے څوک خپل ملګرے او مدد کار جوړ نکړئ بلکه پوره د جنګ ترینه اوکړئ

اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ

سوا | د هغه کسانو نه | چه یو ځائے کیږی | د (داسے یو) قوم سره | چه ستاسو | او د هغوی په مینځ کښ | لوظ (معاهده) وی

سوا د هغه منافقانو نه چه هغوی د داسے کافر قوم سره یو ځائے شی چه ستاسو او د هغه کافر و تر مینځه د جنګ نه کولو معاهده وی

اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا

یا راشی تاسو ته | چه تنګے شوی وی | سینے د دوی | د دے نه چه جنګ اوکړی دوی تاسو سره | یا جنګ اوکړی

یا د منافقان تاسو له د داسے بے وسئ په حالت کښ راشی چه تاسو سره هم د جنګ کولو نه ستومانه شوی وی او د خپل

قَوْمَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ

د قوم خپل سره | او که چرے | غوښتلے | الله | نو خامخا ورته اور کړی به ئے وے دوی | په تاسو باندے | نو (بیا) خامخا به جنګ کیدلے وو دوی تاسو سره

قوم سره هم نو د دے حوا رو قسمه منافقانو سره جنګ مه کوئ او که الله غوښتلے وے نو د دوی ځکه رونو نه به ئے تاسو ور باندے مسلط کړی وو

فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ

نو که | پریږدی دوی تاسو | (او) جنګ اونکړی تاسو سره | اوراپیش کړی | تاسو ته | روغه (پیغام د صلحے)

نو خامخا جنګ به ئے تر سره کړے وے نو که دوی تاسو سره د جنګ کولو نه لاس واخلی او صلح ئے تر ته راوړاندے کړه نو بیا تاسو ته

فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ۝ سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ

نو بیانه ده کړ خولے | الله | تاسو له | په دوی باندے | څه لار (دقتال) | زړه ده چه بیا به مومن تاسو | څه نور خلق
الله دَدوی سره د جنګ کولو هیڅ حق نه دے در کړے۔ په دے منافقانو کښ به تاسو یو بل قسم خلق هم بیا مومن

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ؕ كُلَّمَا رُدُّوْٓا

چه غواړی (به) | چه په امن شی دوی ستاسونه | او په امن شی | دقوم خپل نه (هُم) | (هر کله) چه | راوګرځولے شی
چه ظاهراً دے دَپاره ایمان ښکاره کړے دے چه تاسونه هم محفوظ پاتے شی او دخپل قوم نه هم خوچه کله دوی فتنے او

اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا

فتنے ته | نو نسکور پریځوی | په هغے کښ | نو که چرے | دِدوه او نکړه دوی ستاسونه | او پیش ئے نه کړه
شرکته راوبللے شی یا (هر کله چه دشر موقعه بیا مومن) نو په هغے کښ نسکور پریو ځی. نو که دا سے خلق ستاسو دمقابلے نه په دِدوه نشو

اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ

تاسو ته | روغه (پیغام درُوغ) | او بند ئے نکړل | لاسونه خپل | نو اونیسئ دوی | او وژنئ یئ
او نه ئے درته صلح اوراندے کړه او نه ئے خپل لاسونه (دجنګ نه) اونیول نو چه کوم ځائے مومن نو هلته ئے

حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ؕ وَاُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ

چرته چه | بیا مومن تاسو دوی | او هم دا کسان دی | چه کړ خولے دے مونږ | تاسو له | په دوی باندے
را نیسئ قید کوئ ئے. او وژئ ئے هم دغه خلق باندے دلاس اوچتولو ښکاره اختیار او حُجت مونږ

سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ۝ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا

دلیل | ښکاره | او نه دی حلال | یو مسلمان له | چه او وژنی | بل مسلمان
تاسو له درکړے دے او دیو مسلمان دَپاره حلال نه دی چه بل مسلمان دے او وژنی مګر په غلطی سره او چا چه یو مسلمان په غلطی سره

اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ

لیکن | په خطاء سره | او څوک | چه او وژنی | ایو مسلمان | په خطاء سره | نو (لازم دی پرے) آزادول | دیو غلام
وژلو نو په هغه باندے یو مسلمان غلام آزادول دیا دومرۍ وارثانو ته دیت (خون بها) ورکول بغیر د تال متول نه فرض دی خو که هغوی

مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ؕ

مومن | او دیت | رسول دی (سپارل دی) | وارثانو د هغه ته | مګر | دا چه | صدقه او کړی دوی (په معاف کولو دیت)
خون بها معاف کړی نو بیا خون بها ورکول نشته هلو که مړی دَدلے سے قوم سره تعلق لرلو چه ستاسو ورسره دشمنی وه (یعنی حربی کافران وو)

فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

پس که | وی هغه (مقتول) | د دا سے قوم نه | چه دشمنان وی | ستاسو | او هغه (مقتول) | مسلمان وی
او هغه (مړے) په خپله مسلمان وو نو بیا په قاتل باندے صرف یو مومن غلام آزادول فرض دی او دیت ورکول نشته (حُکمه چه کافران

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ

نو آزادول | دیو غلام | مومن (پرے لازم) دی | او که | وی هغه (مقتول) | د دا سے قوم نه | چه وی ستاسو
ذمه مسلمان وارثنه ځی کیدلے) او که چرے مړے (په خپله کافر وو) خو دَدلے سے قوم سره تعلق لرلو چه ستاسو او دَهغوی مینځ کښ

وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ

اودهغوی ترمینځه | لوظ (معاهده) | نو (بیا) دیت | رسول دی (سپارل دی) | وارثانو ته | او آزادول

دجنګ نه ګولو معاهد قوم نو بیا چونکه دهغه کافر انو سره هم نقض د عهد کړے دے او په دے ترینه الله هم ناراضه شوے دے نو په ده

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ

د یو غلام | مُومن دی | پس څوك | چه نه مومی (وَس) | نو روژے نیول (پرے لازم) دی | دوه میاشتے

باندے متصل پرله پسے روژه ده توبه کول هم ضروری دی او یو مسلمان غلام آزادول هم فرض دی خو که چا غلام آزادولو وس نه وو نو بیا دے پرله پسے دوه میاشتے

مُتَتَابِعَيْنِ ۙ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۹۲﴾

پرله پسے | داتوبه (اسانتیا) ده | د طرفه دالله نه | او دے | الله | ښه پوهه | لوے حکمت والا

روژے ساتل نو سنی لوالله په تاسو حکم نازل کړو په طور توبه چه الله طرف نه مقرر شوے الله په خپل مخلوق باندے پوهه دے او په مقرر کولو کښ

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا

او چا | چه اووژلو | یو مسلمان | په قصد سره | نو سزا دهغه | دوزخ دے | چه وی به همیشه | په هغے کښ

څوك حکمتونه په الله کښ نو څوك چه په قصد یو مسلمان اووژنو دهغه سزا دوزخ دے مګر دے زمانے په الله مهربانی وکړه (چه انتظام اغستل ښی دی)

وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾

لو غضب کړے دے | الله | په هغه باندے | لو لعنت ذکر دے په هغه باندے | او تیار کړے دے هغه له | عذاب | ډیر لوے

نه دے په هغه باندے الله خپل رحمت نه محرومه کړے دے (کیدے شی چه توبه توفیق پرته هم ملاتړ شی) او الله تعالیٰ لوے عذاب تیار کړے دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | سفر کوئ تاسو | په لاره د الله کښ | نو (ښه) تحقیق کوئ

اے مومنانو! کله هم چه تاسو د الله په لاره کښ سفر کوئ او دچا ایمان او کفر پته در نه شوی نو په تپوس کولو سره او په علامو سره پوره تحقیق کوئ

وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ

او مه وایئ | هغه چا ته | چه پیش کړی | تاسو ته | سلام | چه نه ئے ته | مسلمان | غواړئ تاسو

او چه څوك درته د اسلام کلمه پیش کړی نو د دنیا د مال اسباب د حاصلولو په خواهش ورته دا مه وایئ چه ته مسلمان نه ئے

عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۡ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ۭ كَذٰلِكَ

سامان | د ژوند | دُنیوی | پس د الله سره دی | غنیمتونه | ډیر | هم دغه شان

ځکه چه الله سره ډیر غنیمتونه دی چه مجاهدینو ته ځے کوی تاسو (خو) هم مخکښ هم داسے وئ چه ظاهری ایمان درنه قبول

كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ

وئ تاسو | مخکښ د دینه نه | نو احسان او کړو | الله | په تاسو | پس پوره تحقیق کوئ | بیشکه | الله

کړے شوے وو او دکړونو تلاش مو چا نه ؤو کړے بیا در باندے الله احسان او کړو نو (اوس تاسو) ښه تحقیق کوئ یقیناً الله ستاسو

كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۹۴﴾ لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ

دے | په هغه څه | چه کوئ ئے تاسو | ښه خبردار | نه دی برابر | ناست خلق (د جهاد نه)

د عملونو نه ښه خبردار دے ۔ هغه مومنان چه معذور نه دی

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

د مومنانو نه | سوا | د عُذر والونه | او جهاد کوونکی | په لاره | د الله کښ

اوپه کور کښ ناست دی (په اجازت دشرع سره) نو دوی دهغه مومنانو سره نشی برابر کیدے کوم چه په سَر او مال د الله

بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ

په مالونو خپلو سره | اوپه ځانونو خپلو سره | فضیلت ورکړے دے | الله | جهاد کوونکو ته | په مالونو خپلو سره

په لار کښ جهاد کوی هاں که پاتے کیدل د عذر په وجه وی نو معذور ته به هم ثواب د جهاد ملاویږی البته په سَر او مال

وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ

اوپه ځانونو خپلو سره | په ناستو خلقو باندے | یوه درجه | او هریو (ټولو) سره | وعده کړے ده | الله

جهاد کونکو ته الله په ناستو معذورو خلقو باندے په درجه کښ (چه صحبت دنبی دے) فضیلت ورکړے دے او الله د ټولو سره

الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ أَجْرًا

د جنت | اوفضیلت ورکړے دے | الله | مجاهدینو ته | په ناستو باندے | په اجر

د جنت وعده کړے دے او الله مجاهدینو ته په ناستو خلقو (بغیر د عذر او د اجازت د شرع نه) باندے ډیر لوے اجر سره فضیلت

عَظِيْمًا ۙ﴿۹۵﴾ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا

ډیر لوے سره | ډیرے درجے دی | دهغه د طرف نه | او بخښنه ده | او رحمت دے | او دے | الله | ډیر بخښونکے

ورکړے دے د دوی دپاره د الله د طرف نه لوے لوے مرتبے او بخښنه او خاص رحمت دے او الله ډیر بخښونکے

رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْ

ډیر مهربان | بیشکه | هغه کسان | چه روح اخلی د هغوی نه | ملائك | (په حال سره کښ چه) ظلم کونکو

ډیر مهربان دے. کومو خلقو چه په ځان باندے ظلم او کړو په هجرت نه کولو سره او هم په دے حالت فرشتو د هغوی

أَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ

په ځانونو خپلو | نو وائی (ورته) | په څه حال اوديں | وئ تاسو | وائی ورته دوی | د وُمونږه | کمزوری (کړے شوی)

روح قبض کړو نو فرشتے ورته وائی چه تاسو ولے هجرت نه کولو او د کافرانو ملکرتیا مو کوله؟ نو دوی ورته وائی چه مونږ

فِي الْأَرْضِ ؕ قَالُوْٓا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً

په زمکه کښ | (نو) وائی به ورته ملائك | آیا نه وه | زمکه | د الله | فراخه

په دنیا کښ بے وسه او کمزوری وو (نو) فرشتے به ورته اووائی چه آیا د الله تعالی زمکه فراخه نه وه چه تاسو په کښ

فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ فَأُولٰٓئِكَ مَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَسَآءَتْ

چه هجرت کړے وے تاسو | په هغے کښ | نو دغه کسان دی | چه ځائے د ورتلو د دوی | دوزخ دے | او ډیر بد ځائے دے

هجرت کړے وے؟ نو بس د هم داسے خلقو ځائے دوزخ دے او هغه ډیر خراب

مَصِيْرًا ۙ﴿۹۷﴾ إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ

د ورتلو | لیکن | هغه کمزوری (کړے شوی) | د نارینو نه | او د زنانو نه

ځائے دے د ورکړے شوی د البته کوم سړی، زنانه او ماشومان

وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴿۹۸﴾

او د ماشومانو نه | چه طاقت نه لری | د څه چل | او نه پیژنی هغوی | څه لار

چه په رشتیا کمزوری دی او د هجرت کولو څه چل هم نه ورځی او نه مقام د هجرت ته د تلو لار مومی (پیژنی)

فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا

نو هم دا سې خلق دی | اُمید ساتی | چه الله | به معاف کړی | دوی | او دی | الله | هیشه معافی کونکے

نو دا خلق دی پوره امید لری چه الله به دوی ته معافی او کړی او الله دیر معافی کونکے دیر

غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾ وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ

بخښنه کوونکے | او څوك | چه هجرت او کړی | په لار | د الله کښ | (نو) بیا به مومی | په زمکه کښ

بخښنو نکے دی او څوك چه د الله په لار کښ هجرت وکړی نو هغوی به په زمکه باندی داسې ګڼے

مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً ؕ وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا

ځایونه | دیر | او فراغی (دیره) | او څوك | چه راووتلو | د کور خپل نه | چه هجرت کوونکے وی

دیر ځایونه او هر قسم فراغی بیا مومی. او څوك چه د خپل کور نه د الله او د هغه رسول طرف ته هجرت کولو

اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ

الله ته | او رسول د هغه ته | بیا | راشی هغه له | مرګ | نو یقیناً | ثابت شو | ثواب د هغه

د پاره او څی او په لار کښ ورله مرګ راشی نو یقیناً په الله باندی د هغه اجر ثابت شو

عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ

د الله سره | او دی | الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان | او کله چه | سفر کوئ تاسو

او الله دیر بخښونکے دیر مهربان دی۔ او کله چه تاسو په زمکه کښ

فِي الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ

په زمکه کښ | نو نشته | په تاسو | څه ګناه | چه کموالے او کړئ تاسو | د مانځه نه

سفر کوئ او تاسو سره د دے خبرے یَره وی چه کافران به مو پریشانه کړی نو په مونځ کښ

اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ

که چرے یَره یږئ تاسو | چه تکلیف به درکړی تاسو ته | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | یقیناً | کافران

قصر کولو کښ په تاسو باندے هیڅ ګناه نشته یقیناً کافران

كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾ وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ

دی | ستاسو | دشمنان | ښکاره | او کله | چه ئے ته | په دوی کښ | پس قائم کړه ته | دوی له

ستاسو ښکاره دشمنان دی او اے پیغمبره! کله چه ته د مسلمانانو سره موجود ئے او مونځ ورته ورکوے

الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ وَلْيَاْخُذُوْٓا اَسْلِحَتَهُمْ ۖ

مونځ | پس او دِ دریږی | یوه ډله | د دوی نه | تاسره | او اودِ نیسی | وَسلے خپلے

نو د مسلمانانو یو ډله دے تاسره او دریږی او خپله وَسله دے د ځان سره واخلی نو کله چه دوی

فَاِذَا سَجَدُوْا فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَآىِٕكُمْ ۪ وَلْتَاْتِ طَآىِٕفَةٌ

پس کله | چه سجده وکړی دوی | نو شی دے دوی | شاته دَستاسو نه | او رادے شی | دله

یو رکعت اوکړی نو دوی دے شاته لاړ شی او بله دله دے راشی چه

اُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوْا فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ وَلْيَاْخُذُوْا حِذْرَهُمْ

بله | چه مونځ ئې نه دے کړے | نو مونځ دے اوکړی هغوی | تا سره | او او دِ نیسی | سامان دسلاتنے خپل

لا مونځ ئے نه دے کړے نو تا سره دِ مونځ اوکړی او هغوی (دِ هم) خپل حفاظت واخلی

وَاَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ

او وَسلے خپلے | غواړی | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | کاش چه غافله شئ تاسو | د وَسلے خپلے نه

او وسلے دِ تیارے ساتی کافران خو دا غواړی چه تاسو دخپلو وسلو او سامانونو نه غافله شئ

وَاَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ

اودَسامانونو خپلونه | نو حمله به اوکړی دوی | په تاسو باندے | حمله | په یو څل | او نشته څه گناه

نو چه هغوی در باندے په یو څل ناڅاپه حمله اوکړی او که د باران د وجے

عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى

په تاسو باندے | که چرے | وی | تاسو ته | تکلیف | د باران | یا یئ تاسو | بیماران

تاسو ته تکلیف وی یا تاسو بیمار یئ نو په وسله کیښودلو کښ درباندے هیڅ څه گناه نشته

اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَخُذُوْا حِذْرَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ

دا چه کیږدئ | وَسلے خپلے | او راواخلئ | سامان دسلاتنے خپل | بیشکه | الله | تیار کړے دے

خو بهر حال د خپل حفاظت خیال بیا هم ساتئ یقینا الله د کافرانو دپاره

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝ فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

دپاره د کافرانو | عذاب | رسوا کونکے | بیا کله چه | ادا کړئ تاسو | مونځ | نو یادوئ | الله لره

رسوا کوونکے عذاب تیار کړے دے. بیا چه کله د مونځ نه اوزگار شئ نو (په هر حالت کښ) الله یادوئ

قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ

په ولاړه | او په ناسته | او په اړخونو خپلو | بیا کله چه | په اطمینان شئ تاسو | نو کوئ | مونځ (پوره)

په ولاړه هم او په ناسته هم او په ملاسته هم. او کله چه تاسو د دشمن نه بے غمه (مطمئن) شئ نو بیا (پوره) مونځ کوئ

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ۝ وَلَا تَهِنُوْا

بیشکه | مونځ | دے | په مسلمانانو باندے | فرض شوے | په مقرر وخت | اومه کوئ سستی

یقینًا مونځ په مسلمانانو باندے په مقرر وختونو کښ فرض شوے دے او دَ دشمن (قوم) په لټون کښ

فِى ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ

په لټولو | د قوم (کافرانو) کښ | که چرے | یئ تاسو | درد مند | نو بیشکه هغوی (هُم) | درد مند دی

سستی مه کوئ که تاسو ته په جنگ کښ درد دَرَسیدلے دے نو دوی ته هم داسے درد وَرَسیدلے دے څنگه چه

كَمَا تَأْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ؕ

لکه څنګه چه | درد مندیږئ تاسو | او اُمید ساتئ تاسو | د الله نه | دهغه څه | چه امید ئے نه ساتی دوی

تاسو ته رسید لے دے (او دوی بیا هم صبر کوی نو تاسو هم صبر او کړئ) بلکه تاسو (خو) د الله نه دهغه څه امید ساتئ

وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ اِنَّاۤ اَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ ع

او دے | الله | ښه پوهه | لوئے حکمت والا | بیشکه | مونږ نازل کړے دے | تا ته | کتاب

چه دوی ئے اُمید نه ساتی او الله تعالیٰ ډیر پوهه لوئے حکمت والا دے. یقیناً مونږ تا ته په حق باندے مشتمل کتاب

بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَاۤ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ

په حق سره | چه فیصله او کړے ته | په مینځ | د خلقو کښ | په هغه طریقه | چه ښودلے ده تا ته | الله

ددے دپاره نازل کړے دے چه ته د خلقو په مینځ کښ دهغه طریقے مطابق فیصله او کړی کومه چه درته الله ښودلے ده

وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ۝ وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او مه جوړیږه ته | د خیانت کونکو | جهګړه مار | او بخښنه غواړه | د الله نه | بیشکه | الله

او د خیانت کړو طرفدار مه جوړیږه (ملګرتیا مه کوه) او د الله نه بخښنه غواړه یقیناً الله ډیر بخښونکے

كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ

دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | او جهګړه مه کوه ته | د طرفه د هغه کسانو | چه خیانت کوی

ډیر مهربان دے. او دهغه خلقو د طرف نه جهګړه (وکالت) مه کوه کوم خلق چه د خپل ځان سره خیانت کوی

اَنْفُسَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ۝

د ځانونو خپلو سره | بیشکه | الله | مینه نه کوی | دهغه چا سره | چه دی | غټ خیانتګر | ګنهګار

ځکه چه الله د غټ خیانتګر او ګناهګار سره مینه نه کوی

يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ

ځان پټوی دوی | د خلقو نه | او نشی پټولے ځان | د الله نه | (حال دا دے) چه هغه (الله)

دوی د خلقونه خپل ګناهونه خو پټولے شی خو د الله تعالیٰ نه ئے نشی پټولے یا د خلقونه خو حیاء کوی خو د الله نه

مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ؕ

د دوی سره دے | کله چه | مشورے کوی دوی (شپے) | دهغه څه | چه نه ئے خوښوی (الله) | د وینا نه

حیاء نه کوی حالانکه الله دوی سره په هغه وخت کښ هم وی کله چه دوی د شپے دهغه د مرضئ خلاف مشورے کوی

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ۝ هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ

او دے | الله | په هغه څه | چه کوی ئے دوی | احاطه کوونکے | خبردار تاسو | هغه خلق یئ

او الله د دوی په عملونو احاطه کونکے دے۔ په دے دنیا کښ خو به تاسو

جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ

چه جهګړه کوئ تاسو | د طرفه د دوی نه | په ژوند | دُنیوی کښ | نو څوک به | جهګړه او کړی | د الله سره

د دوی د طرف نه جهګړه او کړے شی خو د قیامت په ورځ به د الله په مخکښ

عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۱۰۹﴾

دطرفه دَدوی نه | په ورځ | د قیامت | یا | څوك به | شی | دَدوی | ذمه وار (کارساز)

هیڅ څوك چكړه كولكے نه وی او نه به ئے هلته څوك وكالت اوكړے شی؟

وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ

او څوك | چه اوكړی | بدی | یا زیاتے اوكړی | په ځان خپل | بیا | بخښنه اوغواړی | دالله نه

څوك چه څه غلط كار اوكړی یا په ځان ظلم اوكړی اوبیا د الله نه بخښنه وغواړی نو الله تعالی به ډیر

يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۱۰﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا

نو بیا به مومی | الله | ډیر بخښونكے | ډیر مهربان | او څوك | چه كوی | گناه | نو بیشكه

بخښونكے ډیر مهربان بیا مومی او څوك چه گناه كوی نو هغه خپل ځان ته

يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ

كوی ئے هغه | چه ضرر به ئے په ځان خپل وی | او دے | الله | ښه پوهه | ډیر حكمت والا | او څوك | چه كوی

نقصان رسوی او الله تعالی ښه پوهه لوئے حكمت والا دے او څوك چه څه

خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ

گناه (په خطاء سره) | یا گناه (په قصد سره) | بیا | تهمت لگوی | دهغے | په بے گناه باندے | نو یقیناً | اوچت كړو ده

خطاء كار یا یوه گناه اوكړی اوبیا دهغے تهمت (الزام) په یو بے گناه كس باندے ولگوی نو یقیناً هغه لوے

بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ

بهتان | او گناه | ښكاره | اوكه چرے نه وے | فضل | د الله | په تا باندے

بهتان اوښكاره گناه په خپل سر واغستله۔ اے پیغمبره كه په تا د الله فضل اورحمت نه وے نوته به ئے خطاء كړے وے

وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ

اورحمت دهغه | نو خامخا پوخ قصد كړے وو | یو ډلے | دَدوی نه | چه خطا كړی تا (په فیصله كښ)

ځكه چه په دوی كښ یوے ډلے تا لره د صحیح فیصلے نه دَاړو لو قصد كړے وو او په (حقیقت كښ)

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ

اونشی خطاء كولے دوی | مكر | ځانونه خپل | اونقصان نشی درَسولے دوی تا ته | دَهیڅ شیز | اوراپرے دے

دوی دځان نه سوا بل څوك دسے لار نه نشی اړولے او تا ته هیڅ نقصان نشی درَسولے او الله تا ته

اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ

الله | تا ته | كتاب | او حكمت | اوښودلے ئے دی تا ته | هغه څه | چه نه پوهیدے ته په هغے باندے

كتاب اوحكمت (سنت) نازل كړی دی اوهغه څه ئے درته ښودلی دی چه ته پرے نه پوهیدلے

وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾ لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ

او دے | فضل | د الله | په تا باندے | ډیر لوئے | هیڅ قسمه خیر نشته | په ډیرو

اودا د الله تعالی په تا باندے ډیر لوئے فضل او احسان دے. په ډیرو جرګو كولو كښ څه فائده نشته (كله چه جرګے

مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍ

پتو مشورو دَدوی کښ | سوا | دهغه چا نه | چه حکم کوی | د صدقے کولو | یا د نیکئ کولو | یا د اِصلاح کولو

بے ضرورته او خلاف شرع وی) هاں دهغه خلقو په جرګه کښ فائدے شته څوک چه حکم کوی د صدقے یا د نیکئ یا د صلح کولو

بَيْنَ النَّاسِ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ

په مینځ | د خلقو کښ | او څوک | چه اوکړی | داسے کار | د پاره د حاصلولو | د رضامندئ | د الله

په مینځ د خلقو کښ. او چا چه دا کار د الله د رضا مندئ د لتولو د پاره اوکړو

فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ

نو زر ده | چه ورته کړو مونږ دهغه | اجر | ډیر لوئے | او څوک | چه مخالفت کوی | د پیغمبر

نو ډیر زر به ورله مونږ لوئے اجر ورکړو. او څوک چه د هدایت د واضحه کیدو نه پس (هم) د پیغمبر مخالفت

مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ

پس د دے نه | چه ښه ښکاره شو | د هغه | هدایت | او روان شی (په بله لار) | سوا | د لارے

کوی او د مسلمانانو د لارے نه سوا د بل چا لارے پسے روان شی

الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ

د مسلمانانو نه | نو وابه پرووو مونږ هغه لره | کوم خوا چه اوړی دے | او داخل به ئے کړو مونږ | دوزخ ته | او ډیر بد دے

نو مونږ به ئے هم هغه خوا وارو کوم خوا چه هغه اوړی او دوزخ ته به ئے داخل کړو او دوزخ ډیر خراب

مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا

ځائے د ورتلو | بیشکه | الله | نه بخښی | دا چه | شرک اوکړے شی | دهغه سره | او بخښی | هغه گناهونه

ځائے دے د ورتلو۔ یقین سائ چه الله دا خبره نه معاف کوی چه دهغه سره شریک جوړ کړے شی او دے نه سوا څه چه

دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ

چه کم دی | د دے نه | د چا د پاره | چه او غواړی | او چا | چه شرک اوکړو | د الله سره | نو یقیناً | گمراه شو هغه

چا ته او غواړی نو ورته ئے بخښی. او چا چه د الله سره شریک جوړ کړو نو یقیناً هغه

ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾ اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا ۚ

په گمراهئ | لرے سره | نه رابلی دوی | سوا د الله نه | مگر | ښځے (معبودے)

په گمراهئ کښ ډیر لرے پرے یوتلو. دالله نه سوا دوی د کمزورے معبودانو (لات، منات، عزّیٰ، ملائک، پیرۍ) نه دعا غواړی

وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ

او نه رابلی دوی | مگر | شیطان | سرکش | لعنت کړے دے په هغه باندے | الله | او وئیلی وو شیطان

او دالله نه سوا صرف سرکش شیطان ته اواز (فریاد) کوی (څکه په هر باطل معبود کښ شیطان دننه کیږی) په کوم شیطان چه الله لعنت

لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ ۙ وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ

چه خامخا به اخلم زه | د بندګانو ستا نه | یوه برخه | مقرر شوے | او خامخا گمراه کوم به زه دوی

کړے دے او شیطان وئیلی وو چه زه به ستا د بندګانو نه یوه مقرره حصه اخلم او هغوی به خامخا گمراه کوم او په باطلو آرزوګانو کښ

وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ

لوخامخا اُمیدونه ورکومزه دوی ته | اوخامخا حکم به کومزه دوی ته | نوخامخا پریکوی به دوی | غوړوونه | د څاروُو

به ئے اخته کوم اوزه به ورته حکم کوم (تعلیم ورکوم) چه دغیر الله په نوم دځاورو غوړونه څیری کړی

وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ

لوخامخا حکم به کوم دوی ته | نو بدلوی به دوی | پیدا کړے (صورت) | د الله | اوځوك | چه اونیسی | شیطان لره

اوزه به ورته حکم کوم چه د الله جوړ کړے شوی صورتونه کښی هم (ناجائز) بدلون اوکړی. اوځوك چه

وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ؕ ﴿۱۱۹﴾

دوست (خپل) | سوا | د الله نه | نو یقیناً | تاوانی شو هغه | په تاوان | ښکاره

د الله په ځائے شیطان خپل دوست جوړ کړی نو یقیناً هغه ډیر ښکاره تاوان کښی پریوتلو

يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ؕ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾

شیطان وعده کوی ځدوی سره | اوپه ارزوکښی اچوی دوی | اووعدے نه کوی ځدوی سره | شیطان | مکر | د دهوکے

شیطان ځدوی سره ددروغو وعدے کوی اوپه آرزوگانو کښی ئے اخته کړی دی اوباطل وسوسے ورته په زړونو کښی اچوی خو

اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾

هُم دا کسان دی | چه ځائے ځدوی | دوزخ دے | اونه به مومی دوی | ځدوزخ نه | خلاص (ځائے ځتیښتے)

شیطان ځدوی سره ددهوکے نه پرته وعدے کوی هم دداسے کسانو ځائے ځدوزخ دے اودهغے نه به دخلاصی ځائے ځیانه مومی

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ

او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | اوعملونه ئے کړی دی | نیك | زرده چه داخل به کړو مونږ دوی لره

او چا چه ایمان راوړے دے او نیك کارونه ئے کړی دی نو ډیر زر به ئے مونږ داسے

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

(داسے) جنتونو ته | چه بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښی | تل

جنتونو ته داخل کړو چه ځ اُونو ځ لاندے به ئے نهرونه بهیږی اوهمیشه به پکښی اوسیږی

وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾

وعده کړے ده | الله | یقینی | اوځوك دے | زیات رشتونے | د الله نه | په خبرو کښی

دا د الله ریشتنے وعده ده او د الله نه زیاته ریشتنے خبره لا د چا کیدے شی؟

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ مَنْ

نه دے (دغه جنت اوثواب) ډاډانه | په ارزوگانو ستاسو | اونه دے (ډاډانه) | په ارزوگانو | د اهل کتابو | چا چه

(جنت ته د تلو دپاره) نه ستاسو ارزوگانے کافی دی او نه د اهل کتابو ارزوگانے

يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

اوکړو عمل | بد | (نو)بدله به ورکړے شی هغه ته | دهغے | او نه به مومی هغه | دځان دپاره | سوا | د الله نه

(بلکه قانون دا دے چه) چا هم بدکار (گناه) اوکړه نو دهغے سزا به ورته ملاویږی او بیا به ځان دپاره سوا د الله نه

وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ

څوك دوست | او نه څوك مددگار | او چا | چه اوکړل | نیك کارونه | سړے وی

بل څوك دوست او مددگار (هم) نه مومی او څوك چه نیك کارونه اوکړی نارینه وی

اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ

یا ښځه | په داسے حال کښ چه دے | مومن وی | نو دغه کسان به | داخلیږی | جنت ته

که زنانه خو پدے شرط چه مومن وی نو دغه کسان به جنت ته داخلیږی

وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ

اوظلم به اونه کړے شی په دوی | ذره هُم | او څوك دے | زیات خائسته | دَدین په اعتبار | دهغه چا نه | چه اوسپاری

اود کجورے دهڅوکی د داغ په اندازه حق تلفی به ئے نه کیږی اودهغه چا نه ښائسته دین به دچا وی چه خپل ځان ئے

وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ

ځان خپل | الله ته | په داسے حال کښ چه دے | نیکوکار وی | او روان وی | په ملت | د ابراهیم پسے

ټول الله ته اوسپارلو (یعنی عقیده ئے درسته کړه) اونیك عمل ونه ئے اوکړل اود ابراهیمؑ دَدین تابعدار شو چه

حَنِيْفًا ۭ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ مَا

چه یو مخیز وو | او نیولے دے | الله | ابراهیم لره | خاص دوست | اوخاص دالله دی | هغه څه

کلك وو په توحید او جوړ کړے وو الله ابراهیم لره خالص دوست (خپل) او خاص د الله دی

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه چه په زمکه کښ دی | او دے | الله | هر څیز لره

هغه څه چه دی په اسمانونو کښ او هغه څه چه دی په زمکه کښ اودے الله په هر څیز باندے

مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾ ع وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَاۗءِ ۭ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ

راګیرونکے | اے پیغمبره داخلق تپوس کوی تانه | د زنانو باره کښ | (نو)ته(ورته)اووایه | چه الله تعالی | حکم کوی تاسو ته

احاطه کوونکے او تپوس کوی دوی ستانه په باره دَمیراث دَزنانو کښ. ته اووایه الله پوخ حکم درکوی تاسو ته په باره

فِيْهِنَّ ۙ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى

دَدوی په باره کښ | او(حکم کوی تاسو ته)دهغه څه | چه بیانیږی | تاسو ته | په کتاب کښ | د یتیمانو

دَمیراث دَدوی کښ او دَهغه څه (هم حکم درکوی) چه لوستلے کیږی تاسو ته په کتاب کښ په باره دیتیمانو

النِّسَآءِ الّٰتِیْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ

چینکو په باره کښ | هغه چینکۍ | چه تاسو ورله نه ورکوئ | هغه مهر | چه مقرر شوے دے | دَدوی دپاره | او تاسو غواړئ

چینکو کښ هغه (چینکۍ) چه نه ورکوئ تاسو هغوی ته هغه څه چه مقرر شوی دی دهغوی دپاره په مهر کښ او غواړئ

اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ

چه نکاح او کړئ دَدوی سره | او د کمزورو | ماشومانو باره کښ (هُم درته حکم کوی) | اوداحکم هم کوی

چه نکاح او کړئ دَهغوی سره او حکم کوی تاسو ته په باره (دَمیراث) دَکمزورو ماشومانو کښ او دا چه

تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ

چه کلک شئ تاسو | دیتیمانو دَپاره | په انصاف | اوتاسو چه څه کار هُم کوئ | د نیکئ نه | نو یقیناً

اودریږئ (کلک شئ) دپاره دیتیمانو په انصاف (یعنی دوی ته ټول حقوق ورکړئ) اوهغه چه کوئ ئے تاسو دَځه نیکئ نه

اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ۝ وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا

الله ته | شته دے | دهغے | پوره پوره علم | او که | یوه ښځه | یَریږی | د خپل خاوند

نو بیشکه الله دے په هغے باندے ښۀ پوهه۔ او که چرے ښځے ته د خاوند د طرفه

نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا

د بدخویئ (سخق) نه | یا د مخ اړولو (نه) | نو نشته | څه گناه | په دواړو باندے | چه صلح او کړی

دبدسلوکئ یا د بے پرواهئ اندیشه (ویره) وی نو په دواړو باندے څه گناه نشته چه په خپل مینځ کښ

بَيْنَهُمَا صُلْحًا ؕ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ

په خپل مینځ کښ | صلح | او صلح | دیره ښه ده | اوحاضر کړے شوی دی | نفسونه

صلح او کړی او صلح دیر ښه څیز دے او شومتیا او لالچ خو (دهر یو کس) په زړه کښ اچولے شوے دے

الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا

شومتیا (حرص) نه | او که چرے | کوئ تاسو ښه کارونه | اوپرهیزئ (دالله نه) | نو بیشکه | الله | دے | په هغه څه

او که تاسو د احسان او تقوٰی نه کار واخلئ (اے خاوندانو دَښځو سره) نو تاسو چه څه هم کوئ

تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝ وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ

چه کوئ ئے تاسو | ښه خبردار | اوهیڅ کله نشئ کړے تاسو وَس | چه او کړئ انصاف | په مینځ | دښځو کښ

الله دهغے نه ښۀ خبر دے اود ښځو په مینځ کښ پوره برابری (انصاف) کول ستاسو په وَس کښ نشته

وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا

اگر که | تاسو حرص (هُم) کوئ | نو مهٔ ورکړیږئ | په پوره کړیدو سره (یو ے ته) | چه پریږدئ تاسو هغه (بله)

اگر که تاسو دے حرص هم او کړئ البته دیو ے طرف ته پوره میلان مهٔ کوئ چه هغه بله

كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ

په شان د زوړند مے شوے | او که | اصلاح او کړئ تاسو | او او یریږئ (د الله نه) | نو بیشکه | الله | دے

پشان د زوړند څیز پریږدئ. او که تاسو د اصلاح او د تقوٰی نه کار واخلئ نو یقین اوساتئ چه الله

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۳۰﴾ وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ

دیر بخښونکے | دیر مهربان | او که جړے | جدا شی دواړه | نو بے پروا به کړی | الله | هر یو لره | په وجه د فضل خپل

دیر بخښونکے دیر مهربان دے او که بښځه خاوند دواړه د یو بل نه جدا شی نو الله به په خپل فضل سره دواړه (د یو بل نه) بے پروا کړی

وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿۱۳۱﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

او دے | الله | خاوند د فراخ | دیر حکمت والا | او خاص د الله دی | هغه څه | چه دی په اسمانونو کښ

او الله فراخی راوستونکے او لوئ حکمت والا دے د آسمانونو او زمکے د هر څهٔ مِلک او مُلک د الله دے

وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

او هغه څه | چه دی په زمکه کښ | او یقیناً | پوخ حکم ور کړے دے | هغه کسانو ته | چه ور کړے شوے دے ورته | کتاب

او یقیناً مونږ هغه مخکینو اُمتونو ته چه کتاب ورته ور کړے شوے دے تاکیدی حکم کړے دے

مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ

مخکښ ستاسو نه | او تاسو ته (هُم) | چه یَریږئ | د الله نه | او که چړے | کفر کوئ تاسو | نو بیشکه

او تاسو ته هم مونږ دا تاکیدی حکم کړے دے چه د الله نه او یریږئ او که تاسو انکار او کړو نو (د الله هیڅ

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

خاص د الله دی | هغه څه | چه دی په اسمانونو کښ | او هغه څه | چه دی په زمکه کښ | او دے | الله

نقصان نشئ کولے څکه چه) اسمانونو او زمکه کښ چه څه دی هغه ټول یوازے د الله مِلک او مُلک دے او الله تعالیٰ دهر چا نه

غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿۱۳۲﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

بے نیازه | ستائیلے شوے | او خاص د الله دی | هغه څه | چه دی په اسمانونو کښ | او هغه څه | چه دی په زمکه کښ

بے نیازه بے حاجته) او لائق د ستائینے دے او هر کله چه د آسمانونو او زمکے ملکیت صرف الله لره ثابت دے

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۳﴾ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ

او پوره (کافی) دے | یوا ځے الله | کارساز | که او غواړی الله | نو لرے به کړی تاسو | اے خلقو

نو هغه د ټول عالم د پاره انتظام کولے کافی دے که الله تعالیٰ او غواړی نو تاسو به فنا کړی او ستاسو په ځائے به

وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۴﴾ مَنْ

او را به ولی (پیدا به کړی) | نور خلق | او دے | الله | په دے باندے | ښه قدرت لرونکے | څوك

نور خلق پیدا کړی او الله پدے کار باندے قادر دے څوك چه یوازے

كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

چه غواړی | بدله | ددنیا (صرف) | نو ده د الله سره | بدله | د دنیا | او د آخرت (هُم)

د دنیا د بدلے عقیده لری (نو داگمان ئے غلط دے ځکه چه) دالله سره د دنیا او د آخرت دواړو بدلے او ثواب نه دی

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝١٣٥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا ع

او دے | الله | ښه اوریدونکے | ښه لیدونکے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | شئ تاسو

او الله هر څه اوری او هر څه وینی۔ اے مومنانو په انصاف قائم اوسیږئ

قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ

کلك ولاړ | په انصاف باندے | گواهی کونکی | دالله دپاره | اگر که وی هغه | (خلاف) ستاسو

او د الله تعالیٰ دپاره گواهی کوئ اگر که دا گواهی په خپله ستاسو یا د مور او پلار

اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ

یا د مور او پلار ستاسو | او د خپلوانو ستاسو | که چرے | وی هغه | مالدار | یا فقیر | نو الله

یا د خپلوانو په خلاف وی بیا د چا خلاف چه گواهی ور کولے کیږی نو که هغه مالدار وی او که غریب خو رعایت ئے مه کوئ ځکه چه

اَوْلٰى بِهِمَا ۫ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰۤى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ وَاِنْ

زیات مهربان دے | په دے دواړو باندے | نو تابعداری مه کوئ | د خواهش | چه مخ واړوئ د عدل نه | او که چرے

الله په هغوی تاسو نه زیات مهربان دے نو د خپل نفس په پیروئ کښې د عدل نه لاس وانه خلئ او که چرے تاسو

تَلْوٗۤا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

تاوولئ تاسو وئے | یا مخ اړوئ | نو بیشکه | الله | دے | په هغه څه | چه کوئ ئے تاسو

په شهادت ور کولو کښې وئے واړوئ او د حق بیان گډوډ کړئ یا د گواهی نه بالکل شاته شئ نو الله تعالیٰ ستاسو د کارونو نه

خَبِيْرًا ۝١٣٥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

ښه خبردار | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | ایمان لرئ (همیشه) | په الله | او په رسول د هغه

دیر ښه خبر دے۔ اے هغه کسانو چه ایمان مو قبول کړے دے (په وبه) د زړه نه ایمان راوړئ په الله او د هغے په رسول

وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْۤ

او په هغه کتاب | چه نازل کړے دے الله | په رسول خپل | او په هغه کتابونو

او په هغه کتاب چه الله په خپل رسول نازل کړے دے او په هغه کتابونو چه الله

اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ

چه نازل کړی ئے دی | مخکښې دے نه | او چا | چه کفر او کړو | په الله | او په ملائکو د هغه | او په کتابونو د هغه

مخکښې نازل کړی دی۔ او څوك چه د الله نه او د هغه د ملائکو نه او د هغه د کتابونو نه

وَ رُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ۝ اِنَّ

اوپه پیغمبرانو دهغه | او په ورځ | روستنۍ | نو یقیناً | ګمراه شو هغه | په ګمراهۍ | لرے سره | بیشکه

او دهغه د رسولانو نه او د آخرت دور ځے نه انکار وکړی نو یقیناً هغه په ګمراهۍ کښ ډیر لرے پریوتلو. یقیناً

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ

هغه کسان | چه ایمان ـــ ړاوړو | بیائے | کفر اوکړو | بیا ئے | ایمان راوړو | بیا ئے | کفر اوکړو | بیا

چا چه ایمان راوړو بیا کافران شو بیا ئے ایمان راوړو بیا کافران شول بیا په کفر کښ

ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ

کلك (زیات) شو | په کفر کښ | (نو) نه دے | الله | چه بخښنه اوکړی | دوی ته | اونه به اوښائی دوی ته

زیات وراندے لاړل (کفر کښ مړه شو) نو الله به هیڅرے دوی اونهٔ بخښی اونهٔ به ئے

سَبِيْلًا ۝ بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ۙ

لار (د نجات) | زیرے ورکړه | منافقانو ته | چه بیشکه | شته دے د دوی دپاره | عذاب | دردناک

د هدایت په لار روان کړی۔ منافقانو ته خبر ورکړه چه یقیناً دهغوی دپاره دردناك عذاب تیار دے

الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ

هغه کسان | چه نیسی هغوی | کافرانو لره | دوستان | سِوا | د مسلمانانو نه

هغه کسان چه د مسلمانانو په ځائے د کافرانو سره دوستانے جوړوی

اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۝

آیا لټوی دوی | د هغوی سره | عزت | نو بیشکه | (اختیار د) عزت (خو) | خاص دالله سره دے | ټول

(نو) آیا دوی د کافرانو نه عزت غواړی حالانکه هر قسم عزت خو د الله په اختیار کښ دے

وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ

او یقیناً | نازل کړے دے الله | تاسو ته | په کتاب کښ | دا خبره | چه کله | واورئ تاسو

او تاسو ته په قرآن کښ الله دا حکم رالیږلے دے چه کله د الله د آیتونو نه

اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ

آیتونه | د الله | چه کفر کولے شی | په دے | او ټوقے کولے شی | په دے پورے | نو مهٔ کیناسئ تاسو | د هغوی سره

انکار کیږی او خندا کانے ورپورے کیږی نو د دا سے خلقو سره تاسو تر هغے پورے مهٔ کیناسئ

حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ ۚ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ

تر دے | چه مشغوله شی حوی | په څهٔ خبره | بله کښ | (کنی) بیشکه تاسو به (هم) | د غه وخت | پشان د دوی شئ

ترڅو چه دوی څه په بله خبره کښ مشغوله نشی. کنی تاسو به هم د دوی پشان شئ

اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعَا ۙ﴿۱۴۰﴾

بیشکه | الله | جمع کوونکے دے | منافقانو | او کافرانو لره | په دوزخ کښ | یوځائے

یقین اوساتئ چه الله به منافقان او کافران په دوزخ کښ ټول را یو ځائے کړی

الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ

هغه کسان | چه انتظار کوی | ستاسو باره کښ | پس که | حاصله شی تاسوته | فتح | دطرفه دالله نه

اے مسلمانانو اداهغه کسان دی چه په تاسو باندے دَحوادثو دَرا تلو په انتظار ناست دی نو که الله تاسو له فتح درکړی

قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ

نو وائی دوی | آیا نه وو مونږ | تاسو سره | او که | وی | دکافرانو دپاره | څه برخه (یافائده)

نو وائی چه ولے مونږ ستاسو ملګری نه وو څه؟ او که کافرانو ته د فتح څه برخه ملاوشی

قَالُوْٓا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ

نو (یا) دوی وائی | آیا نه به وو مونږ غالب شوی | په تاسو باندے؟ | او یا نه ځپ کړی مونږ تاسو | د مومنانو نه

نو هغوی ته وائی ولے مونږ به په تاسو غالب شوی نه وو څه (که مونږ دَمومنانو ملګرتیا کړے وے)؟ (او دَدے باوجود) مونږ

فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ

پس الله به | فیصله او کړی | په مینځ ستاسو کښ | په ورځ | د قیامت | او هیڅ کله نه ورکوی | الله

تاسو دمومنانو نه بچ کړی پس الله به دقیامت په ورځ ستاسو ترمینځه فیصله او کړی او الله تعالی به هیڅ کله کافرانو ته

لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿۱۴۱﴾ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ ع

کافرانو ته | په مسلمانانو باندے | څه لار (دغالب کیدو) | یقیناً | منافقان | (په خپل خیال کښ) دهوکه ورکوی

په مسلمانانو غلبه ورنه کړی ۔ یقیناً منافقان په خپل خیال کښ الله ته دهوکه ورکوی

اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا

الله ته | حالانکه الله | دوی په دهوکه کښ اچولے دی | اوکله چه | اودریږی دوی | مانځه ته | نو اودریږی

او الله کافرانو له سزا د دهوکے ورکولکے دے. او کله چه دوی مانځه ته اودریږی نو

كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۴۲﴾

په زړه ماتی | بنودنه کوی | خلقو ته | او نه یادوی دوی | الله لره | مګر | لږ شان

په سستئ سره اودریږی او خلقو ته ځان ښائی او الله ډیر لږ یادوی (ځکه چه په ذکر کښ ئے اخلاص نشته)

مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۡ لَآ اِلٰى هٰٓؤُلَاۗءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَاۗءِ ۭ

حیران (دوپرق) دی | په مینځ | ددے (دواړو ولو کښ) | نه دی | ددے خلقو طرف ته | اونه دی | دهغے خلقو طرف ته

دوی دکفر او ایمان په مینځ کښ متردّد او حیرانه دی. نه پوره دمسلمانانو سره دی اونه پوره دکافرانو سره دی

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او هغه څوك | چه بې لارې ئې كړي | الله | نو هيڅ كله به بيا نه مومې ته | هغه لره | څه لار (دهدايت) | اے هغه كسانو

او الله چه څوك گمراه كړي هيڅ كله به ته دهغه دپاره د هدايت لار اونه مومي اے مومنانو!

اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ

چه ايمان مو راوړے دے | مه نيسئ | كافران | دوستان (خپل) | سوا | د مسلمانانو نه

د مسلمانانو په ځائے د كافرانو سره دوستانے مه جوړوئ

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ۝

آيا غواړئ تاسو | دا چه | جوړ كړئ | دالله دپاره | په ځان باندے | دليل | ښكاره

ولے آيا تاسو دا غواړئ چه د الله دپاره په خپل ځان باندے ښكاره دليل او حجت پيدا كړئ.

اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ تَجِدَ

بيشكه | منافقان به وي | په طبقه | لاندينئ كښ | د اُور | او هيڅ كله | او به نه مومے ته

يقين اوسائ چه منافقان به د دوزخ د ټولونه په لاندے طبقے كښ وي او هيڅ كله به ته د دوى دپاره

لَهُمْ نَصِيْرًا ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا

د دوى دپاره | څوك مدد كار | مگر | هغه كسان | چه توبه او كړي | او اصلاح او كړي (دخپل عمل) | او مضبوط اونيسي

څوك مدد كار بيا نه مومې البته گومر كسان چه توبه او كړي او خپله اصلاح او كړي او دالله احكام مضبوط

بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ

(دين د) الله | او خالص كړي | دين خپل | دالله دپاره | نو هم دا خلق دى | د مسلمانانو سره

اونيسي او خپل دين د الله دپاره خالص كړي نو دا د مومنانو ملگرى دى

وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ

او زر دے | چه وربه كړي | الله | مسلمانانو ته | اجر | ډير لوے | څه به كوى | الله

او ډير زر به الله مومنانو ته لوے اجر وركړي كه تاسو شكر گزار جوړ شئ او صحيح ايمان راوړئ

بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ۝

په عذاب (در كولو) تاسو ته | كه شكر او كړو تاسو | او ايمان مو راوړو | او دے | الله | قدردان | ښه پوهه

نو الله تاسو ته په عذاب در كولو څه كوى؟ او الله تعالى (خو) ډير قدردان د عمل دے او دهر چا په حالاتو باندے پوهه دے.

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ

نه خوښوی | الله | په زوره وئیل | د بدے | وَيِنا | مګر | په چاچه | ظلم اوشو

الله تعالی دا نه خوښوی چه څوك دے په بده وینا خله اوخوزوی سوا دهغه چا نه په چا چه ظلم

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ۝ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ

او دے | الله | ښه اوریدونکے | ښه پوهه | که ښکاره کوئ تاسو | نیکی | یا ئے پټ اوساتئ

زیاتے شوے وی او الله هر څه اوری په هر څه پوهه دے. که تاسو دنیکئ کار ښکاره کوئ یا ئے پټ کوئ

اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ۝ اِنَّ

یا معافی کوئ | د بدئ | نو بیشکه | الله | دے | معافی کونکے | قدرت لرونکے | بیشکه

یا که دخلقو بدی معاف کړئ (نو دیر ښهٔ ده) ځکه چه الله دیر معافی کونکے پورا قادر دے. کوم خلق چه

الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا

هغه کسان | چه کفر کوی | په الله | او په رسولانو دهغه | او غواړی | چه جدائی پیدا کړی

د الله او د هغه درسول نه انکار کوی او د الله او د هغه د رسولانو دحکم ترمینځه جدائی

بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ

په مینځ | د الله | او درسولانو دهغه کښ | او وائی | چه ایمان راوړو مونږ | په بعضو باندے | او کفر کوو مونږ

راولی اووائی چه مونږ په بعضو پیغمبرانو باندے ایمان لرو او په بعضو باندے کفر کوؤ

بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۝ۙ

په بعضو باندے | او غواړی | چه جوړه کړی | په مینځ | د دے (کفر او ایمان) کښ | څه لار

او غواړی چه د دے دواړو (کفر او اسلام) ترمینځه څه له لار راوباسی (حالانکه دا ایمان او کفر مینځ کښ واسطه نشته)

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا

هم داخلق | دوی | کافران دی | پاخه | اوتیار کړے دے مونږ | د کافرانو دپاره | عذاب

هم دغه خلق پاخهٔ کافران دی. او د کافرانو دپاره مونږ سپکوونکے عذاب تیار کړے دے

مُّهِيْنًا ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا

رسوا کوونکے | او هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | په الله | او په رسولانو دهغه | او جدائی نه پیدا کوی

او کومو خلقو چه په الله او د هغه په رسولانو ایمان راوړے دے او د هغوی په مینځ کښ فرق (جدائی)

بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ

په مینځ | دهیڅا کښ | د دوی نه | د غه کسان دی | چه زر به | ورکړی (الله) دوی ته | ثوابونه خپل

نه راولی نو دغسے خلقو له به الله د دوی بدلے پوره پوره ورکړی

ع ۱۹

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ يَسْـَٔلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ

او دے | الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان | غواړی ستانه | اهل کتاب | د اخبره چه نازل کړه ئے

او الله تعالی دیر بخښونکے او دیر مهربان دے. اهل کتاب تا نه دا مطالبه کوی چه ته دوی ته په یو ځل د اسمان نه

عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَاَلُوْا مُوْسٰٓى اَكْبَرَ

په دوی باندے | کتاب | د آسمان نه | پس یقیناً | غوښتلے وه دوی | د موسیٰ نه | غټه خبره

یو کتاب راوړه خو ته ډاځه دومره غټه خبره مه کړه حُکه چه دے خلقو د موسیٰ نه د دے نه هم غټه

مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ

د دے نه | پس وئیلے وو دوی | چه اوښایه مونږ ته | الله | په ښکاره | نو اونیول دوی لره | تندر

مطالبه کړے ده چه مونږ ته الله په ښکاره اوښایه نو دده سرکشۍ دوجے نه پرے تندر راپریوتلو

بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ

په سبب د ظلم د دوی | بیا | اونیولو دوی | سخے (په خدایئ باندے) | روستو ددے نه | چه راغلل دوی ته

بیائے د ښکاره دلیلونو د راتلو نه پس د سخی عبادت هم اوکړو

الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ ۚ وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى سُلْطٰنًا

دلیلونه ښکاره | نو بیا معافی اوکړه مونږ | د دے نه (هم) | اوورکړے وو مونږ | موسیٰ ته | دلیل (غلبه)

خو بیا هم مونږ دوی لره معاف کړل او مونږ وه موسیٰ ته ښکاره غلبه ورکړے وه.

مُّبِيْنًا ۝ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ وَقُلْنَا

ښکاره | او پورته کړو مونږ | د پاسه د دوی | طور غر | د پاره د لوظ اغستلو د دوی نه | او اووئیل مونږ

او د دوی نه د اقرار اغستلو د پاره مونږ د دوی د پاسه کوه طور پورته کړو او مونږ ورته اووئیل

لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ

دوی ته | (چه) داخل شئ | په دروازه | سجده کوونکی | اووئیل مونږ | دوی ته

چه د بیت المقدس دروازے ته په عاجزئ سره سجده کوونکی داخل شئ او مونږ ورته اووئیل چه

لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۝

(چه) مه کوئ زیاتے | په ورځ د خالی کښی | او واغستۀ مونږ | د دوی نه | لوظ | مضبوط

د خالی په ورځ د حد نه مه ورتیریږئ او مونږ ترینه مضبوطه وعده اغستلے وه.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

پس په سبب | د ماتولو د دوی | لوظ خپل لره | او په سبب د کفر کولو د دوی | په آیتونو | د الله

بیا مونږ ذلیله کړل دوی حُکه چه دوی بے لوظی اوکړه او د الله د ایتونو نه ئے انکار اوکړو

وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا

او په سبب د وژلو د دوی | پیغمبران ناحقه | په ناحقه | او په سبب د (ددے) وینا د دوی | (چه) زړونه زمونږ

او پیغمبران ئے په ناحقه وژل او وئیل ئے چه زمونږ زړونه په غلاف نو د علم کښی لغبتے دی

غُلْفٌ ۭ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ

په پرده کښی دی | بلکه | مهر لګولے دے | الله | په هغے (زړونو) باندے | په سبب د کفر د دوی

حالانکه حقیقت دا دے چه د دوی د کفر د وجے نه الله د دوی په زړونو مهر لګولے وو

فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ

پس ایمان نه راوړی دوی | مګر | لږ څوندے | اوپه سبب د کفر کولو دوی | اوپه سبب دجوړولو دوی | په مریم باندے

نو د لږو خلقو نه سوا باقی خلقو ایمان راونه ړو. او داځکه چه دوی د کفر لار اختیار کړه اوپه مریم

بُهْتَانًا عَظِيْمًا ۝ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ

د بهتان | لوئے | اوپه سبب (ددے) ویناد دوی | چه بیشکه | مونږ وژلے دے | مسیح

باندے ئے لوئے بهتان ولګولو او دا ئے اووئیل چه مونږ د الله رسول مسیح

عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ

عیسٰی | څوئے | د مریم | پیغمبر | د الله | اونه دے وژلے دوی هغه لره | اونه ئے ځپهانښی کړے دے

عیسٰی بن مریم وژلے دے حالانکه عیسٰی ئے نه وژلے دے اونه ئے په سولۍ کړے دے

وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ

لیکن | واقع شو شك | دوی ته | او بیشکه | هغه کسان | چه اختلاف ئے کړے دے | ددغه په باره کښ

بلکه په دوی باندے معامله گډه وډه شوه او حقیقت دا دے چه کومو خلقو پدے باره کښ اختلاف کړے وو

لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ

نو خامخا دی په شك کښ | ددغه باره کښ | نیشته دے دوی ته | په هغے | څه علم | سوا | د تابعدارئ

نو هغوی هم د عیسٰی باره کښ په شك کښ وو او اوس هم په شك کښ دی په اصل معامله ورسره هیڅ علم نشته

الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ۝ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ؕ

د ګمان نه | اونه دے وژلے دوی هغه | یقیناً | بلکه | بَره خیجولے دے هغه لره | الله | څان ته

تش په ګمان پسے روان دی دوی هغه لره قتل نه کړے شو بلکه الله څان ته بره آسمانونو ته اوخیجولو

وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا

او دے | الله | زور آور | حکمت والا | اونشته هیڅ څوك | د اهل کتابو نه | مګر

او الله تعالیٰ زور آور او حکمت والا دے او اهل کتابو کښ به هیڅ څوك پاتے نشی مګر

لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ

خامخا به ایمان راوړی | په هغه | مخکښ | د مرګ د هغه نه | او په ورځ | د قیامت | وی به هغه

د عیسٰی د مرګ نه وړاندے به پرے ټول ایمان راوړی (کله چه عیسٰی دوباره راکوژهی) او د قیامت په ورځ به

عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۝ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا

په دوی باندے | ګواهی ورکونکے | نو پس په سبب د ظلم | د هغه کسانو | چه یهودیان دی | حرام کړل مونږ

عیسٰی په دوی باندے ګواهی ورکوی پس (بیا) د یهودیانو د ظلم په وجه مونږ په دوی باندے ډیر پاك شیزونه حرام کړل

عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ

په دوی باندے | پاکیزه شیزونه | چه حلال کړے شوے وو | ددوی دپاره | اوپه سبب د منع کولو دوی

چه مخکښ د دوی دپاره حلال کړے شوے وو اوپه دے وجه هم چه دوی به ډیر خلق

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ﴿١٦١﴾ وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا

د لارے | د الله نه | ډیرو لره | اوپه سبب داغستلو ددوی | سود لره | حال دادے چه | دوی منع کړے شوی وو

د الله د لارے نه منع کول او په دے وجه چه دوی به سود اغستلو حالانکه دوی د سود نه منع کړے

عَنْهُ وَاَكْلِهِمْ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ؕ وَاَعْتَدْنَا

دهغے نه | اوپه سبب د خوړلو ددوی | مالونو | د خلقو لره | په ناروا | اوتیار کړے دے مونږ

شوی وو او په دے وجه چه دوی به د خلقو مالونه په ناحقه طریقه خوړل او مونږ د کافرانو د پاره

لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿١٦٢﴾ لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ

د کافرانو د پاره | ددوی نه | عذاب | دردناک | لیکن | هغه کسان چه پاخه دی | په علم کښ

دردناک عذاب تیار کړے دے. البته په بنی اسرائیلو کښ چه کوم خلق په علم کښ پاخه دی

مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

ددوی نه | او ایمان لرونکی | چه ایمان لری | په هغه کتاب | چه نازل کړے شوے دے | تاته

او ایماندار دی هغوی دا کتاب چه تاته نازل شوے دے

وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ

اوپه هغه کتاب | چه نازل کړے شوی دی | تاته مخکښ | اوهغه کسان چه اهتمام کوونکی دی | د مانځه

اوپه هغه کتابونو چه تاته مخکښ نازل شوے دی هغه هم منی او هغه خلق د تعریف قابل دی چه مونځونه

وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ اُولٰٓئِكَ

او ورکوی | زکات | او ایمان ساتی | په الله | او په ورځ | د آخرت | دغه خلق

کوی او زکات ورکوی او په الله او په ورځ د آخرت ایمان ساتی دغه خلق ته به

سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٦٣﴾ اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ ع

خامخا ورکړو مونږ دوی ته | اجر | ډیر لوئ | بیشکه | مونږ وحی کړے ده | تاته | لکه څنګه چه

مونږ ډیر ز ر لوئ اجر ورکړو۔ اے پیغمبره! مونږ تاته هم هغسے وحی کړے ده لکه څنګه چه

اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَاَوْحَيْنَآ

وحی کړے وه مونږ | نوح ته | او (نورو) پیغمبرانو ته | روستو د هغه نه | اووحی کړے وه مونږ

مونږ نوح او د هغه نه پس نورو پیغمبرانو ته وحی کړے وه او مونږ

اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى

ابراهیم ته | او اسماعیل ته | او اسحاق ته | او یعقوب ته | او اولاد دهغه ته | او عیسیٰ ته

ابراهیم او اسماعیل، اسحاق یعقوب او د هغوی اولاد ته او عیسیٰ،

وَاَيُّوْبَ وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿١٦٤﴾

او ایوب ته | او یونس ته | او هارون ته | او سلیمان ته | اوورکړے وو مونږ | داؤد ته | زبور

ایوب، یونس او هارون او سلیمان ته وحی کړے وه او داؤد ته مونږ زبور ورکړے وو

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا

اونورو وړیرو پیغمبرانوته | چه بیان کړی دی مونږ هغوی لره | تاته | مخکښ ددے نه | اونورو وړیرو پیغمبرانوته

اونور وړیر پیغمبران دی چه الله ورته وحی کړے وه او هغوی واقعات مونږ مخکښ تاته بیان کړے ده او وړیر داسے پیغمبران دی

لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۭ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ۝

چه نه دی بیان کړی مونږ هغوی لره | تاته | او خبرے کړے وے | الله | د موسیٰ سره | (حقیقی) خبرے

چه الله ورته وحی کړے وه او هغوی واقعات مونږ تاته نه دی بیان کړی او د موسیٰ سره خو الله (براه راست) خبرے کړے وے

رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ

(رالیږلی دی مونږ دا ټول پیغمبران | زیرے ورکونکی | او یَرَه وَرکونکی | دے دپاره چه پاتے نه شی | خلقو لره

دا ټول پیغمبران (خلقوته) د ثواب زیری ورکونکی او د دوزخ نه یَرَه ورکونکی رالیږلے شوی وو دے دپاره

عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ الرُّسُلِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا

په الله باندے | څه عذر (اوبهانه) | پس د رالیږلو | د رسولانو نه | او دے | الله | زور آور

چه د پیغمبرانو د راتلو نه پس خلقو سره د الله مخے ته څه عذر (بهانه) پاتے نه شی او الله ډیر زور آور اولوے

حَكِيْمًا ۝ لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ

حکمت والا | لیکن | الله | گواهی ورکوی | په هغه کتاب | چه نازل کړے ئے | تاته | (چه) نازل کړے ئے

حکمت والا دے کافر منی او که نه منی لیکن الله چه تاته کوم څه نازل کړی دی نو الله پخپله دهغے باره کښ

بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰۗىِٕكَةُ يَشْهَدُوْنَ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۝

په علم خپل سره | او ملائك هم | گواهی ورکوی | او کافی دے | یوا څے الله | گواهی کوونکے

گواهی ورکوی چه الله هغه په خپل علم سره نازل کړی دی او ملائکے هم گواهی ورکوی او یوا څے د الله گواهی کافی ده

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ

بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | او بندوی خلق | د لارے | د الله نه | یقیناً

یقین اوساؤ چا چه کفر اوکړو او د الله د لارے نه ئے خلق منع کړل نو یقیناً دوی د سمے لارے نه

ضَلُّوْا ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا

گمراه شو دوی | په گمراهۍ | لرے سره | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | او ظلم ئے کړے دے

په ډیره لرے گمراهۍ کښ پریوتل دی. یقیناً گومو خلقو چه کفر اوکړو او ظلم ئے اوکړو

لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ۝

نه دے | الله | چه بخښنه به اوکړی | دوی ته | او نه به اوښائی دوی ته | لار (سیدهاٰ)

الله تعالیٰ به هیڅرے هغوی او نهٔ بخښی او نه به ورته سمه لار اوښائی.

اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ

مگر | لار | د دوزخ | چه همیشه به وی | په هغے کښ | همیشه (تل) | او دے | دا کار

بغیر د لارے د جنهم نه چه په هغے کښ به همیشه همیشه اوسیږی او دا

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٧٠﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ

په الله باندے | آسان | اے خلقو | یقیناً | راغلے دے تاسوته | پیغمبر

د الله دپاره معمولی خبره ده. اے خلقو (دے) پیغمبر تاسو ته ستاسو درب دطرف نه

بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا

په حق سره | دطرفه درب ستاسو نه | نو ایمان راوړئ | (دابه) غوره وی | تاسو دپاره | او که چرے | انکار او کړئ تاسو

دحق (تعلیم) راوړے دے نو ایمان پرے راوړے ځکه چه په دے کښ ستاسو دپاره خیر دے او که چرے تاسو د کفر لار

فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

نو بیشکه | خاص دالله دی | هغه څه | چه دی په آسمانونو کښ | اوپه زمکه کښ | او دے | الله

اختیار کړئ نو بښه ٔ پوهه شئ چه په زمکه او آسمانونو کښ چه څه دی هغه ټول دالله ملکیت دے او الله

عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧١﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا

پوهه | حکمت والا | اے اهل کتابو! | دحد نه مه ٔ اوړئ | په دین خپل کښ | او مه وایئ

دعلم او حکمت دواړو مالك دے. اے اهل کتابو! په خپل دین کښ (دعیسیٰ بارہ کښ) دحد نه بهر مه ٔ اووځئ (په کوی یا زیاتی

عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

په الله باندے | مکر | حق | بیشکه | مسیح | عیسیٰ | څوئ | د مریم

کولو سره په حق دهغه کښ). او الله په بارہ کښ د حق نه سوا بله خبره مه کوئ مسیح عیسیٰ ابن مریم خو صرف د الله یو رسول دے او دهغه

رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰىهَآ اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ ۫

رسول | د الله دے | او کلمه دهغه ده | چه لیږلے وه الله دا کلمه | مریم ته | او روح دے | دطرفه دالله نه

کلمه ځکه وه چه مریم ته یې په واسطه د جبرئیل لیږلے وه او هغه دالله دطرف نه یو روح پوځ کړے شوے وو په کریمان د مریم کښ

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ۬ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ؕ اِنْتَهُوْا

نو ایمان راوړئ | په الله | او په رسولانو دهغه | او مه وایئ | چه (خدایان) درے دی | منع شئ (ددے نه)

نو تاسو په الله او دهغه په رسولانو ایمان راوړئ او دا مه وایئ چه خدایان درے دی ددے خبرے نه منع شئ هم په دے کښ

خَيْرًا لَّكُمْ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ سُبْحٰنَهٗٓ اَنْ يَّكُوْنَ

نو دابه) غوره وی | تاسو لره | بیشکه | الله | معبود دے | یواځے | پاك دے هغه | (ددے نه چه) وی دے

ستاسو خیر دے یقیناً الله تعالیٰ خو یواز معبود (لائق د بندګئ دے) هغه ددے خبرے نه بالکل پاك دے

لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

دهغه | څوك څوے | خاص دهغه دی | هغه څه | چه دی په اسمانونو کښ | اوهغه څه | چه دی په زمکه کښ

چه دهغه دے څوك څوئ وی. اسمانونو او زمکه کښ چه څه دی هغه ټول دهغه ملکیت دے

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿١٧٢﴾ لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ ع

او کافی دے | یواځے الله | کارساز | هیڅ کله نفرت نه کوی | مسیح | ددے نه چه شی هغه

او یواز الله دے ټول مخلوق د حفاظت دپاره پوره دے. مسیح هیڅرے د الله د بندګئ نه نفرت نه کوی

عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ

بندگی کولے | د الله | او نه ملائک | چه مقرب دی (الله ته) | او څوک چه | نفرت کوی

اونه ملائک د الله بندگی بده ګڼری اوچاچه د الله د بندګۍ نه انکار او کړوپه سبب د نفرت کولو اوځان

عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ۝

د عبادت د هغه نه | اوځان لوړ ګڼری | نو دیر زر به الله راجمع کړی دوی لره | ځان ته | ټول

لوړ ګڼرلو سره (نو هغه دے پوهه شی چه) الله به دیر زر دا ټول خپل ځان ته د جزاء ور کولو د پاره راجمع کړی.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ

پس هغه کسان | چه ایمان ځړاوړے دے | او عملونه کوی | نیک | نو الله به پوره ور کړی دوی ته

بیا چاچه ایمان راوړے دے او عملونه ئے نیک کړی دی نو هغوی ته به الله د هغوی اجرونه

اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا

ثوابونه د دوی | او زیات به ورله ورکړی | د فضل خپل نه | او هغه کسان | چه نفرت ئے او کړو

پوره پوره ورکړی او د خپل فضل نه به ورله زیات هم ورکړی اوچاچه د الله د بندګۍ نه نفرت کړے دے

وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّلَا يَجِدُوْنَ

او ځان ئے لوے او ګڼرلو | نو الله به عذاب ورکړی دوی ته | عذاب | دردناک | او اوبه نه مومی دوی

او تکبر ئے کړے دے نو هغوی ته به الله دردناک عذاب ورکړی اوهغوی به د ځان د پاره د الله نه سوا

لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

د ځان د پاره | سوا | د الله نه | څوک دوست | او نه څوک مددګار | اے خلقو

بل هیڅ څوک بچ کونکے دوست او مددګار بیا نه مومی ـ اے خلقو

قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ

یقیناً | راغلے دے تاسو ته | (زور اور) دلیل | د طرفه د رب ستاسونه | او رالیږلے ده مونږ | تاسو ته

یقیناً تاسو ته د رب د طرفه نه روښانه دلیل (محمدؐ او قرآن) راغلے دے او مونږ تاسو ته صفا لار ښودونکے

نُوْرًا مُّبِيْنًا ۝ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا

رڼا | ښکاره | نو هغه کسان | چه ایمان ئے راوړلو | په الله باندے | او مضبوط ئے اونیولو

رڼا د لیږلے ده. نو چا چه په الله ایمان راوړو او کلک عمل ئے او کړو په قرآن

بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ ۙ

د اکتاب | نو دیر زر به الله داخل کړی دوی لره | په رحمت کښې | د خپل طرف نه | او په فضل کښې

نو الله به ئے دیر زر په خپل خاص رحمت او فضل کښې داخل کړی او هغوی ته به

وَّيَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝ يَسْتَفْتُوْنَكَ ؕ قُلِ

او به ښائی دوی ته | د ځان طرف ته | لاره | نیغه | تپوس کوی دوی ستاسه | اووایه (چه)

خپل ځان طرف ته د رسیدو د پاره سمه لار او ښائی. اے پیغمبره خلق تاسه (د مونډ و تلی میرات د میراث باره کښې) تپوس کوی

اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ ۭ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ

الله | حکم کوی تاسوته | په بارهٔ میراث د کلاله (میرات) کښ | کچرے | یو سړے | مړ شو | چه نه وی | دهغه

نوته ورته اووایه چه دمونږ پوتلی میرات په بارهٔ کښ الله تاسوته حکم بیانوی که یو سړے په داسے حال کښ (میرات) مړ شی چه اولاد نۀ

وَلَدٌ وَّلَهٗٓ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ

بچی | اووی دهغه | یوه خور | نو دهغے دپاره | نیمه . | دهغه مال ده | چه پریښودلی وی هغه (مړی) | اوداد (ورور) به

نه وی اوپلار ئے څهم نۀ وی اویوه خور پلار اومور شریکه یاصرف پلار شریکه ئے وی نو هغه خور دده په ترکه کښ دنیم مال حقدار ده

يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ ۭ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ

میراث وری دهغے (خور) نه | که چرے | نه وی | دهغے | بچی | پس کچرے | وی دغه هوارثان | دوه خویندے

(پس دادا ئیکی ځدرین اووصیت نه) اوکه (خور میراث مړه شی) اواولاد (اوپلار) ئے نۀ وو نو ورور به دده غه خور دتول مال وارث وی اوکه چرے

فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ ۭ وَاِنْ كَانُوْٓا

نو دهغوی دپاره | دوه برخے (دوه درمے) دی | دهغه مال نه | چه پریښودلے وی هغه (مړی) | او کچرے | وی (وارثان)

میراث اوړونکے د کلاله نه دوه خویندے (یا زیاتے) وی نو بیا هغوی دپاره د ترکے د مړی نه دوه برخے دی د درے برخونه اوکه د مړی

اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَاۗءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ۭ

کنړ ورونړه خویندے | نارینه | او ژنانه | نو د نارینه دپاره | په شان | د برخے | د دوو چینکو ده

ورونړه اوخویندے کې وَ وی نو بیا به یو سړی ته د دوۀ ژنانو د برخے برابر برخه ملاویږی

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

بیانوی | الله | تاسوته (حکمونه) | چه گمراه نه شئ تاسو | او الله | په هر څیز باندے | ښه پوهه دے

الله تعالیٰ تاسوته خپل حکمونه څکه واضحه بیانوی چه بلارے نه شئ او الله په هر څیز باندے ښه پوهه دے (په مصلحتونو د خلقو)

آیاتها [۱۲۰]	سورة المآئدة مدنيّة	رکوعاتها [۱۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ۭ اُحِلَّتْ لَكُمْ

اے هغه کسانو! | چه ایمان مو راوړے دے | پوره کړئ | لوظونه | حلال کړے شوے دی | تاسو له

اے مومنانو! خپلے وعدے پوره کړئ تاسو د پاره بے زبانه څاروی

بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي

بے زبانه | څاروی | سوا دهغے نه | چه لوستلے کیږی | تاسوته | په داسے حال کښ چه نه به (ځ) تاسو | حلال کړونکی

حلال کړے شوے دی سوا د هغے څاروو نه چه تاسو ته به بیان کړے شی

الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ①

بنسکار لره | په دے حال کښ چه ئ تاسو | په احرام کښ | بیشکه | الله | فیصله کوی | دهغه څه | چه غواړی ئے

خو کله چه تاسو دا حرام په حالت کښ ئ نو بنسکار حلال مه ګڼرئ یقیناً الله چه څه غواړی هغسے فیصله کوی

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ

اے هغه کسانو! | چه ایمان مو راوړے دے | بے عزتی مه کوئ | د نخښو | د الله | او نهٔ د میاشت د عزت

اے مومنانو! د الله تعالیٰ د نخښو بے حرمتی مهٔ کوئ او نه د عزتمند و میاشتو او نه په حرم کښ

وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ

او نهٔ د قربانئ د څاروو | او نه د بټے دار څاروو | او نهٔ د قصد کوونکو | د بیت الحرام | چه غواړی

د قربانیدو نکی څناور او نه د هغه څناورو چه غاړے ته ئے بټے اچولے شوے وی او نه د هغه خلقو چه د بیت الله

فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ

فضل | د رب خپل | او رضامندی (دهغه) | او کله چه | تاسو احرام پرانیزئ | نو بیا بنسکار کوئ

قصد کونکی دی او د خپل رب د فضل او خوشنودئ طلبګار دی او کله چه دا حرام د حالت نه بهر اوځئ نو بیا بنسکار کولے شئ

وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ

او هیڅ چرے تیز دے نکړی تاسو لره | بُغض (دُشمنی) | د یو قوم | په دے وجه | چه منع کړی ئے وئ تاسو

او د یو قوم سره ستاسو دا دشمنی چه هغوی تاسو د مسجد حرام نه منع کړی وئ

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ

د مسجد حرام نه | په دے خبره چه زیاتے او کړئ تاسو | او مدد کوئ د یو بل سره | په نیکئ

تاسو دے په دے خبره اماده نه کړی چه تاسو په هغوی زیاتے او کړئ بلکه په نیکی او په تقوٰی کښ د یو بل سره

وَالتَّقْوٰى ۪ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

او پرهیزګاری کښ | او مدد مه کوئ د یو بل سره | په ګناه | او په زیاتی کښ | او اوږه یږه ئ | د الله نه

تعاون (مدد) کوئ او د ګناه او د ظلم په کار کښ د یو بل سره تعاون (مدد) مه کوئ او د الله نه اوږه یږه ئ

اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ② حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ

بیشکه | الله دے | سخت | عذاب ورکونکے | حرام کړے شوی دی | په تاسو | مرداره

یقیناً الله سخت عذاب ورکونکے دے. (اے مومنانو) په تاسو باندے مرداره

وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ

او وینه | او غوښه | د خنزیر | او هغه څه | چه اوشی آواز | د غیر الله | په هغے باندے

وینه او د خنزیر غوښه او هغه څیز چه په هغے سوا د الله نه د بل چا نوم (د بل چا آواز) پورته کړے شی او هغه څاروے

وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ

او مرئ خفه کړے شوے څناور | او ټکولے شوے څناور | او هغه څناور چه اور غړی | او په ښکر و هلے شوے څناور | او هغه

چه مرئ ئے خفه کړے شوے وی او هغه چه د ګذار د درولو شی نه مړ شوے وی او هغه چه راو غړیدی او هغه چه په هغه څه خوړو نه مړ شی

اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ ؕ وَمَا ذُبِحَ

چه مات کړے وی | درندګانو | مګر | هغه | چه ذبح ئے کړئ تاسو | او هغه | چه ذبح کړے شوے وی

او هغه چه درندګانو مات کړے (خوړلے) وی بغیر ددے نه چه تاسو حلال کړے وی او هغه چه د غیر الله په نامه ذبح کړے شوے وی

عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ؕ ذٰلِكُمْ

(د بتانو) په قربان ګاه باندے | او دا چه | تقسیم کړئ تاسو (غوښے) | په غشو سره | دا

حلال کړے شوے وی او هغه چه د جوارئ په غشو ئے ویش او کړئ دا ټول په تاسو حرام کړے شوے دی (او) دا ټول

فِسْقٌ ؕ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ

سخته ګناه ده | نن | نا اُمیده شو | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | د دین ستاسو نه

د ګناه کار ونه دی نن کافران ستاسو د دین د (مغلوب کیدو) نه نا اُمیده شو

فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ

پس مه یې ریږئ تاسو د دوی نه | او ویریږئ زما نه | نن | پوره کړو ما | تاسو له | دین ستاسو

نو د هغوی نه مه ویریږئ بلکه زما نه ویریږئ نن ما ستاسو دین تاسو له کامل کړو

وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ؕ

او پوره کړو ما | په تاسو | نعمت خپل | او خوښ کړو ما | تاسو له | اسلام | دین

او خپل نعمتونه مے درباندے تمام کړل او تاسو له مے اسلام د همیشه د پاره د دین په طور خوښ کړو

فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ

پس څوك چه مجبوره کړے شو | په سخته لوګه کښ | په دے حال کښ چه نه وی مائله کیدونکے | ګناه ته | نو بیشکه | الله دے

نو څوك چه د لوږے نه مجبوره شی (او هغه) د ګناه طرف ته مائل نه وی (او حرام څیز اوخوری) نو الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ يَسْئَلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ؕ قُلْ

بخښونکے | مهربان | تپوس کوی دوی ستانه | چه څه | حلال کړے شوی دی | دوی له | اووایه

بخښونکے مهربان دے. اے نبی! خلق تانه تپوس کوی چه دوی د پاره کوم څیزونه حلال کړے شوے دی؟

اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ

چه حلال کړے شوی دی | تاسو له | پاکیزه څیزونه | او (بنکار) هغه څناورو | چه تعلیم ورکړے وی تاسو (هغوی ته) | د زخمی کونکو (بنکاری) څناورونه

نو ته ورته اووایه چه تاسو د پاره ټول پاکیزه څیزونه حلال کړے شوی دی او کوم بنکاری څناور چه تاسو عادت کړی دی

مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ۫ فَكُلُوْا

چه لیږونکے ئے تاسو (هغوی لره) | چه بنایئ تاسو هغوی ته | د هغه څه نه | چه بنودلی دی تاسو ته | الله | پس خورئ

او بیا تاسو ئے په بنکار پسے پریږدئ او تعلیم ورته ورکړئ د هغه څه چه الله تاسو ته د هغے تعلیم درکړے دے

مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ ۠

د هغے نه | چه ساتلے وی دوی | تاسو د پاره | او یاد کړئ | نوم | د الله | په هغے باندے

نو کوم بنکار چه دوی ستاسو د پاره راونیسی نو هغه خورے شئ او (د هغه ژبنو د لو په وخت کښ) پرے د الله نوم اخلئ

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝ اَلْيَوْمَ اُحِلَّ

او اویریږئ | د الله نه | بیشکه | الله | زر | حساب کونکے دے | نن ورځ | حلال کړے شوی دی

او د الله نه اویریږئ یقیناً الله ډیر زر حساب اخستونکے دے. نن ورځ ټول پاکیزه شیزونه تاسو له حلال

لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

تاسو دپاره | پاکیزه شیزونه | او خوراك (حلاله) | دهغه کسانو | چهورکړے شوے دے هغوی نه | کتاب

کړے شوی دی او کومو خلقوته چه ستاسو نه مخکښ کتاب ورکړے شوے وو دهغوی ذبحه کړے شوے

حِلٌّ لَّكُمْ ۖ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫ وَالْمُحْصَنٰتُ

حلال دے | تاسو دپاره | او خوراك (حلاله) ستاسو | حلال ده | دپاره ددوی | او پاکدامنے

خوراك هم تاسو له حلال دے او ستاسو خوراك هغوی له حلال دے او د مسلمانانو پاکدامنے ښځے

مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

مسلمانے ښځے | او پاکدامنے ښځے | دهغه کسانو | چهورکړے شوے دے هغوی نه | کتاب

او د اهل کتابو پاکدامنے ښځے هم تاسو له حلالے دی

مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ

مخکښ ستاسونه | کله چه | ورکوئ تاسو هغوی ته | مهرونه دهغوی | چه نکاح کونکی یئ تاسو

هرکله چه تاسو هغوی ته مهر ورکړئ او ستاسو اراده ددوی په نکاح کښ راوستل وی.

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ

نه یئ زناکونکے | اونه یئ نیونکے | پټے اشنایانے | اوځوك چه | انکار اوکړی | د ایمان نه

نه وی اراده ستاسو دبدکارئ اونه پټ په پټه د اشنایئ اوځوك چه د ایمان د خبرونه انکار اوکړی

فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ۫ وَهُوَ فِى الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ ع

پس یقیناً | برباد شو | عمل دهغه | اوهغه به وی | په آخرت کښ | د تاوان موندونکو نه

نو یقیناً د هغه عملونه ضائع شول او په آخرت کښ به هم تاوانی شی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | کله چه | اودریږئ (پاځیږئ) تاسو | مانځهٔ ته

اے مومنانو! کله چه مانځه ته پاځئ نو د مانځه نه مخکښ خپل

فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا

نو اووینځئ | مخونه خپل | اولاسونه خپل | تر څنګلو پورے | اومسح اوکړئ

مخونه او لاسونه تر څنګلو پورے اووینځئ او په

بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا

په سرونو خپلو | او (اووینځئ) خپے خپلے | تر ګیټو پورے | او که چرے یئ تاسو | ناپاکه

سرونو مسح اوکړئ او تر ګیټو پورے خپے اووینځئ او که چرے تاسو په جنابت (ناپاکئ) کښ یئ

فَاطَّهَّرُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ

نو ځان پښه پاک کړئ | او که چرے یئ تاسو | بیماران | یا | په سفر باندے | یا راشی | یو کس

نو غسل او کړئ او که چرے تاسو مریضان یئ یا په سفر باندے یئ یا په تاسو کښ یو کس

مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً

د تاسو نه | د ځائے د حاجت نه | یا صحبت کړے وی تاسو | د ښځو سره | پس نه مومئ تاسو | اوبهٔ

د اودس ماتی نه راشئ یا د ښځو سره ئے صحبت کړے وی او اوبه نه مومئ

فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ

نو تیمم او کړئ | په خاوره | پاکه | نو مسح او کړئ | په مخونو خپلو | او په لاسونو خپلو

نو په پاکے خاورے تیمم او کړئ او په مخونو او لاسونو باندے د خاورے مسح او کړئ

مِّنْهُ ؕ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ

دهغے نه | نه غواړی | الله | چه راولی | په تاسو باندے | څه تنګی (سختی) | لیکن

الله نه غواړی چه په تاسو تنګسیا راولی هغه خو دا غواړی

يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ

غواړی هغه | چه پاک صفا کړی تاسو | او چه پوره کړی | نعمت خپل | په تاسو باندے | دے دپاره چه تاسو

چه تاسو پاک کړی او خپل نعمتونه درباندے سوا کړی دے دپاره چه

تَشْكُرُوْنَ ۝ وَاذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ

شکر گزار شئ | او یاد کړئ | نعمت | د الله | په تاسو باندے | او وعده دهغه | هغه

شکر گزار شئ. او الله تعالی چه کوم نعمتونه درکړی دی هغه یاد ساتئ او کومه پخه وعده چه ئے درنه

وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ ۙ اِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۫ وَاتَّقُوا

چه مضبوطه کړے ده تاسو سره | هغه | کله چه | اووئیل تاسو | (چه) واوریدل مونږ | او اومنل مونږ | او اویریږئ

اغستلے ده (هغه مه هیروئ) کله چه تاسو اووئیل چه مونږ واوریدل او اومومنل او دالله نه اویریږئ

اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دالله نه | بیشکه | الله | ښه پوهه دے | په راز | د سینو | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے

یقیناً الله د زړونو په پټو خبرو ښه واقف دے. اے مومنانو! د الله تعالی دپاره

كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ ۫ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ

شئ | کلک اودریدونکی | دپاره د الله | گواهی ورکونکی | په انصاف | او تیز دے نکړی تاسو

په پوره کولو د وعدو کلک قائم اوسئ او په انصاف سره گواهی ادا کوئ او دیو مے ډلے دشمنی دے

شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا ؕ اِعْدِلُوْا ۟ هُوَ اَقْرَبُ

بُغض (دشمنئ) | دیو قوم | په دے | چه عدل اونکړئ تاسو | عدل کوئ | دا | دپیر نزدے دے

تاسو دیته تیار نکړی چه د انصاف نه لاس واخلئ تل انصاف کوئ

لِلتَّقْوٰى ۡ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝٨

پرهیزګارئ ته | او اویریږئ | د الله نه | بیشکه | الله | ښه خبردے | په هغه عملونو | چه کوئ ئے تاسو

د اکار پرهیزګارئ ته ډیر نزدے دے او د الله نه اویریږئ یقیناً الله ستاسو د ټولو کارونو نه پوره خبردے.

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ

وعده کړے ده | الله | د هغه کسانو سره | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی | نیك

چا چه ایمان راوړے دے او نیك عملونه ئے کړے دی

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝٩ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

(چه) دوی له | مغفرت دے | او اجر | لوئے دے | او هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | او دروغژن ئے ګڼلی دی

هغوی سره الله تعالیٰ د بخښنے او د ډیر لوئی اجر وعده کړے ده. او چا چه انکار (کفر) کړے دے او زمونږ آیتونه

بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ۝١٠ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

آیتونه زمونږ | د غه کسان دی | دوزخیان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

ئے دروغ ګڼلی دی هغوی به دوزخ کښ اوسیږی. اے مومنانو! د الله هغه نعمت (مهربانی) یاد ه کړئ

اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا

یاد کړئ | نعمت | د الله | په ځان باندے | کله چه | اراده اوکړه | یو قوم | چه اوږده کړی

چه یوے ډلے تاسو ته د لاس اچولو اراده اوکړه

اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

تاسو ته | لاسونه خپل | نو بند کړل الله | لاسونه هغوی | ستاسو نه | او اویریږئ | د الله نه

نو الله تعالیٰ هغوی لاسونه تاسو نه بند کړل او د الله تعالیٰ نه اویریږئ

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝١١ ع وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ

او خاص په الله دے | توکل اوکړي | مومنان | او یقیناً | اغستے وو | الله | پوخ لوظ

او مسلمانانو لره بس په الله باندے بهروسه پکار ده. او یقیناً الله تعالیٰ د بنی اسرائیلو نه

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ؕ وَقَالَ

د بنی اسرائیلو نه | او مقرر کړی وو مونږ | ډ دوی نه | دولس | سرداران | او وئیلے وو

وعده اغستے وه او مونږ په هغوی کښ دولس مشران (تفتیش کونکی د حالاتو د خلقو) مقرر کړی وو

اللّٰهُ اِنِّيْ مَعَكُمْ ؕ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ

الله | چه بیشکه زه یم | تاسو سره | که چرے | قائم کړو تاسو | مونځ | او ورکړو تاسو | زکوة

او الله تعالیٰ ورته اوئیل چه زما نصرت تاسو سره دے که تاسو مونځونه قائم ساتل او زکاة موادا کوو

وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا

او ایمان راوړو تاسو | په پیغمبرانو زما | او مدد او کړو تاسو دوی | او ورکړو تاسو | الله ته | قرض

او زما په ټولو رسولانو مو ایمان راوړلو او دهغوی مدد مو کولو او د الله په لار کښ مو مال خرچ کولو

حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ

بنه | (نو) خامخالرے به کړمزهٔ | تاسونه | گناهونه ستاسو | اوخامخادا خل به کړمزه تاسو | (دا سے) جنتونوته

نو یقیناً زهٔ به تاسو نه ستاسو گناهونو لرے کړم او دا سے جنتونو ته به تاسو داخل کړم

تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ

چه بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه | بیا چا چه | کفراوکړو | پس ددینه | د تاسونه

چه لاندے به ترے نهرونه بهیږی ددے نه پس چه په تاسو کښ چا انکار اوکړو

فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِیْلِ ﴿۱۲﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّیْثَاقَهُمْ

نو یقیناً | گمراه شو هغه | دنیغے | لارے نه | نو په سبب | دماتولو ددوی | لوظ خپل لره

نو یقیناً دسے لارے نه بے لارے شو. بیا هم د دوی د وعدو دماتولو په وجه مونږ

لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِیَةً ۚ یُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ

لعنت اوکړو مونږ په دوی باندے | او وگرځول مونږ | زړونه ددوی | سخت | (نو) بدلوی دوی | کلمے دالله تعالی

په دوی لعنت اوکړو او زړونه موورله سخت کړل نواثر دهغے داشوچه دوی کلمے دالله دخپلو ځایونونه بدلوی

عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ

د ځایونو خپلو نه | او هیره کړه دوی | یوه برخه | دهغه څه نه | چه نصیحت کړے شوے وودوی نه | په هغے سره

اوتحریف پکښ کوی اوچه کوم بیان ورته شوے وو په تورات کښ دمحمدؐ متعلق نو هغه ئے بالکل هیر کړو

وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰی خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ

او همیشه به | ته خبریږے | په څه خیانت باندے | ددوی نه | سوا | دلږو خلقو | د دوی نه

په دوی کښ دلږو خلقو نه سوا به ته همیشه ددوی دخیانتونو نه خبریږئ

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۳﴾

پس معافی اوکړه | دوی ته | او مخ واړوه | بیشکه | الله | خوښوی | نیکان

نو معافی ورته کوه او مخ ترینه اړوه او احسان ورسره کوه یقیناً الله احسان کونکی خلق خوښوی

وَمِنَ الَّذِیْنَ قَالُوْۤا اِنَّا نَصٰرٰۤی اَخَذْنَا مِیْثَاقَهُمْ

او دهغه خلقو نه | چه وائی | بیشکه مونږ | عیسائیان یو | اغستلے وو مونږ | پوخ لوظ ددوی نه

او کوم خلق چه وائی چه مونږ عیسائیان یُو دهغوی نه هم مونږ پوخ لوظ اغستے وو

فَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۠ فَاَغْرَیْنَا

نوهیره کړه دوی | یوه برخه | دهغه څه نه | چه یاد کړے شوے وودوی نه | په هغے سره | پس راپورته کړه مونږ

نوهغوی هم دانجیل یوه حصه پریخودله (متعلق دتوحید) اوپه شرک کښ اخته شو نو مونږ

بَیْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ ؕ وَسَوْفَ

په مینځ ددوی کښ | دُشمنی | او کینه | تر ورځ د قیامت پورے | او ډیر زر به

دهغوی په مینځ کښ تر قیامته دشمنی او کینه او اختلاف اوقسمه قسم ډلے پیدا کړے او ډیر زر به ئے

يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ۝ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ

خبر کړی دوی لره | الله | په هغه څه | چه دوی ئے | کوی | اے اهل کتابو | یقیناً

الله تعالیٰ دهغه څه نه خبر کړی څه چه ئے په دنیا کښ کول. اے اهل کتابو! یقیناً

جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ

راغلے دے تاسوته | پیغمبر زمونږ | چه بیانوی | تاسوته | ډیرے (مسئلے) | دهغه څه نه | چه تاسوئے | پټوئ

تاسوته زمونږ پیغمبر راغلے دے چه د کتاب (تورات او انجیل) هغه ډیرے خبرے درته بشکاره کوی چه تاسو به (دَ خلقو نه)

مِنَ الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۬ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

د کتاب نه | اومخ اړوی | د ډیرو (خبرو) نه | یقیناً | راغلے دے تاسوته | د طرف د الله نه

پټولے او د ډیرو خبرو نه مخ اړوی یقیناً تاسو ته د الله د طرف نه

نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ۝ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ

رڼا | او یو کتاب | بشکاره | خودنه کوی | په هغے سره | الله | هغه چا ته | چه پیروی کوی

رڼا او یو داسے واضح کتاب راغلے دے چه په هغے سره الله تعالیٰ هغه چا ته دسلامتیا لار ښائی څوك چه

رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ

درضامندئ دالله | لارو د سلامتیا ته | او اوباسی دوی لره | د تیارو نه | رڼا ته

دهغه رضامندی غواړی اوپه دے کتاب سره الله خلقو لره د تیارونه درڼا طرف ته راوباسی

بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ لَقَدْ كَفَرَ

په حکم خپل سره | او هدایت کوی دوی ته | په طرف د لارے | نیغے | یقیناً | کافر شول

او د عقیدے د توحید سمه لار ورته ښائی. یقیناً هغه خلق کافران شول

الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ قُلْ فَمَنْ

هغه کسان | چه وائی | بیشکه | الله | هغه | هم مسیح | څوئ | د مریم دے | اووایه | پس څوك

چه وائی چه الله (خو) عیسیٰ ابن مریم دے اے پیغمبره اته ورته اووایه چه که الله مسیح بن مریم

يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ

اختیار لری | په مقابله د الله کښ | د څه شی | که چرے | اوغواړی الله | چه هلاك کړی | مسیح

او د هغه مور او څوك چه په زمکه کښ دی دا ټول هلاك کړی نو څوك دا سے نشته چه

ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ؕ وَلِلّٰهِ مُلْكُ

څوئ | د مریم | او مور د هغه | او هغه څوك | چه دی په زمکه کښ | ټول | او هم یوا ځے د الله ده | بادشاهی

د الله په مقابله کښ د څه اختیار اولری یا (د څه کولو طاقت اولری) او د اسمانو او د زمکے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ

د آسمانونو | او د زمکے | او څه چه | په مینځ د دے دواړو کښ دی | پیدا کوی | څه | چه اوغواړی

او د دے دواړو ترمینځه چه څه دی د دے ټولو اختیار (ملکیت) یوا ځے د الله دے هغه چه څه غواړی هغه پیدا کوی

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى

او الله | په هر | شيز باندے | قادر دے | او وائی | يهوديان | او عيسائيان

او الله په هر شيز باندے قادر دے . او يهوديان او عيسائيان وائی چه

نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ

مونږ (خو) | خامن | د الله يو | او دوستان دهغه يو | اووايه | نو وَلے | عذاب درکوی هغه تاسو ته

مونږ (خو) د الله خامن او دوستان يو . اے پيغمبره ! ته ورته اووايه چه که داسے وی نو بيا الله تاسو ستاسو

بِذُنُوْبِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ

په گناهونو ستاسو | بلکه | تاسو هم | انسانان يئ | دهغه چا نه | چه پيدا کړی دی الله | بخښنه کوی | چا ته

د گناهونو په وجه سزا ولے درکوی نا بلکه تاسو هم د عام انسانانو په شان انسانان يئ کوم چه الله پيدا کړی دی

يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

چه اوغواړی | اوعذاب ورکوی | چا ته | چه اوغواړی | او خاص د الله ده | بادشاهی | د آسمانونو

الله چه چا ته اوغواړی بخښنه کوی او چا ته چه اوغواړی سزا ورکوی او د اسمانونو او د زمکے او د دواړو ترمينځه

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۫ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿١٨﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

او د زمکے | اودهغه څه چه دی | په مينځ دواړو کښ | او خاص الله ته | واپس تلل دی | اے اهل کتابو

چه څه دی هغه ټول د الله په اختيار کښ دی او هم هغه ته واپس تلل دی . اے اهل کتابو ! يقيناً تاسو ته زمونږ پيغمبر

قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ

يقيناً | راغلے دے تاسو ته | پيغمبر زمونږ | (چه) بيانوی | تاسو ته | په وخت د بنديدلو | د رسولانو کښ

راغلے دے چه تاسو ته (زمونږ حکمونه) صفا صفا بيانوی په داسے وخت کښ چه ديو مودے راسے

اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْۢ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ ۫ فَقَدْ

دے دپاره چه اونه وائی تاسو | (چه) نه وور اغلے مونږ ته | هيڅ څوک زيرے را کوونکے | او نه يرووونکے | نو يقيناً

د پيغمبرانو راتلل بند شوی وو دے دپاره چه تاسو دا اونه وائی چه مونږ ته خو څوک زيرے را کوونکے (يا عذاب نه) ويرووونکے

جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ ع

راغے تاسو ته | زيرے درکوونکے | او يرووونکے | او الله | په هر | شيز باندے | قادر دے

نه وور اغلے نو اوس يقيناً تاسو ته زيرے درکوونکے او يرووونکے پيغمبر راغلے دے او الله تعالیٰ په هر شيز باندے قادر دے

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

او کله | چه اووئيل | موسیٰ | قوم خپل ته | اے قومه زما ! | ياد کړئ | نعمت | د الله

او هغه وخت را ياد کړئ کله چه موسیٰ خپل قوم ته اووئيل چه اے زما قومه ! الله چه په تاسو کوم نعمتونه کړی دی

عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ

په خپلو خپل | کله چه | پيدا کړل هغه | په تاسو کښ | پيغمبران | او جوړے کړئ تاسو | بادشاهان

هغه (لږ) را ياد کړئ چه په تاسو کښ ئے پيغمبران راليږلی وو او تاسو ئے بادشاهان کړی وئ

وَ اُتِكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ

اودرے ګړه تاسوته | هغه څه | چه نه يې وو ورکړي | هيڅ يو کس ته | د ټولو خلقو نه | اے قومه زما!

او تاسو له يې هغه څه درکړي دي چه په ټول مخلوق کښې يې هيڅ چا ته نه وو ورکړي. اے زما قومه!

ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا

داخل شئ | زمکے | پاکے ته | هغه | چه ليکلے ده | الله | تاسو له | اومه راګرځئ

دے پاکيزه علاقے ته ورننوځئ چه الله ستاسو په برخه کښې ليکلے ده (په سبب د جهاد کولو ستاسو)

عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ

په شاګانو خپلو | ګنې نو شئ به تاسو | تاوان مونډونکي | اووئيل دوی | اے موسیٰ! | بيشکه

او مخ په شا مه تلئ ګنې نامراده به پاتے شئ (نو) دوی اووئيل چه اے موسیٰ په دغه

فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى

دے په دے کښې | يو قوم | ډير زور آور | او بيشکه مونږ | هيڅ کله نه داخليږو دے ته | تر دے پورے

علاقه کښې (خو) يو ډير جابر (زور آور) قوم (عمالقه) اوسيږي او تر څو پورے چه هغوی دهغه ځائے نه

يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾

چه راووځي هغوی پخپله | ددے نه | نو که چرے | راوتل پخپله | ددے نه | نو بيشکه مونږ به | ورداخل شو

پخپله وتل نه وی نو مونږ هيڅ کله نه ورننوځو که هغوی ترينه پخپله اووتل نو بيا به مونږ ورننوتو ته تيار شو

قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا

اووئيل | دوه سړو | دهغه کسانو نه | چه يې ريدل | څوک چه احسان کړے وو | الله | په هغے دواړو باندے

کوم خلق چه دالله نه يې ريدل په دوی کښې نو په هغوی دوه کسانو چه الله پرے احسان کړے وو

ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ

چه داخل شئ تاسو | په دوی باندے | دد روازے نه | پس کله چه | داخل شئ تاسو په دے دروازه | نو بيشکه تاسو به

اووئيل چه تاسو په دے عمالقو حمله اوکړئ او صرف دښار په دروازه کښې ورننوځئ کله چه تاسو ورننوځئ نو يقيناً

غٰلِبُوْنَ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالُوْا

غالب يئ | او خاص په الله | توکل اوکړئ | که يئ تاسو | مومنان | اووئيل دوی

هم تاسو به غالب شئ که تاسو رشتينی مومنان يئ نو صرف په الله توکل سائ نو دوی اووئيل چه

يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا

اے موسیٰ | بيشکه مونږ | هيڅ کله نه يو داخليدونکی دې ته | چرے هم | تر څو چه وی دوی | په دے کښې

اے موسیٰ تر څو چه په دے ښار کښې دا عمالقه موجود وی مونږ هيڅ کله نه ورننوځو

فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾

پس لاړ شه | ته | او رب ستا | نو اوجنګ يې وکړئ دواړه | بيشکه مونږ به | دلته | ناست يو

پس ته او ستا رب دواړه لاړ شئ او جنګ اوکړئ مونږ (خو) به هم دلته ناست يو

قَالَ رَبِّ اِنِّیۡ لَاۤ اَمۡلِكُ اِلَّا نَفۡسِیۡ وَاَخِیۡ فَافۡرُقۡ

اووئیل هغه | اے زمآربه | بیشکه زه | نه لرم څه اختیار | مګر | دځان خپل | اودرور خپل | پس جدائی راوله

موسیٰ اووئیل چه اے زمآربه ازه خو دخپل ځان او دخپل رور نه سوا بل دهیڅ چا اختیار نه لرم نو ته زمونږ اووده

بَیۡنَنَا وَبَیۡنَ الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِیۡنَ ﴿۲۵﴾ قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ

په مینځ زمونږ | او په مینځ | د قوم | فاسقانو کښې | اووئیل الله | پس دا زمکه | حرامه (بنده) کړے شوه

نافرمانه قوم (خلقو) په مینځ کښې فیصله اوکړه. الله ورته اوفرمائیل بنهٔ ده نو دغه ښآریه به تر څلویښتو کالو

عَلَیۡهِمۡ اَرۡبَعِیۡنَ سَنَةً ۚ یَتِیۡهُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ ؕ فَلَا تَاۡسَ

په دوی باندے | څلویښت | کاله | سرګردانه به وی | په زمکه کښې | پس مه کوه غم

پورے په دوی حرام وی (په دے دوران کښې به) دوی سر وهلی بروهلی کړی نوته دد ے نافرمانه قوم په حال

عَلَی الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِیۡنَ ﴿۲۶﴾ وَاتۡلُ عَلَیۡهِمۡ نَبَاَ ابۡنَیۡ اٰدَمَ ع

په قوم | فاسقانو باندے | اولوله ته | دوی ته | حال | ددوؤ څامنو | د آدمؑ

باندے افسوس مه کوه. او اے پیغمبره اته دے خلقو ته دادمؑ ددواړو څامنو رښتونے واقعه بیان کړه

بِالۡحَقِّ ۘ اِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنۡ اَحَدِهِمَا وَلَمۡ یُتَقَبَّلۡ

په رشتیا | کله چه | قربانی اوکړه دواړو | قُربانی | نو قبوله شوه | د یَو ددے دواړونه | او نه شوه قبوله

کله چه دواړو یو یو قربانی پیش کړه نو دواړو کښې دهابیل قربانی قبوله شوه اودقابیل قبوله نه شوه

مِنَ الۡاٰخَرِ ؕ قَالَ لَاَقۡتُلَنَّكَ ؕ قَالَ اِنَّمَا یَتَقَبَّلُ اللّٰهُ

د بل نه | (نو) اووئیل هغه | خامخا زه به وژنم تا | اووئیل دے بل | بیشکه | قبلوی | الله

نو قابیل هابیل ته اووئیل چه زه به تاضرور وژنم نوهغه ورته اووئیل چه الله (خو) دهغه چاقربانی قبلوی

مِنَ الۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۲۷﴾ لَئِنۡۢ بَسَطۡتَّ اِلَیَّ یَدَكَ لِتَقۡتُلَنِیۡ مَاۤ اَنَا

دمتقیانو نه | که چرے ته | راوړدهٔ کړے | ماته | لاس خپل | چه ته اوژنے ما | (نو) نه یم زه

چه پرهیزګاران وی. که ته زما دوژلو دپاره لاس اوچت کړے نو زه به بیا هم ستا دوژلو دپاره تاپسے

بِبَاسِطٍ یَّدِیَ اِلَیۡكَ لِاَقۡتُلَكَ ۚ اِنِّیۡۤ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ

اوږدوونکے | لاس خپل لره | تاته | چه زهٔ اوژنم تا | بیشکه زهٔ | یَرِیږم | د الله نه | (چه) رب دے

لاس اوچت نه کړم زه (خو) د الله نه یریږم چه د ټول مخلوق

الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۲۸﴾ اِنِّیۡۤ اُرِیۡدُ اَنۡ تَبُوۡٓاَ بِاِثۡمِیۡ وَاِثۡمِكَ فَتَكُوۡنَ

دټولو جهانونو | بیشکه زه | غواړم | چه اخته شے ته | په ګناه زما | او په ګناه خپله (هم) | نوشے به ته

پرودکاردے. زه (خو) غواړم چه ځان بچ کړم د ګناه نه نوتهٔ به زما اوخپل ګناهونه ټول په خپله ذمه واخلے

مِنۡ اَصۡحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۲۹﴾ فَطَوَّعَتۡ لَهٗ

د دوزخیانو نه | او دا ده | سزا | د ظالمانو | بیا خائسته کړو | قابیل ته

او دوزخی به شے او هم دا دظالمانو سزا ده. (اخر) قابیل لره خپل نفس د رور وژلو ته تیار کړو

نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ فَبَعَثَ

نفس خپل | وژل | د وُرور خپل | پس وےژوژلو هغه | نو شو هغه | د تاوانیانو نه | پس راولیږلو

نو وئے وژلو او په نامراده خلقو کښ شامل شو بیا الله

اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِيْ

الله | یو کارغه | چه کنستله ئے | زمکه | چه اوښائی دهٔ ته | چه څنګه | پټ کړی

یو کارغه راولیږلو چه زمکه ئے کنستله چه دهٔ ته دخپل رور دپټولو (خخولو) چل اوښائی دهٔ چه دا

سَوْاَةَ اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰى اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ

لاش | د وُرور خپل | اووئیل | هائے افسوس دے په ما | آیا عاجزه شوم زه | چه شم زه | په شان

اولیدل نو وئے وئیل چه اے کاش زه ددے کارغه په شان هم نه شوم

هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِيَ سَوْاَةَ اَخِيْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ۝

ددے | کارغه | پس پټ کړم | لاش | د وُرور خپل | نو شو هغه | د پښیمانو نه

چه د خپل رور لاش مے پټ کړے وے نو هغه په (خپل حال) دیر پښیمانه شو

مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚۛ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ

ددے وجے نه | فرض کړو مونږ | په بنی اسرائیلو باندے | چه شان دادے | چا چه | قتل کړو

هم ددے واقعے په وجه مونږ بنی اسرائیلو ته داحکم کړے وو چه چا یو کس

نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا

یو نفس | بغیر | د بدلے د بل نفس نه | یا (بغیر) د فساد نه | په زمکه کښ | نو گویا که

د بل کس د بدلے نه بغیر یا د زمکے په مخ د فساد خورولو نه بغیر اوژلو نو گویا چه هغه

قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ

اووژل دهٔ | خلق | ټول | اوچاچه | بچ کړو ژوند دَیو نفس | نو گویا که | ژوندی اوساتل دهٔ | خلق

ټول خلق اووژل او چاچه دیو کس ژوند بچ کړو نو گویا چه هغه د ټولو خلقو ژوند بچ کړو

جَمِيْعًا ؕ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ۫ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا

ټول | او یقیناً | راغلل وو دوی ته | پیغمبران زمونږ | په ښکاره دلیلونو سره | بیا | بیشکه | دیر

او حقیقت دادے چه زمونږ پیغمبران دوی ته ښکاره دلیلونه (حکمونه) راوړی وو خو بیا هم

مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ۝ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا

د دوی نه | پس | د دے نه | په زمکه کښ | خامخا د حد نه تیروتونکی وو | بیشکه | سزا

دیر خلق د زمکے په مخ زیاتے او ظلم کوی. یقیناً کوم خلق چه

الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ

دهغه کسانو | چه جنګ کوی | د الله | او د رسول دهغه سره | او کوشش کوی | په زمکه کښ

د الله او دهغه دَ رسول سره جنګیږی او د زمکے په مخ د فساد خورولو

فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ

د فساد (خورولو) | دادی چه قتل دے کړے شی | یا په سولۍ دے کړے شی | یا دے پریکړے شی | لاسونه ددوی

کوشش کوی د دوی سزا (هم) دا ده چه دوی اووژلے شی یا په سولۍ کړے شی یا د دوی لاسونه او خپے

وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ۭ ذٰلِكَ لَهُمْ

او خپے ددوی | اَدل بَدل | یا دے اوشړلے شی | د زمکے نه | داسزا | ددوی دپاره

ادل بدل پریکړے شی او یا د وطن نه اوشړلے شی دا خو

خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۙ اِلَّا

رسوائی ده | په دنیا کښی | او ددوی دپاره | په آخرت کښی | عذاب دے | دیر لوئے | مګر

په دنیا کښی ددوی دپاره شرمندګی ده اوپه آخرت کښی ورله لوئے عذاب تیار دے. البته

الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ فَاعْلَمُوْٓا

هغه کسان | چه توبه اوکړی | مخکښی ددے نه | چه وَس پَر شی ستاسو | په دوی باندے | نو پوهه شئ

کوم خلق چه ستاسو په قابو کښی درا تلو نه مخکښی توبه اوباسی (نو دوی پریږدئ او) پوهه شئ چه

اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا ع ٦

(چه) بیشکه | الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان دے | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | اویریږئ

الله بخښونکے مهربان دے اے مومنانو ! د الله نه اویریږئ

اللّٰهَ وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ

دالله نه | او اولټوئ | هغه ته | نزدیکت | او جهاد اوکړئ | په لار دهغه کښی | دے دپاره چه تاسو

او هغه ته د نزدے کیدلو کوشش اوکړئ او دهغه په لار کښی جهاد اوکړئ

تُفْلِحُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا

کامیاب شئ | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ځے کړے دے | که چرے شی | ددوی دپاره | هغه څه

چه کامیاب شئ یقین اوسائ که چرے کافرانو ته د زمکے ټول

فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ لِيَفْتَدُوْا بِهٖ

چه دی په زمکه کښی | ټول | او هم دومره | دهغے سره (نور هم) | دے دپاره چه خپل خپله فدیه | په هغے سره

هر څه په لاس ورشی او د دے هومره نور هم او دا غواړی چه

مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ

د عذاب | د ورځے | د قیامت نه | (نو) قبول به نکړے شی | د دوی نه | او د دوی دپاره

دقیامت دعذاب په بدله کښی ځے ورکړی نو د دوی نه به دا فدیه هیڅ کله قبول نه شی او د دوی دپاره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ

عذاب دے | دردناک | غواړی به دوی | چه راووځی | د اور نه | اونه به وی | دوی

دردناک عذاب دے دوی به دا غواړی چه د دوزخ نه راووځی خو

بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ۡ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٧﴾ وَالسَّارِقُ

وتونکی | د دے نه | او د دوی دپاره | عذاب دے | هیشه قائم پاتے کیدونکے | اوهغه سړے چه غلا ئے او کړه

راوتلے به ترے نه شي او د دوی دپاره دهمیشه عذاب مقرر دے. کوم سړے

وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا

اوهغه ښځه چه غلا ئے او کړه | نو پرې کړئ | لاسونه د دواړو | داسزا ده | په وجه د هغه عمل | چه کړے دے دواړو | داعبرتناکه سزا ده

یا ښځه چه غلا او کړی نو د دواړو لاسونه پرې کړئ چه دخپلو کړو سزا ورته ملاو شي او دا به

مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ

د طرفه د الله نه | او الله | ډیر زور آور | او حکمت والا دے | نو څوك | چه توبه او کړی | پس

د الله د طرف نه عبرتناکه سزا شي او الله زور آور او حکمت والا ذات دے. بیا چه څوك د خپل زیاتی نه پس

ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

د ظلم خپل نه | او عمل ښه کړی | نو بیشکه | الله | توبه قبلوی | ډډه | بیشکه | الله | ډیر بخښونکے

توبه او باسی او خپل معاملات سم کړی نو الله دهغه توبه قبلوی یقیناً الله ډیر بخښونکے دے

رَّحِيْمٌ ﴿٣٩﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

ډیر مهربان دے | آیا ته نه پوهیږے | چه بیشکه | د الله | دپاره دے | بادشاهت | د اسمانونو

مهربان دے. آیا تاته پته نشته چه د آسمانونو او د زمکے بادشاهی

وَالْاَرْضِ ۭ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ

او د زمکے | هغه عذاب ورکوی | چاته | چه اوغواړی | او بخښنه کوی | چاته | چه اوغواړی | او الله

خاص د الله ده چاله چه اوغواړی سزا ورکړی او چاته چه اوغواړی بخښش ورته اوکړی او الله

عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ

په هر | څیز باندے | قادر دے | اے پیغمبره! | غمژن دے نکړی تا | هغه کسان

په هر څیز باندے قادر دے. اے پیغمبره کوم خلق چه د کفر په کارونو کښ تیزی (حرص) کوی

يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ

چه تیزی کوی | په کار د کفر کښ | د هغه کسانو نه | چه وائی | ایمان راوړے دے مونږه | په خلو خپلو سره

هغوی دے تاغمژن نه کړی یوه ډله د دوی نه هغه ده چه په خله وائی چه مونږ ایمان راوړے دے حالانکه

وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۛ وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۛ سَمّٰعُوْنَ

او حال دا دے چه ایمان نه دے راوړے | زړونو د دوی | او د هغه کسانو نه | چه یهودیان دی | اوریدونکی دی

دهغوی زړونو ایمان نه دے راوړے او دویمه ډله د دوی نه یهودیان دی، د دوی دا حال دے چه دوی غوږ ایږدی تاته

لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ لَمْ يَاْتُوْكَ ۭ يُحَرِّفُوْنَ

دپاره د دروغو جوړولو | ښه اوریدونکی دی | د قوم (خلقو) | نورو دپاره | چه نه دی راغلی هغوی تاته | بدلوی هغوی

دے دپاره چه په تا دروغ جوړ کړی او غوږ ایږدی تاته دے دپاره چه بل قوم ته په هغے سره جاسوسی اوکړی چه تاسو له نه دی راغلی

الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا

کلام | پس (دتابت کیدو دهغے) | په ځایونو خپلو کښې | وائی هغوی | که چرے | درکړے شوتاسوته | دا

اود الله کلمے دخپل ځائے نه بے ځایه کوی (تحریف کوی) (اوکشرانو ته) وائی چه که تاسو ته دا (بدل شوے)

فَخُذُوْهُ وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ۭ وَمَنْ يُّرِدِ

نو قبلوئ دا | اوکه چرے | درنکړے شوتاسوته دا | نو ځان ترینه اوساتئ | او هغه څوك | چه اوغواړی

حکم درکړے هغی نو اوے منځ قبول ئے کړئ اوکه داحکم درنکړے هغی نو ځان ترینه اوساتئ

اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـــًٔا ۭ اُولٰۗىِٕكَ

الله | په فتنه کښې غورزول دهغه | نو هیڅ کلموس نه لرے ته | دهغه (دبچ کولو) | د الله نه | پوتے هم | هم دغه

الله تعالی چه چالره په فتنه کښې غورزول اوغواړی نوته هغه لره دالله نه دبچ کولو هیڅ وس نه لرے

الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ۭ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا

خلق دی | چه نه غواړی | الله | چه پاك کړی | زړونه ددوی | دوی لره | په دنیا کښې

داهم هغه خلق دی چه (ددوی دنافرمانئ په وجه) الله نه غواړی چه ددوی زړونه صفا کړی ددوی دپاره

خِزْيٌ ۚ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ سَمّٰعُوْنَ

شرمندگی ده | او دوی لره | په آخرت کښې | عذاب دے | ډیر لوئے | ښه اوریدونکی (قبلونکی) دی

په دنیا کښې هم رسوائی ده او په آخرت کښې ورله لوئ عذاب تیار دے. دا خلق دروغ لره قبلونکی دی

لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ۭ فَاِنْ جَاۗءُوْكَ فَاحْكُمْ

دروغ لره | ډیر خوړونکی دی | حرام لره | نوکه چرے | راشی دوی تاته | نوفیصله اوکړه

او غټ حرام خواړه دی که (په خپلو مقدمو کښې) تاله راغلل نو که ستا خوښه وی

بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ

په مینځ ددوی کښې | یا مخ واړوه | د دوی نه | اوکه چرے | مخ اړوے ته | ددوی نه

نو د دوی تر مینځه فیصله اوکړه کنی نو انکار ترینه اوکړه او که انکار ترینه اوکړے

فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـــًٔا ۭ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ

نو هیڅ کله نقصان نشی رسولے دوی تاته | دځه څیز | اوکه چرے | فیصله کوے ته | نوفیصله اوکړه | په مینځ ددوی کښې

نو دوی تاته هیڅ نقصان نه شی درسولے اوکه فیصله کوے نو په انصاف سره فیصله کوه

بِالْقِسْطِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ

په انصاف سره | بیشکه | الله | خوښوی | انصاف کونکی | اوځنګه به | فیصله کونکے جوړ کړی حوی تالره

یقیناً الله تعالی انصاف کونکی خلق خوښوی. اودوی به تاځنګه حَکَم جوړ کړی حالانکه دوی سره تورات دے

وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ

اوددوی سره دے | تورات | چه په هغے کښې | فیصله | د الله ده | بیا | مخ اړوی دوی

اوپه هغے کښې دالله فیصله موجوده اونه دوی ستا په فیصله عمل کوی بلکه مقصد ئے اسانه لار پیدا کول دی ځان له

ع ٦

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ

پس د دے نه | اونه دی | دغه خلق | مومنان | بیشکه | مونږ نازل کړے دے | تورات

اصل خبره دا ده چه په دوی کښ ایمان بیخی نشته. یقیناً مونږ

فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ . الَّذِيْنَ

چه په هغے کښ | هدایت | او رنړا ده | فیصلے به کولے | په هغے باندے | پیغمبرانو | کوموچه

تورات نازل کړے ووچه پکښ هدایت او رنړا وه دالله ټول پیغمبران چه دالله فرمانبردار بندگان وو

اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ

غاړه کیښودے لره دالله حکمونو ته | دهغه خلقو دپاره | چه یهودوو | او بزرگانو به (هم) | او عالمانو به (هم)

(د تورات مطابق به ئے) دیهودیانو دمعاملاتو فیصلے کولے او دغسے نورو ټولو بزرگانو او عالمانو هم

بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ

په دے موجه | چه دوی محافظ مقرر کړے شوے وو | د کتاب | د الله | او وو دوی | په دے باندے | گواهان (خبردار)

(په دے باندے فیصلے کولے) ځکه چه دوی دالله د کتاب محافظ (ذمه وار) جوړ کړے شوی وو او دوی په حقانیت

فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ

پس مه یَرِیږئ | د خلقو نه | او (بلکه) اویریږئ زما نه | او مهٔ اخلئ | په آیتونو زما | قیمت | لږ

دد ے کتاب گواهان وو نو تاسو د خلقو نه مهٔ ویریږئ بلکه زما نه اویریږئ او زما آیتونه په لږ قیمت مه خرڅوئ

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾

او څوك | چه نه کوی فیصله | په هغه څه | چه نازل کړی دی | الله | نو دغه خلق | هم دوی کافران دی

او څوك چه دالله تعالیٰ دنازل شوی کتاب مطابق فیصله نه کوی نو هم دغه خلق کافران دی

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ

اوفرض کړے وو مونږ | په دوی باندے | په دے (تورات) کښ | چه بیشکه | نفس | په بدله د نفس کښ | او ستر گه

او مونږ په تورات کښ دوی ته داحکم ور کړے وو چه د ځان بدله کښ ځان او د ستر گے په بدله کښ

بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ

په بدله د ستر گه کښ | او پوزه | په بدله د پوزه کښ | او غوږ | په بدله د غوږ کښ | او غاښ

ستر گه او د پوزے په بدله کښ پوزه او د غوږ په بدله کښ غوږ او د غاښ په بد له کښ

بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ؕ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ

په بدله د غاښ کښ | او زخمونه | د بدلے والا دی (په قصاص کښ) | پس چاچه | معافی اوکړه | د دے قصاص | نو دا به

غاښ دے او نور د ټولو زخمونه به هم برابر بدله مقرروی نو گه چا دا بدله (اغستل) معاف کړل نو دا به دهغه

كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ

کفاره شی | د (گناهونو) ددهٔ | اوچاچه | فیصله اونکړه | په هغه | چه نازل کړی دی | الله | نو هم دغه خلق دی

د گناهونو کفاره اوگرځی اوځوك چه دالله دنازل شوی کتاب مطابق فیصله اونکړی نو هم دغه خلق

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

دوی ظالمان | اوروستوراولیږلومونږ | په نقش قدم دَ دوی | عیسٰی | حُوئے | دمریم

ظالمان دی. اومونږدد ے پیغمبرانونه پس دَدوی په نقشِ قدم عیسٰی حُوئے دمریم راولیږلو

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۖ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ

تصدیق کوونکے وو | دهغه څه | چه وړاندے وو ددهٗ نه | چه تورات دے | اوورکړے وو مونږ دهغه | انجیل

چه دهغه کتاب (تورات) تصدیق ئے کولو چه ددهٗ نه وړاندے وو اومونږ ورله انجیل ورکړے وو

فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

چه په هغے کښ | هدایت | اورنړاوه | اوتصدیق کوونکے وو | دهغه څه | چه وړاندے وو ددهٗ نه

چه په هغے کښ هدایت اورنړاوه اودځان نه مخکښ کتاب یعنی دتورات تصدیق ئے کولو او دمتقیانو

مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ وَلْيَحْكُمْ

چه تورات وو | او هدایت | او نصیحت وو | دپاره دمتقیانو | او فیصله دے اوکړی

دپاره سراسر هدایت او نصیحت وو او انجیل والو له پکار دی

اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ۭ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ

انجیل والا | په هغه څه | چه نازل کړی دی | الله | په انجیل کښ | او چا چه | فیصله نه کوله

چه الله په انجیل کښ څه نازل کړی دی هغے مطابق دے فیصلے اوکړی او څوك چه دالله دنازل شوی

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ وَاَنْزَلْنَآ

په هغه څه | چه نازل کړی دی | الله | نوهم دغه خلق دی | نافرمانه (فاسقان) | اونازل کړے دے مونږ

حکم (کتاب) مطابق فیصله نه کوی نو هم دغه خلق نافرمانه دی او اے پیغمبره!

اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

تاته | کتاب | په حق سره | تصدیق کوونکے دے | دهغه څه | چه وړاندے وو ددهٗ نه

مونږ تاته په حق باندے مشتمل دا سے کتاب راولیږلے دے چه د مخکښنی کتابونو تصدیق کوی

مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ

د کتاب نه | او محافظ دے | په هغے باندے | پس فیصله کوه ته | په مینځ ددوی کښ | په هغه څه

او دهغوی محافظ هم دے نو ته دخلقو ترمینځه مطابق دهغه احکاماتو فیصلے کوه کوم چه درته

اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاۗءَهُمْ عَمَّا جَاۗءَكَ

چه نازل کړی دی | الله | اوتابعداری مه کوه | دخواهشاتو ددوی | (چه واړوی تا) دهغه څه نه | چه راغلے دے تاته

الله نازل کړی دی اوکوم حق چه تاته راغلے دے دهغے په مقابله کښ ددوی خواهشاتو پسے مه څه

مِنَ الْحَقِّ ۭ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ۭ

حق | دهرچا دپاره | مقرر کړے دے مونږ | ستاسو نه | یو شریعت | او طریقه

په تاسو کښ هریو امت دپاره مونږ یو خاص شریعت او خاص طریقه (لار) مقرر کړے ده او که الله غوښتلے نو تاسو

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ

اوکه چرے | غوښتلے | الله | نوخامخا گرځولی به ئوئ تاسو | دله | یوه | الیکن دے دپاره چه امتحان اوکړی په تاسو

ټول به ئے یو امت کړے وے خو الله جدا جدا شریعتونه مقرر کړل دے دپاره چه تاسو له ئے څه درکړی دی

فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ

په هغه څه کښ | چه درکړی ئے دی تاسو ته | نو وړاندے شئ دیو بل نه | نیکو کارونو ته | خاص الله ته | واپسی ده ستاسو

په هغے کښ ستاسو ازمیښت اوکړی نو تاسو دنیکئ په کارونو کښ دیو بل نه دوړاندے والی کوشش کوئ خاص الله ته

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۙ﴿۴۸﴾ وَاَنِ احْكُمْ

د ټولو | پس خبر به کړی تاسو | په هغه څه | چه تاسو | په هغے کښ | اختلاف کولو | اوداچه | فیصله اوکړه ته

ستاسو د ټول ورتلل دی نو بیا به هغه تاسو ته د هغه څه حقیقت اوښائی کوم کښ چه تاسو په خپل مینځ کښ اختلاف کولو

بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ

په مینځ د دوی کښ | په هغه څه | چه نازل کړی دی | الله | او مه کوه تابعداری | د خواهشاتو د دوی

او اے پیغمبره! مونږ تاته داحکم کوو چه ته د دے خلقو ترمینځه د الله د نازل شوی حکم مطابق فیصله کوه

وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ؕ

او محتاط اوسه د دوی نه | چه وانه ړوی تا | د بعضے | هغے نه | چه نازل کړی دی | الله | تاته

او د دوی په خواهشاتو پسی مه ځه او د دوی نه محتاط اوسه هسے نه چه د بعضے هغے وحی نه دے وارړوی کومه چه

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ

پس که چرے | مخ وارووی | نو پوه شه | چه بیشکه | غواړی | الله | چه اورسوی دوی ته عذاب (سزا)

درته الله راالیږلے ده بیا که چرے دوی مخ وارووی نو (په دے خبره) پوه شه چه د دوی دځنے ګناهونو په وجه

بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿۴۹﴾

په سبب د بعضو | ګناهونو د دوی | او بیشکه | ډیر | د خلقو نه | فاسقان دی

الله دوی په څه مصیبت کښ مبتلا کول غواړی اوپه دے کښ هیڅ شک نشته چه په خلقو کښ اکثر نافرمانه (فاسقان) دی.

اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ؕ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا

آیا پس فیصله | د جاهلیت | غواړی دوی | او څوك دے | زیات خائسته | د الله نه | په فیصلو کښ

نو ایا دا خلق د جاهلیت د وخت فیصلے غواړی؟ حالانکه څوك چه یقین ساتی د هغوی دپاره د الله نه بهتره

لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۵۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ

دپاره د هغه قوم | چه یقین لری | اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه نیسئ | یهودیان

فیصله د بل چا کیدے شی؟ اے مومنانو! یهودیانو او عیسائیانو سره دوستی مه کوئ دوی (خو)

وَالنَّصٰرٰۤى اَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ

او عیسائیان | دوستان | بعضے د دوی | دوستان دی | د بعضو | او چاچه | دوستانه او اړیکه د دوی سره

په خپلو کښ د کفر په کارونو کښ دیو بل دوستان دی او په تاسو کښ چه څوك د دوی سره دوستی کوی نو د دوی په ډله کښ به

مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝٥١

دستاسو نه | نو بیشکه هغه | ددوی نه دے | بیشکه | الله | هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته

شمیر لے شی یقیناً الله ظالم قوم ته توفیق نه ورکوی. نو (اے پیغمبره!) ته به گورے چه دکومو خلقو

فَتَرَى الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ

نو وینے به ته | هغه کسان | چه په زړونو کښ ئے | مرض دے | چه منډے به وهی | په دوستانه ددوی کښ

په زړونو کښ (دنفاق) بیماری ده هغوی په منډه منډه په دے خلقو کښ ورلنوځی (ددوی په دوستانه کښ حرص کوی)

يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰٓى اَنْ تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِىَ

وائی دوی | یَریږو مونږ | چه اوبه رسیږی مونږ ته | څه مصیبت | پس نزدے ده چه | الله به | راولی

(او) وائی چه مونږ یَریږو که چرته مونږ ددے کافرانو نه بائیکاټ او کړو نو څه حادثه راته ددوی د طرف نه اونه رسیږی (خو) یَریږ زړه الله تعالیٰ

بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا

فتح | یا څه بل حکم | د خپل طرفه | پس شی به دوی | په هغه څه | چه پټ کړی وو دوی

(مسلمانانوله) فتح ورکړی یا به څه بله فیصله اوفرمائی نو بیا به دامنافق په هغه خبرو باندے شرمنده (ملامته) شی

فِىْٓ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ ۝٥٢ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ

په زړونو خپلو کښ | پښیمانه | او وائی به | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے | آیا دا

کومے چه دوی په زړونو کښ پټے سازلے دی. اوپه دغه وخت کښ به مومنان یو بل ته دتعجب په طور وائی چه ایا

الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ؕ

هغه خلق دی | چه خوړل به ئے قسمونه | په الله | پاخه | قسمونه خپل | چه بیشکه دوی | خامخا تاسو سره دی

دا هغه خلق دی چه دالله په نوم ئے پاخه قسمونه خوړلی وو چه مونږ ستاسو پاخه ملګری یو

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ۝٥٣ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

برباد شول | عملونه د دوی | نو شو دوی | تاوانیان | اے هغه کسانو

دده خلقو ټول عملونه ضائع شول اوآخرت به دنیا اوآخرت کښ نامراده اوناکامه شول. اے مومنانو!

اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِى اللّٰهُ

چه ایمان مو راوړے دے | څوك | چه مرتد شی | د ستاسو نه | د دین خپل نه | پس دیر زر به | راولی | الله

که په تاسو کښ څوك د خپل دین نه واوړیدلو (مرتد شو) نو دیر زر به الله تعالیٰ داسے (دیر) خلق راپیدا کړی

بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗٓ ۙ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

یو (داسے) قوم | چه مینه به کوی الله هغوی سره | او مینه به کوی هغوی الله سره | نرم به وی | په مومنانو باندے

چه هغوی به دالله خوښ وی او الله به (هم) د هغوی خوښ وی مومنانو دپاره به دیر نرم وی

اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۡ يُجَاهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ

سخت به وی | په کافرانو باندے | جهاد به کوی | په لار | دالله کښ | اونه به یَریږی

اودکافرانو دپاره به دیر سخت وی دالله په لار کښ به جهاد کوی اودملامته کوونکو دملامتیا

لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

دملامتیا | دملامت کرنه | دا | فضل دے | د الله | چه ورکوی ئے | هغه چاته | چه اوئے غواړی

پروا به نه کوی دا (خو) د الله فضل دے چه چاله ئے خوښوی هغه له ئے ورکوی

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

او الله | خاوند دفراخئ | او پوهه دے | بیشکه | ستاسو دوست (خو) | الله | او پیغمبر دهغه دے

او الله خاوند دفراخئ او په هرڅه پوهه دے اے مسلمانانو استاسو ملګری (خو په حقیقت کښ) الله

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ

اوهغه کسان دی | چه ایمان ئے راوړے دے | هغه کسان | چه پابندی کوی | دمانځه | او ورکوی

او دهغه رسول او هغه مسلمانان دی کوم چه د مونځونو پابندی کوی او زکاة

الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

زکاة | او دوی | رکوع کونکی دی | اوڅوك چه | دوستی کوی | دالله سره | او رسول دهغه سره

ورکوی او الله ته سرونه ټیټوی او څوك چه د الله او دهغه د رسول

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ ع

اوهغه کسانو سره | چه ایمان ئے راوړے دے | نو بیشکه | ډله | د الله | هم دوی دی | غالب

او د مومنانو سره ملګرے شی نو یقیناً د الله تعالیٰ ټوله همیشه غالب وی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه نیسئ | هغه کسان | چه نیولے ئے دے | دین ستاسو

اے مومنانو! دهغه خلقو سره دوستی مه کوئ کوم خلق چه ستاسو په دین پورے

هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

ټوقے | اولوبے | د هغه خلقونه | چه ورکړے شوے دے ورته | کتاب | مخکښ ستاسو نه

ټوقے او مسخرے کوی که تاسو نه وړاندے اهل کتاب وی او که نور کافران وی

وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِذَا

اونه کافران | دوستان (خپل) | اویَرِیږئ | دالله نه | که چرے | یئ تاسو | مومنان | اوکله چه

او که تاسو واقعی (رشتونی) مومنان یئ نو د الله نه اویریږئ. او کله چه

نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ؕ ذٰلِكَ

رابلل کوئ تاسو | مانځه ته | نو کوی دوی هغے پورے | ټوقے | او لوبے | دا

تاسو مانځه ته (خلق) رابلئ نو دوی دا ټوقے او لوبے کنړی دا په دے وجه

بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾ قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ

په دے وجه چه دوی | دا یو قوم دے | چه عقل نه لری | ووایه | اے اهل کتابو | تاسو بد نه کنړئ

چه دوی عقل نه لری اے پیغمبره! ته دوی ته اووایه چه اے اهل کتابو! تاسو ته ددے نه سوا

مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا

زمونږ نه | مګر | داخبره | چه ایمان راوړے دے مونږ | په الله | اوپه هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | مونږ ته

زمونږ هیڅ خبره بده نه لږی چه مونږ ایمان راوړے دے په الله اوپه هغه کتاب چه مونږ ته نازل شوے دے

وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾ قُلْ

اوپه هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | مخکښ (ددینه) | او دا چه | اکثر په تاسو کښ | فاسقان دی | اووایه

اوپه هغه کتابونو چه مخکښ راغلی دی اوبل ددے وجے نه چه په تاسو کښ اکثر خلق نافرمانه دی. اے پیغمبره!

هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ

آیا | خبر کړم زه تاسو | په ډیر بد څیز | د دے نه | په اعتبار د بدلے سره | په نزد | د الله | هغه څوک

دوی ته اووایه چه آیا زه تاسو ته دهغه خلقو حال اووایم د کوم انجام چه د الله تعالیٰ په نزد ډیر خراب دے؟

لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ

چه لعنت پرے کړے دے | الله | او غضب ئے کړیدے | په هغه باندے | او جوړ کړی ئے دی | د دوی نه | شادوکان

دا هغه خلق دی چه الله تعالیٰ پرے لعنت او غضب کړے دے او هغه خلق دی چه الله ترینه بیزوکان

وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ

او خنزیران | او (چاچه) بندګی کړے ده | د طاغوت | هم دغه خلق دی | ډیر بد دے | مرتبے والا | او ډیر ګمراه دی

او خنزیران جوړ کړل او هغه خلق دی چه د شیطان تابعداری ئے کړیده هم دا سے خلق ډیر ناکاره مرتبے والا دی او

عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَقَدْ

د سمے | لاړے نه | او کله چه | راشی دوی تاسو ته | (نو) وائی | ایمان راوړے دے مونږ | حال دا دے

دسمے لاړے نه هم بے لاړے شوے دی. او کله چه دا خلق تاسو ته راشی نو وائی چه مونږ ایمان راوړے دے حالانکه

دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

چه داخل شوے دی دوی | د کفر سره | او دوی | وتلی دی | د کفر سره | او الله | زیات پوهه دے

دوی د کفر سره راغلے وو او د کفر سره واپس لاړل او الله ښه پوهه دے

بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ

په هغه څه | چه دوی ئے | پټوی | او وینے به ته | ډیر | د دوی نه | چه تیزی کوی

په هغه څه چه دوی ئے پټوی. او په دوی کښ به ډیر خلق ته وینے چه

فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا

په ګناه کښ | او په ظلم (کولو) کښ | او په خوړلو د دوی کښ | حرام مولره | خامخا ډیر خراب دے | هغه (عمل)

په ګناه او ظلم او حرام خوړلو کښ ډیره تیزی کوی یقیناً د دوی دا عمل نه ډیر

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ

چه دوی ئے | کوی | ولے نه | منع کوی دوی لره | نیکان | او عالمان (د دوی)

خراب (ناکاره) دی د دوی بزرګان او عالمان دوی

عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا

د خبرو | دګناه نه | او د خورلو | د حرامو نه | خامخا ډیر خرابه دی | هغه څه | چه دوی ئے

دګناه د خبرو نه او د حرام خورئ نه آخر ولے نه منع کوی؟ حقیقت دا دے چه د دوی دا نهی عن المنکر نه کول

يَصْنَعُوْنَ ۝٦٣ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ؕ غُلَّتْ

همیشه کوی | او وائی | یهودیان | لاس | د الله | بند کړے شوے دے | بند کړے شوی دی

ډیر خراب عمل دے. او یهودیان وائی چه د الله لاسونه تړلے دی (یعنی بخیل دے) لاسونه خو د دوی تړلے دی

اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ

لاسونه د دوی | او لعنت (کړے) شوے دے په دوی | په سبب | د وینا د دوی | بلکه | دواړه لاس د الله | فراخ دی

او په دے خبره کولو پرے لعنت اوشو بلکه د الله تعالیٰ لاسونه خو پرانستی دی

يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ

خرچ کوی هغه | څنګه چه | اوغواړی | او خامخا زیاتوی | د دیرو د دپاره | د دوی نه | هغه کتاب

چه څنګه غواړی هغسے خرچ کوی حقیقت دا دے چه تاته چه کوم کتاب نازل شوے دے

اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ؕ وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ

چه نازل (کړے) شوے دے | تاته | د طرفه د رب ستا | سرکشئ لره | او کفر لره | او اچولے دے مونږ | په مینځ د دوی کښ

هغه په دوی کښ د ډیرو د سرکشئ او د کفر د زیاتیدو سبب او کړے دو او مونږ د دوی په مینځ کښ

الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا

دُشمنی | او کینه | تر ورځے د قیامته پورے | هرکله | چه بل کړی دوی | اُور

تر قیامته پورے دشمنی او کینه اچولے ده کله چه دوی د جنګ اُور بلوی (نو)

لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ فِى الْاَرْضِ فَسَادًا ؕ

د پاره د جنګ | (نو) مړ کړی هغه | الله | او کوشش کوی دوی | په زمکه کښ | د فساد

الله ئے مړ کوی او دوی په زمکه کښ فساد جوړول غواړی

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ۝٦٤ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا

او الله | نه خوښوی | فساد کونکی | او که چرے | اهل کتابو | ایمان راوړو

او فساد کونکی الله ته خوښ نه دی. او که چرے دے اهل کتابو ایمان راوړو او تقوٰی ئے اختیار کړه

وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ

او پرهیزګاری ئے اختیار کړه | نو خامخا به معاف کړو مونږ | د دوی ته | ګناهونه د دوی | او خامخا داخل به کړو مونږ د دوی

نو مونږ به ضرور د دوی ګناهونه معاف کړو او د آرام او راحت (د نعمتونو) جنتونو (باغونو) ته به

جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ

په باغونو | دنعمتونو کښ | او که چرے | دوی | قائم ساتلے وے | تورات | او انجیل

ئے داخل کړو. او که چرے دوی دتورات او دانجیل او دهغه کتاب چه دوی ته دخپل رب دطرفه نه راغلے دے

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ

اوهغه څه | چه نازل (کړے) شوے وو | دوی ته | دطرفه درب خپل نه | نو خامخا خوراک به کړے وو دوی | د پاسه خپل نه

پوره پوره پابندی کړے وے نو خامخا به دوی دپاسه (اسمان) دطرف نه هم رزق حاصلولو او دخپو لاندے

وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ

او لاندے | دخپو خپلو نه | د دوی نه | یوه ډله | میانه رَو (حق پرسته) ده | او ډیر | د دوی نه

(زمکے) نه هم به دوی ته رزق ملاویدو (اگر که) په دوی کښ یوه ډله (ټولے) حق پرسته هم موجوده ده خو اکثر

ع ۱۲ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ

بد دی | هغه (کارونه) | چه کوی ئے دوی | اے پیغمبره! | اورسوه | هغه څه | چه نازل کړے شوی دی

کسان پکښ بدعمله دی. اے پیغمبره! په تا چه دخپل رب دطرف نه کوم (حکمونه) نازل شوے دی

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسٰلَتَهٗ ؕ

تاته | دطرفه درب ستا | او که چرے | او دے نکړل (داسے) | نو نه دے رسولے تا | پیغام دهغه

هغه ټول خلقو ته اورسوه او که داسے دے اونکړل نو ددے مطلب به داوی چه تا دخپل رب هیڅ پیغام اونه رسولو

وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ

او الله به | ساتی تا | د خلقو نه | بیشکه | الله | نه کوی هدایت | قوم

او الله به دے د خلقو د شر نه بچ ساتی یقیناً الله کافرانو ته ستاد وړلو

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٧﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَىْءٍ حَتّٰى

کافرانو ته | اووایه | اے اهل کتابو | نه یئ تاسو | په هیڅ دین باندے | تر دے

لار نه ښائی اے پیغمبره! (دے اهل کتابو ته) اووایه چه اے اهل کتابو! تر څو چه تاسو دتورات او

تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ

چه عمل او کړئ تاسو | په تورات | او په انجیل | او په هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | تاسو ته | دطرفه درب ستاسو نه

دانجیل او دهغه کتاب چه ستاسو درب دطرفنه تاسو ته راغلے دے پوره پابندی نه کوئ تر هغے پورے ستاسو هیڅ دین نشته

وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ

او خامخا زیاتوی | ډیرو لره | د دوی نه | هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | تاته | دطرفه درب ستا نه

او (اے پیغمبره!) کوم کتاب چه تاته دخپل رب دطرف نه نازل شوے دے هغه به په دوی کښ د ډیرو

طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٨﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

سرکشی | او کفر | پس مهٔ غمژن کیږه | په قوم | کافرانو باندے | بیشکه | هغه کسان

دسرکشۍ اود کفر زیاتیدو سبب اوګرځی نو (بس) ته په دے کافرانو خلقو هیڅ افسوس مه کوه. یقیناً حقه خبره داده

اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى مَنْ

چه ایمان ـــ ړاوړے دے | او هغه کسان | چه یهودیان دی | او صابئین دی | او نصاریٰ دی | چاچه

که څوک مسلمان وی او که یهودی دی او که بے دینه صابی وی او که نصرانی وی په دوی کښ چه چاهم په الله او

اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ

ایمان راوړو (ددوی نه) | په الله | او په ورځ | د آخرت | او عمل ئے اوکړو | نیك | پس نه به وی څه یَره

په آخرت ایمان راوړو او نیك عمل ئے اوکړو نو نه خوبه وربانډے په آخرت کښ څه قسمه یَره وی

عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ

په دوی باندے | او نه به دوی | غمژن شی | یقیناً | اغستلے وو مونږ | پُوخ لوظ

او نه به په دنیا پسے غمژن شی. یقیناً مونږ د بنی اسرائیلو نه پخه وعده اغستے وه

بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا ؕ كُلَّمَا جَآءَهُمْ

د بنی اسرائیلو نه | او لیږلی وو مونږ | دوی ته | پیغمبران | هرکله به | چه راوړل دوی ته

او پیغمبران مو ورته لیږلے وو خو کله به چه هم یو پیغمبر دوی ته داسے حکمونه پیش کړل

رَسُوْلٌ ۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ۙ فَرِيْقًا كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا

پیغمبر | هغه څه | چه نه به خوښول | نفسونو ددوی | یوه ډله به ئے | دروغژنه کړله | او یوه ډله به ئے

چه هغه به ددوی زړونو نه غوختل نو څه پیغمبران به ئے دروغژن اوګنړل اوڅه به ئے اووژل.

يَّقْتُلُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَصَمُّوْا

اووژله | اوخیال اوکړو ددوی | چه نه به وی | څه عذاب (په مونږ باندے) | نو ړاندهٔ شو | او کانړهٔ شو

اودوی به داګمان اوکړو چه په دے (تکذیب او قتل) به هیڅ عذاب نه واقع کیږی په مونږ څکه مونږ د الله څامن یو نو څکه خو

ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ

بیا | مهربانی اوکړه | الله | په دوی | نو بیا | ړاندهٔ شو | او کانړهٔ شو | ډیر | ددوی نه

دحق نه ړاندهٔ او کانړهٔ شول بیا الله ددوی توبه قبوله کړه نو بیا دوباره پکښ ډیر (دحق نه) ړاندهٔ او کانړهٔ شول

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٧١﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا

او الله | بنه وینی | هغه څه | چه دوی ئے کوی | یقیناً | کافر شول | هغه کسان | چه وائی

او الله د دوی د ټولو کارونو لیدونکے دے. یقیناً کوم خلق چه دا وائی چه

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ وَقَالَ الْمَسِيْحُ

چه بیشکه | الله (خو) | عیسیٰ | خوئ | دمریم دے | حالانکه وئیلے وو | عیسیٰ

الله خو بس دغه عیسیٰ بن مریم دے نو هغوی په دے خبره کافران شول ځکه عیسیٰ خو دا وئیلے وو

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ

اے بنی اسرائیلو | عبادت اوکړئ | د الله | چه زما رب | اوستاسو رب دے | بیشکه | څوك چه

چه اے بنی اسرائیلو خاص دهغه الله عبادت اوکړئ چه زما اوستاسو دټولو رب (پروردګار) دے او څوك چه

يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ

شرك اوکړی | دالله سره | نو یقیناً | حرام کړے دے | الله | په هغه باندے | جنت | او ځائے دهغه

د الله سره شرك اوکړی نو یقیناً الله په هغه باندے جنت حرام کړے دے او ځائے ئے دوزخ دے

النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ

دوزخ دے | اونشته | د ظالمانو دپاره | هیڅ څوك مددګار | یقیناً | کافر شول | هغه کسان

او د ظالمانو به هیڅ څوك مدد کار نه وی کوم خلق چه دا وائی چه

قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ

چه وائی | بیشکه | الله | دریم | دډیرو نه دے | اونشته دے هیڅ څوك | لائق دعبادت | سوا | دالله

الله په دریو (خدایانو) کښ دریم دے (الله، عیسیٰ، مریم) نو دوی په دے خبره کافران شول ځکه چه دیو معبود نه

وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ

یو نه | او که چرے | منع نه شو دوی | دهغه څه نه | چه دوی ئے وائی | نو خامخا او به رسی | هغه کسانو ته

سوا بل هیڅ څوك معبود نشته. او که دوی ددے خپلے خبرے نه منع نه شول نو په دوی کښ چه کوم کافران شول

كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ

چه کفر ئے کړے دے | ددوی نه | عذاب | دردناك | آیا (پس) توبه نه اوباسی دوی | الله ته

هغوی ته به دردناك عذاب ملاویږی نو آیا دوی د معافئ دپاره الله ته رجوع نه کوی

وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ

او بخښنه نه غواړی دهغه نه | او الله | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | نه دے عیسیٰ | خوئ | د مریم

او دهغه نه بخښنه نه غواړی حالانکه الله خو بخښونکے او مهربان ذات دے عیسیٰ ابن مریم خو بس

اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ

مګر | رسول دے | یقیناً | تیر شوی دی | مخکښ دهغه | ډیر پیغمبران | او مور ددهٔ | ډیره رشتینے وه

د الله یو رسول وو دهغه نه مخکښ هم ډیر رسولان تیر شوی دی او مور ئے ډیره رشتینے ښځه وه

كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ

دوی دواړو به | کولو خوراك | اوګوره | څنګه | بیانوو مونږ | دوی ته | آیتونه

(او) دے دواړو به (دعا موانسانانو پشان) دوډئ خوړله ته اوګوره چه مونږ څنګه دوی ته دلیلونه دتوحید ښکاره بیانوو

ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

بیا | اوګوره | چه څنګه اړولے شی دوی | اووایه | آیا عبادت کوئ تاسو | سوا د الله نه

اوبیاسوچ اوفکر اوکړه چه څه رنګ دوی دتوحید نه اړولے شی. اے پیغمبره! دوی ته اووایه چه ایا تاسو دالله نه سوا

مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ

دهغه چا | چه نه لری اختیار | تاسو لره | د نقصان | او نه د نفعے | او الله | خاص هغه اوریدونکے

دهغه چا عبادت کوئ چه نه تاسوته دځه نقصان رسولو وس لری اونه دځه فائدے رسولو او الله دهر څه اوریدونکے

الْعَلِيْمُ ۝ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ

ښه پوهه دے | اووایه | اے اهل کتابو | زیاتے مه کوئ | په دین خپل کښ | (زیاتے) په ناحقه

اوښه پوهه ذات دے. اے پیغمبره اورته اووایه چه اے اهل کتابو! په خپل دین کښ ناحق زیاتے (بدعت ضلالت) مه کوئ

وَلَا تَتَّبِعُوْۤا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ

اومه کوئ تابعداری | د خواهشاتو | د داسے قوم | چه یقیناً | گمراه شوی دی | مخکښ د دینه

اونه د داسے خلقو خواهشاتو پسے ځئ چه د مخکښ نه گمراه شوی دی او نور ډیر خلق ئے هم گمراه کړی دی

وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ۝ لُعِنَ ع

او گمراه کړی ئے دی | نور ډیر خلق | او گمراه شوی دی | د سمے | لارے نه | لعنت کړے شوے دے

او د سمے لارے د دینِ توحید نه همیشه گمراه پاتے شوی دی په بنی اسرائیلو کښ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ

په هغه کسانو | چه کفر کړے دے | د بنی اسرائیلو نه | په ژبه | د داؤد

چه چا کفر کړے وو په هغوی باندے د داؤد او د عیسیٰ ابن مریم په ژبه لعنت وئیلے شوے دے

وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۝

او د عیسیٰ | څوئ | د مریم | دا | په دے وجه | چه نافرمانه شول | او دوی | د حد نه تیرشول

دا ځکه چه دوی نافرمانه وو او همیشه به د حد نه وراندے تیریدل

كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا

دوی به | یو بل نه منع کول | د (هغے) گناه نه | چه کوله به ئے | خامخا پرېږدے | هغه څه | چه دوی به

او کوم بدکارونه به ئے چه کول د هغے نه به ئے یو بل نه منع کولو حقیقت دادے چه د دوی دا کارونه

يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٩﴾ تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

کول | ته به وینے | ډیر | د دوی نه | چه دوستی به کوی | دهغه کسانو سره | چه کفر ئے کړے دے

ډیر بد دی (اوس هم) ته به دوی کښی ډیر کسان وینے چه کافرانو سره دوستی کوی دوی چه دخپل ځان دپاره

لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ

خامخا ډیر بد دی | هغه څه | چه مخکښ ولیږلی دی | دځان دپاره | نفسونو ددوی | ځکه چه غصه شوے | دے الله

کوم عملونه وړاندے ولیږلے دی هغه ډیر بد دی (ځکه چه دهغے په وجه) ددوی نه الله ناراضه شوے دے

عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ

په دوی باندے | او په عذاب کښی به | دوی | همیشه وی | او که چرے | دوی | ایمان لرلے

او دوی به په عذاب کښی همیشه وی او که دوی الله او پیغمبر

بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ

په الله | او په پیغمبر | او په هغه څه | چه نازل کړے شوے دی | دهٔ ته | نو نه به وو نیولی دوی کافرانو لره | دوستان

او په هغه باندے نازل شوے کتاب منلے نو (هیڅ کله به) دوی کافرانو سره دوستی نه کوله

وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٨١﴾ لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ

لیکن | ډیر | د دوی نه | فاسقان دی | خامخا ته به پیاموے | ډیر سخت | د خلقو نه

خو په دوی کښی ډیر خلق نافرمانه دی ـ ته به خامخا د مسلمانانو سره په

عَدَاوَةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ

په دشمنئ کښی | دهغه کسانو سره | چه ایمان ئے راوړے دے | یهودیان | او هغه کسان | چه شرک ئے کړے دے

دشمنئ کښی د ټولو نه سخت یهودیان او امیان مشرکان پیاموے

وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ

او خامخا ته به پیاموے | ډیر زیات نزدے دخلقو نه | په محبت کښی | دهغه کسانو سره | چه ایمان ئے راوړے دے | هغه کسان

اوته به خامخا د مسلمانانو سره په دوستئ ساتلو کښی د ټولو نه نزدے هغه خلق دی

قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ

چه وائی | چه بیشکه مونږ | عیسایان یو | دا په دے وجه | چه بیشکه شته | بعضے په هغوی کښی | عالمان

چه ځان ته نصارٰی وائی (او) دا ځکه چه په دوی کښی عالمان (طلبگار د حق)

وَرُهْبَانًا وَّاَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٨٢﴾

| او درویشان | او بیشکه دوی | لوئی (غرور) نه کوی |

او دا الله نه یریدونکے گوشه نشین درویشان موجود دی او ځکه چه دا خلق تکبر نه کوی (د حق نه).

وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ

او کله | چه واوری دوی | هغه (کتاب) | چه نازل کړے شوے دے | (دے) پیغمبر ته | (نو) وینے به ته | ستر گے ددوی

اوکله چه دوی هغه کلام واوری کوم چه په دے پیغمبر باندے نازل شوے دے نو ددوی حق لره

تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ

چه تویوی | او ښکے | په سبب ددے | چه اوپیژندلو دوی | حق | وائی دوی

دپیژندلو دوے ته به کورے چه ددوی د ستر گونه به اوښکے څاڅی (او) وائی به چه اے زمونږ ربه!

رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ

اے ربه زمونږ | ایمان راوړو مونږ | پس اولیکه مونږه | (د حق) گواهی ورکونکو سره | اوځه عذر دے مونږ لره | چه ایمان به نه راوړو

مونږ ایمان راوړے دے نو د گواهی ورکونکو په فهرست کښے زمونږ نوم اولیکه. اوزمونږ هیڅ

بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا

په الله | اوپه هغه څه | چه راغلی دی مونږ ته | د حق نه | اوحال دا دے چه مونږ طمع لرو | چه داخل به کړی مونږ لره

عذر نشته چه پریږدو ایمان په الله اوپه رالیګلے شوی حق قرآن باندے څکه چه مونږ طمع لرو

رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا

رب زمونږ | د نیکانو خلقو سره. | پس بدله ورکړه دوی ته | الله | په دے وینا (ددوی)

چه زمونږ رب به مونږ په نیکانو خلقو کښے شامل کړی نو ددوی ددے وینا په وجه به الله دے حق پرستو ته

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

په (داسے) جنتونو سره | چه بهیږی | لاندے دهغے نه | نهرونه | همیشه به وی | په هغے کښے

داسے باغونه ورکړی چه دهغے لاندے به ولے بهیږی او همیشه به پکښے اوسیږی

وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

او دا | بدله ده | د نیکانو | او هغه کسان | چه کفر ئے اوکړو | او دروغژن ئے کړل

اوهم داقانون دے دالله دطرف نه نیکانو ته دبدلے ورکولو. اوچاچه کفر اوکړو اوزمونږ آیتونه ئے دروغ اوګڼړل

بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع ۱۴

ایتونه زمونږ | هم دغه کسان دی | دوزخیان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

نو هم دغه خلق دوزخیان دی. اے مومنانو! الله چه

لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ

حرام مه ګڼړئ | پاکیزه څیزونه | هغه | چه حلال کړی دی | الله | تاسو له | او د حد نه مه تیریږئ

تاسو له کوم پاکیزه څیزونه حلال کړی دی هغه حرام مه ګڼړئ (په ځان ئے مه حرامولئ) او د حد شرعی نه مه اوړئ

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

بیشکه | الله | نه خوښوی | د حد نه تیریدونکی | او خورئ | د هغه څه | چه درکړی دی تاسو ته | الله

یقیناً الله د حد نه زیاتے کونکی خلق نه خوښوی. او الله چه تاسو له کوم حلال پاکیزه څیزونه درکړی دی هغه خورئ

حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝

حلال | پاکیزه | اوویریږئ | دالله نه | هغه الله | چه تاسو | په هغه | ایمان لرونکی یئ

او په کوم الله چه تاسو ایمان لرئ د هغه نه ویریږئ

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ

نه نیسی تاسو | الله | په بے ارادے | قسمونو ستاسو کښ | لیکن | نیسی تاسو

الله تعالی تاسو په بے ارادے عبثو قسمونو باندے نه نیسی مگر په هغه قسمونو به مو خامخا نیسی

بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ

په هغه څه | چه تاسو مضبوط کړی وی | قسمونه (په هغے سره) | پس کفاره د هغے | ورکول د طعام دی | لسو

چه تاسو قصدا خوړلی دی نو د دا سے قسمونو دَمَاتولو کفاره داده چه یا خو لسو مسکینانو ته دا سے ډوډئ ورکړئ

مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ

مسکینانو ته | درمیانه خوراک | دهغے نه | چه ورکوئ ے تاسو | خپل کور والو ته | یا جامه ورکول دی دوی ته

چه تاسو خپل کور والا باندے خوړئ یا ورته جامے ورکړئ یا یو غلام آزاد کړئ

اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۭ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ۭ

یا ازادول | دیو غلام دی | پس څوك | چه وس نه لری (ددے) | نوروژے نیول دی | درے | ورځے

بیا که څوك چه د دے (خیزونو) وس نه لری نو درے ورځے روژے دِ اونیسی

ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ۭ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۭ

دا | کفاره ده | د قسمونو ستاسو | کله چه | قسم اُوخورئ تاسو | او حفاظت کوئ | د قسمونو خپلو

دا ستاسو د قسمونو (د حنث) کفاره ده کله چه قسم وخورئ (او بیا ے پوره نکړئ) او د خپلو قسمونو حفاظت کوئ

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝

هم دغه شان | بیانوی | الله | تاسو ته | آیتونه (احکام) خپل | چه تاسو | شکر گزار شئ.

هم دغه شان الله تعالی تاسو ته خپل آیتونه بیانوی چه شکر گزار شئ.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | بیشکه | شراب | او جواری | او د بتانو عبادت کول

اے مومنانو! یقیناً شراب او جواری او بتان او په غشو باندے پال (قسمت) معلومول

وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ

او غشی د پال | پلیت دی | د شیطان د عمل نه دی | پس ځان اوساتئ ددے نه | چه تاسو

ناپاك شیطانی کارونه دی نو بس د دے نه ځان بچ ساتئ چه کامیاب شئ

تُفْلِحُوْنَ ۝ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ

کامیاب شئ | بیشکه | غواړی | شیطان | چه واچوی | ستاسو په مینځ کښے | دُشمنی

یقیناً شیطان خو هم دا غواړی چه د شرابو او د جوارئ په ذریعه په تاسو کښ

وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ

او بُغض | په وجه د شرابو | او د جوارئ | او (چه) منع کړي تاسو | د ذکر | د الله نه

دشمنی او بغض پیدا کړي او د الله تعالی د ذکر او د مانځه نه مو منع کړي

وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ

او د مانځه نه | پس آیا | تاسو به | منع شئ | او حکم منئ | د الله

نو پس د ذکر کولو دے مفاسدونه به آیا اوس تاسو دے (څیزونو) نه منع شئ؟ او د الله تعالی او دهغه د رسول

وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا

او حکم منئ | د رسول | او ویریږئ | پس که چرے | مخ وارلو تاسو | نو پوهه شئ

حکم اُومنئ او دنافرمانئ کولونه اویریږئ که تاسو (دے حکم نه) مخ وارولو نو پوهه شئ چه عذاب به درکولے شی

اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ

چه بیشکه | په پیغمبر زمونږ باندے | رسول دی | ښکاره | نشته دے | په هغه کسانو باندے

څکه چه زمونږ د پیغمبر کار خو صرف (حکمونه) واضح رسول دی. چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه کوی په دوی باندے

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا اِذَا

چه ایمان ئے راوړو | او عملونه ئے وکړل | نیك | څه گناه | په هغه څه کښے | چه خوړلی دی دوی | کله چه

دهغه څیزونو په باره کښے هیڅ گناه نشته کوم چه (د حرمت نه وړاندے) دوی خوړلی څکلی دی پدے شرط

مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا

دوی ځان بچ ساتی (د کفر نه) | او ایمان لری | او عملونه کوی | نیك | بیا ځان بچ ساتی (د حرامونه) | او ایمان لری

چه آئنده ځان ساتی او په ایمان تینګ وی او نیك کارونه کوی او بیا د پاره هم د هر قسمه حرامونه پرهیز کار پاتے شی او په ایمان

ع ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ۗ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۳﴾

بیا | ځان بچ ساتی (د شبهاتونه) | او ښه کارونه کوی | او الله | خوښوی | نیکی کوونکی

ثابت قدم پاتے شی او دے نه پس هم تقوی او احسان خپل کړی او الله احسان کوونکی خوښوی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | خامخا ازمائی به تاسو | الله | په څه څیز | د ښکار نه

اے مومنانو اکله چه تاسو په حالت د احرام کښ یئ نو الله تعالی به ضرور ستاسو ازمیښت کوی د ښکار په هغه څناورو سره چه تاسو ئے

تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ

چه ورسیږی ورته | لاسونه ستاسو | او نیزے ستاسو | چه ښکاره کړی | الله | هغه څوك | چه یریږی دهغه نه

په آسانئ سره په خپلو لاسونو حاصلولے شئ یا ئے په نیزو سره ښکار کولے شئ دا دے د پاره چه الله هغه څوك ښکاره کړی

بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۹۴﴾

غائبانه | پس څوك | چه زیاتے او کړی | پس د دے نه | نو هغه له | عذاب دے | دردناك

څوك چه غائبانه هم دهغه نه ویریږی څوك چه دے (حکم) نه پس هم زیاتے او کړی نو هغه د دردناك عذاب مستحق دے.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه وژنئ | ښکار | په دے سره حال کښے چه تاسو

اے مومنانو ! د احرام په حالت کښے ښکار مهٔ کوئ

حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا

په احرام کښے یئ | اوځوك | چه ووژنی ښکار | په تاسو کښے | قصدا | نو په هغه باندے بدله ده | پشان د هغے

او په تاسو کښے چه چا قصدا ښکار اوکړو نو د دے بدله د هغه ښکار په شان

قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًۢا

چه وژلی وی دهٔ | د څارڼو نه | فیصله به کوی | دده ے | دوه کسان انصاف والا | دستاسو نه | هدیه به وی

یو څاروے د قربانئ د پاره حرم ته لیکل دی خو هغے د مماثلت فیصله به دوه دیانتداره تجربه کار کسان کوی

بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ

رسیدونکے | کعبے ته | یا (په دهٔ باندے) کفاره ده | خوراك | د مسکینانو | یا برابر | ددے

یا ئے کفاره داده چه د ښکار قیمت به اولګوی او یو یو مسکین ته به ئے د خوراك یو پاره نیمه نیمه صاع ورکړی او یا د ے د هر نیم صاع په

صِيَامًا لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ

روژے | چه وځکی دے | سزا | د کار خپل | معاف کړی دی | الله | هغه څه | چه شوی دی وړاندے

بدله کښی یو هیو هروڼه او نیمه دے د پاره چه د خپل عمل سزا الوځکی (او) دے نه وړاندے چه څه شوی دی هغه الله معاف کړی دی

وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝

اوځوك | چه دوباره وکړی (د ښکار) | نو بدله به واخلی | الله | د هغه نه | او الله | زور اور | بدله اغستونکے دے

او اوس چه څوك بیا هم دا سے اوکړی نو الله به ترے نه بدله اخلی او الله دیر زور اور او سزا ورکونکے ذات دے

اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ

حلال کړے شوی دی | تاسو له | ښکار | د دریاب | او خوراك د هغے | فائده ده | ستاسو د پاره

تاسو د پاره د سمندر ښکار او د هغے خوراك حلال (کړے شوے) دادے د پاره چه هغه ښکار تاسو او مسافرو د پاره د فائدے

وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ

او د مسافرو د پاره | او حرام کړے شوی دے | په تاسو | ښکار | د اوچ | تر څو چه یئ تاسو

حاصلولو یو ذریعه شی خو تر څو پورے چه تاسو د احرام به حالت کښی یئ نو د اوچ ښکار د ربانئ د ے حرام دے

حُرُمًا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝ جَعَلَ اللّٰهُ

په احرام کښے | اویریږی | د الله نه | هغه الله | چه هغه ته به | تاسو جمع کولے شئ | جوړه کړے ده | الله

او د هغه الله نه اویریږئ د کوم طرف ته چه به تاسو ټول جمع کولے شئ. الله کعبه چه عزتمنده کور دے

الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ

کعبه | چه کور | د عزت دے | سبب دروند | د پاره د خلقو | او میاشتے | عزتمنده ے هم

د خلقو د قیام سبب گرځولے دے او (د غه شان) د حرمت میاشتے او د قربانئ څاوری او هغه څاوری چه

وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

اودقربانۍ څاروی هم | اودپټوالا څاوری هم | دا ځکه | چه پوهه شئ تاسو | چه بیشکه | الله | پوهیږی

مړئ کښے ئے پټے پرتے وی (هم د قیام سبب کرځولے دے) دا (هر څه ځکه چه) تاسو ته معلومه شی چه

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ

په هغه څه | چه دی په اسمانو نو کښے | اوپه هغه څه | چه دی په زمکه کښے | اودا چه بیشکه | الله

اسمانونو اوزمکه کښے چه څه ۍ هغه ټول الله ته ښه معلوم دی او چه تاسو ته دا هم معلومه شی چه الله

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۹۷﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ

په هر څیز باندے | ښه پوهه دے | پوهه شئ | چه بیشکه | الله | سخت | عذاب ورکونکے دے

په هر څه باندے پوهه دے. په دے خبره هم پوهه شی چه الله سخت عذاب ورکونکے دے او (په دے

وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۸﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ

اوبیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے | نشته دے | په پیغمبر باندے | مګر | رسول (د پیغام)

هم پوهه شئ) چه الله بخښونکے مهربان دے. په پیغمبر باندے د تبلیغ کولونه سوا بله څه ذمواری نشته

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۹۹﴾ قُلْ

او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ښکاره کوئ | اوپه هغه څه | چه تاسو پټوئ | اووایه (چه)

او ستاسو ښکاره اوپټ ټول (حالات، عملونه) الله ته معلوم دی. اے پیغمبره! خلقو ته اووائ

لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ

نه دی برابر | پلیت | او پاک | اګر که | تعجب کښے اچوی تاله ره | ډیر والے | د پلیت

چه پاک او ناپاک څیزونه یو برابر نه دی اګر که دناپاکو څیزونو ډیر والے تاپه تعجب کښے واچوی

فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ ع

نو ویریږئ | د الله نه | اے د عقل والو! | دے دپاره چه تاسو | کامیاب شئ

نو عقل مندو! د الله نه اویریږئ چه کامیاب شئ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | مه کوئ تپوس | د داسے څیزونو باره کښے | که چرے

اے مومنانو! د داسے بے ضرورته څیزونو باره کښے تپوس نه (پخلنه) مه کوئ چه که چرته دهغے جواب

تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ وَاِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا

ښکاره کړے شی هغه | تاسو ته | نو خفه به کړی تاسو | او که چرے | تپوس کوئ تاسو | دهغے په باره کښے

درته ښکاره (کړے) شی نو بد به درباندے اولګی ځکه که تاسو ئے پوښ داسے وخت کښے تپوس کوئ کله چه قرآن رانازلیږی نو

حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ؕ

په داسے وخت کښے | چه نازلیږی | قرآن | ښکاره به کړے شی | تاسو ته | معافی کړیده | الله | دهغے (تپوس نو نه)

خامخا به درته دهغے جواب ښکاره کولے شی په قرآن کښ. البته مخکښ دنهی راتلونه چه څه شوی دی هغه درته الله معاف کړی دی

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾ قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ

او الله | بخښونکے | صبر کونکے دے | یقیناً | تپوس کړے وو دلته سے بضرور تاسوالونو | یو قوم | تاسونه مخکښ

او الله بخښونکے صبر ناک ذات دے. تاسونه مخکښ هم یو قوم دا سے تپوسونه کړی وو

ثُمَّ اَصْبَحُوْا بِهَا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ

بیا | شول دوی | په هغے | کافران | نه دی مقرر کړی | الله | بحیره (غوږ چیرے)

خو چه کله ورته هغه شکاره شو بیا ئے ترے نه انکار او کړو. الله خونه بحیره او نهٔ

وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ

او نه ازاده پریخودلے شوے | اونه پیوسته شوے دیلے سره | او نه بچ شوے شاوالا | لیکن | هغه کسان

سائبه او نه وصیله او نه حام حرام مقرر کړے دے (بلکه) دا خو کافر خلق په

كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۳﴾

چه کفر ئے کړے دے | جوړوی | په الله باندے | دروغ | او ډیر دوی نه | عقل نه لری

الله باندے دروغ جوړوی او اکثر پکښے بے عقله دی

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

او کله چه | اوو ئیلے شی | دوی ته | چه راشئ تاسو | هغه څه ته | چه نازل کړی دی | الله

او کله هم چه ورته اوو ئیلے شی چه (راشئ) د الله نازل کړے شوی کتاب او دهغه د رسول طرف ته

وَاِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ

او د پیغمبر (حکم) ته | نو وائی دوی | کافی دے مونږ لره | هغه څه | چه موندلی دی مونږ | په هغے باندے | پلاران خپل

رجوع او کړئ نو وائی چه مونږ له هم هغه دین کافی دے په کوم چه مونږ خپل مشران موندلی دی

اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۴﴾

اګر چه وو | پلاران د دوی | چه نه پوهیدل | په هیڅ شیز باندے | او نهٔ هغوی په هدایت وو

اګر که که د دوی مشران نه په صحیح دین باندے وو او نهٔ ئے صحیح لار موندلے وه (نو بیا به هم هغوی پسے روان وی؟)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ

اے هغه کسانو | چه ایمان مو راوړے دے | په تاسو ذمه داری ده | ستاسو خپله | نقصان نشی دررسولے تاسو ته

اے مومنانو! تاسو بس د خپل ځان فکر کوئ (که چه دا کافران ستاسو دین نه منی) که تاسو په خپله په سمه لار یئ

مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا

هغه څوک | چه گمراه شوی دی | کله چه | تاسو پیه هدایت باندے | خاص الله ته دی | واپس تلل ستاسو | د ټولو

نو گمراه خلق تاسو ته هیڅ نقصان نشی رسولے تاسو ټول به الله ته (پیش) کیږ

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نو خبر به درکړی هغه تاسو ته | په هغه څه | چه تاسو به | کول | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے

نو هغه به درته خبر درکړی چه څه څه کارونه تاسو کول. اے مومنانو!

شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ

حاضرول(پکاردی) | په مینځ ستاسو کښے | کله چه | حاضر شی | یو تن ته په تاسو کښے | مرګ | یعنی په وخت
کله چه تاسو کښے دچا دمرګ وخت رانژدے شی نو دوصیت په وخت کښے په تاسو مسلمانانو کښے

الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ غَيْرِكُمْ

دوصیت کولو کښے | دوه سړی | انصاف والا | ستاسو نه | یا | دے دوه نور وی | تاسو نه سوا
دوه معتبر (دیانتدار) گواهان جوړول پکار دی یا که چرے تاسو په زمکه کښے دسفر په حالت کښے یئ

اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ

که چرے | تاسو | سفر کوئ | په زمکه کښے | نو اورسی تاسو ته | مُصیبت
او تاسوته دمرګ مصیبت پیښ شی (او مسلمانان گواهان نه وی) نو دخپل ځان نه سوا دوه (غیر مسلم) کسان

الْمَوْتِ ؕ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ

د مرګ | ایسارویئ به تاسو دا دواړه | پس د مانځه نه | نو قسم به کوی دا دواړه
گواهان جوړ کړئ بیا که چرے تاسو ته دهغوی په صداقت باندے شك وی نو دمونځ نه پس دوی ایسار کړئ

بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ

په الله باندے | که چرے | ستاسو شك وی | چه نه اخلو مونږ | په قسم سره | عوض | اګر که | وی دے (مقسم له)
او بیا دے دوی په الله قسم اوخوری چه مونږ دد ے قسم په بدله کښے هیڅ قیمت نه اخلو اګر چه دا معامله

ذَا قُرْبٰى ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ ۚ اِنَّاۤ اِذًا

رشته دار | او نه پټوو مونږ | گواهی | د الله | بیشکه مونږ به یو | په دغه وخت کښے
زمونږ درشته دار ولے نه وی او مونږ د الله گواهی نه پټوو گنی مونږ به گناهنگار شو . بیا که روستو

لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ فَاِنْ عُثِرَ عَلٰۤى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّاۤ اِثْمًا

د گناهنگارانو نه | بیا که چرے | خبر دارے اوشو | په دے | چه بیشکه دے دواړو | کړے دہ | گناه
پته اولګیده چه دے دواړو (گواهانو) (په دروغ ویلو سره) ځان په گناه کښے اخته کړے دے نو بیا

فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ

نو دوه نور کسان | به اودریږی | په ځائے دد ے دواړو | د هغه کسانو نه | چه دعوی دحق شوے دہ | په هغوی باندے
دهغوی په ځائے به دوه نور سړی دهغه کسانو نه د گواهئ دپاره اودریږی چه دعوی دحق پرے شوے دہ

الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَاۤ اَحَقُّ

چه نزدے به وی دادواړه (مړی ته) | نو قسم به اوکړی دادواړه | په الله باندے | چه گواهی زمونږ | زیاته رشتینے دہ
او دا دواړه به د مړی نزدے وارثان وی نو دا دواړه به په الله قسم اوخوری چه زمونږ گواهی

مِنْ شَهَادَتِهِمَا وَمَا اعْتَدَيْنَاۤ ۖ اِنَّاۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

د گواهئ دهغے دواړو نه | اوزیاتے نه دے کړے مونږ | بیشکه یو به مونږ | په دغه وخت کښے | خامخا دظلم کونکو نه
دهغه نورو د گواهئ نه زیاته حق دہ او مونږ په دے گواهئ کښے هیڅ زیاتے نه دے کړے گنی مونږ به ظالمان شو

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ

دا طریقه | زیاته نزدے دهدے ته | چه پیش به کړی دوی | گواهی | په صحیح طریقه باندے

په دے طریقے د دے خبرے ډیر امید دے چه خلق به گواهی سمه سمه ادا کړی

اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ؕ وَاتَّقُوا

یا اویَر یږی دوی | ددے نه چه واپس به کړے شی | قسمونه (دَدوی) | پس | دقسمونو دهغے نورونه | او اویر یږئ

یا به ددے نه اویر یږی چه ددوی دقسمونو نه په پس په نورو قسمونو سره (چرته) ددوی تردیده اونشی

اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۱۰۸ ع

د الله نه | او واورئ | او الله | نه کوی هدایت | قوم | فاسقانو ته

اود الله نه ویر یږئ او (دهغه حکمونه) د قبلولو په نیت واورئ او الله فاسقانو خلقو ته سمه لار د دلیل نه نه بنائی.

يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ؕ

په کومه ورځ | چه راجمع به کړی | الله | پیغمبران | نو وائی به (ورته) | څه جواب درکړے شوے ووتاسو ته

هغه ورځ یاد کړه په کومه ورځ چه الله تول پیغمبران راجمع کړی اوورته به وائی چه تاسو ته (دقومونو دطرف نه) څه جواب

قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝۱۰۹

اوبه وائی دوی | نشته دے څه علم | مونږ لره | بیشکه | هم ته | پوهه ئے | په تولو پټو څیزونو

درکړے شوے وو هغوی به ورته جواب کښے اووائی چه مونږته هیڅ پته نشته په غیب باندے چه دوی زمونږ دوفات نه روسته څه کارونه

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِىْ عَلَيْكَ

کله چه | اوبه وائی | الله | اے عیسیٰ | د څوئے | د مریم! | یاد کړه ته | نعمت زما | په ځان خپل

کړی وو بیشکه هم ته د تولو غیبو خبرونه خبر دارئ دا به هغه ورځ وی کله به چه الله عیسیٰ بن مریم ته اووائی چه ما په تا

وَعَلٰى وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۫ تُكَلِّمُ

او په مور خپل | کله چه | مدد کړے وو ماستا | په روح القدس سره | چه خبرے ډِکولے

اوستا په مور کوم نعمتونه کړی وو هغه یاد کړه خاصکر دا نعمت چه ما په جبرئیل سره ستا مدد کړے وو

النَّاسَ فِى الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ

د خلقو سره | په زانګو کښې | او په پوخ عمر کښے | او کله چه | اوښودلو ما تاته | کتاب

اوتا په زانګو کښې د خلقو سره هم هغه شان خبرے کړے وے څنګه چه دے په بوډاوالی کښې کولے او دا چه ما تاته د کتاب

وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ

او حکمت | او تورات | او انجیل | او کله چه | جوړولو به تا | د خټے نه

او حکمت او د تورات او د انجیل تعلیم درکړے وو او دا چه تا به زما په حکم د خټے نه

كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِىْ فَتَنْفُخُ فِيْهَا فَتَكُوْنُ طَيْرًا

پشان د شکل | د مارغه | په حکم زما | بیا به پوکے وهلوتا | په هغے کښے | نو شو به هغه | الوتونکے مارغه

د مارغهٔ شکل جوړولو او بیا به دے پکښے پوکے کولو نو هغه به زما په حکم الوتونکے (مارغهٔ) جوړ شو

بِاِذْنِیْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِیْ ۚ وَاِذْ تُخْرِجُ

په حکم زما | او جوړولو به دِ | پیدائشی روند | او برگی والا | په حکم زما | او کله چه | راویستل به دِ

او تا به زما په حکم پیدائشی روند او برگی مرض والا روغول (جوړول) او زما په حکم به

الْمَوْتٰى بِاِذْنِیْ ۚ وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ عَنْكَ اِذْ

مړی (ژوندی کول) | په حکم زما | او کله چه | بند کړل ما | بنی اسرائیل | ستا نه | کله چه

دے مړی ژوندی کول. او دا چه ته ما د بنی اسرائیلو نه بچ کړے وے کله چه تا

جِئْتَهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ

راوړل تا دوی ته | ښکاره دلائل (معجزے) | نو اووئیل | هغه کسانو | چه کفر ئے کړے وو | د دوی نه

هغوی ته ښکاره نښانے پیش کړے نو په هغوی کښ کافرانو اووئیل چه دا خو د ښکاره

اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۱۱۰﴾ وَاِذْ اَوْحَیْتُ اِلَى الْحَوَارِیّٖنَ

نه دے دا | مګر | جادو (دے) | ښکاره | او کله چه | زړه کښے واچول ما | حواریانو ته (خالصو ملګرو ته)

جادو نه سوا بل هیڅ نه دی. او (دا هم یاد کړه) کله چه ما ستا د رازدارو ملګرو په زړه کښے دا خبره واچوله

اَنْ اٰمِنُوْا بِیْ وَبِرَسُوْلِیْ ۚ قَالُوْۤا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ

چه ایمان راوړئ | په ما | او په رسول زما | (نو) اووئیل دوی | (چه) ایمان راوړے دے مونږ | او گواه (اوسه) ته

چه په ما او زما په پیغمبر ایمان راوړئ نو هغوی اووئیل چه مونږ ایمان راوړو او ته په دے گواه اوسه

بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ اِذْ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ یٰعِیْسَى ابْنَ مَرْیَمَ

چه په یقینی ډول مونږ | حکم منونکی | کله چه | اووئیل | خالصو ملګرو | اے عیسیٰ | څوئ | د مریم

چه مونږ مسلمانان یو (دا هم یاد کړه) کله چه حواریانو اووئیل چه اے عیسی ابن مریم!

هَلْ یَسْتَطِیْعُ رَبُّكَ اَنْ یُّنَزِّلَ عَلَیْنَا مَآىِٕدَةً

آیا | قبول به کړی | ستا رب | چه راولیږی | په مونږ باندے | خوانچه

آیا ستا رب به دا خبره اومنی چه په مونږ باندے د اسمان نه خوانچه را کوزه کړی

مِّنَ السَّمَآءِ ؕ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۱۱۲﴾

د آسمان نه | اووئیل (عیسیٰ) | ویریږئ | د الله نه | که یئ تاسو | مومنان

نو عیسیٰ ورته اووئیل چونکه تاسو واقعی مومنان یئ نو په طلب کولو د معجزا تو کښ د الله نه ویریږئ

قَالُوْا نُرِیْدُ اَنْ نَّاْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَىِٕنَّ قُلُوْبُنَا

اووئیل دوی | غواړو مونږ | چه خوراک او کړو | د هغے نه | او چه مطمئن شی | زړونه زمونږ

نو دوی ورته اووئیل مونږ خو صرف دا غواړو چه د هغے نه خوراک (هم) او کړو او چه زړونه مو مطمئن شی په زیادتِ قدرت

وَنَعْلَمَ اَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُوْنَ عَلَیْهَا

او چه ښه پوهه شو مونږ | چه یقیناً | رشتیا وئیلی دی تا مونږ ته | او چه شو مونږ | په هغے باندے

د الله باندے او چه علم موزیات شی په صدق د رسالت ستا باندے او چه مونږ د دے تولو خبرو بیان او کړو روستنو خلقو ته

مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿١١٢﴾ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَآ

د گواهی کوونکو نه | اووئیل | عیسیٰ | حُوی | د مریم | (چه) اے الله | ربه زمونږ

عیسیٰ بن مریمَ اووئیل اے الله زمونږ ربه ! په مونږ باندے

اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا

راولیږه | په مونږ باندے | خوانچه | د آسمان نه | چه شی | دپاره زمونږ

داسمان نه یوه خوانچه را کوزه کړه چه هغه زمونږ دپاره او زمونږ د وړاندینو او وروستنو دپاره

عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ

ورځ د خوشحالئ (اختر) | دپاره د مخکنو زمونږ | او روستنو زمونږ | او (چه شی) یوه نخښه | ستا د طرف نه

د خوشحالئ یوه ورځ (موقع) جوړه شی اوستا د طرفه نه دلیل شی په توحید ستا او په صدق د رسالت زما

وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ

او روزی را کړه مونږ ته | او ته | ډیر ښه | روزی ورکونکے ئ | اووئیل | الله | بیشکه زه

او (الله) ته مونږ له دا نعمت سبب د رزق او گرځوه او ته ډیر بهتر روزی ورکونکے ئ. الله ورته اوفرمائیل چه زه (خو)

مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْٓ

رالیږونکے یم دے لره | په تاسو باندے | پس چا چه | ناشکری او کړه | پس دد ے نه | ستاسو نه | نو بیشکه زه به

بیشکه دا خوانچه تاسو ته درلیږم خو که په تاسو کښ چا دد ے نه پس هم انکار وکړو نو دا سے سزا به

ع ١٥ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١١٤﴾

عذاب ورکړم هغه له | (دا سے) عذاب | چه نه به ورکوم هغه | هیڅ تن ته | د خلقو نه

ورله ورکړم چه په مخلوق کښے به مے بل هیڅ چاله نه وی ورکړی

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ

او کله چه | اوبه وائی | الله | اے عیسیٰ | حُوے | د مریم | آیا تا | وئیلی وو

او هغه وخت هم یاد کړه چه الله به (په حشر کښے) فرمائی چه اے عیسی ابن مریم ! آیا تا خلقو ته

لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

خلقو ته | (چه) اونیسئ ما | او مور زما | دوه معبودان | سوا د الله نه

وئیلی وو چه د الله نه سوا ما او زما مور دواړه په خدائ اونیسی

قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اَقُوْلَ مَا

اوبه وائی (عیسیٰ) | پاک ئے ته | نه دی مناسب | زما دپاره | چه اووایم زه | هغه څه

(نو) هغه به اووائی چه الله زه خوستا ذات د شرک نه پاک گڼرم زما مجال نشته چه زه دخولے نه

لَيْسَ لِيْ ۗ بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ

چه نه دی | ماسره | لائق (حق) | که چرے ما | کړی وی داخبره | نو یقیناً | معلومه به وی هغه تاته

دا سے خبره او باسم چه دهغے ماله حق نه وی او که بالفرض ما دا سے خبره کړی وی نو تاته به معلومه وی

تَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ ؕ

ته پوهیږے | په هغه څه | چه دی په زړه زما کښے | اونه پوهیږم زه | په هغه څه | چه دی ستا په نفس کښے
زما په زړه کښے چه څه دی هغه تا ته ښه معلوم دی اوستا په نفس کښے چه څه دی هغه ما ته نه دی معلوم

اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۱۱۶﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ

بیشکه هم ته | ډیر پوهه ئے | په پټو څیزونو | نه دی وئیلی ما | دوی ته | مګر | هغه څه
یقیناً ته د ټولو غیبو خبرو نه خبردار ئے. ما (خو) ورته د دے نه سوا بله خبره نه ده کړے

اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَ رَبَّكُمْ ۚ

چه حکم کړے ووتاما ته | په هغے سره | چه عبادت وکړئ | دالله | چه زما رب دے | اوستاسو (هم) رب دے
دځه چه را ته تا حکم کړے وو چه یوازے د الله عبادت او کړئ چه زما اوستاسو د ټولو رب دے

وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ۚ فَلَمَّا

او وو م زهٔ | په دوی باندے | ګواه (خبر) | ترڅو چه وو م زهٔ | په دوی کښی | بیا هر کله
او زه ترے نه تر هغه وخته پورے خبر وو م تر څو پورے چه زه په کښے موجود وو م بیا کله چه تا

تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ؕ وَاَنْتَ

چه واغستلم تازهٔ | (نو بیا) هم ته | نګران وے | په دوی باندے | او ته ئے
زه بره وخیجولم (اوچت کړم) نو بیا یوازے ته د دوی نه خبر وے او ته

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۱۷﴾ اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ

په هر څه باندے | ښه خبر (ګواه) | که چرے | عذاب ورکوے ته دوی ته | نو بیشکه دوی
دهر څه نه ښه خبردار ئے (په هر څیز باندے ګواه ئے) اوس که ته ورله سزا ورکوے نو هم ستا

عِبَادُكَ ۚ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۱۸﴾

بندګان دی ستا | او که | بخښے ته | دوی | نو بیشکه هم ته | زور آور | حکمت والا ئے
بندګان دی او که بخښنه ورته کوے نو هم ته غالب او حکمت والا ذات ئے.

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ؕ

اوبه وائی | الله | دا | هغه ورځ ده | چه فائده به ورکوی | رشتینو ته | رشتیا دهغوی
الله به اوفرمائی چه دا هغه ورځ ده چه رشتینو خلقو ته به خپل رشتیا فائده ورکوی

لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

د دوی دپاره | جنتونه دی | چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | همیشه به وی | هغے کښے
د دوی دپاره دا سے جنتونه (باغونه) تیار دی چه لاندے به ترے نه نهرونه (وَلے) بهیږی

اَبَدًا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

همیشه | راضی به وی | الله | د دوی نه | او راضی به وی دوی | د الله نه | دا | کامیابی ده
چه په هغے کښے به دوی همیشه اوسیږی. او الله د دوی نه راضی شو او دوی د الله نه راضی شو هم دا ډیره لویه

الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا

دیره لویه | خاص دالله دپاره ده | بادشاهی | د آسمانونو | او د زمکے | او دهغه څه
کامیابی ده . په اسمانونه او زمکه او چه په دے کښے څه دی په هغه ټولو د الله حکومت دے

فِيْهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۳﴾ ع

چه دی په دے کښے | اوهغه (الله) | په هر څیز باندے | قادِر دے |
او الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوره قدرت لری

آیاتها [۱۶۵]	سورة الانعام مكّيّة	رکوعاتها [۲۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد دَ نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ټول صفتونه دخدائتوب | خاص الله لره دی | هغه ذات | چه پیدا کړی ئے دی | آسمانونه | او زمکه
د خدائی توب ټول صفتونه (تعریفونه) یوازے هغه الله لره دی چا اسمانونه او زمکه ئے پیدا کړی دی

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ؕ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ

اوپیدا کړی ئے دی | تیارے | او رنړا | بیا (هم) | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | دخپل رب سره
او تیارے او رنړا ئے جوړه کړے ده . بیا هم کافران د خپل رب سره نور برابر کړی

يَعْدِلُوْنَ ﴿۱﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى

نور خلق برابروی | هم هغه دے چه | پیدا یئ کړئ تاسو | دختے نه | بیا ئے | مقرر کړه
الله هم هغه ذات دے چه تاسو ئے د ختے (خاورے) نه پیدا کړئ بیا ئے (درله) دژوند یوه

اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ﴿۲﴾

یو نیته | او یو نیته ده بله | مقرر شوے | هغه سره | بیا (هم) | تاسو | شك کوئ
نیته مقرره کړه او یوه بله نیته (دوباره ژوند) مقرره ده چه علم ئے دهغه سره دے بیا هم تاسو شك کوئ

وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ

اوهم هغه دے | الله (معبود) | په آسمانونو کښے | اوپه زمکه کښے (هم) | پوهیږی هغه
او هم هغه الله حق دار د بندګئ دے په اسمانونو کښے هم او په زمکه کښے هم

سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ﴿۳﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ

په پټو ستاسو | او په ښکاره ستاسو | او پوهیږی | په هغه څه | چه کوئ ئے تاسو | او نه راځی دوی ته
ستاسو پټے او ښکاره ټولے خبرے ورته معلوم دی او تاسو چه څه کوئ هغه ورته معلوم دی. اودکافرانو حال

مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝

څه نخښه | دنخښو | د رب خپل نه | مکر | دی دوی | د هغے نه | اعراض کوونکی

خو دا دے چه کله هم دوی ته د الله د نخښو نه څه نخښه راشی نو دوی د هغے نه مخ اړوی

فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ

پس یقیناً | دروغژن اوګڼلو دوی | حق | هر کله | چه راغے وَرته | پس ډیر زر به | راشی دوی ته

چه کله دوی ته حق راغلو نو دوی هغه دروغ اوګڼلو (خو) ډیر زر به دوی ته عذاب د هغه ځیز راشی

اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا

خبر | دهغه څه | چه دوی | ورپورے | ټوقے کولے | آیا نه ګوری دوی | چه څومره | هلاک کړی دی مونږ

کوم پورے چه دوی ټوقے کولے ولے. (آیا) دوی نه ګوری چه ددوی نه وړاندے مونږ

مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ مَا

مخکښ ددوی نه | قومونه ډیر | (چه) طاقت مو ورکړے وو هغوی ته | په زمکه کښے | دومره

څومره قومونه هلاک کړی دی. چه مونږ ورله په زمکه دومره اقتدار ورکړے وو

لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ۪

چه نه مو دے درکړے | تاسو ته | او راليږلی وو مونږ | بارانونه | په هغوی باندے | شیبے شیبے

چه تاسو له مونه دے درکړے او مونږ پرے د رحمت بارانونه ښه ډیر ورولی وو

وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ

او کړ ځولی وو مونږ | نهرونه | چه بهیدل به | لاندے د (اختیار) هغوی نه | نو هلاک کړل مونږ هغوی

او مونږ ورله نهرونه پیدا کړل چه ددوی د (اختیار) لاندے بهیدل (خو) بیا مونږ ددوی

بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝

په ګناهونو خپلو | او پیدا کړل مونږ | روستو د هغوی له | قومونه | نور

د ګناهونو په وجه دوی هلاک کړل او د دوی نه پس مو نور قومونه پیدا کړل

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِىْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ

او که چرے | نازل کړے وے مونږ | په تاباندے | کتاب | په کاغذ کښے | اولګولے وے دوی هغے سره

او (دکافرانو حال خو دادے) که چرے مونږ تاته په کاغذ کښے لیکلے شوے کتاب په یو ځل نازل کړو او بیا دوی

بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ

لاسونه خپل | نو خامخا وئیلے به وے | هغه کسانو | چه کفر ے کړے دے | (چه) نه دے دا | مکر | جادو

دغه کتاب په خپلو لاسونو سره مسح کړے هم وے نو بیا به هم کافرانو وئیل چه دا خو ښکاره

مُّبِيْنٌ ۝ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ؕ وَلَوْ اَنْزَلْنَا

ښکاره | او وائی دوی | ولے راونه لیږلے شوه | په ده باندے | فرشته | او که چرے | نازل کړے وے مونږ

جادو دے او دا خلق وائی چه دے پیغمبر باندے یوه فرشته ولے نه را کوزیږی نو که چرے مونږ فرشته را کوزه کړے وے

مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُوْنَ ۝ وَلَوْ

فرشته | نوخامخا فیصله به کړے شوے وه | دکار (ددوی) | بیا به | دوی ته مهلت نه وورکړے شوے | اوکه چرے
نو په دوی به عذاب راغلے وے نو له قصه به خلاصه شوے وه او بیا به دوی ته مهلت هم نه وو رکړے شوے

جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا

جوړ کړے شوے مونږ دا (رسول) | فرشته | نوخامخا جوړ کړے به وو مونږ هغه لره | په شکل دسړی | اوخامخا شک به مو راواستلے وے
اوکه چرے مونږ فرشته پیغمبر جوړولے نو هغه به هم مونږ دیو سړی په شکل رالیږلے نو دوی به دهغهٔ باره کښ

عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

په دوی باندے | هغه | چه اوس کوم شك کوی | اویقیناً | توڼے شوے وے | په پیغمبرانو پورے | مخکښ ستانه
هم هغه شک کولو کوم کښ چه اوس پراتهٔ دی. او (اے پیغمبره!) تانه وړاندے هم په دیرو پیغمبرانو پورے

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

نو چاپیره شو | په هغه کسانو پورے | چه توڼے کړے وے | د دوی نه | هغه (عذاب) | چه دوی | ورپورے
توڼے (خندا کانے) شوی دی خو آخر (نتیجه د اشوه) چه توڼے کونکی هم هغه عذاب راګیرل کړل په کوم پسے

ع يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ

توڼے کولے | اووایه | اوګرځئ | په زمکه کښے | بیا | اوګورئ | (چه) څنګه
چه دوی توڼے کولے. اے پیغمبره! (دے کافرانو ته) اووایه چه لږ دزمکے په مخ اوګرځئ او بیا په نظر دعبرت

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝ قُلْ لِّمَنْ مَّا

شو | انجام | د دروغ ګنړونکو | اووایه | (چه) دچا په اختیار کښے) دی | هغه څه چه دی
اوګورئ چه د حق د دروغ ګنړونکو څه انجام شو؟ د دوی نه تپوس اوکړه چه په اسمانونو او زمکه کښے

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلْ لِّلّٰهِ ؕ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ

په آسمانونو کښے | او په زمکه کښے | اووایه | دالله (په اختیار کښ) دی | لازمه کړے ده هغه | په ځان خپل باندے
چه څه دی هغه دچا په اختیار او ملکیت کښے) دی؟ بیا ته پخپله جواب ورکړه چه دالله په اختیار کښے دی هغه (خو) رحم کول

الرَّحْمَةَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ

مهربانی | خامخا راجمع کوی به هغه تاسو | ورځے د قیامت ته | چه نشته دے هیڅ شك | په هغے کښے
په ځان باندے لازمه کړی دی (او) هغه به ضرور تاسو د قیامت په ورځ راجمع کوی چه د هغے په راتلو کښے هیڅ شك نشته

اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَلَهٗ

هغه کسان | چه تاوان کښے ځان چولی دی | ځانونه خپل | نو هغوی | ایمان نه راوړی | اویوا ځے د هغه په اختیار کښے دی
خو کومو خلقو چه ځان په نقصان کښے اچولے دے هغوی په دے (حقیقت) ایمان نه راوړی. او د شے اوورځے چه څومره

مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

هغه څه | (چه) آرام کوی | د شپے | او د ورځے | او هغه (الله) | ښه اوریدونکے | ښه پوهه دے
مخلوق آرام کوی هغه ټول دالله په قبضه کښے دی او هم هغه الله هر څه اوریدونکے په هر څه پوهه دے

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

اووایه | آیا سوا | د الله نه | اولیسمزهٔ | بل دوست | چه پیدا کوونکے دے | د آسمانونو | او د زمکے

اے پیغمبره اته اووایه چه ایا (وے) زهٔ دهغه الله نه سوا بل څوك خپل کارساز جوړ کړم کوم چه د اسمانونو او د زمکے

وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ؕ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ

او هغه | خوراك ورکوی | او هغه ته خوراك نشی ورکیدے | اووایه | چه بیشکه ماته | حکم شوے دے | چه شم زه

پیدا کوونکے دے او هغه ټولو ته روزی ورکوی او هغه ته روزی نشی ورکیدے ورته اووایه چه ماته خو دا حکم شوے دے

اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ قُلْ

اول | د هغه چا نه | چه اسلام ځنې اوړے دے | او مه کیږه ته | د مشرکانو نه | اووایه

چه په ټولو کښے ورومبے زه تابعدار جوړ شم (مسلمان شم) او (ماته حکم دے چه) چه ته د مشرکانو (دهغے) نه هیڅ ے نه شے

اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝

بیشکه زهٔ | یَرِیږم | که چرے | نافرمانی او کړم | د رب خپل | د عذاب | د ورځے | لوئے نه

اے پیغمبره اورته اووایه که چرے زه د خپل رب نافرمانی وکړم نو ماسره د لوے ورځ د عذاب یَرِه ده.

مَنْ يُّصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ ؕ وَذٰلِكَ

هغه څوك | چه واړولے شو عذاب | د هغه نه | په دغه ورځے | پس یقیناً | رحم وکړو الله په هغه | او دا ده

څوك چه په دغه ورځ د عذاب نه بچ شو نو په هغه الله تعالیٰ ډیو لوئ رحم وکړو . او دا

الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ۝ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ

کامیابی | ښکاره | او که چرے | ورسوی تاته | الله | څه تکلیف | نو نشته | لرے کوونکے

ښکاره کامیابی ده. او که چرے الله تعالیٰ تاته څه تکلیف اورسوی نو دهغه نه سوائے درنه

لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ؕ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

دهغے | سوا | د الله نه | او که چرے | ورسوی تاته | څه خیر | نو هغه (الله) | په هر څه

هیڅ څوك نشی لرے کولے . او که چرے هغه درته څه خیر ورسوی نو هغه په هر څیز باندے

قَدِيْرٌ ۝ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ

قادر دے | او هغه (الله) | غالب (زوراور) دے | د ټپاسه | د بندګانو خپلو | او هغه دے | حکمت والا

قادر دے. او هم هغه الله په خپلو بندګانو باندے پوره اختیار لري او هغه حکمت والا او خبردار

الْخَبِيْرُ ۝ قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ

خبردار | اووایه | کوم یو څیز | ډیر لوئے دے | په کواهۍ کښے | اووایه (چه) | الله

ذات دے. اے پیغمبره اته ورته اووایه چه دچا کواهی دتولو نه لویه ده (چه تاسو ته ځواب ورکړم) ته پخپله اووایه چه الله

شَهِيْدٌۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۫ وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ

کواه دے هغه | په مینځ زما | او په مینځ ستاسو کښے | اووحی کړے شوے ده | ماته | ددے | قرآن

زما او ستاسو ترمینځه کواه دے او ماته ددے قرآن وحی دے دپاره شوے ده چه ددے په ذریعه تاسو

لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ

چه اویږوم زه تاسو | په دے سره | او هغه څوك | چه رسی ورته (قرآن) | آیا تاسو | گواهی ورکوئ | چه دی

او هغه څوك چه قرآن ورته ورسیږی (دالله دعذاب نه) اویږوم آیا تاسو (په رشتیا) داگواهی ورکولے شئ

مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا

د الله سره | معبودان | نور | اووایه | چه زهٔ خو نه ورکوم گواهی | اووایه | چه بیشکه

چه د الله سره نور معبودان هم موجود دی ته ورته اووایه چه زهٔ (خو) داگواهی نه ورکوم. او ته ورته اووایه

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۝۱۹

هغه (الله) | معبوددے | یَو | او بیشکه زهٔ | بیزار یم | دهغه څخه نه | چه شریکوئ ئے تاسو

چه هم هغه یو معبود دے او تاسو چه څه د الله سره شریکوئ دهغے نه زهٔ بیزار یم.

اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا یَعْرِفُوْنَ

هغه کسان | چه ورکړے دے مونږ هغوی ته | کتاب | پیژنی هغوی دا (رسول) | لکه څنگه چه | پیژنی

کومو خلقو ته چه مونږ کتاب ورکړے دے هغوی دا پیغمبر داسے پیژنی لکه څنگه چه خپل

اَبْنَآءَهُمْ ؕ اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ۝۲۰

څامن خپل | هغه کسان | چه تاوان کښے ځانونه خپل | نو هغوی | ایمان نه راوړی

څامن پیژنی (خو بیا هم) چا چه خپل ځان په نقصان کښے اچولے دے هغوی ایمان نه راوړی

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ

او څوك دے | زیات ظالم | دهغه چا نه | چه تړی | په الله باندے | دروغ | یا دروغژن گڼړی

او دهغه چا نه غټ ظالم څوك کیدے شی چه په الله تعالی د دروغو بهتان تړی یا دهغه ایتونه

بِاٰیٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝۲۱ وَیَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِیْعًا

آیتونه دهغه | بیشکه | نه کامیابیږی | ظالمان | اوپه کومه ورځ | چه راجمع به کړو مونږ دوی | ټول

دروغ گڼړی یقین اوسائ چه ظالمان کامیابی نشی موندلے. او (هغه ورځ یاد کړه) په کومه ورځ چه به مونږ داټول

ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِیْنَ اَشْرَكُوْۤا اَیْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِیْنَ

بیابه | اووایو مونږ | هغه کسانو ته | چه شرك ئے کړے دے | چرته دی | شریکان ستاسو | هغه

راجمع کړو بیابه دمشرکانو نه تپوس وکړو چه چرته دی ستاسو هغه معبودان چه تاسو پرے گمان کولو

كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ۝۲۲ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْا

چه تاسو | (دالله سره شریك) گڼړل | بیابه | نه وی | عذر د دوی | مکر دا | چه وائی به دوی

چه دا د الله سره (شریکان دی). (نو) په دغه وخت به بیا دوی سره هیڅ عذر او بهانه نهٔ وی خو دومره به اووائی

وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِیْنَ ۝۲۳ اُنْظُرْ كَیْفَ كَذَبُوْا

قسم په الله | چه رب دے زمونږ | نه وو مونږ | مشرکان | اوگورہ | (چه) څنگه | دوی دروغ اووئیل

چه په الله مودِ قسم وی چه زمونږ رب دے مونږ (خو) شرك نه ووکړے (بلکه مونږ خوبه وسیله نیوله) اوگورہ! څنگه دوی به

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْهُمْ

په ځانونو خپلو | او وُرک به شي | د دوی نه | هغه څه | چه دوی به | دروغ ترل | او بعضے د دوی نه

د خپل ځان په حقله دروغ وائی او کوم دروغ ځپچه جوړ کړی وو هغه ټول به ترے نه ورک شي (په سبب د گواهئ ور کولو د انداموتو

مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً

هغه څوک دی | چه غوږ ونه ږدی | تاته | او اچولی دی مونږ | په زړونو د دوی | پَردے

د دوی). او په دوی کښے بعضے داسے دی چه ستا خبرو ته غوږ ږدی (ستا خبرے اوری) خو مونږ د دوی په زړونو داسے پردے

اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۭ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ

د پوهے د دے کتاب له | او په غوږونو د دوی کښے | درونددوالے | او که چرے | اوویني دوی | هره نخښه

اچولی دی چه په د ے (قرآن) نه پوهیږی او په غوږونو کښے ورله مونږ کوفر والے پیدا کړے دے

لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ

نو ایمان نه راوړی | په هغے | تر دے | چه کله | راشي تاته | نو جهگړه کوی تاسره | نو وائی

او که دوی تولے نخښے اوویني بیا پرے هم ایمان نه راوړی. تر دے چه کله ستا خوا له د جگړے دپاره راشي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۵﴾

هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | نه دے دا قرآن | مگر | قصے | د پخوانو (وړومبنو)

نو دا کافران وائی چه دا قران خو تشے د پخوانو قصے دی. او نور خلق هم د قرآن (د دین) نه منع کوی

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ

او دوی | منع کوی خلق | د دے قرآن نه | او پخپله هم لرے کیږی | د دے نه | او نه هلاکوی دوی

او پخپله ترے نه هم تخته او په دے چل دوی د ځان نه سوا بل څوک نشی هلاکولے

اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا

مگر | ځانونه خپل | او دوی شعور نه لری | او که چرے | ته اوونے | کله به چه | او درولے شی دوی

خو احساس ورته نشته. او اے پیغمبره! که ته اوونے کله به چه دوی د جهنم په غاړه او درولے شی (نو ډیر هیبت ناک

عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ

په اور باندے | نو وائی به | اے کاش چه مونږ | واپس کړے شوے مونږ (دنیاته) | او د رب خپله مے کنړ لے مونږ | آیتونه

حالت به وی) او دوی به وائی چه کاش! چه مونږ دنیا ته واپس ولیږلے شوے او د خپل رب ایتونه مو د روغ نه وے کنړلے

رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۷﴾ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا

د رب خپل | اوو ے مونږ | د مومنانو نه | بلکه | څکاره به شي | دوی ته | هغه څه | چه دوی به

او د مومنانو (د ډلے) نه وے (حالانکه د دوی دعا به هم رشتینی نه وی) بلکه دوی ته هغه حق او عذاب څکاره شو

يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ۭ وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا

پټول | مخکښ د دے نه | او که چرے | واپس کړے شي هغوی | نو خامخا به بیا وکړی | هغه څه

کوم به چه دوی په دنیا کښ پټولو او که چرے دوی دنیا ته واپس هم کړے شي نو بیا به هم

نُهُوْا عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هِيَ اِلَّا

چه منع کړے شوی وو | دهغے نه | او بیشکه دوی | البته دروغژن دی | اووائی دوی | نه دے دا | مکر

دوی هغه کارونه کوی دځه نه چه منع کړے شوی وو او یقین اوساته چه دا پاخه دروغژن دی. دوی (خو) دا وائی چه

حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ

ژوند دے زمونږ | د دنیا | او نه به شو مونږ | بیا راپورته کړے شوی | او که چرے | اوولیدے ته | کله چه به

ژوند خو صرف د دنیا دے او مونږ به د قیامت په ورځ دوباره نه پیدا کیږو. او که چرے ته هغه وخت اوولیدے

وُقِفُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ؕ قَالَ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا

اودروله شی دوی | د خپل رب مخکښ | او به وائی الله | آیا نه دے | دا ژوند | حق (رشتیا) | او به وائی دوی

کله به چه دوی د رب مخے ته او درولے شی الله تعالی به او فرمائی ایا دا ژوند حق نه دے؟ (نو) دوی به اووائی

بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ

ولے نه | قسم دے په رب زمونږ | او به وائی الله | نو وځکئ | عذاب | ځکه چه | تاسو همیشه

ولے نه (بیشکه حق دے) زمونږ د رب قسم وی الله تعالی به ورته اووائی چه د خپل کفر په وجه

تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ

انکار (کفر) کولو | یقیناً | تاوان کښې پاتے شول | هغه کسان | چه دروغ ئے اوګڼلو | ملاقات | د الله

(اوس) د عذاب مزه اوځکئ. یقیناً هغه خلق په لوئ تاوان کښې دی کوم چه د الله سره ملاقات دروغ ګڼلی

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا

تر دے | چه کله | راشی په دوی | قیامت | ناڅاپه | نو او به وائی | افسوس دے زمونږ

تر دے چه کله ورته قیامت ناڅاپه راشی نو بیا به وائی چه هائے افسوس!

عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ۙ وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ

په کوتاهئ خپله | په باره د قیامت کښے | او دوی به | پورته کوی | بوجونه خپل

چه مونږ د قیامت په معامله کښې څومره کوتاهی کړے وه او د خپلو ګناهونو بوجونه به ئے په خپو شاګانو

عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ؕ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿۳۱﴾ وَمَا الْحَيٰوةُ

په شاګانو خپلو | خبردار | ډیر بد دے | هغه څیز | چه پورته کوی به ئے دوی | اونه دے | ژوند

را باندے (را اوچت) کړی وی (او خبر شئ چه) ! دوی به ډیر خراب بوجونه پورته کړی وی او د دنیا

الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ

د دنیا | مکر | لوبے دی | او مشغوله | او خامخا کور | روستنے | ډیر غوره دے | د پاره د هغه کسانو

ژوند خو بس یوه لوبه او تماشا ده او (یقین اوساتئ چه) د آخرت کور د هغه خلقو د پاره زیات بهتر دے کوم چه

يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۳۲﴾ قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ

چه اویریږی | آیا نو تاسو نه پوهیږئ | یقیناً | مونږ پوهیږو | چه بیشکه | غمژن کوی تا لره

پرهیزګاری دی. نو ایا دومره خبره هم ستاسو په عقل کښې نه راځی. اے پیغمبره! مونږ ته ښه معلومه ده

الَّذِیْ یَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ ۙ لَا یُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِیْنَ

هغه څه | چه وائی ئے دوی | پس بیشکه دوی | نه دروغژن کوی تا | خو لیکن | ظالمان

چه د دے کافرو په خبرو ته غمژن کیږے لیکن په حقیقت کښ دوی تا دروغژن نه گڼری بلکه دا

بِاٰیٰتِ اللّٰهِ یَجْحَدُوْنَ ۝ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ

د آیتونو | د الله نه | انکار کوی | او یقیناً | دروغژن گڼرلے شوی وو | دیر پیغمبران

ظالمان د الله د ایتونو نه انکار کوی. او حقیقت دا دے چه ستانه وړاندے هم دیر پیغمبران دروغژن

مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰی مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا

مخکښ ستانه | نو صبر کړے وو دوی | په هغه څه | چه دروغژن کړے شوی وو دوی | او تکلیف ورکړے شوے وو دوی نه په هغے سره

گڼرلے شوی وو خو په دروغژن گڼرلو او په تکلیفونو هغوی صبر وکړو تر دے چه زمونږ مدد

حَتّٰۤی اَتٰىهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ

تر دے | چه راغے دوی ته | مدد زمونږ | او نشته هیڅ څوک بدلونکے | د خبرو (د نصرت) | د الله

ورته راورسیدو او د الله تعالیٰ وعدے د نصرت هیڅ څوک نشی بدلولے

وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِی الْمُرْسَلِیْنَ ۝ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ

او یقیناً | راغلی دی تاته | بعضے خبرونه | د پیغمبرانو | او که چرے | وی | گران

او د پخوانو پیغمبرانو څه حالات تاته هم دے د پاره بیان شوی دی. او اے پیغمبره! که دوی بے رخی

عَلَیْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِیَ نَفَقًا

په تا باندے | مخ اړول د دوی | نو که چرے | وس لرے ته | چه تلاش کړے ته | یو سُرنگ

(مخ اړول) نشی برداشت کولے نو که وس دِ وی نو په زمکه کښے یو سُرنگ اولټوه

فِی الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِی السَّمَآءِ فَتَاْتِیَهُمْ بِاٰیَةٍ ؕ

په زمکه کښے | یا یوه اندر پایه | په آسمان کښ | چه راوړے ته دوی ته | یوه نخښه (معجزه)

یا آسمان ته یوه اندر پایه ولګوه او دوی ته د دوی د خوښے نخښه راوړه

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَی الْهُدٰی فَلَا تَكُوْنَنَّ

او که چرے | غوښتلے | الله | نو خامخا راجمع کړی به ئے دوی ټول | په هدایت | پس مه کیږه ته

او که الله غوښتلے نو دا ټول خلق به ئے په هدایت یوځائے کړی وے نو پس ته د ناپوهه

مِنَ الْجٰهِلِیْنَ ۝ اِنَّمَا یَسْتَجِیْبُ الَّذِیْنَ یَسْمَعُوْنَ ؕ وَالْمَوْتٰی

د ناپوهو نه | بیشکه | قبلوی (دعوت د ایمان) | هغه کسان | چه آوری | او مړی

خلق پشان مه کیږه. دا حق خبره هم هغه څوک منی چه په نیت دا ثابت ورته غوږ ایږدی او پاتے شول کافران نو هغوی خو پشان دمړو

یَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَیْهِ یُرْجَعُوْنَ ۝ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ

راپورته به کړی هغوی لره | الله | بیا به | هغه ته | واپس کړے شی | او وائی دوی | ولے نه شی نازلولے

دی په نه اوریدلو کښ هاں چه کله ئے الله دقبرونو نه راپورته کړی او الله ته پیش کړے شی (نو بیا به ورته پته اولګی) او کافران وائی چه

عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى

په ده باندے | یو معجزه | دطرف درب خپل | اووایه | بیشکه | الله | قادر دے | په دے

دے پیغمبر ته دخپل رب دطرفنه (زمونږ دخوښے) نخښه ولے نه راځی؟ اے پیغمبره اته ورته اووایه چه الله تعالی

اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَا

چه راولیږی | یو معجزه | لیکن | اکثر د دوی | نه پوهیږی | اونشته دے

دنخښے په رالیږلو پوره قدرت لری خو اکثر خلق نه پوهیږی (چه اختیار دمعجزا تو چاسره دے) اوپه زمکه

مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْاَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ

هیڅ یو زنده سر | په زمکه کښے | او نه یو مارغه | چه الوزی | په وزرو خپلو | مګر

چه څومره ځناور (زنده سر) کرځی اوپه هوا کښے چه څومره مارغان په خپلو وزرو الوزی دا ټول ستاسو

اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا فِى الْكِتٰبِ مِنْ شَىْءٍ

ډلے دی | ستاسو پشان | نه دے کړے کمے مونږ | په قرآن کښے | دهیڅ ضروری شی (په دین کښے)

غوندے حاجتمند مخلوق دی، اومونږ په کتاب (قرآن) کښ هیڅ کمے نه دے کړے (دضروری اُمورو دَدین نه)

ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

بیا به | رب خپل ته | جمع کولے شی دوی | او هغه کسان | چه دروغژن کنړی | آیتونه زمونږ

بیا به داټول مخلوق خپل رب طرف ته جمع کولے شی. اوچا چه زمونږ ایتونه دروغ ګنړلے دی نو دوی په شان دکافرو

صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِى الظُّلُمٰتِ ؕ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ؕ

کانړه دی | او ګونګیان دی | په تیارو کښے دی | هغه څوک | چه وغواړی | الله | (نو) ګمراه ئے کړی

او ګونګیانو دی څنګه چه هغوی نه څه اوری اونه څه وینی دغه شان دوی هم په تیارو کښ دی چاله چه الله اوغواړی نو

وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ

اوچا لره | چه اوغواړی | نو کړی هغه | په لاره | نیغه باندے | او وایه | آیا خبر ئے ته په خپلو حالاتو

بے لارے (ګمراه) ئے کړی اوچاله چه اوغواړی نو په سمه لارے ئے روان کړی. اے پیغمبره! (دے کافرانو ته اووایه)

اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ

که راشی تاسو ته | عذاب | د الله | یا راشی تاسو ته | قیامت | (نو) آیا سوا | د الله نه

که چرے تاسو رشتینی یئ نو دا راته اووایئ که په تاسو باندے د الله عذاب راشی یا درباندے قیامت راشی

تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ

تاسو رابلئ | که چرے | یئ تاسو | رشیتنی | بلکه | خاص هغه (الله) | رابلئ تاسو

نو آیا تاسو د الله نه سوا بل چاته آواز کوئ نه. بلکه (هغه وخت خو) تاسو یوازے الله ته اواز کوئ بیا کوم مصیبت دپاره

فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَتَنْسَوْنَ

نو هرے کړی الله | هغه تکلیف | چه رابلئ ئے تاسو | هغے ته | که چرے | وغواړی هغه | او (بیا) تاسو هیروئ

چه تاسو هغه ته آواز (فریاد) کړے دے نو که دهغه خوښه شی نو هغه مصیبت به درنه لرے کړی اوپه داسے وخت

مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ ع

هغه څه | چه شریکوئ ـے ځانسو | او یقیناً | لیږلی دی مونږ (پیغمبران) | امتونو ته | مخکښ ستانه

کښے بیا تاسونه خپل شریکان هیر شی. اے پیغمبره! تانه مخکښ هم مونږ ډیر وامتونو ته پیغمبران لیږلی وو نو هغوی تکذیب

فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۴۲﴾

نو (بیا) اونیول مونږ دوی | په سختو | او په تکلیفونو | دے دپاره چه دوی | عاجزی او کړی

او کړو نو مونږ هغوی په سختو د مال او په مصیبتونو د بدن کښے راګیر کړل دے دپاره چه هغوی عاجزی شروع کړی الله ته.

فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ

پس ولے نه وه | کله چه | راغے دوی ته | عذاب زمونږ | چه عاجزی ـے کړے وے (الله ته) | لیکن | سخت شول

بیا کله چه دوی ته زمونږ عذاب راغلو نو پکار ده چه عاجزی ـے شروع کړے وے خو الټه

قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾

زړونه د دوی | او ښائسته کړل | دوی ته | شیطان | هغه څه | چه دوی | همیشه کول

د دوی زړونه نور هم سخت شول او شیطان ورته خپل بد عملونه (کارونه) خائسته ښکاره کړل.

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا

پس هر کله | چه هیر کړل دوی | هغه څه | چه نصیحت کړے شوے وو دوی ته | په هغے سره | نو پرانستلے مونږ

بیا هر کله چه دوی هغه نصیحت هیر کړو کوم چه ورته شوے وو نو مونږ پرے

عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فَرِحُوْا بِمَآ

په دوی باندے | دروازے | د هر یو څیز | تردے | چه کله | خوشحاله شو | په هغه څه

د هر قسمه نعمتونو دروازے پرانستلے تردے چه کله زمونږ په ورکړے شوو نعمتونو نښه

اُوْتُوْٓا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾

چه ورکړے شوی وو دوی ته | نو اونیول مونږ دوی | ناڅاپه | نو (بیا) دغه وخت | دوی | ډیر ناامیده شول

خوشحاله (مست) شول نو مونږ ناڅاپه راونیول. نتیجه دا چه دوی ډیر ناامیده پاتے شول

فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ؕ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ

پس پریکړے شو | مونږ | د قوم | هغے | چه ظلم ـے کړے وو | او ټوله ثنا | الله لره ده

نو (په دے طریقه) بیا د ظالمانو جړ پریکړے شوے. او ټول تعریف الله لره دے چه د ټول مخلوق

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ

چه رب | د مخلوقاتو دے | اووایه | آیا تاسو خبر یئ | که چرے | واخلی | الله | غوږونه ستاسو

پروردګار دے. اے پیغمبره! ورته اووایئ تاسو چرته په دے خبره سوچ کړے دے

وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ

او سترګے ستاسو | او مهر اووهی | په زړونو ستاسو | نو څوك دے | حاجت پوره کونکے | سوا د الله نه

که چرے الله تاسونه غوږونه او سترګے واخلی او په زړونو درله مهر (ټاپه) اووهی نو د الله تعالیٰ نه سوا

يَأْتِيكُمْ بِهٖ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ

چه درکړی تاسوته | دغه څیزونه | اوګوره | څنګه | بارباربیانوو مونږ | آیتونه | بیا (هم) | دوی

بل داسے کارجوړونکے شته چه داهر څه واپس درکړی. اوګوره څنګه مونږ (دوی ته) خپل آیتونه په مختلفو طریقو سره

يَصْدِفُوْنَ ۝ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ

مخ اړوی | اووایه | آیاته خبر ئے په خپلو حالاتو | که چرے | راشی تاسوته | عذاب | د الله

بیانوو اودوی ترے نه بیا هم مخ اړوی اے پیغمبره اورته اووایه الږ دا خبر راته را کړه که چرے په تاسو (دشپے)

بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝

ناګهانه | یا | ښکاره | نونۀ به هلاکیږی | مګر | قوم | ظالمان

ناګهانه یا (دورځے) ښکاره عذاب د الله راشی نو اصالةً به نه هلاکیږی مګر ظالمان

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ

او نه رالیږو مونږ | پیغمبران | مګر | زیرے ورکونکی | او یره ورکونکی | پس چاچه

مونږ خو پیغمبران صرف دے له لیږو چه خلقو ته په نیکئ زیرے ورکړی اوپه بدئ ے د الله د عذاب نه اویروی نو چاچه

اٰمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

ایمان راوړو | او اصلاح ئے وکړه | نو نه به وی څه یَره | په دوی باندے | او نه به دوی | غمژن شی

ایمان راوړو او دځان اصلاح ئے وکړه نو نه به پرے په آخرت کښ څه یَره وی اونه به په دنیا پسے غمژن شی.

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا

اوهغه کسان | چه دروغژن ګڼړی | آیتونه زمونږ | اوبه رسیږی دوی ته | عذاب | ځکه چه | دوی

اوچا چه زمونږ ایتونه دروغ اوګڼړل نوهغوی ته به دخپلے نافرمانئ په وجه زمونږ عذاب اورسیږی

يَفْسُقُوْنَ ۝ قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ

نافرمانی کوله | اووایه | نه وایم زه | تاسوته | چه ماسره دی | خزانے | د الله

اے پیغمبره! ورته اووایه چه زه خو تاسو ته دا نه وایم چه ماسره د الله خزانے دی اونه دا چه زهٔ په پټو

وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّيْ مَلَكٌ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ

اونه پوهیږم زه | په غیبو باندے | او نه وایم زه | تاسوته | چه زه | فرشته یم | نه کوم زه تابعداری

خبرو پوهیږم اونه درته دا وایم چه زه فرشته یم (بلکه) زه خو صرف دهغے وحی تابعداری کوم

اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ؕ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى

مګر | دهغه څه | چه وحی ئے کولے شی | ماته | اووایه | آیا | برابر دے | روند

کومه چه ماته نازلیږی ورته اووایه چه ایا روند او بینا دواړه

وَالْبَصِيْرُ ؕ اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ۝ ع وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ

او بینا | آیا تاسو فکر نه کوئ؟ | اواویروه | پدے (قرآن) سره | هغه کسان | چه یَریږی

یو برابر کیدے شی آیا تاسو دومره قدر ے فکر هم نه کوئ. اے پیغمبره! په دے قران سره هغه خلق خبردار کړه

اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ

چه جمع به کړے شی | رب خپل ته | په حال سے حال کښ چه نه به وی | د پاره د دوی | سوا د الله نه | څوک دوست

چا سره چه دا ځره وی چه الله تعالی ته به په دا سے حالت کښے پیش کولے شی چه د الله

وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

اونه څوک سفارشی | دے د پاره چه دوی | پرهیزګار شی | او مه شره ته | هغه کسان | چه رابلی

نه سوا به ئے نه څوک دوست وی او نه څوک سفارش کوونکے دے د پاره چه دوی پرهیزګاره شی. او هغه خلق د خپل ځان

رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ مَا عَلَيْكَ

رب خپل | صبا | او بیګا | غواړی | رضا د هغه | نشته | په تا باندے

(مجلس) نه مه شره کوه چه سحر او ماښام خپل پروردګار یاد وی او صرف د الله رضا ئے ارادہ کړے وی

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ

د حساب د دوی نه | څه شئ | او نشته | د حساب ستا نه | په دوی باندے

نه خو د دوی حساب ستا په ذمه دے او نه ستا حساب د دوی په ذمه دے

مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَكَذٰلِكَ

څه شئ | نو که ته اوشړے هغوی | نو شے به ته | د ظالمانو نه | اوهم دغه شان (همیشه)

چه د هغے د وجے نه ته د دوی اوشړے ورنه په ظالمانو کښے به شامل شے: دغه شان

فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ

آزمایُو مونږ | بعضے د دوی | په بعض نورو باندے | چه اووائی (منکرین) | آیا دا خلق دی | چه احسان کړے دے | الله

مونږ دا خلق دیو بل په ذریعه په ازمیښت کښے اچولی دی چه منکرین خلق دا اووائی چه آیا دا خلق دی چه الله

عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿۵۳﴾

په دوی باندے | په مینځ زمونږ کښے | آیا نه دے | الله | ښه پوهه | په شکر ګزارو باندے

پرے زمونږ په مینځ کښے مهربانی اوکړه. نو وے (آیا) الله په خپلو شکر ګزارو بندګانو ښه نه پوهیږی؟

وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ

اوکله چه | راشی تا ته | هغه کسان | چه ایمان راوړی | په آیتونو زمونږ | نو (ورته) اووایه | سلامتیا ده

او کله چه تا له هغه خلق راشی چه زمونږ په ایتونو ایمان راوړی نو ورته اووایه چه په

عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ

په تاسو باندے | لازم کړے دے | رب ستاسو | په ځان خپل | رحمت (ستاسو د پاره) | دا چه بیشکه

تاسو د سلامتی وی. ستاسو رب په ځان باندے رحم لازم کړے دے چه په تاسو کښے څوک

مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ

چا چه | اوکړو | د ستاسو نه | عمل بد | په ناپوهئ سره | بیا ئے | توبه وویسته له | پس د دے نه

نادانئ (ناپوهئ) سره ګناه اوکړی او بیا وروسته توبه اوباسی او د ځان اصلاح اوکړی

وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ

اوبنه کړی خپل عمل | نو بیشکه الله | بخښونکے | مهربان دے | اوهم دغه شان | تفصیل سره بیانوو مونږ

نو یقیناً الله بخښونکے مهربان دے ۔ او هم دغه شان په تفصیل سره مونږ آیتونه بیانوو

الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ قُلْ اِنِّيْ ع

آیتونه | اودپاره ددے چه بنه بنکاره شی | لار | د مجرمانو | اووایه (چه) | بیشکه زه

(چه سمه لاره واضحه شی) او د مجرمانو لار جدا (څرګنده) شی. اے پیغمبره ! دوی ته اووایه

نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

منع کړے شوے یم | ددے نه | چه عبادت اوکړمزه | دهغه چا | چه رابلئ ئے تاسو | سوا | د الله نه

چه تاسو د الله نه سوا کوم معبودان رابلئ زه دهغوی د عبادت کولو نه منع کړے شوے یم

قُلْ لَّاۤ اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَاۤ اَنَا

اووایه | زهٔ نه کوم تابعداری | ستاسو د خواهشاتو | یقیناً | ګمراه به شم زهٔ | په دغه وخت کښ | اونه به یم زهٔ

(ورته اووایه چه) زهٔ ستاسو خواهشاتو پسے نهٔ زم که داسے اوکړم نو ګمراه به شم او نهٔ

مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾ قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ

د هدایت والو نه | اووایه | بیشکه زهٔ یم | په دلیل باندے | د طرفه د رب خپل نه

به شم زهٔ د هدایت والو نه ،(او) ورته اووایه چه زهٔ د خپل رب د طرف نه په واضح دلیل باندے یم او تاسو ئے

وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ؕ مَا عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ؕ اِنِ الْحُكْمُ

اوتاسو دروغژن کنړئ | هغے لره | نشته دے ما سره | هغه څه | چه غواړئ ئے تاسو په تاډئ سره | نشته اختیار

دروغژن کنړئ ۔ او کوم عذاب چه تاسو په تلوار (تاډئ) سره غواړئ د هغے اختیار خو ما سره نشته

اِلَّا لِلّٰهِ ؕ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ

مګر | الله لره دے | هغه بیانوی | حق لره | او هغه دے | د ټولو نه بنهٔ | فیصله کونکے | اووایه

فیصله (حکم) یوازے د الله چلیږی او هغه حقے خبرے بیانوی او غوره فیصله کوونکے دے. اوورته اووایه

لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ الْاَمْرُ

که چرے وی | ما سره | هغه څه | چه غواړئ ئے تاسو په تاډئ سره | نو خامخا فیصله کړے شوے به وه | معامله

تاسو چه کوم څیز زر (په تلوار) غواړئ که هغه زما په اختیار کښے وے نو زما او ستاسو ترمینځه به پخوا

بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ وَعِنْدَهٗ

په مینځ زما | اوستاسو کښے | او الله | ښه پیژنی | ظالمان | اوخاص دهغه سره دی

فیصله شوے وه او الله ظالمان ډیر ښه پیژنی . او دغیبو کنجیانے (خو) یوازے دهغه سره دی

مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَاۤ اِلَّا هُوَ ؕ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ

کنجیانے | دغیبو | چه نه پوهیږی په هغے | مګر الله تعالیٰ | اوپوهیږی هغه | په هغه څه | چه دی په اوچه کښ

چه دهغه نه سوا بل هیڅ چاته نه دی معلومے . او په اوچه او لوند ه چه څه دی

وَالْبَحْرِ ؕ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ

اوپه لوندہ کښے | او نه پریوځی | هیڅ یوه پاڼړه | مګر | هغه پوهیږی په هغے | اونه یوه دانه

هغه ټول ورته معلوم دی. او د اُوښے نه چه یوه پاڼړه هم پریوځی نو الله پرے خبر وی

فِیْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ

په تیارو | د زمکه کښ | اونه څه لوند څیز | اونه څه اوچ څیز | مګر | هغه (موجود) دی په کتاب

او د زمکے په تیارو کښے پرته یوه دانه یا څه لوند یا اوچ څیز نشته مګر په لوح محفوظ کښ لیکلے

مُّبِیْنٍ ﴿۵۹﴾ وَهُوَ الَّذِیْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا

روښانه کښے | او هم الله | هغه ذات دے | چه اوده کوی تاسو | دشپے | اوپوهیږی | په هغه څه

(موجود) دے. او الله هم هغه ذات دے چه دشپے په خوب کښے ستاسو روحونه اخلی

جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰۤى اَجَلٌ

چه کړی وی تاسو | د ورځے | بیا | راپورته کړی هغه تاسو | په (بله) ورځ کښ | چه پوره کړے شی | نیټه

او تاسو چه د ورځے څه کوئ هغه ورته هم معلوم دی. بیا په بله ورځ تاسو راپاڅوی دے د پاڼړه چه

مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

مقرره | بیا | هغه ته | واپسی ده ستاسو | بیا به | خبر کړی هغه تاسو | په هغه څه | چه تاسو

(ستاسو د عمر) مقرر نیټه پوره شی بیا هم د هغه طرف ته ستاسو واپسی ده نو څه کارونه (عملونه)

تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ

به کول | اوهغه (الله) | زور آوردے | د پاسه | د بندګانو خپلوونکے | اوراليږی هغه | په تاسو باندے

چه تاسو کول د هغے نه به مو خبر کړی. او هغه (الله) په خپلو بندګانو پوره پوره قدرت

حَفَظَةً ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ

حفاظت کونکی ملائک | تردے | چه کله | راشی | یو کس ته په تاسو کښے | مرګ | (نو) ساه اخلی د هغه نه

لږی او تاسو د پاڼړه (په تاسو) نګرانے فرشتے راليږی تردے چه په تاسو کښے د چا د مرګ وخت راشی

رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴿۶۱﴾ ثُمَّ رُدُّوْۤا اِلَى اللّٰهِ

راليږلے شوے فرشتے زمونږ | او هغوی | کوتاهی نه کوی | بیا به | واپس (پیش) کړے شی دوی | الله ته

نو ليږلے شوے فرشتے ترے نه روح اخلی او هغوی په خپل کار کښے هیڅ کوتاهی نه کوی. بیا به د تول الله ته واپس

مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ؕ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۫ وَهُوَ اَسْرَعُ

چه مالک ګڼے | په حقه | خبردار | یوا ځے دهغه دے | اختیار (حکم) | او هغه دے | ډیر زر

کړے شی چه د دوی په حقه کارساز دے. یاد ساتئ چه حکم یوازے د هغه چلیږی او هغه ډیر زر

الْحٰسِبِيْنَ ﴿۶۲﴾ قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ

حساب کونکے | اووایه | څوک | خلاص درکوی تاسوته | د تیارو (مصیبتونو) | د اوچے نه

حساب اغستونکے دے. ورته اووایه چه د اوچے او سمندر په تیارو کښے (د خطرونه) تاسو څوک بچ کوی

وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ

اودلوندے نه | چه رابلی تاسوهغه | په عاجزئ | اوپه پټه | (چه) که چرے | خلاص کړی هغه مونږ | ددے نه

چه تاسوئے په عاجزئ سره اوپټه پټه رابلئ (اوداوایئ چه) که الله مونږ ددے مصیبت نه خلاص (بچ) کړو

لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۳﴾ قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا

نوخامخا شوبه مونږ | د شکر گزارو نه | اووایه | الله | خلاصے درکوی تاسوته | ددے نه

نومونږ به شکر گزار (جوړ) شو. ته ورته اووایه چه (هم) الله تاسو ددے مصیبت نه هم خلاصوی

وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿۶۴﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ

او دهرے یوے | سختئ (غم) نه | بیا (هم) | تاسو | شرک کوئ | اووایه | هغه (الله) | قادر دے

او دنور (هر قسمه تکلیف) نه هم. بیاهم تاسو شرک کوئ. ته ورته اووایه چه الله په دے پوره قدرت لری

عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ

په دے | چه راولیږی | په تاسو باندے | عذاب | د پاسه ستاسونه | یا لاندے

چه په تاسو باندے څه (قسم) عذاب د برہ نه یاستاسو د خپو د لاندے نه راولیږی یا تاسو په

اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ

دښپو ستاسونه | یا گډ کړی تاسو | مختلفے ډلے | او اوځکوی | بعضو ستاسوته | جنگ

مختلفو ډلو کښے تقسیم کړی او د یو بل د جنگ (طاقت) مزه درباندے وځکی.

بَعْضٍ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾

د بعضے نورو | اوګورہ | څنګه | بیابیا بیانوو مونږ | آیتونه | دے دپاره چه دوی | پوهه شی

اوګورہ مونږ څنګه په مختلفو طریقو سره خپل آیتونه بیانوو کیدے شی چه دوی (پرے) پوهه شی.

وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ؕ قُلْ لَّسْتُ عَلَيْكُمْ

اودروغژن ګڼړی | دے لره | قوم ستا | اوحال داچه دا | حق دے | اووایه | نه یم زه | په تاسو باندے

اوا ے پیغمبره استاقوم دا قرآن دروغژن ګڼړی حالانکه دا بالکل حق (رشتونے) دے ته ورته اووایه چه زه خو ستاسو

بِوَكِيْلٍ ؕ ﴿۶۶﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ ۫ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَاِذَا

ذمه وار | دپاره دهریو | خبر | یو وخت دے مقرر | او ډیرزر به | پوهه شئ تاسو | او کله چه

دکار اختیار مندنه یم. البته عذاب درباندے څکه نه راځی چه دهر خبر (واقعے) یو وخت مقرر دے او ډیرزر به تاسو پوهه شئ

رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ

اووینے ته | هغه کسان | چه (باطل) بحث کوی | په آیتونو زمونږ کښے | نو مخ واړوه ته | ددوی نه

اوا ے پیغمبر کله چه ته هغه کسان اووینی چه زمونږ ایتونو کښے لکته چینی کوی یا باطل بحثونه کوی نو ته دهغوی نه

حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ؕ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ

تر دے | چه ور داخل شی | په څه خبره | بله کښے | اوکه چرے | هیر کړی تا نه

تر هغه وخته پورے جدا شه تر څو پورے چه هغوی بله څه خبره کښے مشغول نشی

الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾

شیطان | نومه کینه ته | پس | د رایادیدو نه | سره | د قوم | ظالمانو

اوکه شیطان درنه دا خبره هیره کړی نو د یادیدلو نه پس دظالمانو خلقو سره مه کینه.

وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ

اونشته | په هغه کسانو باندے | چه ځان ساتی (دشرکت نه) | د حساب ددوی نه | څه څیز

اوهغه مومنان چه دغسے خلقو دمجالسونه ځان ساتی نوپه هغوی باندے ددوی دحساب کتاب هیڅ ذمه واری نشته

وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

لیکن | صرف نصیحت کول | دے دپاره چه دوی | پرهیزگار شی | اوپریږدہ | هغه کسان | چه هوړ کړے ئے

البته نصیحت ورته کول کیدے شی چه دوی (په دا سے خبرو) پرهیزگاران شی. اوهغه خلق پریږدہ چا چه

دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ

دین خپل | لوبے | اوتوقے (مشغله) | او دهوکه کړی دی هغوی | ژوند | د دنیا | اونصیحت کوه

دلوبو توقونه خپل دین جوړ کړے دے لکه شرک، بدعت اورسم شو. اوددنیا ژوند په دهوکه کښے اچولی دی اوددے

بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَيْسَ لَهَا

په دے (قرآن) سره | (دے دپاره چه هلاک نشی) | یو کس | په سبب دهغه (عمل) | چه کړے ئے | نه به وی | د ده دپاره

قرآن په ذریعه خلقو ته نصیحت کوه چه چرته څوک د خپلو عملونو په وجه گیر نشی څکه دده دپاره به د الله نه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ

سوا | د الله نه | څوک دوست | او نه څوک سفارشی | اوکه چرے | جُرمانه ورکړی

سوا بل هیڅ څوک ملگری بچ کونکے اوسفارشی نه وی اوکه دے بیا هر قسم فدیه

كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا

هرقسم جرمانه | نو وا به نه غستے شی | دهغه نه | هم دادی | هغه کسان | چه هلاک کړے شول

ورکول غواړی نو قبلیږی به نه هم دا هغه خلق دی چه د خپلو عملونو

بِمَا كَسَبُوْا ۚ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ

په سبب دهغه (عملونو) | چه کول دوی | دوی لره | څکل دی | د گرمو اوبو | او عذاب دے

په سزا گیښے راگیر شوی دی اودغه خلقو له به د کفر په وجه گرمے (ښیدونکے) اوبه د څکلو دپاره ورکولے شی اوردناک عذاب به

اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۰﴾ قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

دردناک | په سبب ددے | چه دوی | کفر کولو | اووایه | آیا راوبلو مونږ | سوا | د الله نه

ورکولے شی. اے پیغمبره ددوی ته اووایه چه آیا مونږ دالله نه سوا داسے څوک عبادت حقدار جوړ کړو چه نه مونږ ته اووایو چه نه مونږ ته

مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا

هغه چاله | چه نه فائده را کولے شی مونږ ته | اونه نقصان را کولے شی مونږ ته | اووایس به کړے شو مونږ | په پوندو خپلو (مرتد شو)

څه فائده را کولے شی اونه څه نقصان. په دے وخت کښ خو به داسبب شی ددے چه مونږ به مرتد شو دهغے توحید نه چه الله ئے

بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِی اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ

پس ددے منه | چه هدایت کړے ددے مونږته | الله | پشان دهغه کس | چه بلارے کړے وی هغه طره | شیطانانو

مونږته هدایت کړے دے او دهغه چا پشان شو چه په زمکه کښ شیطانانو او غلطو ملګرو دسے لارے دتوحید نه بلارے کړے وی

فِی الْاَرْضِ حَيْرَانَ ۖ لَهٗۤ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗۤ اِلَى الْهُدَى

په زمکه کښ | حیران (پاتے شوے) | دهغه | ملګری دی | چه رابلی هغه | سے لارے طرف ته

او دغیر الله په درګاهونو کښ حیران او پریشان کړ ځی راکړ ځی حالانکه توحید پرست ملګری ئے سے لارے ته رابلی چه زمونږ

ائْتِنَا ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَ اُمِرْنَا

چه راشه مونږته | اووایه | بیشکه | هدایت | د الله | هم دا | هدایت دے | اوحکم شوے دے مونږته

طرف ته راځه اے دتوحید داعی دا سے کس ته دلیل پیش کړه چه د الله ور کړے شوے هدایت هغه په صحیح معنو کښے

لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ۝ وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ؕ

چه فرمانبردار ه شو | د رب | د مخلوقاتو | اوداچه | قائم کړئ تاسو | مونځ | اوویریږئ دهغه نه

هدایت دے اومونږته داحکم شوے دے چه د رب العالمین حکم ته غاړه کیږدو. اوداچه مونځ قائم کړی اود الله نه اویریږئ

وَهُوَ الَّذِیْۤ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝ وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ

اوهم هغه | ذات دے | چه دهغه طرف ته | به جمع کولے شئ تاسو | اوهم هغه دے | چا چه | پیدا کړی دی

اوهم هغه (ذات) ته به تاسو پیش کولے شئ. الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه اسمانونه او زمکه ئے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ وَيَوْمَ يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ ؕ

آسمانونه | او زمکه | په حق سره | او هغه ورځ | چه وائی به هغه | چه شه | نو هغه به شی

د حق بنکاره کولو دپاره پیدا کړی دی او هغه ورځ ئے هم پیدا کړے ده چه هغه به اووائی چه (قیامت) دراشی نو را به شی

قَوْلُهُ الْحَقُّ ؕ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِی الصُّوْرِ ؕ

خبره دهغه | ربښتیا ده | اوخاص دهغه | حکومت دے | په هغه ورځ | چه پوکے به ووهلے شی | په شپیلۍ کښ

دهغه وینا حقه ده او په کومه ورځ به چه شپیلۍ پوک وهلے شی نو هغه ورځ به بادشاهی یوازے دهغه وی

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝ وَاِذْ

هغه پوهه دے | په هر غیب | او په بنکاره | اوهغه (الله) | حکمت والا | خبردار دے | اوکله چه

هغه هر پټ او بنکاره څیز پیژنی او هغه لوئ حکمت والا پوره خبردار ذات دے. او دهغه وخت

قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّیْۤ

اووئیل | ابراهیم | پلار خپل | آزر ته | آیا نیسے ته | بتان | په خدایئ | بیشکه زه

(ذکر و اوره) کله چه ابراهیم خپل پلار آزر ته اووئیل چه ایا ته بتان خدایان (مددګاران) ګڼرے زه

اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝ وَكَذٰلِكَ نُرِیْۤ

وینم تا | او قوم ستا | په ګمراهئ | بنکاره ګڼے | او هم دغه شان | او بنودل مونږ

وینم چه ته او ستا قوم په بنکاره ګمراهئ ګڼے اخته دی او دغه شان مونږ ابراهیم ته

اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ۝

ابراهیم ته | دلائل (دحکومت) | د آسمانونو | او د زمکے | اودے دپاره چه شی هغه | د یقین کوونکو نه
د اسمانونو او د زمکے د بادشاهۍ دلیلونه اوښودل او مقصد په کښ داوو چه هغه پوره یقین کوونکو کښ شامل شی

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ

بیا هرکله | چه راخوره شوه | په ده باندے | شپه | (نو) وے لیدلو | یو ستوری | (نو) وے وئیل
نو هرکله چه شپه راخوره شوه نو یو ستوری ے اولیدلو نو وے وئیل چه آیا دا زما رب دے؟

هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ۝

دا دے | زما رب؟ | بیا کله چه | پریوتو (غائب شو) هغه | نو وے وئیل | (چه) نه خوښوم زه | پریوتونکی
بیا کله چه هغه ستوری پریوتو (ډوب شو) نو وے وئیل چه زه پتیدونکی نه خوښوم دپاره د بندګۍ کولو.

فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ

پس هرکله ے | چه اولیدله | سپوږمۍ | پریوتونکے (راختونکے) | نو وے وئیل | دا دے | زما رب؟
بیا ے چه کله پریوتونکے (ځلنده) سپوږمۍ ولیده نو وے وئیل چه آیا دا زما رب دے

فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ

بیا کله چه | پریوتله هغه | نو وے وئیل | که چرے | نه وے کړے هدایت ماته | رب زما | خامخا شوے به وم زه
خو کله چه هغه هم پریوته نو وے وئیل که چرے زما رب ماته هدایت نه وے کړے د توحید نو زه به هم

مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ۝ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ

د قوم | گمراهانو نه | بیا هرکله | چه اولیدلو هغهٔ | نمر | پریوتونکے | نو وے وئیل
په گمراهانو کښ شامل وے. بیا ے چه پریوتونکے (ځلنده) نمر اولیدو نو وے وئیل چه آیا دا دے زما رب؟ دا په ټولو کښ

هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ

دا دے | زما رب؟ | دا دے | لوے (د ټولو نه) | بیا کله چه | پریوتو هغه | نو وے وئیل | اے زما قومه!
لوے خدائے دے خو کله چه هغه هم پریوتو نو وے وئیل چه اے زما قومه! تاسو چه کوم څیزونه د الله سره شریکوئ

اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۝ اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ

بیشکه زه (خو) | بیزاره یم | د هغه څه نه | چه تاسو شریکوئ | بیشکه ما | گرځولے دے | مخ خپل
زه د هغے نه بیزاره یم. یقیناً ما خو خپل مخ (خپل ځان) هغه ذات ته گرځولے دے (تابع کړے دے)

لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِيْفًا

هغه ذات طرف ته | چه پیدا کړی ے دی | آسمانونه | او زمکه | په دے حال کښے چه کلك یم په توحید
چا چه آسمانونه او زمکه پیدا کړی دی زهٔ یو مخیزے په توحید کلك یم

وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ۭ قَالَ

او نه یم زهٔ | د مشرکانو نه | او جګړه اوکړه د هغه سره | قوم د هغه | اووئیل (هغه)
او د مشرکانو د ډلے نه نهٔ یم. او قوم ورسره جګړه شروع کړه په وحدانیت د الله کښ نو ابراهیم ورته اووئیل چه

اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ۭ وَلَآ اَخَافُ مَا

آیا جګړه کوئ تاسو ماسره | دالله په حقله | حال دا دے چه | هدایت کړے دے هغه ما ته | اونه یَریږم زه | دهغه څه نه

آیا تاسو ماسره دالله په په باره کښے جګړه کوئ حالانکه هغه ما ته سمه لار ښودلے ده اوتاسو چه دالله سره

تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّشَاۗءَ رَبِّيْ شَيْـــًٔا ۭ وَسِعَ

چه شریك کړی دی تاسو | دهغه سره | مګر | دا چه | وغواړی | رب زما | څه شیز | احاطه کړے ده

کوم شیزونه شریك کړی دی زهٔ دهغوی نه نهٔ یریږم البته زما رب چه څهٔ غواړی (نو هغه به ما ته خامخا ارسی)

رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۭ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝ وَكَيْفَ اَخَافُ

رب زما | هر شیز باندے | په علم سره | پس آیا نصیحت نه اخلئ تاسو | او څنګه به | یَریږم زه

او زما رب په علم په هر شیز باندے احاطه کړے ده، آیا بیا هم تاسو نصیحت نه اَخلئ. اوتاسو چه کوم شیزونه

مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا

دهغه چا نه | چه شریك جوړ کړی دی تاسو | اونه یریږئ تاسو | دے نه چه تاسو | شریك کړی دی | دالله سره | هغه څه

دالله سره شریك کړی دی زه به دهغے نه څنګه ویریږم حالانکه تاسو له یره پکار ده چه دالله سره داسے

لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ۭ فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ

چه نه دے رالیږلے الله | دهغے په شرکت | په تاسو باندے | څه دلیل | پس کومه یوه | ډله ددے دواړو نه

څیزونه شریکوئ چه د هغے باره کښے هغه تاسو ته څه دلیل (سند) هم نه دے رالیږلے که

اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

زیاته حقدار ده | د امن | که چرے تاسو | پوهیږئ | هغه کسان | چه ایمان ئے راوړے دے

تاسو سره څه علم وی نو دا اووایئ چه په دے دواړو ډلو کښے څوك د عذاب نه د امن زیات حقدار دی. حقیقت خو دا دے

وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمُ الْاَمْنُ

اونه ئے دے ګډوډ کړے | ایمان خپل | د ظلم سره | (نو) دغه کسان | دوی لره | امن دے

چه چا ایمان راوړو او دخپل ایمان سره ئے ظلم او شرک ګډ نکړو نو د عذاب الٰهی نه امن هم دهغوی حق دے

وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ۝ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ

او هم دوی | په سمه لاره دی | او دغه | دلیل دے زمونږ | چه ورکړے وو مونږ | ابراهیم ته

او هم هغوی په سمه لاره روان دی. او دا زمونږ هغه کامیاب دلیل وو چه مونږ ابراهیم ته

عَلٰي قَوْمِهٖ ۭ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَاۗءُ ۭ اِنَّ رَبَّكَ

په قوم دهغه باندے | اوچتوو مونږ | درجے | دچا | چه اوغواړو | بیشکه | رب ستا

دخپل قوم په مقابله کښے ورکړے وو مونږ چه دچا اوغواړو نو درجے ئے اوچتوو. یقیناً ستا رب

حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ۝ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۭ

حکمت والا | پوهه ذات دے | او ورکړے وو مونږ | هغه (ابراهیم) ته | اسحاق | او یعقوب

حکمت والا او ښه پوهه ذات دے. او مونږ ابراهیم ته اسحاق غوندے څوے او ذیعقوب پشان نمسے

كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ

تولو ته | هدایت کړے وو مونږ | او نوح ؑ ته | هدایت کړے وو مونږ | مخکښ ددے نه | او د اولاد د نوح ؑ نه
ور کړو او ددے تولو ته مو د توحید هدایت کړے وو او نوح ؑ ته مونږ ددے له مخکښ هدایت کړے وو او د هغه په اولاد

دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ

داؤد ؑ | او سلیمان ؑ | او ایوب ؑ | او یوسف ؑ | او موسیٰ ؑ | او هارون ؑ (ته هم هدایت کړے وو مونږ)
کښ داؤد ؑ، سلیمان ؑ، ایوب ؑ، یوسف ؑ، موسیٰ ؑ او هارون ؑ (ته هم مونږ هدایت د توحید کړے وو)

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۙ﴿۸۴﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى

او هم دغه شان | بدله ورکوو مونږ | نیکانو ته | او زکریا ؑ ته | او یحییٰ ؑ | او عیسیٰ ؑ ته
او هم دغه شان مونږ نیکو کوونکو ته بدله ورکوو ۔ او زکریا ؑ ، یحییٰ ؑ عیسیٰ

وَاِلْيَاسَ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۙ﴿۸۵﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ

او الیاس ؑ (ته هم هدایت کړے وو مونږ) | دا ټول | د نیکانو له وو | او اسماعیل ؑ ته | او یسع ؑ ته
او الیاس ؑ ته هم مونږ هدایت د توحید کړے وو دا ټول د کاملو نیکانو له وو او اسماعیل ؑ یسع ؑ یونس

وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴿۸۶﴾

او یونس ؑ ته | لوط ؑ ته (هم هدایت کړے وو مونږ) | او هر یوله | فضیلت ورکړے وو مونږ | په مخلوقاتو باندے
او لوط ؑ (ته هم مونږ هدایت کړے وو) او ددے ټولو ته مونږ د خپلے زمانے په خلقو فضیلت ورکړے وو

وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ

او د دوی د پلارانو نه | او د اولاد د دوی نه | او د ورنرو د دوی نه (بعضو ته هم فضیلت ورکړے وو مونږ) | او غوره کړی وو مونږ دوی
او د دوی په پلارانو نیکونو او اولاد او ورنرو کښے هم بعضو له مونږ فضیلت ورکړے وو او دا ټول مونږ غوره کړی وو

وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۸۷﴾ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ

او هدایت هم ورته کړے وو | په طرف د لارے | نیغے | دا دے | هدایت | د الله
او د نیغے لارے هدایت مو ورته کړے وو ۔ دا د الله هدایت دے چه په خپلو بندګانو کښے ئے

يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوْ اَشْرَكُوْا

چه سمه لار بنائی الله | په دے سره | چا ته | چه او غواړی | د خپلو بندګانو نه | او که چرے | شرک کړے وے دوی (هم)
چا له خو ښه شی هغه له ئے ور کوی خو که دے خلقو هم (بالفرض) شرک کړے وے

لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

نو خامخا ضائع شوی به وے | د دوی نه | هغه عمله | چه دوی | کول | همدا | هغه کسان دی
نو ټول عمله به ئے عبث برباد شوی وو دا هغه خلق دی چه

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا

چه ورکړے وو مونږ دوی نه | کتاب | او حکمت | او نبوت | پس که چرے | کفر او کړی | په دے ګڼلے توحید
مونږ ورله کتاب، حکمت او نبوت ورکړے وو نو که اوس داخلق د دے ګڼلے د توحید نه انکار او کړی نو هیڅ خبره نه ده

هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ۝۸۹

دا اهل مکه | نو یقیناً | سپارلے وه سوني | دا (کلمه د توحید) | دا سے قوم ته | چه نه وه | د دے نه | انکار کونکی

یقیناً مونږ دا (نعمت) دا سے خلقو ته سپارلے وو چه هغوی ترے نه منکر نه وو

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ قُلْ

هم دا هغه | کسان وو | چه هدایت (ورته) کړے وو | الله | نو په لاره ددوی پسے | روان شه | اووایه

هم دا هغه خلق وو چه الله ورته هدایت کړے وو نو ته هم ددوی په لار روان شه اے پیغمبره ورته اووایه

ع لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ۝۹۰

نه غواړم زه تاسو نه | په دے باندے | څه مزدوری | نه دے دا | مکر | نصیحت دے | د پاره د مخلوقاتو

چه زه تاسو نه په دے دعوت څه اجرت نه غواړم . دا خو د جهان د خلقو د پاره یو نصیحت دے .

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ

او نه دے کړے قدر دوی | د الله | لائق | قدر دهغه | کله چه | اووئیل دوی | نه دے رالیږلے

او دے کافرانو چه کله دا خبره اوکړه چه الله تعالیٰ په انسان باندے هیڅ قسمه وحی نه ده نازله کړے

اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَىْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ

الله | په هیڅ بشر باندے | څه شے (وحی) | اووایه | چا | رالیږلے وو | کتاب

نو دوی د الله صحیح قدر نه و اونکړو څنګه چه د الله حق و و ته ورته اووایه چه هغه کتاب چا نازل کړے وو کوم چه

الَّذِىْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ

هغه | چه راوړے وو | هغے لره | موسیٰ | رڼا | او هدایت | د پاره د خلقو | او کړ ځولو تاسو هغه

موسیٰ راوړے وو چه د خلقو د پاره رڼا او هدایت وو کوم چه تاسو بے ضرورته ټکړے ټکړے کړو

قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ

پاڼړے پاڼړے | ښکاره کوئ تاسو هغه بعضے پاڼړے | او پټوئ تاسو | ډیرے | اوښودلے شوی وو تاسو ته

لږ څه پکښے ښکاره کوئ او ډیر پکښے پټوئ او دهغه کتاب په ذریعه تاسو ته هغه خبرے معلومے شوے

مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ

هغه څه | چه نه پوهیدئ | تاسو (په هغے) | او نه ستاسو پلار نیکه | اووایه | (چه) الله رالیږلے دے

چه تاسو او ستاسو پلار انو نیکونو (مشرانو) ته نه وے معلومے اے پیغمبره اته ورته پخپله اووایه چه

ثُمَّ ذَرْهُمْ فِىْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ۝۹۱ وَهٰذَا كِتٰبٌ

بیا | پریږده دوی | په مشغولتیا خپله کښے | چه لوبے کوی | او دا | یو کتاب دے

هغه کتاب الله رالیږلے وو بیا دوی په خپل حال پریږده چه په خپل فضول بحث کښے مشغول وی . او دا قرآن

اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ

چه نازل کړے دے مونږ | برکت والا دے | تصدیق کوونکے دے | د هغه (کتاب) | چه مخکښے دے د ده نه

ډیر لوئے د برکت والا کتاب مونږ رالیږلے دے چه د مخکښو کتابونو تصدیق کوی

وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَالَّذِيْنَ

لودے دپارہ چه اویروے نه | مکے والا | او هغه څوك | چه چا پیره دی ددے نه | او هغه کسان

او دے دپارہ راغلے دے چه ته پرے مکے والا او خواو شا خلق اویروے او څوك چه

يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ

چه یقین لری | په آخرت | هغوی ایمان راوړی | په دے (قرآن) باندے | او هغوی | د خپل مونځ

په آخرت یقین (باور) لری هغوی په دے کتاب هم ایمان راوړی او د خپلو مونځونو هم پوره

يُحَافِظُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

حفاظت (هم) کوی | او څوك دے | زیات ظالم | دهغه چا نه | چه دروغ جوړوی | په الله باندے

خیال ساتی۔ او دهغه چا نه لوئ ظالم څوك کیدے شی چه په الله باندے دروغ تړی

كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ

دروغ | یا | وائی | چه وحی (کړے) شوے ده | ماته | او حال دا چه نه وی وحی (کړے) شوے | ده ته | د څه څیز

یا دا او وائی چه ماته وحی شوے ده حالانکه هیڅ وحی ورته نه وی راغلی

وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى

او هغه څوك | چه وائی | چه نازل (جوړ) به کړمزه | پشان د هغے | چه نازل کړی دی | الله | او که اوو ینے ته

او دا رنګ هغه څوك چه دا اووائی چه زه به هم دالله غوندے کلام نازل (جوړ) کړم. کاش! چه ته هغه وخت

اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا

کله چه وی | به ظالمان | په سختو | د مرګ کښ | او فرشتے به | اوږدونکی وی

وګورے (کله به) چه دا ظالمان د مرګ په سختو کښے راګیر وی او فرشتو به ورته لاسونه وراوږده

اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ

د لاسونو خپلو | چه راوباسئ | ساګانے (روحونه) خپل | نن به | درکولے شی تاسو ته بدله | په عذاب

کړی وی او ورته به وائی چه خپل روحونه (ساګانے) راوباسئ، نن به تاسو ته ذلت عذاب درکیدے شی

الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ

د ذلت سره | په سبب د دے | چه تاسو به | وئیلے | په الله باندے | ناحق خبرے

ځکه چه تاسو په الله باندے دروغ خبرے ترلے او دهغه د آیتونو

وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى

اوږدے وچه چه تاسو همیشه | د آیتونو دهغه نه | لوئ کوله | او یقیناً | راغلئ تاسو مونږ ته | یواځے

په مقابله کښے مو تکبر (سرکشی) کوله۔ (الله به ورته اووائی چه اوس) تاسو مونږ ته داسے یواز ے (تش لاس)

كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ

لکه څنګه | چه پیدا کړی وئ مونږ تاسو | اول | ځل | او پریخودل تاسو | هغه څه | چه درکړی وو مونږ تاسو ته

راغلی یئ لکه څنګه چه مونږ تاسو په اول ځل یواز ے پیدا کړی وئ او مونږ چه څه درکړی وو هغه مو وروستو

وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ

وروستو | د شاکانو خپلونه | اونه وینومونږ | تاسوسره | سفارشیان ستاسو | هغه

پریښودل او مونږ (لن) تاسو سره ستاسو هغه سفارشیان هم نه وینو دچا بارہ کښے چه ستاسو دا دعوی وه

زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ؕ لَقَدْ تَّقَطَّعَ

چه گمان به کولو تاسو | چه بیشکه دوی | په تاسو کښے | شریکان دی دالله | یقیناً | پریکړے شو

چه دوی په تاسو کښ دبرخے خاوندان دی (دالله شریکان دی)، حقیقت دادے چه ددوی سره ستاسو تولے رشتے دشرکی

بَيْنُكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ۝ اِنَّ

ستاسو په مینځ کښے تعلق | او ورک شول | تاسو نه | هغه څه | چه تاسو | (پرے) گمان کولو | بیشکه

محبت ختمے شوی دی او تاسو چه ددوی بارہ کښے کومے غټے دعوی دشفاعت کولے هغه درنه ورکے شوی دی

اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ؕ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ

الله | چوونکے | د دانو | او اټوکو دے | راوباسی | ژوندے | د مړی نه

یقیناً هم الله د دانو اوډز رو (ډز رغونے دپارہ) چوونکے دے او هغه دمړی نه ژوندے راوباسی

وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ۝

او راویستونکے | د مړی دے | د ژوندی نه | دادے ستاسو | الله | نو کوم خوا | اړولی شئ تاسو؟

اودژوندی نه مړی راوباسی. اے خلقو! هم داستاسو الله دے نو تاسو دے تصرفاتو په حقله کوم خوا اړولی شئ؟

فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

چوونکے دے | د صبا | اوگرځولے ده هغه | شپه | آرام والا | او نور | اوسپوږمئ

هم هغه دصبارا ایستونکے دے اوهغه شپه دآرام دپارہ پیدا کړے ده او نور (لمر) اوسپوږمئ ئے دحساب دپارہ

حُسْبَانًا ؕ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝ وَهُوَ الَّذِيْ

دپارہ دحساب | دا ده | اندازه | د زورور | او پوهه ذات | او الله | هغه ذات دے

پیدا کړی دی. دا ټول دهغه ذات اندازه ده چه دهغه منصوبه بندی هم کامل اوعلم ئے هم کامل دے

جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ لِتَهْتَدُوْا بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ

چه جوړ کړی ئے دی | ستاسو دپارہ | ستوری | چه تاسو لاربیا مومئ | په هغے سره | په تیارو | د اوچ

او الله هم هغه ذات دے چه ستاسو دپارہ ئے ستوری پیدا کړی دی چه تاسو پرے د اوچ او د سمندر

وَالْبَحْرِ ؕ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝

او د دریاب کښ | یقیناً | تفصیل سره بیان کړی دی مونږ | آیتونه | دپارہ دهغه قوم | چه پوهیږی

په تیارو کښ لارے معلومے کړئ اوپه دے شیزونو باندے دلیل نیولکو دپارہ مونږ لخپلے خپله په تفصیل سره بیان کړی دی

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ

اوهم الله | هغه ذات دے | چه پیدا ئے کړئ تاسو | د نفس | یو نه | نو بیا تاسوله یو داستوګنے ځائے دے

الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه تاسو ټول ئے دیو نفس نه پیدا کړی ئ بیا تاسوله یو داستوګنے ځائے دے

وَّمُسْتَوْدَعٌ ؕ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾

او(بل)دسپارلوځای دے | یقیناً | په تفصیل سره بیان کړی دی مونږ | آیتونه | دپاره دهغه قوم | چه پوهیږی

او بل دسپارختے. یقیناً دے څیزونو داحوالوپه باریکو باندے پوهیدونکو دپاره مونږ بنهٔ په تفصیل سره نخښے بیان کړی دی

وَهُوَ الَّذِیْۤ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ

او هم الله | هغه ذات دے | چه راوږوی | د آسمان نه | اوبه (باران) | تو راوباسو مونږ | په دے سره

او الله هغه ذات دے چه د اسمان نه ئے اوبه راوروے دی تو دهغے په ذریعه مو هر قسم

نَبَاتَ كُلِّ شَیْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ

بوتی | د هر قسم | بیا راوباسو مونږ | ددے نه | داسے شینکی | چه راوباسو | د هغے نه

بوتی راوتو کول بیامو په هغه کښے شنه نباتونه پیدا کړل چه په هغے مودَ یو بل دپاسه سوَرے دانے پیدا کړے اوپه سبب ددے

حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِیَةٌ

دانے | په یو بل سوَرے | او د قجورو نه | یعنی د کسورو د هغے نه | غونچکونه دی | نزدے نزدے

باران ئے د قجورو په کسورو کښ لاندے باندے غونچکے پیدا کړی دی او دانګورو او دَ خونه او دانارو کور باغونه ئے هم په

وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا

او باغونه | د انګورو | او خونه | او انار | د یو بل پشان

سبب ددے باران پیدا کړی دی په دے حال کښ چه د زیتون او انارو پانړے خو یو شانتے دی خو میوے ئے هم جدا جدا دی

وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ اُنْظُرُوْۤا اِلٰى ثَمَرِهٖۤ اِذَاۤ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ؕ

او د یو بل نه جدا | اوګورئ | میوے دهغے ته | کله چه | اونیسی میوه | اوپخیدو دهغے ته

کله چه دا اوئے میوے ورکوی نو دهغے میوو ته او پوخ والی ته ئے لږ په غور اوګورئ،

اِنَّ فِیْ ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۹۹﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ

بیشکه | په دے کښ | نخښے دی | دپاره دهغه قوم | چه ایمان لری | او جوړوی دوی | الله سره

یقیناً په دے څیزونو کښے ډیرے نخښے دتوحید پر تے دی دپاره دهغه قوم چه ایمان لری په خلق دالله. او خلقو جنات (پیریان)

شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِیْنَ وَبَنٰتٍۢ

شریکان | یعنی پیریان | او حال دا چه پیدا کړی دی الله دوی | او جوړوی دوی | الله لره | حُامن | او لونړه

د الله سره په خدایئ کښے شریك کړی دی حالانکه دوی هم الله پیدا کړی دی او بغیر د علم نه ئے

بِغَیْرِ عِلْمٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ بَدِیْعُ

بغیر د علم نه | پاك دے هغه | او ډیر اوچت دے | دهغه څه نه | چه دوی ئے بیانوی | ناشنا پیدا کونکے

الله له حُامن او لونړه جوړے کړی دی (حالانکه) دوی چه څه بیانوی دهغه تولو خبرونه الله پاك او اوچت دے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ

د آسمانونو | او د زمکے دے | څنګه | کیدے شی | دهغه | حُوے | حال دا دے چه نشته

هغه (الله) خو د اسمانونو او زمکے پیدا کوونکے دے دهغه حُوئے څنګه کیدے شی حالانکه ښځه ئے نشته

لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ

دهغه | ښځه | اوپیدا کړے دے هغه | هر ډیو څیز | او هغه | په هر ډیو څیز باندے

هم هغه هر څیز پیدا کړے دے او هغه په هر څه باندے پوهه دے.

عَلِیْمٌ ﴿۱۰۱﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ

پوهه دے | هم دا | الله دے | رب ستاسو | نشته | لائق دعبادت | سوا | دهغه نه | هغه پیدا کونکے

اے خلقو هم دا الله دے چه ستاسو پالونکے دے دهغه نه سوا هیڅ څوک د بندګۍ لائق نشته

كُلِّ شَیْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ وَّكِیْلٌ ﴿۱۰۲﴾

دهر یو څیز دے | نو عبادت هم دهغه کوئ | او هغه | په هر | څیز باندے | ذمه دار دے

نو یوازے دهغه عبادت کوئ او هغه د هر څیز کارساز (نګرانی کوونکے) دے.

لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ۫ وَهُوَ یُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِیْفُ

نشی راکیږولے هغه لره | نظرونه | او هغه | راکیږوی | نظرونه | او هغه دے | باریک بین

تفصیلی حقیقت دالله تعالی څوک په ستر کو نشی حاصلولے او هغه ته دهر څیز تفصیلی حقیقت معلوم دے ځکه چه هغه باریک بین

الْخَبِیْرُ ﴿۱۰۳﴾ قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآىِٕرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ اَبْصَرَ

خبردار | یقیناً | راغلی دی تاسو ته | دلیلونه | دطرفه درب ستاسونه | نو څوك چه | اوڅوك چه | اوے څرګ لے ستر کے

او خبردار دے یقیناً تاسو ته دخپل رب دطرف نه دلیلونه راغلی دی نو چاچه دده دے دلیلونو نه بصیرت حاصل کړو نو فائده ئے

فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ عَمِیَ فَعَلَیْهَا ؕ وَمَاۤ اَنَا عَلَیْكُمْ

نو فائده ئے دځان دپاره ده | او څوك چه (تړے نه) | پرونده پاتے شو | نو (تاوان) ئے هم په هغه دے | او نه یم زه | په تاسو باندے

دخپل ځان ده او دچا زړه چه دده دے دپوهنه پرونده پاتے شو نو تاوان ئے دخپل ځان دے اوزه ستاسو بیچ کونکے نه یم د عذاب نه. او هم

بِحَفِیْظٍ ﴿۱۰۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰیٰتِ وَلِیَقُوْلُوْا دَرَسْتَ

نګهبان | او هم دغه شان | بیابیا بیانوو مونږ | آیتونه | او چه اووائی دوی | لوستل کړی دی تا

دغه شان مونږ خپل آیتونه دتوحید په مختلفو طریقو سره بیانوو دے دپاره چه حجت قائم کړو په دوی دے خبره چه دوی اووائی

وَلِنُبَیِّنَهٗ لِقَوْمٍ یَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِتَّبِعْ مَاۤ اُوْحِیَ اِلَیْكَ

او چه نبه واضحه کړو مونږ دا | دپاره دهغه قوم | چه پوهیږی | روان اوسه ته | په هغه څه پسے | چه وحی ئے کړے شوے ده | تا ته

تا لوستل کړی دی دخپل چا ته اوده دپاره چه څوك پوهه لری هغوی ته واضحه بیان د قرآن او کړو اے پیغمبره تا ته چه دخپل رب

مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِیْنَ ﴿۱۰۶﴾

دطرفه درب خپل نه | نشته دے | لائق دعبادت | سوا | دهغه نه (بل څوك) | او مخ واړوه | د | مشرکانو نه

دطرف نه کومه وحی راغلے ده دهغے تابعداری کوه. دهغه نه سوا هیڅ څوک د بندګۍ لائق نشته او د مشرکانو نه مخ واړوه.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَاۤ اَشْرَكُوْا ؕ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَیْهِمْ

او که چرے | غوښتلے | الله | نو شرك به نه ووکړے دوی | او نه دے ګرځولے مونږ تا لره | په دوی باندے

که الله غوښتلے نو دوی به شرك نه وے کړے او مونږ ته په دوی باندے محافظ نه ئے مقرر کړے

حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ

نگهبان (نگران) | او نه ئے ته | په دوی باندے | ذمه وار | اوکنځل مه کوئ | هغه کسانو ته

اونه ته ددوی ذموار ئے. اے مسلمانانو اتاسو دچا دباطل خدایانو توهین او بے عزتی مه کوئ

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًۢا

چه رابلی ئے دوی | د الله نه سوا | پس (کفر) کنځل به اوکړی دوی | الله ته | د دشمنۍ دوجے نه

ځکه چه دوی به هم د ناپوهۍ اودضد دوجے نه الله ته کنځل اوکړی (په دے دنیا کښے (خو)

بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ كَذٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ۪ ثُمَّ

په ناپوهۍ سره | هم دغه شان | خائسته کړی دی مونږ هر یو | امت (ډلے) ته | عمل دهغوی | بیا

مونږ هر یو ډلے ته هم دغه شان د هغوی عمل د غیرت خائسته ښکاره کړے دے بیا به

اِلٰى رَبِّهِمْ مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۸﴾

دخپل رب طرف ته | واپسی د دوی ده | پس خبر به ورکړی دوی ته | په هغه څه | چه دوی | ئے کوی

دا ټول خپل رب ته پیش کیږی نو هغه به ئے خبر کړی چه دوی څه څه کارونه کول

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ

اوقسمونه کوی دوی | په الله باندے | پاخه | قسمونه خپل | که چرے | راشی دوی ته | څه نخښه

او دے خلقو په الله باندے ډیر غټ غټ (پاخه) قسمونه خوړلی دی چه که چرے دوی ته واقعی څه نخښه

لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ۭ وَمَا

خامخا به ایمان راوړی دوی | په هغے باندے | اووایه | اختیار د معجزو خو | د الله سره دے | او څه

(فرمائشی) معجزه راغله نو دوی به پرے خامخا ایمان راوړی. خو پیغمبره ته ورته اووایه چه ټولے نخښے دالله

يُشْعِرُكُمْ ۙ اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ وَنُقَلِّبُ

معلوم دے تاسو ته حالت ددوی | کیدے شی چه دا معجزے | کله | چه راشی دوی ته | نو دوی به ایمان راوړنه ړی | او اړوو مونږ

په قبضه (اختیار) کښے دی. او اے مسلمانانو اتاسو ته څه پته ده که چرے هغه نخښه راهم شی نو دوی بیا هم ایمان نه راوړی

اَفْـِٕدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوْا بِهٖٓ اَوَّلَ مَرَّةٍ

زړونه د دوی | او سترګے د دوی | لکه چه | ایمان نه وو راوړے دوی | په دے باندے | په اول | ځل

او مونږ به ددوی دضد او عناد په وجه ددوی زړونه او سترګے دحق نه واړوو لکه څنګه چه دوی په دے څرګنده

وَّنَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ ع

اوپریږدو مونږ دوی | په سرکشۍ خپله | سرګردانه |

نخښه (قرآن) باندے په اول ځل ایمان نه دے راوړے اوپه خپله سرکشۍ کښے به ئے اریان دریان (حیران) پریږدو

وَ لَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَ كَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى

او | که چرے | مونږ | راولیږو | دوی ته | ملائکه | او خبرے اوکړی دوی سره | مړی

او که بالفرض مونږ دوی ته فرشتے هم راولیږو او مړی ورسره خبرے هم اوکړی

وَ حَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا

او راجمع کړو مونږ | په دوی باندے | هر یو څیز | مخامخ | نو نه دی دوی | چه ایمان راوړی

او مونږ (د دوی هر غوښتلے شوے څیز) د دوی مخے ته راجمع کړو نو بیا به هم دوی ایمان نه راوړی

اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَكَذٰلِكَ

مګر | دا چه | اوغواړی | الله | لیکن | ډیر د دوی نه | جاهلان دی | او دغه شان

هنه اکه الله اوغواړے (نو بله خبره ده) لیکن په دوی کښ اکثر د جهالت (ناپوهۍ) خبرے کوی. او دغه شان

جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ

پیدا کړی دی مونږ | د هر یو نبی دپاره | دشمنان | شیطانان | د انسانانو نه | او د پیریانو نه

مونږ د هر یو پیغمبر د پاره په انسانانو او پیریانو کښ شیطانان (قسم) دشمنان پیدا کړی دی

يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُوْرًا ؕ

چه ښودنه کوی | بعضے د دوی | بعضو ته | د خائسته کړے شوو | دروغو خبرو | د پاره د دهوکه کولو

چه هغوی نورو خلقو ته د دهوکے ورکولو دپاره د ډولی کړے شوو دروغو خبرو وسوسے اچوی

وَ لَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

او که چرے | غوښتلے | رب ستا | (نو) نه به یې وکړے | دوی | د اکار | پس پریږده دوی | او هغه څه | چه دوی کوم دروغ جوړوی

او که ستا رب غوښتلے نو دوی د اکار نشو کولے نو (پس) دوی او د دوی د ځان نه جوړ کړے شوی دروغ (په خپل حال)

وَ لِتَصْغٰٓى اِلَيْهِ اَفْـِٕدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

او دے د پاره چه میلان اوکړی | دے (دروغو خبرو) ته | زړونه | د هغه خلقو | چه ایمان نه لری | په آخرت باندے

پریږده د دوی د اروغو سوسے دے د پاره چه کوم خلق په آخرت باندے یقین (ایمان) نه لری د هغوی زړونه ورته مائله شی

وَ لِيَرْضَوْهُ وَ لِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

او دے د پاره چه دوی خوښ کړی د اروغ | او دے د پاره چه اوکړی دوی | هغه څه | چه (تر اوسه پورے) کوونکی وو دوی (د هغے)

او پس د میلان نه ورباندے خو څه اله شی او بیا په هغه غلطو عملونو باندے همیشکری شروع کړی.

اَفَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْتَغِيْ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ اِلَيْكُمُ

آیا نو سوا د الله نه | ولتومزۀ | فیصله کوونکے | او حال دا چه الله | هغه ذات دے | چه راالیږلے ئے دے | تاسو ته

(دے خلقو ته اووایه چه) آیا زه د الله نه سوا بل څوک فیصله کونکی (حاکم) ولتوم حالانکه هم هغه الله تاسو ته

الْكِتٰبَ مُفَصَّلًا ؕ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ

کتاب | ښه په تفصیل سره | او هغه کسان | چه ورکړے دے مونږ هغوی ته | کتاب | پوهیږی | چه بیشکه دا (کتاب)

دا کتاب ډیر په تفصیل سره راالیږلے دے او کوم خلق ته چه مونږ آسمانی کتاب ورکړے دے هغوی په دے پوهیږی چه دا کتاب

مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ

نازل کړے شوے دے | د طرفه | د رب ستانه | په حقه | نو (پس) مه کیږه ته | د

ستا د رب د طرف نه په حقه راغلے دے نو ته په شکمنو خلقو کښ مه

الْمُمْتَرِيْنَ ۝ وَ تَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّ عَدْلًا ؕ

شك كوونكو نه | او | پوره شوے ده | خبره | د رب ستا | د رښتينوالى | او | د انصاف په لحاظ

شاملیږه. اوستا د رب خبره (كلام) په رښتينوالى او انصاف كښ كامل (پوره) دے

لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ وَاِنْ تُطِعْ

نشته هيڅ څوك بدلوونكے | دهغه د خبرو | او | هغه | ښه اوريدونكے | ښه پوهه دے | او كه | خبرے اومنے ته

هيڅ دهغه خبرے (كلام) نشى بدلولے هغه هر څه اوريدونكے او په هر څه باندے پوهه دے.

اَكْثَرَ مَنْ فِى الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

د ډيرو | دهغه چا | چه دى په زمكه كښ | (نو) گمراه (بے لارے) به كړى هغوى تا لره | د الله د لارے نه

او كه چرے ته د دنيا د اكثرو خلقو پسے روان شوے نو د الله

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَ اِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ۝

نه كوى دوى تابعدارى | مگر | د گمان | او نه دى دوى | مگر | په اټكل پسے روان دى

دلارے نه به دے واړوى دوى خو تش وهم او گمان پسے روان دى او صرف خيالى او بے دليله خبرے كوى.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ مَنْ يَّضِلُّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ وَ هُوَ

بيشكه | رب ستا | هغه | ښه پيژنى | هغه څوك | چه بے لارے كيږى (اوړى) | دهغه دلارے نه | او هغه

يقيناً ستا رب هغه څوك (هم) ښه پيژنى څوك چه د سمے لارے نه اوړيدلى دى او هغه څوك

اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝ فَكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ

ښه پيژنى | سمه لار موندونكى | پس خورئ تاسو | د هغے نه | چه اغستلے شوى وى | نوم | د الله

ورته هم ښه معلوم دى څوك چه په سمه لار روان دى. نو د هغے حلال شوى

عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ بِاٰيٰتِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ۝ وَ مَا لَكُمْ

په هغے باندے | كه چرے | ئ تاسو | په آيتونو دهغه | ايمان لرونكى | او څه (وجه) ده | تاسو لره

څاروو غوښه خورئ په كوم چه د الله نوم اغستلے شوے وى كه تاسو دهغه په آيتونو ايمان لرئ. او آخر

اَلَّا تَاْكُلُوْا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَ قَدْ

چه نه خورئ تاسو | د هغے نه | چه اغستلے شوے وى | نوم | د الله | په هغے باندے | او حال داچه | يقيناً

څه وجه ده چه تاسو د هغه څاروو غوښه نه خورئ په كوم چه د الله نوم اغستلے شوى وى

فَصَّلَ لَكُمْ مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ اِلَّا مَا

په تفصيل سره بيان كړى دى الله | تاسو ته | هغه څه | چه حرام كړى ئے دى | په تاسو باندے | سوا د هغے نه

حالانكه الله چه په تاسو څه حرام كړى دى هغه ئے درته په تفصيل سره بيان كړى دى هاں كه تاسو ورته

اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ

چه مجبوره کړے شئ تاسو | هغے ته | اوبیشکه | ډیر خلق | گمراه کوی (خلقو لره) | په خواهشاتو خپلو

مجبوره شئ (نو هیڅ حرج نشته) او یقیناً ډیر خلق د خپلو خواهشاتو په وجه بغیر د علم (دلیل نه) نور و خلقو لره

بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ﴿١١٩﴾ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ

بغیر د علم نه | بیشکه | رب ستا | هغه | پته پیژنی | د حد نه اوړیدونکی | او پریږدئ | ښکاره | گناه

گمراه کوی بیشکه ستا رب د حد نه اوړیدونکی پته پیژنی ـ او تاسو ښکاره او پته هر قسم گناه پریږدئ

وَ بَاطِنَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ سَيُجْزَوْنَ

او | پته گناه | بیشکه | هغه خلق | چه کوی | گناه | ډیر زر به ورته بدله ورکړے شی

یقیناً کوم خلق چه گناهونه کوی هغوی ته به ډیر

بِمَا كَانُوْا يَقْتَرِفُوْنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ

په سبب د هغے گناهونو | چه دوی کول | اومه خورئ تاسو | د هغے نه | چه نه وی اغستلے شوے | نوم | د الله

زر د خپلو کړو سزا ملاو شی او په کوم څاروی چه د الله نوم نه وی اغستلے شوے

عَلَيْهِ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ ؕ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى

په هغے باندے | اوبیشکه دا | خامخا گناه (فسق) ده | او بیشکه | شیطانان | خامخا وسوسے اچوی

هغه مه خورئ او دا سے کول ډیره سخته گناه ده او یقیناً شیطانان خپلو ملگرو

اَوْلِيٰٓئِهِمْ لِيُجَادِلُوْكُمْ ۚ وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ

خپلو ملگرو ته | چه جگړه اوکړی دوی تاسو سره | اوکه چرے | خبره اومنله تاسو د دوی | نو بیشکه ئ به تاسو

ته (په زړونو کښ) وسوسے اچوی چه تاسو سره جگړے اوکړی اوکه تاسو د دوی خبره اومنله نو یقیناً تاسو به

لَمُشْرِكُوْنَ ﴿١٢١﴾ اَوَ مَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا ع ١٥

مشرکان | آیا هغه څوک | چه وی | مړ | پس ژوندے کړو مونږ هغه | او ورکړو مونږ | هغه ته | رڼا

هم مشرکان شئ . آیا هغه څوک چه جاهل یا مشرک وی او مونږ ئے راژوندی کړو په خپل معرفتِ الٰهی

يَّمْشِيْ بِهٖ فِى النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِى الظُّلُمٰتِ

چه گرځی | په هغے سره | په خلقو کښ | په شان د هغه چا کیدے شی | چه وی په (داسے) تیارو کښ

او توحید سره اوورکړو مونږ د ته رڼا د قرآن چه د هغے په دعوت سره گرځی په خلقو کښ، په شان د هغه چا کیدے شی چه

لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا

چه نه وی | وتونکے | د هغے نه | د غه شان | ښائسته کړے شوی دی | کافرانو ته | هغه (عملونه)

په تیاره د کفر او شرک کښ همیشه همیشه پروت وی. او څنگه چه د غه مومن ته ایمان ښائسته کړے شوے. د غه شان

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٢﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِىْ كُلِّ قَرْيَةٍ

چه دوی ئے | کوی | او | د غه شان | گرځولی دی مونږ | په هر یو کلی کښ

کافرانو ته دهغوی بدعملونه ښائسته (ښکاره) کړے شوی دی. او هم د غسے همیشه مونږ په هر کلی کښ

أَكٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا فِيهَا ۭ وَمَا يَمْكُرُونَ

غټان (مشران) | مجرمان دهغے (کلی) | دے دپاره چه مکر او کړی دوی | په هغے کلی کښ | او دوی مکر (چل) نه کوی

دهغے ځائے غټ خلق مجرمان جوړ کړی دی نو انجام ئے داوی چه دوی د مسلمانانو خلاف په دغه کلی کښ ساز شونه

إِلَّا بِأَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾ وَإِذَا جَآءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا

مکر | خپل ځانونو سره | او دوی نه پوهیږی | او کله چه | راشی دوی ته | څه نخښه (معجزه) | (نو) وائی دوی

شروع کړی او په حقیقت کښ دوی دا ساز شونه د خپل ځان په خلاف کوی خو دوی ته احساس نشته. او کله چه

لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ أُوْتِيَ

هیڅ کله ایمان نه راوړو مونږ | تر دے | چه را کړے شی مونږ ته | پشان دهغه څهٔ | چه ورکړے شوی دی

دوی ته څه نخښه (معجزه) راشی نو دوی وائی چه مونږ تر هغه وخته پورے ایمان نه راوړو تر څو چه مونږ ته په خپله

رُسُلُ اللّٰهِ ۘ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ ۭ سَيُصِيبُ

پیغمبران د الله ته | الله | ښه پوهه دے | په هغه ځائے | چه اړدی | پیغام خپل (په هغے کښ) | ډیر زر به اورسیږی

هغه شان نخښے (معجزے) را نکړے شی لکه څنګه چه د الله رسولانو ته ورکړے شوی دی حالانکه الله تعالی

الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ

هغه کسانو ته | چه جرمونه کړے دے | سپکوالے | په نزد د الله | او عذاب | ډیر سخت

ښه پوهیږی چه څوک خپل پیغمبر جوړ کړی مجرمانو ته به د خپلو مکرونو

بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ

په دے وجه | چه دوی | مکرونه (چلونه) کول | پس هغه څوک | چه اوغواړی | الله | چه هدایت او کړی هغه ته

په وجه ډیر زر د الله د طرف نه ذلت او سخت عذاب ورسیږی. حقیقت دا دے چه الله دچا د هدایت اراده وکړی

يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ

نو پرانزی | سینه دهغه | اسلام ته | او هغه څوک | چه اوغواړی الله | چه گمراه ئے کړی

د هغه سینه اسلام ته پرانیزی او دچا چه د گمراه کولو اراده او کړی نو د هغه سینه داسے لنډه تنګه کړی

يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ

نو اوگرځوی | سینه د هغه | تنګه | ډیره تنګه (غصے والا) | گویا چه | خیژی هغه

(چه ایمان راوړل ورته داسے مشکل شی) لکه چه آسمان ته ډیر په گرانه خیژی

فِي السَّمَآءِ ۭ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ

آسمان ته | دغه شان | اړدی (مقرروی) | الله | پلیتی (ناپاکی) | په هغه خلقو

هم دغه شان الله تعالی د کفر گندګی (ناپاکی) په هغه چا راولی (مسلط کوی) څوک

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢٥﴾ وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ۭ قَدْ فَصَّلْنَا

چه ایمان نه راوړی | او دا ده | لار | د رب ستا | نیغه | یقیناً | په تفصیل سره بیان کړی دی مونږ

چه ایمان نه راوړی. او دا (اسلام) ستا د رب (ښودلے شوے) نیغه لار ده ته. او مونږ خپلے نخښے ښه په تفصیل

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ

مونږ آیتون | دپاره دهغه قوم | چه نصیحت اخلی (منی) | د دوی دپاره | کور | دسلامتیا دے | په نزد

سره هغه قوم ته بیان کړی دی چه نصیحت قبلوی۔ دوی دپاره دخپل پروردګار سره د سلامتیا کور دے

رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٧﴾

درب خپل | او الله | مددګار (دوست) ددوی دے | په سبب دهغے | چه دوی همیشه | کوم عملونه کول

او د دوی د عملونو په وجه الله د دوی مددګار او ملګرے دے.

وَ يَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ

اوپه هغه ورځ | چه راجمع به کړی الله دوی | ټول | اے ډلے | دپیریانو | یقینا

اوهغه ورځ یاده کړه په کومه ورځ به چه الله تعالی دا ټول راجمع کړی اوورته به فرمائی (چه) اے دپیریانو ډلے

اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا

تاسو ډیر گمراه کړی دی | د انسانانو نه | او اوبه وائی | دوستان ددوی | د انسانانو نه | اے ربه زمونږ

تاسو خو د انسانانو نه ډیر خلق گمراه کړی وو او په انسانانو کښی به دپیریانو ملګری اووائی چه اے زمونږ ربه

اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّ بَلَغْنَآ اَجَلَنَا الَّذِيْٓ اَجَّلْتَ

فائده اغستله ده | بعضو زمونږ | د بعضو نه | اورسیدلی یو مونږ | نیټے خپلے ته | هغه (نیټه) | چه مقرر کړے وه تا

مونږ دیو بل نه څه فائده اغستے دی او (اوس) هغه نیټے ته راورسیدو کومه چه راله تا مقرر کړے وه

لَنَا ؕ قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا مَا

مونږ لره | اوبه وائی الله | اُور | ځائے دے ستاسو | همیشه به یئ | په دے کښ | مګر | هغه چه

الله به ورته اووائی چه ځئ ستاسو د ټولو ځائے دوزخ دے چه همیشه به پکښ اوسیږئ مګر هغه مومن ګناهګار

شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿١٢٨﴾ وَ كَذٰلِكَ

اوغواړی | الله | بیشکه | رب ستا | ډیر حکمت والا | زیات پوهه دے | او دغه شان

چه دالله خوښ شی (نومعاف به ئے کړی) یقینا ستارب ډیر حکمت والا ډیر پوهه ذات دے۔ او همدغسے

نُوَلِّيْ بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿١٢٩﴾ ع ٨ ١٣

ملګری کوو مونږ | بعضے | ظالمان | د بعضو | په سبب دهغه عملونو | چه دوی ئے کوی

مونږ ظالمان د خپلو بدو عملونو په وجه د یو بل ملګری کوو (د حق پرستو په مقابله کښی)

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ

اے ډلے | دپیریانو | او انسانانو | آیا نه وو | راغلی تاسو ته | پیغمبران | ستاسونه

(دوی ته به اووئیلے شی) اے دپیریانو او انسانانو ډلو آیا تاسو ته هم د ستاسو نه پیغمبران نه وو راغلی؟

يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ

چه بیانول ئے | تاسو ته | آیتونه زما | او یرول ئے تاسو | د ملاقات | د ورځے ستاسونه

چه زما آیتونه ئے درته بیانول (اورول) او ددے (قیامت د) ورځے د ملاقات نه ئے تاسو یرولئ

هٰذَا ؕ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ

چه دادہ | اوبه وائی دوی | گواهی کوو مونږ | په ځانونو خپلو | اوپه دهوکه کښ اچولی ووودوی لره | ژوندد

دوی به او وائی چه نن مونږ په خپل ځان پخپله گواهی کوو (چه پیغمبر راغلے وو)، خو (په حقیقت کښ) دوی لره

الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ۝

دنیوی | اوگواهی به اوکړی دوی | په ځانونو خپلو | چه بیشکه دوی | وو | کافران

ددنیا ژوندد په دهوکه کښ غورزولی وو او (په دغه ورځ به) پخپله په ځان اقرار (گواهی) اوکړی چه دوی کافران وو۔

ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ

داځکه | چه | نه دے | رب ستا | هلاکونکے | د کلو | په سبب د ظلم

د پیغمبر انو دا سلسله ځکه ده چه ستا رب په سبب د ظلم سره د خلقو کلی نه تباه کوی په دا سے حالت کښ

وَّ اَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ۝ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ

اوحال داچه | اوسیدونکی دهغے | بے خبره وی | اودهر چا دپاره | درجے دی | دهغه عمل په وجه | چه دوی کړی دی

چه هغوی بے خبره وی د دعوت د رسولانو نه۔ اوهر چا ته به د خپل عمل مطابق درجے ورکولے شی

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ

او نه دے | رب ستا | بے خبره | دهغه عمل نه | چه دوی ئے کوی | او رب ستا | غنی (بے نیازه) دے

اوستا رب د دوی د عملونو نه ناخبره نه دے۔ او ستا رب غنی (بے نیازه) دے

ذُو الرَّحْمَةِ ؕ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ

د رحمت والا دے | که چرے | اوغواړی هغه | (نو) لرے به کړی تاسو | او نائبین به جوړ کړی

د رحمتونو خاوند دے که هغه اوغواړی نو تاسو به ختم کړی او ستاسو

مِنْۢ بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ ذُرِّيَّةِ

ستاسو نه پس | هغه څوك | چه اوئے غواړی هغه | لکه څنګه چه | هغه پیدا کړی ئے تاسو | د اولاد

نه پس چه څوك ئے خوښ شی هغوی به ستاسو په ځائے نائبان کړی لکه څنګه چه ئے تاسو

قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۝ اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ اَنْتُمْ

د قوم | بل نه | بیشکه | هغه څیز | چه وعدے کیږی تاسو سره | خامخا راتلونکے دے | او نه ئے تاسو

دبل قوم دنسل نه پیدا کړی ئے۔ تاسو سره چه د کوم څیز وعده شوے ده هغه یقینا راتلونکے دے او تاسو الله لره

بِمُعْجِزِيْنَ ۝ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ

عاجزه کوونکی | اووایه | اے قومه زما | عمل کوئ | په طریقه. خپله | بیشکه زه (هم) عمل کوونکے یم

عاجزه کولے نه شئ. اے پیغمبره دوی ته اووایه چه اے زما قومه اپه خپله طریقه عمل کوئ اوزه هم په خپله طریقه عمل کوم

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ

پس ډیر زر به | وپیژنئ تاسو | هغه څوك | چه وی به | هغه له | (نبه) انجام | د آخرت | بیشکه

ډیر زر به تاسو ته معلومه شی چه د آخرت نبه انجام د چا دپاره ده او یقینا ظالمان هیڅرے خلاصیدونکے (کامیابیدونکے) نشی

لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ

خلاص(کامیاب)به نشی | ظالمان | اومقرر کړے دهدوی | دپاره دالله | دهغه څه نه | چه پیدا کړی دی هغه | دفصل

او الله تعالی چه کوم فصلونه او څاروی پیدا کړی دوی په هغه کښ د الله

وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا

او د څاروو نه | یوه حصّه | نووائی | چه دا(خو) | د الله ده | په گمان ددوی کښ | او دا ده

بس یوه حصه مقرر کړے ده(او) په خپل خیال (بغیر دقدر شرعی نه) دا وائی چه دا حصه د الله ده او دا

لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ

زمونږ د شریکانو | نوهغه برخه | چه وی | د شریکانو ددوی | نو نه رسی هغه | الله ته

زمونږ د معبودانو ده نو بیا کومه حصه چه د دوی د معبودانو وی هغه هیڅرے الله ته نه رسی

وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ۭ سَآءَ

اوهغه برخه | چه وی | د الله | نو هغه | رسی | شریکانو ددوی ته | ډیره بده ده

او کومه چه دالله وی نو هغه د دوی معبودانو ته رسی(یعنی دالله په حصه دالله نومر نه اخلی اود باباگانو په هغے

مَا يَحْكُمُوْنَ ۝ وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ

هغه | چه دوی ئے فیصله کوی | او دغه شان | خائسته کړی دی | ډیرو | مشرکانو ته

دهغوی نومونه اخلی) څومره خرابے فیصلے دوی کوی۔ او دغه شان ډیرو مشرکانو ته دهغوی (جوړ کړی)

قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ وَلِيَلْبِسُوْا

وژل | د اولاد خپل | ددوی شریکانو | دے دپاره چه هلاک کړی دوی لره | اوچه گډوډ کړی

شریکانو خپل اولاد وژل خائسته ښکاره کړی دی چه برباد اوتباه ئے کړی

عَلَيْهِمْ دِيْنَهُمْ ۭ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ

په دوی باندے | دین خپل | اوکه چرے | غوښتلے | الله | (نو) نه به ووکړے دوی دا سے کار

اوخپل دین پرے گډ وډ کړی اوکه چرے الله غوښتلے بیخ کول ددوی نو دوی دا کار نه شو کولے

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ

پس پریږده دوی | اوهغه څه | چه دوی ئے دروغ جوړوی | اووائی دوی | دا | څاروی

نودوی پریږده چه خپلو دروغو کښ پراته وی۔ اودا هم وائی چه په دے څاروو او فصلونو باندے

وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ

او فصل | منع دی | نه به خوری دا | مگر | هغه څوک | چه اوغواړو مونږ | (دا)په گمان ددوی کښ

پابندی لګیدلے ده اوخیال (گمان) ئے دادے چه دا به صرف هغه څوک خوری چه زمونږ خوښه وی

وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ

او(څه نور) څاروی دی | چه حرام کړے شوی دی | دهغوی شاگانے | او(څه نور) څاروی دی | چه نه اخلی دوی

او څه نور څاروی هم دا سے شته چه په هغے باندے ئے سورلی او بارونه منع کړی دی او څه څاروی دا سے دی

اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ

نوم | د الله | په هغے باندے | دوے دروغ جوړولونه | په هغه (الله) باندے | ډیرزر به الله سزا ورکړی دوی ته

چه په هغے د الله نوم نه اخلی دا ټول صرف په الله باندے دروغ ترړی او الله تعالی به ورله ډیر زر

بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ وَقَالُوْا مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ

په سبب دے | چه دوی به | دروغ جوړول | اووائی دوی | هغه څهٔ | چه دی په خیټو | د دے | څاروو کښ

د دروغو ترلو سزا ورکړی. او دوی (داهم) وائی چه د دے څاروو په خیټه کښ چه کوم بچی دی هغه صرف

خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَ مُحَرَّمٌ عَلٰٓى اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ

هغه خاص دی | زمونږ د سړو دپاره | او حرام کړے شوی دی هغه | په ښځو زمونږ | او که چرے | وی هغه (بچے)

زمونږ د سړو د پاره دی او زمونږ په زنانو باندے حرام دی او که چرے هغه بچے

مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ وَصْفَهُمْ ؕ اِنَّهٗ

مړ | نو بیا دوی | په هغه کښ | شریك دی | ډیرزر به الله سزا ورکړی دوی ته | د خبرو د دوی | بیشکه الله

مړ وی نو بیا پکښ ټول شریکان وی الله تعالی به ډیر زر دوی ته د دوی د غلط بیان سزا ورکړی یقیناً هغه

حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ۝ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ سَفَهًا

لوئی حکمت والا | ښه پوهه دے | یقیناً | تباه شول | هغه خلق | چه وژلے دی | خپل اولاد | په بیوقوفۍ سره

د حکمت او د علم مالك دے ۔ حقیقت دا دے چه هغه خلق په تاوان (نقصان) کښ دی کومو چه د جهالت

بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً

بے د پوهے نه | او حرام کړے دی | هغه رزق | چه ورکړے دے دوی ته | الله | په وجه د دروغ ترلو

او نا پوهۍ په وجه خپل بچی وژلی دی او کومه روزی (رزق) چه الله ورکړے دے هغے ته په خپل ځان حرام کړے دے

عَلَى اللّٰهِ ؕ قَدْ ضَلُّوْا وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝ ع ۝ وَهُوَ الَّذِيْٓ

په الله باندے | یقیناً | گمراه شول دوی | او نه دی دوی | سمه لار موندونکی | او الله | هغه ذات دے

دا ټول صرف په الله دروغ ترلی دی د هغه خلق یقیناً گمراه شوی دی او لار د هدایت ترینه ورکه شوے ده. او الله تعالی هغه ذات دے چه

اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ

چه پیدا کړی دی | باغونه | سپرولو والا | او چه نه دی سپرولو والا | او کجورے | او فصلونه

باغونه پیدا کړی دی چه څه (باغونه) پکښ په زمکه غوړیدلی دی او څه پکښ په خپلو پښو ولاړ دی او د کجورے او نورو

مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ

چه مختلف دی | میوے دهغے | او خونه | او انار | په شکل کښ یوشان دی | اونه دی یوشان په میوه کښ

فصلونه چه میوے ئے مختلف قسم دی او زیتون او انار او نور چه دیوبل سره په شکل صورت کښ ملاؤ هم دی او په میوو او خوند

كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَ اٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ

خورئ | میوے دے | کله چه | میوه اونیسی | او ورکوئ | حق دهغے | په ورځ | د ریبلو دهغے

کښ مختلف هم. کله چه دا اونیسی نو تاسو دهغے میوے خورئ او کله چه د ریبلو ورځ راشی نو دے (شرعی) حق ادا کوئ

وَلَا تُسْرِفُوْا ط اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ۙ﴿١٤١﴾ وَ مِنَ الْاَنْعَامِ

اودحد نه مه اوړئ | بیشکه هغه | نه خوښوی | زیاتے کوونکی | او (پیدا کړی ئے دی) د څاروونه

او اِسراف (فضول خرچی) مه کوئ یقیناً الله فضول خرچه خلق نه خوښوی. اوپه څاروو کښ الله هغه څاروی

حَمُوْلَةً وَّ فَرْشًا ط كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا

څه بار اوړونکی | اوڅه بار نه اوړونکی | خوړئ | دهغه څه نه | چه درکړی دی تاسوته | الله | او مه ځئ تاسو

هم پیدا کړی دی چه بار اوړی اوهغه هم چه دپست قد والا دی اوبار نه اوړی. الله چه درله کوم حلال رزق درکړے دے

خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ط اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۙ﴿١٤٢﴾ ثَمٰنِيَةَ

په قدمونو | د شیطان پسے | بیشکه هغه | ستاسو | دشمن دے | ښکاره | (پیدا کړی دی الله) اته

هغه خوړئ اودهغے په حرامولو کښ دشیطان په قدمونو پسے مه ځئ یقین اوسائ چه هغه ستاسو ښکاره دشمن دے. په څاروو کښ الله

اَزْوَاجٍ ج مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ط قُلْ

جوړے | د کهو نه | دوه | او د بیزو نه | دوه | اووایه

اته قسمه پیدا کړی دی د کهو نه دوه (نر او ماده) او د چیلو نه دوه. اے پیغمبره! دوی نه تپوس وکړه

ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ

آیا (دا) دواړه نران | حرام کړی دی الله | یا | دواړه ښځے | یا هغه څه | چه مشتمل دی | په هغے باندے

چه آیا الله تعالیٰ دا دواړه نران کړل اوپیس حرام کړی دی یا دواړه مادے کهڑه او بیزه. او یا هغه بچے

اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ط نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۙ﴿١٤٣﴾

رحمونه | ددے دواړو ښځو | خبر را کړئ ماته | په څه علم سره | که ئے تاسو | رشتینی

چه ددواړه قسمه مادوپه کیڼه کښ پروت دی که تاسو رشتینی ئئ نو ماته په علم دَوحی سره سَم سَم اوښائ

وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ط قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ

او د اوښانو نه | دوه | او د غویانونه | دوه | اووایه | آیا (دا) دوه نران

اوداوښانونه ئے دوه (قسمه) اودغوایانونه ئے جوړئ پیدا کړی دی اے پیغمبره اورته اووایه چه آیا الله دا دواړه نران

حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ

حرام کړی دی الله | آیا | (دا) دوه ښځے | یا هغه څه | چه مشتمل دی | په هغے باندے | رحمونه

اوښ اوغوے حرام کړی دی او که دواړه ښځے یا هغه بچے چه د دواړه قسمه مادوپه کیڼه کښ پروت دے

الْاُنْثَيَيْنِ ط اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ج

ددے دوؤ ښځو | آیا | وئ تاسو | گواهان (حاضر) | کله چه | حکم کولو تاسوته | الله | د دے

آیا تاسو هغه وخت کښ موجود وئ کله چه الله تاسوته ددے حکم درکړے وو؟

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ

پس څوك دے | دیر ظالم | دهغه چا نه | چه دروغ تړی | په الله باندے | دروغ | دے دپاره چه گمراه کړی | خلق

نو دهغه چا نه لوئے ظالم څوك کیدے شی چه په الله تعالیٰ باندے دروغ تړی چه خلق پرے د علم نه بغیر

بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ قُلْ

بے د پوهے نه | بیشکه | الله | هدایت نه کوی | قوم | ظالمانو ته | اووایه

(د جهالت په وجه سره) گمراه کړی ـ حقیقت دا دے چه الله تعالی ظالمانو ته لار نه ښائی ـ اے پیغمبره!

لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ

نه مومم زهٔ | په هغه څهٔ کښ | چه وحی نے کړے شوے ده | ماته | حرام کړے شوے | په خوړونکی باندے

دوی ته اووایه چه ماته کومه وحی شوے ده په هغے کښ زهٔ څه داسے څیز دهغه څیزونو نه چه تاسوئے حرام کنړی

يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ

چه خوری هغے لره | مګر | چه وی هغه | مرداره | یا | وینه | بهیولے شوے | یا | غوښه

نهٔ مومم چه په یو خوړونکی د هغے خوراك حرام وی سوا د دے نه چه هغه مرداره وی یا بهیدونکی وینه وی یا

خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ

د خنزیر | پس بیشکه دا | پلیت (ناپاك) دی | یا وی یو شئ | ناجائزه | چه اغستلے شوے وی

د خنزیر غوښه وی (نو دا حرام دی) ځکه چه دا ناپاك دی یا دا سے ناجائز څاروی (ویستونکے دایمان نه) وی چه په هغے باندے

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ

نوم د غیر الله | په هغے | پس څوك | چه مجبوره (کړے) شی | چه نه نافرمانی کوونکی وی | اونه زیاتے کوونکے وی

د غیر الله نوم اغستلے شوے وی البته که څوك دے څیزونو ته مجبوره (محتاج) شی او په بل باندے زیاتے

فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۹﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا

پس بیشکه | رب ستا | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | او په هغه کسانو باندے | چه یهودیان دی | حرام کړی وو مونږ

کوونکے هم نهٔ وی او د حد شرعی نه هم نه اوړی نو یقیناً ستا رب ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے ـ او په یهودیانو باندے

كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ

هر یو | نوکونو والا څیز | او د غوایانو نه | او د کنډو (بیزو) نه | حرام کړی وو مونږ | په دوی باندے

مـ ـ هـ یو د نوك والا څناور حرام کړے وو (لکه شتر مرغ، بطخه اوښ) او د غواګانو او د کنډو بیزو

شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ

واز ے د دواړو | سوا د هغے نه | چه پورته کړے وی | شاګانو د هغوی | یا | کولمو | یا

نه مو پرے واز که حرام کړے وه سوا د هغے نه چه کومه واز که شا یا کولمو

مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ؕ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۫

هغه | چه یو ځای وی | د هډوکی سره | دا | بدله ورکړے وه مونږ دوی ته | په وجه د سرکشئ د دوی

پورے لګیدلے وی یا په هډوکو پورے لګیدلے وی. دا مونږ دوی ته د خپلے سرکشئ سزا ورکړے وه او یقیناً مونږ شتونی یو

وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۱۹﴾ فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ رَّبُّكُمْ

او | بیشکه مونږ | خامخا ریښتونی یو | پس که چرے | دروغژن کنړی دوی تا | نو اووایه | (چه) ستاسو رب

(چه دا څیزونه صرف په یهودو حرام وو او په دین ابراهیمی کښ حرام نه ؤ). بیا هم که دوی تا دروغژن کنړی نو ورته اووایه چه

ذُوْ رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُهٗ عَنِ الْقَوْمِ

د فراخه رحمت والا دے | او نه شی | واپس کولے | دهغه عذاب | د قوم

ستاسورب دډیر فراخه رحمت مالك هم دے لیکن قهر ئے هم ډیر دے بیاگورے دهغه عذاب دمجرمانو خلقونه

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٤٧﴾ سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا لَوْ شَآءَ اللّٰهُ

مجرمانو نه | زرده چه اوبه وائی | هغه خلق | چه شرك ئے کړے دے | که چرے | غوښتلے | الله

نشی روستو کیدے. مشرکان به (ستا په جواب کښ) اووائی که الله غوښتلے (نو) نه به مونږ

مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ۭ كَذٰلِكَ

(نو) شرك به نه وو کړے مونږ | او نه | پلاران و زمونږ | او نه به وو حرام کړے مونږ | هیڅ شیز | (هم) دغه شان

شرك کړے وے او نه زمونږ پلاران یکه او نه به مونږ څه حلال شیز حرام کړے وے. ددوی نه مخکښ

كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ۭ قُلْ هَلْ

نسبت دروغ کړے وو | هغه کسانو | چه مخکښ وو ددوی نه | تر دے | چه اوڅکلو هغوی | عذاب زمونږ | اووایه | آیا (څته)

خلقو هم دغه شان (پیغمبران) دروغژن کنړلی وو تر دے چه زمونږ دعذاب مزه ئے اوڅکله. اے پیغمبره اورته اووایه

عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ۭ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ

تاسو سره | څه پوهه | نو (پس) رابنکاره کړئ هغه | مونږ ته | تابعداری نه کوئ تاسو | مکر | د گمان

چه آیا تاسو سره څه دلیل شته چه مونږ ته ئے اوښائے تاسو خو تش په گمان پسے روان یئ

وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَخْرُصُوْنَ ﴿١٤٨﴾ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۚ

او نه یئ تاسو | مکر | په توك كارونه كوئ | اووایه | پس خاص الله لره دے | دلیل | رسیدونکی (کمال ته)

او غلطے اندازے لګوئ. اے پیغمبره ورته اووایه چه دا سے پوره (پوخ، مضبوط) دلیل خو د الله تعالی دے

فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٤٩﴾ قُلْ هَلُمَّ

پس که چرے | غوښتلے الله | نو خامخا هدایت به ئے کړے وو تاسو | ټولو ته | اووایه | راولئ

او که الله تعالی غوښتلے نو تاسو ټولو ته به ئے سمه لار ښودلے وه۔ اے پیغمبره دوی ته اووایه چه

شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ هٰذَا ۚ فَاِنْ

عالمان خپل | هغه کسان | چه گواهی ورکړی | چه بیشکه الله | حرام کړی دی | دا | پس که چرے

خپل گواهان خو مونږ راولئ چه بیان ورکړی چه دا څیزونه الله حرام کړی دی بیا که دوی بے دلیله

شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ

گواهی اوکړه دوی | نوته مه کوه گواهی | ددوی سره | اوته مه کوه تابعداری | د خواهشاتو | دهغه خلقو

گواهی ورکړه نو ته ورسره په گواهئ کښ مه شریکیږه او دهغه خلقو په خواهشاتو پسے مه څه کوم چه

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ

چه دوغ ګنړی | آیتونه زمونږ | او دهغه خلقو | چه ایمان نه لری | په آخرت | او دوی

زمونږ آیتونه دروغ ګنړی او په آخرت باندے ایمان نه لری او د خپل رب سره (په خدائ کښ)

بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝ قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ

دخپل رب سره | (نور خلق) برابروی | اووایه | راشئ | چه اولولم زهٔ | هغه څه | چه حرام کړی دی | رب ستاسو

نور خلق برابر گڼری. اے پیغمبره ادوی ته اووایه چه راشئ چه زهٔ تاسو ته بیان کړم چه ستاسو رب

عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ

په تاسو باندے | چه مهٔ شریکوئ تاسو | دهغه سره | هیڅ شیز | او د مور او پلار سره | احسان کوئ

په تاسو باندے څه څه حرام کړی دی هغه دادی چه دالله سره هیڅ شریك مه جوړوئ او د مور او د پلار سره احسان کوئ

وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَ اِيَّاهُمْ ۚ

او مه وژئ | اولاد خپل | د وجې د لوړے نه | مونږ | رزق درکوو تاسوته | او دوی ته

او د لوګے (غریبئ) د یَرے خپل بچی مه وژئ مونږ تاسو ته هم روزی درکوو او دوی ته هم

وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ

او مه نزدے کیږئ | بدو کارونو (بے حیائئ) ته | هغه | چه ښکاره وی | د دے نه | او هغه | چه پټ وی

او د بے حیائئ کارونو (خبرو) ته ورنزدے کیږئ هم مهٔ ـ ښکاره بے حیائئ وی او که پټه

وَ لَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكُمْ

او مه وژئ | نفس | هغه | چه حرام کړے دے | الله | مگر | په حقه | هم دا

اویو نفس چه الله ورله حرمت ورکړے دے هغه په ناحقه مهٔ وژئ ـ دا هغه خبرے دی چه الله ئے

وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝ وَلَا تَقْرَبُوْا

پوخ حکم درکوی الله تاسوته | پدے سره | دے دپاره چه تاسو | د عقل نه کار واخلئ | او مهٔ نزدے کیږئ

تاسوته وصیت (تاکید) کوی دے دپاره چه تاسو د عقل نه کار واخلئ ـ او یتیم چه ترڅو پورے خوانئ ته

مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ

مال | د یتیم ته | مگر | په هغه طریقه | چه هغه | زیاته غوره وی | تر دے | چه ورسیږی هغه | خپلے خوانئ ته

نه وی رسیدلے تر هغے پورے دهغه مال ته ورنزدے هم نشئ مگر په داسے طریقه چه هغه دهغه په حق کښ بهتره وی

وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا

او پوره ورکوئ | پیمانه | او تول | په انصاف سره | مونږ تکلیف نه ورکوو | هیڅ کس ته

او ناپ تول په انصاف سره پوره پوره کوئ . الله چا ته هم دخپل وس نه زیات تکلیف نه ورکوی . او کله هم چه

اِلَّا وُسْعَهَا ۚ وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ

مگر | مطابق د وس دهغه | او کله چه | څه خبره کوئ تاسو | نو (په) انصاف (سره) کوئ | اگر که وی هغه

څه خبره د شهادت یا فیصلے کوئ نو د انصاف نه کار اخلئ اگر چه معامله د قریبی رشته دارئ وی نه وی او د الله تعالی سره

ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ؕ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ

رشته دار | او وعده د الله | پوره کړئ | دا | پوخ حکم کوی الله تاسوته | پدے سره | چه تاسو

خپلے کړے وعدے پوره کړئ (اے خلقو) دا هم هغه خبرے دی چه الله ئے تاسوته تاکیدی حکم کوی دے دپاره چه

تَذَكَّرُوْنَ ۝ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا

نصیحت واخلئ | اوبے شکه | دا (قرآن) | زما لار ده | نیغه | نوروان شئ هم په دے باندے | او مه ځئ

تاسو نصحیت واخلئ۔ اوا مے پیغمبره ا داورته هم اووایه (چه) دا زما نیغه لار ده نو دے پسے روان شئ او په نورو لارو پسے

السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۭ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ

په نورو لارو | گنی تس نس به کړی | تاسو | د لارے د الله نه | دا | پوخ حکم در کوی الله تاسو ته

مه ځئ گنی د الله د لارے نه به مو وارَوی دا هغه خبرے دی چه الله ئے تاسو ته تاکیدی حکم کوی

بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا

په دے سره | دے دپاره چه تاسو | پرهیزگاران شئ | بیا | ورکړو مونږ | موسیٰ ته | کتاب | پوره (نعمت)

دے دپاره چه متقیان شئ. بیا دپاره د تجدید دهغه وصیت مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړو چه په نیکانو خلقو

عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً

په هغه چا | چه نیکی ئے کوله | او تفصیل | د هر څیز | او هدایت | او رحمت

د الله نعمت پوره شی او د هر یو څیز تفصیل بیان شی او د خلقو د پاره د هدایت او د رحمت سبب جوړ شی

لَّعَلَّهُمْ بِلِقَاۗءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ ع

دے دپاره چه دوی | په ملاقات | د رب خپل | ایمان راوړی | او دا (قرآن) | یو کتاب دے | چه نازل کړے دے مونږ

دے دپاره چه دوی د خپل رب په ملاقات ایمان راوړی. او دا (قرآن) یو برکتی کتاب (دے چه) مونږ نازل کړے دے

مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝

دیر برکت والا دے | نو دے پسے روان شئ | او ویریږئ | دے دپاره چه په تاسو باندے | رحم وکړے شی

نو دے پسے روان شئ او تقوٰی اختیار کړئ چه رحمت درباندے اوکړے شی. (دا کتاب مونږ ځکه نازل کړو)

اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰي طَاۗىِٕفَتَيْنِ

چه تاسو دا اونه وایئ | چه بیشکه | نازل کړے شوے وو | کتابونه | په (هغه) | دوو ډلو باندے

چه چرته تاسو دا عذر پیش نه کړئ چه کتابونه خو زمونږ نه مخکښ دوو ډلو ته ورکړے شوی وو خو هغوی

مِنْ قَبْلِنَا ۠ وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ۝ اَوْ تَقُوْلُوْا

مخکښ زمونږ نه | او بے شکه وو مونږ به | د لوستلو د هغوی نه (د کتاب لره) | خامخا بے خبره | یا دا اونه وایئ تاسو

چه څه لوستل مونږ د هغے نه بالکل ناخبره وو (ځکه چه هغه زمونږ په ژبه کښ نه وو) یا دا عذر پیش نه کړئ

لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ ۚ

چه که چرے مونږ ته | نازل کړے شوے وے | په مونږ باندے | کتاب | نو خامخا وے به مونږ | ډیر هدایت والا | د هغوی نه

چه که چرے مونږ ته کتاب را کړے شوے وے نو مونږ به د هغوی نه زیات په هدایت وے بس بے شکه تاسو ته (هم)

فَقَدْ جَاۗءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ

پس یقینا | راغلے دے تاسو ته | واضحه بیان | د طرفه د رب ستاسو | او هدایت | او رحمت | پس څوک دے

ستاسو د رب د طرف نه یو ښکاره بیان او هدایت او رحمت (ستاسو په ژبه کښ) راغے نو (اوس) د هغه چا نه

اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ؕ سَنَجْزِي

زیات ظالم | د هغه چا نه | چه دروغ ګڼري | آیتونه د الله | او مخ اړوی | ددے نه | ډیر زر به سزا ورکړو مونږ

لوے ظالم څوک کیدے شی چه د الله آیتونه دروغ ګڼري او مخ ترینه اړوی ـ کوم خلق چه زمونږ د

الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا

هغه کسانو ته | چه مخ اړوی | د آیتونو زمونږ نه | د بد عذاب | په دے وجه

آیتونونه مخ اړوی ډیر زر به مونږ هغوی ته ددے مخ اړولو (انکار کولو) په بدله کښ

كَانُوْا يَصْدِفُوْنَ ۝ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ

چه دوی به | مخ اړولو | نه کوی دوی انتظار | مګر | ددے (خبرے) | چه راشی دوی ته

ډیر بد عذاب ورکړو ـ اوس خو دوی صرف ددے خبرے انتظار کوی چه فرشتے د مرګ ورته راشی

الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ

ملائك | یا | راشی | رب ستا | یا | راشی | بعضے | نخښے | د رب ستا

یا ورته ستا رب پخپله راشی یا ستا د رب بعضے نخښے د عذاب ورته راشی

يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا

په کومه ورځ | چه راشی | بعضے | نخښے | د رب ستا | نه به ورکوی فائده | یو کس (نفس) ته | ایمان دهغه

حالانکه په کومه ورځ چه ستا د رب بعضے نخښے (حالت د زنکدن او نمر راختل د مغرب نه) راشی نو په هغه ورځ به هغه چا ته

لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ

چه نه ئے وی راوړے ایمان | مخکښ ددے نه | یا ئے نه وی کړے | په (حالت د) ایمان خپل کښ | څه نیکی

ایمان راوړل هیڅ فائده ورنکړی چه مخکښ ئے ایمان نه وی راوړے یا ئے د خپل ایمان سره څه د نیکۍ کار نه وی کړے

قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا

اووایه | انتظار کوئ تاسو | بیشکه مونږ (هم) | انتظار کوونکی یو | بیشکه | هغه خلق | چه ټوله ټوله کړے ئے دے

پیغمبره دوی ته اووایه چه تاسو هم انتظار کوئ او مونږ هم انتظار کوو ـ اے پیغمبره! حقیقت دا دے چه

دِيْنَهُمْ وَ كَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ شَيْءٍ ؕ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ

دین خپل | او دوی شو | ډلے ډلے | نه ئے ته | د دوی نه | په هیڅ څیز کښ | بیشکه | معامله د دوی

کومو خلقو چه خپل دین کښ تفرقه پیدا کړی ده او ډلے ډلے شوی دی دهغوی سره ستا هیڅ تعلق نشته

اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝ مَنْ جَآءَ

الله ته (حواله) ده | بیا به | هغه خبر ورکړے دوی ته | په هغه څه | چه دوی به | کول | څوک چه | راوړی

دهغوی معامله خو د الله په حواله ده بیا به ئے الله په هغه عملونو چه دوی به کول خبر کړی ـ چا چه نیکی

بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَ مَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ

نیکی | نو د هغه لره (اجر) دے | لس چنده | د هغے | او څوک چه | راوړی | بدی

او کړه نو هغه لره لس چنده بدله ده او چا چه بدی او کړه

فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ

نوسزا به نشی ورکولے هغه ته | مګر | په مثل دهغے بدئ | اوپه دوی باندے به | ظلم نه کیږی | اووایه

نو هغه ته به صرف د خپلے بدئ سزا ملاویږی او هیڅ ظلم به پرے نه کیږی ـ پیغمبره! اووایه

اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا

چه بیشکه زهٔ | رسولے یم | رب خپل | لارے نیغے ته | چه دین دے | صحیح (پوخ)

چه زه خپل رب په سمه لار روان کړے یم چه هغه د کوږوالی نه پاک دین دے

مِّلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٦١﴾ قُلْ

طریقه | د ابراهیم ده | چه کلك ووپه توحید | او نه وو هغه | د مشرکانو نه | اووایه

او دا ابراهیمؑ ملت دے چه دالله په دین باندے کلك وو او دمشرکانو ملګرے نه وو. اے پیغمبره! اووایه

اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾

(چه) بیشکه | مونځ زما | اوقربانی زما | اوژوندزما | اومرګ زما | خاص الله لره دی | چه رب دتولو مخلوقاتو دے

چه زما بدنی اومالی تول عبادتونه اوزما ژوند اومرګ هر څه (تول) خالص دهغه الله دپاره دی چه دتول مخلوق پالونکی دے

لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾

نشته هیڅ څوك شریك | دهغه | اوهم پدے خبره | حکم شوے دے ماته | اویم زه | اول | د مسلمانانو نه

اودهغه هیڅ څوك شریك نشته او ماته هم ددے خبرے حکم شوے دے اودتولونه اول زه دالله فرمانبردار یم

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ؕ

اووایه | آیا سوا د الله نه | طلب کړم زه | رَب بل | او هغه دے | رب (پالونکے) | دهر یو څیز

اے پیغمبره! اووایه چه آیا زه د الله نه سوا بل رب اولټوم حالانکه هغه دهر یو څیز رب (پروردګار) دے

وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ

او نه کوی عمل | هیڅ یوکس | مګر | (ذمه واری ځکه) په خپله ځان باندے | او نشی پورته کولے

او هر څوك چه هر څه عمل کوی نو هغه به ئے په خپله ذمه وار وی او هیڅ څوك دبل چا بار (دګناه)

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ

یوپورته کونکے | پټے (بوج) | دبل چا | بیا | ستاسو رب خپل ته | واپس تلل دی ستاسو | نوخبر به کړی هغه تاسو

نشی اوچتولے. بیا ستاسو دتولو خپل رب طرف ته واپس تلل دی نو هغه به درته هغه څه ټولے خبرے اوښائی

بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَكُمْ

په هغه څه | چه تاسو به | په هغے کښ | اختلاف کولو | او الله | هغه ذات دے | چه جوړے ئے کړئ تاسو

په کومو کښ چه تاسو اختلاف کولو. او الله هغه ذات دے چه تاسو ئے په زمکه کښ د یو بل

خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ

نائبان | په زمکه کښ | اوپورته کړی ئے دی | بعضے ستاسو نه | په بعضو باندے | په درجو کښ

جانشینان جوړ کړی یئ او په تاسو کښ ئے بعضو لره په نورو باندے درجے اوچتے کړی دی

لِيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ؕ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ ۖ

دے دپارہ چہ ازمیبت او کړی اللہ پہ تاسو | پہ هغہ څہ کښ | چہ درکړی ئے دی تاسوتہ | بیشکہ | رب ستا | زر عذاب ور کونکے دے

دادے دپارہ چہ تاسوتہ ئے کوم نعمتونہ درکړی دی پہ هغے کښ تاسو اوزمائ حقیقت دادے چہ ستارب ډیرزر

وَ اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

| او | بیشکہ هغہ | خامخا ډیر بخښونکے | زیات رحم کونکے دے۔

عذاب ور کونکے دے اوداهم حقیقت دے چہ هغہ (اللہ) ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے۔

آیاتها [٢٠٦]	سورة الأعراف مكّيّة	رکوعاتها [٢٤]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص پہ نوم | د اللہ | چہ ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص پہ مدد دَ نوم دهغہ اللہ چہ عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓمّٓصٓ ۚ ۝١ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ

الٓمّٓصٓ | دا کتاب دے | چہ نازل کړے شوے دے | تاته | پس نه دے وی | پہ سینه ستا کښ

اے پیغمبره! داقران یو عظیم کتاب دے مونږ تاته دے دپارہ رالیږلے دے چہ ته ددے پہ ذریعه

حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ وَ ذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٢

څه تنګی | ددے (دوجے) نه | دپارہ ددے چہ اویروے تهٗ | پہ دے سره | او نصیحت دے | دپارہ د مومنانو

خلق اویروے لهذا ددے دتبلیغ پہ وجه دے ستا زړهٗ تنګیږی نهٗ ۔ او دا د مومنانو دپارہ نصیحت دے

اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا

تابعداری کوئ | دهغه څهٗ | چہ نازل کړے شوی دی | تاسوته | د رب ستاسو نه | اوتابعداری مهٗ کوئ

اے خلقو اتاسوته چہ ستاسو درب دطرف نه کوم کتاب راغلے دے هغے پسے روان شئ (پہ هغے عمل کوئ) او دا اللہ تعالیٰ نه سوا

مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۝٣ وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ

سوا د هغه نه | دنورو مددګارانو | ډیر کم | نصیحت اخلئ تاسو | او څومره | د کلو نه

دنورو مددګارانو (معبودانو) تابعداری مهٗ کوئ خو (افسوس دے) چہ ډیر لږ تاسو نصیحت قبلوئ | اوڅومره ډیر کلی وو

اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْهُمْ قَآئِلُوْنَ ۝٤ فَمَا كَانَ

هلاک کړی دی مونږ | نو راغلے دے هغوی ته | عذاب زمونږ | دشپے | یا به هغوی | دغرمے خوب کوونکی وو | پس نه وه

چہ مونږ هلاک کړل (تباه کړل) نو هغوی ته زمونږ عذاب یا خو دشپے راغے یا پہ داسے وخت کښ چہ هغوی دغرمے ارام کولو.

دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝٥

ویناد هغوی | کله چه | راغے پہ هغوی | عذاب زمونږ | مګر دا چه | وئیل ئے | (چه) بیشکه وو مونږ | ظالمان

بیاکله چه پہ هغوی زمونږ عذاب راغے نو د هغوی پہ خله ددے نه سوا هیڅ خبره نه وه چه یقیناً مونږ ظالمان یو.

فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ

پس خامخابه تپوس کوو مونږ | دهغه خلقونه | چه لیږلی شوی وو | هغوی ته (رسولان) | اوخامخابه تپوس کوو مونږ ه

اومونږ به ضرور دهغه خلقونه تپوس کوو چه پیغمبران ورته لیږلے شوی وو اودپیغمبرانونه به هم تپوس کوو

الْمُرْسَلِيْنَ ۙ﴿۶﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾

دلیږلی شوو (رسولانو) نه | بیاخامخابه بیان کړو مونږ | دوی ته (حقیقت) | په علم (خپل) سره | اونه وو مونږ غائب (ددوی نه)

بیابه مونږ دوی ته هر څه (ټول حالات) دخپل علم په بنیاد بیان کړو اومونږ ددوی د عملونونه غائب نه وو

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ ِۚالْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ

او تول | په دغه ورځ | حق دے | پس هغه څوك | چه درنے شوے | تلے دهغه | نوهم دغه | خلق

اوپه دغه ورځ د عملونو تول یقینی دے نو دچا دعملونو تول چه دروند اوخیژی نو هم هغوی

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۸﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

خلاصے موندونکی (کامیاب) دی | او هغه څوك | چه سپکے شی | تلے دهغه | نوهم دغه | هغه خلق دی

کامیاب دی. او د چا د عملونو تول چه سپك اوخیژی نو دا هم هغه خلق دي

خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَظْلِمُوْنَ ﴿۹﴾

چه تاوانی کړے ئے دی | خانونه خپل | په دے وجه | چه دوی | زمونږ په آیاتونو | ظلم کولو

چه دوی زمونږ د آیتونو سره د زیاتی کولو په وجه خپل خانونه پخپله تاوانی کړے وو

وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا

اویقینا | خائے ډر کړے دے مونږ تاسوته | په زمکه کښ | اوپیدا کړی دی مونږ | تاسو دپاره | په دے کښ

اویقینا مونږ تاسوته په زمکه کښ داوسیدو خائے در کړو (په زمکه موآباد کړئ) او تاسوله مونږ په زمکه کښ

مَعَايِشَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۰﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ع ۱۰

سامان د ژوند | ډیر لږ | شکر کوئ تاسو | اویقینا | پیدا کړئ مونږ تاسو | بیا | صورت جوړ کړو مونږ ستاسو

دروزئ اسباب پیدا کړل بیاهم تاسو ډیر لږ شکر ادا کوئ. اویقینا مونږ تاسو پیدا کړئ بیا مو ستاسو شکل او

ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ

بیا | اووئیل مونږ | ملائکو ته | چه سجده اوکړئ | آدم ته | نوسجده اوکړه دوی (ټولو) | سوا دابلیس نه

صورت جوړ کړو بیا مونږ فرشتو ته اووئیل چه آدم ته سجده اوکړئ نودابلیس نه سوا ټولو سجده وکړه

لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۱۱﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ

(چه) نه ووهغه | د سجده کوونکو نه | اووئیل (الله) | څه (څیز) | منع کړے ته | چه سجده اونکړه تا

هغه په علم دالله کښ دسجده کوونکونه نه وو. (نو) الله ورته اوفرمائیل چه کله ماتاته دسجدے کولو حکم اوکړو

اِذْ اَمَرْتُكَ ؕ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِىْ مِنْ نَّارٍ

کله چه | حکم وکړو ماتاته | اووئیل هغه | چه زهٔ | غوره یم | ددهٔ (آدم) نه | پیدا کړے یم تازهٔ | د اور نه

نودسجدے کولو نه ته څه منع کړی (نو) هغه ورته اووئیل چه زهٔ دهغه نه غوره یم (ځکه چه) تازه داور نه پیدا کړے یم

وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ

اوپیدا کړے دے تادګره | د ختګے نه | اووئیل (الله) | پس کوزشه | ددے ځائے نه | پس نشته | تالره (څه حق)

اودے دے د ختګے نه پیدا کړے دے. الله ورته اووئیل شه انوددے ځائے نه لاندے کوزشه ځکه چه ستا حق نه رسی

اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ﴿١٣﴾ قَالَ

چه تکبر او کړے ته | په دے کښ | پس اوځه | بیشکه ئے ته | د ذلیلانو (خوارشوو) نه | دۀ اووئیل

چه ته دلته تکبر او کړے نو اوځه یقیناً ته د ذلیلو خلقو د ډلے نه ئے۔ نو شیطان اووئیل

اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالَ اِنَّكَ

چه مهلت را کړه ماته | تر هغه ورځ پورے | چه راپاځولی به شی دوی | اووئیل (الله) | بیشکه ئے ته

ماته تر هغه ورځ پورے مهلت را کړه په کومه ورځ به چه خلق (د قبرونو نه) راپاځولے شی۔ الله ورته اووئیل

مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ

د مهلت ور کړے شوو نه | اووئیل دۀ | په وجه د دے | چه محروم کړم تازۀ | خامخا کینم به زۀ | دوی ته

تا ته مهلت در کړے شو (نو) ابلیس اووئیل چه چونکه تا زۀ ددۀ دوے نه د خپل رحمت نه محرومه کړم نو زۀ هم قسم خورم

صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ

په لاره ستا کښ | چه نیغه ده | بیا به | خامخا راځم زه دوی ته | د مخے طرف د دوی نه

چه د غسے به زۀ د دے خلقو ته ستا په نیغه لاره کښ کینم. بیا به زه په دوی د هر طرف نه حملے کوم د دوی د وړاندے

وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ

او دشا طرف د دوی نه | او د ښی طرف نو د دوی نه | او د کس طرف نو د دوی نه | او نه به مومی ته | اکثر د دوی نه

نه هم او د ورستو نه هم او د دوی د ښی طرف نه هم او د کس طرف نو نه هم۔ او ته به په دوی کښ اکثر

شٰكِرِيْنَ ﴿١٧﴾ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ

شکر گزار | اووئیل (الله) | اوځه | د دے ځائے نه | ذلیل کړے شوے | رټلے شوے | خامخا هغه څوک

شکر گزار بیا نه موے۔ الله ورته اووئیل د دے ځائ نه ذلیل او خوار لعنتی اوځه۔

تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٨﴾ وَيٰٓاٰدَمُ

چه تابعداری ئے وکړه ستا | د دوی نه | نو خامخا دکوم به زه | جهنم | ستاسو | د ټولو نه | او اے آدمؑ

او په دوی کښ چه څوک تا پسے روان شونو زه به ستاسو ټولو نه دوزخ ډک کړم۔ او اے آدمؑ!

اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا

اوسیږه | ته | اوبی بی (پښه) ستا | په جنت کښ | پس (نو) خورئ دواړه | د کوم ځائے نه چه | غواړئ تاسو دواړه

ته او ستا بی بی دواړه په جنت کښ اوسیږئ او د کوم ځائ نه مو چه څه خوښ وی هغه خورئ

وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩﴾

او مه نزدے کیږئ تاسو | دے | اوښے ته (په قصد) | کنی شئ به دواړه | د ظالمانو نه

خو دَدغه خاص اوښے خوا ته چه ورنزدے نه شئ کنی نو ظالمانو کښ به شمار شئ۔

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ

نو وَسوسه واچوله | دے دواړوته | شیطان | چه ښکاره کړی | دوی دواړوته | هغه څه | چه پټ وو

بیا شیطان دواړو په زړونو کښ وسوسه واچوله دے دپاره چه دهر دے (دشرم) هغه څایونه ورته ښکاره کړی کوم څایونه

عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ

د دواړونه | دعورتونو د دوی نه | او وے وئیل | نه یې منع کړی تاسو | رب خپل | د دے اوئے نه

چه انسان طبعًا پټول غواړی. اوداځورته اووئیل چه تاسو دواړه خپل رب د دے اوئے نه صرف په دے وجه منع کړی یې

اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ۝۲۰ وَ قَاسَمَهُمَآ

مګر یا چه | شئ به تاسو | ملائک | یا شئ به تاسو | دهمیشه اوسیدونکونه | اوقسم یې وخوړلو دواړوته

چه چرته ستاسو ماهیت یا صفتونه د فرښتو نه شی یا چرته په جنت کښ هیشه پاتے نه شئ او دواړوته ئے قسم ونه اوخوړل

اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ۝۲۱ فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ ۚ

(چه) بیشکه یم زه | تاسو دپاره | خامخا د خیر خواهانو نه | پس را کوزے کړل دواړه | په دهوکه

چه یقین او کړئ چه زهٔ ستاسو خیر خواه یم۔ دغه شان دواړه ئے په چل وَل د طاعت د مرتبے نه را کوز کړل

فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَ طَفِقَا

پس هرکله چه | وځکله دواړو | (هغه) اونه | نو ښکاره شو | دواړوته | عورتونه خپل | او شروع شو دواړه

نو کله چه دواړو د اوئے مزه او ځکله نو د دواړو د پَردے ځایونه (بدنونه) یو بل ته ښکاره شو او په ځان

يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا

چه لکولے ئے | په ځان باندے | پانړے | د جنت | او آواز ورته وکړو | رب خپل | آیا نه وئ | منع کړی ماتاسو

ئے د جنت پانړے لکول شروع کړل۔ نو خپل پروردګار (رب) ورته آواز او کړو او ورته وے اوئیل

عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَ اَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا

د دے اوئے نه | او نهٔ وو وئیل ما تاسو ته | (چه) بیشکه | شیطان | ستاسو

چه آیا ما تاسو د دے اوئے نه منع کړی نهٔ وئ او ما تاسو ته نه وو وئیل چه شیطان ستاسو ښکاره دشمن دے

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝۲۲ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۖ وَاِنْ

دشمن دے | ښکاره | اووئیل دواړو | اے ربه زمونږ! | ظلم وکړو مونږ | په خپلو ځانونو | پس که چرے

نو دوی دواړو عرض او کړو اے زمونږ ربه مونږ په خپل ځان زیاتے او کړو او که ته زمونږ بخښنه اونکړے او

لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝۲۳ قَالَ اهْبِطُوْا

بخښنه اونکړے ته مونږ ته | اورحم اونکړے په مونږ | نو خامخا شو به مونږ | د تاوانیانو نه | اووئیل (الله) | کوز شئ

رحم را باندے اونکړے نو مونږ به ضرور تاوان بیا مومو۔ الله ورته وفرمائیل (چه) اوس تاسو ټول

بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ

بعضے ستاسو نه به | د بعضو | دشمنان وی | اوشته ستاسو دپاره | په زمکه کښ | استوګنه

دے دے ځای نه لاندے کوز شئ تاسو به دیو بل دشمنان یئ او دیو مودے پورے تاسو له په زمکه اوسیدل دی

وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۲۴﴾ قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ وَ فِيْهَا

اوفائده اغستل دی | څه وخته پورے | اووئیل (الله) | په دے (زمکه) کښ به | ژوند تیروئ تاسو | او په دے کښ به
اوژوند سامان مقرر کړے شوے دے. الله ورته وفرمائیل چه هم پدے (زمکه) کښ به ژوند تیروئ اوهم په دے

تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ﴿۲۵﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ

مرئ تاسو | اوددے نه به | راویستلے شئ تاسو | اے اولاده د آدمؑ | یقیناً | رالیږلے دے مونږ | په تاسو باندے
کښ به درله مرګ راځی اوهم ددے نه به بیا دوباره راویستل شئ۔ اے د آدم اولاده! مونږ تاسو له جامے درکړی دی

لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ؕ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ

دا سے جامه | چه پټوی | عورتونه ـ تاسو | او ښائسته (دے) | او جامه | د پرهیزګارئ | دا
چه ستاسو دبدن هغه ځایونه پټ کړی چه دهغے ښکاره کول باندے تاسو خفه کیږئ اودخائسته ذریعه هم ده خو

خَيْرٌ ؕ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۲۶﴾

ډیره غوره ده | دا | د نعمتونو (نعمتو) د الله نه دی | دے دپاره چه دوی | نصیحت واخلی
دایمان اوعمل صالح جامه دتقوا لونه غوره ده دا دالله نعمتونه دی په تاسو اومقصد پکښ دادے چه خلق نصیحت واخلی

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ

اے بنی آدمو | فتنه کښ دے وانهٔ چوی تاسولره | شیطان | لکه چه | ویستلی ووهغهٔ | مور اوپلار ستاسو
اے د آدم بچو! شیطان (له دا سے موقع مه ورکوئ چه) (هغه) تاسو دا سے دهوکه کړی لکه څنګه چه ئے ستاسو مور اوپلار

مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ؕ

د جنت نه | په دے حال کښ چه ویستلے ئوے | دهغوی نه | جامه دهغوی | چه اوښائی هغوی ته | عورتونه دهغوی
دجنت نه ویستل ووچه دهغوی نه ئے جامے ویستلے وے چه دیوبل دستر ځایونه ورته ښکاره کړی

اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ؕ

بیشکه (شیطان) | وینی تاسولره | دے | او اولاد دهغهٔ | د هغه ځائ نه | چه نه وینئ تاسو دوی لره
شیطان اودهغه قام قبیله (لښکر) تاسو د دا سے ځائ نه وینی چه تاسو ئے نه شئ لیدلے

اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۷﴾

بیشکه | کړ ځولی دی مونږ | شیطانان | ملګری | دهغه خلقو | چه ایمان نه راوړی
دا شیطانان مونږ دهغه چا دوستان جوړ کړی دی څوک چه ایمان نه راوړی

وَاِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً قَالُوْا وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا

او کله چه | او کړی دوی | د بے حیایئ کار | (نو) وائی دوی | موندلی دی مونږ | په دے باندے | پلار نیکه خپل
اوداکافران چه کله څه د بے حیائی کار او کړی نووائی چه مونږ خپل پلار نیکه پدے طریقه باندے موندلی دی

وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ؕ

او | الله | حکم کړے دے مونږ ته | ددے | اووایه | بیشکه | الله | نه کوی حکم | د بے حیایئ
او الله راته هم دغسے حکم کړے دے. اے پیغمبره اته ورته اووایه چه الله تعالیٰ د بے حیائے حکم نه کوی.

اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾ قُلْ اَمَرَ رَبِّيْ بِالْقِسْطِ ۫

آیا وایئ تاسو | په الله باندے | هغه څه | چه تاسو پرے نه پوهیږئ | اووایه | حکم کړے دے | رب زما | په انصاف سره

آیا تاسو په الله تعالی باندے داسے خبرے ترئ چه خبر ترے هم نه یئ. ته دوئ ته اووایه چه زما رب خو انصاف

وَ اَقِيْمُوْا وُجُوْهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ

او برابر کړئ تاسو | مخونه خپل | په وخت | د هر مونځ کښ | او رابلئ هغه لره | چه خالص کونکی یئ

حکم کړے دے او دا حکم ئے کړے دے چه د هر مانځه په وخت کښ خپل مخونه بیت الله ته مخامخ ساتئ

لَهُ الدِّيْنَ ؕ كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ ؕ فَرِيْقًا هَدٰى

هغه ته | بلنه | لکه څنګه چه | هغه اول پیدا کړئ تاسو | (د غه شان) واپس به راځئ تاسو | چه یو مے ډله ته | الله هدایت کړے دے

اوپدے یقین هغه رابلئ چه اطاعت خالص د هغه حق دے څنګه چه هغه تاسو اول پیدا کړی وئ د غه شان به مودوباره

وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ

او بله ډله | ثابت شوے ده | په هغوی باندے | گمراهی | بیشکه دوی | جوړ کړی دی | شیطانان

پیدا کړی (پیدا ئے کړئ په داسے حال کښ) چه دوی په تقدیر کښ هدایت دے اودوی په تقدیر کښ گمراهی او دا څکه چه

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾

دوستان | سوا د الله نه | او گمان کوی | چه بیشکه دوی | لارموندونکی دی

دوئ د الله نه سوا شیطانان خپل دوستان جوړ کړی دی او خیال ئے دا دے چه گنی دوی په سمه لاره روان دی.

يٰبَنِيْۤ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّكُلُوْا

اے بنی آدمو! | اونیسئ | بنائسته خپل | په وخت | د هر مانځه کښ | او خورئ

اے د آدم بچو! (کله چه جومات ته راځئ نو بنائسته جامے اغوندئ او د خپل عورت پټولو اهتمام کوئ

وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾ ع قُلْ

او څکئ | او فضول خرچی مه کوئ | څکه هغه | نه خوښوی | فضول خرچی کونکی | اووایه

او خورئ څکئ او ضرورت نه زیات یا حرام څیزونه مه استعمالوئ یقیناً الله اسراف کونکی نه خوښوی. دوئ ته اووایه چه آخر چا په جامے

مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْۤ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ

چه چا | حرام کړے دے | بنائست (د جامے) د الله | هغه چه | پیدا کړی دی الله | د پاره د بندګانو خپلو | او پاکیزه څیزونه

سره بنائست حاصلول حرام کړے دے هغه بنائست کوم چه الله د خپلو بندګانو د پاره پیدا کړے دے او پاکیزه حلال رزقونه ئے

مِنَ الرِّزْقِ ؕ قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

د رزق نه | اووایه | دا دی | د پاره د هغه کسانو | چه ایمان ئے راوړے دے | په ژوند دنیوی کښ

ورله هم پیدا کړی دی. ته اووایه اچه دے نعمتونو حقدار په دنیا کښ هغه څوک دی چا چه ایمان راوړے دے او کافر خو ئے په ناحقه

خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ

خالص (مومنانو لره) | په ورځ د قیامت | د غه شان | په تفصیل سره بیانوو مونږ | آیتونه | د پاره د (هغه) قوم

استعمالوی خو په آخرت کښ به دا طیبات خالص مومنانو د پاره وی د غه شان مونږ تول احکام د توحید هغه خلقونه په تفصیل سره بیانوو

يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ

چه پوهیږی | اووایه | بیشکه | حرام کړی دی | رب زما | دبے حیائیو (خبرے اوکارونه) | هغه چه بنکاره دی

چه دپوهے نه کار اخلی۔ اے پیغمبره دوی ته اووایه چه زما رب دبے حیائیو ټول کارونه حرام کړی دی بنکاره

مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا

دده نه | او هغه | چه پټ دی | او گناه | او ظلم | په ناحقه | او داچه | شریك کړئ تاسو

بے حیائی وی اوکه پټه، دارنگ هرقسم گناه اوپه ناحقه زیاتے کول اوداچه تاسو الله سره هغه څوك شریك

بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ

دالله سره | هغه څه | چه نه دے رالیږلے الله | په هغے باندے | څه دلیل | او داچه | اووایئ تاسو | په الله باندے

جوړ کړئ چه په هغے الله هیڅ سند (دلیل) نه دے رالیږلے او داچه تاسو په الله باندے هغه څه اووایئ

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ

هغه خبرے | چه تاسو پرے نه پوهیږئ | اودپاره دهر اُمت | یو وخت مقرر دے | پس کله | چه راشی

چه هغے د حقیقت تاسو ته هیڅ علم نشته۔ اودهر یو قوم (اُمت) دپاره یوه نیته مقرر ده چه کله ئے هغه

اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿٣٥﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ

وخت دهغوی | (نو) نه به روستو کیږی | یو ساعت | او نه به مخکښ کیږی | اے بنی آدمو!

نیته راشی نو دهغے نه یو ساعت هم رُوستو کیدے نشی لکه څنگه چه مخکښ کیدے نشی۔ اے دآدم اولاده!

اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ ۙ فَمَنِ

که چرے | راغلل تاسو ته | پیغمبران | دستاسو نه | چه بیانوی | تاسو ته | آیتونه زما | نوچاچه

که تاسو ته هم ستاسو نه پیغمبران راشی چه زما آیتونه درته بیانوی نو چا چه

اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٣٥﴾

ځان بچ کړو | اواصلاح ئے وکړه | نونه به وی | څه یَره | په دوی باندے | اونه به دوی | غمژن شی

ځان بچ کړو دشرك او کفر نه اواصلاح ئے اوکړه دعمل خپل. نوپه دوی به نه څه یَره وی اونه به غمژن شی

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ

او هغه کسان | چه دروغ ئے اوگنړل | آیاتونه زمونږ | او تکبر ئے اوکړو | له هغے نه | هم دا خلق

اوچا چه زمونږ آیتونه دروغ وگنړل او ځان ئے ترے نه لوے اوگنړلو نو دغه خلق

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٦﴾ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ

اور والا دی | دوی به | په دے کښ | همیشه وی | پس څوك دے | غټ ظالم | دهغه چا نه

دوزخیان دی چه همیشه به په جهنم کښ وی ۔ نو دهغه چا نه غټ ظالم څوك کیدے شی

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ

چه دروغ تړی | په الله باندے | دروغ | یا دروغژن گنړی | آیتونه دالله | دغه کسان دی | چه رسیږی به دوی ته

چه الله باندے دروغ تړی یا دهغه آیتونه (حکمونه) دروغ گنړی ددے خلقو په نصیب کښ چه څه

نَصِيْبُهُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ

برخه ددوی | د کتاب نه | تر دے | چه کله | راشی دوی ته | ملائک زمونږ | چه ساه اخلی ددوے نه

لیکلے شوے دی هغه به ورته ملاوشی تر دے چه کله ورته زمونږ (لیږلے شوے) فرشتے د روح قبض کولو دپاره راشی

قَالُوْۤا اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالُوْا

نو وائی به (ورته) ملائک | چرته دی | هغه څه | چه تاسو به | رابلل | سوا د الله نه | نو دوئ به ورته وائی

نو ورته به په جواب کښ وائی چه د الله نه سوا چه تاسو کوم معبودان رابلل هغه څه شو؟ نو دوی به ورته په جواب کښ اووائی

ضَلُّوْا عَنَّا وَشَهِدُوْا عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ۝

(چه) ورک شو هغوی | زمونږ نه | او گواهی به او کړی دوی | په خپلو ځانونو | چه بیشکه دوی | وو | کافران

چه هغوی (خو) زمونږ نه ورک شوی دی او په خپل ځان به په خپله گواهی ورکړی چه دوی کافران وو

قَالَ ادْخُلُوْا فِيْۤ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ

او به وائی (الله) | داخل شئ (لنوئ) | په هغه ډلو کښ | چه تیرے شوی دی | مخکښ ستاسو نه

الله به ورته اوفرمائی چه ئ د پیریانو او انسانانو دهغه ډلو سره تاسو هم دوزخ ته داخل شئ

مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ فِى النَّارِ ؕ كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ

د پیریانو | او انسانانو نه | په اور کښ | هرکله | چه داخله شی | یو ډله | (نو) لعنت به وائی

کوم چه تاسو نه مخکښ تیر شوی وو هرکله چه یوه ډله دوزخ ته داخله شی نو په لمبے ډلے به لعنت کوی

اُخْتَهَا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ

دخان پشان په لمبے ډلے | تر دے | چه کله | راجمع شی دوی | په دے (اور) کښ | تول | (نو) او به وائی

تر دے چه کله تول په دوزخ کښ راجمع شی نو هره یوه روستنۍ ډله (مُریدان) به د دوړاندینۍ ډلے (پیرانو) په حقله وائی

اُخْرٰىهُمْ لِاُوْلٰىهُمْ رَبَّنَا هٰۤؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ

روستنۍ ډله ددوی | د دوړاندینۍ ډلے بارہ کښ | اے ربه زمونږه | دے خلقو | گمراه کړی وو مونږه | نو ورکړه دوی ته

چه اے زمونږ ربه! دے خلقو مونږ گمراه کړی وو نو ته ورله د اور دو چند عذاب ورکړه

عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ؕ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّلٰكِنْ

عذاب | دو چند | د اور | او به وائی (الله) | چه دهر یو دپاره | دو چند (عذاب) دے | لیکن

الله به ورته وفرمائی چه د ټولو د پاره دو چند عذاب دے خو تاسو ته لا پته نشته

لَّا تَعْلَمُوْنَ ۝ وَقَالَتْ اُوْلٰىهُمْ لِاُخْرٰىهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا

تاسو نه پوهیږئ | او به وائی | روستنۍ ډله (ددوی) | روستنۍ ډلے ته | چه نشته دے | تاسو د پاره | په مونږ باندے

او د وړاندینۍ ډله به روستنۍ ډلے ته اووائی چه تاسو ته خو زمونږ په مقابله کښ (په مونږ باندے) هیڅ

ع ۲ مِنْ فَضْلٍ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ۝

څه فضیلت | نو اوځکئ | عذاب | په وجه دهغه عمل | چه تاسو به | کسب کولو

فضیلت (غوره والے) حاصل نه دے نو د خپلو عملونو په وجه د عذاب خوند اوځکئ

اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ

بیشکه | هغه خلق | چه دروغ ګڼلی | آیتونه زمونږ | اوځان لوی ګڼلی | د هغے نه | نه به پرانستلے کیږی

اے خلقو! یقین اوکړئ چه چا زمونږ آیتونه دروغ اوګڼل اوتکبر سره ئے ترے نه مخ واړولو نو هغوی ته به

لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ

هغوی ته | دروازے | د آسمان | او نه به داخل شی هغوی | جنت ته | تر دے | چه ننوځی

دجنت دروازے هیڅ کله پرانستلے نه شی اوجنت ته به ترهغه وخته پورے ننوتلے نه شی تر څوچه یو اوښ

الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِيْنَ ۝

اوښ | په سوم د ستنے کښ | او هم دغه شان | بدله (سزا) ورکوو مونږ | مجرمانو ته

د ستنے په سوم کښ داخل نه شی هم دغه شان مونږ مجرمانو ته سزا ورکوو.

لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ؕ

ددوی دپاره به | د جهنم نه | تولایانے (توشکونه) وی | اودپاسه د دوی به وی | برستنے

ددوی دپاره به په جهنم کښ تولایانے وی اودپاسه به پرے داوربرستنے وی (یعنی لاندے باندے به اور د جهنم وی)

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

او(هم) دغه شان | بدله (سزا) ورکوو مونږ | ظالمانو ته | اوهغه خلقو | چه ایمان ئے راوړے | اوعمل ئے کړے دے

او دغه شان مونږ ظالمانو ته سزا ورکوو ـ او چا چه ایمان راوړو او نیک

الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَآ ۚ اُولٰٓئِكَ

د نیکو | تکلیف نه ورکوو مونږ | هیڅ یو کس ته | مکر | دهغه د طاقت مطابق | هم دغه خلق

عملونه ئے اوکړل (یاد لرئ چه) مونږ هیڅ چاته د هغه طاقت نه زیات تکلیف نه ورکوو نو هم دا خلق

اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ

جنت والا دی | دوی به | په دے کښ | هميشه وی | اواوباسو به مونږ | هغه څه | چه وی د دوئ په سینو کښ

جنتیان دی چه هميشه به پکښ اوسیږی ـ او د دوی په زړونو کښ چه د یو بل سره

مِّنْ غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ۚ وَقَالُوا الْحَمْدُ

د خفګان نه | بهیږی به | لاندے د دوی نه | نهرونه | اووائی به دوئ | د خدایئ صفتونه

څه خفګان (کینه) وه هغه به ترے نه لرے کړو او ددوی (د بنګلو) لاندے به نهرونه بهیږی اووائی به چه ټول حمدونه

لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا لِهٰذَا ۫ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ

الله دپاره دی | هغه ذات | (چا) چه لاره ښودلے وه مونږ ته | ددے ځائے | اونه وو مونږ | چه رارسیدلے وے (دلته)

د هغه الله دی چه مونږ ئے دے مقام ته راورسولو او که الله مونږ نه وو رارسولے نو مونږ پخپله دے ته

لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا اللّٰهُ ۚ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ؕ

که چرے | هدایت نه وے کړے مونږ ته | الله | یقیناً | راغلی وو | پیغمبران | د رب زمونږ | په حق سره

نه شو رارسیدلے یقیناً زمونږ د رب پیغمبرانو مونږ ته حق دین اوبیان راوړے وو

وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾

او آواز به او کړي شی دوی ته | چه دغه جنت | (په میراث کښ) حرکړے شو تاسو ته | په بدله د هغه عملونو کښ | چه تاسو به کول

او دوی ته به یو آواز (اعلان) اوشی چه دا جنت تاسو ته د خپل نیک عملونو په وجه درکړے شو.

وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ اَصْحٰبَ النَّارِ اَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا

او آواز به او کړي | جنتیان | دوزخیانو ته | چه یقیناً | مونږ (خو) پیدا موندل | هغه څه

او جنتیان به دوزخیانو ته آواز وکړي چه مونږ خو د خپل رب ټولے وعدے

وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ

چه وعده ئے کړے وه مونږ سره | رب زمونږ | ریښتنے | نو آیا | پیدا موندل تاسو | هغه څه | چه وعده ئے کړے وه | رب ستاسو

ریښتنے وموندلے نو تاسو راته او وایئ چه تاسو د خپل رب (د عذاب) وعدے ریښتنے

حَقًّا ؕ قَالُوْا نَعَمْ ۚ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ اَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ

ریښتنے | او به وائی هغوی | هو! | پس آواز به او کړي | یو آواز کونکے | په مینځ دوی کښ | چه | لعنت دے | د الله

او موندلے او که نه؟ (نو) دوی به په جواب کښ اووائی چه هاں، په دے کښ به یو آواز کونکے آواز او کړي چه د الله لعنت دے

عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٤﴾ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا

په ظالمانو باندے | هغه کسان | چه منع کول به ئے (خلق) | د لارے د الله نه | او لټولو به ئے په دے کښ

په هغه ظالمانو - چه د الله د لارے نه به ئے خلق منع کول او په هغے کښ به ئے کوږوالے لټولو

عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْاَعْرَافِ

کوږ والے | او دوی | د آخرت نه | انکار کونکی وو | او په مینځ د دواړو ولو کښ به | یوه پرده وی | او وی به په اعراف باندے

او د آخرت نه هم منکر وو - او د دے دواړو ډلو په مینځ کښ به یوه پرده وی او په اعراف باندے به

رِجَالٌ يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا بِسِيْمٰهُمْ ۚ وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ

څه سړی | چه پیژنی به (دوی) | هر یو | په نخښو دهغوی | او آواز به او کړي دوی (اعراف والا) | جنتیانو ته

څه خلق وی چه د هرے ډلے خلق به په خپلو نخښو پیژنی او جنتیانو ته به آواز او کړي

اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۫ لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿٤٦﴾

چه سلام دے وی | په تاسو | نه به وی داخل شوی دوی جنت ته | او حال دا دے چه دوی به | طمع لری

چه په تاسو دے سلام وی په خپله به جنت ته لا داخل شوی نه وی خو طمع به ئے لری

وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا

او کله چه | واړولے شی | نظرونه (ستر گے) ددوی | په طرف | د دوزخیانو | نو وائی به دوی | اے ربه زمونږه

او کله چه د دوی ستر گے (نظرونه) د دوزخیانو طرف ته واړولے شی نو او به وائی اے زمونږ ربه

لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا

مه گرځوه مونږ | د قوم ظالمانو سره | او آواز به او کړي | اعراف والا | هغه سړو ته

مونږ د ظالمانو سره مه یوځائ کوه او اعراف والا به هغه خلقو ته (په جهنم کښ) آواز او کړي

يَعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا مَآ اَغْنٰى عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ

چه پیژنی نبه ئے | په نخښو خپلو | اوبه وائی (ورته) | په کار رانغلے | ستاسو | ډلے ستاسو | او (نه) هغه څه | چه تاسو به

چه په نخښو به ئے پیژنی، ورته به اووائی چه ستاسو لښکرے (مالونه) او هغه څه چه تاسو وربانده ے فخر کولو، په کار

تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٤٨﴾ اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؕ

لوئی (فخر) کولو په هغے | آیا دا | هغه کسان دی | چه قسمونه به خورل تاسو | چه اوبه نه رسوی دوی ته | الله | هیڅ رحمت

رانغلل (فائده ئے ځر نکره) (او اوبه وائی ملائک چه) آیا دا (اعراف والا) هغه خلق دی چه تاسو به ددوی په حقله قسمونه

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَنَادٰٓى

داخل شئ | جنت ته | نه به وی څه یَرَه | په تاسو باندے | او نه به تاسو | غمژن شئ | او آواز به اوکړی

خورل چه الله به په دوی باندے هیڅ رحم اونکړی نو ملائک به اعراف والو ته اووائی چه جنت ته داخل شئ نه به تاسو ته

اَصْحٰبُ النَّارِ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ اَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ اَوْ مِمَّا

دوزخیان | جنتیانو ته | چه راتوے کړئ | په مونږ باندے | څه اوبه | یا دهغے نه څه

څه یَرَه وی اونه به درته څه غم رسی. او دوزخیان به جنتیانو ته آواز اوکړی چه په مونږ باندے لږے اوبه راتوے کړئ یا الله

رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ؕ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾

چه درکړی دی تاسو ته | الله | او به وائے (ورته) هغوی | چه بیشکه | الله | حرام کړی دی دا دواړه | په کافرانو باندے

چه تاسو ته کوم نعمتونه (خوراکونه) درکړی دی دهغے نه را کړئ (نو) جنتیان به ورته په جواب کښ اووائی چه دا دواړه څیزونه

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ

هغه کسان | چه ګرځولے ئے وو | دین خپل | لوبے | او تماشے | او دهوکه کړی وودوی لره | ژوند دُنیوی

الله تعالیٰ په هغه کافرانو حرام کړی دی، چه دخپل دین نه ئے لوبه تماشه جوړه کړے وه او د دنیا ژوند په دهوکه کښ

فَالْيَوْمَ نَنْسٰىهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا ۙ

پس نن ورځ | هیروو مونږ دوی لره | لکه څنګه چه | هیر کړے وودوی | ملاقات | د دے ورځے

اوچولے وونو نن به ئے مونږ هم داسے هیر کړو (پرپرده) لکه څنګه چه دوی د دے ورځے ملاقات هیر کړے وو

وَمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿٥١﴾ وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ

او لکه څنګه چه | وو دوی | چه زمونږ د آیتونو نه به ئے | انکار کولو | او یقیناً | راوړے دے مونږ دوی ته

او لکه څنګه چه ئے زمونږ د آیتونو نه انکار کولو۔ او حقیقت دا دے چه مونږ دوی ته داسے کتاب راپرے لے دے

بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ

کتاب | چه په تفصیل سره بیان کړے دے مونږ هغه | په علم خپل سره | چه هدایت دے | او رحمت دے | د پاره د هغه قوم

چه په خپل علم موپکښ د هر څیز وضاحت کړے دے او څوک چه ایمان راوړی د هغوی د پاره هدایت او

يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥٢﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ

چه ایمان لری | دوی انتظار به کوی | مګر | د انجام د انکار دے کتاب | په هغه ورځ | چه راښه شی | انجام دے

رحمت دے اوس دا کافران دے کتاب د انکار د آخری انجام نه سوا بل څه خبرے انتظار کوی؟ حالانکه په کومه ورځ چه

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ

لووائی به | هغه کسان | چه هیر کړے ئوودا | مخکښ ددے نه | چه یقیناً | راغلی وو | پیغمبران

ددے آخری انجام راشی (بشکاره شی) نو چا چه مخکښ په دنیا کښ دا کتاب هیر کړے وو هغوی به اووائی چه یقیناً زمونږ درب

رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ

درب زمونږ | په حق سره | نو آیا | شته زمونږ دپاره | څوك سپارښی | چه سفارش اوکړی | زمونږ (دپاره) | یا دے

پیغمبران (مونږ ته) حق راوړے وو، نو آیا اوس زمونږ سفارشیان شته چه زمونږ سفارش اوکړی یا دا سے کیدے شی. چه مونږ

نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ ۭ قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

واپس کړے شو مونږ | چه عمل اوکړو مونږ | خلاف دهغے عمل نه | چه مونږ به کولو | یقیناً | نقصان اوکړو دوی | دخپلو ځانونو

واپس (دنیا) ته اولیږلے شو دے دپاره چه مخکښ مونږ کوم بد عملونه کول دهغے په خلاف نور (نیك) عملونه اوکړو یقیناً

ع وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ

او ورك شول | ددوی نه | هغه څه | چه دوی به | دروغ ترل | بیشکه | رب ستاسو | الله دے | هغه (ذات)

(حقیقت دادے چه) دے خلقو ځان په سخت نقصان کښ واچولو او کوم دروغ به ئے چه جوړول هغه به ترے نه ورك شی یقیناً

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۣ

چه پیدا کړی ئے دی | آسمانونه | او زمکه | په شپږو | ورځو کښ | بیا | برابر شو | په عرش باندے

ستاسو پروردګار هغه الله دے چه آسمانونه او زمکه ئے په شپږو ورځو کښ پیدا کړل بیا ئے په عرش باندے استوا وفرمائیله

يُغْشِي الَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهٗ حَثِيْثًا ۙ وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

پرده اچوی هغه | د شپے | په ورځ باندے | چه طلب کوی یو بل لره | په تیزئ سره | او لمر | او سپوږمئ

هغه شپه په ورځ ته وراغوندوی او دواړه یو بل دا سے په تیزئ سره طلب کوی چه په مینځ کښ ئے خالی وخت نه راځی او هغه لمر

وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ۭ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ۭ

او ستوری | تابع کړے شوی دی | د حکم دهغه | خبردار (واورئ) | یواځے الله دپاره دی | پیدا کول | او حکم ورکول

سپوږمئ او ستوری پیدا کړی دی چه تول دهغه د حکم تابع دی یاد ساتئ چه پیدا کول او اختیار د حکم ورکولو خاص

تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۭ

ډیر د برکت خاوند دے | الله | چه پروردګار دے | د مخلوقاتو | رابلځ | رب خپل | په عاجزئ | او په پټه

دالله کار دے الله د برکتونو والا ذات دے چه د تولو جهانونو پروردګار دے۔ تاسو خپل پروردګار په عاجزئ او په پټه پټه رابلځ

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ

بیشکه هغه | نه خوښوی | د حد نه اوړیدونکی | او فساد مه خورئ | په زمکه کښ | پس د

او په دعا کښ د حد نه تجاوز مه کوئ یقیناً الله د حد نه اوړیدونکی نه خوښوی۔ او په زمکه کښ فساد مه خورئ روسته د اصلاح

اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ۭ اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ

سمیدو دهغے نه | او رابلځ هغه (الله) | په ډیره | او په طمع سره | بیشکه | رحمت | د الله | نزدے دے

د زمکے نه په رالیږلو د انبیاؤ او کتابونو سره، او الله دا سے رابلځ چه په زړه کښ موږه هم وی او طمع هم، یقیناً د الله رحمت نیکانو

مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ

نیکی کوونکو ته | اوخاص الله | هغه ذات دے | چه رالیږی | هوا کانے | زیرے ورکونکی | وړاندے

خلقو ته نزدے دے او الله هغه ذات دے چه دخپل رحمت (باران) له مخکښ (دزیری په طور هوا کانے رالیږی)

رَحْمَتِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ

درحمت (باران) خپل له | تردے | کله چه | راواوچتے کړی | وریځے | درنے | (نو) بوځومونږ | هغه بهار | اوچ ته

کله چه داهوا کانے درنے اوریځے راواوچتے کړی نومونږ ئے یوے اوچے علاقے ته اولیږو بیا

فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ كَذٰلِكَ

نوراوړوروومونږ | په هغے باندے | اوبه | نو راوباسو مونږ | په دے سره | هر قسم | میوے (غلے) | دغسے به

هلته مونږ باران او ورږوو چه دهغے په زریعه هر قسم میوے راپیدا کړو هم دغه شان به مونږ

نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ

راوباسو مونږ | مړی | دے دپاره | چه تاسو نصیحت واخلئ | اوزمکه | پاکه | راوځی (دهغے له)

مړی هم دزمکے نه دوبارهراوباسو شاید چه تاسو دے نه سبق واخلئ. اوبیا روستو دباران نه زمکے دوه قسمه وی یو هغه خوښه زمکه

نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِيْ خَبُثَ لَا يَخْرُجُ اِلَّا

زرغونه (بوتی) دهغے | په حکم | درب دهغے | اوهغه زمکه | چه خرابه ده | نه راوځی (دهغے له) | مګر

چه شینکی اودفائدے بوتی دخپل رب په حکم راز رغونوی اوبله بیکاره زمکه ده چه بیکاره بوتی زرغونوی (هم دغه مثال دقرآن

نَكِدًا ؕ كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ ﴿٥٨﴾ ع

بے کاره بوتی | دغه شان | بیانوومونږ | آیتونه | دپاره دهغه قوم | چه شکر ادا کوی

دنزول دے چه خلق دوه قسمه شی) دغه شان مونږ خپل آیتونه (نخښے) بیانیږو هغه خلقو دپاره بیانوو چه قدردانی او کړی دنعمتونو

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

یقیناً | لیږلے وو مونږ | نوح | قوم خپل ته | پس اووئیل هغه | اے قومه زما | بندګی کوئ | د الله

یقیناً مونږ نوح خپل قوم ته لیږلی وو نو هغه ورته اووئیل چه اے زما قومه! صرف د الله بندګی کوئ

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ

نشته دے | ستاسو دپاره | هیڅ څوک لائق دبندګی | سوا دهغه نه | بیشکه زه | یریږم | په تاسو باندے | د عذاب

دهغه نه سوا ستاسو بل څوک معبود نشته یقین او کړئ ماسره ډیره ویره (خطره) ده چه په تاسو دنیا او آخرت لوے عذاب

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٥٩﴾ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ ضَلٰلٍ

د ورځے لوئے نه | اووئیل | سردارانو | د قوم د هغه | بیشکه مونږ | وینو تا | په ګمراهئ

رانشی؟ نو د قوم غټانو (مشرانو) ورته اووئیل مونږ ته خو داسے ښکاری چه ته په ښکاره ګمراهئ کښ پروت ئے چه ته مونږ

مُّبِيْنٍ ﴿٦٠﴾ قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ

ښکاره کښ | اووئیل (ورته) هغه | اے قومه زما | نشته دے په ما | څه ګمراهی | لیکن زه | رسول یم

دیو الله بندګی ته رالیږے نوح په ډیر نرمئ سره جواب ورکړو چه اے زما قومه! ما کښ د ګمراهئ هیڅ خبره نشته بلکه زه

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦١﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ

دطرفه د پروردګار | د ټولو مخلوقاتو | رسوم زه تاسوته | پیغامات | درب خپل | اوخیر خواهی لتوم | ستاسو

خو درب العالمین دطرف نه رالیږلے شوے پیغمبر یم ـ زه خو تاسوته د خپل رب پیغامات رسوم او ستاسو خیر خواهی

وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ

اوپوهیږم | دطرفه دالله نه | په هغه څه | چه تاسو (پرے) نه پوهیږئ | آیاتعجب کوئ تاسو | په دے | چه راغے تاسوته

لتوم او ماته دالله دطرف نه دَدا سے خبر و علم (راکړے شوے) دے چه تاسو سره نشته. آیا تاسو په دے خبره تعجب کوئ چه

ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ

نصیحت (وحی) | د طرفه درب ستاسونه | په یو سړی باندے | ستاسو نه | چه اویږوی هغه تاسو

تاسوته ستاسو دَرب دطرفه نصیحت دداسے سړی په ذریعے سره راغلے دے چه هم ستاسو نه دے، دے دپاره چه تاسو

وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ

او چه پرهیزګاره شئ تاسو | او چه په تاسو | رحم اوکړے شی | پس دوی دروغژن کړو هغه لره | پس نجات ورکړو مونږ هغه ته

خبردار کړی دبد انجام خپل نه، او چه تاسو دشرک نه بچ شئ او رحم درباندے اوکړے شی، بیا هم دوی نوح دروغژن اوګڼلو

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِي الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

او هغه کسانوته | چه دهٗ سره وو | په کشتئ کښ | او غرق کړل مونږ | هغه کسان | چه دروغژن ئے ګڼلل

نو بس مونږ هغه او دهغهٗ ملګری په کشتئ کښ بچ اوساتل او چا چه زمونږ آیتونه دروغ اوګڼل هغوی موغرق (ډوب) کړل

ع ۸ بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ

آیتونه زمونږ | بیشکه دوی | وو | قوم | راندهٗ | او (لیږلے وو مونږ) عاد یانوته | ورور د هغوی

یقیناً هغوی په زړهٗ سره راندهٗ خلق وو ـ او عادیانو (قوم عاد) ته مونږ د هغوی ورور هود لیږلے وو

هُوْدًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ

هودٌ | اووئیل هغه | اے قومه زما | بندګی اوکړئ | د الله | نشته | ستاسو دپاره | هیڅ څوک معبود | سوا د هغه نه

نو هغه ورته اووئیل اے زما قومه صرف دالله بندګی کوئ (څکه چه) د هغه نه سوا ستاسو بل معبود نشته

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿٦٥﴾ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ

آیا نو تاسو نه پرېږئ | اووئیل | هغه سردارانو | چه کفر ئے کړے وو | د قوم د هغهٗ نه

آیا بیا هم تاسو دشرک دبد انجام نه نه پرېږئ ـ نو د قوم کافرانو مشرانو ورته اووئیل چه مونږ ته خوداسے

اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦٦﴾

بیشکه مونږ | خامخا وینو تا | په بے عقلئ کښ | او بیشکه مونږ | خامخا ګمان کوو په تا | د دروغژنو نه

ښکاری چه ته په حماقت (بے وقوفۍ توب) کښ پروت ئے او زمونږ په تا دا ګمان دے چه ته یو دروغژن سړے ئے

قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ

اووئیل هغهٗ | اے قومه زما | نشته دے | په ما کښ | څه کم عقل توب | لیکن زهٗ | رسول یم

هودٌ ورته جواب ورکړو چه اے زما قومه ما کښ معمولی کم عقلتیا (حماقت) هم نشته بلکه زهٗ خو

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦١﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ

دطرفه رب | د مخلوقاتو | رسومزه تاسوته | پیغامات | درب خپل | اویمزه | ستاسو دپاره | خیرخواه

درب العالمین دطرف نه رالیږلے شوے رسول یم. زه خو تاسوته دخپل رب پیغامات رسوم او ستاسو یو امانت دار

اَمِيْنٌ ﴿٦٢﴾ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

امانتدار | آیاتعجب کوئ تاسو | په دے خبره | چه راغے تاسوته | نصیحت (وحی) | دطرفه درب ستاسونه

خیرخواه یم. آیاتاسو په دے خبره تعجب کوئ چه تاسوته ستاسو درب نصیحت دیو داسے سړی په ذریعه راغلے دے چه هغه هم

عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ؕ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ

په یو سړی | ستاسونه | چه اویرووی تاسو | او یاد کړئ | کله چه | هغه جوړ کړئ تاسو | جانشینان

ستاسونه دے. دے دپاره چه تاسو اویروی او هغه وخت یاد کړئ کله چه الله تاسو د نوح د قوم نه پس آبادوونکی

مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا

پس | د قوم | د نوح نه | اوزیات ئے کړه تاسو لره | په بدن کښ | فراخی (طاقت) | نو یاد کړئ

د زمکے جوړ کړئ او قد و قامت ئے درله د نورو نه زیات در کړو پس د الله نعمتونه یاد کړئ چه

اٰلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٦٩﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ

نعمتونه | د الله | دے دپاره | چه کامیاب شئ | اووئیل دوی | آیاراغلے ئے ته مونږ ته | دے دپاره چه عبادت او کړو مونږ

کامیاب شئ. هغوی ورته اووئیل نبه ! ته مونږ ته دے دپاره راغلے ئے چه مونږ یواځے د یو الله

اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ۚ فَاْتِنَا

د الله | یواځے | او پریږدو | هغه څه | چه بندگی به ئے کوله | پلار نیکه زمونږ | پس راوړه ته مونږ ته

عبادت (بندگی) شروع کړو او زمونږ پلار نیکه چه دچا عبادت کولو هغه پریږدو؟ څه (نبه ده) که ته ریشتنے ئے

بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ

هغه (عذاب) | چه وعده ئے کوے ته زمونږ سره | که ئے ته | د ریشتینو نه | اووئیل هغه | یقیناً

نو د کوم عذاب نه چه مونږ یروے هغه (را باندے اوس) راوله. هود ورته جواب ورکړو چه اوس په تاسو

وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ؕ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ

واجب شوے دے | تاسو باندے | د طرفه درب ستاسو | عذاب | او غصه | آیاتاسو جګړه کوئ ماسره

باندې د خپل رب دطرف نه عذاب او قهر راتلل مقرر شوے دے آیاتاسو ماسره دهغه نومونو په حقله جګړه

فِيْٓ اَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ

په هغه نومونو کښ | چه ایښودلی دی هغه | تاسو | او ستاسو پلار نیکه | چه نه دے رالیږلے | الله

کوئ چه تاسو او ستاسو پلار نیکه (د بتانو دپاره) پخپله ایښودلی دی چه د هغے په تائید کښ الله

بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ فَانْتَظِرُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿٧١﴾

په هغے | څه دلیل (سند) | پس انتظار او کړئ تاسو | بیشکه زه هم یم | تاسو سره | د انتظار کونکو نه

څه دلیل نه دے نازل کړے بس اوس تاسو هم انتظار کوئ او زه هم تاسو سره انتظار کوم۔

فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا

پس نجات ورکړو مونږ هغه ته | او هغه کسانو ته | چه وو دهٔ سره | په رحمت | خپل سره | او پریکړه مونږ

پس مونږ هودٌ او د هغه ملګری په خپل رحمت سره بچ اوساتل او د هغه خلقو جړ ړے

دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ع

جړه | د هغه کسانو | چه دروغ ئے ګڼړل | آیتونه زمونږ | اونه وو دوی | مومنان

مو پرے کړے چه زمونږ آیتونه ئے دروغ ګڼړل او ایمان ئے نه راوړو

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا

او (لیږلے وو مونږ) ثمودیانو ته | ورور د هغوی | صالح | اووئیل (هغه) | اے قومه زما | بندګی اوکړئ

اوثمودیانو (قوم د ثمود) ته مونږ د هغوی ورور صالح لیږلے وو چه هغوی ته ئے اووئیل اے زما قومه اصرف

اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ

د الله | نشته د ے ستاسو د پاره | بل څوک لائق د بندګئ | سوا د هغهٔ نه | یقیناً | راغلے ده تاسو ته | ښکاره معجزه

دیوالله عبادت کوئ (څکه چه) د هغه نه سوا ستاسو بل معبود نشته یقیناً تاسو ته د خپل رب د طرف نه ښکاره دلیل

مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ

د طرفه د رب ستاسو نه | دا ده | اوښه | د الله | تاسو د پاره | معجزه | نو (پس) پریږدئ دا | چه خوراک کوی

راغلے د ے دا د الله اوښه ستاسو د پاره یوه نخښه ده نو دا (آزاده) پریږدئ چه د الله په زمکه کښ څریږی

فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ

په زمکه | د الله کښ | او مه رسوئ د ے ته | هیڅ (څه) تکلیف | کنی وبه نیسی تاسو | عذاب دردناک

(خوراک کوی) او په بد نیت ورته لاس مه وروړئ کنی دردناک عذاب به درباندے راشی

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ

او یاد کړئ | کله چه الله جوړ کړئ تاسو | جانیشیان | پس د عادیانو نه | او ځائ ئے درکړو تاسو ته

او دا نعمت یاد کړئ چه تاسو ئے د عادیانو نه پس آبادوئ نکی د زمکے اوکړځولئ

فِى الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ

په زمکه کښ | چه جوړوئ تاسو | د هموارو ډګونو نه | بنګلے | او کنده تاسو | د غرونو نه

او په زمکه ئے داسے استوګنه درکړه (څائے ئے درکړو) چه په میدانونو کښ ئے تاسو څان له مانړئ جوړوئ

بُيُوْتًا ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ

کورونه | پس یاد کړئ | نعمتونه | د الله | او مه کړئ | په زمکه کښ | فساد خورونکی

او په غرونو کښ ئے څان له کورونه تراشئ نو د الله نعمتونه یاد کړئ او د زمکے په مخ فساد مه کوئ.

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ

اووئیل | هغه سردارانو | چه ځان ئے لوئے کړلو | د قوم د صالحؑ نه | هغه کسانو ته

نو دصالحؑ دقوم مغرورہ مشرانو دهغه کمزورو کسانو نه تپوس اوکړو

اسْتُضْعِفُوْا لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ اَتَعْلَمُوْنَ اَنَّ صٰلِحًا

چه کمزوری کړلے شو | هغه چاته | چه ایمان ئے راوړے وو | ددوی نه | (چه) آیا تاسو پوهیږئ | چه بیشکه صالحؑ

چه ایمان ئے راوړے ووچه آیا ستاسو په دے خبره یقین دے چه صالحؑ دخپل رب دطرف نه رالیږلے شوے

مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلَ بِهٖ

رالیږلے شوے دے | دطرفه درب خپل نه | اووئیل هغوی | بیشکه مونږ | په هغه څه | چه هغه رالیږلے شوے دے | په هغے

پیغمبر دے نوهغوی ورته جواب ورکړو چه بیشکه هغه چه په کومو (حکمونو) رالیږلے شوے دے په هغے

مُؤْمِنُوْنَ ۝ قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا بِالَّذِيْٓ

ایمان لرونکی یو | اووئیل | هغه کسانو | چه ځان ئے لوئے کړلے وو | بیشکه مونږ | دهغه څهٔ نه

زمونږ ایمان دے۔ هغه مغرورہ خلقو ورته اووئیل تاسو چه په کوم پیغام ایمان راوړے دے

اٰمَنْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ۝ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا

چه ایمان پرے راوړے دے تاسو | انکار کوونکی یُو | پس هلاکه کړه دوی | هغه اوښه | او نافرمانی ئے اوکړه

مونږ دهغے نه منکر یو۔ نو هغه اوښه ئے اووژله او د خپل رب د حکم نه ئے سرکشی اوکړه

عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوْا يٰصٰلِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ

دحکم درب خپل نه | اووے وئیل | اے صالحه! | راوله په مونږ | هغه عذاب | چه ته پرے یروے مونږ | که ئے ته

اووے وئیل اے صالحه! که ته واقعی (ریشتنے) پیغمبر ئے نو د کوم عذاب نه چه ته مونږ یروے

مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ

د پیغمبرانو نه | پس ونیول دوی لره | زلزلے | نو شو دوی | په خپلو کورونو کښ

هغه (راباندے) راوله۔ نو بس سخته زلزله پرے راغله او په خپلو کورونو کښ پرمخے

جٰثِمِيْنَ ۝ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ

پرمخے پراته | نو مخ واړولو صالحؑ | ددوی نه | اووے وئیل | اے قومه زما | یقیناً | رسولے دے ماتاسو ته

پراته اومړهٔ پریوتل. نو صالحؑ ترے هغه وخت مخ واړولو (لاړو) او وے وئیل اے زما قومه! ما خو تاسو ته

رِسَالَةَ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُحِبُّوْنَ النّٰصِحِيْنَ ۝

پیغام | درب خپل | اوخیر مے لتولے دے | ستاسو | لیکن | نه خوښوئ تاسو | خیر خواهان

د خپل رب پیغام اورسولو اوستاسو خیر خواهی مے اولتوله خو تاسو (خپل) خیر خواهان نه خوښوئ.

وَ لُوْطًا اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖۤ اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ مَا

او (لیږلے وو مونږ) لوط | کله چه | اووئیل دهٔ | قوم خپل ته | آیا راتلل کوئ تاسو | (داسے) بے حیائی ته | چه نه دے کړے

او لوط (هم) مونږ لیږلے وو کله چه هغه خپل قوم ته اووئیل آیا تاسو داسے بے حیائی کوئ

سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ

وړاندے والے ستاسو نه | هغے ته | هیڅ چا | د مخلوقاتو نه | بیشکه تاسو | خامخا راځئ

چه ستاسو نه مخکښ په ټوله دنیا کښ هیڅ چا هم نه ده کړے تاسو د ښځو په ځائے

الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

سړو ته | په شهوت سره | سوا د ښځو نه | بلکه | تاسو | یو قوم ئے

د نارینو نه خپل شهوت پوره کوئ بلکه تاسو د حد نه اوړیدونکی

مُّسْرِفُوْنَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْۤا

د حد نه اوړیدونکی | او نه وو | جواب | د قوم دهغه | مګر | دا چه | وے وئیل

خلق یئ نود قوم جواب ئے د دے نه سوا بل څه نه وو چه یو بل ته ئے اووئیل چه

اَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿٨٢﴾

اوباسئ دوی | د کلی خپل نه | بیشکه دوئ | داسے خلق دی | چه ځان پاک ګڼری

دا خلق د خپل کلی نه اوباسئ (اوشړئ) ځکه چه دوی ځان پاک ساتل غواړی

فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ۖ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿٨٣﴾

نو نجات ورکړو مونږ دهٔ ته | او اهل ددهٔ ته | سوا | د ښځے ددهٔ نه | چه وه هغه | د پاتے کیدونکو نه

نو مونږ لوط اودهغه کورواله نجات ورکړو خو دهغه ښځه بچ نه شوه بلکه په عذاب کښ دنورو خلقو سره باقی پاتے شوه.

وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ؕ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

او اوورولو مونږ | په دوی باندے | باران (د کانړو) | پس اوګوره | څنګه | شو | انجام

او په دوی باندے مونږ د کانړو باران اووړولو نو فکر اوکړه چه د مجرمانو انجام

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٨٤﴾ ع وَ اِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ

د مجرمانو | او (لیږلے وو مونږ) | مدین ته | ورور دهغوی | شعیبؑ | اووئیل دهٔ | اے قومه زما

څنګه شو؟ او مدین والو ته مونږ د هغوی ورور شعیبؑ لیږلے وو چه هغوی ته ئے اووئیل اے زما قومه

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ

بندګی اوکړئ | د الله | نشته ستاسو دپاره | بل لائق د بندګی | سوا دهغه نه | یقیناً | راغلے ده تاسو ته

یوا ځے د الله عبادت کوئ (ځکه چه) د هغه نه سوا ستاسو بل معبود نشته یقیناً تاسو ته د خپل رب د طرف نه

بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا

بشکاره نښه | د طرفه د رب ستاسونه | نو پوره ورکوئ | پیمانه | او تول | او مه کموئ

بشکاره دلیل راغلے دے نو(لهٰذا) ناپ تول پوره پوره کوئ او خلقو ته دهغوی شیزونه

النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ؕ

د خلقو نه | شیزونه دهغوی | او فساد مه خورَوئ | په زمکه کښ | پس د سمیدو د هغے نه

کم مهٔ ورکوئ او د اصلاح نه پس په زمکه کښ فساد مه خورَوئ

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَلَا تَقْعُدُوْا

دا | غوره دی | ستاسو دپاره | که چرے ئے تاسو | مؤمنان | او مه کینئ

داکارونه ستاسو دخیریت سبب دے کهٔ تاسو زما په خبره یقین کونکی یئ نو داطریقه درله ډیره غوره ده۔ اوپه

بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

په هره | لار کښ | چه یَروئ تاسو | او منع کوئ تاسو | د لارے د الله نه

لارو کښ مه کینئ چه تاسو هغه څوک یروئ او بندوئ د الله د لارے نه چاچه په الله باندے ایمان راوړے دے

مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ

هغه څوک | چه ایمان راوړی | په الله | اولټوئ تاسو په هغے کښ | کوږوالے | او یاد کړئ | کله چه | وئ تاسو

او تاسو د الله په لار (دین) کښ کوږوالے (عیب) لټوئ او هغه وخت یاد کړئ کله چه تاسو

قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ۪ وَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

لږ | نو ډیر کړئ الله تاسو | او اوکورئ | چه څنګه وو | انجام

لږ وئ نو الله ډیر کړئ او سوچ فکر اوکړئ چه د فساد خورونکو انجام څنګه شو؟

الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَاِنْ كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا

د فساد خورَوونکو | اوکه چرے | وی | یوه ډله | ستاسونه | چه ایمان ئے راوړے وی

او که په تاسو کښ یوے ډلے په هغه پیغام ایمان راوړے وی

بِالَّذِيْٓ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا

په هغه څه | چه رالیږلے شوے یم زهٔ | په هغے باندے | اووی یوه بله ډله | چه ایمان ئے نهٔ وی راوړے | نو صبر اوکړئ

چه زهٔ پرے رالیږلے شوے یم او یلے ډلے پرے ایمان نهٔ وی راوړے نو لږ هغه وخته پورے

حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۷﴾

تر دے | چه فیصله اوکړی | الله | زمونږ ترمینځه | او هغه | ښه | فیصله کونکے دے دټولونه

صبر اوکړئ چه الله زمونږ په مینځ کښ فیصله اوکړی او هغه دټولونه غوره فیصله کونکے دے

قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ

اووئیل | سردارانو | کوموچه | ځان لوئے کړلو | د قوم دهغه نه | خامخا اوباسو به مونږ تا | اے شعیبهٔ
ددوی دقوم مغرورو (متکبرو) سردارانو اووئیل اے شعیبه! مونږ پخه ارادهٔ کړے ده چه تا او ستا

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ

اوهغه کسان (هم) | چه ایمان ئے راوړے دے | تا سره | د کلی خپل نه | یا خامخا داخلیږئ به تاسو
مومنان ملګری به د خپل کلی نه اوباسو یا به تاسو زمونږ په دین کښ داخلیږئ

فِيْ مِلَّتِنَا ؕ قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ۝ قَدِ افْتَرَيْنَا

په دین زمونږ کښ | اووئیل هغه | آیا اګر چه یو مونږ | بد ګڼونکی | یقیناً | جوړ کړی به وی مونږ
شعیبؑ ورته اووئیل چه مونږ خو ستاسو دین بد ګڼړو یقیناً مونږ به په الله باندے

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ

په الله باندے | دروغ | که داخل شو مونږ | په دین ستاسو کښ | پس د دے نه | چه بچ ساتلی یو مونږ | الله
دروغ ترلی وی که ستاسو دین کښ داخل شو سره د دے چه الله ترینه مونږ بچ کړی یو

مِنْهَا ؕ وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ

دهغے نه | او نه دی جائز | مونږ له | چه داخل شو | په دے کښ | مګر | دا چه | اوغواړی | الله
او مونږ له دا نه ده ممکن چه مونږ دِستاسو په دین کښ داخل شو هاں که زمونږ رب الله اوغواړی

رَبُّنَا ؕ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ؕ

رب زمونږ | راګیر کړے دے | رب زمونږ | هر یو څیز | په علم خپل کښ | خاص په الله باندے | توکل کوو مونږ
نو جدا خبره ده. او زمونږ رب په خپل علم سره د هر څیز احاطه کړے ده زمونږ په الله باندے توکل دے

رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ

اے ربه زمونږ | فیصله اوکړه | په مینځ زمونږ کښ | او په مینځ | د قوم زمونږ کښ | په انصاف سره | او ته
اے زمونږ ربه! ته زمونږ او زمونږ د قوم ترمینځه د حق فیصله اوکړه او ته د ټولو نه

خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ۝ وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ

غوره | فیصله کونکے ئے د ټولو نه | اووئیل | سردارانو | کوموچه | کفر کړے وو | د قوم ددهٔ نه
بهتر (ښه) فیصله کونکے ئے. د دوی د قوم کافرانو سردارانو خپل قوم ته اووئیل چه

لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۝

که چرے | روان شوئ تاسو | په شعیبؑ پسے | بے شکه یئ به تاسو | په دغه وخت کښ | خامخا تاوانیان
که چرے تاسو شعیبؑ پسے روان شوئ نو یاد ساتئ چه برباد به شئ (نقصان به اوچت کړئ)

فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۝

پس اونیول دوی | زلزلے | نوشول دوی | په خپلو کورونو کښ | پرمخے پراته
نو بس زلزلے راونیول او په خپلو کورونو کښ پرمخے پریوتل

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۚ اَلَّذِيْنَ

هغه کسان | چه دروغژن کړے ئوو | شعیبؑ | گویا که | هم واوسیدلی نه ووی | په دے کلی کښ | هغه کسان

چا چه شعیبؑ دروغژن کنړلے وو دا سے شو لکه چه په خپل کلی کښ هم واوسیدلی نه وو

كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ۝ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ

چه دروغژن ئے کړو | شعیبؑ | آخر هم هغوی شول | نقصان والا | نو مخ واړولو هغه ؑ | د دوی نه

اوهغه کسان چه دروغژن ئے کنړلے وو شعیبؑ، هغوی تاوانیان شول نو شعیبؑ د دوی نه روان شو

وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَنَصَحْتُ

اووے وئیل | اے قومه زما | یقیناً | رسولے دی ما تاسوته | پیغامات | د رب خپل | اوخیر مے لتولے دے

اووے وئیل ما تاسوته د خپل رب پیغامات (حکمونه) درر سولے وو اوستاسو خیر خواهی غوښتلے وه

لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنَا

ستاسو | نو څنګه | افسوس اوکړم زهٔ | په قوم | کافرانو | اونه دی لیږلے مونږ

نو اوس زهٔ د ناشکره (کافرو) خلقو په هلاکت څنګه افسوس اوکړم او مونږ چه کوم یو کلی ته هم یو پیغمبر

فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ

په هیڅ کلی کښ | هیڅ یو پیغمبر | مګر | اوبه نیول مونږ | اوسیدونکی دهغے | په سختو | اوپه مرضونو سره

لیږلے دے نود هغے خلق مو په سختو اوتکلیفونو کښ ضرور گرفتار کړی دی دے د پاره چه

لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ ۝ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ

دے د پاره چه دوی | عاجزی اوکړی | بیا به | بدل کړو مونږ | په ځائے | د تکلیف | راحت (آرام)

عاجزی اختیار کړی ۔ بیا مونږ د دوی بدحالی په خوشحالئ بدله کړه

حَتّٰى عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ

تر دے | چه ډیر شول دوی | او وے وئیل | یقیناً | رسیدلی وو | زمونږ پلار نیکه (مشران) ته | تکلیفونه

تر دے چه دوی ښه ډیر شو (ترقی ئے اوکړه) اووے وئیل چه زمونږ په پلار نیکه هم دا سے سختئ

وَالسَّرَّآءُ فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝ وَلَوْ

او خوشحالئ | نو اونیول مونږ دوی | ناسپاه | په داسے حال کښ چه دوی | بے خبر وو (نه پوهیدل) | او که چرے

اوخوشحالئ راغلے وے بیا مونږ دوی دا سے ناسپاه اونیول چه د عذاب نه خبر نه وو. او که دے

اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ

(دے) کلو والو | ایمان راوړے وے | اوپرهیزګاری ئے کړے وے | (نو) خامخا پرانستلے به وے مونږ | په دوی باندے

کلو والو ایمان راوړے وے اوځان ئے بچ کړے وے د شرک نه نو مونږ به پرے د اسمان او د زمکے د برکتونو

بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ

خیرونه (برکتونه) | د آسمان | او د زمکے | لیکن | دروغژن کړل دوی (پیغمبران) | نو اونیول مونږ دوی

دروازے پرانستے وے لیکن دوی پیغمبران دروغژن کړل. نو مونږ د خپلو

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۶﴾ اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ

په سبب دهغه (عملونو) | چه دوی به همیشه کول | آیا په امن دی | دے کلو والا | ددے نه چه را به شی دوی ته

بدعملو په وجه راولیول. نو آیا ددے موجوده کلو والا بے غمه (بے خوفه) شوی دی دَدینه چه زمونږ عذاب پرے دشپے

بَاْسُنَا بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۹۷﴾ اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى

عذاب زمونږ | دشپے | او دوی به | اودهٔ وی | او آیا په امن دی | دے کلو والا

په داسے حال کښ راشی چه دوی به اودهٔ وی آیا دا کلو والا بے غمه شوی دی (بے خوفه شوی دی) چه زمونږ

اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾ اَفَاَمِنُوْا

ددے نه چه را به شی دوی ته | عذاب زمونږ | په وخت د څاښت کښ | او دوی به | لوبے کوی | آیا بے ویرے دی دوی

عذاب دے ورته د څاښت په وخت کښ په داسے حال کښ راشی چه دوی به په لوبو کښ لګیا وی. آیا داخلق د الله

مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ ع

د تدبیر (عذاب) | د الله نه | پس نه بے خوفه کیږی | د تدبیر (عذاب) | د الله نه | مکر | قوم | تاوانیان

د تدبیر نه بے خوفه (بے فکره) شول؟ خو یاد ساتئ د الله د تدبیر (عذاب) نه هغه خلق بے فکره کیږی چه تباه کیدونکی دی

اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ اَهْلِهَآ

آیا نه ده ښکاره شوے | هغه کسانو ته | چه وارثان (مالکان) شوی دی | د زمکے | پس د (هلاکت د) اوسیدونکو دهغے نه

ایا دے واقعاتو هغه خلقو ته چه د زمکے وارثان شوی دی روستو د هلاکت د اوسیدونکو د زمکے نه

اَنْ لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ

د اخبره که چرے | اوغواړو مونږ | نو اوبه رسوو مونږ دوی ته (عذاب) | په سبب د ګناهونو د دوی | او مهر به اولګو مونږ

د اسبق ورنکړو چه که مونږ اوغواړونو دوی به هم د ګناهونو په وجه په مصیبت کښ اخته کړو

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ عَلَيْكَ

په زړونو د دوی | پس دوی به (بیا) | نه آوری | دغه | کلی | بیانوو مونږ | تا ته

او په زړونو به ورله مهر ولګوو چه بیا به څه (قسمه نصیحت) هم نه اوری. دا هغه کلی دی چه دهغے واقعات (څه احوال)

مِنْ اَنْۢبَآئِهَا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانُوْا

بعضے خبرونه دهغے | او یقیناً | راوړی وو دوی ته | پیغمبرانو خپلو | ښکاره دلیلونه | پس نه وو دوی

مونږ تا ته بیانوو او حقیقت دا دے چه دے ټولو ته خپلو پیغمبرانو ښکاره دلائل پیش کړی وو خو دوی

لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ ۭ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ

چه ایمان ځواړے وے | په سبب د دے | چه دروغژن ګڼلی وو دوی | مخکښ د دے نه | دغه شان | مهر وهی

چه کومه خبره یو ځل دروغ ګڼلے وه هغه ځے بیا هم ونه منله هم دغه شان

اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۱﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِاَكْثَرِهِمْ

الله | په زړونو | د کافرانو | او نه دی موندلی مونږ | د ډیرو خلقو د دوی سره

الله د کافرانو په زړونو مهر لګوی او مونږ په دوی کښ د ډیر خلق بے لوظه موندلی دی

مِّنْ عَهْدٍ ۚ وَاِنْ وَّجَدْنَآ اَكْثَرَهُمْ لَفٰسِقِيْنَ ۝ ثُمَّ بَعَثْنَا

پورہ والے دلوظ | اوبے شکه | موندے دی مونږ | اکثر ددوی نه | خامخا فاسقان | بیا | اولیږلو مونږ

او ډیر خلق مو پکښ نافرمانه موندلی دی بیا مونږ د دغ (پیغمبرانو)

مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَظَلَمُوْا

پس ددوی نه | موسیٰ | په خپلو نخښو (آیتونو سره) | فرعون ته | او دهغه سردارانو ته | پس بې انصافی او کړه ددوی

نه پس موسیٰ په خپلو نخښو سره فرعون او د هغه سردارانو ته اولیږلو نو هغوی هم

بِهَا ۚ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ وَقَالَ

دهغے نخښو سره | نو اوګورہ | څنګه | شو | انجام | د فساد کونکو | او اووئیل

زمونږ د معجزاتو سره بے قدری اوکړه نو اوس اوګورہ! چه د مفسدانو انجام څه رنګ شو؟ او موسیٰ

مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ ۝ حَقِيْقٌ

موسیٰ | اے فرعونه! | بیشکه زه | پیغمبر یم | د طرفه د رب | د مخلوقاتو نه | ګلک یم

(فرعون ته) اووئیل چه اے فرعونه! یقیناً زه د رب العٰلمین د طرفه راولیږلے شوے (پیغمبر) یم

عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ۭ قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ

په دے خبره چه | اونهٔ وایم زهٔ | په الله باندے | مګر | حق | یقیناً | راوړی ده ماته سوته | نخښه ښکاره

ما سره هم دا مناسب دی (زما فرض دی) چه زه په الله باندے د حق نه سوا هیڅ اونه وایم یقیناً

مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۭ ۝ قَالَ اِنْ كُنْتَ

د طرفه د رب ستاسونه | پس پریږده | ما سره | بنی اسرائیل | اووئیل هغه | که چرے تا

ماته سوته ستاسو د رب د طرف نه ښکاره نخښے راوړے دی نو ته بنی اسرائیل ما سره پریږده. هغه ورته اووئیل که

جِئْتَ بِاٰيَةٍ فَاْتِ بِهَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

راوړے وی | څه نخښه | نو پیش کړه (راوړه) | هغه | که ئے ته | د رشتینو نه

تا څه نخښه (معجزه) راوړے وی نو که ته په خپله (دعویٰ کښ) رشتونے ئے نو هغه مونږ ته پیش کړه.

فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَّنَزَعَ

پس اوغورزوله هغه | همسا خپله | نو ناسپاه (فوراً) | هغه | (شوه) اژدها | ښکاره | او راویستلو موسیٰ

په دے خبره موسیٰ خپله کونتئ (همسا) اوغورزوله نو سمدستی ترینه یو ښکاره اژدها (بناماره) جوړ شو

يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَاۗءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ۝ قَالَ الْمَلَاُ

لاس خپل | نو ناسپاه (فوراً) | هغه | (ښکاره شو) سپین | کتونکو ته | اووئیل | سردارانو

او موسیٰ خپل لاس (دبغل نه) راویستلو نو لیدونکو په مخکښ تک سپین پرتیدو د فرعون د قوم سردارانو

مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ۝ يُّرِيْدُ

د قوم | د فرعون | بیشکه | دا | خامخا جادوګر دے | ډیر پوهه | غواړی دے

(یو بل ته) اووئیل چه دا خو یقینی طور ډیر ماهر (پوهه) جادوګر دے. دے غواړی

اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ ۚ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ ۝ قَالُوْٓا اَرْجِهْ

چه اوباسی تاسو | د زمکے (ملک) ستاسونه | نو دځه حکم کوئ تاسو | اووئیل دوی | مهلت ورکړودهغه

چه تاسو دخپلے زمکے (ملک) نه اوشړی نو (اوس) وایئ ستاسو څه رائے دهٔ؟ نو دوی اووئیل چه دهٔ

وَاَخَاهُ وَاَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ۝ يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ

اوورُور ته ئے | اواولیږه | په ښارونو کښ | راجمع کونکی | چه راولی تاته | هر جادوګر

اوددهٔ وړُور ته لږ (وخت) مهلت ورکړه او ټولو ښارونو ته کارندګان (جمع کونکی) اولیږه چه ټول ماهره (پوهه)

عَلِيْمٍ ۝ وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا

ډیر پوهه | او راغلل | جادوګران | فرعون ته | وے وئیل | بیشکه | وی به مونږ لره

جادوګران درله راولی (بس هم دغسے اوشوه) اوجادوګران د فرعون (دربار) ته راغلل (او) وے وئیل که مونږ

لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ۝ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ

خامخا مزدوری (بدله) | که چرے شو | مونږ | غالب | اووئیل فرعون | هو! | اوبیشکه یئ به تاسو

په (موسیٰ باندے) غالب شو نو مونږ ته به څه انعام خامخا ملاویږی فرعون ورته اووئیل هو! او تاسو به

لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ

خامخا د نزدیکانو نه | اووئیل دوی | اے موسیٰ! | یا خو اوغورزوه ته | او یا به شو

زما په مقربینو کښ شامل شئ دوی (موسیٰ ته) اووئیل اے موسیٰ اول ته غورزوے اوکه مونږ (خپل پرے)

نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ۝ قَالَ اَلْقُوْا ۚ فَلَمَّآ اَلْقَوْا سَحَرُوْٓا

مونږ | (اول) غورزونکی | اووئیل هغه | اوغورزوئ تاسو | پس هرکله | چه اوغورزول هغوی | نوجادوئے اوکړو

وغورزوو؟ موسیٰ ورته اووئیل تاسو (اول) اوغورزوئ نو کله چه دوی خپل (پرے) اوغورزول نو دخلقو

اَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ وَجَآءُوْ بِسِحْرٍ عَظِيْمٍ ۝

په سترګو | دخلقو | او اوئے یَرول هغوی | او پیش ئے کړو | جادو | لوئے

په سترګو ئے جادو اوکړو، اولوئے هیبت ئے پرے راوستلو اودډیر لوئے جادو مظاهره ئے اوکړه

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَاِذَا هِيَ تَلْقَفُ

اووحی اوکړه مونږ | موسیٰ ته | چه اوغورزوه | همسا خپله | پس ناسپه هغے | تیر کړل

اومونږ موسیٰ ته دوحی په ذریعه حکم اوکړو چه خپله همسا (کونتئ) اوغورزوه بس چه ووئے غورزوله

مَا يَاْفِكُوْنَ ۝ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

هغه څه | چه دوی جوړول | پس ثابت شو | حق | اوبرباد شول | هغه څه | چه دوی | کول

نوناګهانه څه چه دوی په دروغو جوړ کړی ووهغه ټول ئے تیر کړل. په دے طریقه حق ښکاره شو اودهغوی ټول عملونه

فَغُلِبُوْا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ۝ وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ

پس کمزوری کړے شودوی | په هغه ځائے کښ | او شول دوی | ذلیله | اواوغورزولے شو | جادوګران

باطل اوبے کاره شول نوپه دے موقع دوی مغلوب شول او (دمقابلے نه) په ذلت سره (کچه ملامته) واپس شول

سٰجِدِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۱﴾ رَبِّ مُوْسٰى

سجدہ کونکی | وے وئیل | ایمان راوړو مونږ | په رَب | د مخلوقاتو | چه رب دے | د موسیٰ

او په دے واقعے سره جادوګران بے اختیاره په سجده پریوتل (او) وے وئیل چه مونږ په رب العٰلمین

وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ

او هارون | اووئیل | فرعون | (آیا) ایمان راوړو تاسو | په دغه باندے | مخکښ ددے نه | چه اجازت درکړمزه

(چه دموسیٰ اوهارون رب دے) ایمان راوړو فرعون اووئیل چه تاسو زما د اجازت نه بغیر ایمان راوړو

لَكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِى الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا

تاسو ته | بیشکه | دا | یوچال (تدبیر) دے | چه جوړ کړے دے تاسو | په ښار کښ | چه وُباسئ تاسو

(نو) دا ضرور ستاسو څه سازش دے چه تاسو په دے ښار کښ یوځائے جوړ کړے دے

مِنْهَآ اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ

د دے نه | اوسیدونکی ددے | پس (نو) ډیر زر به | پوهه شئ تاسو | خامخا زهٔ به پریکړم | لاسونه ستاسو

چه ددے اوسیدونکی ددے نه اوباسئ (نو) ډیر زر به تاسو ته ددے د انجام پته اولګی ماپخه ارادہ کړے ده

وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ لَاُصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ قَالُوْٓا

او خپے ستاسو | اَدل بَدل | بیا به | پهانسی کړم تاسو | ټول | اووئیل هغوی

چه زه به ستاسو لاسونه او خپے د مخالفو اړخونه پریکوم او بیا به تاسو ټول (په یوځائ) پهانسی کړم

اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا تَنْقِمُ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ

بیشکه مونږ | رب خپل ته | واپس کیدونکی (تلونکی) یو | او بَد نه ګڼرے ته | زمونږ نه | مګر | دا چه

هغوی ورته اووئیل چه مونږ ټول خپل رب ته ګرځیدونکی یُو. اوته (خو) زمونږ نه صرف په دے خبره خفه (ناراضه) ئے

اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۭ رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا

ایمان راوړو مونږ | په آیتونو | د رب خپل | کله چه | راغلل مونږ ته | اے ربه زمونږ | راتوے ګړه | په مونږ باندے

چه کله مونږ ته زمونږ د رب نخښے او معجزے ښکاره شوے نو مونږ پرے ایمان راوړو اے زمونږ ربه مونږ له

صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ ع

صَبر | او مرګ راوله مونږ له | په حالت د اسلام کښ | او اووئیل | سردارانو | د قَوم | د فرعَون

صبر را کړه او په دا سے حال کښ راله مرګ راوله چه مونږ ستا تابعدار بندګان یو. نو د فرعون د قوم غټانو فرعون

اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَيَذَرَكَ

آیا ته پریږدے | موسیٰ | او قوم دهغه | چه فساد خور کړی | په زمکه کښ | او پریږدی تا

ته اووئیل چه آیا ته موسیٰ او دهغه قوم پریږدے چه په زمکه (ملک) کښ فساد خور کړی او تا او ستا خدایان

وَاٰلِهَتَكَ ۭ قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ

او ستا خدایان | اووئیل (فرعون) | زر ده چه اوبه وژنو مونږ | ځامن ددوی | او ژوندئ به پریږدو | ښځے ددوی

(معبودان) شاته او غورزوی (نو) هغه ورته اووئیل چه مونږ به ددوی ځامن اووژنو او ښځے به ژوندئ پریږدو

وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا

اوبیشکه مونږ|په دوی باندے| زور آور یُو |اووئیل| موسیٰ | خپل قوم ته| مدد اوغواړئ

او یقیناً مونږ په دوی باندے پوره غالب یو. موسیٰ خپل قوم ته اووئیل چه د الله نه مدد غواړئ

بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ

په الله سره| اوصبر کوئ | بیشکه | زمکه |د الله ده |هغه ورکوی دا(زمکه) | چاته | چه اوغواړی

اوصبر نه کارواخلئ اویقین اوساتئ چه زمکه صرف الله تعالیٰ ده هغه ځُچه په خپلو بندګانو کښ چاله اوغواړی

مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ

دبندګانو خپلو نه | او(پنه) انجام | دمتقیانو دے | اووئیل هغوی |تکلیف راکړے شوے دے مونږته | مخکښ

نو ورکوی ئے او آخر کښ کامیابی د متقیانو وی. دوی (ورته) اووئیل مونږ ته خو ستا د راتلونه مخکښ

اَنْ تَاْتِيَنَا وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ قَالَ عَسٰى

د راتلوستانه مونږته | او وروستو | د هغے نه | چه راغلے ته مونږته | اووئیل هغه | نزدے ده

هم تکلیفونه راکړے شوی وو او ستا د راتلو نه پس هم موسیٰ ورته اووئیل امید ساتئ

رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ

چه رب ستاسو به | هلاک کړی | دشمن ستاسو | او خلیفه کان به کړی تاسو | په زمکه کښ

چه ستاسو رب به ستاسو دشمن هلاک کړی او تاسو به د زمکے په مخ جانشینان کړی

فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ ع

نو(پس) ګوری به | چه څنګه | عمل کوئ تاسو | او یقیناً | اونیول مونږ | فرعونیان | په قحطونو

او بیا به د امتحان په توګه ګوری چه تاسو څنګه کارونه کوئ. او یقیناً مونږ فرعونیان په قحط سالئ

وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ فَاِذَا جَآءَتْهُمُ

اوپه کمی (نقصان)| د میوُو | چه دوی | نصیحت قبول کړی | پس هرکله | چه راغله دوی ته

اودپیداوار په کمی او نقصان کښ مبتلا کړل دے دپاره چه نصیحت حاصل کړی. نوکله به چه پرے ښه وخت

الْحَسَنَةُ قَالُوْا لَنَا هٰذِهٖ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ

خوشحالی(فراغی) |نودوی به وئیل| چه زمونږ حق دے | دا |اوکه چرے |اوبه رسیدله دوی ته | بدحالی (سختی)

(دَخوشحالئ) راغلو نو وئیل به ئے چه دا خو زمونږ حق وو او که څه مصیبت به پرے راغلو

يَّطَّيَّرُوْا بِمُوْسٰى وَمَنْ مَّعَهٗ ؕ اَلَآ اِنَّمَا طٰٓئِرُهُمْ

نوبدفالی به ئے لیوله | په موسیٰ | اوپه هغه چا | چه ددۀ سره وو | خبردار | بیشکه | بدنصیبی ددوی

نو موسیٰ اود هغه ملګری به ئے سپیره ګنړل خبردار دوی سپیره توب د الله د طرف نه وو

عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَقَالُوْا مَهْمَا

د الله د طرف نه ده | خو | اکثر په دوی کښ | نه پوهیږی | اووئیل به دوی | هرهغه څیز

خو اکثر په دوی کښ نه پوهیږی. او دوی به موسیٰ ته وئیل چه که ته مونږ ته

تَأْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا ۙ فَمَا نَحْنُ لَكَ

چه راوړے ئے مونږته | څه نخښه | چه جادو او کړے ته په مونږ باندے | په هغے سره | نو نه یو مونږ | په تا باندے

په مونږ د جادو چلولو په غرض هر څومره نخښے پیش کړے (بیا هم) په تا

بِمُؤْمِنِيْنَ ۝ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ

ایمان راوړونکی | نو (پس) راولیږو مونږ | په دوی باندے | طوفان | او ملخان | او سپرے

ایمان نه راوړو نو ـ (پس) مونږ په دوی طوفان او ملخان او سپرے

وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا

او چیندخان | او وینه | نخښے | جدا جدا | نو (پس) ځان لوئے او کړلو دوی | او دوی وو همیشه

او چیندخان او وینے راولیږلے چه دا ټول جدا جدا نخښے وی بیا هم دوی ځان لوئے او کړلو او دوی وو

قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ۝ وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى

قوم | مجرمان | او هر کله به | چه راغے | په دوی باندے | عذاب | نو وئیل به ئے | اے موسیٰ

مجرمان خلق وو. کله به چه پرے عذاب راغے نو (موسیٰ ته به ئے وئیل) اے موسیٰ! تاسره چه الله کوم لوظ

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ لَئِنْ كَشَفْتَ

اوغواړه | زمونږ د پاره | د خپل رب نه | په سبب د دے | چه وعده ئے کړے ده | تاسره | که چرے | لرے کړو تا

کړے دے د هغے په واسطه زمونږ د پاره خپل رب نه اوغواړه (چه زمونږ نه داعذاب لرے کړی) نو که واقعی تا زمونږ نه

عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۝

زمونږ نه | عذاب | نو خامخا ایمان به راوړو | په تا | او خامخا به پریږدو | تاسره | بنی اسرائیل

داعذاب (په خپله دعا سره) لرے کړو نو مونږ به ضرور په تا ایمان راوړو او بنی اسرائیل به درسره ازاد (رخصت) کړو

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ اِلٰٓى اَجَلٍ هُمْ بٰلِغُوْهُ

(خو) بیا کله به چه | لرے کړو مونږ | د دوی نه | عذاب | یو خاص وخته پورے | چه دوی به | رسیدونکی وو هغے ته

(خو) بیا کله به چه مونږ ترینه عذاب یو خاص وخته پورے لرے کړو چه دوی به ورته رسیدونکی وو

اِذَا هُمْ يَنْكُثُوْنَ ۝ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ

نو یکدم به دوی | وعده ماته کړه | پس انتقام واغستلو مونږ | د دوی نه | پس غرق (ډوب) موکړل

نو دوی به یکدم (هغه وخت) وعده ماته کړه. نتیجه دا شوه چه مونږ د دوی نه بدله واغستله او په دریاب کښی

فِى الْيَمِّ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ۝

په دریاب کښی | ځکه چه دوی | دروغ ګڼړل | آیاتونه زمونږ | او وو دوی | د هغے نه | غافله (بے خبره)

مو ډوب (غرق) کړل ځکه چه دوی زمونږ ایتونه دروغ ګڼړل او د هغے نه بے پرواه شوی وو.

وَاَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُسْتَضْعَفُوْنَ مَشَارِقَ الْاَرْضِ

اوور کړل مونږه | هغه قوم ته | چه کمزوری ګڼړلے شوی وو | مشرقونه | د زمکے

او کوم خلق چه کمزوری ګڼړلے شوی وو هغوی مو د هغه زمکے د مشرق

وَمَغَارِبَهَا الَّتِیْ بٰرَكْنَا فِیْهَا ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنٰى

او مغربونه دهغے | هغه زمکه | چه برکت اچولے وو مونږ | په هغے کښ | اوپوره شوه | وعده | درب ستا | ښائسته

او د مغرب وارثان جوړ کړل چه مونږ په کښ برکتونه اچولی وو او دبنی اسرائیلو په حقله ستا درب ښائسته

عَلٰى بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ ۙ۬ بِمَا صَبَرُوْا ؕ وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ

په بنی اسرائیلو باندے | په دے وجه | چه صبر کولو دوی | او تباه کړل مونږ | هغه څه | چه

لوظ پوره شو حُکه چه هغوی د صبر نه کار اغستلے وو او فرعون او د هغه قوم

یَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهٗ وَمَا كَانُوْا یَعْرِشُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَجٰوَزْنَا

جوړول به | فرعون | او قوم دهغه | اوهغه څه | چه دوی به کُے | چتونه جوړول | اوپوریستل مونږ

چه کومے بنګلے او باغونه په سپرونو جوړول هغه ټول موورله تباه کړل. او مونږ

بِبَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ الْبَحْرَ فَاَتَوْا عَلٰى قَوْمٍ یَّعْكُفُوْنَ

بنی اسرائیل | په دریاب باندے | نوراغلل دوی | په یَو قوم | چه لازم ځُے نیولے وو عبادت

بنی اسرائیل په دریاب پورے ویستل (واړول) نوپه یوداسی قوم تیر شول چه هغوی دخپلو بتانو سره

عَلٰۤى اَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوْا یٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَاۤ اِلٰهًا كَمَا

د بتانو | خپلو | اووئیل دوی | اے موسیٰؑ | جوړ کړه | زمونږ دپاره | یو معبود | لکه څنګه چه

منجوران (ناست یا چیله) وو نو دوی اووئیل اے موسیٰؑ زمونږ دپاره هم داسے یو الٰه (معبود) مقرر کړه

لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ

د دوی | معبودان دی | اووئیل (موسیٰؑ) | بیشکه تاسو | یو قوم یئ | جاهلان | بیشکه | دا خلق

څنګه چه دده ے خلقو معبودان دی موسیٰؑ ورته اووئیل تاسو خو داسے خلق یئ چه دجهالت خبرے کوئ داخو داسے خلق دی

مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِیْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۹﴾

تباه کړے شوی دی | هغه څه | چه دوی دی | په هغے کښ | اوباطل دی | هغه څه | چه دوی ځُے کوی

چه دوی چه دڅه په عبادت کښ لګیادی داټول برباد دی والا دی اوداڅه شرکی عملونه چه کوی داټول بے فائدے دی

قَالَ اَغَیْرَ اللّٰهِ اَبْغِیْكُمْ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ

اووئیل (هغه) | آیا سِوا | د الله نه | ولټوم زه تاسو دپاره | بل معبود | اوحال دا دے چه هغه | غوره کړی یئ تاسو

او ورته ځُے اووئیل چه ایا د الله تعالیٰ نه سوا تاسو دپاره بل معبود اولټوم حالانکه هغه تاسو د نور مخلوق نه

عَلَى الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَاِذْ اَنْجَیْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ یَسُوْمُوْنَكُمْ

په مخلوق باندے | اوکله چه | بچ کړئ مونږ تاسو | د فرعونیانو نه | چه درسَولو به ځُے تاسو ته

غوره کړی یئ. اویاد کړئ کله چه مونږ تاسو دهغه فرعونیانو نه بچ کړئ کومو به چه تاسو ته سخت

سُوْٓءَ الْعَذَابِ ۚ یُقَتِّلُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَیَسْتَحْیُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ

سخت | عذاب | وړل به کُے | خامن ستاسو | اوړوندئ به ځُے پریښودلے | زنانه (ښځے) ستاسو

تکلیفونه درَسول او ستاسو خامن به ځُے وړل او ستاسو چینکئ (زنانه) به ځُے ژوندئ پریخودلے

وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝ وَوٰعَدْنَا مُوْسٰى

او په دے کښ | امتحان (ازمیښت) وو | د طرفه د رب ستاسونه | ډیر لوے | اووعده کړے وه مونږه | د موسیٰ سره

او په دے کښ ستاسو د رب د طرف نه ډیر لوے ازمیښت (امتحان) وو او مونږ د موسیٰ سره

ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ

د دیرشو | شپو | اوپوره کړے مونږ هغه | په لسو (نورو) سره | نو پوره شو | مقرره موده (وخت) | د رب د هغه

د دیرشو شپو وعده اوکړه او بیا مو پرے لس شپے سوا کړے نو د هغه د رب مقرره وعده

اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ مُوْسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ

څلویښت | شپے | او وویل | موسیٰ | وړور خپل | هارون ته | (چه) خلیفه شه ته زما

په څلویښتو شپو کښ پوره شوه او موسیٰ خپل ورور هارون ته اووئیل چه ته زما په قوم کښ زمانه پس خلیفه شه

فِيْ قَوْمِيْ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ وَلَمَّا جَآءَ

په قوم زما کښ | او اصلاح کوه | او مه ځه ته | په لار | د ورانی کونکو | او هر کله چه | راغے

او اصلاح کوه او د مفسدانو په لاره مه ځه. او کله چه موسیٰ زمونږ مقرره وخت له راغے (راورسیدو)

مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ

موسیٰ | مقرر وخت زمونږ له | اوخبرے ورسره اوکړے | رب خپل | (نو) وے وئیل | اے ربه زما | اوښایه ماته (ځان)

او خپل رب ورسره خبرے اوکړے نو وے وئیل اے زما ربه ماته خپل دیدار اوکړه

اَنْظُرْ اِلَيْكَ ؕ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ

چه وګورم زه | تا ته | اووئیل (ورته الله) | چرے مانشے لیدلے ته | لیکن | اوګوره ته | غر ته

چه تا او وینم الله ورته اوفرمائیل چه ته هیڅ چرے مانه شے لیدلے خو دے غر ته اوګوره

فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى

نو که چرے | ټینګ شو هغه | په ځائے خپل | نو زړه چه | اوبه ویښے ته ما | پس هر کله | چه تجلی اوکړه

که دے په خپل ځائے ټینګ پاتے شو نو ته به هم ما اووینے نو چه کله الله خپله جلوه د نور

رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ

رب د هغه | غر ته | وے ګرځولو هغه | ذره ذره (توټے توټے) | اوپریوتو | موسیٰ | بے هوشه

د غ غر ته ښکاره کړه نو هغه زره زره هموار شو د زمکے سره او موسیٰ بے هوشه راپریوتو

فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا

پس هر کله | چه راغے په هوش کښ | نو وے وئیل | پاک ئے ته (اے الله) | توبه اوباسم | تا ته | اویم زه

بیا چه کله په هوش کښ راغے نو وے وئیل چه (اے الله) ته د هر قسم عیب نه پاک ئے زه تا ته توبه اوباسم او تولونه

اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّي اصْطَفَيْتُكَ

د تولونه اول | یقین لرونکے | اووئیل (ورته الله) | اے موسیٰ | ما غوره کړے ئے ته

د موسیٰ ځه ایمان راوړم (یقین کوم) (الله ورته) اوفرمائیل اے موسیٰ ته ما په نورو خلقو په دے غوره کړے ئے

عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِيْ وَبِكَلَامِيْ ۫ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ

په خلقو باندے | په پیغاماتو خپلو | او په خبرو خپلو | پس اونیسه (واخله) | هغه څه | چه درکوم ـې ژه تاته

چه ما درله خپل پیغامات (درسالت) درکړی دی او خبرے مے درسره کړے دی نو کوم کتاب مے چه درکړو هغه واخله

وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ وَكَتَبْنَا لَهٗ فِي الْاَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ

او شه ته | د شکر گزارو نه | او لیکلی وو مونږ | هغه لره | په تختو کښ | د هر ضروری څیزنه

او شکر گزار اوسه. او مونږ ورله په تختو هر قسم د نصیحت خبرے او د هر یو ضروری خبرے

مَّوْعِظَةً وَّتَفْصِيْلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ وَّاْمُرْ

نصیحت | او تفصیل | د هر یو څیز | پس اونیسه دا | په قوت سره | او حکم کوه

تفصیل اولیکو (اودا حکم مو ورته اوکړو چه) اوس دا (هدایات) کلك اونیسه او خپل قوم ته حکم اوکړه

قَوْمَكَ يَاْخُذُوْا بِاَحْسَنِهَا ۭ سَاُورِيْكُمْ دَارَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۴۵﴾

قوم خپل ته | چه عمل ـے کوی | په تولو خائستو خبرو دے | ډیر زر به اوښایم زه تاسوته | کور | د نافرمانو

چه دده ـے په بهترین احکاماتو عمل اوکړی زه به درته ډیر زر د نافرمانه خلقو کور ونه (زمکه دهام یا د مصر) اوښایم.

سَاَصْرِفُ عَنْ اٰيٰتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۭ

زړه ته چه زه به وارومه | د آیتونو خپلونه | هغه کسان | چه تکبر کوی | په زمکه کښ | په ناحقه

زه به د خپل آیتونو دپوهے نه هغه خلق خامخالر ـے ساتم چه په زمکه کښ هیڅ بے هیڅه ځان غټ کړی

وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ

او که چرے اووینی دوی | هر قسم | نخښه | نو ایمان نه راوړی | په هغے | او که چرے اووینی دوی | لار

او که دوی هر قسم نخښے د حق اووینی نو منی ئے نه او که نیغه لاره د هدایت ورته

الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ وَاِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ

د هدایت | نوله نیسی هغے لره | لار | او که چرے | اووینی دوی | لار | د گمراهۍ | نو نیسی (جوړوی) هغه لره

بنکاره شی نو په هغے باندے نه ځی او که د گمراهۍ لار اووینی (ورته بنکاره شی) نو هغه خپله طریقه جوړوی

سَبِيْلًا ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۴۶﴾

لار | دا ځکه | چه دوی | دروغ ګڼلی وو | آیتونه زمونږ | او وو | د هغے نه | غافله (بے خبره)

او په هغے باندے روان شی دا ځکه چه دوی زمونږ ایتونه دروغ ګڼلی وو او د هغے نه بے پرواه شوی وو

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَاۗءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۭ

او چا چه | دروغ ګڼلی دی | آیتونه زمونږ | او ملاقات | د آخرت | نو برباد شو | عملونه د هغوی

او څوك چه زمونږ ایتونه او د اخرت ملاقات دروغ ګڼلی نو د هغوی عملونه برباد شول دوی ته به ټش

هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى

بدله به ورله شی ورکولے شی | مګر | د هغه عملونو | چه دوی به کول | او جوړ کړو | قوم | د موسیٰ

د خپلو عملونو بدله (سزا) ملاویږی. د موسیٰ میقات ته د تلو له پس د هغهٔ قوم د خپلو

مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ؕ اَلَمْ يَرَوْا

ورُوستو دهغه نه | د کالو خپلو نه | سخے | چه یو جوسه وه | چه دهغه | آواز وو | آیا نه کتل دوی

زیورا تو (کالو) نه یو سخے جوړ کړو تشه یوه جوثه وه چه اواز به ئے کولو آیا دوی دومره قدرے سوچ نه کوو

اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ

چه بیشکه | دے خبرے نشی کولے دوی سره | اونه ښودلے شی دوی ته | لار (هدایت) | اونیوودوی هغه لره په خپلئے

چه دے سخی نه خودوی سره خبرے کولے اونه ئے ورته سمه لاره ښودله اودوی هغه خپل معبود جوړ کړو

وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ۝ وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ

او وو دوی | ظالمان | اوهر کله چه | اوغوړ حوله شو داسخے ددوی په مخکښ | اواولیدل دوی | چه بیشکه دوی (خو)

او وو دوی شرک کونکی ۔ او کله چه دوی په خپلو کړو پښیمانه (شرمنده) شول او پوه شو چه واقعی

قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا

ګمراه شول | نو وئے وئیل | که چرے | رحم اونکړو په مونږ باندے | رب زمونږ | اوبخښنه اونکړی | مونږ ته

دوی ګمراه شوی دی نو وے وئیل که زمونږ رب په مونږ رحم اونکړو او بخښنه ئے را ته اونکړه نو

لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ

نو خامخا شو به مونږ | د تاوانیانو نه | او هر کله چه | واپس راغے | موسیٰ | خپل قوم ته

یقیناً مونږ به برباد شو ۔ او کله چه موسیٰ په غصه کښ او دغم نه ډک خپل قوم ته واپس راغے

غَضْبَانَ اَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْۢ بَعْدِيْ ۚ

په غصه | او په غم کښ | نو وئے وئیل | چه ډیر نکاره دے هغه کار | چه کړے دے تاسو زما نه روستو

نو وئے وئیل چه زما نه پس تاسو ډیر خراب کار او کړو آیا د خپل رب د حکم (وعده د څلویښتو شپو)

اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ

آیا تلوار او کړه تاسو | دوعدے | د رب ستاسو | اوزرے کیخودلے | تختے | او وئے نیولو | سر

د را تلو نه مخکښ مو تلوار لو کړو او تختې ئے (په تلوار) کیخودلے او خپل رور ئے د سر نه

اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ؕ قَالَ ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ

د خپل ورور | چه را ښکلو ئے | خان ته | اووئیل هغه (هارون) | اے د مور حویه زما | بیشکه | دے قوم (خلقو)

اونیوو چه خان ته ئے را خکلو (نو) هغه ورته اووئیل اے زما د مور حویه یقین او کړه چه دے خلقو

اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ۖ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَآءَ

کمزورے او کنړلم زه | اونزدے وه | چه وژلے ئے وے زه | پس مه خوشاله وه ته | په ما باندے | دشمنان

زه کمزورے او کنړلم او نزدے وه چه زه ئے وژلے وے نو اوس را باندے ته دشمنان مه خوشاله وه

وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ

او مه ګرځوه ما | سزه | د قوم | ظالمانو نه | اووئیل (موسیٰ) | اے ربه زما | بخښنه اوکړه ماته

او ما په دے ظالمانو کښ مه شمیره موسیٰ اووئیل اے زما ربه ماته اوزما ورور ته بخښنه اوکړه

ع ۱۹ وَلِاَخِیْ وَاَدْخِلْنَا فِیْ رَحْمَتِكَ ۖ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ۝

او زما وړور ته | او داخل کړه مونږ | په خپل رحمت کښې | او ته | د ټولو نه زیات رحم کونکے ئے

او مونږ په خپل رحمت کښې داخل کړه ته د ټولو نه زیات رحم کونکے ئے

اِنَّ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَیَنَالُهُمْ غَضَبٌ

بیشکه | کومو خلقو | چه نیولے دے | څخے (خپل معبود) | ډیر زر به اورسیږی هغوی ته | غضب

الله اوفرمائیل یقیناً چا چه څخے معبود جوړ کړے دے ډیر زر به په هغوی باندے د الله غضب

مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِی

د خپل رب د طرف نه | او رسوائی | په ژوند | دُنیوی کښې | او هم دغه شان | سزا ورکوو مونږ

نازل شی او د دنیا په ژوند کښې به رسوا شی او څوك چه دروغ جوړوی هغوی ته مونږ هم

الْمُفْتَرِیْنَ ۝ وَالَّذِیْنَ عَمِلُوا السَّیِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا

دروغ جوړونکو ته | او هغه خلق | چه اوکړی | ناکاره (بد) عملونه | بیا | توبه اوباسی

دا سے سزا ورکوو او څوك چه بد کارونه اوکړی او بیا توبه اوباسی

مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْۤا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ

دهغے نه پس | اوایمان راوړی | بیشکه | ستا رَب | پس د دے نه | خامخا بخښونکے

او ایمان راوړی نو یقیناً ستا رب د توبے نه پس ډیر بخښنه کونکے او ډیر

رَّحِیْمٌ ۝ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَی الْغَضَبُ اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۖۚ

مهربان دے | اوهرکله | چه په آرام شوه | د موسیٰ | غصه | (نو) راواځ غستلے | تختۍ

مهربان دے ـ او کله چه د موسیٰ غصه سړه شوه نو تختۍ ئے راوچتے کړے

وَفِیْ نُسْخَتِهَا هُدًی وَّرَحْمَةٌ لِّلَّذِیْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ

اودهغے په لیکلے شوی (مضمون) کښې | هدایت | اورَحمت وو | د پاره دهغه کسانو | چه هغوی | د خپل رب نه

اوپه هغے کښې چه کوم خبرے لیکلے شوی وے په هغے کښې دهغه چا د پاره هدایت اورحمت ووچه د خپل رب نه

یَرْهَبُوْنَ ۝ وَاخْتَارَ مُوْسٰی قَوْمَهٗ سَبْعِیْنَ رَجُلًا لِّمِیْقَاتِنَا ۚ

یریږی | اوغوره (خوښ) کړل | موسیٰ | د خپل قوم نه | اویا | کسان | د پاره د مقرر وخت زمونږ

یریږدل ـ اوموسیٰ د خپل قوم نه اویا سړی چونږ (خوښ) کړل چه زمونږ مقرر نیټے له راشی

فَلَمَّاۤ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ

پس هرکله چه | اونیول هغوی لره | زلزلے | (نو) اووئیل (موسیٰ) | اے ربه زما | که تا غوښتلے

بیا چه کله په هغوی زلزله راغله نوموسیٰ اووئیل اے زما ربه که تا غوښتلے

اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِیَّایَ ؕ اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ

نو هلاك کړے به دوے دوی | مخکښې د دے نه | او زه (هُم) | آیا ته هلاك کوے مونږ | په سبب دهغه څه | چه کړی دی

نو دوی او زه به د ے (د دے نه) پخوا هلاك کړے وے ایا په مونږ کښې دیو څو بے وقوفانو

السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِیَ اِلَّا فِتْنَتُكَ ؕ تُضِلُّ بِهَا

بے وقوفانو | مونږ نه | نه دے دا | مکر | ازمښت (امتحان) ستا | ته گمراه کوے | په دے سره

په حرکت ته مونږ (ټول) هلا کوې دا خوستا دطرف نه صرف یو ازمیښت (امتحان) دے چه ددے په ذریعه

مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِیْ مَنْ تَشَآءُ ؕ اَنْتَ وَلِیُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا

چاګره | چه غواړے | اوهدایت ورکوے | چاته | چه غواړے | ته ئے | کارساز زمونږ | پس بخښنه اوکړه مونږته

چه چاته اوغواړے گمراه کوے اوچاته چه اوغواړے هدایت ورکوے زمونږ کارساز هم ته ئے نو بخښنه راته اوکړه

وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَیْرُ الْغٰفِرِیْنَ ۝ وَاكْتُبْ لَنَا فِیْ هٰذِهِ

اورحم اوکړه په مونږ | او ته | دټولونه ښه | بخښنه کونکے ئے | او اولیکه | زمونږ دپاره | په دے

اورحم راباندے اوکړه اوته دټولونه زیات معاف کونکی ئے. اوزمونږ دپاره په دنیا کښ دنیکئ توفیق

الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَاۤ اِلَیْكَ ؕ قَالَ

دنیا کښ | توفیق دنیکئ | اوپه آخرت کښ (بدله دنیکئ) | بیشکه مونږ به | رجوع (توبه) کړے ده | تاته | اووئیل (الله)

اولیکه اوپه اخرت کښ هم (مغفرت اوجنت) یقیناً مونږ هم تاته رجوع کوو الله اوفرمائیل

عَذَابِیْۤ اُصِیْبُ بِهٖ مَنْ اَشَآءُ ۚ وَرَحْمَتِیْ وَسِعَتْ كُلَّ شَیْءٍ ؕ

خپل عذاب | زسوم زهٔ | دے لره | چاته | چه اوغواړم | اورحمت زما | خور (فراخه) دے | هر څیز ته

چه زهٔ خپل عذاب چاله اوغواړم هغه ته ئے ورکوم او زما رحمت هر څیز ته رسیدلے دے

فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِیْنَ یَتَّقُوْنَ وَیُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِیْنَ

پس دیر زر به اولیکم زهٔ دا رحمت | دپاره دهغه کسانو | چه ځان ساتی دنافرمانئ نه | اوورکوی | زکاة | اوهغه کسان

زه به دا رحمت (پوره) دهغه خلقو دپاره ضرور لیکم چه تقوٰی اختیار کړی اوزکواة ورکوی اوزمونږ په

هُمْ بِاٰیٰتِنَا یُؤْمِنُوْنَ ۝ الَّذِیْنَ یَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِیَّ

چه هغوی | زمونږ په آیتونو | ایمان راوړی | هغه کسان | چه تابعداری کوی | د رسول | چه نبی

ایتونو ایمان راوړی کوم چه دا سے نبی امی پسے روان وی (پیروی کوی) چه د هغه

الْاُمِّیَّ الَّذِیْ یَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ

امی دے | هغه پیغمبر | چه دوی موندی (صفت د) هغه | لیکلے شوے | د خپل ځان سره | په تورات

ذکر تذکره دوی خپل ځان سره په تورات او انجیل کښ لیکلے بیاموندی

وَالْاِنْجِیْلِ ۫ یَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ

اوپه انجیل کښ | هغه حکم کوی دوی ته | دنیکئ | او منع کوی دوی | د ناروا ؤ نه

چه دوی ته به د نیکئ حکم کوی او د بدئ نه به ئے منع کوی

وَیُحِلُّ لَهُمُ الطَّیِّبٰتِ وَیُحَرِّمُ عَلَیْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ

او حلالوی | دوی دپاره | پاکیزه څیزونه | او حرامول | په دوی باندے | ناپاک (پلیت) څیزونه

او پاکیزه څیزونه به ورله حلالوی او کنده (ناپاک) څیزونه به پرے حرامول

وَيَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ؕ

اولرے کوی | ددوی نه | بوج د دوی | او قیدونه (طوقونه) | هغه | چه وو | په دوی باندے

او ددوی نه به هغه درانهٔ حکمونه او هغه طوقونه د سختو سزاګانو لرے کوی چه په دوی باندے مقرر شوی وو

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا

پس چا چه | ایمان راوړو | په هغه | او ملاتړ ئے او کړو دهغه | او مدد ئے او کړو دهغه | او روان شو

پس (نو) څوک چه په دے پیغمبر ایمان راوړی او دهغه ملاتړ جوړ شی او مدد ئے او کړی او په هغه

النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۱۵۷ ع

په هغه رنړا پسے | چه نازل شوے ده | دهغه سره | (نو) هم دغه کسان | دوی | کامیاب دی

رنړا (نور) پسے روان شی چه د هغهٔ سره نازله شوے ده نو هم دا خلق کامیاب دی

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا ۨ الَّذِيْ

اووایه | اے خلقو | بیشکه زه | رسول | د الله یم | تاسو | ټولو ته | هغه الله

اے پیغمبره! دے خلقو ته اووایه چه اے خلقو زهٔ تاسو ټولو ته د الله رالیږلے شوے پیغمبر یم

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

چه د هغه دپاره ده | بادشاهي | د آسمانونو | او د زمکے | نشته دے | لائق د بندګۍ | سوا | د هغه نه

چه د اسمانونو او د زمکے بادشاهت د هغه په قبضه کښ دی د هغه نه سوا بل څوک د عبادت لایق نشته

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۪ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

ژوندی کول کوی هغه | او مړه کول کوی هغه | پس ایمان راوړئ | په الله | او په رسول د هغه | چه نبی | امی دے

هغه ژوندۍ او مړ ک ور کوی نو تاسو په الله او د الله په هغه رسول ایمان راوړے چه نبی امی دے

الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝۱۵۸

هغه | چه ایمان لری | په الله | او په کلام (احکامو) د هغه | روان شی په هغه پسے | د دے دپاره چه تاسو | سمه لار ومومئ

چه پخپله هم په الله او د هغه په کلمات و (کلام) ایمان لری او هغه پسے روان شئ چه په هدایت شئ

وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ۝۱۵۹

او د قوم | د موسیٰ نه | یوه ډله ده | چه لار ښائی | د حق طرف ته | او په هغے | فیصلے (انصاف) هم کوی

د موسیٰ په قوم کښ څه خلق (یو جماعت) دا سے هم شته چه خلقو ته سمه (حقه) لار ښائی او د حق مطابق د انصاف فیصلے کوی

وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ وَاَوْحَيْنَآ

او تقسیم کړی وو مونږ دوی | په دولس | خاندانونو کښ | ډلے ډلے | او وحی کړے وه مونږ

او مونږ دوی (بنی اسرائیل) په دولس قبیلو کښ په جدا جدا ډلو کښ تقسیم کړل او کله چه موسیٰ نه

اِلٰى مُوْسٰٓى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۚ

موسیٰ ته | کله چه | اوبه اوغوښتلے د هغه نه | قوم خپل | چه اووهه | په همسا خپله | ګټه

خپل قوم د اوبو مطالبه اوکړه نو مونږ ورته وحی اوکړه چه ګټ په همسا اووهه

فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ

نو روانے شوے | دھغے نه | دولس | چینے | یقیناً | پیژندلو | هر یوے | دلے

نو دھغے نه دولس چینے راوختکیدلے هر خاندان (دلے) ته خپل خپل ځودر معلوم شو

مَّشْرَبَهُمْ ؕ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ

ځودر (چینه) خپله | اوسورے کړه مونږ | په دوی باندے | وُریځ | اوراولیږل مونږ | په دوی باندے | ترنجبین

او مونږ په دوی باندے د وریځے سورے اوکړو او مَن او سلوٰی مو پرے نازل کړل

وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ

او مَرزان | خورئ | د پاکیزه | هغه څیزونه | چه درکړی دی مونږ تاسوته

(او ورته مو اووئیل چه) هغه پاکیزه څیزونه خورئ کوم چه مونږ درکړی دی

وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝١٦٠ وَاِذْ

لودوی ظلم نه وو کړے په مونږ باندے | لیکن | وو دوی | چه په خپل ځانونو ئے | ظلم کولو | او کله چه

او دوی (خو) زمونږ څه نقصان نه وو کړے لیکن دوی خپلو ځانونو سره ظلم کولو.

قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ

اووئیلے شو | دوی ته | (چه) اوسیږئ | په دے | کلی کښ | او خورئ | ددے نه | چرته چه

او کله چه دوی ته اووئیلے شو چه اوسیږئ په دے کلی کښ او چرته مو چه خوښه وی

شِئْتُمْ وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

خوښه هی ستاسو | او وایئ | معافی غواړو مونږ | او داخل شئ | دروازے ته | سرخکته کونکی (عاجزی کونکی)

نو خوراک کوئ ددینه او دا وایئ چه الله مونږ دبخښنے طلبګار یُو او دَنبار دروازے ته دسجدے په حالت

نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطِيْٓـئٰتِكُمْ ؕ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ۝١٦١ فَبَدَّلَ

اوبه بخښو مونږ | تاسوته | ګناهونه ستاسو | زیږزیه مونږ زیات ور کړو | نیکانو ته (اجر دهغوی) | پس بدل کښ اووئیله

کښ داخل شئ (نو) مونږ به ستاسو ګناهونه معاف کړو او نیکانو ته به زیات ثواب ور کړو نو دوی ته چه

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِىْ قِيْلَ

هغه کسانو | چه ظلم ئے کړے وو | د دوی نه | (یوه) وَینا | غیر (علاوه) | دهغے نه | چه وئیلے شوے وه

کومه خبره شوے وه ظالمانو هغه خبره په بلے خبرے سره بدله کړه نو مونږ پرے

لَهُمْ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا

دوی ته | پس راولیږلو مونږ | په دوی باندے | عذاب | د آسمان نه | په دے وجه | چه دوی

د دے ظلم په وجه د اسمان نه عذاب را نازل کړو

يَظْلِمُوْنَ ۝١٦٢ وَاسْـَٔلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِىْ كَانَتْ حَاضِرَةَ

ظلم کولو | او تپوس اوکړه د دوی نه | په باره دهغه کلی کښ | چه (اباد) وو | په غاړه

او د دوی نه د هغه کلی (ایلهٔ) په باره کښ تپوس اوکړه چه د بحر قلزم په غاړه اباد وو

الْبَحْرِ اِذْ يَعْدُوْنَ فِي السَّبْتِ اِذْ تَاْتِيْهِمْ حِيْتَانُهُمْ

د دریاب | کله چه | دوی د حد نه واوړدل | په ورځ د خالی کښ | کله به چه | راتلل دوی ته | مهیان (کبان) د دوی

چه د خالی په ورځ کښ هغوی د حد شرعی نه تیریدل کړی وو چه مهیان (کبان) به ورته

يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا وَّيَوْمَ لَا يَسْبِتُوْنَ ۙ لَا تَاْتِيْهِمْ ۚ

په ورځ | د خالی د دوی کښ | ښکاره (په ډاګه) | او کومه ورځ چه | خالی به نه وو په دوی | نه به راتلل دوی ته

د خالی په ورځ ښه په ډاګه ښکاره کیدل او چه د خالی ورځ به نه وه نو نه به راتلل

كَذٰلِكَ ۚ نَبْلُوْهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝ وَاِذْ قَالَتْ

دغه شان | امتحان کولو مونږ په هغوی | په دے وجه | چه دوی | نافرمانی (فسق) کولو | او کله چه | اوو ټیل

دغه شان د هغوی د نافرمانو په وجه مونږ د هغوی ازمیښت کولو۔ او کله چه د دوی

اُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ

یوے ډلے | د دوی نه | ولے نصیحت کوئ تاسو | هغه قوم (خلقو) ته | چه الله | هلاکولونکے دے هغوی لره

یوے ډلے ټلے ډلے ته اوو ټیل چه تاسو هغه خلقو ته ولے نصیحت کوئ چه یا به ئے الله هلاک کړی په دنیا کښ

اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۭ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ

یا عذاب ورکونکے دے هغوی ته | عذاب | ډیر سخت | اوو ټیل دوی | د پاره د عذر پیش کولو | رب ستاسو ته (نصیحت کوو)

یا ورله څه سخته سزا ورکوی نو هغوی ورته اوو ټیل چه داکار څکه کوو چه ستاسو رب ته (خپل) عذر پیش کړو

وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ۝ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖٓ

او شاید چه دوی | بچ شی (د گناه نه) | پس هر کله | چه هیر کړو دوی | هغه ذکر | چه نصیحت کړے شوے وو دوی ته | د هغے

او کیدے شی چه دوی پرهیزګار شی. خو کله چه هغوی هغه خبره هیره کړه د کومے چه ورته نصیحت شوے وو

اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ

نو بچ کړل مونږ | هغه کسان | چه منع به ئے کوله | د بد کار نه | او اونیول مونږ | هغه کسان

نو چا چه د بدئ نه خلق منع کول هغه مونږ بچ کړل او نور ټول ظالمان مو د هغوی

ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۢ بَـِٕيْسٍۢ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝ فَلَمَّا

چه ظلم ئے کړے وو | په عذاب | سخت سره | په دے وجه | چه دوی به | نافرمانی کوله | پس هر کله

د نافرمانۍ په وجه سخت عذاب کښ راونیول نو د کوم کار نه چه دوی

عَتَوْا عَمَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا

چه نافرمانی اوکړه دوی | د هغه څه نه | چه منع کړے شوے وو | د هغے نه | اوو ټیل مونږ | دوی ته | شئ

منع کړے شوی وو چه کله ئے د هغے نه سرکشی اوکړه او دین ئے بدل کړو نو مونږ ورته اوو ټیل (بطور سزا

قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ۝ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ

شادوکان | دلیله | اوکله چه | اعلان اوکړو | رب ستا | چه خامخا به راالیږی | په دوی باندے

من جنس العمل) چه دلیله شادوکان شئ. او کله چه ستا رب اعلان اوکړو چه تر قیامته پورے به په دوی باندے

إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ

تر ورځے د قیامت پورے | هغه څوک | چه رسوی به دوی ته | سخت | عذاب | بیشکه | رب ستا

دا سے څوک مسلط کوی (کوم) چه دوی ته به ډیر (سخت) عذاب ورکوی یقیناً ستا رب

لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾ وَقَطَّعْنَاهُمْ

خامخا زر | عذاب ورکونکے دے | او بیشکه هغه | خامخا بخښونکے | مهربان دے | اوتقسیم کړل مونږ دوی

ډیر زر سزا ورکونکے دے او یقیناً ډیر بخښونکے او مهربان (هم) دے اومونږ دوی په دنیا کښې په مختلفو

فِي الْأَرْضِ أُمَمًا ۖ مِّنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَٰلِكَ ۖ

په زمکه کښې | ډلے ډلے | بعضے دوی نه | نیکان دی | او بعضے دوی نه | سوا دی | ددے نه

ډلو کښې تقسیم کړل څوک پکښې نیکان وو او څوک پکښې بل شان (بدان) وو

وَبَلَوْنَاهُم بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿١٦٨﴾

اوازمایلے وومونږ دوی | په نعمتونو (خوشالو) | او تکلیفونو سره | دے دپاره چه دوی | راوګرځی

اومونږ په دوی باندے ډېر ښو او ډېرو (دواړو) حالاتو ازمېښتونه اوکړل دے دپاره چه دوی سمے لارته واپس راشی

فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ

پس راغلل (جانشین شول) | روستو دوی نه | ناکاره وارثان | چه وارثان شول | د کتاب | (او) اخلی دوی

خو بیا ددوی نه روستو دا سے جانشین پاتے شو چه دالله د کتاب وارثان خو شول خو حال ئے داوو

عَرَضَ هَٰذَا الْأَدْنَىٰ وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَإِن

سامان | ددے | معمولی (ادنیٰ) ډول | او وائی | چه خامخا (ډېر به) بخښنه اوکړے شی | مونږ ته | اوکه چرے

چه ددے ذلیله دنیا حرام سازوسامان ئے پرے حاصلوو اودا به ئے وئیل چه زمونږ به بخښنه کیږی حالانکه

يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُ يَأْخُذُوهُ ۚ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم

راشی (ملاوشی) دوی ته | سامان | دغسے (نور) | نو دوی اخلی هغه (هم) | آیا نه وه اغستلے شوے | د دوی نه

که دغسے نور حرام سازوسامان ورته بیا پیښ لاس راغے نو هغه هم اخلی آیا د دوی نه په دغه کتاب کښې

مِّيثَاقُ الْكِتَابِ أَن لَّا يَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ

کلکه وعده | په کتاب کښې | چه | نه به وائی دوی | په الله باندے | مګر | حق

دا لوظ نه وو اغستلے شوے چه په الله باندے به د حق نه سوا بل څه نه وائی

وَدَرَسُوا مَا فِيهِ ۗ وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ

اولوستلے دے دوی | هغه څه | چه په دے کښې وو | او کور | روستنئ | ډېر غوره (ښه) دے | دپاره د هغه چا

او کتاب کښې چه څه وو هغه دوی لوستلے هم وو اود اخرت کور د هغه چا د پاره ډیر بهتر دے

يَتَّقُونَ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦٩﴾ وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ

چه تقوٰی اختیار کړی | آیا پس تاسو عقل نه لرئ | او هغه کسان | چه منګولے اولګوی | په کتاب د الله

چه تقوٰی اختیار کړی ایا بیا هم تاسو د عقل نه کار نه اخلئ او هغه چا چه (زمونږ) کتاب په مضبوطیا سره نیولے دے

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ۝ وَاِذْ

او پابندی کوی | د مانځه | بیشکه مونږ | نه ضائع کوو | اجر | د اصلاح کونکو | او کله چه

او مونځونه په پابندئ سره کوی یقیناد داسے (نیکانو خلقو) اصلاح کونکو اجر مونږ نه ضائع کوو او کله چه

نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْۤا اَنَّهٗ

راوچت کړو مونږ | غر | د دوی د پاسه | گویا چه دا | چتهرئ وه | او دوی خیال او کړو | چه دا (خو)

مونږ غر د دوی د پاسه دا سے راوچت کړو لکه چهترئ او دوی یقین او کړو چه دا خو به اوس

وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا مَاۤ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا

راپریوتونکے دے | په دوی باندے | اونیسئ (واخلئ) | هغه څه | چه مونږ درکوو تاسو ته | په قوت سره | او یاد کړئ

راپریوزی (نو دغه وخت ورته مونږ حکم او کړو چه) مونږ کوم کتاب درکړے دے هغه مضبوط اونیسئ

مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ ع وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ

هغه څه | چه په دے کښ دی | دے دپاره چه تاسو | پرهیزګاره شئ | او کله چه | واغستلو (پیدا کړو) | رب ستا

او دهغے خبرے یاد کړئ چه تاسو پرهیزګار جوړ شئ. او هغه وخت ورته یاد کړه کله چه ستارب دبنیادمو

مِنْۢ بَنِيْۤ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَاَشْهَدَهُمْ

د بنیادمونه | یعنی د شاګانو د هغوی نه | اولاد د هغوی | اوګواهان ئے کړل دوی

د شاګانونه دهغوی اولاد راوویستلو او په خپلو ځانونو ئے پخپله ګواهان کړل اوتپوس ئے ترے او کړو

عَلٰۤى اَنْفُسِهِمْ ۚ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى ۛۚ شَهِدْنَا ۛۚ

په خپلو ځانونو | آیا نه یم زهٔ | رب ستاسو | اووئیل دوی | ولے نه | ګواهی کوو مونږ

چه آیا زهٔ ستاسو رب نه یم تولو اووئیل چه ولے نهٔ مونږ ددے ګواهی ورکوو

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ۝ۙ

چه اونهٔ وایئ تاسو | په ورځ د قیامت | چه بیشکه | مونږ وو | د دے نه | بے خبره

دا ځکه چه تاسو د قیامت په ورځ دا اونه وایئ چه مونږ دَدے نه خبر نه وو

اَوْ تَقُوْلُوْۤا اِنَّمَاۤ اَشْرَكَ اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً

یا چه اونه وایئ تاسو | (چه) بیشکه | شرک کړے وو | پلارانو (مشرانو) زمونږ | مخکښ ددینه | او وو مونږ | اولاد (ددوی)

یا دا اونه وایئ چه شرک خو پیر مخکښ زمونږ پلار نیکه (شروع) کړے وو او مونږ خو د هغوی په نسل کښ

مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝ وَكَذٰلِكَ

روستو د دوی نه | نو آیا هلاکوے ته مونږ | په سبب د هغه څه | چه کړی دی | باطل پرستو (کمراهانو) | او هم دغه شان

وروستو پیدا شوی وو نو آیا ته مونږ د هغه کارونو په وجه هلاکوے چه غلط کارو خلقو کړی وو او دغه شان

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ

په تفصیل سره بیانوو مونږ | آیتونه | او دے دپاره چه دوی | بیرته راوګرځی | او اولوله (بیان کړه) | په دوی باندے | خبر (حال)

مونږ خپل آیتونه په تفصیل سره بیانوو چه خلق سمے لارے ته راوګرځی او اے پیغمبره دوی ته دهغه

الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ

دهغه کس | چه مو کړی وو مونږ هغه ته | آیتونه خپل | پس (بیا) ووتلو هغه | ددے نه | نو اولګیدو په هغه پسے | شیطان

کس واقعه واوروه چه مونږ ورله د خپل آیتونو علم ور کړے وو خو هغه تر ډیره څان راښکلو او عمل ـ ځپړے پر یخود لو نو شیطان

فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ۝ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا

نو شو | دسر کشانو (کمراهانو) نه | او که چرے | غوښتلے مونږ | نو خامخا به اوچت کړے وو مونږ هغه | په ددے آیتونو سره

ور پسے هوا او سر کشو خلقو کښ شامل هوا او که مونږ غوښتلے نو مونږ به ددے آیاتو نو د عمل په وجه

وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ

لیکن هغه | مائل (کوږ) شو | زمکے ته | او روان شو | په خپل خواهش پسے | پس مثال دهغه

دهغه مرتبه اوچته کړے وے لیکن هغه خو دنیا ته مائل هوا او خپل خواهش پسے روان شو نو (څکه خو) دهغه مثال

كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ

په هان د مثال | د سپی دے | که ته حمله کوے | په هغه | نو ژبه راوباسی | یا ته پریږدے هغه لره

پشان د مثال دهغه سپی شو (چه) که ته په هغه حمله کوے نو هم ژبه راوباسی او که په خپل حال ئے پریږدے

يَلْهَثْ ۭ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ

نو (بیاهم) ژبه راوباسی | دا | مثال دے | دهغه قوم | چه دروغژن کنړی | آیتونه زمونږ

نو هم ژبه راوباسی دا مثال دهغه خلقو دے چه زمونږ آیتونه دروغژن کوی

فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ۝ سَآءَ مَثَلًا

پس بیان کړه ته | دا بیان | دے دپاره چه دوی | غور او کړی | ډیر بد دے | په اعتبار د مثال

نو ته د دا واقعات بیانوه چه دوی غور او فکر او کړی ـ څومره بد مثال دے

الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ۝

هغه قوم | چه دروغژن کنړی | آیتونه زمونږ | او په خپلو خانونو باندے | دوی همیشه ظلم کوی

دهغه خلقو چه زمونږ آیتونه ئے دروغ کنړل او په خپل خانونو ئے ظلم کولو

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ

چاته چه | هدایت او کړی | الله | نو هغه دے | په سمه لار تلونکے | او چاته چه | کمراه (بے لارے) کړی الله

چاته چه الله هدایت او کړی نو هغه په سمه لاره دے او څوك چه د هدایت نه محروم کړی

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝ وَلَقَدْ ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ

پس دغه کسان | هم دوی | نقصان مونډونکی دی | او یقیناً | پیدا کړی دی مونږ | دپاره د جهنم

نو هم هغه تاوانیان دی ـ او یقیناً مونږ په پیریانو او انسانانو کښ ډیر خلق د جهنم

كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۖ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۡ

ډیر | د پیریانو نه | او انسانانو نه | د دوی دپاره | دا سے زړونه دی | چه دوی نه پوهیږی | په هغے سره

دپاره پیدا کړی دی (چه) دهغوی زړونه هسته خو د حق د پوهے کوشش پرے نه کوی

وَلَهُمْ اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۫ وَلَهُمْ اٰذَانٌ لَّا يَسْمَعُوْنَ

اودوی دپارہ | دا سے ستر کے دی | چه دوی نه وینی | په هغے سره | اودوی دپارہ | دا سے غوږونه دی | چه دوی نه اوری

اوستر کے ئے (هم) شته خو کتل پرے نه کوی (دَحق) اوغوږونه ئے هم شته خو حق پرے اوری نهٔ

بِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ هُمْ اَضَلُّ ؕ اُولٰٓئِكَ

په هغے سره (حق) | دغه کسان | پشان دځاروودی | بلکه | دوی | زیات گمراهان دی ددے نه | او دغه کسان

ددے خلقو اودځاروو دزندګۍ مقصد یَو شالتے دے بلکه هغوی نه هم زیات گمراه دی اوهم داخلق په پوره

هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ۝۱۷۹ وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪

بس دوی | بے خبره دی | اوخاص دالله دپاره دی | نومونه | خائسته (ښه) | پس را بلاځ هغه | په دے سره

غفلت کښ پراته دی. دالله خائسته خائسته نومونه دی نو الله هم په دغه نومونو یادوئ (را بلاځ)

وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ؕ سَيُجْزَوْنَ مَا

اوپریږدئ | هغه کسان | چه کوږوالے کوی | په نومونو دهغه کښ | دیرزر به دوی ته بدله ورکړے شی | دهغه عملونو

اوهغه خلق پریږدئ چه دالله په نومونو کښ کږوالیج (کږه لاره) لتوی دیرزر به دوی ته دخپلو عملونو

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۱۸۰ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ

چه دوی کول | اودهغه چانه | چه مونږ پیدا کړی دی | یوه ډله ده | چه لاره ښائی | دحق طرف ته

بدله ملاوشی. اوزمونږ په مخلوق کښ یوداسے جماعت (ډله) هم شته چه خلقوته سمه لار ښائی اودحق

وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ۝۱۸۱ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ

اوپه دے | فیصلے کوی | اوهغه کسان | چه دروغژن ګڼری | آیتونه زمونږ | زدهغه په دمه دمه به ځان اونیسو مونږ

مطابق فیصلے کوی. اوچا چه زمونږ آیتونه (حکمونه) دروغ ګڼرلے دی مونږ به هغوی په دمه دمه

مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۱۸۲ وَاُمْلِيْ لَهُمْ ؕ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ۝۱۸۳

په دا سے طریقه | چه دوی به نه پوهیږی | اومهلت ورکومرزه | دوی ته | بیشکه | تدبیرزما | دیرزبردست دے

دا سے راونیسو چه هغوی ته به پته هم اونهٔ لګی اوزه دوی ته مهلت ورکومر یقین وساګ چه زما نیول دیر مضبوط دی

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا ۗ مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ

آیا غور نه کوی دوی | چه نشته | په ملګری ددوی | هیڅ (څه) لیونتوب | نه دے دا | مګر | یرولکے دے

ایادے خلقو دے خبرے ته هیڅ سوچ (فکر) اونکړو چه ددوی په دے ملګری (پیغمبر) هیڅ قسم لیونتوب نشته

مُّبِيْنٌ ۝۱۸۴ اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ښکاره | آیا نه کوری دوی | په بادشاهۍ | د آسمانونو | او زمکه کښ

(بلکه) هغه خو ښکاره یَرولکے دے. ایا دوی داسمانونو اودزمکے سلطنت (حکومت) کښ غور اوفکر نهٔ کوی

وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ وَّاَنْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ

اوپه دے کښ | چه پیدا کړی دی | الله | هرشیز | او داچه | شاید | شوے وه

اوپه هغه شیزونو کښ چه الله پیدا کړی دی اودے ته ئے هم چرته سوچ اونکړو چه ددوی مقرره

قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ۝

نزدے | نیتہ د دوی | لوپہ کومہ | خبرہ به | پس ددے نہ | دوی ایمان راوړی

نیتہ شاید نزے شوے دہ اوس ددے (قرآن) نہ پس بہ اخر بلہ کومہ خبرہ وی چہ دوی بہ پرے ایمان راوړی.

مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ؕ وَيَذَرُهُمْ

هغہ څوك | چہ بے لارے ئے کړی | الله | نوشتہ دے | هیڅ څوك هدایت ور کولے | هغہ لره | اوهغہ پریږدی دوی لره

الله تعالی چہ څوك بے لارے کړی هغہ هیڅ څوك پہ لار نشی راوستلے اودا سے خلق الله تعالی

فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ

پہ خپلہ سرکشۍ کښ | چہ سرګردانہ بہ وی | دوی تہوس کوی ستانہ | د قیامت پہ بارہ کښ | چہ کلہ بہ وی

(بے یارا و مددګارہ) پریږدی چہ پہ خپلہ سرکشۍ کښ سرګردانہ وی اے پیغمبرہ ادوی (خلق) تانہ دقیامت پہ بارہ

مُرْسٰىهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ ۚ لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَاۤ

قائمیدل دهغے | اووایہ | بیشکہ | علم دهغے | زمارب سرہ دے | نہ بہ ښکارہ کوی دے لرہ | پہ خپل وخت

کښ تہوس کوی چہ کلہ بہ راځی؟ لوتہ ورتہ اووایہ چہ ددے علم خوصرف زمارب سرہ دے هم هغہ بہ ئے پہ خپل وخت

اِلَّا هُوَ ؕ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا

مکر | هغہ (الله) | درنہ خبرہ دہ دا | پہ آسمانونو | او پہ زمکہ کښ | نہ بہ راځی تاسو تہ | مکر

باندے ښکارہ کوی او پہ اسمانونو اوزمکہ کښ دا پیر درون ځیږدے (او) پہ تاسو بہ بالکل ناڅاپہ

بَغْتَةً ؕ يَسْئَلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا

ناڅاپہ | دوی تہوس کوی ستانہ | گویا چہ تہ | تلاش (لتون) کولکے ئے | دهغے | اووایہ | بیشکہ

(ناګهانہ) راځی داخلق تانہ دا سے تہوس کوی لکہ چہ تادقیامت بارہ کښ پورہ تحقیق کړے دے تہ دوی تہ اووایہ

عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ قُلْ

علم دهغے | د الله سرہ دے | لیکن | اکثر | خلق | نہ پوهیږی | اووایہ

چہ دهغے علم خوصرف د الله سرہ دے خو اکثر خلق (پہ دے خبرہ) نہ پوهیږی. اے پیغمبرہ دوی تہ اووایہ

لَاۤ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

زہ اختیار نہ لرم | د خپل ځان دپارہ | د فائدے | او د نقصان | مګر | څه چہ | او غواړی | الله (نو هغہ کیږی)

چہ هر څہ د الله تعالی پہ اختیار کښ دی زہ خو د خپل ځان د نفع او نقصان اختیار نہ لرم

وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۛۚ وَمَا مَسَّنِيَ

اوکہ چرے زہ | پوهیدلے | پہ غیبو | نو خامخا بہ مازیر حاصل کړے وے | خیر (فائدے) | اونہ بہ وو رسیدلے ماته

اوکہ زہ پہ غیبو خبرو پوهیدلے نو ځان له به مے ډیر ے د خیر خبرے راجمع کړی وے او هیڅ نقصان

السُّوْٓءُ ؕ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ ع

هیڅ تکلیف | نه یم زہ | مګر | ویرووونکے | اوزیرے ورکوونکے | هغہ قوم (خلقو) تہ | چہ ایمان راوړی

(تکلیف) بہ راتہ نہ را رسیدو زہ خو بس یو ویرووونکے اوزیرے ورکوونکے یم هغہ چا تہ چہ زما خبرہ منی

هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا

هم الله هغه ذات دے | چه هغهٔ پیدا کړی یې تاسو | د نفس | یو نه | اوپیدا کړے ئې ده | ددغے نفس نه
الله تعالی ذات دے چه تاسو ئے د یو نفس نه پیدا کړئ او هم د هغه نه ئے ځرله جوړه

زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ اِلَيْهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا حَمَلَتْ

ښځه ددهٔ | چه دے آرام حاصل کړی | دهغے سره | پس هرکله | چه پته ئے کړه هغے لره | نو حامله شوه هغه
(بی بی) پیدا کړه چه آرام (سکون) ورسره وکړی موږ ښیاکله چه سړے (نر) دښځے سره یو ځائے شو

حَمْلًا خَفِيْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ

په حمل | سپك سره | نو گرځیده به | دهغے سره | بیاهرکله | چه درنه شوه | نو دواړو دعا اوکړه | د الله نه
نو دهغے معمولی شان حمل شو چه ورسره به گرځیده راگرځیده کله چه حمل درون شو نو دواړو خپل

رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝

چه ربه ئے | اکه چرے | را کړو تاسو نړ له | روغ جوړ بچے | نو خامخا ئیو به مونږ | د شکر گزارو له
پروردگار ته دعا اوکړه چه که چرے تاسو نړ ته نیك (روغ موټ) بچے را کړو نو مونږ به ستا د پیر شکر گزار ئیو

فَلَمَّآ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ

نو هرکله چه | هغه ورته ورکړو | روغ موټ بچے | نو جوړ کړو دوی | هغه لره | شریکان | په هغه بچی کښ
خو چه کله ورله الله نیك (روغ موټ) بچے ورکړو نو دواړو د الله ورکړی شوی نعمت کښ دهغه سره شریکان جوړ کړل

اٰتٰىهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ اَيُشْرِكُوْنَ

چه ورکړے وو الله دوی ته | پس لوړ لوچت دے | الله | دهغه څه نه | چه دوی ئې ورسره شریکوی | ایا دوی شریکوی (دهغه سره)
حالانکه الله تعالی ددوی دشریکانو نه لوړ اوچت دے. آیا دوی د الله سره داسے څیزونه شریکان گڼری

مَا لَا يَخْلُقُ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ۝ وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

هغه څه | چه نشی پیدا کولے | هیڅ شے | اودوی (پخپله) | پیدا کړے شوی دی | اونه هغوی وس (طاقت) لری
چه هیڅ څیز نشی پیدا کولے بلکه په خپله پیدا کړے شوے دی. اونه دوی سره دځه

لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ۝ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ

ددوی | د مدد | او نه د خپل ځان | مدد کولے شی | او که چرے | رابلئ تاسو دوی
مدد کولو طاقت لری او نه د خپل ځان مدد کولے شی او که چرے تاسو ئے سړے لارے ته رابلئ

اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ۭ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ

سړے لارے ته | نو تابعداری نه کوی ستاسو | برابره ده | په تاسو باندے | که رابلئ تاسو دوی
نو ستاسو خبره نه منی (بلکه) که تاسو ئے رابلئ او که چپ پاتے شئ هغوی

اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او که چپ پاتے یئ تاسو | بیشکه | هغه څوك | چه تاسو (ئے) رابلئ | سوا د الله نه
دوباره دواړه خبرے برابر دی۔ یقین وساځ چه د الله نه سوا چه تاسو څوك رابلئ

عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

(هغوی خو) بندگان دی | ستاسو پشان | نو (څه) راوبلئ دوی | نو قبوله دے کړی | دعا ستاسو | که یئ تاسو

هغوی خو ستاسو په شان (دالله) بندگان دی نو څه بس راوغواړئ چه ستاسو څه حاجت پوره کړی که تاسو

صٰدِقِيْنَ ۝ اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ

رشتینی | آیاشته ددوی | خپے | چه کرئ | په هغے باندے | یاشته ددوی | لاسونه

رشتینی یئ - آیا (ولے) ددوی خپے شته چه تگ پرے اوکړی یا ئے لاسونه شته

يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ

چه نیول کوی | په هغے باندے | یاشته ددوی | ستر گے | چه لیدل کوی | په هغے باندے | یاشته ددوی

چه نیول پرے اوکړی (چه څه پرے ولیسی) یا ئے ستر گے شته چه لیدل (کتل) پرے اوکړی یا ئے

اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا ؕ قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ

غوږونه | چه اوریدل کوی | په هغے | اووایه | راوبلئ | خپل شریکان | بیا | تدبیر وکړئ زما خلاف

غوږونه شته چه څه پرے واوری اے پیغمبره اته دوی ته اووایه چه تاسو خپل شریکان (معبودان) راوبولئ او بیا زما خلاف

فَلَا تُنْظِرُوْنِ ۝ اِنَّ وَلِيِّۦَ اللّٰهُ الَّذِيْ نَزَّلَ الْكِتٰبَ ۚ

او (بیا) ماته مهلت مه راکوئ | بیشکه | زما کارساز (بیخ کوونکے) | هغه الله دے | چه راپرے لے ځے | کتاب

تدبیر (سازش) چورکړئ او ماته لږ مهلت هم مه راکوئ یقیناً زما مددگار (ساتونکے) خو هغه الله دے چه کتاب ئے

وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

اوهغه | ملگرتیا (کارسازی) کوی | د نیکانو | او هغه کسان | چه تاسو ئے راوبلئ | سوا دهغه (الله) نه

راپرے لے دے اوهغه د نیکانو خلقو کارسازی کوی او تاسو چه دالله تعالیٰ نه سوا کوم نور معبودان راوبلئ

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ۝ وَاِنْ

وَس (طاقت) نه لری | ستاسو مدد | او نه دخپل ځان | مدد کولے شی | او که چرے

(نو) هغوی خو نه ستاسو سره د مدد کولو طاقت لری او نه دخپل ځان مدد کولے شی او که

تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ؕ وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ

تاسو راوبلئ دوی | سمے لارے ته | نو بلهٔ آوری | اوته وینے (ستاخیال دادے) چه دوی | گوری

تاسو ئے سمے لارے ته راوبلئ نو اوری هم نه او هغوی تاته داسے ښکاری لکه چه

اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ

تاته | اوحال دادے چه دوی | هیڅ نه وینی | معافی کوه | او حکم کوه | د نیکئ

تاته گوری حالانکه (حقیقت دادے چه) هیڅ نه وینی. اے پیغمبره انرمی اختیار کړه او (خلقو ته) دنیکئ حکم کوه

وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ۝ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ

او مخ اړوه | د جاهلانو نه | او که چرے | اورسی تاته | د شیطان د طرف نه | څه وسوسه

او جاهلانو نه توجه مه کوه او که چرے ستاپه زړه کښ د شیطان د طرف نه څه وسوسه پیدا شی

فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا

نو پناه غواړه | په الله سره | بیشکه هغه | اوریدونکے | پوهه دے | بیشکه | هغه کسان | چه ګرېږی د الله نه

نو په الله سره پناه غواړه یقیناً هغه دهر څه اوریدونکے او په هر څه باندے پوهه دے. یقیناً چا چه تقوٰی

اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ

کله چه | اوړسی هغوی ته | څه وسوسه (حمله) | د شیطان | نو دوی رایاد کړی (الله) | نو دغه وخت | دوی

اختیار کړے ده هغوی ته چه کله د شیطان د طرف نه څه وسوسه پیدا شی نو زر الله رایاد کړی او فوراً ستر گے

مُّبْصِرُوْنَ ۝ وَاِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ

هوښیارونکی (بصیرت حاصلونکی وی) | او ددوی ورُونړه (ملګری) | راکاږی دوی لرې | په سرکشۍ کښ | بیا دوی

اوغږیږی او کوم چه ددے شیطانانو ورونړه (ملګری) دی شیطانان هغوی په گمراهۍ کښ راکاږی نتیجه داشی چه هغوی بیا

لَا يُقْصِرُوْنَ ۝ وَاِذَا لَمْ تَاْتِهِمْ بِاٰيَةٍ قَالُوْا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ؕ

هیڅ کمے نه کوی | او کله چه | رانه وړے ته دوی ته | څه نښه (معجزه) | نو دوی وائی | ولے دځانه نه جوړے کړه (نښه)

د گمراهۍ نه منع کیږی نه. او اے پیغمبره اکله چه ته دوی ته ددوی فرمائشی معجزه پیش نکړے نو وائی چه دغه معجزه ولے

قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ هٰذَا

اووایه | بیشکه | زه تابعداری کوم | د هغه څه | چه وحی کولے شی | ماته | د خپل رب د طرفه | دا دلیلونه

(په خپله خوښه) پیش نکړه ته ورته اووایه چه زه خو د هغه څه تابعداریم څه چه ماته زما د رب د طرف نه وحی کیږی دا

بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝

ډېرے خبرے دی | ستاسو رب د طرف نه | او هدایت | اورحمت دے | د هغه قوم د پاره | چه ایمان لری

(قرآن) ستاسو د رب د طرف نه ډېرے دلیلونه دی او څوک چه ایمان راوړی د هغوی د پاره هدایت اورحمت دے

وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ

او کله چه | لوستلے کیږی | قرآن | نو ښه غوږ کیږدئ | دے (قرآن) ته | او چپ (خاموش) شئ | دے د پاره چه په تاسو

او کله (هم) چه قرآن لوستلے کیږی نو غوږ پورته کیږدئ (په توجه سره ئے اوریئ) او چپ وسئ چه

تُرْحَمُوْنَ ۝ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ

رحم او کړے شی | او یاد وه ته | رب خپل | په زړه خپل کښ | په عاجزئ | او په ویره | او بغیر

رحم درباندے وشی او (اے پیغمبره!) سحر او ماښام په خپل زړه کښ په عاجزئ سره او په پته

الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝

د اوچت | آواز (وینا) نه | صبا (سحر) | بیګا (ماښام) | اومه کیږه ته | د له خبرونه (غافلانو نه)

بغیر د آواز اوچتولونه د خپل رب ذکر کوه او په غافلانو کښ څان مه شاملوه

اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ

بیشکه | هغه کسان | چه ستا رب سره دی | لوئ نه کوی هغوی | د عبادت د هغه (الله) نه

یادساته کوے فرشتے چه ستا د رب په خوا کښ (ستا رب سره) دی هغوی د الله د بندګی نه څان لوئے نه کوی

وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ۝۲۰۶ ع

او پاکی بیانوی دهغه | او هم هغه ته | سجدے کوی |

او د هغه پاکی بیانوی او هم هغه ته سجدے کوی ۔

آیاتها [۷۵]	سورة الأنفال مدنيّة	رکوعاتها [۱۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم ۔| د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم د هغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم ۔

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا

دوی تپوس کوی ستانه | د غنیمتونو په باره کښ | اووایه | غنیمتونه | دالله | او د رسول دی | پس اویریږئ

اے پیغمبره اخلق تاله د غنیمت دمال په باره کښ تپوس کوی (نو) ته ورته اووایه چه د غنیمت دمال په باره کښ د فیصلے اختیار

اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۪ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ

دالله نه | او صلح (اصلاح) کوئ | په خپل مینځ کښ | او تابعداری کوئ | د الله | او د هغه د رسول

دالله او د هغه د رسول دے نو تاسو دالله نه اویریږئ او خپل مینځ کښ تعلقات سم کړئ او که تاسو واقعی مومنان یئ نو دالله

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝۱ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

که چرے یئ تاسو | مومنان | بیشکه | (خو) هغه کسان دی | چه کله | یاد کړے شی | الله

او د هغه د رسول خبره (حکم) په خوشحالئ سره ومنئ ۔ یقیناً مومنان خو هغه خلق دی چه کله د هغوی مخے ته دالله ذکر اوشی

وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ

نو یَرِیږی | زړونه د هغوی | او کله چه | لوستلے کیږی | په دوی باندے | آیتونه د هغه | نو زیاتوی د دوی

نو زړونه ئے رپیږی (یَرِیږی) او چه کله ورته دالله آیتونه اولوستلے شی نو ایمان ئے نور هم

اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝۲ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

ایمان | او په خپل رب باندے | دوی توکل کوی (ځان سپاری) | هغه کسان | چه پابندی کوی | د مانځه

مضبوط شی او په خپل رب باندے ځان سپاری دا هغه خلق دی چه د مونځونو پابندی کوی

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۳ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ

او د هغے نه | چه ورکړی دی مونږ دوی ته | خرچ کوی | دا کسان | دوی | مومنان دی | رښتونی

او مونږ چه ورله کوم رزق ورکړے دے د هغے نه دالله په لار کښ خرچ کوی هم دا خلق په حقیقت کښ مومنان دی

لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝۴ ۚ كَمَآ

دوی د پاره | درجے دی | د خپل رب سره | او بخښنه ده | او روزی ده | عزتمنده (د عزت) | لکه څنګه چه

هم دوی د پاره د خپل رب سره لوئ درجے (مرتبے) دی او بخښنه او د عزت رزق دے ۔ دا معامله هم داسے ده

اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ ۪ وَاِنَّ فَرِيْقًا

راوویستے تہٗ | رب خپل | ستا د کور نہ | پہ حق (حکمت) سرہ | او بیشکہ | یوے ډلے

لکہ څنګہ چہ تہ خپل رب د خپل کور نہ د حق د پارہ راوویستلے حالانکہ دمومنانو یوے ډلے تہ داخبرہ

مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ۝ يُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا

د مومنانو | (دا) بد ګڼل | بحث (جګړہ) ـے ګولہ تاسرہ | پہ حقہ خبرہ کښې | پس د دے نہ

خوښہ نہ وہ ۔ د حق د واضح (ښکارہ) کیدو او فرض کیدو باوجود ـے د جنګ او جهاد پہ معاملہ کښې تاسرہ

تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ۝

چہ بنہ ښکارہ شوے وہ | لکہ چہ | د وی پوتلے (راخکلے) ځی | مرګ تہ | او (چہ) دوی | (ورتہ) ګوری

دا سے بحث (جګړہ) کولو لکہ چہ مرګ تہ (پہ زور ہ) پوتلے ځی او دوی ورتہ پہ سترګو ګوری.

وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ

او کلہ چہ | وعدہ او کړہ تاسو سرہ | الله | د یوے د دوۍ ډلو نہ | چہ بیشکہ هغه به | ستاسو (د پارہ) وی

او کلہ چہ الله تاسو سرہ وعدہ او کړہ چہ په دے دواړو ډلو کښې به یوه ستاسو په قابو کښې راځی

وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ وَيُرِيْدُ

او تاسو غوښتل | چہ | دا بے وسلے ډلہ | دے ځی | ستاسو (د پارہ) | او غوښتل

او تاسو دا خوښوله چہ بے وسلے ډلہ ستاسو مقابلے له راځی او الله دا غوښتل

اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

الله | چہ ثابت (اوچت) کړی | حق | په خپلو حکمونو سره | او پرې کړی | مونډه (جړه) | د کافرانو

چہ په خپل حکم سره حق ښکارہ (ثابت) کړی او د کافرانو جړه پرې کړی

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝

د ے د پارہ چہ غالب کړی | حق | او برباد کړی | باطل | اګر چہ | (دا) بد ګڼی | مجرمان

چہ حق حق ښکارہ کړی او باطل باطل ښکارہ کړی اګر که مجرمان خلق ـے بدہ ګڼی

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ

کلہ چہ | فریاد کولو تاسو (د پارہ مدد) | خپل رب تہ | نو هغه سوال قبول کړو | ستاسو | چہ بیشکہ زہ | مدد کوم ستاسو

کلہ چہ تاسو خپل رب تہ فریاد کولو نو هغه ستاسو دعا قبوله کړہ چہ زہ ستاسو د مدد د پارہ

بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا

په زرو | د ملائکو (سره) | چہ یو بل پسے به راځی | او نه دے ګرځولے دا (مدد) | الله | مګر

زر فرشتے یو بل پسے درلیږم. او دا وعدہ الله صرف دے د پارہ کړے وہ چہ دا (ستاسو د پارہ) یو زیږے ځی

بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا

زیږے | او دے د پارہ چہ کلک ځی | په دے سره | زړونه ستاسو | او نه دہ | غلبه (مدد) | مګر

او ستاسو زړونه مطمئن (په ځای) ځی او مدد خو (په حقیقت کښې) صرف

مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ

د الله د طرف نه | بیشکه | الله | زور آور | حکمت والا دے | کله چه | پټ کړئ هغهٔ تاسو

دالله دطرف نه دے یقین اوساتی. الله زور آور هم دے اوحکمت والا هم دے۔ کله چه الله ستاسو دیږے ختمولو او امن

النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً

په پرکالی | دامن دپاره | دخپل طرف نه | اوراوښورولے | په تاسو باندے | داسمان (برہ طرف) نه | اوبه (باران)

درکولو دپاره په تاسو دخپل طرف نه پرکالے (دخوب جوړلے) راوستلے اوداسمان نه ئے دربانډ باران ووړولو

لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ

چه پاک کړی تاسو | په هغے سره | اولرے کړی | تاسو نه | پلیتی (وسوسه) | د شیطان | اوچه کلکوالے راولی

چه تاسو پرے پاک کړی او د شیطان وسوسے درنه لرے کړی او زړونه مو

عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ۝ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ

ستاسو په زړونو | او (چه) مضبوط کړی | په هغے سره | قدمونه (ستاسو) | کله چه | وحی (حکم) اوکړو | رب ستا

مضبوط (کلك) کړی او قدمونه درله ټینګ کړی کله چه ستا رب

اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ سَاُلْقِيْ

فرشتوته | چه بیشکه زه | تاسو سره یم | نوکلك کړئ | هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے | زه زر به واچوم

ملائکوته دوحی په زریعه حکم اوکړو چه یقیناً زه تاسو سره یم نوتاسو مومنان کلك کړئ زه به دیر زر

فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا فَوْقَ

په زړونو | دهغه کسانو کښې | چه کفر ئے کړے دے | رُعب لره | پس اووهئ تاسو | دپاسه

د کافرانو په زړونو کښې (د مسلمانانو) رعب اوغورزوم نو تاسو ددوی څټونه اووهئ

الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا

د څټونو | او اووهئ | د دوی نه | هَرهَر | بند (د ګوتو) لره | داځکه | چه بیشکه دوی | خلاف کړے دے

او د دوی د ګوتو هر یو جوړ اووهئ۔ دا (سزا) ځکه چه دوی د الله او د هغه د رسول

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ اللّٰهَ

د الله | او د هغه د رسول | او څوك (هُم) | چه خلاف اوکړی | د الله | او د هغه د رسول | نو (پس) بیشکه | الله

مخالفت کړے دے او څوك چه د الله او د هغه د رسول مخالفت کوی نو یقین اوساتئ چه الله

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ

سخت | عذاب ورکولے دے | داعذاب دے | نواوئ څکئ تاسو | او (پوهه شئ) چه بیشکه | د کافرانو دپاره

دیر سخت عذاب ورکولے دے. داسزا (خو اوس) اوځکئ اویاد ساتئ چه د کافرانو دپاره د دے نه سوا

عَذَابَ النَّارِ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ

عذاب دے | د اور | اے مومنانو! | کله چه | مخامخ شئ تاسو | د هغه چا سره

د دوزخ د اور عذاب هم دے اے مومنانو! کله (هم) چه د کافرانو سره په جنګ کښې

كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ۝۱۵ وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ

چه کفر وکړے دے | په وخت د جنګ کښ نزدے (یو بل ته) | نو مه اړوئ | دوی ته | شاکانے | اوځوئ | چه واړوی دوی ته

مخامخ شئ نو هغوی ته شا کوئ مه. البته څوك چه د جنګی چال (غرض) د پاره یا د خپلو ملګرو

يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ

په دغه وخت | خپله شا | مګر | چه هنر (چال) کوونکے وی | د جنګ د پاره | یا پناه لټوونکے وی | (خپلے) ډلے ته

سره د یو ځائے کیدو د پاره دا سے او کړی نو دغه حکم خو جدا ده خو دے نه سوا چه څوك په دغه

فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ

نو یقیناً | اخته شو هغه | په غضب | د الله | او ځائے د ده | جهنم دے | او (دا) ډیر بد

ورځ (وخت) کښ کافرانو ته شا کړی نو هغه به د الله په غضب کښ راګیر شی او ځائے به ئے جهنم شی او هغه ډیر خراب

الْمَصِيْرُ ۝۱۶ فَلَمْ تَقْتُلُوْهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ ۪ وَمَا رَمَيْتَ اِذْ

ځائے دے | د ورتلو | پس نه دی وژلی تاسو دوی | لیکن | الله | وژلی دی دوی | او نه دی ویشتلی تا کافرو | کله چه

ځائے دے د ورتلو. نو اے مسلمانانو په حقیقت کښ دا کافران تاسو نه دی وژلی بلکه الله وژلی دی او اے پیغمبره تا چه کله خاورے د خپل

رَمَيْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِيْنَ مِنْهُ بَلَآءً

ګذار کړل تا | لیکن | الله | ویشتلے (رسولے) وو | او چه او آزمائی الله | مومنانو (لره) | د خپل طرفه | په انعام

لاس نه او ویشتلے نو د کافرانو ستر کو ته تاسو مے رسولے بلکه الله مے رسولے مے او ستاسو په لاسونو مو د کافرانو حکه او کړو چه دے په ذریعه الله

حَسَنًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝۱۷ ذٰلِكُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ

بنائسته (ښه) | بیشکه | الله | اوریدونکے | پوهه دے | مقصد هم داوو | او (پوهه شئ) | چه الله

مومنانو ته بهترین اجر ورکړی (الله مومنان د یو لوے امتحان نه په کامیابی سره اوباسی) یقیناً الله هره خبره اوری او په هر څه باندے

مُوْهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ۝۱۸ اِنْ تَسْتَفْتِحُوْا فَقَدْ جَآءَكُمُ

کمزورے کونکے دے | تدبیر | د کافرانو | که چرے | تاسو غوښتله فیصله | نو یقیناً | راغله تاسو ته

پوهیږی. داهر څه په خپل ځائے وشول او پوهه شئ چه الله د کافرانو هر تدبیر (سازش) کمزورے کول غوښتل اے کافرانو اکه تاسو فتح غوښتله

الْفَتْحُ ۚ وَاِنْ تَنْتَهُوْا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَعُوْدُوْا

فیصله | او که چرے | منع شوئ تاسو | نو دا (به) | غوره وی | تاسو د پاره | او که چرے | تاسو واپس شوئ جنګ ته

نو فتح هم راغله اوس که تاسو منع شوئ نو دا به تاسو د پاره ډیره ښه شی او که بیا (هم) نافرمانی کوئ

نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ

نو مونږ به هم راوګرځو | او هیڅ چرے نشی دفع کولے | ستاسو نه | ډله ستاسو | هیڅ قسمه ضرر | اګر که ډیره لویه وی

نو مونږ به بیا عذاب درکوو او ستاسو ډله که هر څومره زیاته شی هیڅ فائده به درنکړی

وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۹ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ ع ۱۲

او (پوهه شئ چه بیشکه | الله | د مومنانو سره دے | اے مومنانو | تابعداری او کړئ | د الله

او یادساتئ چه الله تعالیٰ د مومنانو ملګرے دے۔ اے مومنانو! د الله او د هغه د رسول خبره او منئ

وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴿۲۰﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا

او دهغه درسول | او مهٔ اوریږئ مخ | دهغه نه | اوحال دادے چه تاسو | ۰ اوریږئ | او مه کیږئ تاسو

اودتابعداری نه مخ مه اړوئ اوحال دادے چه تاسو (دالله اودهغه درسول حکمونه) اوریږئ. اودهغه خلقو

كَالَّذِيْنَ قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ شَرَّ

پشان دهغه چا | چه وئیل ئے | چه واوریدل مونږ | اوحال داچه دوی | نه اوریدل | بیشکه | بدترین

پشان مه کیږئ چه دعوی داوریدو کوی خوپه حقیقت کښ په زړهٔ سره نه اوری. یقین اوساؤ چه دَالله تعالی

الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۲۲﴾

په زنده سروکښ | په نزد | د الله | کافرهٔ | کونګیان | هغه کسان دی چه | عقل نه لری

په نزدپه زنده سروکښ ډیر ناکاره هغه کافره اوګونګیان خلق دی چه دعقل نه کارنه اخلی.

وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ وَلَوْ

اوکه چرے | معلوم وے | الله ته | په دوی کښ | څه خیر | اونخامخابه ئے اورولے وے دوی ته | اوکه چرے

اوکه چرے الله تعالی ته په دوی کښ څه خوښی (طلب دَحق) پښکاریدے نو اوریدو توفیق به ئے ورکړے وے اوکه دوی ته

اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

اورولے ئے وے دوی ته (هُم) | اونخامخابه دوی مخ اړولے | اودوی | (هميشه) مخ اړوونکی دی | اے ایمان والو!

ئے اورولے هم وے نوبیا به هم دوی مخ اړولے وے ځکه چه دادَدوی زوړ عادت دے. اے مومنانو! دالله اودهغه

اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ۚ

حُکم اومنئ | دالله | او د رسول | کله چه | راوبلی تاسو | دَهغه څیز طرف ته | چه ژوندی کوی تاسو

درسول دعوت (حکم) قبول کړئ ځکه چه هغه تاسو هغے جهاد اوقرآن اوسنت ته رابلی چه تاسو پرے ژوندی کیږئ

وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗۤ

اوپوهه شئ | چه بیشکه | الله | حائل کیږی (پرده اچوی) | په مینځ | دبنده | اوزړهٔ دهغه کښ | اوداچه بیشکه

او دا یاد ساؤ چه الله تعالی دمؤمن اودګناه اودَکافر اودَطاعت ترمینځه پرده کوی اویقیناً تاسو به

اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ

خاص دهغه طرف ته به | تاسو جمع کولے شئ | او اوپریږئ | دهغه بلا (مصیبت) نه | چه نه به رَسی

هغه ته جمع کیږئ. اودهغه مصیبت (وبال) نه ځان بچ کړئ چه هغه به په تاسو کښ صرف

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

هغه چاته | چه ظلم ئے کړے دے | دَستاسو نه | یواځے | او پوهه شئ | چه بیشکه | الله | سخت

ظالمانو ته نه رسی او یاد ساؤ چه الله تعالی ډیر سخت عذاب

الْعِقَابِ ﴿۲۵﴾ وَاذْكُرُوْۤا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ

عذاب ورکوونکے دے | اویاد کړئ (هغه وخت) | کله چه | وئ تاسو | لږ | کمزوری کړے شوے

ورکوونکے دے. اوهغه وخت یاد کړئ کله چه تاسو (په تعداد کښ) لږ وئ اوپه خپله زمکه کښ کمزوری

فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ

په زمکه کښ | يَريدلئ تاسو | چه اوبه تښتوی تاسو لره | خلق | پس الله خائ در کړو تاسو ته

کنړ لے شوی وئ اودا ويره درسره وه چه کافران به مو اوتښتوی بيادر له الله تعالی خائے در کړو

وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ

اوکلك ئے کړئ تاسو | په خپل مدد سره | اورزق ئے در کړو تاسو ته | د پاکو څيزونو نه | دے دپاره چه تاسو

او په خپل مدد سره ئے مضبوط کړئ او پاکيزه رزقونه ئے درکړل چه تاسو

تَشْكُرُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ وَتَخُوْنُوْٓا

شکر گزار شئ | اے ايمان والو! | مه کوئ خيانت | د الله | او د رسول سره | اومه کوئ خيانت

شکر گزار شئ. اے مونانو! د الله او د رسول سره خيانت (بے وفائی) مه کوئ او سره دپوهے (علم) د يو بل

اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ

په خپلو امانتونو کښ | اوحال دادے چه تاسو | (ښه) پوهيږئ | او پوهه شئ | چه بيشکه | ستاسو مالونه

په امانتونو کښ خيانت مه کوئ او په دے خبره ځان پوهه کړئ چه ستاسو مالونه اوبچی

وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝ ع

اوستاسو بچی | يوازميښت (امتحان) دے | اوداچه بيشکه | الله | سره دے | اجر | ډير لوئ

(اولاد) خو يوازميښت (امتحان) دے اوپه دے هم پوهه شئ چه لوئ انعام (اجر) هم د الله سره دے.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ

اے ايمان والو! | که چرے | تاسو اوپريږئ | د الله نه | نو دربه کړی | تاسو ته

اے مومنانو! که تاسو د الله تعالی نه حقه ويره اوکړه نو هغه به درله د حق او باطل

فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ

نجات | اولرے به کړی | تاسو نه | ستاسو بدئ (بدحالات) | اوبخښنه به اوکړی | تاسو ته | او الله

په مينځ کښ تميز او غلبه در کړی او گناهونه به مولرے کړی اوبخښنه به درته اوکړی او الله تعالی

ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د لوئ فضل والا دے | اوکله چه | تدبير کولو | ستاخلاف | هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے

د لوئ فضل مالك دے او (اے پيغمبره!) هغه وخت ياد کړه کله چه کافرانو ستاخلاف منصوبے جوړولے

لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ ۭ وَيَمْكُرُوْنَ وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ۭ

چه قيد کړی تا | يا اووژنی تا | يا اوشړی تا | او دوی تدبير کولو | او الله هم تدبير کولو

چه يا د قيد کړی يا د اووژنی يا د اوشړی (دوطن نه د اوبلسی) دوی خپلے منصوبے جوړولے او الله تعالی هم منصوبه

وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ۝ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا

او الله | ډير ښه | تدبير کونکو دے | اوکله چه | لوستلے شی | په دوی باندے | آيتونه زمونږ | (نو) دوی وائی

جوړولے او الله تعالی د ټولو نه ښه منصوبه جوړولے دے اوکله چه دے کافرانو ته زمونږ آيتونه اولوستلے شی نو وائی

قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ ۙ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ

یقیناً | مونږ واوریدل | که چرے مونږ اوغواړو | نو مونږ یې هم اووایو | پشان | د دے | نه دے دا | مګر

(بس) مونږ واوریدل که مونږ اوغواړو نو دا سے خبرے به مونږ هم جوړے کړو دا (قرآن) خو تشے

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ وَاِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ

قیصے | د پخوانو | اوکله چه | اووئیل دوی | اے الله | که چرے وی | دا | حق (رښتیا)

د پخوانو خلقو (زړے) قصے دی او کله چه دے کافرانو اووئیل چه اے الله! که چرے دا قرآن حق (دین) وی

مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا

ستا د طرف نه | نو راوړوره | په مونږ باندے | کانړی | د آسمان نه | یا راوله مونږ ته

ستا د طرف نه نو په مونږ باندے د اسمان نه دکانړو باران اووروه یا را باندے بل څه دردناک

بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ

عذاب | دردناک | او نه دے | الله | چه عذاب ورکړی دوی ته | په دا سے حال کښ چه ته (موجود) ئے

عذاب راوله۔ اوا سے پیغمبره اتر څو چه ته په دوی کښ موجود ئے الله تعالیٰ دوی له عذاب نه ورکوی

فِيْهِمْ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ۝

په دوی کښ | او نه دے | الله | عذاب ورکوونکے دوی ته | په دا سے حال کښ چه دوی | بخښنه غواړی

او نه ورله الله تعالیٰ په دا سے حالت کښ عذاب ورکوی چه دوی بخښنه غواړی۔

وَمَا لَهُمْ اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ

اوځه وجه ده دوی لره | چه عذاب به نه ورکوی دوی ته | الله | او حال دا دے چه دوی | منع کوی (خلق)

او ولے په دوی کښ څه خوبی ده چه الله تعالیٰ به ورله اوس هم عذاب نه ورکوی حالانکه دوی

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ ؕ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ

د مسجدِ حرام نه | او نه دی دوی | اختیار مندده دے (جهات) | نه دی اختیار مند دده دے

د مسجد حرام نه خلق منع کوی سره ددے چه دوی دهغے متولیان هم نه دی ځکه چه د متقیانو نه سوا

اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ

مګر | متقیان | لیکن | اکثر په دوی کښ | نه پوهیږی | او نه دے | مونځ د دوی

بل څوک دهغے متولیان نشی کیدے لیکن اکثر خلق په دے خبره نه پوهیږی او په بیت الله کښ

عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً ؕ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ

په خوا | د بیت الله کښ | مګر | شپیلی وهل | او لاسونه پرقول | نو اوځکئ | عذاب

د دوی مونځونه خوتش (صرف) شپیلی وهل او لاسونه پرقول دی نو (اے کافرانو!)

بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ

په دے وجه | چه تاسو | کفر کولو | بیشکه | هغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | خرچ کوی

د خپل کفر (انکار) په وجه عذاب اوځکئ۔ کافران خپل مالونه ددے دپاره خرچ کوی

أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَسَيُنْفِقُونَهَا

خپل مالونه | چه منع کړی (خلق) | د لارے | د الله نه | پس زرده چه دوی به خرچ کړی دا

چه د الله دلارے نه خلق منع کړی خو نتیجه به ئے داوی چه دوی به اوس مالونه خرچ کوی

ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ

(خو) بیابه | شی دا | په دوی باندے | افسوس | بیابه | دوی مغلوبه کړے شی | او هغه کسان

خو بیا به دغه مالونه د دوی دپاره د افسوس سبب جوړ شی او بیا به مغلوب کړے شی

كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ۝ لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ

چه کفر ئے کړے دے | جهنم ته به | راجمع کړے شی | دے دپاره چه جدا کړی | الله | پلیت (ناپاک)

اوپه آخرت کښ به کافران جهنم ته راجمع کړے شی دے دپاره چه الله تعالیٰ ناپاک خلق دپاک خلقونه

مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ

د پاک نه | او کیږدی | ناپاک | بعضے دے نه | په بعضو باندے | بیا یو خائے کړی

جدا کړی او ناپاک خلق د یو بل د پاسه کیږدی او یو ډیرے ترینه جوړ کړی

جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ۝ ع

ټولولره | نووابه ئے چوی | په جهنم کښ | هم دا کسان دی | تاوان مندونکی

او بیا ئے جهنم ته اوغورزوی هم دا خلق پوره تاوانیان دی ۔ اے پیغمبره!

قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا

اووایه | هغه چاته | چه کفر ئے کړے دے | که چرے | منع شو دوی | نوبخښنه به اوشی | دوی ته | دهغه څه

دے کافرانو ته اووایه چه که چرے دوی اوس هم منع شی نو تیر شوی ګناهونه به ورته معاف کړے شی

قَدْ سَلَفَ ۚ وَإِنْ يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ ۝

چه تیر شول | او که | دوی بیادا ے اوکړل | نو یقیناً | تیر شوے دے | حالت | د پخوانو

او که چرے دوی بیا بیا نافرمانی کوی نو دتیر شوو خلقو سره چه څه شوی دی هغه ددوی سره هم څه تیر شوی دی

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ

اوجنګ کوئ دوی سره | تر دے | چه پاتے نشی | فتنه | او شی | دین | ټول | صرف دالله

اوا ے مسلمانانو اددے کافرانو سره تر هغه وخته پورے جنګ کیږئ چه فتنه پاتے نشی اوټول دین یوازے دالله تعالیٰ شی

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝ وَإِنْ

پس که چرے | دوی منع شو | نو بیشکه | الله | دهغه څه | چه دوی ئے کوی | لیدونکے دے | او که چرے

نو که چرے دوی منع شی نو یقیناً الله تعالیٰ د دوی عملونه ښه وینی ۔ او که چرے دوی

تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ ۚ نِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ۝

دوی مخ واړو | نو پوهه شئ | چه بیشکه | الله | ستاسو مولی (ملګرے) دے | ډیر ښه | مولی دے | او ډیر ښه | مددګار دے

انګار او کړو نو یقیناً الله ستاسو مددګار (کارساز) دے او هغه ډیر ښه ملګرے او ډیر ښه مددګار دے

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ

او پوهه شئ | چه بیشکه هغه شه | چه غنیمت کښ ځ حاصل کړئ تاسو | دَ څه شی نه | نو بیشکه | الله دپاره ده

او (اے مسلمانانو!) تاسو په دے څان پوهه کړئ چه هر قسمه څیز تاسو د کافرانو نه په جنګ سره حاصل کړئ

خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ

پنځمه حصه دهغے | او دپاره د پیغمبر | او دپاره د رشته دارانو | او یتیمانو | او مسکینانو

نو دهغے پنځمه حصه دالله او د رسول او د رشته دارانو او دَ یتیمانو او د مسکینانو او د مسافرو حق دے که تاسو په

وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا

او مسافرو | که چرے | یئ تاسو | چه ایمان لرئ | په الله | او په هغه څه | چه نازل کړے دے مونږ

الله باندے او په هغه کتاب (مدد) باندے ایمان لرئ چه مونږ په خپل بنده باندے د فیصلے (دبدر) په ورځ یعنی

عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ؕ

په خپل بنده باندے | په ورځ | د فتح (فیصلے) | په هغه ورځ | چه مخامخ شوے | دوه ډلے

په هغه ورځ چه دواړه لښکرے یو بل ته مخامخ شوے نازل کړے دے (نو دا حق ادا کول په تاسو واجب دی)

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤١﴾ اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا

او الله | په هر | څیز باندے | قادر دے | کله چه | وئ تاسو | په غاړه | نزدے باندے

او الله په هر څیز باندے قادر دے دا هغه وخت وو کله چه تاسو په میدانِ بدر کښ مدینے ته نزدے غاړه د خوږ

وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ اَسْفَلَ مِنْكُمْ ؕ وَلَوْ

او وو دوی | په غاړه | لرے باندے | او قافله وه | لاندے | ستاسو نه | او که چرے

باندے وئ او کافران په لرے غاړه باندے وو او د تجارت قافله ستاسو نه ښکته روانه وه او که تاسو د مخکښ نه د جنګ

تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيْعٰدِ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَقْضِيَ

وعده کړے وے تاسو (د یو بل سره) | نو خامخا اختلاف به مو کړے وے | په وعده کښ | لیکن | چه پوره کړی

څه وخت په خپلو کښ مقرر کړے وے نو ستاسو به په مقرر وخت کښ خامخا اختلاف پیدا شوے وو خو داځکه چه وشول

اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۙ لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ

الله | یو کار | چه کیدونکے وو | (دے دپاره) چه مرشی | هغه څوک | چه مری | پس د دلیل نه

دادے دپاره چه الله تعالیٰ هغه کار پوره کړی چه کومه کیدونکے وو (هغه دا) چه څوک په حال د کفر کښ تباه کیږی نو چه د ښکاره

وَّيَحْيٰى مَنْ حَيَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ

او چه ژوندے پاتے شی | هغه څوک | چه ژوندے وی | پس د دلیل نه | او بیشکه | الله | خامخا اوریدونکے

دلیل لیدونه پس تباه شی او څوک چه په ایمان ژوندے پاتے کیږی نو چه د ښکاره دلیل دلیدلونه پس ژوندے پاتے شی او یقیناً

عَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ ۙ اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ مَنَامِكَ قَلِيْلًا ؕ وَلَوْ اَرٰىكَهُمْ

پوهه دے | کله چه | او ښودل تاته دوی لره | الله | ستا په خوب کښ | لږ | او که | ښودلے ئے وے تاته دوی

الله تعالیٰ هر څه اوری په هر څه پوهه دے اے پیغمبره! کومه وخت چه الله په خوب کښ تاته دا کافران لږ ښکاره کړل او که

كَثِيْرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

دیر | نو خامخا تاسو به بزدهشوی ہوئ | او خامخا اختلاف به مو کړے وے | په دے معامله کښ | لیکن | الله

تاته ځُ ددوی تعداد زیات ښودلے (ښکاره کړے) وے نو اے مسلمانانو تاسو به خامخا هست باتللے وو او په دے

سَلَّمَ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٤٣﴾ وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ

بچ او ساتلو | بیشکه هغه | پیژونکی | د سینو خبرے (رازونه) | او کله چه | الله | او ښودل تاسو ته دوی

معامله کښ به مو اختلاف (جګړه) شروع کړے وه یقیناً الله ته دزړونو حال ښه معلوم دے او هغه وخت یاد کړه چه کله تاسو

اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ قَلِيْلًا وَّيُقَلِّلُكُمْ فِيْٓ اَعْيُنِهِمْ

کله چه | مخامخ شوئ تاسو (یو بل سره) | په سترګو کښ ستاسو | لږ | او لږے ځُ ښکاره کړئ تاسو | دهغوی په سترګو کښ

(او کافران) دیو بل سره مقابلے د پاره مخامخ شوئ نو الله ستاسو په نظر کښ دهغوی (کافرانو) تعداد کم ښکاره کړو

لِيَقْضِيَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

چه پوره کړی | الله | هغه کار | چه وو | (پوره) کیدونکے | او خاص الله ته | واپس کولے شی

او دهغوی په نظر کښ ځُ تاسو کم ښکاره کړئ دادے د پاره چه کوم کار کیدونکے وو چه الله هغه پوره کړی او ټولے معاملے

الْاُمُوْرُ ﴿٤٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوْا ع

ټول کارونه | اے | مومنانو! | کله چه | مخامخ شئ تاسو | دیو بے ډلے سره | نو کلك اوسئ

هم الله ته راجمع (واپس) کولے شی. اے مومنانو! کله چه ستاسو دیو ډلے سره مقابله راشی نو کلك (ثابت قدم) وسئ

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ

او یاد وئ | الله | دیر | د دے د پاره چه تاسو | کامیاب شئ | او خبره (حکم) منئ | د الله

او الله دیر دیر یاد وئ چه کامیابی درته حاصل شی. او د الله او دهغه د رسول خبره (حکم) (په خوشحالئ سره)

وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ

او دهغه د رسول | او جګړے مه کوئ دیو بل سره | ګنی کمزوری به شئ | او لاړه به شی | دبدبه ستاسو

منئ او په خپل مینځ کښ جګړه (اختلاف) مه کوئ ګنی کمزوری (بزدله) به شئ او ستاسو رعب به

وَاصْبِرُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ

او صبر کوئ | بیشکه | الله | د صبر کوونکو سره دے | او مه کیږئ تاسو | د هغه چاپشان

ختم شی او د صبر نه کار واخلئ یقین اوساتئ چه الله د صبر کوونکو ملګرے دے او دهغه خلقو پشان مه کیږئ

خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّوْنَ

چه وتلی وو | د خپلو کورونو نه | په غرور سره | او په ځان ښودلو سره | خلقو ته | او چه منع کړی خلق

چه د خپل کورونو نه په غرور سره او خلقو ته خپل شان وشوکت ښودلے په خیال راوتلی وو او خلق ځُ د الله د لارے نه

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿٤٧﴾ وَاِذْ

د لارے | د الله نه | او الله | په هغه څه | چه دوی ځُ کوی | احاطه کوونکے دے | او کله چه

منع کول او دوی چه څه کول الله په هغے باندے (په خپل قدرت سره) احاطه کوونکے دے. او هغه وخت هم یاد کړئ کله چه

زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ

خائسته (بنکاره) کړل | دوی ته | شیطان | ددوی (بد) عملونه | اووے وئیل (ورته) | چه نشته هیڅ څوک زور آور

دے کافرانو ته شیطان ددوی بدعملونه (کارونه) خائسته بنکاره کړل او دا یه ئے ورته اووئیل چه نن په

لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّيْ جَارٌ لَّكُمْ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ

په تاسو | نن ورځ | د خلقو نه | اوبیشکه زهٔ | امدادی یم | ستاسو | پس هرکله | چه مخامخ شوے

انسانانو کښ هیڅ څوک په تاسو باندے غالب کیدے نشی او زهٔ هم ستاسو ملګرے (ملاتړ) یم خوکله چه

الْفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَقَالَ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ

دواړه ډلے (یوبل ته) | واپس شو (شیطان) | په پوندو خپلو باندے | اووے وئیل | چه بیشکه زهٔ | بیزاره یم

دواړه لښکرے یوبل ته مخامخ شوے نو دے په خپلو پوندو په شاشو (اوتخیدلو) اووے وئیل چه زهٔ ستاسو څه

مِّنْكُمْ اِنِّيْٓ اَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ ۭ وَاللّٰهُ

ستاسو نه | زه | وینم | هغه څه | چه تاسو ئے نه وینئ | بیشکه زه | یریږم | دالله نه | او الله

ذمه داری نشم اغستلے زه چه څه وینم هغه تاسو نه وینئ. زه دالله نه ویریږم او دالله عذاب ډیر سخت دے

ع ١ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ اِذْ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ

سخت | عذاب ورکوونکے دے | کله چه | وئیل | منافقانو | اوهغه کسانو | چه په زړونو دهغوی کښ

اوهغه وخت یاد کړه کله چه منافقونو اوهغه کسانو دچا په زړونو کښ مرض (د کفر) وو اووئیل چه دا مسلمانان خپل

مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَاۗءِ دِيْنُهُمْ ۭ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ

مرض وو | (چه) دهوکه کړی دی | دا خلق | خپل دین | او څوک چه | توکل اوکړی | په الله باندے

دین په دهوکه کښ اچولی دی (یعنی دا مسلمانان په خپل دین باندے نازیږی) حالانکه څوک چه په الله باندے ځان

فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ

نو بیشکه | الله | زور آور دے | حکمت والا دے | او که | اوونښے ته | کله چه | ساه اخلی | دهغه کسانونه

اوسپاری نو یقیناً الله په هر چا باندے غالب اولوئ حکمت والا دے. اوکاش! چه ته هغه وخت اوونښے کله چه فرشتے

كَفَرُوا ۙ الْمَلٰۗىِٕكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ۚ وَذُوْقُوْا

چه کفر ئے کړے دے | ملائک (فرشتے) | پدے حال کښ چه وهی | مخونه ددوی | اوشاګانے ددوی | او (وائی ورته چه) اوځکئ

دد ے کافرانو نه سا اخلی. او د دوی په مخونو او شاګانو ګزارونه کوی او ورته وائی چه د سوزوونکی

عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَاَنَّ

عذاب | سوزوونکے | دا | په سبب د هغه عمل | چه مخکښ لیږلے دے | ستاسو لاسونو | اوداچه بیشکه

اور عذاب اوځکئ. داټول دهغه عملونو بدله ده چه تاسو په خپلو لاسونو باندے مخکښ لیږلی دی او دا خبره

اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ

الله | نه دے | هیڅ ظلم کوونکے | په بندګانو باندے | (ددوی حال) پشان د حال | د | فرعونیانو

یقینی ده چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے هیڅ ظلم نه کوی. ددے خلقو عادت په کفر کولو کښ پشان

وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ

اودهغه خلقودے | چه ددوی نه مخکښ وو | چه انکار ئے کړے وو | د آیتونو | د الله نه | پس اونیول دوی لره

دعادت دفرعونیانو اودهغه خلقو دے چه ددوی نه مخکښ تیر شوی دی نو الله تعالی دخپلو گناهونو

اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ

الله | په سبب دخپلو گناهونو | بیشکه | الله | قوت والا | سخت | عذاب ورکونکے دے | دا ځکه | چه بیشکه

په وجه راونیول یقیناً دالله طاقت ډیر زیات (لوئ) دے او عذاب ئے ډیر سخت دے. دا هر څه ځکه اوشو چه

اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى

الله | نه دے | بدلوونکے | دیونعمت | چه کړے ئے وی | په یوقوم باندے | تر دے

دالله دستور دے چه یوقوم له یونعمت ورکړی نو تر هغه وخته پورے هغه نعمت نه بدلوی تر څو چه هغوی

يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٣﴾

چه دوی بدل کړی | هغه عقیده | چه ددوی په زړونو کښ ده | او بیشکه | الله | ښه اوریدونکے دے | ښه پوهه دے

پخپله خپل عمل بدل نه کړی او الله هره خبره اوری هر څه پیژنی.

كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا

(ددوی حال) پشان دحال | د فرعونیانو | اودهغه خلقو دے | چه ددوی نه مخکښ وو | دروغ ګڼلی وو دوی

په دے معامله کښ هم ددوی حال دفرعونیانو او دهغه خلقو پشان شو چه د دوی نه مخکښ تیر شوی وو

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ

آیتونه | د رب خپل | پس هلاک کړل مونږ دوی | په سبب دخپلو گناهونو | اوغرق کړل مونږ | فرعونیان

هغوی هم دخپل رب ایتونه دروغ وګڼل نو مونږ دخپلو گناهونو په وجه هلاک کړل اوفرعونیان موغرق کړل

وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥٤﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ

اوداټول | وو | ظالمان | بیشکه | بدترین | په زنده سروکښ | په نزد | د الله | هغه خلق دی

اوداټول ظالمان وو یقین اوکړئ چه دالله په نزد په مخ دزمکه باندے ساوالا څیزونو کښ دټولو نه زیات ناکاره هغه خلق دی

كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٥﴾ ۚ اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ

چه کفر ئے کړے دے | پس دوی | ایمان نه راوړی | هغه خلق | چه لوظ کړے دے تا | دهغوی سره

چه کفر ئے اختیار کړے دے چه دهغے دوے نه هیڅ کله ایمان نه راوړی دا هغه خلق دی چه تاکړے له وعده اغستلے وه

ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٦﴾

بیا | ماتوی هغوی | خپل لوظ | په هر ځل | او دوی | ځان نه بچ کوی دبے لوظۍ نه

دهغے باوجود دوی هر ځل خپله وعده ماتوی اود وعدے ماتولو نه ځان نه بچ کوی (دالله نه نه ویریږی).

فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ

پس که چرے | ته بیاموے دوی | په جنګ کښ | نو اوګیروه (اوزغلوه) | ددوی په وجه | هغه څوک

نو که چرته دا خلق په جنګ کښ تاله په لاس راشی نو داسے سزا ورکړه

خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ

چه ورو ستو دی کنوی نه | دے دپارہ چه دوی | نصیحت واخلی | او که چرے | ته یَر یږے | دیو قوم نه

چه ورو ستنی خلق پرے هم اویروے، کیدے شی چه ددے نه دوی سبق واخلی. او که چرے دیو قوم نه

خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

دلوظ ماتولو | نواوغورزوه | دوی ته (ددوی وعده) | د برابرئ په بنیاد | بیشکه | الله | نه خوښوی

دخیانت اولوظ ماتولو خطره وی نو هغوی ته دلوظ دختمولو خبرور کړه چه دواړه دلے په خبر یدو کښ برابر شئ یقیناً

الْخَآئِنِيْنَ ﴿٥٨﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا ؕ اِنَّهُمْ

خیانت کوونکی | او گمان دِنه کوی | هغه کسان | چه کفر ے کړے دے | چه بچ به شی | بیشکه دوی

الله خیانت کوونکی نه خوښوی او کافران دهیڅ کله دا خیال نه کوی چه دوی به زمونږ د گرفت نه بچ شی ځکه چه

لَا يُعْجِزُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ

نشی عاجزه کولے الله لره | او تیار کړئ | ددوی (دمقابلے) دپاره | څومره مو | چه وس کیږی | د طاقت (قوت) نه

دوی الله لره عاجزه (کمزورے) کولے نشی. اوا ے مسلمانانو! ددوی دمقابلے دپاره موچه څومره د سامان جنګ تیار ولو

وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ

او د تړلی شوی اسونو نه | چه اویروئ تاسو | په هغے سره | دشمن | د الله | او دشمن خپل

او د تړلی شوی اسونو وس رسی تیار کړئ چه د الله تعالیٰ دشمن او خپل دشمنان او ددوی نه علاوه پرے

وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ؕ وَمَا

او نور (هم) | د دوی نه سوا دی | چه تاسو ئے نه پیژنئ | (خو) الله ئے | پیژنی | اوهغه چه

نور خلق چه تاسو ئے نه پیژنئ او الله ئے پیژنی اویروئ او تاسو چه د الله په لار کښ

تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ

تاسو خرچ کوئ | دهغه څیزنه | د الله په لاره کښ | پوره به درکړے شی | تاسو ته (اجر دهغے)

هغه هم خرچ کوئ نو د هغے به تاسو ته پورا اجر درکولے شی

وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا

او په تاسو به | ظلم نه کیږی | او که چرے | مائله شی دوی | صلحے ته | نو ته هم مائله شه | هغے ته (صلحے ته)

او هیڅ ظلم به درباندے نه کیږی او که چرے دا کافران صلحے (روغے) ته مائله شی نو ته هم ورمائله شه

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٦١﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا

او توکل کوه | په الله باندے | بیشکه | هم هغه | اوریدونکے | پوهه دے | او که چرے | دوی غواړی

اوپه الله باندے توکل کوه یقیناً هغه هر څه اوری او هر څه باندے پوهه دے. او که چرے دوی ستا

اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ

چه دهوکه اوکړی تاسره | نو بیشکه | پوره دے تالره | الله | هم هغه (الله) | هغه ذات دے | چه کلك کړے ځه

دده وکه کولو اراده کوی نو یقیناً الله تالره کافی دے هغه الله چه په خپل مدد سره او د مومنانو په ذریعه

بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٢﴾ وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ

په خپل مدد | او په مومنانو سره | اوالله مینه پیدا کړه | په مینځ دزړونو دوی کښ | که چرے | خرچ کړے موے تا

ئے تالره قوت در کړے دے. اوالله تعالیٰ د دوی (مومنانو) په زړونو کښ محبت پیدا کړو که چرے تا

مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ

هغه څه | چه په زمکه کښ دی | ټول | نوتابه مینه نه موے پیدا کړے | په مینځ دزړونو ددوی کښ | لیکن

دزمکے په مخ موجود ټول مال ونه خرچ کړے وے نو بیا دے هم د دوی په مینځ کښ محبت نه شو پیدا کولے

اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

الله | مینه پیدا کړه | د دوی په مینځ کښ | بیشکه هغه | زور آور | حکمت والا ذات دے | اے پیغمبره!

لیکن الله د دوی په مینځ کښ محبت پیدا کړو یقیناً هغه ډیر زور آور او حکمت والا دے اے پیغمبره!

حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٤﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ ع

کافی دے تالره | الله | اوهغه چا لره هم | چه ستا تابعداری دی | د مومنانو نه | اے پیغمبره!

پوره دے الله تا لره او هغه مومنانو لره چه تا پسے روان دی. اے پیغمبره!

حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ ؕ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ

تیز کړه | مؤمنان | په جهاد کولو باندے | که وی | د ستاسونه | شل کسان دا سے

مومنان په جنګ (جهاد) باندے تیز کړه که چرے وی په تاسو کښ شل کسان صبر ناک نو غالب به وی

صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ

چه ثابت قدم وی | نو هغوی به غالب راځی | په دوه سوو (کافرانو) باندے | او که وی | د ستاسونه | سل تنه

په دوه سوو کافرو باندے او که چرے وی په تاسو کښ سل کسان نو غالب به شی په زرو کافرانو باندے

يَّغْلِبُوْٓا اَلْفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿٦٥﴾

نو غالب به راځی | په زرو | دهغه خلقو چه کفر ئے کړے دے | ځکه چه دوی | دا سے خلق دے | چه پوهیږی نه

چه کفر ئے کړے دے ځکه چه دوی دا سے قوم (خلق) دی چه نه پوهیږی

اَلْـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ؕ

(خو) اوس | سپک کړو | الله تعالیٰ | تاسو نه (بوج) | او پته ده (الله ته) | چه یقیناً تاسو کښ | څه کمزوری ده

اوس اسانتیا راوستله الله په تاسو باندے او الله پوهه دے چه بیشکه چه په تاسو کښ کمزوری ده

فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ

نو که چرے | وی | د ستاسونه | سل کسان | صبر ناک | نو غالب به شی | په دوه سوو باندے | او که چرے

نو اوس حکم دا دے که په تاسو کښ سل کسان ثابت قدم وی نو هغوی به دوه سوه کافرانو باندے غالب راځی او که

يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

وی | د ستاسونه | زر کسان | نو غالب به شی | په دوه زرو کسانو | په حکم | د الله | او الله

په تاسو کښ زر کسان (دا سے) وی نو د الله په حکم سره به په دوه زره کافرانو باندے غالب راځی او الله

مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٦٦﴾ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى

سره | د صبر نا کو دے | نه دی مناسب | پیغمبر لره | چه وی دے | هغه لره | قیدیان

دثابت قدم خلقو ملکرے دے. داخبره دهیڅ یو پیغمبر دشان سره مناسب نه ده چه دهغه سره د قیدیان پاتے شی

حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْاَرْضِ ؕ تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ

تر دے | چه دے وینے توے کړی | په زمکه کښ | غواړئ تاسو | سامان (مال) | د دنیا

ترڅو پورے چه درعب قائمولو دپاره هغه په زمکه کښ ددشمن وینه سمه توے نه کړی تاسو (خو) ددنیا مال او متاع غواړئ

وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٧﴾ لَوْلَا كِتٰبٌ

او الله | غواړی | آخرت | او الله | زور آور | حکمت والا دے | که چرے نه وے | حکم (لیکلے شوے)

خو الله (ستاسو دپاره) داخرت فائدے غواړی او الله تعالیٰ غالب او حکمتونو والا دے. که چرے د الله تعالیٰ

مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَخَذْتُمْ عَذَابٌ

دطرف د الله نه | دوارند ے نه | نو خامخا به رسیدلے وو تاسو ته | دهغه مال په وجه | چه واغستلو تاسو | عذاب

حکم د مخکښ نه مقرر شوے نه وے نو تاسو ته به په فدیه اغستلو لوئ عذاب رسیدلے وے

عَظِيْمٌ ﴿٦٨﴾ فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

ډیر لوئ | پس خورئ | دهغه څه نه | چه په غنیمت کښ واغستلو تاسو | حلال | پاکیزه | او اویریږئ | د الله نه

نو اوس چه تاسو په غنیمت کښ کوم مال حاصل کړے دے هغه حلال او پاکیزه کنړئ او خورئ ئے او د الله تعالیٰ نه

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّمَنْ فِىْٓ اَيْدِيْكُمْ ع ١٠

بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے | اے پیغمبره! | اووایه | هغه چا ته | چه ستاسو په لاسونو کښ دی

اویریږئ یقیناً الله ډیر بخښونکے او ډیر مهربان دے. اے پیغمبره! ستاسو په قبضه کښ چه کوم

مِّنَ الْاَسْرٰٓى ۙ اِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ فِىْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ

د قیدیانو نه | که معلوم کړو | الله | ستاسو په زړونو کښ | ایمان | نو درکه کړی تاسو ته

قیدیان دی که دوی کښ څوک د عوی د ایمان کوی نو هغوی ته اووایه چه که الله تعالیٰ ستاسو په زړونو کښ څه خیر اولیدو نو تاسو نه

خَيْرًا مِّمَّآ اُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

غوره | دهغه مال نه | چه اغستلے شوے دے | تاسو نه | او بخښنه به او کړی | تاسو ته | او الله | بخښونکے

چه کوم مال په فدیه کښ اغستلے شوے دے دهغے نه به ډیره غوره ډیر کړی او گناهونه به ډیر ته معاف کړی او الله تعالیٰ بخښنه کوونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٧٠﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ

مهربان دے | او که چرے | دوی غواړی | دهوکه (خیانت) کول تاسره | نو یقیناً | دوی خیانت کړے دے | د الله سره

مهربان دے او که دوی تاسره خیانت (دهوکه) کول غواړی نو الله به ئے ذلیله کړی لکه څنګه چه دده نه مخکښ دوی

مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٧١﴾

مخکښ ددینه | پس قدرت ئے درکړو (تاله) | په دوی باندے | او الله | پوهه | حکمت والا دے

د الله تعالیٰ سره خیانت کړے وو نو دهغے په نتیجه کښ الله تعالیٰ ستاسو په قابو کښ راوستل او الله پوهه او حکمت والا دے

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ

بیشکه | هغه کسان | چه ایمان ځړاوړے دے | اوهجرت ئے کړے دے | اوجهاد ئے کړے دے | په مالونو خپلو

یقیناً چا چه ایمان راوړے دے او هجرت ئے کړے دے او دالله په لار کښ ئے په خپل سر او مال سره

وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا

اوپه نفسونو خپلو سره | په لاره د الله کښ | اوهغه کسان | چه ځائے ئے ورکړے دے | اومدد ئے کړے دے

جهاد (هم) کړے دے اوچا چه مهاجرینو له ځائے ورکړے دے اودهغوی سره ئے مرسته (مدد) کړے ده

اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

هم دغه کسان | بعضے د دوی نه | دوستان دی | د بعضو | او هغه کسان | چه ایمان ځړاوړے دے

دغه ټول په خپل مینځ کښ دیو بل ملګری (رشتینی دوستان) دی او چا چه ایمان راوړے دے

وَلَمْ يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى

اوهجرت ئے نه دے کړے | (نو) نشته تاسو له | د دوستانے د هغوی نه | هیڅ حق (څیز) | تر دے

خو هجرت ئے نه دے کړے نو تر څو پورے چه هغوی هجرت اونه کړی ستاسو ورسره

يُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ فَعَلَيْكُمُ

چه هغوی هجرت اوکړی | اوکه چرے | دوی مدد اوغواړی تاسونه | په دین کښ | نولازم دے په تاسو باندے

د دوستانے هیڅ تعلق نشته خو که هغوی تاسونه په دین کښ مدد (مرسته) غواړی نو بیا د هغوی مدد کول

النَّصْرُ اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ ؕ

مدد کول (دوی سره) | مګر | دهغه قوم په مقابله کښ | چه ستاسو په مینځ کښ | اوهغوی په مینځ کښ | معاهده وی

په تاسو فرض (لازم) دی مګر دهغه قوم خلاف به ورسره مدد نه کوئ چه چا سره ستاسو معاهده د امن وی

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ

او الله | د هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | لیدونکے دے | اوهغه کسان | چه کفر ئے کړے دے | بعضے د هغوی نه

اوتاسو چه کوم عمل کوئ الله تعالی ئے وینی. اوکافران خلق په خپل مینځ کښ دیو بل ملګری اودوستان دی که

اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْاَرْضِ

دوستان دی | د بعضو | که چرے اونکړئ تاسو دا (مدد) | نو پیدا به شی | فتنه | په زمکه کښ

تاسو په دے حکمونو عمل اونه کړو اودیو بل مدد مو اونکړو نو په زمکه (دنیا) کښ به فتنه په غلیے د کفار و سره پیدا شی

وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

او فساد | دیر لوئے | او هغه کسان | چه ایمان ځړاوړے دے | اوهجرت ئے کړے دے | اوجهاد ئے کړے دے

اولوئ فساد دهرک به جوړ شی. اوچا چه ایمان راوړے دے اوهجرت ئے کړے دے اودالله په لار کښ جهاد

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ

په لار | د الله کښ | اوهغه کسان | چه ځائے ئے ورکړے دے | اومدد ئے کړے دے | دغه کسان

(هم) کړے دے اوچا چه مهاجرینو له ځائے ورکړے دے او دهغوی مرسته (مدد) ئے کړے دے

هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝

هم دوی دی | مومنان | رشتینی | ددوی دپاره | بخښنه | او رزق | عزتمند دے

نو دغه ټول خلق په صحیح معنو کښ (په حقه) مومنان دی هم دوی دپاره بخښنه اودعزت روزی ده

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

او هغه کسان | چه ایمان ـئ راوړے دے | ددے نه وروستو | اوهجرت ـئ کړے دے | اوجهاد ـئ کړے دے

اوچاچه وروستوا یمان راوړو اوهجرت ـئ اوکړو اوستاسو په ملګرتیا کښ ـئ جهاد هم اوکړو

مَعَكُمْ فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ؕ وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ

ستاسو په ملګرتیا کښ | نو(پس) دغه کسان | هم ستاسو دپلے نه دی | او نزدے خپلوان (رشته دار) | بعضے د دوی نه

نو هغوی هم په تاسو کښ شامل دی البته (خو) په دوی کښ چه کوم (دوینے) رشته دار دی

اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

زیات حقدار دی | د بعضو نه | په حکم (کتاب) | د الله کښ | بیشکه | الله | په هر څیز باندے | پوهه دے

هغوی د الله په کتاب کښ دیو بل د میراث د نورو نه زیات حقدار دی یقیناً الله تعالی د هر څیز پوره پوره علم لری

آیاتها [۱۲۹]	سورة التوبة مدنية	رکوعاتها [۱۶]

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ عٰهَدْتُّمْ

اعلان د جدائی (بیزاری) دے | د الله | او د رسول دهغه د طرف نه | هغه خلقو ته | چه لوظ ورسره کړے دے تاسو

اے مسلمانانو! دا د الله او د هغه د رسول د طرف نه هغه مشرکانو ته د بیزارئ اعلان دے چه تاسو ورسره

مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا

د مشرکانو نه | پس وګرځئ | په زمکه کښ | څلور | میاشتے | او پوهه شئ

معاهده کړے وه. نو (اے مشرکانو) تاسو په دے ملک کښ څلور میاشتے (نور ے) ازاد اوګرځئ او دا یقین

اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ ۝

چه بیشکه تاسو | نه شئ | عاجزه (کمزورے) کولے | الله لره | اوداچه بیشکه | الله | شرمونکے دے | کافرانو لره

اوسئ چه تاسو الله عاجزه (کمزورے) کولے نشئ اودا هم یاد اوساتئ چه الله تعالی به کافران رسوا کوی.

وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ

او اعلان دے | د الله | او دهغه د رسول د طرف نه | خلقو ته | په ورځ | د حج | لوئے

او د حج اکبر په ورځ ټولو خلقو ته د الله او د هغه د رسول د طرف نه دا اعلان دے چه

اَنَّ اللّٰهَ بَرِيْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ تُبْتُمْ

چه بیشکه | الله | بیزاره دے | د مشرکانو نه | او رسول د هغه (هم) | پس که چرے | توبه اووپستله تاسو

الله تعالی او د هغه رسول د مشرکانو نه بیزاره دے اوس اے مشرکانو! که تاسو توبه اوباسئ

فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى

نو دا | غوره ده | تاسو دپاره | اوکه چرے | مخ واړولو تاسو | نو پوهه شئ | چه بیشکه تاسو | نه شئ | عاجزه (کمزوری) کولے

نو دا به درله ډیر ښه وی اوکه (اوس هم) تاسو اونه منله نو یاد اوساتئ چه تاسو الله تعالی نشئ عاجزه کولے

اللّٰهِ ؕ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۙ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ

الله لره | اوزیرے ورکړه | هغه خلقو ته | چه کفر ئے کړے دے | د عذاب | دردناک | مکر | هغه کسان

او (اے پیغمبره) ټولو کافرانو ته د دردناک عذاب زیرے ورکړه. البته (اے مسلمانانو!)

عٰهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ثُمَّ لَمْ يَنْقُصُوْكُمْ شَيْـًٔا

چه لوظ ورسره کړے دے تاسو | د مشرکانو نه | بیا ئے | کمے نه دے کړے تاسو سره (په لوظ کښ) | هیڅ کمے

کومو مشرکانو سره چه تاسو معاهده کړے ده او هغوی تاسو سره په معاهده کښ هیڅ کوتاهی نه ده کړے

وَّلَمْ يُظَاهِرُوْا عَلَيْكُمْ اَحَدًا فَاَتِمُّوْٓا اِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ

اونه ئے مدد کړے دے | دستاسو په مقابله کښ | دهیڅ چا سره | نو پوره کړئ | دهغوی سره | لوظ د هغوی

اونه ئے ستاسو خلاف د چا مدد (مرسته) کړے ده نو هغوی سره خپله معاهده تر نیټے پورے

اِلٰى مُدَّتِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝ فَاِذَا انْسَلَخَ

ترمقرره مودے هغوی پورے | بیشکه | الله | خوښوی | متقیان | پس کله چه | تیرے شی

پوره کړئ یقیناً الله تعالی د متقیانو سره مینه کوی. بیا چه کله د حرمت میاشتے تیرے شی

الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ

میاشتے | عزتمنده دے | نو وژئ | مشرکان | کوم ځائے چه | بیا مومئ تاسو هغوی لره

نو دا مشرکان چه چرته بیا مومئ نو وژئ ئے او نیسئ ئے او راګیروئ ئے

وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَاِنْ

او وئے نیسئ | او راګیر ئے کړئ | او کینئ | دوی ته | په هره | مورچه کښ | پس که چرے

او په هره مورچه کښ ورته (پټ) کینئ البته که دوی توبه اوویستله

تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ

توبه اوویستله دوی | اوپابندی ئے وکړه | د مانځه | اوورئے کړو | زکات | نو پرېږدئ (خالی کړئ) | لار د دوی

او د مانځه پابندی ئے شروع کړه او زکات ئے ورکولو نو بیا ئے مخه (لاره) ازاده کړئ

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ

بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے | اوکه چرے | یوکس | د مشرکانو نه

یقیناً الله تعالی بخښونکے مهربان دے. او که په مشرکانو کښ یوکس تانه

اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ

پناه (امن) او غواړی تانه | نو پناه (امن) ورله ورکړه | تر دے چه | واوری هغه | کلام | د الله | بیا ئے | اورسوه

پناه او غواړی نو تر هغه وخت پورے ورله پناه ورکړه چه د الله تعالی کلام واوری بیا ئے خپل

ع مَاْمَنَهٗ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُوْنَ ۝٦ كَيْفَ يَكُوْنُ

څائے دامن خپل ته | دا څکه | چه بیشکه دا | یو داسے قوم دے | چه نه پوهیږی | څنګه | کیدے شی
دامن څائے ته اورسوه دا څکه چه دوی دا سے خلق دی چه علم (پوهه) نه لری. ددے مشرکانوسره

لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ اِلَّا الَّذِيْنَ

د مشرکانو | لوظ | د الله سره | او د رسول دهغه سره | سوا | دهغه خلقو نه
د الله او د هغه د رسول معاهده څنګه برقرار پاتے کیدے شی؟ سوا دهغه چا نه

عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ فَمَا اسْتَقَامُوْا

چه لوظ ورسره کړے دے تاسو | په (خواد) مسجد حرام کښ | نو تر څو پورے چه قائم (ولاړ) وی دوی
چه تاسو ورسره په مسجد حرام کښ معاهده کړے ده نو څو پورے چه هغوی تاسو سره په خپله معاهده

لَكُمْ فَاسْتَقِيْمُوْا لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ۝٧

تاسو سره په وعده خپله | نو تاسو هم قائم (کلک) ولاړ اوسئ | ددوی سره | بیشکه | الله | خوښوی | متقیان
ولاړ (پابند) وی نو تاسو ورسره هم په معاهده پابند اوسئ یقیناً الله تعالیٰ متقیانو سره مینه کوی.

كَيْفَ وَاِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوْا فِيْكُمْ اِلًّا

څنګه کیدی شی (اعتبار دوعدے) | حالانکه که غالب شی دوی | په تاسو باندے | نو لحاظ نه ساتی | ستاسو په حقله | د خپلوئ (رشتے)
لیکن (دے نورو) مشرکانو سره معاهده څنګه برقرار پاتے کیدے شی؟ حالانکه دوی حال دا دے که چرے په تاسو باندے غالب شی

وَّلَا ذِمَّةً ؕ يُرْضُوْنَكُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ وَتَاْبٰى قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاَكْثَرُهُمْ

او نه د لوظ | رضا کوی دوی تاسو | په خلو خپلو سره | او انکار کوی | زړونه ددوی | او اکثر د دوی نه
نو (بیا) ستاسو په حقله نه د خپلوئ خیال ساتی اونه د معاهدے دوی تاسو تش د خلے په خبرو خوشحالوی حالانکه زړونه ئے انکار کوی

فٰسِقُوْنَ ۝٨ ۚ اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا

فاسقان (نافرمان) دی | اغستلے دے دوی | په آیتونو | د الله | قیمت (عوض) | لږ | نو منع کوی خلق
او اکثر پکښ نافرمان (فاسقان) دی، دوی د الله تعالیٰ د آیتونو (حکمونو) په بدله کښ معمولی عوض اغستل

عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝٩

دلارے د هغه نه | بیشکه دوی | ډیر بد (ناکاره) دے | هغه عمل | چه دوی ئے | کوی
خوښ کړی دی او (د هغے په نتیجه کښ) د الله تعالیٰ دلارے نه خلق منع کوی یقیناً دوی ډیر بدکار کونکی دی

لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

لحاظ نه ساتی دوی | د هر مومن په حقله | د خپلوئ | او نه د لوظ | او دا خلق | هم دوی دی
دوی د یو مسلمان په حق کښ هم نه د څه خپلوئ (رشتے) خیال ساتی اونه د څه معاهدے او هم دا خلق

الْمُعْتَدُوْنَ ۝١٠ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

د حد نه اوړیدونکے | پس که | توبه اوویستله دوی | اوپابندی ئے اوکړه | د مانځه | او ورکولو ئے | زکات
ډیر سرکشه دی نو که دوی (اوس هم) توبه اوباسی او د مانځه پابندی شروع کړی

فَاِخْوَانُكُمْ فِى الدِّيْنِ ؕ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝

نو دوی ورونړه دی ستاسو | په دین کښ | اوپه تفصیل سره بیانوو مونږ | آیتونه | دپاره دهغه قوم | چه پوهیږی
اوزکات ورکوی نو بیا خو ستاسو دینی ورونړه دی اومونږ دپوهه خلقو دپاره ایتونه (حکمونه) تفصیل سره بیانوو

وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا

اوکه چرے | مات کړل دوی | قسمونه خپل | پس د | لوظونو خپلونه | او بدنے اووئیل
اوکه چرے دوی د معاهدے کولونه پس خپل قسمونه مات کړی اوستاسو دین پسے بد وائی نو بیا د کفر

فِىْ دِيْنِكُمْ فَقٰتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ

په دین ستاسو کښ | نو اوجنګ پرے کړئ | مشرانو | د کفر سره | بیشکه دوی | نشته هیڅ اعتبار
داسے مشرانو (سردارانو) سره جنګ (جهاد) اوکړئ چه دوی منع شی حُکه چه د دا سے خلقو د قسمونو څه

لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ۝ اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا

د قسمونو ددوی | دے دپاره | چه منع شی دوی | ولے نه جنګ پرے کړئ تاسو | داسے قوم سره | چه مات کړی ځدی
اعتبار نشته. آیا تاسو به دهغه چا سره جنګ (جهاد) نه کوئ چا چه خپل قسمونه مات کړل

اَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ

قسمونه خپل | اوارادې (کوشش) ئے کړے دے | دویستلو (شړلو) | دپیغمبر | او دوی | شروع کړے وو (جنګ) تاسو سره
او دپیغمبر د شړلو (جلاوطنۍ) قصد اوارادې ئے کړے وه او هم دوی ستاسو خلاف جنګ په اول ځل شروع کړے وو

اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ اَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشَوْهُ

اول | ځل | آیا تاسو ویریږئ ددوی نه | پس الله | دیر حقدار دے | (ددے) چه | تاسو اویریږئ دهغه نه
(نو) آیا تاسو ددوی نه یریږئ که تاسو واقعی مومنان یئ نو الله تعالی ددے خبرے

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ قَاتِلُوْهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِاَيْدِيْكُمْ

که چرے یئ تاسو | مومنان | اوجنګ پرے کړئ دوی سره | نوسزا به ورکړی دوی ته | الله | ستاسو په لاسونو
زیات حق لری چه تاسو ترے نه اویریږئ، دوی سره جنګ پرے کړئ چه الله ستاسو په لاس دوی له سزا ورکړی اورسوائے ئے کړی

وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ

او اوبه شرموی دوی | او مدد به اوکړی تاسو سره | ددوی په خلاف | او یخے به کړی | سینے | د قوم
او د دوی په مقابله کښ ستاسو مدد اوکړی او د مومنانو زړونه پرے یخ کړی

مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ

مومنانو | اولرے به کړی الله | غصه | د زړونو د دوی | اومهربانی به اوکړی | الله
او د دوی د زړونو غصه به لرے کړی۔ او الله تعالی به توفیق د ایمان ورکړی چا ته ئے چه خوښه شی

عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تُتْرَكُوْا

په چا | چه اوغواړی | او الله | پوهه | حکمت والا دے | آیا ستاسو داخیال دے | چه هم ط سره پرینبودے شئ تاسو
او الله پوهه حکمت والا دے۔ آیا گمان کوئ تاسو چه دا سے به پرینبودے شئ تاسو

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوْا

حالانکه تر اوسه نه دی ښکاره کړی | الله | هغه خلق | چه جهاد کوی | ستاسو نه | او نه ئے دی جوړ کړے

اوحال دادے چه لا نه دی ښکاره کړی الله هغه کسان چه جهاد ئے کړے دے په تاسو کښ او نه ئے دے نیولے

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ؕ وَاللّٰهُ

سوا | د الله | او د هغه د رسول | او د مومنانو نه | څوك خاص رازدار | او الله تعالی

سوا د الله نه او نه د رسول د هغه نه او نه د مومنانو نه څوك راز دار دوست او الله

خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾ مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا

خبردار دے | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | نشته دے (حق) | د مشرکانو | چه جوړ کړی دوی

پوره خبر دے ستاسو د ټولو کارونه (عملونو) نه۔ مشرکانو لره داحق نشته چه هغوی د الله تعالی جماتونه

مَسٰجِدَ اللّٰهِ شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ

جوماتونه | د الله | په حال کښ چه گواهی کوونکی دی | په خپلو ځانونو | د کفر | دغه خلق

اباد کړی حالانکه د خپل کفر پخپله اقرار (گواهی) کوی دے وے نه د دے خلقو عملونه

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۚۖ وَفِى النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿١٧﴾ اِنَّمَا يَعْمُرُ

ضائع شوی دی | عملونه د دوی | او په اور کښ به | دوی | همیشه وی | بیشکه | اباد وی

برباد (ضائع) شوی دی او په دوزخ کښ به همیشه اوسیږی. د الله تعالی جماتونه خو هغه خلق

مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ

جوماتونه | د الله | هغه څوك | چه ایمان لری | په الله | او په ورځ | روستنۍ | او پابندی کوی

اباد ولے هی چه په الله او په اخرت ایمان لری او د مانځه پابندی کوی

الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰٓى

د مانځه | او ورکوی | زکات | او نه ویریږی | سوا | د الله نه | پس امید دے

اوزکات ورکوی او د الله تعالی نه سوا دبل هیڅ چانه نه ویریږی نو هم داسے خلقونه دا امید (توقع) شته

اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿١٨﴾ اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ

چه هم دغه خلق | به وی | د سے لار موندونکو نه | آیا گنړئ تاسو | او به څکول

چه دوی دے په هدایت والو کښ شامل شی. ایا تاسو حاجیانو ته اوبه ورکول

الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

په حاجیانو | او اباد ول | د مسجد حرام | پشان دهغه چا | چه ایمان لری | په الله | او په ورځ

او مسجد حرام اباد ول د هغه چا د عمل سره برابر گنړئ چه په الله تعالی او په اخرت ایمان لری

الْاٰخِرِ وَجٰهَدَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

روستنۍ | او جهاد کوی | په لار | د الله کښ | نه دی دوی برابر | په نزد | د الله

او د الله په لاره کښ جهاد کوی۔ د الله تعالی په نزد دا ټول نشی برابریدے

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٩﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او الله | توفیق دپوهے نه ورکوی | قوم | ظالمانو ته | هغه کسان | چه ایمان ځ راوړے دے

او الله تعالی ظالمان خلق خپل منزل مقصود ته نه رسوی۔ چا چه ایمان راوړے دے

وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ

اوهجرت ځ کړے دے | اوجهاد ځ کړے دے | په لاره | د الله کښ | په مالونو خپلو | اوپه نفسونو خپلو

او هجرت ځ کړے دے او د الله په لار کښ ځ په خپل مال اوسر جهاد کړے دے

اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٢٠﴾

لوئے | مرتبے والا دی | په نزد | د الله | اوهم دغه خلق | هم دوی | کامیاب دی

هغه په نزد د الله تعالی د مرتبو والا دی۔ او هم دا خلق کامیاب دی

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ

زیږے ورکوی دوی ته | رب خپل | د مهربانئ | خپله | اود رضامندئ | او د جنتونو | چه وی به دوی دپاره

دوی له خپل رب د خپل رحمت او د رضامندئ اود داسے جنتونو زیږے ورکوی چه په هغے کښ

فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿٢١﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ

په هغے کښ | نعمتونه | همیشه | همیشه به وی دوی | په هغے کښ | تل دپاره | یقیناً

د دوی دپاره دائمی نعمتونه وی دوی به په هغے کښ همیشه اوسیږی یقیناً

اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٢﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

الله | سره دے | اجر (ثواب) | ډیر لوئے | اے | ایمان والو!

الله تعالی سره ډیر لوئے اجر دے ۔ اے مومنانو!

لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَآءَكُمْ وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ

مه نیسئ (مه جوړوئ) | پلاران خپل | او وروڼه خپل | دوستان | که چرے | خوښوی دوی | کفر لره

که ستاسو پلاران او وروڼه د ایمان په مقابله کښ کفر خوښوی نو

عَلَى الْاِيْمَانِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ

په ایمان باندے | او چا چه | دوستی او کړه دوی سره | ستاسو نه | نو دغه کسان

د هغوی سره دوستانه مهٔ ساتئ او په تاسو کښ چه څوك هم د دوی سره دوستانه کوی نو هم دا خلق

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ

هم دوی ظالمان دی | اووایه! | که چرے | وی | پلاران ستاسو | او ځامن ستاسو | او وروڼه ستاسو

ظالمان دی اے پیغمبره! مسلمانانو ته اووایه چه که ستاسو پلاران او ځامن او وروڼه

وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ِۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ

او ښځے ستاسو | او قام قبیله ستاسو | او هغه مالونه | چه کتلی دی تاسو هغه | او هغه تجارت

او ښځے او خاندان (خپلوان) او هغه مال دولت چه تاسو کتلی دے او هغه تجارت (کاروبار)

تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ

چه ویریږئ تاسو | دهغے دنقصان نه | او هغه کورونه | چه تاسو ئے خوښوئ | ډیر (زیات) خوښ وی | تاسو ته

چه تاسو سره دهغے دبازار د سړیدو ویره (خطره) وی او ستاسو دخوښے کورونه داتول کهٔ تاسو ته

مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ

د الله | او دهغه درسول نه | او دجهاد نه | دهغه په لاره کښ | نو انتظار کوئ | تر دے | چه راوړی

د الله تعالی او د هغه درسول نه او دهغه په لاره کښ دجهاد کولو نه زیات خوښ وی (غوره ښکاری) نو د الله تعالی

اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٤﴾ لَقَدْ ع

الله | خپله فیصله | او الله | هدایت نه کوی | قوم | نافرمان (فاسقانو) ته | یقیناً

د فیصلے (دنیاوی عذاب) ډراتلو پورے انتظار اوکړئ او الله تعالی فاسقانو (نافرمانو) خلقو ته سمه لاره نه ښائی

نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ اِذْ

مدد کړے دے تاسو سره | الله | په ځایونو (موقعو) | ډیرو کښ | او په ورځ | د حُنین (خاص کر) | کله چه

حقیقت دا دے چه الله تعالی په ډیرو موقعو کښ ستاسو مدد کړے دے او خاص کر د حنین په ورځ ئے

اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا وَّضَاقَتْ

خوشحاله کړئ تاسو | ډیروالی خپل | پس فائده ئے درنکړه | تاسو ته | هیڅ څیز | او تنګه شوه

هم کړے دے کله چه تاسو خپل ډیروالی په تعجب کښ واچولئ خو هغے هیڅ فائده درنکړه او زمکه

عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ

په تاسو باندے | زمکه | سره د | فراخئ نه | بیا | واوړیدئ تاسو | شا کوونکی | بیا

درباندے سره د فراخئ نه تنګه شوه بیا د میدان جنګ نه مخ په شا اوتختیدئ بیا

اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ

نازل کړه | الله | خپله تسلی (اطمینان) | په خپل رسول باندے | اوپه مومنانو باندے | اوراوړے لښکرے

الله تعالی په خپل رسول اوپه مومنانو باندے خپله تسلی (اطمینان) نازله کړه او داسے لښکرے ئے

جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَذٰلِكَ

داسے لښکرے | چه نه لیدلے تاسو هغه | اوسزا (عذاب) ئے ورکړو | هغه کسانو ته | چه کفر ئے کړے وو | او دا

راولیږلے چه تاسو نه لیدلے او کافرانو ته ئے سزا ورکړه او د دا سے کافرانو

جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ

سزا (بدله) | د کافرانو ده | بیا | مهربانی اوکړه | الله | پس | د دے نه | په هغه چا

هم دا سزا ده بیا د الله چه چا ته خوښه وه هغوی له د توبے توفیق ورکړو

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا

چه غوښتل ئے | او الله | بخښونکے | مهربان دے | اے مومنانو! | بیشکه

او الله تعالی ډیر بخښونکے مهربان دے اے مومنانو!

الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ

مشرکان | پلیت دی | پس نه دے نزدے کیږی دوی | مسجد | حرام ته | وروستو

مشرکان پوره پلیت (ناپاک) دی نو دے کال (نهم کال دهجرت) نه پس دِمسجد حرام ته

عَامِهِمْ هٰذَا ۚ وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيْكُمُ

د دے کال نه | اوکه چرے | یریږئ تاسو | دفقیرئ (محتاجئ) نه | نو دیرزر به | مالداره کړی تاسو

رانزدے نشی۔ او (اے مسلمانانو) که تاسو د محتاجئ نه یریږئ نو که الله وغوښتله نو په خپل فضل سره

اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

الله | په خپل فضل سره | که چرے | هغه غوښتل | بیشکه | الله | پوهه | حکمت والا دے

به مو (د مشرکانو نه) بے نیازکړی یقیناً الله تعالیٰ کامل علم والا او کامل حکمت والا دے۔

قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

اوجنګیږئ | د هغه چاسره | چه ایمان نه راوړی | په الله | او نه په ورځ | روستنۍ

په اهل کتابو کښې د هغه چاسره جنګ کوئ کوم چه نه په الله ایمان لری او نه په اخرت

وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ

او نه حرام ګڼری | هغه څه | چه حرام کړی دی | الله | او د هغه رسول | او نه قبلوی | دین

او نه هغه څیزونه حرام ګڼری کوم چه الله او د هغه رسول حرام کړی دی

الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ

حق دین | د هغه چانه | چه ورکړے شوے دے ورته | کتاب | تردے | چه ورکړی دوی | جزیه

او نه حق دین خپل دین ګڼری تر دے پورے چه دوی په خپل لاس په ذلت

عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ۝ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ۨ ابْنُ اللّٰهِ ع

په خپل لاس | په داسے حال کښې | چه ذلیله به وی | او وائی | یهودیان | چه عزیرؑ | څوئ | دالله دے

او خواریئ سره جزیه ادا کړی. یهودیان خو داوائی (دا عقیده ساتی) چه عزیر دالله څوی (نائب) دے

وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ

او وائی | عیسائیان | چه مسیحؑ | څوئ | دالله دے | دا | خبره (وینا) ددوی ده

اوعیسایان داوائی چه مسیح (عیسیٰ) دالله څوے (نائب) دے دا ددوی دخلو (جوړے کړی بے دلیله)

بِاَفْوَاهِهِمْ ۚ يُضَاهِـُٔوْنَ قَوْلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۭ

په خلو د دوی | نقل (یوشانوالے) کوی دوی | د خبرے | دهغه کسانوسره | چه کفرئ کړے دے | مخکښې (ددوی نه)

خبرے دی دوی د مخکینو کافرانو پشان خبرے کوی الله تعالیٰ دِدوی هلاک کړی

قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ

لعنت کړے دے په دوی باندے | الله | کوم خوا | اوړیدلے کیږی دوی | نیولی دی دوی | خپل مولیان (عالمان)

کوم خوا بے لارے روان کړے شوی دی. دوی دالله تعالیٰ نه سوا خپل مولیانو (عالمانو)

وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ

اوخپل پیران(راهبان) | خدایان | سوا | د الله نه | او مسیح | څوئ | دمریم (هم)

او پیرانو (راهبانو) اومیسح ابن مریم نه ئ خدائ (رب) جوړ کړے دے

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ لَآ اِلٰهَ

اوحکم نه ووشوے دوی ته | مګر | ددے چه عبادت واوکړی | د یو خدائ | نشته | لائق دعبادت

حالانکه دوی ته دیوالله دبندګئ نه سوا دبل چا دبندګئ حکم نه دے شوے دهغه نه سوا بل هیڅ څوك

اِلَّا هُوَ ۭ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا

سوادهغه نه(بل څوك) | پاك دے هغه | دهغه څخه نه | چه دوی ئې سره شریك جوړوی | غواړی دوی | چه مړه کړی

دبندګئ حقدار نشته (او) هغه دمشرکانو ددے خبرو نه بالکل پاك دے. داخلق دا غواړی چه دخپلو خلو په پوکو

نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّآ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ

رنړا | د الله | په خپلو خلو | او انکار کوی | الله | مګر | دا چه | پوره کړی | رنړا خپله

دالله تعالی رنړا مړه (ختمه) کړی حالانکه الله ته دخپلے رنړا دپوره کولو نه علاوه هره خبره نامنظور ده

وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى

اګر چه | بدے ګڼړی | کافران | الله هغه ذات دے | چه الیږلے ئ دے | رسول خپل | په هدایت سره

اګر چه کافرانو باندے داخبره ډیر بده لګی الله تعالی هم هغه ذات دے چه خپل رسول ئ د هدایت

وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ كَرِهَ

او په دین | حق سره | چه غالب ئ کړی الله | په دینونو | تولو باندے | اګرچه | بد (ئ) ګڼړی

او د حق دین سره رالیږلے دے چه داحق دین په نورو تولو دینو باندے غالب کړی اګر که مشرکان

الْمُشْرِكُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْاَحْبَارِ

مشرکان | اے | مومنانو! | بیشکه | ډیر | د مولیانو (عالمانو)

دا خبره بده ګڼړی اے مومنانو! د یهودیانو په مولیانو او د عیسایانو

وَالرُّهْبَانِ لَيَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّوْنَ

او پیرانو (راهبانو) نه | خامخا خوری | مالونه | د خلقو | په ناروا (طریقه) | اومنع کوی (خلق)

په پیرانو کښ ډیر داسے شته دے چه دخلقو مالونه په ناروا طریقه خوری اوخلق دالله تعالی دلارے نه

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ

د لارے | د الله نه | او هغه خلق | چه جمع (ذخیره) کوی | سره زر | او سپین زر

منع کوی ـ او کوم خلق چه سره او سپین زر جمع کوی

وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝

اونه ئ خرچ کوی | په لاره | د الله کښ | نوزیږے ورکړه هغوی ته | د عذاب | دردناك

او د الله تعالی په لار کښ ئ نه خرچ کوی نو هغوی ته دیو دردناك عذاب زیږے ورکړه

يَّوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا

په هغه ورځ | چه گرمه به کړے شی | دغه څیزونه (مالونه) | په اور | د دوزخ کښ | بیا به داغلے شی | په هغے سره

(دا به) په هغه ورځ (وی) چه دا خزانے به د دوزخ په اور کښ گرمے کړے شی او بیا به پرے

جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ۭ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ

تندی د دوی | او ډډے د دوی | او شاگانے د دوی | دا | هغه څه دی | چه جمع کړی وو تاسو

د دوی تندو او ډډو (اړخونو) او شاگانو ته داغونه ورکولے شی او ورته به وئیلے شی چه دا هغه خزانے دی چه

لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ۝ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ

دپاره د خپلو ځانونو | نو اوځکئ | هغه څه | چه تاسو به جمع کول | بیشکه | شمار | د میاشتو

تاسو د خپل ځانونو دپاره جمع کړے وے نو اوس اوځکئ دهغه خزانو د عذاب مزه چه تاسو جمع کولے. حقیقت دادے

عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ

په نزد | د الله | دولس | میاشتے دی | په کتاب (حکم) | د الله کښ | د هغے ورځ نه | چه پیدا کړی ئے دی

چه د الله تعالیٰ په نزد د میاشتو شمار دولس دی چه هغه د الله په کتاب کښ د هغه ورځے نه راراوړے دی په کومه ورځ

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ۭ ذٰلِكَ الدِّيْنُ

آسمانونه | او زمکه | (چه) دهغے نه | څلور میاشتے | د عزت دی | دا دے | دین

چه الله تعالیٰ اسمانونه او زمکه پیدا کړی دی چه څلور پکښ د عزت (حرمت) میاشتے دی. هم دغه سم دین دے

الْقَيِّمُ ۙ فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ

کلك (درست) | پس مه کوئ ظلم | په دے (میاشتو) کښ | په ځانونو خپلو | او جنگ کوئ | د مشرکانو سره

نو تاسو د دے میاشتو د روستو کولو مخکښ کولو په حقله (په دے میاشتو کښ) په خپل ځان باندے ظلم مه کوی

كَاۗفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَاۗفَّةً ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ

تول په یو ځائے (تولو سره) | لکه څنگه چه | جنگ کوی هغوی تاسو سره | تول په یو ځائے (تولو سره) | او پوهه شئ | چه بیشکه

او تول په یو ځائے د مشرکانو سره جنگ کیږئ لکه څنگه چه هغوی تاسو سره په یو ځائے جنگ کیږی او یقین اوسائ چه الله تعالیٰ

اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّمَا النَّسِيْۗءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ

الله | د متقیانو سره دے | بیشکه | د روستو کول (د میاشت) | زیاتوالے دے | په کفر کښ | گمراه کیږی

د متقیانو ملگرے دے یقیناً دا میاشتے مخکښ د روستو کول خو په خپل کفر کښ نور زیاتوالے کول دی چه

بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا

په دے سره | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | حلال گڼری دوی دا | یو کال | او حرام ئے گڼری | بل کال

د دے په وجه د کافرانو گمراهی زیاتیږی چه یو کال یوه میاشت د عزت حلاله گڼری او بل کال ئے حرامه گڼری او دا دے دپاره کوی

لِّيُوَاطِـُٔوْا عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا مَا

دے دپاره چه پوره کړی دوی | شمار | د هغے میاشتو | چه عزت ور کړے دے | الله | نو حلالوی (بے عزتی کوی) دوی | هغه میاشتے

چه صرف د الله تعالیٰ د حرامو کړو میاشتو شمار پوره کړی نو پدے طریقه دوی هغه میاشتے حلالے گڼری

حَرَّمَ اللّٰهُ ؕ زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى

چه حرام کړی دی | الله | خائسته کړے شوی دی | دوی ته | بد | عملونه خپل | او الله | هدایت نه کوی

کوے چه الله حرامے کړے دی دوی ته خپل بدکارونه خائسته ښکاره کړے شوی دی او الله تعالی دا سے

الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ

قوم | کافرانو ته | اے مومنانو! | څه شوی دی | په تاسو | کله چه | اووئیلے شی

کافرانو ته سمه لارنه ښائی ۔ اے مومنانو! دا په تاسو څه شوی دی چه کله درته حکم اوشی

لَكُمُ انْفِرُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ

تاسو ته | چه اوځئ (لار شئ) | په لار | د الله کښ | نو تاسو درانه شئ | زمکے ته

چه د الله تعالی په لار کښ د جهاد دپاره اووځئ (لار شئ) نو تاسوز مکے پورے اونښلئ ولے (آیا) تاسو د اخرت

اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ

آیا تاسو راضی شوی یئ | په ژوند | دنیوی | د آخرت په ځائے | پس نه ده | فائده (سامان) | د ژوند

په مقابله کښ د دنیا په ژوند خوشحاله (راضی) شوی یئ څه؟ (یا دسائ چه) د دنیا د ژوند مزه (فائده)

الدُّنْيَا فِى الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ

دنیوی | په بدل د آخرت کښ | مگر | لږه | که چرے اونه ځئ تاسو | نو هغه به سزا درکړی تاسو ته

د اخرت په مقابله کښ ډیره لږه ده ۔ که چرے تاسو جنگ له نه ځئ نو الله به ډیر سخت

عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ

سزا | ډیره سخته | او بدل کښ به راولی | یو (بل) قوم | ستاسو نه سوا | او تاسو ضرر نشئ ورکولے الله ته

عذاب درکړی او ستاسو په ځائے به یو بل قوم پیدا کړی او تاسو هغه ته هیڅ نقصان

شَيْئًا ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٣٩﴾ اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ

هیڅ | او الله | په هر څیز باندے | قادر دے | که تاسو مدد نه کوئ د دے رسول | نو (پس) یقیناً

نشئ رسولے او الله تعالی په هر څه قادر دے ۔ که تاسو د پیغمبر مدد نه کوئ نو یقیناً الله تعالی

نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِىَ

مدد کړے دے هغه ره | الله | کله چه | اووېستلو ده لره | هغه کسانو | چه کفر ئے کړے دے | دوئم

دهغه مدد په دا سے وخت کښ کړے دے چه کله کافرانو هغه په دا سے وخت کښ اووېستلو چه دوه په دوه وو

اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِى الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ

په دوؤ کښ | کله چه | وو دواړه | په غار کښ | کله چه | اووئیل ده | خپل ملګری ته | غم مه کوه

کله چه دواړه په غار کښ وو او خپل ملګری ته ئے اووئیل چه هیڅ غم مه کوه

اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَاَيَّدَهٗ

بیشکه | الله | زمونږ سره دے | پس راولیږلو | الله | خپل اطمینان | په ده باندے | او کلك ئے کړو ده لره

الله تعالی زمونږ سره دے نو الله تعالی په خپل پیغمبر باندے د زړه تسلی نازل کړه او په دا سے

بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

په داسے لښکرو سره | چه تاسو نه لیدلے هغه | او اوګرځوله الله | خبره | د هغه کسانو | چه کفر ئے کړے وو

لښکرو ئے هغه مضبوط کړو چه تاسو نه لیدل او د کافرانو خبره الله تعالی لاندے

السُّفْلٰى ۭ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ۭ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

ښکته (لاندے) | او خبره | د الله | هم هغه ده | اوچته | او الله تعالی | زور آور (غالب) | او حکمت والا دے

(ښکته) کړله او د الله تعالی خبره خو هسے هم اوچته ده او الله تعالی زور آور (غالب) او حکمت والا ذات دے

اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ

اوځئ | که سپک یئ | او که درانه | او جهاد اوکړئ | په مالونو خپلو | او په نفسونو خپلو

اے مسلمانانو! د جهاد دپاره ووځئ (لاړشئ) که لږ سامان درسره وی او که ډیر او د الله تعالی په لار کښ په

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝

په لار | د الله کښ | (هم) دا | ډیره غوره (فائده) ده | ستاسو دپاره | که چرے تاسو پوهیږئ

خپل مال او سر سره جهاد اوکړئ ۔ که تاسو پوهیږئ نو دا درله ډیره غوره (ښه) ده۔

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ

که چرے | وے د اغزوۂ تبوک | سامان | آسان حاصلیدونکے | او سفر | نزدے | نو خامخا دوی به تلے وے تاسره

(اے پیغمبره!) که چرے په هغے غزوۂ تبوک کښ مال غنیمت په اسانۍ ملاویدے او سفر هم اسان وے نو دا منافقان به ضرور

وَلٰكِنْۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۭ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ

لیکن | لرے (ښکاره) شو | دوی ته | سفر | اوزرده چه قسمونه به اوخوری دوی | په الله باندے

تاسو پسے درغلی وے خو (لیکن) دوی ته د اسفر کول ډیر گران (ډیر اوږد) ښکاره شو او په وروستۍ کښ به دوی په الله قسمونه خوری

لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ

که چرے زمونږ وس رسیدلے | نو خامخا به وتلی وے مونږ | تاسره | هلاکوی دوی | خپلونه خپل | او الله

چه که چرے زمونږ وس (طاقت) رسیدے نو خامخا به تاسو سره وتلے وے او په دروغه قسمونه خپل ځانونه هلاکول دوی دپاره

يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝ عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ لِمَ اَذِنْتَ ع

پوهیږی | چه بیشکه دوی | دروغژن دی | معافی دِ اوکړی | الله | تاته | ولے | اجازت ورکړو تا

سبب دهلاکت دے او الله تعالی ته ښه پته ده چه دوی دروغژن دی اے پیغمبره! الله دِ تا معاف کړی تا دوی ته

لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ

دوی ته | تر دے | چه ښکاره شوی وے | تاته | هغه خلق | چه رښتیا وائی | او پیژندلی وے تا

اجازت ولے ورکړو تر دے چه تاته رښتینی خلق هم ښکاره شوی وے او تا

الْكٰذِبِيْنَ ۝ لَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

دروغژن | اجازت نه غواړی ستاسه | هغه خلق | چه ایمان لری | په الله | او په ورځ

دروغژن خلق هم پیژندلی وے۔ څوک چه په الله او په اخرت ایمان لری هغوی تاسه

الْاٰخِرِ اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

روستنئ | (ددے نه) چه | دوی جهاد اوکړی | په خپلو مالونو | اوپه خپلو نفسونو | او الله ۰ | ښه پیژنی

په خپل مال او سر د جهاد نه کولو اجازت نه غواړی ـ او الله متقیان ډیر ښه پیژنی

بِالْمُتَّقِيْنَ ۝ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

متقیان | بیشکه | اجازت غواړی ستانه | هغه خلق | چه ایمان نه لری | په الله

یقیناً تا نه (د جهاد د نه کولو) اجازت هغه خلق غواړی چه په الله او په

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ

او په ورځ | روستنئ | او په شك كښ دی | زړونه ددوی | پس دوی | په خپل شك كښ

اخرت ایمان نه لری او زړونه ئے په شك كښ دی نو دوی په خپل شك كښ

يَتَرَدَّدُوْنَ ۝ وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً

سرګردانه (ګډوډ) دی | اوکه چرے | ددوی اراده وے | د وتلو | نوخامخا به ئے تیار کړے وے | دهغے پاره | څه سامان

سرګردانه دی چه چاسره شو. اوکه چرے ددوی دوتلو اراده وے نو دے له به ئے څه ناڅه تیارے هم کړے وے

وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ اقْعُدُوْا

لیکن | بدګڼلی دی | الله | پورته کیدل ددوی | پس درانه ئے کړل دوی | او اوونیل شو | چه کینئ

لیکن الله تعالی ددوی پاڅیدل (جهاد ته تلل) خوښ نه کړل نو دوی ئے سست کړل (توفیق ئے ورنکړو) اوورته اووئیلے شو

مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ۝ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ مَّا زَادُوْكُمْ اِلَّا

د ناستو سره | اکه چرے | دوی وتلے وے | په تاسو کښ | نونه به ووزیات کړے دوی تاسو دپاره | مګر

چه دناستو (پاتے شوو) خلقو سره تاسو هم کینئ که دوی تاسو سره دجنګ میدان ته وتلی هم وے نو په تاسو کښ به ئے

خَبَالًا وَّلَاۡ اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ

نقصان (فساد) | اوخامخا به زغلیدلے وودوی | ستاسو په مینځ کښ | چه فتنو لو به ئے په تاسو کښ | اختلاف | اوپه تاسو کښ دی

نور زیات فساد خور کړے وو او ستاسو په مینځ کښ به ئے دفتنے پیدا کولو کوشش کولو او (اوس هم) په

سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝ لَقَدِ ابْتَغَوُا

جاسوسان | د دوی | او الله | پیژنی | ظالمان | یقیناً | لتولے وه دوی

تاسو کښ ددوی جاسوسان موجود دی. اوالله تعالی ظالمان ډیر ښه پیژنی ـ دوی خو دد ے نه مخکښ په نور وغزوا تو

الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ

فتنه | مخکښ د دینه | اوچور کړی وودوی | ستاخلاف | ډیر تدبیرونه | تردے چه | راغے (بښکاره شو) | حق

کښ هم دوی دفتنے پیدا کولو کوشش کړے وو او ستاسو خلاف ئے ډیر تدبیرونه چور کړی وو تردے چه حق راغے

وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ

اوبښکاره (غالب) شو | حکم (دین) | د الله | په هغے سے مل کښ چه دوی | ئے بدګڼلی | اوبغض ه دوی کښ | داسے کسان دی | چه وائی

او د الله دین غالب شو حالانکه دوی دا نه خوښول او په دوی کښ داسے خلق هم شته چه وائی

ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا ؕ وَاِنَّ

چه اجازت را کړه | ما ته | اومه غورزوه ما په فتنه کښ | خبردار (واورئ) | په فتنه کښ (خو) | پریوتل دی | او بیشکه

چه ما ته اجازت را کړه او په شر (فتنه) کښ مه غورزوه ـ خبردار دی په فتنه کښ پریوتی دی چه جهنم ته فتنه وائی

جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ ۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ۝ اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ

دوزخ | خامخا راګیروونکے دے | (دا سے) کافرانو لره | که چرے | اورسیږی تا ته | څه خوشحالی

او یقیناً دوزخ کافرانو لره راګیروونکے دے. اے پیغمبره! که چرے تا ته څه ښیګړه (فائده) اورسی

تَسُؤْهُمْ ۚ وَاِنْ تُصِبْكَ مُصِيْبَةٌ يَّقُوْلُوْا قَدْ اَخَذْنَآ

نو خفه کوی دوی لره | او که چرے | ورسیږی تا ته | څه مصیبت | نو وائی | یقیناً | عمل کړے وو مونږ

نو په دوی بدلګی (دوی خفه کوی) او که په تا څه مصیبت راشی نو دوی وائی چه مونږ (خو) دوراندے نه دخپل حفاظت

اَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا وَّهُمْ فَرِحُوْنَ ۝ قُلْ

په خپل تدبیر | مخکښ ددے نه | او واپس شی دوی | او دوی | خوشحالئ کوی | اووایه

بندوبست کړے وو او واپس لاړ شی په داسے حال کښ چه ستاسو په مصیبت اظهار د خوشحالئ کوی اے پیغمبره ته ورته جواب

لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ

هیڅکله به اونه رسی مونږ ته | مګر | هغه څه | چه لیکلے وی | الله | زمونږ دپاره | هغه دے | زمونږ کارساز

او کړه چه الله تعالیٰ چه مونږ دپاره څه په تقدیر کښ لیکلی دی هغه به خامخا مونږ ته راارسیدے (دهغے نه سوا بل څه نشو راارسیدے)

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ

او خاص په الله باندے | توکل او کړی | مومنان | اووایه | چه نه کوئ تاسو انتظار

هغه زمونږ کارساز دے او مومنانو له هم په الله باندے ځان سپارل پکار دی ـ ته ورته اووایه چه تاسو زمونږ په حقله

بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ؕ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ اَنْ

زمونږ په حق کښ | مګر | یو | د دوؤ خوشحالو نه | او مونږ | انتظار کوو | ستاسو په حق کښ | ددے

په دوو کښ دیو ے خوشحالئ انتظار کوئ (چه فتح او شهادت دے) او مونږ هم ستاسو په باره کښ په دوؤ کښ دیو بدحالت

يُّصِيْبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖٓ اَوْ بِاَيْدِيْنَا ۚ فَتَرَبَّصُوْٓا

چه اوبه رسوی تاسو ته | الله | عذاب | د خپل طرف نه | یا زمونږ په لاسونو باندے | پس انتظار کوئ تاسو

انتظار کوو چه یا خو به الله تعالیٰ تاسو ته د خپل طرف نه یا زمونږ په لاسونو ضرور څه عذاب درکړی. بس تاسو هم انتظار کوئ

اِنَّا مَعَكُمْ مُّتَرَبِّصُوْنَ ۝ قُلْ اَنْفِقُوْا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا

بیشکه مونږ هم | تاسو سره | انتظار کوونکی یو | اووایه | خرچ کړئ | په خوښه | یا په ناخوښه

او مونږ هم تاسو سره انتظار کوو. او ته ورته اووایه چه تاسو خپل مالونه په خوښه (رضا) خرچ کوئ او که په ناخوښه (نارضا)

لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ؕ اِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ۝ وَمَا مَنَعَهُمْ

هیڅکله به قبول نه کړے شی | ستاسو نه | بیشکه | تاسو یئ | یو قوم | نافرمان | او نه دی منع کړی دوی

خو ستاسو نه هغه هیڅ کله قبلیدے نشی ځکه چه تاسو کافران یئ (او د کافر هیڅ نیک عمل نه قبلیږی) او د دوی

اَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقٰتُهُمْ اِلَّآ اَنَّهُمْ كَفَرُوْا

ددے نه | چه قبول کړے شی | د دوی نه | خیراتونه ددوی | مګر | دے خبرے چه بیشکه دوی | کړے دے کفر
د خیراتونو د نه قبلیدو وجه صرف هم دا ده چه دوی د الله تعالی او د هغه

بِاللّٰهِ وَبِرَسُوْلِهٖ وَلَا يَاْتُوْنَ الصَّلٰوةَ اِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى

په الله | اوپه رسول دهغه باندے | او نه راځی دوی | مانځه له | مګر | په داسے حال کښ چه دوی | سست (ناراست)
د رسول نه انکار کړے دے او مانځه له په مات زړه (په ناراستیا) راځی

وَلَا يُنْفِقُوْنَ اِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ۝ فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ

اونه کوی دوی خرچ | مګر | په داسے حال کښ | چه بدے ګڼری | پس تعجب کښ مه واچوه تاله | مالونه ددوی
او دالله تعالی په لار کښ چه څه خرچ کوی نو په هغے باندے خفه وی. نو ددوی مالونه او اولاد (بچی) دِ تاپه

وَلَآ اَوْلَادُهُمْ ؕ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ

او نه اولاد دَ دوی | بیشکه | غواړی | الله | چه عذاب ورکړی دوی ته | په دے سره | په ژوند
تعجب کښ وانه چوی یقیناً الله تعالی خو دا غواړی چه دَدے څیزونو په ډیروالی دوی ته په دنیا کښ عذاب

الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ وَيَحْلِفُوْنَ

دنیوی کښ | او اوځی | ساګانے (روحونه) ددوی | په داسے حال کښ چه دوی | کافران وی | اوقسمونه خوری دوی
ورکړی اود کفر په حالت کښ ترینه ساه واخلی. دوی (تاسوته) په الله قسمونه خوری

بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ؕ وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلٰكِنَّهُمْ

په الله باندے | چه بیشکه دوی | ستاسو (دڅله) نه دی | او نه دی | دوی | ستاسو (دڅله) نه | لیکن دوی
چه دوی ستاسو ملګری دی حالانکه ستاسو ملګری نه دی بلکه د خپل منافقت

قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ ۝ لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً اَوْ مَغٰرٰتٍ اَوْ مُدَّخَلًا

یو (داسے) قوم دے | چه یریږی | که چرے | بیا مومی دوی | دپناه ځای | یا غارونه | یا سمسے (سرنګونه)
دښکاره کیدونه یَریږی. که دوی د پناه ځای یا غار یا د سر پټولو ځایے بیا موندو نو

لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ

نو خامخا به دوی ورغلی وو | هغے ته | په داسے حال کښ چه منډے به ځولے | او بعضے ددوی نه | هغه څوک دی
په منډه به هلته ځان پټ کړی. او بعضے پکښ داسے هم دی چه د صدقاتو (په تقسیم)

يَّلْمِزُكَ فِي الصَّدَقٰتِ ۚ فَاِنْ اُعْطُوْا مِنْهَا رَضُوْا

چه عیب لګوی په تا باندے | په صدقاتو کښ | پس که چرے | ورکړے شی دوی ته | د هغے نه (څه حصه) | نو خوشحاله شی
کښ په تا باندے اعتراض کوی (الزام لګوی) خو که دوی ته ترے نه ورکړے شی نو بیا خوشحاله شی

وَاِنْ لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَآ اِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ ۝

او که چرے | ورنه کړے شی دوی ته | د هغے نه (څه حصه) | نو دغه وخت | دوی | خفه (ناراضه) شی
او که دوی ته ترے نه ورنه کړے شی نو بیا فوراً خفه شی۔

وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ۙ وَقَالُوْا

لوکه چرے | دوی | خوشحاله شوی وے | په هغه څه | چه ورکړی دی دوی ته | الله | اورسول دهغه | اووئیلے وے دوی

اوالله اودهغه رسول چه دوی ته څه ورکړی ووکه دوی په هغے باندے خوشحاله شوی وے اودائے وئیلی وے چه زمونږ

حَسْبُنَا اللّٰهُ سَيُؤْتِيْنَا اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَرَسُوْلُهٗٓ ۙ اِنَّآ

چه پوره دے مونږ دپاره | الله | زرده چه راپه کړی مونږ ته | الله | د خپل فضل نه | او رسول دهغه | بیشکه مونږ

دپاره الله تعالی کافی دے هغه به مونږ ته د خپل فضل نه او دهغه رسول به هم درپر څه را کړی اومونږ الله تعالی ته رغبت

اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ ﴿٥٩﴾ اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ ع ١٣

صرف الله ته | رغبت کوونکی یو | بیشکه | زکاتونه (صدقے) خودی | دفقیرانو دپاره | اودمسکینانو (غریبانو) دپاره

کوونکی یو (نو دا به درپره بنه وه) په حقیقت کښ دزکات مال خو دفقیرانو مسکینانو او زکات راغونډولو کښ حق دے

وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ

لو (هغه) کار کوونکو دپاره | چه مقرر شوی وی په هغے باندے | او (هغه چا دپاره) چه خوشحالولے شی | زړونه دهغوی | اوپه آزادولو دځتولو کښ

اودهغه خلقو حق دے چا په زړونو کښ ځے چه داسلام محبت اچول مقصود وی او دغلامانو دازادولو دپاره دی

وَالْغٰرِمِيْنَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۭ فَرِيْضَةً

او دقرضدارو دپاره | او په لاره | د الله کښ | او مسافرو د پاره | فرض (کړے شوی) دی

او دقرضدارو او مجاهدینو اودمسافرو په مدد کولو کښ خرچ کیدے شی اودا دالله تعالی دطرف نه

مِّنَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٠﴾ وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ

د الله د طرف نه | او الله تعالی | د علم | اوحکمت مالك دے | اوبعضے ددوی نه | هغه خلق دی | چه تکلیف رسوی

یو فرض حکم دے اوالله تعالی دعلم او دحکمت مالك دے. اوهم په دے منافقانو کښ دا سے خلق هم شته

النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ ۭ قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ

پیغمبر ته | او وائی | چه دے (خو) | هر څه خبره اوری | اووایه | چه دے خواږه لوڼکے | دخیر خبرے دے | ستاسو

چه پیغمبر ته تکلیف رسوی اووائی چه دے خو دهر چا خبره اوری اوقبلوی ځے. ته ورته اووایه چه دا خوستاسو دفائدے

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ

ایمان لری | په الله باندے | اویقین کوی | د مومنانو په خبره | او رحمت دے | د پاره دهغه چا

دپاره دا سے ده ورنه دے خو په الله تعالی ایمان (یقین) ساتی اودمومنانو په خبره باروکوی اوپه تاسو کښ چه

اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۭ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ

چه ایمان لری | ستاسو نه | او هغه خلق | چه تکلیف ورکوی | رسول | د الله ته | ددوی دپاره دے

څوك ایماندار دی دهغوی دپاره رحمت دے اوځوك چه دالله تعالی رسول ته تکلیف رسوی دهغوی دپاره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ وَاللّٰهُ

عذاب | دردناك | قسمونه خوری | په الله باندے | تاسو ته | چه تاسو راضی کړی | او الله

دردناك عذاب تیار دے. اے مسلمانانو! دوی تاسو ته په الله قسمونه خوری چه تاسو خوشحاله (راضی) کړی حالانکه

وَرَسُوْلُهٗٓ اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝٦٢

اورسول دهغه | ډیر حقدار دی | چه دوی ئې رضا کړی | که چرے | وی دوی | مومنان

که دوی په رښتیا (حقیقی) مومنان وی نو الله اودهغه رسول زیات حقدار دے چه دوی ئې خوشحاله کړی

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ

آیا دوی نه پوهیږی | چه بیشکه | څوك چه | مخالفت اوکړی | د الله | اودرسول دهغه | پس بیشکه

ولے دوی ته معلومه نه ده چه څوك د الله او دهغه د رسول مخالفت کوی نو

لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدًا فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيْمُ ۝٦٣

دے دپاره ددهٔ | اور | د دوزخ | چه همیشه به وی | په هغے کښ | دا | رسوائی ده | ډیره لویه

دهغه دپاره ددوزخ اور مقرر دے چه همیشه به پکښ اوسیږی دا ډیره لویه رسوائی ده. منافقان ددے خبرے نه

يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ اَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا

یَرپږی | منافقان | چه نازل به شی | پهدوی (مسلمانانو) باندے | یو سورت | چه خبر به کړی دوی | په هغه څه

یَرپږی چه چرته په مسلمانانو باندے دا سے یوسورت نازل نه شی چه دے مسلمانانو ته ددوی دزړولوحال (رازونه)

فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ قُلِ اسْتَهْزِءُوْا ۚ اِنَّ اللّٰهَ مُخْرِجٌ مَّا

چه ددوی په زړولو کښ دی | اووایه | تهوے (مسخرے) کوئ | بیشکه | الله | ښکاره کوونکے دے | دهغه څه

ښکاره کړی ته ورته اووایه چه (ښه ده) تاسو تهوے (خندا کانے) کوئ یقیناً الله تعالیٰ هغه څه ښکاره کوونکے دے

تَحْذَرُوْنَ ۝٦٤ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا

چه تاسو یرپږئ (دهغه له) | اوکه چرے | ته پوس اوکړے ددوی له | نو دوی به خامخا وائی | چه بیشکه | مونږ (خو)

دغه نه چه تاسو یرپږئ اوکه ته ددوی نه پوس اوکړی (چه سبب داستهزاء څه دے) نوجواب کښ به درته وائی چه مونږ خو

نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ

ځان مشغولوؤ | او لوبے موکولے | اووایه | آیا په الله | اودهغه په آیتونو | اودهغه په پیغمبر پورے | تاسو

هسے ته ئے تهقاے کولے (گپ شپ لگولو) (نو) ته ورته اووایه چه آیا تاسو په الله تعالیٰ اوهغه په ایتونو اودهغه په رسول

تَسْتَهْزِءُوْنَ ۝٦٥ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ

تهوے (مسخرے) کوئ | بهانے مه جوړوئ | یقیناً | تاسو کفر کړے دے | پس د ایمان خپل نه

پورے تهوے کوئ؟ (اوس) بهانے (عذرونه) مه جوړوئ (مه کوئ). یقیناً تاسو د ظاهری ایمان ښکاره کولو نه پس کفر

اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةً بِاَنَّهُمْ

که چرے | مونږ معافی اوکړو | یو ډلے ته | ستاسو نه | نو عذاب به ورکړو | بلے ډلے ته | ځکه چه دوی

کړے دے که چرے مونږ ستاسو یوے ډلے ته معافی هم اوکړو (په سبب د توفیق ورکولو د توبے) نو بلے ډلے ته به سزا (عذاب)

كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ۝٦٦ ع اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۘ

وو | مجرمان | منافقان سړی | اومنافقانے ښځے | بعضے ددوی | دبعضو نه (دیوبل ملګری دی)

خامخا ورکوونکه چه دوی پاتې مجرمان دی. منافقان سړی اومنافقانے ښځے ټول یوشان دی (خپلو کښ سره یو دی)

يَأْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ

حکم کوی دوی | د ناروا (بدکار) | او منع کوی دوی | د نیکۍ نه | او بند ساتی دوی

د بدو کارونو حکم کوی او د نیکۍ نه خلق منع کوی او د الله په لار کښی د خرچ کولو نه

اَيْدِيَهُمْ ؕ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ

خپل لاسونه | دوی هیر کړے دے | الله | نو هغه (هم) هیر کړل دوی | بیشکه | منافقان | هم دوی دی

خپل لاسونه بند ساتی دوی الله هیر کړے دے نو الله هم دوی هیر کړل یقیناً منافقان

الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ

پوره نافرمان | وعده کړے ده | الله | د منافقانو سړو | او د منافقانو ښځو | او د کافرانو سره

پوره فاسقان دی الله تعالیٰ د منافقانو سړو او منافقانو ښځو او نورو کافرانو سره د دوزخ د اور وعده کړے ده چه په

نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ

د اور | د دوزخ | چه همیشه به وی | په دے کښی | هم دا عذاب | پوره دے دوی له | الله لعنت کړے دے په دوی باندے | الله

هغے کښی به همیشه وی او دغه عذاب دوی ډیاره کافی دے او الله تعالیٰ په دوی باندے لعنت کړے دے

وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا

او د ډیاره د دوی | عذاب | همیشه دے | (اے منافقانو تاسو ﷺ) پشان د هغه خلقو | چه تاسو نه مخکښی وو | وو هغوی

او دوی ډیاره د همیشه عذاب مقرر دے. (اے منافقانو!) تاسو د هغه خلقو پشان یئ چه تاسو نه مخکښی

اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ فَاسْتَمْتَعُوْا

ډیر زیات سخت | ستاسو نه | په قوت کښی | او زیات وو | په مالونو | او په اولاد کښی | پس فائده یے اغستلے وے هغوی

تیر شوی دی چه تاسو نه زیات زور آور او زیات مال او اولاد والا وو نو هغوی د خپلے دنیوی برخے نه فائده

بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ

د خپلے برخے نه | پس تاسو هم فائده یے واغستله | د خپلے برخے نه | لکه څنګه چه | فائده یے اغستلے وے | هغه خلقو

واغستله او تاسو د خپلے برخے نه فائده واغستله لکه څنګه چه تاسو نه مخکښی تیر شوو خلقو د خپلو

مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ؕ

چه مخکښی وو ستاسو نه | د خپلے برخے نه | او تاسو هم مشغوله شوئ (په بدکارونو کښی) | پشان د هغے | چه مشغوله شوی وو هغوی

برخونه فائده اغستلے وه او تاسو هم په هغه څه کښی مشغوله شوئ څنګه چه هغوی مشغوله شوی وو

اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

د هغه خلق | برباد (ضائع) شول | عملونه د دوی | په دنیا کښی | او په آخرت کښی | او هم د هغه خلق دی

هم د دا سے خلقو عملونه په دنیا او اخرت دواړو کښی ضائع لاړل او هم دا خلق

الْخٰسِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَلَمْ يَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ

پوره تاوانیان | آیا نه دے راغلے دوی ته | خبر | د هغه خلقو | چه مخکښی وو دوی نه | د قوم | د نوح

تاوانیان دی ایا دوی ته د پخوا نو خلقو حالات او واقعات نه دی رارسیدلی، یعنی د نوح د قوم

وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۙ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ

او د عاديانو | او ثمودیانو | او د قوم | د ابراهیم | او د مدین والو | او د الته کړے شوی کلووالو

او د عاديانو او ثمودیانو او د ابراهیم د قوم او مدین والو او د هغه کلووالو (قوم لوط) چه الته کړے شوی وو

اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ

راغلی وو دوی ته | پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | پس نه وو | الله | چه ظلم کړے وے دوی باندے

دے ټولو ته خپلو پیغمبرانو ښکاره دلیلونه راوړی وو نو الله تعالی هیڅکله داسے نه دے چه په دوی ئے ظلم کولو

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ

لیکن | دوی پخپله | په خپلو ځانونو خپلو | ظلم کولو | او مومنان سړی | او مومنانے ښځے

خو دوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم کولو مومنان سړی او مومنانے ښځے

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ

بعضے د دوی نه | ملګری دی | د بعضو نورو | حکم کوی | د نیکئ | او منع کوی

د یو بل ملګری (مددګار) دی د نیکئ حکم کوی او د بدو نه خلق منع کوی

عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ

د ناروا ؤ نه | او پابندی کوی | د مانځه | او ورکوی | زکات | او خبره منی

او د مانځه پابندی کوی او زکات ورکوی او د الله تعالی او د هغه د رسول خبره (حکم) منی

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ

د الله | او د رسول د هغهٔ | د هغه خلق | زړه چه رحم به پرے اوکړی | الله | بیشکه | الله | زور آور

هم په دے خلقو به ډیر زر الله تعالی خپل رحم اوکړی یقیناً الله تعالی غالب او

حَكِيْمٌ ۝ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ

حکمت والا دے | وعده کړے ده | الله | د مومنانو سړو | او د مومنانو ښځو سره | د (داسے) جنتونو

حکمت والا ذات دے. الله تعالی د مومنانو سړو او د مومنانو ښځو سره د داسے جنتونو وعده کړے ده

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً

چه بهیږی به | لاندے د هغے نه | نهرونه | چه همیشه به وی دوی | په هغے کښ | او د کورونو (مکانونو) | پاکیزو

چه لاندے به ئے نهرونه بهیږی همیشه به پکښ اوسیږی او د داسے صفا مکانونو (وعده ئے کړے ده) چه

فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

په جنتونو | د همیشوالی کښ | او رضامندی | د الله | ډیر لوے (نعمت) دے | هم دا ده

د همیشه په باغونو کښ به وی او د الله تعالی رضامندی د ټولو نه لوے څیز دے هم دا

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ ع يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ

کامیابی | لویه | اے پیغمبره! | جهاد اوکړه | د کافرانو سره | او د منافقانو سره

ډیره لویه کامیابی ده. اے پیغمبره! کافرانو او منافقانو سره جهاد اوکړه

وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝

او سخق کوه | په دوی باندے | او ځائے د دوی | دوزخ دے | او ډیر بد ځائے | دواپسې دے

او سختی پرے کوه او د دوی ځائے دوزخ دے او هغه ډیر خراب ځائے د ورتلو دے

يَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوْا ؗ وَلَقَدْ قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ

دوی قسمونه خوری | په الله باندے | چه دوی هیڅ څه نه دی وئیلی | او یقیناً | دوی وئیلے ده | خبره | د کفر

دوی په الله قسمونه خوری چه دوی ستا په باره کښ هیڅ نه دی وئیلی حالانکه دوی د کفر خبره کړے ده

وَكَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا ۚ

او کفر ئے کړے دے | پس د | اسلام خپل نه | او قصد ئے کړے دے | دهغه څه | چه حاصل ئے نه کړو

او د اسلام بنکاره کولو نه پس ئے کفر کړے دے او د پیغمبر د قتل ارادہ ئے کړے وه چه پکښ کامیاب نشو

وَمَا نَقَمُوْٓا اِلَّآ اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ

او دوی بدل نه اخلی | مګر | دا چه | مالدار کړل دوی | الله | او رسول دهغهٔ | په فضل خپل سره

او دوی صرف دد ے خبرے بدله واغستله چه الله تعالی او دهغه رسول په خپل مهربانۍ سره دوی مالداره کړل

فَاِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا

پس که چرے | توبه اوویستله دوی | نو وی به (دا) | غوره (ښه) | دوی د پاره | او که چرے | مخ واړولو دوی

نو که دوی توبه اوباسی نو دا به ورله ډیره ښه وی او که اُونهٔ منی (مخ واړوی)

يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَا

عذاب به ورکړی دوی ته | الله | عذاب | دردناک | په دنیا | او په آخرت کښ | او نه به وی

نو الله تعالی به ورله په دنیا او اخرت دواړو کښ دردناک عذاب ورکړی او په

لَهُمْ فِى الْاَرْضِ مِنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝ وَمِنْهُمْ مَّنْ

دوی د پاره | په مخ د زمکے | څوک دوست | او نه څوک مددګار | او بعضے دوی نه | هغه څوک دی

مخ د زمکے به دوی هیڅ څوک دوست او مددګار نه وی ـ او هم په دوی کښ بعضے دا سے (هغه) خلق هم دی

عٰهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ

چه لوظ ئے کړے دے | دالله سره | (چه) که چرے | را کړی هغه مونږته | د فضل خپل نه | نو مونږ به خامخا صدقے کوو

چه دالله تعالی سره ئے وعده کړے وه چه که الله تعالی مونږ ته په خپل فضل سره څه مال را کړو نو مونږ به

وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ

او مونږ به خامخا شو | د نیکانو نه | پس هرکله | چه ورکړل الله دوی ته | د فضل خپل نه

خامخا خیرات ونه کوو او خامخا به نیکان شو. خو کله چه ورته الله تعالی د خپل فضل نه (مال) ورکړو نو په هغے کښ

بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ فَاَعْقَبَهُمْ

نو دوی بخل اوکړو | په هغے کښ | او واوړیدل | او دوی | مخ اړوونکی دی | نو واچولو الله دوی لره

ئے بخل (شومتیا) شروع کړه او دوعدے نه واوړیدل او انکاریان شو نتیجه دا شوه چه الله تعالی دوی په زړونو کښ

نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَآ اَخْلَفُوا

منافقت | په زړونو دوی کښې | تر هغه ورځې پورې | چه دوی به ملاقات کړی دهغه سره | په هغه وجه چه | دوی خلاف کړے دے

د سزا په طور منافقت تر هغے ورځے پورے واچولو (پیدا کړو) په کومه ورځ به چه دوی دهغه سره

اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿٧٧﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا

دالله سره | دهغه لوظ | چه دوی کړے وو دهغه سره | او په دے وجه | چه دوی به | دروغ وئیل | آیا دوی نه پوهیږی

ملاقات کوی (دا) څکه چه دوی دالله تعالی سره بے لوظی او کړه او دروغ به ځمیشه وئیل. ولے (آیا) دوی په دے نه پوهیږی

اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ

چه بیشکه | الله | پوهیږی | ددوی په پټو خبرو | او ددوی په جرګو باندے | اوداچه بیشکه | الله

چه الله تعالی ته ددوی ټول پټ رازونه او پټے خبرے ښے معلوم دی او چه الله تعالی په ټولو غیبو خبرو

عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ

ښه پوهیږی | په ټولو غیبو باندے | (دوی) هغه کسان دی | چه عیب (الزام) لګوی | په خوشحالئ خیرات کونکو باندے

باندے ښه پوهه دے۔ دا منافقان هم هغه خلق دی چه په خپله خوشحالئ خیرات کوونکی

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ

د مومنانو نه | په صدقو کښې | او هغه کسان | چه نه مومی | مګر محنت مزدوری خپله

مومنان دخیرات په حقله ملامته کوی او کوم مومنان چه دخپل وس مطابق څه لږ غوندے خرچ کوی

فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ۙ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ۡ وَلَهُمْ عَذَابٌ

نو دوی ټوقے کوی | په هغوی پورے | مسخرے به لوکړی | الله | په دوی پورے | او دوی دپاره | عذاب

نو هغوی پورے ټوقے کوی الله تعالی به دوی ته ددے ټوقو بدله ورکړی او دوی دپاره درد ناک

اَلِيْمٌ ﴿٧٩﴾ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ۭ اِنْ تَسْتَغْفِرْ

دردناک دے | (که) ته بخښنه غواړے | دوی دپاره | او که ته بخښنه نه غواړے | دوی دپاره | که چرے | ته بخښنه وغواړے

عذاب تیار دے۔ اے پیغمبره! که ته دوی دپاره بخښنه غواړے او که نه غواړے که ته

لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

دوی دپاره | اویا | ځله (هم) | نو هیڅ کله به بخښنه ونه کړی | الله | دوی ته | داځکه چه | بیشکه دوی

ورله اویا ځله بخښنه اوغواړے نو بیا هم ورته الله تعالی بخښنه نه کوی داځکه چه دوی

كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٨٠﴾ ع

کفر کړے دے | په الله | او په رسول دهغه باندے | او الله | هدایت نه کوی | قوم | نافرمانه (فاسقانو) ته

دالله تعالی او دهغه درسول نه انکار کړے دے او الله تعالی فاسقانو (نافرمانو) ته سمه لار نه ښائی۔

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا

خوشحاله شول | پاتے کړے شوی (خلق) | په خپله ناسته باندے | ورسته | د پیغمبر | د الله کښې | اوبد اوګڼلو دوی

دجهاد نه پاتے کیدونکی خلق درسول الله نه په ورسته پاتے کیدو په خپله ناسته باندے دیر خوشحاله

اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ وَقَالُوْا

دا چه | جهاد اوکړی | په مالونو خپلو | اوپه نفسونو خپلو | په لاره | دالله کښې | اووائی دوی (نوروته)

شول اوورته داخبره خوښه نه وه چه په خپل مال اوسر دالله تعالی به لاره کښې جهاد اوکړی (بلکه) خلقو ته ئې وئیل

لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ۭ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ۭ لَوْ كَانُوْا

چه مه اوځئ | په گرمئ کښې | اووایه (چه) | اور | د دوزخ | ډیرزیات | اگرمړدے (ددے نه) | کاش چه | دوی

چه په گرمئ کښې سفر مه کوئ۔ ته ورته اووایه چه ددوزخ اور خو ددے نه زیات گرمړدے کاش اکه دوی (په دے خبره)

يَفْقَهُوْنَ ۝ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ جَزَاۗءًۢ

پوهیدے | پس اودِ خاندی دوی | لږه زمانه | اواودِ ژاړی | ډیره زمانه | دابدله (سزا) ورکولے شی (دوی ته)

پوهیدے. نو اوس دِ داخلق په دنیا کښې لږے ورځے اوخاندی اوبیا په اخرت کښې به ډیره موده ژاړی ځکه چه

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ فَاِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ اِلٰى طَاۗىِٕفَةٍ

دهغه څه | چه دوی به کول | پس که چرے | واپس راوستلے ته | الله | یوے ډلے ته

ددوی دکارونو هم دغه سزا ده اے پیغمبره! (ددے نه پس) که الله تعالی ته ددوی یوے ډلے ته واپس

مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا

د دوی نه | پس اجازت طلب کړودوی | د وتلو د پاره | نو اووایه | هیڅ کله مه اوځئ تاسو | زما سره | همیشه

راوستے (او په بله موقعه) دوی ستانه جهاد ته دتلو اجازت غواړی نو ورته اووایه چه اوس تاسو ماسره هیڅ کله نشئ وتلے

وَّلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا ۭ اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ

اوهیڅ کله جنگ مه کوئ تاسو | زما په ملګرتیا کښې | د دشمن سره | بیشکه تاسو | راضی شوئ | په ناسته باندے

او نه زما په ملګرتیا کښې دشمن سره جنګ کولے شئ تاسو په اول ځل (په کورونو کښې) ناسته

اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخٰلِفِيْنَ ۝ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ

اول | ځل | پس کیناستئ | د وروستو پاتے خلقو سره | اومه کوه ته مونځ (جنازه) | په هیڅ یو کس باندے

خوښه کړے وه نو اوس هم دپاتے شوو خلقو سره کیناستئ. او (اے پیغمبره!) په دے منافقانو کښې چه څوک

مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰي قَبْرِهٖ ۭ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا

د دوی نه | چه مړشی | همیشه | او مه اودریږه ته | د هغه په قبر | بیشکه دوی | کفر کړے دے

مړشی نو مه ئے جنازه کوه او مه ئے په قبر اودریږه. ځکه چه دوی دالله تعالی او د هغه د رسول نه انکار کړے دے

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ وَلَا تُعْجِبْكَ

په الله | او په رسول د هغه باندے | او مړه شول دوی | په حال سره کښې چه دوی | نافرمانه وو | او په تعجب کښې واچوی تاته

او د نافرمانئ په حالت کښې مړه شوی دی. د دوی مالونو او اولاد ته مهٔ حیرانیږه (ځکه چه)

اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ ۭ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّعَذِّبَهُمْ بِهَا

مالونه د دوی | او اولاد د دوی | بیشکه | غواړی | الله | چه عذاب ورکړی دوی ته | په دے سره

الله تعالی خو دا غواړی چه دوی ته هم په کثرت ددے څیزونو سره په دنیا کښې عذاب ورکړی

فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ وَاِذَآ

په دنیا کښې | او چه اوځي | دووی سالک (روحونه) | په حالت کښې چه دوی | کافران وی | او کله چه

او چه د کفر په حالت کښې ځي ساه کاڼي اوځي او کله چه

اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوْا مَعَ رَسُوْلِهِ

نازل کړے شي | یو سورت | چه ایمان راوړئ | په الله باندے | او جهاد اوکړئ | په ملکرتیا د رسول دهغهٔ کښې

یو سورت (په دے مضمون) نازل شی چه تاسو په الله تعالی ایمان راوړئ او دهغه د رسول په ملکرتیا کښې جهاد اوکړئ

اسْتَاْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ

نو اجازت غواړی تانه | مالداره (طاقت والا) خلق | د دوی نه | او وائی چه | پریږده مونږ | چه شو مونږ

نو په دے منافقانو کښې چه کوم مالداره (وس والا) خلق دی هغوی ستانه اجازت غواړی او درته وائی چه مونږ پریږده

مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ۝ رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ

د ناستو سره | راضی شوی دی دوی | په دے (خبره) | چه شی دوی | د پاڼے کیدونکو بنځو سره | او مهر وهلے شوے دے

چه ناستو خلقو سره پاڼے شو. دوی پخپله په دے راضی (خوشحاله) دی چه ورو ستو پاڼے شوو زنانو سره پاڼے شی

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝ لٰكِنِ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ

په زړونو د دوی | نو دوی | نه پوهیږی | لیکن | پیغمبر | او هغه کسان

او د دوی په زړونو باندے مهر لګولے شوے دے. نو دوی نه پوهیږی لیکن پیغمبر او چا چه دهغه سره

اٰمَنُوْا مَعَهٗ جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاُولٰٓئِكَ

(چا) چه ایمان راوړے دے | دهغه سره | جهاد کوی | په مالونو خپلو | او په نفسونو خپلو | او دغه خلق

ایمان راوړے دے هغوی په خپل مال او سر جهاد کوی هم دوی دپاره

لَهُمُ الْخَيْرٰتُ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝ اَعَدَّ اللّٰهُ

د دوی دپاره | ښیګړے (خوشحالی) دی | او دغه خلق | هم دوی کامیاب دی | تیار کړی دی | الله

ټولے ښیګړے دی او هم دا خلق کامیاب دی الله تعالی د دوی دپاره

لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

د دوی دپاره | دا سے جنتونه | چه بهیږی لاندے دهغے نه | نهرونه | همیشه به وی دوی | په دے کښې

دا سے جنتونه تیار کړی چه لاندے به ځی نهرونه بهیږی چه په هغے کښې به دوی همیشه اوسیږی

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ ع وَجَآءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ

دا | کامیابی ده | ډیره لویه | او راغلل | بهانه ګر خلق | د کلو والو نه (باندې چیان)

دا ډیره لویه کامیابی ده. او د کلی والو (باندې چیانو) نه هم بهانه ګر خلق راغلل چه دپاڼے کیدو

لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

دے دپاره چه اجازت ورکړے شی | دوی ته | او کیناستل | هغه کسان | چه دروغ ځان ویلی وو | الله | او رسول دهغهٔ ته

اجازت ورته ورکړے شی ـ او چا چه الله او رسول ته دروغ وئیلی وو هغه ټول کیناستل

سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ لَيْسَ

دیر زر به اورسی | هغه کسانو ته | چه کفر ے کړے دے | د دوی نه | عذاب | دردناک | نشته دے

په دوی کښ چه چا کفر کړے دے هغوی ته به دیر زر دردناک عذاب ورسیږی

عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ

په کمزورو باندے | او نه په مریضانو باندے | او نه په هغه کسانو باندے | چه نه مومی

په ضعیفانو (کمزورو) او په مریضانو (ناروغو) او په هغه چا چه په جهاد کښ د خرچ کولو وس ځ نه وی

مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا

هغه څه | چه خرچ ځ کړی | څه گناه | کله چه | دوی خیر خواهی لتوی | د الله | او د رسول دهغهٔ | نشته دے

هیڅ گناه نشته (پدے شرط) چه دوی د الله او د هغه د رسول سره مخلص وی په دا سے نیکانو خلقو باندے

عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَلَا

په نیکانو باندے | هیڅ ملامتیا | او الله | دیر بخښونکے | دیر مهربان دے | او نه

هیڅ الزام (ملامتیا) نشته او الله تعالی بخښونکے مهربان دے۔ او (دغه شان) په هغه

عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ اَجِدُ

په هغه کسانو باندے | کله چه | د راغلل تاته | چه ته سورلی ور کړے دوی ته | نو تا اووئیل | چه زهٔ نه مومه

خلقو هم څه گناه (الزام) نشته چه تاله په دے غرض راغلل چه ته ورله د جهاد سورلی ور کړے او تاورته اووئیل چه ما سره

مَآ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ۖ تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ

هغه څیز | چه سواره کړم تاسو | په هغے | نو وپس شول دوی | او ستر گو د دوی | بهیولے | او ښکے

(خو) سورلی نشتے چه تاسو پرے سواره کړم نو هغوی په دا سے حال کښ وپس شول چه د ستر گو نه ځ

حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ۝ اِنَّمَا السَّبِيْلُ عَلَى الَّذِيْنَ

د وجد غم نه | په دے خبره چه نه لهوی | هغه څه | چه خرچ ځ کړی | بیشکه | ملامتیا | په هغه څاشته دے

د غم او ښکے څڅیدلے په دے وجه چه دوی سره د خرچ کولو د پاره څهٔ نه وو. یقیناً الزام (گناه) خو صرف په هغه خلقو دے

يَسْتَاْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ ۚ رَضُوْا بِاَنْ يَّكُوْنُوْا

چه اجازت غواړی ستانه | په دے سے حال کښ چه دوی | مالداره وی | دوی راضی شول | په دے | چه وی دوی

چه سره د مالداره کیدو تانه اجازت غواړی. (او) په دے خبره خوشحاله (راضی) دی چه د دوروستو پاتے کیدونکو ښځو

مَعَ الْخَوَالِفِ ۙ وَطَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

د پاتے کیدونکو ښځو سره | او مهر و هلے دے | الله | په زړونو د دوی | پس دوی | نه پوهیږی

سره پاتے شوے دی. او الله تعالی ورله په زړونو مهر لگولے دے نو ځکه په حقیقت نه پوهیږی.

يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ ؕ قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا

بهانے به کوی دوی | تاسو ته | کله چه | واپس شئ تاسو | دوی ته | اووایه | مه کوئ بهانے

اے مسلمانانو اکله چه تاسو (دتبوک نه) دوی ته واپس راشئ نو دوی به تاسو ته (رنگ رنگ) عذرونه (بهانے) پیش کوی

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ ؕ وَسَيَرَى

هیڅ کله مونږ یقین نه کوو | په تاسو | یقیناً | خبر کړی یو مونږ | الله | ستاسو د حالاتو نه | اوپیرزر به اووینی

(اے پیغمبره!) ته ورته اووایه چه عذرونه مه پیش کوئ مونږ هیڅ کله ستاسو په خبره یقین نه کوو الله تعالی ستاسو

اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ

الله | عمل ستاسو | اورسول دهغهٔ (هم) | بیابه | واپس کړے شئ تاسو | (هغه ذات ته چه) عالم دے | په پټ

دحالاتونه مونږ خبر کړی یو، اوبیابه هم الله تعالی او دهغه رسول ستاسو عملونه اوویني (چه دمؤمنانو مرسته کوئ اوکهٔ نا)

وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ

او په ښکاره | نوخبر به کړی تاسو | په هغه څه | چه تاسو به کول | زړه چه قسمونه به خوری دوی | په الله

اوآخر به تاسو هغه ذات ته واپس کیږئ چه پټ اوښکاره هر څیز ورته معلوم دے نو تاسو چه څه کول دهغے نه به مو خبر کړی

لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ؕ فَاَعْرِضُوْا

تاسو ته | کله چه | واپس شئ تاسو | دوی ته | چه تاسو مخ واړوئ | ددوی نه | پس مخ واړوئ

کله چه تاسو دوی ته واپس لاړ شئ نو دوی به درته په الله تعالی قسمونه خوری (دے دپاره) چه تاسو ترینه مخ واړوئ

عَنْهُمْ ؕ اِنَّهُمْ رِجْسٌ ۙ وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا

ددوی نه | بیشکه دوی | پلیت دی | او ځائے ددوی | دوزخ دے | بدله به ورکولے شی دوی ته | دهغه کارونو

نوتاسو ترینه هم مخ واړوئ یقین اوسائ چه دوی پلیت (ناپاک) دی اوځای ئے دوزخ دے داددوی دعملونو

كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ ۚ فَاِنْ

چه دوی به کول | دوی قسمونه خوری | تاسو ته | چه تاسو راضی شئ | ددوی نه | پس که چرے

بدله (سزا) ده، دوی تاسو ته ځکه قسمونه خوری چه تاسو ترینه خوشحاله (راضی) شئ حالانکه که تاسو

تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ۝

تاسو راضی شئ | ددوی نه | نوبیشکه | الله | نه راضی کیږی | د قوم | نافرمانه نه

ترینه خوشحاله (راضی) هم شئ نو الله تعالی د داسے نافرمانه (شرارتی) خلقو نه نه راضی کیږی،

اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا وَّاَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا

کلی وال | ډیر سخت دی | په کفر | او منافقت کښ | اوزیات لائق دی | ددے خبرے چه نه پوهیږی

کلی وال (بانډچیان) منافقان په کفر او منافقت کښ ډیر سخت دی اودنورو خلقونه زیات ددے لائق دی چه دوی ددے دین

حُدُوْدَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

په مقصد دهغے احکامو | چه نازل کړی دی | الله | په خپل رسول | او الله | پوهه | حکمت والا ذات دے

دهغے حکمونو نه ناخبره وی کوم چه الله تعالی په خپل رسول نازل کړی دی او الله تعالی پوهه او حکمت والا ذات دے

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّيَتَرَبَّصُ

او بعضے کلی وال (بانډ چیان) | هغه دی | چه ګټری | هغه څه | چه خرچ کوی ئے | تاوان | او انتظار کوی
هم په دے کلی والو (بانډ چیانو) کښ دا سے خلق هم شته چه د الله تعالی په لار کښ خرچ کول (خپل) تاوان ګټری

بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ

ستاسو په حق کښ | د آفتونو | هم په دوی باندے وی | آفت | ناکاره | او الله | اوریدونکے
او په دے انتظار دی چه په تاسو مصیبتونه راشی. حالانکه خراب وخت هم په دوی راتلونکے دے او الله تعالی هر څه اوری

عَلِيْمٌ ﴿٩٨﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

پوهه ذات دے | او بعضے کلی وال (بانډ چیان) | هغه دی | چه ایمان لری | په الله | او په ورځ | روستنۍ
په هر څه پوهه دے. او هم په دے کلی والو (بانډ چیانو) کښ دا سے خلق هم شته چه په الله تعالی او په آخرت باندے

وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ؕ

او ګټری | هغه څه | چه خرچ کوی ئے | سبب د نزدیکت | الله ته | او ذریعه د دعاګانو | د پیغمبر
ایمان لری او د الله تعالی په لار کښ چه څه خرچ کوی نو هغه د الله تعالی ته د نزدیکت او د پیغمبر د دعاګانو اخستلو ذریعه ګټری

اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ؕ سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ؕ

خبردار (واوری) | بیشکه دا | سبب د نزدیکت دے | د دوی د پاره | د پیغمبر زړه داخل کړی دوی لره | الله | په خپل رحمت کښ
خبردار اداد دوی د پاره یقیناً د نزدیکت ذریعه ده د پیغمبر زړ به الله تعالی دوی په خپل رحمت کښ داخل کړی

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٩﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ

بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے | او مخکښ کیدونکی | چه روميږی دی | د مهاجرینو
یقیناً الله تعالی بخښونکے مهربان دے. په مهاجرینو او انصارو کښ چه څوک روميږی ایمان او هجرت او نصرت د نبی ته وړاندے

وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

او د انصارو نه | او هغه کسان | چه روان دی په دوی پسے | په اخلاص سره | راضی شو | الله | د دوی نه
شوے دی او څوک چه په دوی پسے روان شوی دی سره د ښه ویناته په بارہ د هغوی کښ. الله تعالی د هغه ټولو نه راضی شوید ے

وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا

او دوی راضی شول | د هغه نه | او تیار کړی ئے دی | د دوی د پاره | دا سے جنتونه | چه بهیږی | د هغے لاندے
او هغوی د الله نه راضی دی او الله تعالی ورله دا سے جنتونه تیار کړی دی چه لاندے به ئے

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾ وَمِمَّنْ

نهرونه | چه همیشه به وی دوی | په هغے کښ | همیشه | دا ده | کامیابی | ډیره لویه | او بعضے د هغه چا نه
نهرونه بهیږی (چه) دوی به پکښ همیشه همیشه اوسیږی دا ډیره لویه کامیابی ده.

حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛ ؕ وَمِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ ۛ

چه چاپیره دی ستاسو نه | کلی وال (بانډ چیان) | منافقان دی | او بعضے د مدینے والو نه (هم)
او تاسو نه ګیر چاپیره په کلی والو (بانډ چیانو) کښ هم ډیر خلق منافقان دی او د مدینې په اوسیدونکو کښ هم (شته)

مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ ۫ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ

چه کلک دی | په منافقت باندے | نه پیژنے ته دوی لره | مونږ | پیژنو دوی | زر ځله چه مونږ به عذاب ور کړو دوی ته
دا خلق په منافقت کښ دومره کلک (ماهر) دی چه تاسو نۀ نه پیژنۀ (خو) مونږ نۀ پیژنو دیر زر به مونږ دوی ته

مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۚ۝ وَاٰخَرُوْنَ

دوه ځلے | بیا به | واپس کړے شی دوی | عذاب | دیر لوئے ته | اونور خلق (صحابه) دی
دوه ځل سزا ورکړو او بیا به دیر لوئے عذاب ته واپس کړے شی. او څه خلق هغه دی چه

اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ؕ

چه اقرار نۀ کړے دے | د خپلو ګناهونو | چه ګډ وډ عملونه نۀ کړی دی | څه نیک | او څه | بد
د خپلو ګناهونو اعتراف نۀ کړے دے او ګډ وډ عملونه نۀ کړی دی څه نیک او څه بد

عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ خُذْ

نزدے ده | چه الله | توبه قبوله کړی | د دوی | بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے | اخله
امید دے چه الله تعالی د دوی توبه قبوله کړی یقیناً الله تعالی دیر بخښونکے او مهربان دے

مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ

د دوی د مالونو نه | صدقه (زکات) | چه پاک کړے ته دوی لره | او صفا کړے دوی | په دے سره | او دعا کوه
(اے پیغمبره) دے خلقو د مالونو نه صدقه وصول کړه چه دے په ذریعه نۀ پاک او صفا کړے او دعا ورته کوه

عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝

دوی ته | بیشکه | ستا دعا | د آرام سبب دے | دوی دپاره | او الله | ښه اوریدونکے | پوهه دے
(څکه چه) یقیناً ستا دعا د دوی د تسلۍ سبب دے او الله تعالی هر څه آوری په هر څه پوهه دے

اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَاْخُذُ

آیا دوی نه پوهیږی | چه بیشکه | الله | هغه | قبلوی | توبه | د خپلو بندګانو | او اخلی
ولے دوی ته دا پته نشته چه الله تعالی د خپلو بندګانو توبه هم قبلوی او صدقے هم قبلوی

الصَّدَقٰتِ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ۝ وَقُلِ اعْمَلُوْا

صدقے | او دا چه بیشکه | الله | هغه | دیر توبه قبلونکے | مهربان دے | او ووایه | عمل کوئ
او دا چه الله تعالی توبه قبلونکے مهربان ذات دے. او دوی ته اووایه چه عمل کوئ

فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ وَسَتُرَدُّوْنَ

پس خامخا وینی | الله | عمل ستاسو | او رسول دهغۀ | او مومنان هم | او دیر زر به ستاسو واپس کړے شئ
الله تعالی او د هغه رسول او مومنان به ستاسو طرز عمل ته ګوری او (بیا به) تاسو هغه ذات ته واپس کیږئ

اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

هغه ذات ته چه پوهیږی | په پټو | او په ښکارو | نو هغه به خبر کړی تاسو | په هغه کارونو | چه تاسو به
چه په پټو او ښکارو خبر و پوهیږی نو هغه به مو د هغه څه نه خبر کړی چه تاسو به کول

تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٤﴾ وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ

کول | اوځه نور کسان دی | چه وروسته کړے شوی دی | فیصلے | د الله ته | یا خوبه | عذاب ورکړی الله دوی ته

اوځه نور خلق دی چه دهغوی فیصله د الله د حکم راتلو پورے پاتے شوے ده یا خوبه ورله الله سزا ورکړی

وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٠٦﴾ وَالَّذِيْنَ

او یا به | معاف وکړی | دوی ته | او الله | پوهه | حکمت والا دے | او هغه خلق

او یا به ئے معاف کړی او الله تعالی پوهه حکمت والا ذات دے. اوځه نور خلق دی منافقان چه

اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ

چه جوړ کړے ئے دے | جومات | د پاره د ضرر ورکولو | او په عقیده د کفر باندے | او د پاره د اختلاف پیدا کولو | په مینځ

یو جومات ئے جوړ کړے دے چه (مسلمانانو ته) نقصان ورسوی او د کفر خبرے (پکښ) وکړی

الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

د مومنانو کښ | او د پاره د مورچه جوړولو | د هغه چا د پاره | چه جنګ ئے کړے دے | د الله | او رسول د هغهٔ سره

او د مسلمانانو ترمینځه جدائی (اختلاف) پیدا کړی او چه د هغه چا د پاره مورچه جوړه کړی چه د پخوا نه د الله او د هغه د رسول

مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ

مخکښ د دینه | او دوی به خامخا قسمونه خوری | چه مونږ خو ارادهٔ نه کړے | مګر | د ښیګړے | او الله

سره جنګ کوی او دوی به خامخا قسمونه خوری چه مونږ صرف نیکی کول ارادهٔ کړی دی او الله تعالی د دے خبرے ګواهی ورکوی

يَشْهَدُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٠٧﴾ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ لَمَسْجِدٌ

ګواهی ورکوی | چه بیشکه دوی | خامخا دروغژن دی | ته مه اودریږه | په دے کښ | هیڅ کله | خامخا هغه جومات

چه دوی دروغژن دی. اے پیغمبره! دے جومات حکم دادے چه ته په دغه جومات کښ هیڅ کله (هم) د مانځه د پاره مه اودریږه

اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ

چه بنیاد ئے کیخودلے شوے دے | په تقوی باندے | د اولے | ورځے نه | ډیر حقدار دے | چه ته اودریږے

البته هغه جومات (مسجد قباء) چه د ورومبۍ ورځے نه د هغے بنیاد په تقوی کیخودلے شوے دے هغه د دے خبرے زیات حقدار دے

فِيْهِ ؕ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

په هغے کښ | په هغے کښ | څه داسے سړی دی | چه خوښوی | چه ښه پاک شی هغوی | او الله | خوښوی

چه ته په هغے کښ اودریږے په هغے کښ داسے خلق دی چه ظاهری او باطنی پاکه استوګنه خوښوی او الله تعالی پاکان خلق خوښوی

الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿١٠٨﴾ اَفَمَنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللّٰهِ

ځان پاکوونکی خلق | آیا پس هغه څوک | چه کیخودلے ئے دے | بنیاد د آبادئ خپلے | په ویره | د الله نه

آیا هغه کس بهتر دے چا چه د خپل عمارت بنیاد د الله تعالی نه په ویره کولو

وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ اَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا

او په رضامندئ (د هغه) | ډیر ښه دے | او که هغه څوک | چه کیخودلے ئے دے بنیاد | د آبادئ خپلے | په غاړه

او د هغه د رضامندئ حاصلولو په نیت | کیخودلے دے او که هغه کس چه خپل عمارت ئے د یو زورند

جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

دیو ډډ کمر | غور ځیدونکی | پس وغور ځیږی | سره ددهٔ نه | په اور | د دوزخ کښ | او الله | هدایت نه کوی

غور ځیدونکی کمر په غاړه ایخودلی وی اوهغه عمارت ددے سړی سره د دوزخ په اور کښ ورا وغور ځیږی او الله تعالی

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِيْ بَنَوْا رِيْبَةً

قوم | ظالم ته | همیشه به وی | د دوی آبادی | هغه | چه جوړه کړے ده دوی | سبب د شک

دا سے ظالمانو ته هدایت نه کوی. کوم عمارت چه دے خلقو جوړ کړے دے هغه به د دوی په زړونو کښ تر هغه وخته پورے

فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلَّآ اَنْ تَقَطَّعَ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝ ع

د دوی په زړونو کښ | مګر | دا | چه ټکړے ټکړے شی | د دوی زړونه | او الله | پوهه | حکمت والا دے

زیادت شک پیدا کوی تر څو چه د دوی زړونه ټوټے ټوټے نه شی او مړ ک ورته رانشی او الله تعالی پوره علم والا پوره حکمت والا دے

اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ

بیشکه | الله | اخستی دی | د مومنانو نه | نفسونه دهغوی | او مالونه دهغوی | په بدله دے کښ چه بیشکه

حقیقت دا دے چه الله تعالی د مومنانو نه د هغوی ځانونه او مال دولت د جنت په بدله کښ اخستی دی

لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَيُقْتَلُوْنَ ۟

دوی له | جنت دے | دوی به جنګ کوی | په لاره | د الله کښ | پس وژنی به دوی (کافران) | او دوی به هم وژلی کیږی

دوی به د الله تعالی په لاره کښ جنګ (جهاد) کوی چه د هغے په نتیجه کښ به (دشمنان) وژنی او په خپله به هم وژلی کیږی

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ وَالْقُرْاٰنِ ؕ وَمَنْ

وعده ده | د هغه په ذمه | رشتینے | په تورات | او په انجیل | او په قرآن کښ | او څوک

دا یوه رشتنے وعده ده د الله په ذمه چه د هغے ذکر ئے په تورات انجیل او قرآن کښ کړے دے

اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ

زیات وفادار دے | په خپله وعده باندے | د الله نه | پس خوشحاله شئ | په خپلے سودا | هغے باندے

او د الله تعالی نه زیات د خپلے وعدے پوره کولے څوک کیدے شی؟ نو تاسو په خپله هغه سودا باندے

بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝ اَلتَّآئِبُوْنَ الْعٰبِدُوْنَ

چه معامله کړے ده تاسو په هغے (د الله سره) | او هم دا ده | کامیابی | لویه | (د اخلق) توبه کوونکی دی | بندګی کوونکی دی

چه الله تعالی سره مو کړے ده خوشحاله شئ او هم دا ډیره لویه کامیابی ده. د اخلق توبه ویستونکی

الْحٰمِدُوْنَ السَّآئِحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ

حمد ویونکی دی | روژه نیونکی دی | رکوع کوونکی دی | سجده کوونکی دی | حکم کوونکی دی

د الله عبادت کوونکی، حمد او ثناء ویونکی، روژه نیوونکی، رکوع کوونکی، سجده کوونکی، د نیکئ حکم کوونکی

بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ؕ

د نیکئ | او منع کوونکی دی | د ناروا نه | او ساتونکی دی | د حدودو (حکمونو) | د الله

او د ناروا نه منع کوونکی، او د الله تعالی د مقرر شوو حکمونو حفاظت کوونکی دی

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

او زیرے ورکړه | مومنانو ته | نه دی روا | پیغمبر له | او هغه کسانو له | چه ایمان یې راوړے دے

او (اے پیغمبره!) دا سے مومنانو ته زیرے ورکړه. داخبره نه پیغمبر سره بنائی اونهٔ مومنانو سره

اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا

چه دوی بخښنه اوغواړی | د مشرکانو دپاره | اګرچه وی دوی | خاوندان درشته دارئ | پس د دے نه

چه مشرکانو دپاره بخښنه اوغواړی اګرچه نزدے خپلوان ئے وے نه وی چه کله ورته دا خبره ښه ښکاره شوه

تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١١٣﴾ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ

چه ښکاره شوه | دوی ته | چه بیشکه دوی | دوزخیان دی | او نه وه | بخښنه غوښتل

چه دا خلق دوزخیان دی ـ او د ابراهیمؑ د خپل پلار دپاره بخښنه غوښتل

اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا

د ابراهیمؑ | د خپل پلار دپاره | مګر | دوعدے دیوے وعدے نه | چه کړے ئے وه | دهغه سره | پس کله چه

خو صرف د یوے وعدے په وجه وو چه د هغه سره ئے کړے وه خو چه کله ورته

تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ

ښکاره شوه | هغهٔ ته | چه بیشکه دے (خو) | دشمن دے | د الله | نو بیزاره شو | دهغه نه | بیشکه | ابراهیمؑ

دا خبره ښکاره شوه چه هغه خو د الله تعالیٰ دشمن دے نو بیزاره ترینه شو. یقیناً ابراهیمؑ

لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿١١٤﴾ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًۢا بَعْدَ اِذْ

خامخا ډیر نرم زړے | صبر ناک وو | او نه دے | الله | چه ګمراه کړی | یو قوم | وروسته دے نه

ډیر نرم مزاج (نرم زړے) او ډیر صبر ناک وو. او الله تعالیٰ هیڅ یو قوم د هدایت ورکولو نه پس ترهغه وخته پورے

هَدٰىهُمْ حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

چه هدایت نۀ ورته کړے وی | تر دے | چه ښکاره کړی | دوی ته | هغه څه | چه دوی ترے نه ځان وساتی | بیشکه | الله

نه ګمراه کوی تر څو پورے چه ورته دهغه خبرو وضاحت اونه کړی د کومو نه چه دوی له ځان بچ کول پکار دی یقیناً الله تعالیٰ

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۚ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

په هر | څیز باندے | پوهه دے | بیشکه | الله | خاص دهغه په اختیار کښ ده | بادشاهی | د آسمانونو

په هر څه باندے پوهه دے. د آسمانونو او د زمکے بادشاهی یوا څے د الله تعالیٰ ده

وَالْاَرْضِ ؕ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

او د زمکے | هغه ژوندی کول کوی | او هغه مړه کول کوی | اونشته ستاسو دپاره | سوا | د الله نه

ژوند هم هغه ورکوی او مرګ هم هغه راولی. او تاسو دپاره د الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ څوک

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١١٦﴾ لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ

څوک دوست | او نه څوک مددګار | یقیناً | مهربانی کړے ده | الله | په پیغمبر باندے

دوست او مددګار نشته. یقیناً الله تعالیٰ په خپل پیغمبر او په هغه مهاجرینو او انصارو مهربانی او کړه

وَالْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ

او په مهاجرينو | اوپه انصارو باندے | هغه کسان | چه تابعداری ئے کړے دهغه | په وخت | دتنګسیا کښ

چه په داسے سخت وخت کښ ئے د پیغمبر تابعداری وکړه اګر چه

مِنْۢ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ

پس دهغے نه | چه نزدے وه | چه کاږه شی | زړونه | دیوے ډلے | دهغوی نه | بیا | مهربانی وکړه هغه

دبعضو زړونه کږیدو والا وو خو بیا الله تعالی په دوی مهربانی اوکړه (زړونه ئے ورله کلک کړل)

عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّهٗ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۙ﴿۱۱۷﴾ وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ

په دوی باندے | بیشکه هغه | په دوی باندے | شفقت کوونکے | مهربان دے | او په دریو | هغه کسانو باندے

یقیناً الله تعالی په دوی باندے ډیر شفیق او رحم کوونکے دے. او الله تعالی په هغه درے کسانو باندے

خُلِّفُوْا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ

چه وروستو کړے شوی وه فیصله دهغوی | تړدے | چه کله | تنګه شوه | په هغوی باندے | زمکه

هم مهربانی اوکړه چه فیصله ئے وروستو شوے وه. تړدے چه کله پرے زمکه سره دفراخۍ تنګه شوه او خپل ژوند

بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ

سره دفراخۍ نه | او تنګ شو | په هغوی باندے | نفسونه خپل | اویقین اوکړو هغوی | چه نشته ځای دپناه

ورباندے هم بوج شو او دا خیال ئے اوکړو چه دالله تعالی د قهر نه دهغه په پناه کښ دراتلو نه سوا

مِنَ اللّٰهِ اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

د الله نه | مګر | دهغه سره | بیا | مهربانی اوکړه الله | په هغوی باندے | چه توبه اوباسی هغوی | بیشکه | الله

بل هیڅ ځائے کښ پناه نشته ـ بیا پرے الله تعالی مهربانی اوکړه چه دوی الله تعالی ته توبه اوباسی

هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ع

هم هغه دے | ډیر توبه قبلونکے | ډیر مهربان | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | ویریږئ | دالله نه

یقین اوساتئ چه الله تعالی ډیر معافی کوونکے لوئے مهربان دے. اے مؤمنانو! دالله تعالی نه اویریږئ

وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ

او شئ | د رشتنو خلقو سره | نه ده مناسب | مدینے والو له | او هغه چاله

او د رشتینی خلقو ملګری شئ. د مدینے خلقو او کیر چاپیره کلی والو (باندې چیانو) دپاره

حَوْلَهُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ

چه چاپیره دی ددوی | د کلی والو (باندې چیانو) نه | چه وروستو پاتے شی | د رسول | دالله نه

دا جائز نه دی چه د الله تعالی د پیغمبر نه وروستو پاتے شی او نه ورله دا جائز دی چه

وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ

اونه دے غوره کوی دوی | خپل ځانونه | دهغه د ځان | دا ځکه | چه بیشکه دوی چه دی | نه رسی دوی ته

خپل ځان ورته د پیغمبر نه خوښ ښکاره شی دا حکم ځکه دے چه دوی ته چه کله دالله تعالی په لاره کښ

ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَطَئُوْنَ

تنده | اونهٔ سترے والے | او نه اولږه | په لاره | د الله کښ | او نه پږدی دوی قدم

تنده اولکی یا ستړی والے (ستومانی) ورته اورسیږی اولږه پرے راشی یا په داسے لار لاړ شی

مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا

په یوه لاره | چه غصه کوی | کافران | او نه حاصلوی دوی | د دشمن نه | حاصول (دځه شے) | مګر

چه کافران پرے غصه (خفه) کیږی یا د دشمن په مقابله کښ څه کامیابی حاصل کړی نو

كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ

لیکلی کیږی | ددوی دپاره | په بدل دهغے کښ | عمل | نیک | بیشکه | الله | نه ضائع کوی | اجر

ددوی په عملنامه کښ په دے هر یو کار باندے یوه نیکی لیکلے کیږی. یقیناً الله تعالیٰ د نیکانو

الْمُحْسِنِيْنَ ۝ وَلَا يُنْفِقُوْنَ نَفَقَةً صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً

د نیکانو | او نه خرچ کوی دوی | څه خرچ | لږ | او نه ډیر

اجر نه ضائع کوی. دا رنګ دوی چه (د الله په لار کښ) څه خرچ کوی لږ وی که ډیر،

وَّلَا يَقْطَعُوْنَ وَادِيًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ

او نه دوی سفر کوی | په یو میدان کښ | مګر | لیکلی کیږی هغه | ددوی دپاره | دے دپاره چه بدله ورکړی دوی ته

او د کوم میدان نه چه دوی تیریږی نو دا ټول ددوی په عملنامه کښ لیکلی کیږی دے دپاره چه الله تعالیٰ دوی ته

اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُوْنَ

الله | ډیره ښائسته | دهغه عملونو چه دوی به کول | او نه دی پکار | مومنانو لره

هغه ښائسته بدله ورکړی کومه چه ددوی دنیک عملونو دپاره مقرر ده۔ او مسلمانانو دپاره دا خبره مناسبه نه ده

لِيَنْفِرُوْا كَاۗفَّةً ۭ فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَاۗىِٕفَةٌ

چه اوځی | ټول | پس ولے نه اوځی | د هرے | ډلے | ددوی نه | څه خلق

چه ټول دے (د جهاد یا د علم دپاره) اوځی بلکه پکار دی چه د غټے ډلے نه دے څه کسان

لِّيَتَفَقَّهُوْا فِي الدِّيْنِ وَلِيُنْذِرُوْا قَوْمَهُمْ اِذَا رَجَعُوْٓا اِلَيْهِمْ

چه پوهه حاصله کړی | په دین کښ | او چه اویروی دوی | خپل قوم | کله چه | واپس راشی | هغوی ته

اوځی چه په دین کښ پوهه حاصله کړی او چه کله خپل قوم ته واپس شی نو د الله تعالیٰ د نافرمانۍ

لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُوْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ

دے دپاره چه هغوی | ځان بچ کړی د کناهونو نه | اے هغه کسانو چه ایمان مو راوړے دے | وجنګیږئ | دهغه چا سره

نه ځان اویروی دے دپاره چه هغوی د بدکارونو نه ځان بچ کړی. اے مومنانو! دهغه کافرانو سره او جنګیږئ کوم چه

يَلُوْنَكُمْ مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ۭ وَاعْلَمُوْٓا

چه نزدے دی تاسو ته | د کافرانو نه | او بیا دے مومی هغوی | په تاسو کښ | سختی | او پوهه شئ

تاسو ته نزدے دی او هغوی دے په تاسو کښ د خپلو ځانونو په حقله سختی بیا مومی او دا یقین او سائ چه الله تعالیٰ

اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ۝ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ

چه بیشکه | الله تعالی | د متقیانو سره دے | او کله چه | نازل کړے شی | یو سورت | نو بعضے ددوی نه

د متقیانو سره دے. او کله چه یو سورت نازل (کړے) شی نو په دے منافقانو کښ

مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

هغه دی | چه وائی | په تاسو کښ چالره | زیات کړو | دے سورت | ایمان | پس هغه کسان

بعضے خلق وائی چه دے سورت په تاسو کښ د چا ایمان زیات کړو. اوس چا چه واقعی

اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ۝ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

چه ایمان ځواورے دے | پس زیات ئے کړو هغوی لره | ایمان | او هغوی | خوشحالیږی | او هغه کسان

ایمان راوړے دے نو دے سورت سره د هغوی ایمان زیات شو او هغوی په دے خوشحالیږی. او د چا

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا

چه د هغوی په زړونو کښ | مرض دے | نو زیاته ئے کړه هغوی لره | پلیتی | د هغوی د پلیتۍ سره | او مړه کیږی دوی

په زړونو کښ چه مرض د نفاق دے نو دے سورت سره د هغوی د منافقت په گندګۍ کښ نور زیاتوالے راغے

وَهُمْ كٰفِرُوْنَ۝ اَوَلَا يَرَوْنَ اَنَّهُمْ يُفْتَنُوْنَ فِيْ كُلِّ عَامٍ

په داسے حال کښ چه کافران وی | آیا دوی نه گوری | چه بیشکه په دوی | ازمیښت کولے شی | په هر کال کښ

او مړک به ورله هم د کفر په حالت کښ راځی. آیا دوی دا نه گوری (سوچ نه کوی) چه په کال کښ

مَّرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ لَا يَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُوْنَ۝ وَاِذَا

یو ځل | یا | دوه ځله | بیا (هم) | دوی توبه نه اوباسی | او نه دوی | نصیحت اخلی | او کله چه

یو یا دوه ځله په دوی باندے ازمیښت کولے شی بیا هم دوی نه توبه اوباسی او نه عبرت اخلی او کله چه یو (نوے)

مَآ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ ؕ هَلْ يَرٰىكُمْ

نازل کړے شی | یو سورت | نو گوری | بعضے د دوی نه | بعضو نورو ته | آیا وینی تاسو

سورت نازل شی نو دوی یو بل ته گوری (او په اشاره سره یو بل ته وائی) چه آیا څوک (مسلمان) خو درته گوری نه؟

مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ انْصَرَفُوْا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ

یو کس | بیا | روان شی دوی | وارول | الله | د دوی زړونه | ځکه چه دوی | یو داسے قوم دے

بیا دوی غلی غوندے ووځی. الله تعالی د دوی زړونه اړولی دی ځکه چه دوی داسے خلق دی چه د پوهے نه کار نه اخلی.

لَّا يَفْقَهُوْنَ۝ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ

چه نه پوهیږی | یقیناً | راغلے دے تاسو ته | یو پیغمبر | ستاسو (د جنس) نه | (چه) گران دے

(اے خلقو!) تاسو ته یو داسے پیغمبر راغلے دے چه هم ستاسو نه دے او ستاسو هر یو تکلیف پرے

عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ

په هغه باندے | هغه څه | چه تاسو له تکلیف درکوی | دیر حرص کوونکے دے | ستاسو (د هدایت) | (خاص) په مومنانو باندے

دیر گران (بد) لگی او ستاسو د بهبیگړے دیر خواهشمند دے او خاصکر په مومنانو باندے دیر شفقت کونکے

رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللّٰهُ ۖ لَآ اِلٰهَ

شفقت کونکے | زیات مهربان دے | پس که چرے | مخ واړوی دوی | نو اووایه ته | کافی دے مالره | الله | نشته | څوک لائق دبندګی

او مهربان دے. بیا هم که دے خلقو مخ واړولو نو (اے پیغمبره دوی ته) اووایه چه زما دپاره یوا څے الله کافی دے

اِلَّا هُوَ ۭ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۲۹﴾ ع

سوا | دهغه نه | خاص په هغه باندے | ماتوکل کړے دے | او هغه دے | مالک | د عرش | لوئے

دهغه نه سوا بل هیڅ څوک دبندګی لائق نشته هم په هغه باندے ماځان سپارلے دے او هم هغه دلوے عرش مالک دے

آیاتها [۱۰۹]	سورة یونس مکّیّة	رکوعاتها [۱۱]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓرٰ ۣ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۱﴾ اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا

الف لام را | دا | آیتونه دی | دهغه کتاب | چه حکمت والا دے | آیا دے | خلقو ته | تعجب

الف. لام. را. دا دی دا سے کتاب آیتونه دی چه د حکمت نه ډک دے. آیا دے خلقو ته داخبره د تعجب ښکاری

اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ

په دے خبره | چه وحی کړے ده مونږ | یو سړی ته | د دوی نه | چه ووېروه | خلق | او زیرے ورکړه

چه مونږ په دوی کښ یو سړی ته داوحی کړے ده چه (د الله د عذاب نه) نه منونکی خلق وېروه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ

هغه چا ته | چه ایمان ګڼلے دے | چه بیشکه | د دوی دپاره | مرتبه ده | رښتنے | په لزد | د رب خپل

او مومنانو ته دا خوشخبری (زیری) ورکړه چه دوی دپاره د خپل رب سره اوچته مرتبه ده

قَالَ الْكٰفِرُوْنَ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲﴾ اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ

وائی | کافران | بیشکه | دا | خامخا جادوګر دے | ښکاره | بیشکه | رب ستاسو | الله دے

(نو) کافرانو وویل چه دا سړے خو ښکاره جادوګر دے. حقیقت هم دا دے چه ستاسو حاجات پوره کونکے رب یوا څے

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى

هغه (ذات) | چه پیدا کړی ئے دی | آسمانونه | او زمکه | په شپږو | ورځو کښ | بیا | برابر شو (هغه)

هغه الله دے چه آسمانونه او زمکه ئے په اندازه د شپږو ورځو کښ پیدا کړل بیا په عرش باندے برابر (قائم) شو

عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الْاَمْرَ ۭ مَا مِنْ شَفِيْعٍ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ

په عرش باندے | تدبیر کوی | د (هر قسم) کار | نشته دے | هیڅ څوک سفارش کونکے | مګر | پس

او د هر کار انتظام کوی د هغه د اجازت نه بغیر هیڅ څوک (د هغه په وړاندے) سفارش نشی کولے

اِذْنِهٖ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝

داجازت دهغه نه | هم دا | الله | ستاسو رب دے | نو بندگی او کړئ ددهٔ | آیا پس تاسو نصیحت نه اخلئ

هم دا الله ستاسو رب دے نو هم ددهٔ عبادت او کړئ آیا تاسو نصیحت نهٔ قبلوئ

اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ اِنَّهٗ يَبْدَؤُا

خاص ددهٔ طرف ته | ستاسو واپسی ده | د ټولو | وعده ده | دَالله | رشتنے | بیشکه هغه | اول ځل پیدا کوی

هم د الله طرف ته ستاسو د ټولو واپسی ده دا د الله رشتنے وعده ده یقیناً ټول مخلوق

الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

مخلوق | بیا | به ځے دوباره پیدا کوی | دے دپاره چه بدله ورکړی | هغه چا ته | چه ایمان ځواږے دے

اول ځل هم هغه پیدا کړے دے او بیا به ځے هم هغه دوباره پیدا کوی دے دپاره چه چا ایمان راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ بِالْقِسْطِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ

اوعملونه ځے کړی دی | نیک | په انصاف سره | او هغه کسان | چه کفر ځے کړے دے | دوی دپاره

او نیک عملونه کوی هغوی ته په انصاف بدله ورکړی. او د کافرانو دپاره د څکلو

شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ۝

څکل دی | د ګرمو اوبو نه | او عذاب | دردناک دے | په دے وجه | چه دوی به | کفر کولو

وبشیدلے (ګرمے) اوبه او دردناک عذاب دے څکه چه دوی به د حق نه انکار کولو

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَّالْقَمَرَ نُوْرًا

هم الله هغه ذات دے | چه جوړ کړی ځے دے | نمر | ډیرے رنړا والا | او سپوږمۍ | روښانه

الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه نور ځے پرقیدونکے او سپوږمۍ ځے ځلنده جوړه کړے ده

وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ؕ

اومقرر کړی ځے دی هریو دپاره | منزلونه | چه معلوم کړئ تاسو | شمار | د کلونو | او حساب (د میاشتو او ورځو)

اودهغے دپاره ځے منزلونه مقرر کړی دی چه تاسو (پرے) د کلونو شمار او د میاشتو (یا د ورځو نو) حساب معلوم کړئ

مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

نه دی پیدا کړی | الله | دا څیزونه | مګر | د حق (ښکاره کولو) دپاره | تفصیل سره بیانوی هغه | آیتونه

الله تعالیٰ دا هر څه د یو صحیح مقصد دپاره پیدا کړی دی (او) د پوهه خلقو دپاره خپلے نخښے

لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ۝ اِنَّ فِي اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَا

هغه قوم ته | چه پوهیږی | بیشکه | په بدلیدو | د شپے | او د ورځ کښ | او په هغه څه کښ

په تفصیل سره بیانوی حقیقت دادے چه د شپے او ورځے په بدلیدو (یو بل پسے مخکښ وروستو راتلو) کښ

خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ

چه پیدا کړی دی | الله | په آسمانونو | او په زمکه کښ | خامخا نښے دی | دپاره د هغه قوم

او الله تعالیٰ چه په اسمانونو او زمکه کښ څه پیدا کړی دی په هغے ټولو کښ د هغه چا دپاره غټے نخښے دی

يَتَّقُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا وَرَضُوْا بِالْحَيٰوةِ

چه پرېږی | بېشکه | هغه خلق | چه امید نه لری | زمونږ د ملاقات | او خوشحاله دی | په ژوند

څوک چه د شرک نه ځان ساتی. یقیناً کوم خلق چه زمونږ د ملاقات عقیده نه لری او په دنیوی ژوند باندے

الدُّنْيَا وَاطْمَاَنُّوْا بِهَا وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنْ اٰيٰتِنَا غٰفِلُوْنَ ۝

دنیوی | او مطمئن دی | په دے باندے | او هغه خلق | چه هغوی | زمونږ د نخښو نه | بے خبره دی

خوشحاله دی او هم په دے پورے ځے زړونه لګولی دی او هغه خلق چه زمونږ د آیتونو نه بے خبره دی

اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ

هم دغه خلق | ځائے د دوی | اور دے | په سبب د هغه عملونو | چه دوی ځے کوی | بېشکه | هغه څوک

د داسے خلقو ځائے اور دے د خپلو عملونو په وجه. یقیناً چا چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ ۚ

چه ایمان ځے راوړے دے | او عملونه کوی | نیک | او به ښائی دوی ته لار | رب ځکه (جنت ته) | په وجه د ایمان خپل

ایمان راوړے دے او نیک عملونه کوی دهغوی د ایمان په وجه به ځے الله تعالی داسے ځایونو (منزلونو) ته اورسوی

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ دَعْوٰىهُمْ

چه بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه | په جنتونو | د نعمت کښ (به وی) | بلنه د دوی به وی

چه د نعمتونو نه ډک جنتونو (باغونو) کښ به همیشه اوسیږی او دهغوی دمحلونو لاندے به نهرونه بهیږی. هلته به دهغوی چغه

فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ

په دے کښ | چه پاک ځے ته | اے الله | او پیشکشی د دوی به وی | په دے کښ | سلام | او اخیری

داوی چه اے الله ته د هر عیب نه پاک ځے او یو بل ته به ځے دعاء داوی چه سلامت اوسیږئ. او اخیری

دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ع وَلَوْ يُعَجِّلُ

دعاء (بلنه) د دوی به | داوی | چه ټول صفتونه | الله لره دی | چه رب | د ټولو مخلوقاتو دے | او که چرے | زرور کولے

چغه (دعاء) به ځے داوی چه ټول تعریفونه (صفتونه) هغه الله لره دی چه د ټولو جهانونو رب دے. او که چرے

اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ

الله | خلقو ته | تکلیف | پشان د زرغوښتلو د دوی | خیر لره | نو خامخا پوره کړے شوی به وے | دوی ته

دے کافرانو خلقو ته الله تعالی عذاب دومره زرور کولے لکه څنګه چه دوی ښیګړے زرغواړی نو د دوی

اَجَلُهُمْ ۭ فَنَذَرُ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا فِيْ طُغْيَانِهِمْ

نیټه د دوی | پس پریږدو مونږ | هغه خلق | چه امید نه لری | زمونږ د ملاقات | په خپله سرکشۍ کښ

نیټه به پخوا پوره شوے وه نو څوک چه زمونږ د ملاقات امید (عقیده) نه لری مونږ هغوی په خپل حال پریږدو

يَعْمَهُوْنَ ۝ وَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْۢبِهٖٓ اَوْ قَاعِدًا

چه سرګردان به وی | اوکله چه | اورسی | انسان ته | تکلیف | نو بلی مونږ | په ډډه خپله | یا په ناسته

چه په خپله سرکشۍ کښ حیران او پریشان وی. اوکله چه بعضے انسان ته څه تکلیف اورسی نو (بیا) په ملاسته،

اَوْ قَآىِٕمًا ۚ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهٗ مَرَّ كَاَنْ لَّمْ يَدْعُنَاۤ

یا په ولاړه | ییا هرکله چه | لرے کړو مونږ | د ده نه | تکلیف د ده | نو روان شی | لکه چه | مونږ ے ځهو بللی نه وو

ناسته، او په ولاړه مونږ را بللی، خو چه کله ترے مونږ هغه تکلیف لرے کړو نو دا سے په خپل شرک کښ

اِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهٗ ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِيْنَ مَا كَانُوْا

هغه تکلیف ته | چه رسید لے وو حقه | د غه شان | ښائسته کړے شوے دی | د حد نه اوړیدونکو ته | هغه عملونه | چه دوی

روان شی لکه چه ده مونږ په دغه سخت (تکلیف) کښ را بللی قدر ے هم نه یو هم دغه شان مشرکانو خلقو ته

يَعْمَلُوْنَ ۝۱۲ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَمَّا

ے کول | او یقیناً | هلاک کړی دی مونږ | قومونه | مخکښ ستاسو نه | هرکله چه

خپل عملونه ښائسته ښکاره کړے شوی دی او تاسو نه مخکښ مونږ دیر قومونه هلاک کړی دی کله چه

ظَلَمُوْا ۙ وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ وَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا ؕ

دوی ظلم اوکړو | او راغلی وو دوی ته | پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | اونه وو دوی | چه ایمان ے راوړے وے

هغوی ظلم اوکړو او هغوی ته خپل پیغمبران په ښکاره دلیلونو سره راغلی وو خو بیا هم هغوی ایمان نه راوړو

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ۝۱۳ ثُمَّ جَعَلْنٰكُمْ خَلٰٓئِفَ

دغه شان | مونږ بدله ورکوو | قوم | مجرمانو ته | بیا | مونږ جوړ کړی تاسو | ناځایان

دا سے مجرمانو خلقو ته مونږ هم دا سے سزا ورکوو بیا د هغوی نه پس مونږ تاسو په زمکه کښ جانشین

فِى الْاَرْضِ مِنْۢ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ۝۱۴ وَاِذَا

په زمکه کښ | پس د هغوی نه | چه اوګورو مونږ | چه څنګه | عمل کوئ تاسو | او کله چه

(ناځایان) کړئ چه مونږ اوګورو چه تاسو څنګه عمل کوئ او کله (هم) چه

تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ

اولوستل شی | په دوی باندے | آیتونه زمونږ | ښکاره | (نو) وائی | هغه کسان | چه امید نه لری

دوی ته زمونږ ښکاره آیتونه اولوستل شی نو څوک چه زمونږ د ملاقات عقیده نه لری هغوی وائی

لِقَآءَنَا ائْتِ بِقُرْاٰنٍ غَيْرِ هٰذَاۤ اَوْ بَدِّلْهُ ؕ قُلْ مَا يَكُوْنُ

زمونږ د ملاقات | راوړه | قرآن | بغیر | دے نه | یا بدل کړه دا | اووایه | نه دی ممکن (جائز)

چه دا نه بلکه دے نه بغیر یو بل قرآن راوړه یا په دے کښ تبدیلی اوکړه. اے پیغمبره! ته ورته ووایه چه

لِيْۤ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَآءِ نَفْسِىْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا

ما لره | داچه | بدل کړم زه دا | د خپل ځان د طرف نه | نه یم روان زه | مګر | هغه څه پسے

زما دا حق نشته چه زه په دے کښ د خپل ځان نه تبدیلی اوکړم زه خو صرف د هغه څه تابعداری کوم چه

يُوْحٰۤى اِلَىَّ ۚ اِنِّيْۤ اَخَافُ اِنْ عَصَيْتُ رَبِّىْ عَذَابَ

چه وحی ے کیږی | ماته | بیشکه زه | یریږم | که | نافرمانی اوکړم | د رب خپل | د عذاب

ماته ے وحی کیږی او که چرے زه د خپل رب نافرمانی اوکړم نو د لوے ورځے

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝ قُلْ لَّوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا تَلَوْتُهٗ عَلَيْكُمْ

دور خُے | لوئے نه | اووایه | که چرے | غوښتلے | الله | نومابه نه وے لوستلے دا (قرآن) | په تاسو باندے

د عذاب نه یو یوم اے پیغمبره ا دوی ته ووایه که الله تعالی غوښتلے نو ما به دا قرآن تاسو ته نه وو لوستلے

وَلَآ اَدْرٰىكُمْ بِهٖ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖ ؕ

اونه به وئ خبر کړی هغه تاسو | په دے | پس یقیناً | پاتے شوے یم زه | په تاسو کښ | ډیر عمر | مخکښ د دے نه

اونه به پرے الله تعالی تاسو خبر کړی وئ یقیناً دد ے نه مخکښ هم ما په تاسو کښ ډیر عمر تیر کړے دے

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

پس آیا تاسو نه پوهیږئ | پس څوک | غټ ظالم دے | دهغه چا نه | چه تړی | په الله باندے | دروغ

آیا بیا هم تاسو د عقل نه کار نه اخلئ نو (بیا) دهغه چا نه غټ ظالم څوک کیدے شی چه الله تعالی باندے دروغ تړی

اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ ۝ وَيَعْبُدُوْنَ

یا دروغ ګڼړی | آیتونه دهغه | بیشکه | کامیابی نشی موندلے | مجرمان خلق | او دوی بندګی کوی

یا دهغه آیتونه دروغژن ګڼړی. یقین اوسئ چه مجرمان خلق کامیابیدے نه شی او دوی د الله تعالی نه سوا

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ

سوا | د الله نه | دهغه څیز | چه ضرر نشی ور کولے حوی ته | اونه فائده ور کولے شی دوی ته | او وائی دوی

د هغه چا عبادت (بندګی) کوی چه نه ورته نقصان رسولے شی او نه څه فائده ور کولے شی. او وائی چه

هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ قُلْ اَتُنَبِّـُٔوْنَ اللّٰهَ بِمَا

چه دا | سفارشیان دی زمونږ | په نزد | د الله | اووایه | آیا تاسو خبر ور کوئ | الله ته | د هغه څیز

دا خلق خو د الله تعالی په دربار کښ زمونږ سفارشیان دی. اے پیغمبره ا دوی ته ووایه آیا تاسو الله تعالی ته د هغه څیز

لَا يَعْلَمُ فِى السَّمٰوٰتِ وَلَا فِى الْاَرْضِ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى

چه نه ځے پیژنی هغه | په آسمانونو کښ | او نه په زمکه کښ | پاک دے هغه | او اوچت دے

خبر ور کوئ چه هغه ته نه په آسمانونو کښ معلوم دی او نه په زمکه کښ (حقیقت دا دے چه) الله تعالی د دوی د مشرکانه

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝ وَمَا كَانَ النَّاسُ اِلَّآ اُمَّةً وَّاحِدَةً

د هغه څه نه | چه دوی ځے شریک جوړوی | او نه وو | خلق | مګر | د له | یَوه

خبرونه پاک او ډیر اوچت دے. او (په شروع کښ) ټول خلق صرف دیو دین قائل وو (په یو دین روان وو) خو بیا دوی

فَاخْتَلَفُوْا ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ

بیا اختلاف ځے وکړو | او که چرے نه وے | یَوه خبره (حکم) | چه مخکښ مقرر شوی ده | ستا د رب د طرف نه

په خپل مینځ کښ اختلاف شروع کړو. او که ستا د رب د طرف نه یوه خبره د مخکے نه مقرر (فیصله) شوے نه وے

لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ فِيْمَا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝ وَيَقُوْلُوْنَ

نو خامخا فیصله به شوے وه | د دوی ترمینځه | په هغه څه کښ | چه په هغے کښ | دوی اختلاف کوی | او وائی دوی

نو دوی چه په څه کښ اختلاف کوی د هغے فیصله به هم په (دنیا کښ) شوے وه او دا خلق وائی چه

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۚ فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ

ولے نشی نازلولے | په دے باندے | څه نخښه | د خپل رب د طرف نه | پس اووایه | چه بے شکه | علم د غیبو

په دے پیغمبر باندے د خپل رب د طرف نه څه نخښه ولے نه نازلیږی نو (اے پیغمبره!) ته ورته اووایه

لِلّٰهِ فَانْتَظِرُوْا ۚ اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝ وَاِذَآ

یواځے الله لره دے | پس انتظار کوئ | بیشکه زه (هم) | تاسو سره | د انتظار کوونکو نه یم | او کله چه

د غیبو خبرو اختیار خو صرف د الله تعالی سره دے نو تاسو هم انتظار کوئ او زه هم تاسو سره انتظار کوم.

اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّنْۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ اِذَا لَهُمْ

اوځکوو مونږ | خلقو ته | رحمت | وروستو | دهغه تکلیف نه | چه رسیدلی وی خوی ته | نو دغه وخت | وی خوی لره

اود بعضے انسانانو حال خو دا دے چه کله ورته د څه تکلیف نه پس مونږ څه رحمت اورسوو نو فورًا دوی

مَّكْرٌ فِيْٓ اٰيَاتِنَا ۭ قُلِ اللّٰهُ اَسْرَعُ مَكْرًا ۭ اِنَّ رُسُلَنَا

بهانه | زمونږ په آیتونو کښ | اووایه | الله | ډیر تیز دے | په تدبیر جوړولو کښ | بیشکه | زمونږ ملائک

زمونږ د آیتونو په باره کښ چالبازی او مقابله شروع کړی، ته ورته اووایه چه الله تعالی د فریبونو سزا ډیره زور کوی یقیناً

يَكْتُبُوْنَ مَا تَمْكُرُوْنَ ۝ هُوَ الَّذِيْ يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ

لیکی | هغه مکرونه چه دوی ئے کوی | الله هغه ذات دے | چه گرځوی تاسو | په وچه

زمونږ ملائکے ستاسو دا فریبونه (چالبازی) لیکی. الله تعالی هم هغه ذات دے چه په وچه هم او په سمندر کښ هم

وَالْبَحْرِ ۭ حَتّٰٓى اِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ ۚ وَجَرَيْنَ بِهِمْ بِرِيْحٍ

او په دریاب کښ | تر دے | چه کوم وخت | یئ تاسو | په کشتو کښ | او وړی (دا کشتئ) | دوی لره | په هوا

په تاسو سفر کوی تر دے چه کله تاسو په کشتو کښ سواره شئ او دا کشتئ دے خلقو لره د موافق (خوشگوار)

طَيِّبَةٍ وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآءَتْهَا رِيْحٌ عَاصِفٌ وَّجَآءَهُمُ

نرمے سره | او خوشحاله شی وی | په هغے باندے | نو راشی په دے (کشتو) | سیلئ | سخته (تیزه) | او راشی دوی ته

هوا گانو سره روان کړی او دوی پرے خوشحاله شی نو ناڅاپه پرے (د مخالف باد) یو تیزه چپه راشی او د هر طرف نه

الْمَوْجُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اُحِيْطَ بِهِمْ ۙ

چپے | د هر ځائے نه | او دوی گمان او کړی | چه بیشکه دوی (خو) | راگیر کړے شول دوی

پرے د اوبو څپے راخورے شی او دوی پرے ډوبے پوهه شی چه بس اوس (خو) د هر طرف نه سم راگیر شو نو دغه وخت

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ لَىِٕنْ اَنْجَيْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ

(نو) رالیلی وی | الله | چه خالص کوونکی وی | هغه دپاره | بلنه | که چرے | بچ کړه تاسو نږ | د دے (مصیبت) نه

ډیر په اخلاص سره صرف الله تعالی ته آواز کوی (او وائی چه اے الله) که تاسو نږ د دے مصیبت نه خلاص کړه

لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝ فَلَمَّآ اَنْجٰىهُمْ اِذَا هُمْ

(نو) خامخا به شو مونږ | د شکر گذارو نه | پس هر کله چه | بچ کړی هغه دوی لره | نو دغه وخت | دوی

نو مونږ به ضرور شکر گزار بندگان جوړ شو، خو کله چه ئے الله تعالی خلاص کړی نو فورًا

يَبْغُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا بَغْيُكُمْ

سرکشی شروع کړی | په زمکه کښ | په ناحقه | اے خلقو! | بیشکه | ستاسو سرکشی

په زمکه کښ په ناحقه سرکشی شروع کړی. اے خلقو! ستاسو دا سرکشی هم

عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ ۙ مَّتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫ ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ

ستاسو په ځان ده | فائده درکولی شی | د ژوند | دنیوی | بیا | مونږ ته | واپسی ده ستاسو

ستاسو په سرونو راپریوتونکی ده. اوس خو دنیا د ژوند مزے (خوند ونه) واخلئ خو آخر مو مونږ ته واپسی ده

فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۳﴾ اِنَّمَا مَثَلُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

نوخبر به کړو تاسو | په هغه عملونو چه تاسو به کول | بیشکه | مثال | د ژوند | دنیوی

نو هغه وخت به درته اوښایو چه تاسو څه څه کول. یقیناً د دنیا د ژوند مثال خو

كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ

پشان داوبو دے | چه راوروو ئے مونږ | د آسمان نه | نو ګڼ راوخیژی | په دے سره | بوټی

د هغه اوبو پشان دے چه مونږ ئے د آسمان نه راوروو چه په هغے سره د زمکے د پیداوار (سبزو) نه

الْاَرْضِ مِمَّا يَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَخَذَتِ

د زمکے | د هغے نه | چه خوری ئے | خلق | او څاروی | تردے | چه کله | اونیسی

هغه څیزونه ښه راوخیژی چه انسانان او څاروی ئے خوری. تردے چه زمکه په ښه شان

الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَآ اَنَّهُمْ قٰدِرُوْنَ

زمکه | رونق خپل | او ښائسته شی | اوخیال اوکړی | مالکان ددے | چه بیشکه دوی | قادر دی

خپل رونق ته اورسیږی او ښه ښائسته ښکاره شی او مالکان ئے دا خیال اوکړی چه دوی اوس په دے فصل باندے

عَلَيْهَآ ۙ اَتٰىهَآ اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنٰهَا

په دے باندے | نور اشی په دے باندے | حکم (عذاب) زمونږ | د شپے | یا د ورځے | نو اوکړو مونږ هغه

پوره قدرت لری نو ناڅاپه د شپے یا د ورځے پرے زمونږ حکم (د آفت) راشی نو مونږ ئے داسے دل دول

حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

لو (ریبل) شوے | لکه چه | نه وو (ولاړ) | پرون | د هغه شان | په تفصیل سره بیانوو مونږ | نخښے

(تباه) کړو لکه چه پرون هلته وو نه. د هغه شان مونږ د هغه خلقو د پاره نخښے په تفصیل سره بیانوو

لِقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ؕ وَيَهْدِيْ

د پاره د هغه قوم | چه فکر کوی | او الله | را بلی (خلقو لره) | کور | د سلامتیا ته | او هدایت کوی

چه د غور او فکر نه کار اخلی. او الله تعالی خلق د سلامتیا کور (جنت) ته را بلی او چا ته چه وغواړی

مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۵﴾ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى

چا ته | چه او غواړی | د لار | نیغے | د هغه خلقو د پاره | چه نیکی ئے کړے ده | ښه بدله ده

نو په نیغے لارے ئے روان کړی. کوم خلق چه نیکان دی د هغوی د پاره ښه بدله ده

وَزِيَادَةٌ ؕ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوْهَهُمْ قَتَرٌ وَّلَا ذِلَّةٌ ؕ اُولٰٓئِكَ

اوزیاتی (نعمت هم) | او نه به پټوی | مخونو د دوی لره | تور والے | او نه ذلت | دغه خلق

او زیاتی (دیدار الهی) ورپسے هم دے او په مخونو به ئے نه تیاره راخوریږی او نه ذلت، هم دا خلق

اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ كَسَبُوا

جنت والا دی | دوی به | په هغے کښ | همیشه وی | اودپاره دهغه کسانو | چه کړی ئے دی

جنتیان دی چه همیشه به پکښ اوسیږی۔ او کوم خلقو چه بد کارونه کړی دی

السَّيِّاٰتِ جَزَآءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا ۙ وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ مَا لَهُمْ

بد کارونه | بدله | د بدئ ده | پشان دهغے | اوپټ به کړی دوی لره | ذلت | نه به وی دوی دپاره

نو د هغوی د بدئ سزا به هم په شان د بدئ بده وی، او ذلت به پرے راخور شوی وی، او

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ كَاَنَّمَآ اُغْشِيَتْ وُجُوْهُهُمْ قِطَعًا

د الله نه | څوک بچ کونکے | لکه چه | اغوستلی شوی وی | د دوی مخونو ته | تکړے (توټے)

د الله (د عذاب) نه به ئے هیڅ څوک بچ کولے نشی دا سے به ښکاری لکه چه په مخونو ئے د تورے (تیارے)

مِّنَ الَّيْلِ مُظْلِمًا ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا

د شپے | چه توره (شپه) وی | دغه خلق | اور والا دی | دوی به | هغے کښ

شپے توټے راخورے شوی دی، هم دا خلق دوزخیان دی چه همیشه به پکښ اوسیږی

خٰلِدُوْنَ ۝ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ

همیشه وی | اوپه هغه ورځ | چه راجمع به کړو مونږ دوی | ټول | بیا به | اووایو مونږ | هغه چا ته

او په کومه ورځ چه مونږ به دا ټول راجمع کړو بیا به مشرکانو ته اووایو چه

اَشْرَكُوْا مَكَانَكُمْ اَنْتُمْ وَشُرَكَآؤُكُمْ ۚ فَزَيَّلْنَا بَيْنَهُمْ

چه شرک ئے کړے وو | اودریږئ په خپل ځائے باندے | تاسو | اوستاسو شریکان | نو جدائی به راولو مونږ | په مینځ د دوی کښ

تاسو اوستاسو شریکان په خپل خپل ځائے اودریږئ بیا به د دوی ترمینځه جدائی راولو (تعلق به ختم کړو)

وَقَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ ۝ فَكَفٰى بِاللّٰهِ

اووبه وائی | شریکان د دوی | نه وئ تاسو | زمونږ | بندگی کوونکی | پس کافی دے | الله

او د دوی هغه شریکان به اووائی چه تاسو خو زمونږ بندگی نه کوله، نو زمونږ او ستاسو مینځ کښ

شَهِيْدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اِنْ كُنَّا عَنْ عِبَادَتِكُمْ

ګواه | زمونږ په مینځ کښ | اوستاسو په مینځ کښ | بیشکه | وو مونږ | ستاسو د بندگئ نه

الله ګواه کافی دے چه یقیناً مونږ ستاسو د عبادت (بندگئ) نه بلکل ناخبره وو،

لَغٰفِلِيْنَ ۝ هُنَالِكَ تَبْلُوْا كُلُّ نَفْسٍ مَّآ اَسْلَفَتْ وَرُدُّوْٓا

بے خبره | دغه وخت به | پوهه شی په حقیقت | هر یو | کس | دهغه عمل | چه مخکے ئے لیږلے دے | اووایس به کړی شی دوی

نو په دے موقع به هر یو کس ته د خپل عمل حقیقی اندازه اولګوی او ټول به هغه الله ته واپس کړے شی

اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝۳۰

الله ته | چه ددوی مالک دے | په رشتیا | او ورک به شی | د دوی نه | هغه څه | چه دوی به کوم دروغ جوړول

چه ددوی حقیقی مالک (مولیٰ) دے او کوم دروغ به ئے چه د ځان نه جوړول هغه به ترے نه ورک شی.

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ

اووایه | څوک | رزق درکوی تاسوته | د آسمان | او د زمکے نه | یا | څوک | مالک دے

(اے پیغمبره! دے مشرکانو ته) اووایه چه څوک دے چه د آسمانونو او د زمکے نه تاسو له رزق درکوی. یا

السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ

د غوږونو | او د سترګو | او څوک | راوباسی | ژوندے | د مړ نه | او راوباسی

څوک دے چه (ستاسو) د غوږونو او د سترګو مالک دے او څوک دے چه د مړی نه ژوندے او د ژوندی نه

الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ؕ فَسَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهُ ۚ

مړ | د ژوندی نه | او څوک | انتظام کوی | د (ټولو) کارونو | پس زړه چه وائی به دوی | چه الله

مړے راپیدا کوی او څوک دے چه د هر کار انتظام کوی؟ نو دوی به ډیر زر اووائی چه الله

فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۝۳۱ فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ ۚ فَمَا ذَا

نو اووایه | پس آیا تاسو نه یریږئ | پس دا | الله | ستاسو رب دے | په رشتیا | پس څه دی

نو ته ورته ووایه چه آیا تاسو بیا هم د شرک نه ځان نه بچ کوئ. نو (اے خلقو) هم دا الله ستاسو حقیقی رب دے

بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۝۳۲ كَذٰلِكَ حَقَّتْ

پس | د حق نه | سوا | د گمراهئ نه | پس کوم خوا | تاسو اړولے شئ | دغه شان | رشتنے شوه

نو د حق د پریښودلو نه پس د گمراهئ نه سوا نور څه پاتے شو. نو بیا څه رنګ تاسو د حق نه اړولے شئ. دغه شان

كَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ فَسَقُوْٓا اَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۳۳

خبره (فیصله) | د رب ستا | په هغه خلقو | چه نافرمانی ئے کړے ده | چه بیشکه دوی | ایمان نه راوړی

کومو خلقو چه د نافرمانئ عادت جوړ کړے دے د هغوی په حقله ستا د رب فیصله پوره شوے ده چه دوی ایمان نه راوړی.

قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ

اووایه | آیا | ستاسو د شریکانو نه | څوک شته | چه اول ځل اوکړی | پیدائش | بیا ئے

ورته ووایه چه آیا ستاسو په شریکانو کښ دا سے څوک شته چه په اول ځل مخلوق پیدا کړی بیا ئے دوباره پیدا کړی (نیشته)

يُعِيْدُهٗ ؕ قُلِ اللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ فَاَنّٰى

دوباره هم اوکړی | اووایه | چه الله | په اول ځل پیدائش کوی | بیا به ئے | دوباره کوی | نو کوم خوا

ته ووایه چه الله تعالیٰ په اول ځل هم پیدا کول کوی او دوباره به ئے هم کوی نو تاسو کوم طرف ته په دروغو پسے روان یئ

تُؤْفَكُوْنَ ۝۳۴ قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ ؕ

اړولی شئ تاسو | اووایه | آیا | ستاسو د شریکانو نه | څوک شته | چه لاره ښائی | حق طرف ته

اے پیغمبره! دوی ته ووایه چه آیا ستاسو په شریکانو کښ دا سے څوک شته چه (خلقو ته) د حق لار اوښائی؟ نیشته. ته ورته ووایه چه

قُلِ اللّٰهُ يَهْدِىْ لِلْحَقِّ ؕ اَفَمَنْ يَّهْدِىْٓ اِلَى الْحَقِّ اَحَقُّ

اووایه | (چه) الله | لاره ښائی | دحق طرف ته | آیا پس هغه څوک | چه لاره ښائی | دحق طرف ته | زیات حقدار دے

الله تعالی دحق لاره ښائی نو (اوس تاسو ووایئ) آیا هغه څوک چه دحق لاره ښائی زیات ددے خبرے حقدار دے چه دهغه

اَنْ يُّتَّبَعَ اَمْ مَّنْ لَّا يَهِدِّىْٓ اِلَّآ اَنْ يُّهْدٰى ۚ فَمَا لَكُمْ ۫

چه هغه پیروی اوکړے شی | یا | هغه څوک | چه لارنشی موندے | مګر | داچه | لارورته اونښودے لے شی | نو څه شوی دی په تاسو

خبره دے او منلے شی یا هغه څوک (دیر حقدار دے) چه پخپله هم لارنشی پیاموندے ترڅو چه ورته اونه ښودلی شی نو داپه تاسو

كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ۝ وَمَا يَتَّبِعُ اَكْثَرُهُمْ اِلَّا ظَنًّا ؕ اِنَّ الظَّنَّ

څنګه | فیصلے کوئ تاسو؟ | اونه دی روان | اکثر په دوی کښ | مګر | په ګمان پسے | بیشکه | ګمان (خو)

څه شوی دی داڅنګه فیصلے کوئ؟ او په دے مشرکانو کښ اکثر خلق خو تش په خپلو ګمانونو (وهمونو) پسے روان دی او دا یقینی

لَا يُغْنِىْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝

فائده نه ورکوی | په باره دحق کښ | هیڅ هم | بیشکه | الله | پوهه دے | په هغه څه | چه دوی ئے کوی

خبره ده چه دحق په باره کښ ګمانونه (وهمونه) هیڅ پکار نه راځی یقین اوسائی چه داخلق څه کوی الله تعالی ته هغه ټول

وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ

او نه دے | دا | قرآن | چه جوړ کړے شی | دطرفه دماسیوا د الله نه | لیکن (دا)

ښه معلوم دی۔ اوداقرآن څه داسے کتاب نه دے ګنی چه دالله تعالی نه سوا چادځان نه جوړ کړے وی بلکه داخو دهغه کتابونو

تَصْدِيْقَ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ

تصدیق دے | دهغه کتاب | چه مخکے دے ددۀ نه | او تفصیل دے | د کتاب | نشته هیڅ شک

تصدیق کوی چه ددے نه مخکے نازل شوی دی او الله تعالی چه کومے خبرے (لوح محفوظ کښ) لیکلی دی دهغے تفصیل کوی

فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ

په دے کښ | چه دا دربّ العالمین دطرفه دے | آیا دوی وائی | چه هغه (قرآن) دځانه جوړ کړے دے | اووایه

په دے کښ هیڅ شک نشته چه دادربّ العلمین دطرف نه راغلے دے۔ آیا (یاهم) داخلق وائی چه دے پیغمبر دا (قرآن) دځان نه

فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

نو راوړئ تاسو | یو سورت | ددے پشان | او راوبلئ | هغه څوک | چه طاقت لرئ | سوا د الله نه

جوړ کړے دے ته ورته ووایه (که داسے وی) نو بیا خو تاسو ددے پشان یو سورت (دځان نه) جوړ کړئ او (دمدد دپاره) دالله تعالی

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا

که چرے | یئ تاسو | رښتنی | بلکه | دوی دروغ ګنړی | هغه څه | چه احاطه نه ده کړے دوی

نه سوا چه څوک هم راابلی شئ راوے ئ که چرته تاسو په خپله خبره کښ رښتنی یئ۔ اصل خبره داده چه دکوم څیز (قرآن)

بِعِلْمِهٖ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ

په پوهے دهغے | اولانه دے راغلے دوی ته | انجام (دنه منلو) دهغے | دغه شان | دروغ ګنړلی وو | هغه خلقو

احاطه دوی په خپل علم سره نشوه کولے هغه ے دروغ ګنړلو اولاتر اوسه ورته ددے تکذیب انجام نښکاره شوے نه دے

مِنْ قَبْلِهِمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۷۳﴾ وَمِنْهُمْ

چه ددوی نه مخکے وو | نو اوکوره | څنګه | شو | انجام | د ظالمانو | اوبعضے د دوی نه

دغه شان کوم خلق چه ددوی نه مخکے تیر شوی دی هغوی هم (خپل پیغمبران) دروغ ګڼلی وو نو اوکوره! چه ددے

مَّنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَرَبُّكَ

هغه څوک دی | چه ایمان راوړی | په دے (قرآن) | اوبعضے دوی نه | هغه څوک دی | چه ایمان نه راوړی | په دے (قرآن) | اوستا رب

ظالمانو انجام څنګه شو؟ اوپه دوی کښ څه دا سے خلق هم دی چه په دے (قرآن) ایمان راوړی اوبعضے پکښ دا سے دی چه

ع ۸ اَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِيْنَ ﴿۷۴﴾ وَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ لِّيْ عَمَلِيْ

نه پیژنی | فساد کوونکی | اوکه چرے | دوی دروغژن ګڼړی تا | نو اووایه | زما دپاره | زما عمل دے

ایمان پرے نه راوړی اوستا رب فساد کونکی نه پیژنی۔ او (اے پیغمبره!) که دوی تا دروغژن ګڼړی نو ورته اووایه چه

وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۚ اَنْتُمْ بَرِيْٓـُٔوْنَ مِمَّآ اَعْمَلُ وَاَنَا بَرِيْٓءٌ

اوستاسو دپاره | ستاسو عمل دے | تاسو | بری (خلاص) یئ | دهغه عمل نه | چه زه ئے کوم | اوزه | بری (خلاص) یم

زما دپاره زما عمل (بس) دے اوستاسو دپاره ستاسو عمل، زه چه څه کوم دهغے ذمه داری په تاسو نشته اوتاسو چه څه کوئ

مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ ؕ اَفَاَنْتَ

دهغه عمل نه | چه تاسو یئ کوئ | اوبعضے ددوی نه | هغه څوک دی | چه غوږ نیسی | تا ته | پس آیا ته

دهغے ذمه داری په ما نشته اوپه دوی کښ بعضے دا سے دی چه (په ظاهره کښ) ستا خبرو ته دنه ئ متلو په اراده غوږ ږدی نو دوی په فائده

تُسْمِعُ الصُّمَّ وَلَوْ كَانُوْا لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۷۶﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْظُرُ

اورولے شے | کنړوته | اګر که | دوی | عقل نه لری | اوبعضے په دوی کښ | هغه څوک دی | چه ګوری

نه اخستلو کښ پشان د کنړودی نو آیا ګه کنړوته اورولے شے؟ اولا چه دوی عقل هم نه لری۔ اوبعضے پکښ دا سے (هم) دی چه (په ظاهر کښ)

اِلَيْكَ ؕ اَفَاَنْتَ تَهْدِى الْعُمْىَ وَلَوْ كَانُوْا لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۷۷﴾ اِنَّ

تا ته | پس آیا ته | لاره ښودلے شے | رندو ته | اګر که | دوی | نه وینی | بیشکه

تا ته ګوری نو آیا ته رندو ته لاره ښودلے شے؟ اولا چه دوی د زړهٔ بصیرت هم نه لری۔ حقیقت دا دے چه

اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْـًٔا وَّلٰكِنَّ النَّاسَ اَنْفُسَهُمْ

الله | ظلم نه کوی | په خلقو باندے | هیڅ (هم) | لیکن | خلق | په خپلو ځانونو

الله تعالیٰ په خلقو باندے ذره (معمولی) ظلم هم نه کوی لیکن خلق پخپله په خپلو ځانونو باندے ظلم کوی

يَظْلِمُوْنَ ﴿۷۸﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَاَنْ لَّمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً

ظلم کوی | اوپه کومه ورځ | چه هغه راجمع کړی دوی | لکه چه | دوی نه دی پاتے شوی (په دنیا کښ) | مګر | یو ساعت

اوپه کومه ورځ چه الله تعالیٰ دا ټول راجمع کړی نو دا سے به ورته ښکاری لکه چه دوی (په دنیا کښ) هیله دوه ورځے یو ساعت

مِّنَ النَّهَارِ يَتَعَارَفُوْنَ بَيْنَهُمْ ؕ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

د ورځے | پیژنی به دوی یو بل | په خپل مینځ کښ | یقیناً | تاوان اوکړو | هغه چا | چه دروغ ئے ګڼړلو

پاتے شوی وو او خپلو کښ به یو بل پیژنی۔ یقیناً هغه خلق لوئے تاوان اوکړو چا چه د الله تعالیٰ ملاقات

بِلِقَآءِ اللّٰهِ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ ۝ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ

ملاقات | د الله | اونه وودوی هميشه | سمه لار موندونکی | اوکه چرے | وښايو مونږ تاته | بعضے

دروغ اوګنړلو اوکله هم په سمه لار نشو۔ او (اے پيغمبره!) دے کافرانو سره چه مونږ د کوم عذاب وعده کړے ده

الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللّٰهُ

هغه (عذاب) | چه وعده مے کوو مونږ دوی سره | يا | وفات کړو مونږ تاله | نو مونږ ته | ددوی واپس راتلل دی | بيا | الله

که تاته د هغے څه برخه اوښايو يا (د هغے نه مخکښ) تاوفات کړو نو (په هر صورت کښ) دوی له زمونږ طرف ته

شَهِيْدٌ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ ۝ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلٌ ۚ فَاِذَا جَآءَ

خبر دے | په هغه څه | چه دوی ئے کوی | او د هر يو | امت | يو پيغمبر دے | پس کله چه | راشی

واپس راتلل دی بيا الله تعالیٰ ددوی په ټولو کارونو خبر دے. او هر يو امت ته يو پيغمبر لږ لے شوے دے بيا کله چه

رَسُوْلُهُمْ قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝

پيغمبر د دوی | نو فيصله به اوشی | ددوی په مينځ کښ | د انصاف | او په دوی به | ظلم نه کيږی

د دوی پيغمبر راشی نو د دوی فيصله به پوره په انصاف سره کولے شی او هيڅ ظلم به پرے نه کيږی

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝ قُلْ

او وائی دوی | (چه) کله به وی | دا | وعده | که چرے | يئ تاسو | رشتنی | اے پيغمبره! ته ورته اووايه

اودا کافران (مسلمانانو ته) وائی چه که تاسو رشتنی يئ نو دا (د عذاب) وعده به کله پوره کيږی؟ اے پيغمبره! ته

لَآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ

چه زهٔ اختيار نه لرم | د خپل ځان د پاره | د څه نقصان | اونه د څه فائدے | مګر | څه چه | اوغواړی | الله

ورته اووايه چه زه د خپل ځان په حقله د تاوان لرے کولو او د فائدی حاصلولو اختيار نه لرم. بلکه څهٔ چه الله اوغواړی هغه کيږی

لِكُلِّ اُمَّةٍ اَجَلٌ ؕ اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ

د هر | امت د پاره | يو وخت مقرر دے | کله چه | راشی | ددوی مقرر وخت | نو نه به دوی وروسته کيدے شی

د هر نافرمانه امت د عذاب د پاره يو مقرر وخت دے چه کله ئے هغه مقرر وخت راشی نو دوی بيا د هغے نه نهٔ يو ساعت وروسته کيدے شی

سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُهٗ

يو ساعت | او نه به مخکے کيدے شی | اووايه | آيا فکر کړے دے تاسو | که چرے | راشی په تاسو | عذاب د هغه

او نه مخکے کيدے شی. اے پيغمبره! دوی ته ووايه چه لږ دا خو ما ته ووايئ که د الله تعالیٰ عذاب په تاسو باندے

بَيَاتًا اَوْ نَهَارًا مَّاذَا يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ الْمُجْرِمُوْنَ ۝ اَثُمَّ

د شپے | يا د ورځے | نو څه څيز دے | چه زړبه ئے اوکړی | هغے لره | مجرمان | آيا بيا

د شپے يا د ورځے راشی نو څهٔ تدبير دے چه دا مجرمان به ئے د ځان د بچاؤ د پاره زر اختيار کړی. نو آيا کله چه عذاب

اِذَا مَا وَقَعَ اٰمَنْتُمْ بِهٖ ؕ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ كُنْتُمْ بِهٖ

کله | چه عذاب راشی | نو ايمان به راوړئ تاسو | په هغے | آيا اوس | او حال دا دے | چه تاسو | دا

(درباندے) راشی نو بيا به تاسو ايمان راوړئ؟ (نو هغه وخت خو به درته اووايی شی) آيا اوس (ايمان راوړئ؟) حالانکه تر اوسه

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ قِيْلَ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ

په تلوار غوښتلو | بیابه | اوویلی شی | هغه خلقوته | چه ظلم ئې کړے دے | اوځکئ | عذاب

(دد ے نه مخکښ) خو تاسو دے لره زر غوښتلو. بیابه ظالمانوته وویلی شی چه دهمیشوالی دعذاب خوند واخلئ

الْخُلْدِ ۚ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا بِمَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَيَسْتَنْۢبِـُٔوْنَكَ

دهمیشوالی | تاسوته بدله نه شی ورکولے | مگر | دهغه څه | چه تاسو به کول | اودوی تپوس کوی ستانه

اوس تاسوته صرف دخپلو عملونو سزا ملاویږی. اودا خلق تانه تپوس کوی چه آیا دا (د آخرت دعذاب داخبره)

اَحَقٌّ هُوَ ؕ قُلْ اِیْ وَرَبِّیْۤ اِنَّهٗ لَحَقٌّ ؕ وَمَاۤ اَنْتُمْ

(چه) آیا رشتیا ده | دا (وعده) | اووایه | اوقسم مے دی په خپل رب | (چه) بیشکه دا | حق دے | او نه یئ تاسو

رشتنے ده؟ ته ورته اووایه چه هاو. زما دے په خپل رب قسم وی چه دا بلکل رشتیا دی او تاسو

بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَلَوْ اَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ مَا فِی الْاَرْضِ

عاجزه کوونکی | اوکه چرے | شی دهر یَو | کس دپاره | چه ظلم ئې کړے دے | هغه څه | چه په زمکه کښ دی

الله تعالی عاجزه (کمزورے) کولے نشئ. او چا چه ظلم کړے دے که دهغه سره د ټولے دنیا مال دولت هم

لَافْتَدَتْ بِهٖ ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ۚ

نوخامخا به فدیه کښ ورکړی دے | هغه | اودوی به پته کړی | پښیمانتیا | هرکله چه | اووینی | عذاب لره

راجمع شی نو دخپل ځان د خلاصولو دپاره به ئے پیش کړی لیکن قبول به نه شی. اوکله چه عذاب اووینی

وَقُضِیَ بَیْنَهُمْ بِالْقِسْطِ وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۵۴﴾ اَلَاۤ اِنَّ

اوفیصله به اوکړی شی | ددوی په مینځ کښ | په انصاف سره | اوپه دوی به | هیڅ ظلم نشی کولے | خبردار | بیشکه

نو خپل شرمر به پټول غواړی او د دوی فیصلے به انصاف سره اوشی اوهیڅ ظلم به پرے نه کیږی. یاد ساتئ

لِلّٰهِ ؕ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ وَعْدَ

دالله (په اختیار کښ) دی | هغه څه | چه په آسمانونو | اوزمکه کښ دی | خبردار | بیشکه | وعده

آسمانونو او ځمکه کښ چه څه دی ټول د الله تعالی (په اختیار کښ) دی (دا هم) یاد ساتئ چه

اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُوَ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ

د الله | حقه ده | لیکن | اکثر ددوی | نه پوهیږی | هم هغه (ذات) | ژوندی کول کوی | اومړه کول کوی

د الله تعالی وعده رشتنے ده خو اکثر خلق نه پوهیږی. هم هغه ژوندور کوی او هم هغه مرګ راولی

وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۵۶﴾ یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ

اوخاص هغه ته به | تاسو واپس کولی شئ | اے خلقو! | یقیناً | راغلے دے تاسوته | نصیحت

او هم هغه ته ستاسو واپس تلل دی. اے خلقو یقیناً تاسوته ستاسو د رب د طرف نه نصیحت

مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ ۙ۬ وَهُدًی وَّرَحْمَةٌ

د طرفه د رب ستاسو نه | او شفا | دهغه څه | چه په سینو کښ دی | او هدایت | او رحمت

او د زړونو د بیمارو علاج راغلے دے او د مومنانو دپاره راغلے دے هدایت او رحمت

لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝ قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ

د مومنانو دپاره | اووایه | په فضل | د الله | اوپه رحمت دهغهٔ | پس په دے | دِ خوشحاله شی دوی

اے پیغمبره! دوی ته اووایه چه دا د الله فضل اور حمت دے نو دوی له د الله په فضل اور حمت خوشحالیدل پکار دی

هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

دا | دیر غوره دی | دهغه څه نه | چه دوی ئے جمع کوی | اووایه | آیا فکر کړے دے تاسو | په هغه څه | چه الله لیږلے دے | الله

د دهغه څه تولو څیزونو نه بهتر دی چه دا خلق ئے جمع کوی. دوی ته اووایه چه لږ دار اته ووایئ چه الله تعالیٰ تاسو د پاره کوم حلال رزق

لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا ؕ قُلْ اٰٰللّٰهُ

تاسو د پاره | څه رزق | پس جوړوئ تاسو | د هغے نه | (څه) حرام | او (څه) حلال | اووایه | آیا الله

راليږلے دے او تاسو د خپل ځان نه په هغے کښ څه رزق حرام کړے دے او څه مو حلال کړے دے د دوی نه

اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ ۝ وَمَا ظَنُّ الَّذِيْنَ

اجازت کړے دے | تاسو ته | یا | په الله باندے | تاسو دروغ تړئ | او څه ګمان دے | د هغه خلقو

تپوس او کړه چه آیا الله تعالیٰ تاسو ته د دے د حرامولو حلالولو اجازت ورکړے دے نا بلکه تاسو په الله تعالیٰ باندے دروغ تړئ. او

يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ

چه تړی (جوړوی) | په الله باندے | دروغ | د ور ځے | د قیامت باره کښ | بیشکه | الله | د فضل خاوند دے

کوم خلق چه په الله تعالیٰ دروغ تړی د هغوی د قیامت د ور ځے په باره کښ څه خیال دے؟ یقیناً الله تعالیٰ خو

عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝ ع وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَاْنٍ

په خلقو باندے | لیکن | اکثر د دوی نه | شکر نه کوی | او نه ئے ته | په هیڅ حال کښ

په خلقو ډیر مهربان دے خو اکثر خلق ناشکره دی. او (اے پیغمبره!) ته چه په کوم حالت کښ هم ئے

وَّمَا تَتْلُوْا مِنْهُ مِنْ قُرْاٰنٍ وَّلَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ عَمَلٍ اِلَّا

او نه لولے ته | د هغه (الله) د طرف نه | څه قرآن | او نه کوئ تاسو | څه عمل | مګر

او یا د قرآن څهٔ حصه تلاوت کوے او (اے خلقو) تاسو چه څه عمل هم کوئ نو کله چه تاسو په هغے کښ

كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا اِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ ؕ وَمَا يَعْزُبُ

یُو مونږ | په تاسو باندے | خبردار (حاضر) | کله چه | مشغول ږئ تاسو | په هغے کښ | او نشی پټیدے

مشغول ږئ نو مونږ تاسو وینو کورو. او ستا د رب نه د ذرے برابر څیز هم نشی پټیدے

عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ

د رب ستا نه | په اندازه | د یوے ذرے | په زمکه کښ | او نه په آسمان کښ

نه په زمکه کښ او نه په آسمان کښ او نه د هغے (ذرے) نه وړوکے څیز او

وَلَآ اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ

او نه د ډیر وړوکے | د دے نه | او نه ډیر لوئے (د دے نه) | مګر (دی هغه) | په کتاب | څکاره کښ

نه لوئے مګر دا ټول په یَو واضحه کتاب (لوح محفوظ) کښ لیکلے دی

اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾

واورئ | بیشکه | دوستان | دالله | نه به وی څه یره | په دوی باندے | اونه به دوی | غمژن کیږی

یاد ساتئ چه دالله تعالی په دوستانو باندے به نه څه یره وی او نه به غمژن کیږی.

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيٰوةِ

داهغه خلق دی | چه ایمان ئے راوړے دے | او دوی | ځان ساتی د ګناه نه | دوی دپاره | زیرے دے | په ژوند

داهغه خلق دی چه ایمان ئے راوړے دے اوتقوی ئے اختیار کړے ده. د دوی دپاره د دنیا په ژوند کښ هم

الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

دنیوی کښ | اوپه آخرت کښ (هم) | نشته دے څه بدلون | خبرو | دالله لره | هم دا ده

اوپه آخرت کښ هم خوشخبری ده دالله تعالی په وعدو کښ هیڅ تبدیلی نه راځی هم دا ډیره

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۴﴾ وَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ اِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ

کامیابی | ډیره لویه | اوغمژن دے نه کړی تا | ددوی خبرے | بیشکه | عزت | دالله (په اختیار کښ) دے

لویه کامیابی ده. او (اے پیغمبره) ددے کافرانو خبرے دِ تاغمژن (خفه) نه کړی. یقین اوساته چه ټول عزت (غلبه)

جَمِيْعًا ؕ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۵﴾ اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ

ټول | هغه | اوریدونکے | پوهه دے | واورئ | بیشکه | دالله (په اختیار کښ دی) | هغه څوک

دالله دپاره ده (او) هغه هرڅه آوری په هرڅه پوهیږی. یاد اوساتئ چه په آسمانونو

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

چه آسمانونو کښ دی | اوهغه څوک | چه په زمکه کښ دی | اوتابعداری نه کوی | هغه خلق | چه رابلی

او ځمکه کښ چه څه دی هغه ټول دالله تعالی (په اختیار کښ) دی. او کوم خلق چه دالله تعالی نه سوا

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ

د الله نه سوا | شریکانو لره؟ | دوی تابعداری نه کوی | مګر | د ګمان | او نه دی دوی

نور شریکان رابلی هغوی د دلیل پیروی نه کوی، بلکه هغوی خو تش په ګمان پسے روان دی او صرف

اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۶۶﴾ هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا

مګر | اټکل پسے تلونکی | هم هغه ذات دے | چه جوړه کړے ئے ده | تاسو دپاره | شپه | چه آرام اوکړئ تاسو

اندازے لګوی. الله تعالی هغه ذات دے چه تاسو له ئے شپه تیاره جوړه کړے ده چه آرام پکښ اوکړئ اوورځ ئے

فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۶۷﴾

په هغے کښ | او ورځ | روښانه | بیشکه | په دے کښ | خامخا نښے دی | دپاره د هغه قوم | چه غوږ اږدی

روښانه جوړه کړے ده چه تاسو پکښ فضل طلب کړئ. یقیناً په دے کښ د هغه خلقو دپاره نښے دی چه په غور سره خبره آوری.

قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ الْغَنِيُّ ؕ لَهٗ مَا

وائی دوی | نیولے دے | الله | څوئی | پاک دے هغه | هغه | بے نیازه دے | خاص د هغه (په اختیار کښ) دی | هغه څه

دا مشرکان وائی چه الله تعالی څوئے (نائب) نیولے دے. الله تعالی پاک دے هغه د هر څیز نه بے نیاز (بے حاجته) دے

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ اِنْ عِنْدَكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ

چه په آسمانونو کښ دی | او هغه څه | چه په زمکه کښ دی | نشته دے تاسو سره | څه دليل

او آسمانونو او زمکه کښ چه څه دی ټول دهغه (په اختيار کښ) دی تاسو سره په دے خبره هيڅ دليل نشته

بِهٰذَا ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ قُلْ اِنَّ

په دے باندے | آيا تاسو وايئ | په الله باندے | هغه څه | چه تاسو نه پوهيږئ په هغے | اووايه | (چه) بيشکه

آيا تاسو په الله تعالى باندے هغه څه وايئ چه تاسو سره ئے علم نشته ـ ته ورته اووايه چه يقيناً

الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾ ؕ مَتَاعٌ

هغه خلق | چه ترې | په الله باندے | دروغ | کاميابي نشي موندلے | لږه فائده ده

کوم خلق چه په الله تعالى باندے دروغ ترې هغوى کاميابيدے نشي . د دوى دپاره

فِي الدُّنْيَا ثُمَّ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيْقُهُمُ الْعَذَابَ

په دنيا کښ | بيا | مونږ ته | واپس راتلل ددوى دى | بيا به | اوځکوو مونږ دوى ته | عذاب

په دنيا کښ لږے مزے دى بيا هم زمونږ طرف ته ددوى راتلل دى بيا به مونږ دوى ته د دوى

الشَّدِيْدَ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿۷۰﴾ ع وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ نُوْحٍ ۘ

سخت | په دے وجه | چه دوى به | کفر کولو | او اولوله | په دوى باندے | خبر | د نوح

د کفر په وجه د سخت عذاب خوند اوځکوو او (اے پيغمبره!) دوى ته د نوح واقعه (حالات) بيان کړه

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكُمْ مَّقَامِيْ

کله چه | اوويل هغه | قوم خپل ته | اے زما قومه! | که چرے وى | گران | په تاسو باندے | او دريدل زما

کله چه هغه خپل قوم ته اوويل چه اے زما قوم خلقو! که په تاسو کښ زما پاتے کيدل (اوسيدل) او د الله تعالى په آيتونو

وَتَذْكِيْرِيْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَعَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ فَاَجْمِعُوْٓا

او نصيحت کول زما | په آيتونو | د الله | نو په الله باندے | ما توکل کړے دے | پس رايوځائے کړئ

سره تاسو ته زما نصيحت کول په تاسو گران (بد) لگى او زما د تکليف قصد مو کړے وى نو ما په الله تعالى څان سپارلے دے

اَمْرَكُمْ وَشُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُنْ اَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً

تدبير خپل | او شريکان خپل | بيا دے | نه وى | کار ستاسو | په تاسو باندے | پټ

نو (اوس) تاسو ټول د خپلو شريکانو سره زما خلاف خپل تدبيرونه نبه کلک کړئ او بيا دے ستاسو تدبير په تاسو پټ پاتے نه شى

ثُمَّ اقْضُوْٓا اِلَيَّ وَلَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۷۱﴾ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَاَلْتُكُمْ

بيا | واوروئ فيصله | ما ته | او مهلت مه را کوئ ما ته | پس که چرے | مخ اړوئ تاسو | نو ما نه ده غوښتلے تاسو نه

او بيا زما خلاف په کولو زړه خپله فيصله واوروئ او هيڅ مهلت مه را کوئ . بيا هم که تاسو مخ واړولو نو ما تاسو نه

مِّنْ اَجْرٍ ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۙ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ

څه مزدورى | نه ده زما مزدورى | مګر | په الله | او ما ته حکم شوے دے | چه زه شم

هيڅ اجرت نه دے غوښتلے . زما اجر خو صرف الله تعالى په خپله ذمه اخستلے دے او ما ته دا حکم شوے دے چه زه

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ فَكَذَّبُوْهُ فَنَجَّيْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ

د مسلمانانو نه | پس حوی دروغژن اوګنړلودے | نو بچ کړو مونږ دے | اوهغه څوک | چه ددهٔ سره وو | په کشتئ کښ
په فرمانبردارو کښ شامل شم. بیا اوشوه داچه خلقونوحؑ دروغژن اوګنړلو نو مونږ هغه اوخوک چه ورسره په کشتئ کښ وو

وَجَعَلْنٰهُمْ خَلٰٓئِفَ وَاَغْرَقْنَا الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ

او کړل مونږ دوی | جانشینان | اوغرق کړل مونږ | هغه څوک | چه دروغژن ګنړلی وو | آیتونه زمونږ
بچ کړل او هغوی مو دزمکې آبادونکی جوړ کړل او چا چه زمونږ آیتونه دروغژن ګنړلی وو هغه مو غرق کړل

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ۝ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ

نو اوګوره | څنګه | شو | انجام | د یرولو شوو خلقو | بیا | راولیږل مونږ | وروستو دده نه
نو اوس اوګوره چه کوم خلق یرولی شوی وو د هغوی انجام څنګه شو؟ بیا دهغه نه پس مونږ (مختلف)

رُسُلًا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا

پیغمبران | خپلو قومونو ته | پس راوړی وودوی هغوی ته | ښکاره دلیلونه | پس نه ووهغوی | چه ایمان ځواړے وے
پیغمبران خپلو خپلو قومونو ته ولیږل نو هغوی خپلو قومونو ته ښکاره دلیلونه پیش کړل خو هغه خلقو

بِمَا كَذَّبُوْا بِهٖ مِنْ قَبْلُ ۭ كَذٰلِكَ نَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِ

په هغه څه | چه دروغ ګنړلی ووهغوی | هغے لره | مخکے ددینه | دغه شان | مونږ مهر لګوو | په زړونو
چه کومه خبره په اول ځل دروغ ګنړلے وه په هغے ئ بلکل ایمان رانهٔ وړو. هم دغه شان کوم خلق چه

الْمُعْتَدِيْنَ ۝ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ مُّوْسٰى وَهٰرُوْنَ

دحدنه اوړیدونکو باندے | بیا | اولیږل مونږ | وروستو ددوی نه | موسیٰؑ | او هارونؑ
دحد نه اوړی د هغوی په زړونو مونږ مهر لګوو. بیا ددوی نه پس مونږ موسیٰ علیه السلام او هارون علیه السلام

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ بِاٰيٰتِنَا فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا

فرعون | اودهغه سردارانو ته | په نخښو خپلو سره | نوځان غټ وګنړلو دوی | اووو دوی | قوم
فرعون اودهغه سردارانو ته دخپلو نخښو (آیتونو) سره اولیږل نو هغوی تکبر اوکړو او دغه

مُّجْرِمِيْنَ ۝ فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْٓا اِنَّ

مجرمان | پس هرکله | چه راغے دوی ته | حق | زمونږ د طرف نه | نو اوویل دوی | بیشکه
مجرمان خلق وو. نو هرکله چه ورته زمونږ د طرف نه حق راغلو نو هغوی اوویل چه یقیناً

هٰذَا لَسِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ قَالَ مُوْسٰٓى اَتَقُوْلُوْنَ لِلْحَقِّ لَمَّا

دا (خو) | خامخا جادو دے | ښکاره | اوویل | موسیٰؑ | آیا تاسو وایئ | حق ته (جادو) | کله چه
دا خو خامخا ښکاره جادو دے. موسیٰؑ ورته وویل چه آیا تاسو د هغه حق بارہ کښ دا سے خبره کوئ چه کله

جَآءَكُمْ ۭ اَسِحْرٌ هٰذَا ۭ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُوْنَ ۝ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا

راغے تاسو ته | آیا جادو دے | دا | اونشی کامیابیدے | جادوګران | اووایل دوی | آیا ته راغلے مونږ ته
راغے تاسو ته. آیا دا جادو دے؟ حالانکه جادوګران خو کامیابیدے نشی. هغوی اووایل چه آیا ته مونږ ته

لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا وَتَكُوْنَ لَكُمَا

چه ته واړوے مونږ | دهغه څه نه | چه مونږ لې دی مونږ | په هغے باندے | خپل پلار نیکه | او (چه) څې | ستاسو د دواړو

د دے دپاره راغلے ئے چه مونږ په کومه طریقه خپل پلار نیکه مونږ لې دی د هغے نه مو واړوے او په دے

الْكِبْرِيَآءُ فِي الْاَرْضِ ؕ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِيْنَ ۝٧٨ وَقَالَ

سرداری (بادشاهی) | په زمکه کښ | او نه یُو مونږ | په تاسو دواړو | ایمان راوړونکی | او وویل

زمکه ستاسو د دواړو مشری قائم شی مونږ خو ستاسو خبره بلکل نه منو۔ او فرعون (خپلو نوکرانو ته)

فِرْعَوْنُ ائْتُوْنِيْ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيْمٍ ۝٧٩ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ

فرعون | راوړئ ماته | هر یَو | جادوګر | پوهه | پس هرکله | چه راغلل | جادوګران

اووایل چه څومره ماهره جادوګران دی هغه ټول ماله راوړئ۔ نو (بس) کله چه جادوګران راغلل نو موسیٰ

قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ۝٨٠ فَلَمَّآ اَلْقَوْا

اووایل | دوی ته | موسیٰ | اوغورځوئ | هغه څه | چه تاسو | غورځونکی یئ | پس هرکله | چه اوغورځول دوی

ورته اووایل چه تاسو چه څه پیش کول غواړئ هغه راسیدان ته کړئ. هرکله چه هغوی (خپل پرې او هسا ګانے)

قَالَ مُوْسٰى مَا جِئْتُمْ بِهِ ۙ السِّحْرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَيُبْطِلُهٗ ؕ

اووایل | موسیٰ | څه چه | راوړی دی تاسو | هغه خو | جادو دے | بیشکه | الله به | اوس ختم کړی دے لره

اوغورځولے نو موسیٰ ورته اووایل دا تاسو چه څه پیش کړل دا خو جادو دے یقیناً الله تعالیٰ به اوس دا ختم کړی

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝٨١ وَيُحِقُّ اللّٰهُ الْحَقَّ

بیشکه | الله | نه سموی | کار | د فساد خورونکو | او ښکاره کوی | الله | حق

یقیناً الله تعالیٰ د فساد خورونکو کار نه سموی۔ او الله تعالیٰ په خپل حکم سره حق رشتیا ښکاره کوی

بِكَلِمٰتِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝٨٢ فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰٓى اِلَّا ع

په خپلو حکمونو سره | اګر که | بد ګڼړی | مجرمان | پس ایمان راوړنه وړو | په موسیٰ باندے | مګر

اګر که د مجرمانو خوښه نه وی. نو بس په موسیٰ باندے صرف د خپل قوم یو څو ځوانانو

ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ

څه ځوانانو | د هغه د قوم نه | سره د یرے | د فرعون نه | او د هغوی د سردارانو نه

د فرعون او د هغه د سردارانو نه د یرے باوجود ایمان راوړو چه چرته فرعون ئے

اَنْ يَّفْتِنَهُمْ ؕ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِي الْاَرْضِ ۚ وَاِنَّهٗ

چه په فتنه کښ به واچوی هغه دوی | او بیشکه | فرعون | خامخا زور ور وو | په ځمکه کښ | او بیشکه هغه وو

په تکلیف نه کړی او یقیناً فرعون په زمکه کښ ډیر زور ور وو او ډیر زیاتے به ئے کولو.

لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ ۝٨٣ وَقَالَ مُوْسٰى يٰقَوْمِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ

د حد نه د اوړیدونکو نه | او وویل | موسیٰ | اے زما قومه! | که چرے تاسو | ایمان راوړے وی

او موسیٰ (خپل قوم ته اووایل) اے زما قومه! که تاسو واقعی په الله تعالیٰ ایمان لرئ

بِاللّٰهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّسْلِمِيْنَ ۝٨٤ فَقَالُوْا

په الله باندے | نوپه هغه باندے | توکل اوکړئ | که چرے ئے تاسو | مسلمانان | نو وویل دوی

نوهم په هغه باندے مونږ توکل کړے دے | اے زمونږ ربه! | ته مه جوړوه مونږ | ازمائش | دپاره د قوم

په جواب کښ اوویل هم په الله باندے مونږ ځان سپارلے دے اے زمونږ ربه! مونږ د ظالم خلقو دلاسه

عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ

الظّٰلِمِيْنَ ۝٨٥ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝٨٦ وَاَوْحَيْنَآ

ظالمانو | اوبچ کړه مونږ | په خپل رحمت سره | د قوم | کافرانو نه | اووحی اوکړه مونږ

په ازمیښت کښ مه اچوه او په خپل رحمت مو د کافرانو خلقو نه خلاص کړے. او مونږ

اِلٰى مُوْسٰى وَاَخِيْهِ اَنْ تَبَوَّاٰ لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوْتًا

موسیٰ ته | او ورور دهغهٔ ته | چه تاسو جوړ کړئ | د خپل قوم دپاره | په مصر کښ | کورونه

موسیٰ او د هغه ورور ته وحی وکړه چه تاسو د خپل قوم دپاره په مصر کښ کورونه جوړ کړئ

وَّاجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قِبْلَةً وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۭ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝٨٧

او جوړ کړئ | کورونه خپل | دعبادت ځایونه | اوپابندی کوئ | د مانځه | اوزیرے ورکړه | مومنانو ته

او خپل کورونه د مانځه ځایونه کړئ او (دغه شان) د مونځ پابندی کوئ. او مومنانو ته زیری ورکړه۔

وَقَالَ مُوْسٰى رَبَّنَآ اِنَّكَ اٰتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَاَهٗ زِيْنَةً

او اوویل | موسیٰ | اے ربه زمونږ | بیشکه ته | تاورکړی دی | فرعون | اوسردارانو دهغهٔ ته | ښائست

او موسیٰ (په دعاء کښ) اوویل اے زمونږ ربه! یقیناً تا فرعون او د هغه سردارانو ته د دنیا په ژوند کښ ډیر

وَّاَمْوَالًا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ رَبَّنَا لِيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِكَ ۚ

او مالونه | په ژوند | دنیوی کښ | اے ربه زمونږ! | چه دوی گمراه کړی (خلق) | ستا د لارے نه

د ښائست سامان او مال او دولت ورکړے دے. اے زمونږ ربه! (نتیجه ئے دا شوه) چه (اوس) دوی ستا د لارے نه

رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰٓى اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ

اے ربه زمونږ | تباهی راوله | په مالونو د دوی باندے | او سختی راوله | په زړونو د دوی باندے

خلق گمراه کوی اے زمونږ ربه! د دوی دا مال دولت برباد کړه او زړونه ئے دومره کلک کړه چه تر هغه وخته پورے

فَلَا يُؤْمِنُوْا حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝٨٨ قَالَ قَدْ اُجِيْبَتْ

نوچه دوی ایمان رانه وړی | تر دے | چه اووینی | عذاب | دردناک | اووایل (الله) | یقیناً | قبوله کړے شوه

ایمان رانه وړی تر څو چه دردناک عذاب په خپلو سترګو ونه وینی. الله تعالیٰ ورته اوفرمایل چه یقیناً

دَّعْوَتُكُمَا فَاسْتَقِيْمَا وَلَا تَتَّبِعٰٓنِّ سَبِيْلَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٨٩

ستاسو دواړو دعا | نوتاسو دواړه کلک اوسئ | او مه ځئ | په لاره | د هغه خلقو | چه علم نه لری

ستاسو دعاء قبوله شوه نو اوس تاسو کلک اوسئ (اوتلوار مه کوئ) او هغه چلسے مه ځئ چه په حکمت د مهلت ورکولو نه پوهیږی.

وَجٰوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُوْدُهٗ

اوپورے ویستل مونږ | بنی اسرائیل | د دریاب نه | نو دوی پسے شو | فرعون | اودهغه لښکرے

او مونږ بنی اسرائیل د سمندر نه پورے ویستل نو فرعون او د هغه لښکرے هم

بَغْيًا وَّعَدْوًا ؕ حَتّٰٓى اِذَآ اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ ۙ قَالَ اٰمَنْتُ

دوے د ضد | او دشمنئ نه | تردے | چه کله | راګیر کړوده لره | دوبیدو | نووئ ویل | چه ما ایمان راوړو

د ظلم او د زیاتی په نیت هغوی پسے (روان) شو تردے چه فرعون په دوبیدو شو نو وئ ویل چه ما ومنله

اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ

چه بیشکه | نشته دے | هیڅ څوک لائق دعبادت | سوا | دهغه ذات نه | چه ایمان راوړے دے | په هغه باندے

چه په کوم الله د بنی اسرائیلو ایمان دے د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د بندګئ لائق (معبود) نشته

بَنُوْٓا اِسْرَآءِيْلَ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۝ آٰلْـٰٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ

بنی اسرائیلو | اوزه (هم) یم | د مسلمانانو نه | آیا اوس؟ | حال دادے چه | تانافرمانی کړے ده

اوزه هم په مسلمانانو (فرمانبردارو) کښ شامل یم. (نو ورته اووئیلے شو چه) آیا اوس ایمان راړئ حالانکه

قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ فَالْيَوْمَ نُنَجِّيْكَ بِبَدَنِكَ

مخکے ددینه | اووے ته | د مفسدانو نه | پس نن به | نجات درکړو مونږ | ستابدن ته

د دے نه مخکے خو تانافرمانی کوله او فساد دے خورولو. نو نن به مونږ ستابدن بچ اوساتو

لِتَكُوْنَ لِمَنْ خَلْفَكَ اٰيَةً ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ

چه ته شے | دهغه چادپاره | چه تانه وروستو راتلونکی دی | یوه نخښه | اوبیشکه | ډیر | خلق

چه ته د وروستو خلقو دپاره د عبرت یوه نخښه پاتے شی (ځکه چه) ډیر خلق

عَنْ اٰيٰتِنَا لَغٰفِلُوْنَ ۝ ع وَلَقَدْ بَوَّاْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مُبَوَّاَ

د آیتونو زمونږ نه | خامخا بے خبره دی | او یقیناً | مونږ ځائے ورکړے وو | بنی اسرائیلو ته | ځائے

زمونږ د آیتونو نه غافل (بے پروا) دی. او یقیناً مونږ بنی اسرائیلو ته ډیر ښائسته ځائے ورکړے وو

صِدْقٍ وَّرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚ فَمَا اخْتَلَفُوْا حَتّٰى

مزیدار (غوره) | اوروزی ورکړے وه مونږ دوی ته | د پاکیزه څیزونو نه | پس دوی اختلاف اونه کړو | تردے

او پاکیزه روزی موورکړے وه نو بیا دوی تر هغے پورے اختلاف اونه کړو تر څوچه دوی ته

جَآءَهُمُ الْعِلْمُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

چه راغلے دوی ته | علم | بیشکه | ستارب به | فیصله اوکړی | ترمینځه ددوی | په ورځ | د قیامت

علم نه وو راغلے. یقین اوسائ چه دوی په کوم خبرو کښ اختلاف کړے دے د هغے فیصله به

فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝ فَاِنْ كُنْتَ فِيْ شَكٍّ مِّمَّآ

په هغه څه کښ | چه دوی به | په هغے کښ | اختلاف کولو | پس که چرے | ته ئے | په شک کښ | د هغه کتاب نه

د قیامت په ورځ ستارب اوکړی. پس (اے پیغمبره!) که (بالفرض) ستا په هغه کلام کښ شک وی کوم چه

اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ فَاسْئَلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ

چه رالیږلے مونږ | تاته | نوتپوس اوکړه | دهغه خلقونه | چه لوستلو ئے | کتاب | مخکے ستا نه

مونږ تاته نازل کړے دے نو دهغه خلقو نه تپوس اوکړه چه ستا نه مخکے ئے کتابونه لوستل

لَقَدْ جَآءَكَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ۝۹۴

یقیناً | راغلے دے تاته | حق | ستا درب دطرف نه | نو مه کیږه ته | د شک کوونکو نه

یقین اوساته چه تاته دخپل رب دطرف نه (هم) حق راغلے دے نو هیڅ کله شکمنو خلقو کښ مه شاملیږه۔

وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَتَكُوْنَ

او مه کیږه ته | د هغه خلقونه | چه دروغ ګڼري | آیتونه | د الله | ګنې شے به ته

اوته په هغه خلقو کښ مه شاملیږه چه د الله تعالیٰ آیتونه دروغ ګڼري ګنې تاوانی به شے۔

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝۹۵ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ

د تاوانیانو نه | بیشکه | هغه خلق | چه ثابت شوے ده | په هغوی باندے | فیصله | درب ستا

یقیناً د کومو خلقو په باره کښ چه ستا د رب فیصله ثابته شوے ده هغوی

لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۹۶ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ

ایمان نه راوړی | اګر که | راشی دوی ته | هره | نخښه | تردے | چه اوویني دوی | عذاب

ایمان نه راوړی اګر که هر قسم نخښے ورته (مخے ته) راشی تر څو چه دردناک عذاب اونه وینی۔

الْاَلِيْمَ ۝۹۷ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ اٰمَنَتْ فَنَفَعَهَآ اِيْمَانُهَآ

دردناک | پس ولے نه وو | یو کلے | چه ایمان ئے راوړے وے | پس چه فائده ورکړے وے هغے ته | ایمان خپل

نو داسے یو مثال نشته چه یو کلی والو ته د عذاب لیدو نه پس ایمان راوړلو فائده ورکړی وی

اِلَّا قَوْمَ يُوْنُسَ ؕ لَمَّآ اٰمَنُوْا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ

سوا | د قوم | د یونس نه | هرکله چه | ایمان راوړو هغوی | نولرے کړو مونږ | د هغوی نه | عذاب | د رسوایئ

سوا د یونس د قوم نه چه کله هغوی ایمان راوړو نو مونږ ترے نه د دنیا په ژوند د رسوایئ عذاب لرے کړو

فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ۝۹۸ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ

په ژوند | دنیوی کښ | اوفائده ورکړه مونږ هغوی ته | څه وخته پورے | اوکه چرے | غوښتلے | رب ستا

او څه وخته پورے مو ورله فائده ورکړه . او که ستا رب غوښتلے

لَاٰمَنَ مَنْ فِى الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا ؕ اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ

نو خامخا به ایمان راوړے وے | هغه چا | چه په زمکه کښ دی | ټولو | په یو ځای | آیا پس ته | مجبوره کوے

نو د زمکے په مخ (موجود) ټولو خلقو به ایمان راوړے وے. آیا نو ولے ته په خلقو زور کولے شے

النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝۹۹ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تُؤْمِنَ

خلق | تردے | چه شی دوی | مومنان | او نه ده (ممکن) | دیو کس دپاره | چه ایمان راوړی

چه ایمان راوړی او دهیڅ د کس دپاره دا ممکن نه دی چه د الله تعالیٰ د اجازت نه بغیر ایمان راوړی او څوک چه

اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ۝۱۰۰

مگر | په حکم | دالله | اوږدی هغه (الله) | پلیتی | په هغه خلقو | چه عقل نه لری

په حق باندے دپوهیدلو دپاره دعقل نه کارنه اخلی نو الله تعالی په هغوی باندے پلیتی دشرک او کفر غورځوی.

قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ

اووایه | اوګورئ | چه څنګه دلیلونه دی | په آسمانونو | اوپه زمکه کښ | او فائده نه ورکوی | نخښے

اے پیغمبره ادوی ته اووایه لږ اوګورئ چه په اسمانونو اوزمکه کښ څه څه دلیلونه دتوحید موجود دی خو کوم خلق چه

وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝۱۰۱ فَهَلْ يَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا مِثْلَ

او ویرے | هغه خلقو ته | چه ایمان نه راوړی | پس دوی انتظار نه کوی | مګر | پشان

ایمان نه راوړی هغوی ته نخښے او ویرول هیڅ فائده نه ورکوی، نو آیا اوس دوی دهغے عذابونو

اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ قُلْ فَانْتَظِرُوْا اِنِّيْ

دورځو | دهغه خلقو | چه تیر شوی دی | مخکے د دوی نه | اووایه | پس انتظار کوئ | بیشکه زه (هم)

انتظار کوی کوم چه په پخوا نو خلقو راغلے وو، ورته اووایه چه تاسو هم انتظار کوئ او زه هم

مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ۝۱۰۲ ثُمَّ نُنَجِّيْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

تاسو سره | د انتظار کوونکو نه یم | بیا بچ کړل مونږ | پیغمبران خپل | اوهغه خلق | چه ایمان ئې راوړے وو

تاسو سره انتظار کوم. بیا (کله چه عذاب راغے) نو مونږ خپلو پیغمبرانو ته او مومنانو ته نجات درکړو

كَذٰلِكَ ۚ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۰۳ ع قُلْ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ

دغه شان | حق دی | په مونږ باندے | چه بچ کړو مونږ | مومنان | اووایه | اے خلقو!

اودغه شان مونږ دا خبره په خپله ذمه اخستلے ده چه مومنانو ته به نجات ورکوو. اے پیغمبره! (دے خلقو ته) اووایه

اِنْ كُنْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِيْ فَلَاۤ اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ

که چرے | تاسو یئ | په شک کښ | زما د دین نه | نوزه عبادت نه کوم | د هغه چا | چه تاسو ئے عبادت کوئ

چه اے خلقو! که (اوس هم) زما دین په باره کښ ستاسو څه شک وی نو (واورئ) تاسو چه د الله نه سوا

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ ۚ

سوا | د الله نه | لیکن | زه عبادت کوم | یوا ځے د الله | هغه ذات | چه مرګ راولی په تاسو

د چا عبادت کوئ زه د هغوی عبادت نه کوم بلکه زه خو د هغه الله عبادت کوم چه په تاسو مرګ راولی

وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝۱۰۴ وَاَنْ اَقِمْ وَجْهَكَ

اوماته حکم شوے دے | چه زه شم | د مومنانو نه | او دا چه | برابر کړه | خپل مخ

اوماته حکم شوے دے چه زه دے په مومنانو کښ شامل یم او دا (حکم راته شوے دے) چه خپل ځان

لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ۚ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝۱۰۵ وَلَا تَدْعُ

دین ته | په حال سره کښ چه کلک ئې په توحید | او مه کیږه ته | د مشرکانو نه | او مه بله

د دین طرف ته یو مخیز کړه، او په مشرکانو کښ مه شامل کیږه او د الله تعالی نه سوا هغه څوک مه را بله

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ ۚ فَاِنْ فَعَلْتَ

سوا د الله نه | هغه څوک | چه فائده ځنې در کولے ټاته | اونه نقصان در کولے شي ټاته | پس که چرے | اوکړو تا (داکار)

چه نه څه فائده در کولے شي او نه څه نقصان (تکليف) که (بالفرض) دا سے دے اوکړل

فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ

نو بيشکه ـے ظالمانو نه | اوکه چرے | اورسوی تاته | الله | څه تکليف

نو په ظالمانو (مشرکانو) کښ به شمار شے۔ اوکه الله تعالیٰ درته څه تکليف دراورسوی

فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ۚ وَاِنْ يُّرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَآدَّ

نونشته هيڅوک لرے کونکے | دهغے | سوا | دهغه نه | اوکه چرے | رسول غواړی هغه ټاته | دځه خير | نونشته څوک واپس کوونکے

نو دهغه نه سوا بل هيڅ څوک (ـۍ درنه) لرے کولے نشي او که هغه درته څه خير (ښيګړه) رسول غواړی

لِفَضْلِهٖ ۭ يُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَاۗءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۭ وَهُوَ الْغَفُوْرُ

فضل دهغهٔ لره | رسوی هغه | دا (فضل) | چاته | چه اوغواړی | د بندګانو خپلو نه | او هغه | بخښونکے

نو هيڅ څوک دهغه فضل واپس (رد) کولے نشي هغه خپل فضل په خپلو بندګانو کښ چاته چه اوغواړی رسوی يې

الرَّحِيْمُ ۝ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاۗءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ

مهربان دے | اووايه | اے خلقو! | يقيناً | راغلے دی تاسوته | حق | ستاسو درب د طرف نه

اوهغه ډير بخښونکے ډير مهربان دے۔ (اے پيغمبره!) اووايه چه اے خلقو تاسوته د خپل رب د طرف نه حق راغلے دے

فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا

پس څوک | چا چه هدايت حاصل کړو | نو بيشکه | هغهٔ هدايت حاصل کړو | د خپل ځان ډپاره | اوڅوک چه | بلارے شو | نو بيشکه

اوس څوک چه سمه لار (د هدايت لار) اختيار کړی نو د خپلے فائدے ډپاره به ـۍ اختيار کړی اوڅوک چه ګمراهی

يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ۝ وَاتَّبِعْ مَا

هغه ـے بلارے شو | په خپل ځان باندے | اونه يم زهٔ | تاسو باندے | ذمه وار (نګهبان) | اوروان اوسه ته | په هغه څه پسے

اختيار کړی نو د ګمراهئ نقصان به هم ده ته رسی. اوزه ستاسو څه ذمه وار خو نه يم او کومه وحی چه تاته کيږی هغے پسے

يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَاصْبِرْ حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ۝

چه وحی ـے کولے شي | تاته | او صبر کوه | تر دے | چه فيصله اوکړی | الله | او هغه | د تولونه ښه | فيصله کوونکے دے

روان اوسه او صبر نه کار واخله تر دے چه الله تعالیٰ څه فيصله اوکړی او هغه د تولونه ښهٔ فيصله کوونکے دے

ايآتها [۱۲۳]	سورة هود مكّيّة	ركوعاتها [۱۰]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډير مهربان | زيات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓرٰ ۟ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ

الٓرٰ | دا کتاب دے | چه محکم کړے شوی دی | آیتونه دے | بیا | په تفصیل سره بیان کړے شوی | د طرفه

الف لام را، دا هغه کتاب دے چه آیتونه ئے مضبوط کړے شوی دی بیا دیو دا سے ذات د طرف نه په تفصیل سره

حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ۙ﴿۱﴾ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنَّنِيْ لَكُمْ مِّنْهُ

د حکمت والا | خبردار ذات نه | چه عبادت مه کوئ تاسو | سوا | د الله نه | بیشکه زه یم | تاسو د پاره | د هغه د طرف نه

بیان کړے شوی دی چه د حکمت مالک دے او دهر ے خبر ے نه خبر دے (دا کتاب دا حکم کوی) چه د الله تعالیٰ نه سوا

نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ ۙ﴿۲﴾ وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ

یرووونکے | او زیری ورکووونکے | او دا چه | بخښنه او غواړئ | د رب خپل نه | بیا | توبه او باسئ | هغه ته

د بل چا بندگی (عبادت) مه کوئ، زه د هغه د طرف نه تاسو د پاره یرونکے او زیرے د رکووونکے یم۔ او دا چه د خپل رب نه بخښنه

يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّيُؤْتِ كُلَّ

د ربه کړی تاسو ته | فائده | ښائسته | تر نیټے | مقرر ے پورے | او ورکړی | هر

وغواړئ بیا هغه ته رجوع او کړئ نو هغه به د ر له یو مقرر وخته پورے د ژوند ښه ساز و سامان در کړی او ښه عمل

ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

نیک عمل والا ته | غوره بدله خپله | او که چرے | مخ واړولو تاسو | نو بیشکه زه | یَریږم | په تاسو باندے

کوونکو ته به زیات ثواب ورکړی او که تاسو مخ واړولو نو زه په تاسو د یو ے لوئے ور ځے

عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ﴿۳﴾ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

د عذاب | د ور ځے | لوئے نه | هم د الله طرف ته | ستاسو واپس تلل دی | او هغه | په هر

د عذاب نه یریږم، هم د الله تعالیٰ طرف ته ستاسو واپس تلل دی او هغه په هر څیز باندے

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا

څیز باندے | قادر دے | خبردار (واورئ) | بیشکه دوی | را نغاړی | سینے خپلے | چه پټ شی دوی

قادر دے، واوره دا کافران خپلے سینے ستاسو په دشمنئ را نغاړی چه د الله تعالیٰ نه پټ شی (خو) یاد ساتئ

مِنْهُ ؕ اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ ۙ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ

د هغه نه | خبردار | کله چه | دوی اغوندی | جامے خپلے | پوهیږی هغه (الله) | په هغه څه | چه دوی ئے پټوی

کله چه دوی خپلے جامے په ځان را اچوی نو الله تعالیٰ ته هغه خبر ے هم معلوم دی چه دوی ئے پټوی

وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۚ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۵﴾

او په هغه څه | چه دوی ئے ښکاره کوی | بیشکه هغه | پوهه دے | په رازونو | د سینو

او هغه هم چه دوی ئے ښکاره کوی، یقیناً هغه د زړونو په رازونو خبردار دے۔

وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ

اونشته دے | هیڅ یو زنده سر | په زمکه کښ | مګر | په الله باندے ده | روزی دهغه | او پیژنی الله
او د زمکے په مخ دهر ژوندی څیز روزی الله تعالیٰ په خپله ذمه اغستلے ده او هغه ته د هر یو څیز د

مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ؕ كُلٌّ فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ۝۶ وَهُوَ

ځائے د آرام دهغے | اودسائنے ځائے دهغے | (دا) ټول (هر څه) | په کتاب | ښکاره کښ دی | اوهم هغه
مستقل اودسائنے دهغهٔ عارضی داوسیدو ځائے هم معلوم دے هره خبره په یو واضحه کتاب (لوح محفوظ) کښ لیکلے ده.

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ وَّكَانَ

هغه ذات دے | چه پیدا کړی ئے دی | اسمانونه | او زمکه | په شپږو | ورځو کښ | اوو
او الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه اسمانونه او زمکه ئے په اندازه د شپږو ورځو کښ پیدا کړل اودهغه

عَرْشُهٗ عَلَى الْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَلَئِنْ

عرش دهغه | په اوبو باندے | چه اوازمائی تاسو | چه کوم یو په تاسو کښ | ډیر ښه | عمل والا دے | او که چرے
عرش (ددے نه ورانده ے) په اوبو باندے و چه ستاسو ازمیښت او کړی چه څوک په تاسو کښ ښهٔ عمل والا دے

قُلْتَ اِنَّكُمْ مَّبْعُوْثُوْنَ مِنْۢ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُوْلَنَّ

ته اووائے | چه بیشکه تاسو به | پورته کولے شئ | پس د مرګ نه | نو خامخا به اووائی
او که ته دے خلقو ته اووائے چه تاسو به د مرګ نه پس بیا راژوندی کیږئ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۷ وَلَئِنْ

هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | (چه) نه دے دا | مګر | جادو | ښکاره | او که چرے
نو کافران به خامخا وائی چه دا خو ښکاره دروغ دی او که چرے

اَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ اِلٰٓى اُمَّةٍ مَّعْدُوْدَةٍ لَّيَقُوْلُنَّ

روستو کړو مونږ | ددوی نه | عذاب | تر یو موده | شمیر لے شوے پورے | نو خامخا به دوی وائی
مونږ ددوی نه څه وخته پورے د دنیا عذاب لرے کړو نو دوی به وائی چه

مَا يَحْبِسُهٗ ؕ اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ

څه څیز | بند کړو داعذاب | خبردار | په کومه ورځ | چه راشی په دوی (عذاب) | (نو) نه به شی | واپس کولے | د دوی نه
آخر څه څیز داعذاب بند کړے دے؟ خبردار په کومه ورځ چه داعذاب دوی ته راشی نو د دوی نه به وانهٔ روے شی

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝۸ ع وَلَئِنْ

او راګیر به کړی | دوی | هغه (عذاب) | چه دوی | ورپورے | ټوقے کولے | او که چرے
هغه عذاب اوپه کوم عذاب پورے چه به دوی خندا کوله هغه به ترے چاپیره (راتاؤ) شی ـ او که

اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنٰهَا مِنْهُ ۚ

اوځکوو مونږ | انسان ته | د خپل طرف نه | څه رحمت | بیا | لرے کړو مونږ هغه (رحمت) | د ده نه
مونږ یو انسان ته د خپل طرف نه د څه نعمت خوند ورکړو او بیا ئے ترے نه واخلو

اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ ۝ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ

نویشکه شی دے | دیر ناامیده | دیر ناشکره | اوکه چرے | اوځکوؤ مونږ ده ته | نعمتونه | پس د تکلیف نه

نود ے (هغه وخت) دیر ناامیده او ناشکره جوړ شی. اوکه چرے مونږ د ده ته د تکلیف رسیدونه پس د څه نعمت

مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ ؕ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ

چه رسید لے وی هغه | نوخامخا دے وائی | (چه) لاړل | تکلیفونه | زمانه | یقیناً دے | دیر خوشحاله

خوند ور کړو نو دے بیا وائی چه ټول تکلیفونه زمانه لرے شو په دغه وخت کښ دے دیر غاوره

فَخُوْرٌ ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ

اوفخر کوونکے وی | مګر | هغه خلق | چه صبر ے اوکړو | اوعمل ے اوکړو | نیک | هم داخلق

(خوشحاله) اوفخر کوونکے وی. البته چه کوم خلق د صبر نه کار اخلی او نیک عملونه کوی (هغوی داسے نه دی)

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ۝ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ

د ده وی دپاره | بخښنه | او اجر | دیر لوے دے | پس شاید چه ته | پریښودونکے ے | بعضے

هغوی د پاره بخښنه او لوے اجر هم دے. بیا (نو) اے پیغمبره ا تا ته چه کومه وحی کیږی ایا دا ممکنه ده

مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ وَضَآئِقٌ بِهٖ صَدْرُكَ اَنْ يَّقُوْلُوْا

هغه څه | چه وحی ے کیدے شی | تا ته | او تنګیږی | په هغے باندے | سینه ستا | (په دے وجه) چه وائی دوی

چه ته د هغے څه حصه پریږدی؟ او په هغے سره ستا سینه تنګه شی؟ په دے وجه چه داخلق وائی چه دے پیغمبر ته

لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ اَوْ جَآءَ مَعَهٗ مَلَكٌ ؕ اِنَّمَآ

(چه) ولے نه شوه نازله | په ده باندے | یوه خزانه | یا ولے نه راځی | د ده سره | فرشته | بیشکه

یوه خزانه ولے نه د ملاویږی یا د ده سره یوه فرشته ولے نه رازی ته خو بس یرووونکے ے

اَنْتَ نَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝ ؕ اَمْ يَقُوْلُوْنَ

ته (خو) | یرووونکے ے | او الله | په هر | څیز | ذمه دار (نګهبان) دے | آیا دوی وائی

او الله تعالیٰ د هر څیز کارساز (اختیارمند) دے ـ یا داخلق داوائی چه داقرآن دے پیغمبر

افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ

چه د ځان نه ګډوړ کړے دے د قرآن | او وایه | پس راوړئ | لس | سورتونه | د دے پشان | د ځان نه جوړ کړے شوی

د ځان نه جوړ کړے دے (اے پیغمبره دوی ته) او وایه بیا خو تاسو هم د دے پشان لس سورتونه د ځان نه جوړ کړے شوے

وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

او راوبلئ | هغه څوک | چه وس مو پرے رسی | سوا د الله نه | که چرے | ے تاسو

راوړئ او په دے کار کښے د مدد د پاره د الله تعالیٰ نه سوا مو چه په چا وس رسی هغه راوبلئ که تاسو

صٰدِقِيْنَ ۝ فَاِلَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ

رشتیني | پس که چرے | دوی جواب درنه کړو | تاسو ته | نو پوهه شئ | چه بیشکه

رشتنی یئ نو که دوی دا کار وُنه کړے شی نو اے خلقو یقین وساتئ چه دا وحی (قرآن)

أُنْزِلَ بِعِلْمِ اللّٰهِ وَأَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ

نازل کړے شوید ے (قرآن) | په علم | د الله | او په دے | چه نشته دے هیڅ څوك | لائق د بندګۍ | سوا | دهغه نه

دالله تعالی په علم نازله شوے ده (راغلے ده) اوپه دے هم یقین او کړئ چه دالله تعالی نه سوا بل هیڅ څوك

فَهَلْ أَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ۝١٤ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا

نو آیا | تاسو | منونکی یئ | هغه څوك | چه غواړی | ژوند | دنیوی

دعبادت لائق نشته نو آیا تاسو (اوس) مسلمانیږئ؟ کوم خلق چه په خپل عمل سره صرف د دنیا ژوند او دهغے

وَزِيْنَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا

اوزینت دهغے | نو پوره به ورکړو مونږ | هغوی ته | (بدله) دعملونو دهغوی | په دے (دنیا) کښے | اودوی ته به | په دے کښے

رونق غواړی نو مونږ به دهغوی دعملونو پوره پوره بدله هغوی ته په دے دنیا کښے ورکړو اوپه دے کښے به

لَا يُبْخَسُوْنَ ۝١٥ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ

څه کمے نشی کولے | هُم دا | هغه خلق دی | چه نشته دے | دوی له | په آخرت کښ

ورسره هیڅ کمے نه کیږی ـ هم دا هغه خلق دی چه په اخرت کښے ورله د دوزخ داور نه سوا بل هیڅ نشته

إِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا

مګر | اُور | او برباد شول | هغه څه | چه دوی کړی دی | په دے کښے | او باطل دی | هغه څه | چه دوی به

او کوم نیك کارونه چه دے دنیا کښے کړی وو هغه ټول ضائع شول او څه چه دوی کول هغه ټوله بے فائدے شول. (نو تاسو اووایئ)

يَعْمَلُوْنَ ۝١٦ أَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَيَتْلُوْهُ

کول | آیا هغه څوك | چه وی | په یوښکاره (واضح) دلیل | د خپل رب د طرف نه | اوورسره وستو ورسره وستو راځی ده ته یے

چه هغه کس (د دے خلقو برابر کیدے شی) چه د خپل رب د طرف نه په ښکاره دلیل عقلی باندے قائم وی اوورسره

شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى إِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ

یو گواه | د هغه د طرف نه | او وی دده نه مخکښ | کتاب | د موسی | پیشوا | او رحمت

دالله د طرف نه یو گواه هم (بطور د دلیل وحی) ملګرے وی او مخکښ ترے نه د موسی کتاب (دلیل نقلی) وی چه د خلقو

أُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْأَحْزَابِ

هم دغه خلق | ایمان راوړی | په دے باندے | اوچا چه | کفر اوکړو | په دے | د ډلو نه

د پاره پیشوا اورحمت وو داخلق په قرآن باندے ایمان لری ـ اوپه دے ډلو کښے چه څوك د دے نه انکار کوی نو دوزخ

فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ۚ فَلَا تَكُ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۡ إِنَّهُ الْحَقُّ

نو اُور | ځائے وعدے د هغه دے | پس ته مه کیږه | په شك کښے | د دے نه | بیشکه دا | حق دے

دهغوی مقرر ځائے دے نو ته د قران پاره کښے شك مه کوه ـ یقین اوساته چه داستاد رب د طرف نه برحق

مِنْ رَّبِّكَ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝١٧ وَمَنْ أَظْلَمُ

ستاد رب د طرف نه | لیکن | اکثر | خلق | ایمان نه راوړی | او څوك دے | لوئے ظالم

دے لیکن اکثر خلق پرے ایمان نه روا ړی ـ او دهغه چا نه به لوئے ظالم څوك وی

مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ؕ اُولٰٓئِكَ يُعْرَضُوْنَ عَلٰى رَبِّهِمْ

دهغه چانه | چه تړی | په الله باندے | دروغ | دا خلق | پیش به کړے شی دوی | رب خپل ته

چه په الله تعالی باندے دروغ جوړوی دا سے خلق به خپل رب ته پیش کولے شی

وَيَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ۚ

او وائی به | گواهان | دا | هغه خلق دی | چه دورغ ئے وئیلی وو | په رب خپل باندے

او گواهان به او وائی چه هم داهغه خلق دی چه په خپل رب ئے دروغ خبرے ترلے وے

اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۙ۝ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ

خبردار | لعنت | دالله دِوی | په (داسے) ظالمانو باندے | داهغه کسان دی | چه بندَوی خلق

ټول خلق دِ واوری چه په هغه ظالمانو د الله لعنت دے چه د الله تعالی

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ

د لارے | د الله نه | اولټوی په هغے کښ | کوږوالے (عیب) | او دوی | د آخرت نه

د لارے نه خلق منع کوی او په هغے کښے عیبونه لټوی او د آخرت نه

هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ لَمْ يَكُوْنُوْا مُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ

(هُم) منکر دی | دا خلق | نه دی | عاجزه (کمزورے) کونکی (الله له) | په زمکه کښے

خو بالکل منکر دی ۔ دا داسے خلق دی چه په مخ د زمکے

وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ؕ يُضٰعَفُ

او نه به وی | دوی دپاره | د الله نه سوا | هیڅ څوک دوستان (مددګاران) | دوچند کولے به شی

چرته هم د الله تعالی دعذاب نه بچ کیدے نشی او د الله تعالی نه سوا د دوی څوک یار او مدد ګار (هم) نشته

لَهُمُ الْعَذَابُ ؕ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا

دوی له | عذاب | نه لرلو دوی | وَس (طاقت) | د اوریدو | او نه دوی

دوی له به یو په دوه (زیاته) سزا ورکولے شی (څکه چه) دوی نه حق خبره اوریدے شوه او نه ئے نیغه لار

يُبْصِرُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ

کتل (حق ته) | دا | هغه خلق دی | چه تاوان ئے اوکړو | د څانونو خپلو | او وُړک به شی | د دوی نه

لیدلے شوه. هم داهغه خلق دی چه خپل څانونه ئے تاوانی کړل او کوم معبودان ئے چه د څان نه جوړ

مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ

هغه څه | چه دوی به | دروغ جوړول | هیڅ شك نشته | چه بیشکه دوی به | په آخرت کښے

کړی وو هغه ترے نه هم ورك شول ۔ لازمی خبره ده چه دوی به په آخرت

هُمُ الْاَخْسَرُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

هُم زیات تاوانیان وی | بیشکه | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عمله نه کوی نیك

کښے د ټولو نه زیات تاوانیان وی ۔ (بل طرف ته) چا چه ایمان راوړے دے او نیك عمله نه

وَاَخْبَتُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ ۙ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا

او عاجزی کوی | رَب خپل ته | هم داخلق | جنتیان دی | دوی به | هغے کښے

ځ کړی دی او خپل رب ته ځ عاجزی کړے ده نو داخلق جنتیان دی چه په هغه کښے به

خٰلِدُوْنَ ۝ مَثَلُ الْفَرِيْقَيْنِ كَالْاَعْمٰى وَالْاَصَمِّ وَالْبَصِيْرِ

همیشه وی | مثال | د دواړو ډلو | پشان د ړوند | او د کونږ | اودلیدونکی (بینا)

همیشه اوسیږی. ددے دوۀ ډلو مثال (حال) داسے دے که یو خواړوند او کونږ وی اوبل خوا لیدونکے

وَالسَّمِيْعِ ۭ هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۭ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝ ع

اوداوریدونکی دے | آیا | برابر دی دا دواړه | په مثال کښے | آیا پس تاسو نصیحت نه اخلئ

او اوریدونکے وی. نو ایا دا دواړه (په خپل حالتونو کښے) برابر کیدے شی ـ نو ایا بیا هم تاسو عبرت نه اخلئ؟

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ ۙ اِنِّىْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ لا

اویقیناً | مونږ لیږلے وو | نوح | قوم خپل ته | چه بیشکه زه | تاسو دپاره | یرونکے یم | ښکاره

اویقیناً مونږ نوح خپل قوم ته، په دے پیغام (حکم) سره لیږلے وو چه زهٔ تاسو لره (دالله تعالیٰ دنافرمانئ نه) صفا صفا ویرونکے یم.

اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ

داچه بندگی مه کوئ (دهیڅ چا) | سوا | د الله نه | بیشکه زه | یریږم | په تاسو باندے | د عذاب

چه د الله تعالیٰ نه سوا دبل چاعبادت مهٔ کوئ یقین او کړئ چه زهٔ په تاسو دسختے ورځے

يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۝ فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ

د ورځے | دردناکے نه | نو (پس) اووئیل | هغه سردارانو | چه کفر ئے کړے وو | د قوم ددهٔ نه

د عذاب نه یریږم ـ نو هغه د قوم کافر وسردارانو اووئیل چه ته خو بس زمونږ غوندے یو انسان

مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ

(چه) نه وینو مونږ تا | مګر | یو انسان | پشان زمونږ | اونه وینو مونږ تا | چه روان وی تاپسے | مګر | هغه خلق

ښکاره ے او مونږ دا هم وینو چه تاپسے صرف هغه خلق روان دی چه په مونږ کښے غورزیدلے (لاندے)

هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا

چه هغوی | ذلیل دی په مونږ کښے | په سرسری | نظر سره | اونه وینو مونږ | ستاسو (دپاره) | په مونږ باندے

سرسری رائے (عقل) والا دی او مونږ په تاسو کښے څه داسے خبره هم نه وینو چه دهغے په وجه تاسو ته په مونږ

مِنْ فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ۝ قَالَ يٰقَوْمِ

څه فضیلت | بلکه | مونږ خوگمان کوو په تاسو | د دروغژنو | اووئیل نوح | اے زما قومه!

باندے څه فضیلت حاصل وی بلکه زمونږ خیال خودادے چه تاسو ټول دروغژن یئ ـ نوح ورته اووئیل

اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰىنِيْ

آیا تاسو سوچ کړے دے | که چرے یم زه | په ښکاره دلیل | د خپل رب د طرفه | اوراکړے ئ وی ماته

اے زما قومه الږد اراته اووایئ چه که زه د خپل رب د طرف نه په یو ښکاره دلیل ولاړیم او هغه ما ته د خپل

رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ؕ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا

خاص رحمت | دخپل طرف نه | بیاپټ پاتے شوی وی هغه | تاسو نه | آیاپه زور منلے شومونږ پرې تاسو دا

طرف نه یَو رحمت (نبوت) را کړے دے خو هغه تاسو ته نه ښکاری نو آیا مونږ هغه پرې تاسو باندے په

وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ۝ وَيٰقَوْمِ لَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ

پهدا سے حال کښ چه تاسو دے لره | بدکنړئ (نه خوښوئ) | اوا ے زما قومه! | نه غواړم زه تاسو نه | په دے

زور منلے شو؟ حالانکه تاسو ئ نه خوښوئ ـ اوا ے زما قومه! زهٔ په دے (تبلیغ) تاسو نه هیڅ

مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ

څه مال | نه دے اجر زما | مګر | په الله باندے | اونه یم زه | شړونکے | هغه خلقو لره

مال نه غواړم زما اجر خو یوا ځے الله تعالیٰ په خپله ذمه اغستے دے او زه مومنان نه شم شړلے

اٰمَنُوْا ؕ اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْۤ اَرٰىكُمْ قَوْمًا

چه ایمان ـ راوړے دے | بیشکه دوی به | مخامخ کیږی | درب خپل سره | لیکن زه | وینم تاسو | دا سے یو قوم

دوی خو به خپل رب سره ملاقات کوی لیکن زه دا وینم چه تاسو دا سے خلق یئ

تَجْهَلُوْنَ ۝ وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ؕ

چه جهالت کوئ | اوا ے زما قومه! | څوك به | مدد او کړی زما | دالله په مقابله کښے | که چرے | زه او شړم دوی

چه د جهالت خبرے کوئ اوا ے زما قومه! که زه دوی او شړم نو څوك به مړ دالله تعالیٰ (د گرفت) نه بچ کړی

اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ۝ وَلَاۤ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ

آیا تاسو غور نه کوئ | او زه نه وایم | تاسو ته | چه ما سره | خزانے دی | د الله

آیا تاسو بیا هم فکر (غور) نه کوئ؟ او زه تاسو ته دا نه وایم چه زما په اختیار (قبضه) کښے دالله تعالیٰ خزانے دی

وَلَاۤ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَاۤ اَقُوْلُ اِنِّيْ مَلَكٌ وَّلَاۤ اَقُوْلُ

اونه (دا چه) زه پوهیږم | په غیبو باندے | اونه زه دا وایم | چه زه فرشته یم | او نه وایم زه

اونه ما ته د غیب تولے خبرے معلومے دی اونه زه تاسو ته دا وایم چه زه څهٔ فرشته یم او کومو خلقو ته

لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْۤ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ؕ

هغه خلقو ته | چه سپك ـ ګڼری | ستر ګے ستاسو | چه هرګز به ورنه کړی دوی ته | الله | څه خیر

چه تاسو سپك ګورئ د هغوی په بارہ کښے زه داهم نه شم وئیلے چه الله تعالیٰ به ورنه هیڅ خیر نه ور کوی

اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ ۚ اِنِّيْۤ اِذًا

الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه په زړونو دَدوی کښے دی | بیشکه زه به شم | په دغه وخت کښے

الله تعالیٰ د هغوی د زړونو په حال ښه خبر دے ـ که زه د هغوی بارہ کښے دا سے خبرے او کړم نو یقیناً

لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ

د ظالمانو نه | اووئیل دوی | اے نوح! | یقیناً | تا جګړه وکړه زمونږ سره | نو ډیره (زیاته) د ګړه

زما شمار به هم په ظالمانو کښے شی ـ قوم ورته اووئیل اے نوح! تا مونږ سره جګړه او کړه او ډیر زیات

جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

جگړه مونږ سره | بس (نو) ته راوړه مونږ ته | هغه څه | چه ته یې وعده مونږ (په هغې سره) | که چرې ځکه | د رشتینو نه

بحث د راسره اوکړو اوس که ته رشتنے ئې نو هغه عذاب (ډ) راوله د کوم نه چه مونږ یې وېرو ے (د کوم چه مونږ سره وعده کوے).

قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ إِنْ شَآءَ وَمَآ أَنْتُمْ

هغه اووئیل | بیشکه | را به ولی تاسو ته | دا | الله | که چرے | اوغواړی هغه | او نه یې تاسو

نوح ورته اووئیل عذاب خو به په تاسو هم الله راولی که اوے غواړی او تاسو هغه عاجزه (کمزورے) کولے نشئ. او که زه

بِمُعْجِزِيْنَ ۝ وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ إِنْ أَرَدْتُّ أَنْ أَنْصَحَ

عاجزه کوونکی (الله لرم) | اوفائده نه درکوی تاسو ته | نصیحت زما | که چرے زه غواړم | چه نصیحت اوکړم

ستاسو خیر خواهی لتول غواړم نو زما خیر خواهی (نصیحت) به (په دے صورت کښے) ستاسو

لَكُمْ إِنْ كَانَ اللّٰهُ يُرِيْدُ أَنْ يُّغْوِيَكُمْ ط هُوَ رَبُّكُمْ ق

تاسو ته | که چرے | الله | غواړی | چه بے لارے کړی تاسو | هغه | رب ستاسو دے

هیڅ په کار رانشی چه کله الله تعالی ستاسو د گمراه کولو اراده کړی وی هم هغه ستاسو رب دے او هم هغه ته به تاسو

وَإِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝ أَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ط قُلْ إِنِ

او خاص هغه ته به | ورګرځولے شئ | آیا دوی وائی | چه دځان نه ئې جوړ کړے دا (قرآن) | اووایه | که چرے

ټول واپس کیږئ۔ آیا دوی دا وائی چه دے (نبی) دا قرآن دځان نه جوړ کړے دے اے پیغمبره اته ورته اووایه

ع ۱۴ افْتَرَيْتُهٗ فَعَلَيَّ إِجْرَامِيْ وَأَنَا بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ۝

ما دځان نه جوړ کړے وی دا | نو (هم په ما دے | جرم (گناه) زما | اوزه | بیزاره یم | د هغه جرمونو نه چه تاسو ئے کوئ

که چرته ما دا دځان نه جوړ کړے وی نو جرم ئے په ما دے او تاسو چه کوم جرمونه کوئ زه د هغے نه بیزاره یم.

وَأُوْحِيَ إِلٰى نُوْحٍ أَنَّهٗ لَنْ يُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ

اووحی اوکړے شوه | نوح ته | (دا دے) چه بیشکه | هیڅ گله ایمان نه راوړی | د قوم ستاسه (هیڅوک) | سوا | د هغه چا نه

او نوح ته وحی اوشوه چه ستاسه قوم کښے چه چا ایمان راوړے دے اوس د هغوی نه سوا نور هیڅ څوک

قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝ وَاصْنَعِ

چه ایمان ئے راوړے دے | نو ته مه خفه کیږه | په هغه کارونو | چه دوی ئے | کوی | او جوړه کړه

ایمان نه راوړی نو دوی چه څه کوی ته په هغے مه خفه کیږه۔ اوز مونږ په نگرانئ کښے

الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ

کشتئ | زمونږ په وړاندے (په حفاظت) | اوز مونږ په وحی | اومه کوه خبره (سفارش) زما سره | د هغه خلقو په باره کښے

اوز مونږ په حکم یوه کشتئ جوړه کړه اود ظالمانو په باره کښے ماسره هیڅ خبره (سفارش) مه کوه دوی به اوس

ظَلَمُوْا ج إِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ۝ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ ق وَكُلَّمَا مَرَّ

چه ظلم ئے کړے دے | بیشکه دوی | غرق تولے شی | اوده (به) جوړوله | کشتئ | اوهر کله | چه ورته یو ډل به

خامخا غرقیږی۔ او نوح علیه السلام کشتئ جوړوله او کله به چه هم

عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ؕ قَالَ

په ده باندے | سرداران | د قوم خهل | نو توقے به ئے کولے | په ده پورے | هغه (ورته) اووئیل

د قوم څه سرداران ئے په خوا کښے تیر یدل نو توقے (خندا کانے) به ئے ورپورے کولے نوح به ورته وئیل

اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ

که چرے | تاسو توقے (خندا کانے) کوئ | مونږ پورے | نو بیشکه مونږ به هم | توقے او کړو | په تاسو پورے

که تاسو مونږ پورے توقے (خندا کانے) کوئ نو څنګه چه تاسو مونږ پورے توقے کوئ دغه شان به مونږ

كَمَا تَسْخَرُوْنَ ۝ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ

لکه څنګه چه | تاسو توقے کوئ | نو ډیر زر به | تاسو پوهه شئ | چه څوك دی | چه را به شی په هغه باندے

هم تاسو پورے توقے او کړو (په وخت در اتلو د عذاب کښ) او ډیر زر به درته پته اولګی چه په چا هغه عذاب راځی

عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۝ حَتّٰٓى

دا سے عذاب | چه رسوا به ئے کړی | او را به شی په | هغه باندے | عذاب | همیشه | تر دے

چه رسوا به ئے کړی او په چا باندے د همیشه عذاب نازلیږی ـ تر دے چه

اِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا

چه کله | راغے | حکم زمونږ | او را وخوتکیدلو | تنور | مونږ اووئیل | (چه) سوار ئے کړه | په دے (کشتۍ) کښے

کله زمونږ حکم راغے او تنور جوش اووهلو نو مونږ (نوح ته) اووئیل چه په دے کشتۍ کښے دهر قسم څناور و نه

مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ

دهر قسم نه | جوړے | دوه | او کورنۍ خپله | سوا | دهغه چا نه | چه مخکښ شوے دے | په هغه باندے

د دوۍ دوۍ جوړے سوړے کړه او ستا په کورنۍ کښے چه په چا باندے د عذاب فیصله شوے ده دهغوی

الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ؕ وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلٌ ۝

فیصله (خبره) | او هغه څوك هم (او خیژوه) | چه ایمان ئے راوړے دے | او ایمان نه ؤ راوړے | د دۀ سره | مګر | لږو کسانو

نه سوا خهل کور والا او چا چه ایمان راوړے دے هغوی هم او خیژوه او ډیر کمو خلقو د نوح سره ایمان راوړے وو

وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ؕ

او هغه اووئیل | چه سوار ه شئ | په دے کښے | د الله په نوم دی | راوانیدل د دے | او او دریدل د دے

نوح دے ته ولو ته اووئیل دے کشتۍ ته او خیژئ د دے روانیدل او او دریدل د الله تعالیٰ په نوم دی

اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَهِيَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ

بیشکه | رب زما | خامخا بخښونکے | مهربان دے | او دے کشتۍ | وړل | دوی لره | په چپو کښے

یقین او کړئ چه زما رب ډیر بخښونکے ډیر رحم کوونکے دے. او دے کشتۍ دغه نو پښان او چتو او چتو چپو

كَالْجِبَالِ ۫ وَنَادٰى نُوْحُ ِۨابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ

پښان د غرونو | او آواز او کړو | نوح | خوئ خهل ته | او هغه وو | په غاړه | اے خویه!

کښے دوی روان کړل او نوح خهل هغه خوی ته آواز او کړو چه یو اړخ ته ولاړ وو چه زما خویه

ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ قَالَ سَاٰوِيْٓ

سورشه | زمونږ سره | او مه کیږه | د کافرانو سره | هغه اووئیل | زړه چه زهٔ به پناه واخلم

راځه مونږ سره سورشه او د کافرانو سره مهٔ ملګرے کیږه۔ هغه ورته جواب ور کړو چه زهٔ به اوس

اِلٰى جَبَلٍ يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَآءِ ۭ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ

د یو غرسره | چه ما به بچ کړی | د اوبو نه | (نوحؑ) (ورته) اووئیل | نشته هیڅ څوک بچ کوونکے | نن

د یو غر پناه واخلم چه ما به داوبو نه بچ کړی۔ نوحؑ ورته اووئیل چه نن د الله تعالیٰ د عذاب نه هیڅ

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ

د الله د حکم (عذاب) نه | مګر | هغه څوک | چه رحم او کړی الله | او حائله شوه | په مینځ د دوی کښے | چپه

څوک بچ کوونکے نشته مګر الله چه پخپله په چا رحم او کړی په دے کښے د دواړه ترمینځه یوه چپه راغله

فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ۝ وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ

نو هغه شو | د غرق شوؤ نه | او اووئیل شو | اے زمکے | واپس تیرے کړه | خپلے اوبه

اوپه د وبیدونکو کښے هغه هم شامل شو۔ او حکم اوشو چه اے زمکے خپلے اوبه تیرے کړه

وَيٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ

اواے آسمانه | بندے کړه اوبهٔ | او کمے شوے | اوبه | او پوره شو | کار | او برابر اودریدله کشتۍ

(بښکته راکاږه) او اے اسمانه! بند شه نو اوبهٔ کمے شوے او کار پوره شو او کشتۍ

عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَنَادٰى

په جودی غر باندے | او اووئیلے شو | (چه) تباهی ده | د ظالمانو خلقو دپاره | او آواز اوکړو

د جودی په غر باندے اودریدله او اووئیلے شو چه ظالمانو خلقو دپاره تباهی ده۔

نُوْحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِيْ مِنْ اَهْلِيْ وَاِنَّ

نوحؑ | رب خپل ته | نووئے وئیل | اے زما ربه! | بیشکه | زما خوے (خو) | زما د کورنۍ له وو | او بیشکه

او نوحؑ خپل رب ته آواز اوکړو او وئے وئیل چه اے زما ربه! زما خوئے زما د کورنۍ یو فرد دے

وَعْدَكَ الْحَقُّ وَاَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِيْنَ ۝ قَالَ يٰنُوْحُ

ستا وعده | رښتینے ده | او ته | د هر چا نه ښه فیصله کوونکے ئے | اووئیل (الله) | اے نوحؑ!

او یقیناً ستا وعده رښتیا ده او ته د هر چا نه ښه فیصله کوونکے ئے۔ الله ورته اووئیل اے نوحؑ!

اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ ۡ فَلَا تَسْـَٔلْنِ

بیشکه دے | نه دے | ستا د کورنۍ نه | بیشکه دے | خو ند دد ے عمل دے | چه نیک نه دے | نو ته غوښتل مهٔ کوه زما نه

یقین او کړه چه هغه ستا په کورنۍ کښے شامل نه دے هغه خو بد عمله دے (عمل ئے ښه نه دے)

مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۭ اِنِّىْٓ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ

د هغه څه | چه نشته | تاسره | په هغے باندے | علم | بیشکه زه | نصیحت کوم تاته | چه نه شے ته

نو ته زما نه داسے څیز مه غواړه چه د هغے تاته پته (علم) نه وی اوزه تاته دا نصیحت کوم چه چرے دنادانو

مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْئَلَكَ

د جاهلانو نه | (هغه) اووئيل | اے زما ربه! | بيشكه زه | پناه غواړم | په تاسره | دے خبرے نه چه اوغواړم ستانه

(ناپوهه) خلقو دپاره نه نهٔ شے۔ نوحؑ اووئيل اے زما ربه! زه ستاپناه غواړم د دے خبرے نه چه اوئنده (بيا)

مَا لَيْسَ لِيْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاِلَّا تَغْفِرْ لِيْ وَتَرْحَمْنِيْٓ

هغه شه | چه نشته دے | ماسره | په هغے باندے | شه علم | اوكه چرے ته بخښنه اونه كړے ماته | اورحم اونه كړے په ما باندے

تانه داسے شيز اوغواړم چه پوهه پرے نهٔ يم اوكه ته ماته بخښنه اونهٔ كړے اورحم را باندے اونهٔ كړے

اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۴۷﴾ قِيْلَ يٰنُوْحُ اهْبِطْ بِسَلٰمٍ مِّنَّا

نوزه به شم | د تاوانيانو نه | اووئيلے شو | اے نوحؑ! | كوز شه | په سلامتيا سره | زمونږ د طرف نه

نوزهٔ به (هم) تاوانى شم۔ حكم ورته اوشو چه اے نوحؑ! (اوس) زمونږ د طرف نه په سلامتيا او بركتونو سره

وَبَرَكٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اُمَمٍ مِّمَّنْ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ

اوپه بركتونو سره | په تاباندے | اوپه هغه امتونو باندے | دهغه چانه | چه تاسره دى | اوهغه نورے به ورلے دى

كوز شه چه هغه په تاباندے هم دى اوپه هغه چاهم دى چه پيدا كيږى به دهغه چانه چه تاسره دى اوهغهٔ خلق (كافران)

سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴۸﴾

چه زر به مونږ فائده وركړو هغوى ته | بيا به | اورسيږى هغوى ته | زمونږ د طرف نه | عذاب | دردناك

دا سے دى چه هغوى له به مونږ په دنيا كښے هغهٔ فائده وركړو بيا به په دوى باندے زمونږ د طرف نه يو دردناك عذاب راشى

تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ ۚ مَا كُنْتَ

(اے نبى) دا | بعضے خبرونه | د غيبو دى | چه مونږ وحى كوو هغے | تاته | نه وے ته

اے پيغمبره! دا د غيب هغه خبرونه دى چه مونږ ئے تاته وحى اوكړه دا خبرے د دے نه مخكښے

تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا ۛ فَاصْبِرْ ؕ

پوهه په هغے باندے | ته | او نه ستا قوم | مخكښے | د دے نه | نو صبر كوه

نه تاته معلومے وے او نه ستا قوم ته نو د صبر نه كار واخله

اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۹﴾ ع وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ

بيشكه | (بنه) انجام | دپاره د متقيانو دے | اوعاديانو ته (ليږلے وو مونږ) | د دوى وُرور | هُودؑ

يقيناً اخرى بنه انجام د متقيانو دے۔ اوعاديانو ته مونږ دهغوى ورور هودؑ ليږلے وو هغهٔ (قوم ته)

قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ

دهٔ اووئيل | اے زما قومه! | بندگى اوكړئ | (يوا خُے) دالله | نشته دے تاسو دپاره | هيڅ څوك حاجت روا (معبود)

اووئيل چه اے زما قومه! يوا خُے دالله بندگى كوئ خُكه چه دهغه نه سوا بل څوك ستاسو معبود

غَيْرُهٗ ؕ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ يٰقَوْمِ لَآ اَسْئَلُكُمْ

سوا دهغه نه | نه يئ تاسو | مكر | دروغ ترونكى | اے زما قومه! | زهٔ نهٔ غواړم تاسونه

نشته تاسو خو صرف دروغ جوړ كړى دى۔ اے زما قومه! زهٔ تاسونه په دے (تبليغ)

عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ؕ

په دے باندے | څه اجر | نه دے زما اجر | مګر | په هغه الله | چه زه ئې پیدا کړے یم

څه اجر (اجرت) نه غواړم زما اجر ذمه هغه ذات اغستے دے چه زه ئے پیدا کړے یم

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ

آیا تاسو دعقل نه کار نه اخلئ | اوا ے زما قومه! | بخښنه اوغواړئ | درب خپل نه | بیا | توبه اوباسئ | هغه ته

آیا تاسو بیا هم دعقل نه کار نه اخلئ. اوا ے زما قومه دخپل رب نه بخښنه وغواړئ بیا هغه ته توجه اوکړئ

يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً

نوراوبه لیږي | باران | په تاسو باندے | په شیبو شیبو | اوزیات به کړي تاسو له | طاقت

اوتوبه اوباسئ نو هغه به درباندے دضرورت مطابق په شیبو شیبو باران اووروی اوددے (موجوده) طاقت سره به درله

اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا

ستاسو دطاقت سره | اومه کړئ تاسو | مُجرمان | دوی اووئیل | اے هود! | تاته دے راوړے مونږ نه

نور طاقت هم درکړي اودمجرم په حیثیت دحق نه مخ مه اړوئ. قوم جواب ورکړو چه اے هود تاخو مونږ ته

بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ

څه ښکاره دلیل | او مونږ نه یُو | پریښودونکی | معبودان خپل | ستا په وینا سره | او مونږ نه یُو

څه واضح دلیل نه دے راوړے (پیش کړے) او مونږ تش ستا په وینا خپل خدایان نه پریږدو او نه ستا په خبره

لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا

ستا په خبره | باور کوونکی | نه وایو مونږ (نور څه) | مګر دا چه | رسولے دے تاته | بعضو معبودانو زمونږ

ایمان راوړو - مونږ خو صرف دا وایو چه زمونږ بعضے مددګارانو ته په څه مصیبت کښے اخته (ګرفتار)

بِسُوْٓءٍ ؕ قَالَ اِنِّيْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّيْ بَرِيْٓءٌ

څه ضرر (تکلیف) | اووئیل هغه | بیشکه زه | ګواه کوم | الله | اوتاسو هم ګواهان شئ | چه بیشکه زه | بیزاره یم

کړے ئے هود ورته اووئیل چه یقیناً زه الله ګواه کوم اوتاسو هم ګواه شئ چه زه بیزاره یم دهغه څه نه چه تاسو ئے

مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾ مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ

دهغه څه نه | چه تاسو ئے شریکوئ | سوا دهغه نه | پس (نو) تدبیر جوړ کړئ زما خلاف | ټول | بیا

دالله سره دهغه نه سوا شریکان جوړوئ. نو (اوس) تاسو ټول په یو ځاے زما خلاف تدبیر (چال) جوړ کړئ اوبیا ماته

لَا تُنْظِرُوْنِ ﴿۵۵﴾ اِنِّيْ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ رَبِّيْ وَرَبِّكُمْ ؕ

ماته مهلت (هم) مه راکوئ | بیشکه | ما خو توکل کړے دے | په الله باندے | چه زما (هم) رب دے | اوستاسو (هم) رب دے

مهلت هم مه راکوئ ما په هغه الله خپل ځان سپارلے دے چه زما او ستاسو رب دے

مَا مِنْ دَآبَّةٍ اِلَّا هُوَ اٰخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا ؕ اِنَّ رَبِّيْ

نشته دے | هیڅ یو زنده سر | مګر | هغه | نیوونکے دے | ټیکلے (تندے) دهغه | بیشکه | زما رب

دزمکے په مخ هیڅ یو ژوندے څیز نشته مګر دهغه تندے دالله تعالیٰ په قبضه کښے دے یقیناً زما رب

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۶﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ

په لار | نیغه باندے دے | پس که چرے | مخ اړوئ تاسو | نو یقیناً | ما رسولی دی تاسوته

په نیغه لار باندے دے۔ بیاهم که مخ واړولو تاسو، نو یقیناً په کوم پیغام سره چه زه تاسوته

مَّآ اُرْسِلْتُ بِهٖٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّيْ قَوْمًا

هغه څه | چه زه الیږلے شوے یم | په هغے سره | تاسوته | اوړابه ولی وروستو (تاسونه) | زما رب | بل یَو قوم

رالیږلے شوے یم هغه مې تاسوته (پوره پوره) دررسولے دے او (ستاسو د کفر په وجه) زما رب به ستاسو په ځای

غَيْرَكُمْ ۚ وَلَا تَضُرُّوْنَهٗ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

ستاسونه سوا | اوتاسو ضرر نشئ رسولئ هغه ته | هیڅ (هم) | بیشکه | رب زما | په هر څیز

یو بل قوم په زمکه آباد کړی اوتاسو هغه ته هیڅ نقصان نه شئ رسولے، یقیناً زما رب دهر څیز

حَفِيْظٌ ﴿۵۷﴾ وَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا هُوْدًا وَّالَّذِيْنَ

نگهبان (نگران) دے | اوهر کله | چه راغے | حکم زمونږ | (نو) بچ کړو مونږ | هودؑ | او هغه خلق

نگرانی کوی او (آخر) کله چه زمونږ حکم (د عذاب) راغے نو مونږ هودؑ اودهغه مومنان ملګری

اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا ۚ وَنَجَّيْنٰهُمْ مِّنْ عَذَابٍ

چه ایمان ـ ړاوړے وو | ددهٗ سره | په رحمت خپل سره | اومونږ بچ کړل دوی | د عذاب

په خپله مهربانۍ (رحمت) سره بچ کړل او د سخت عذاب نه مو بچ اوساتل۔

غَلِيْظٍ ﴿۵۸﴾ وَتِلْكَ عَادٌ ۙ جَحَدُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا

سخت نه | او دا وو | عادیان | چه انکار ئے کړے وو | د آیتونو | د رب خپل نه | اونافرمانی ئے کړے وه

دا وو عادیان چه د خپل رب د ذنخبونه ئے انکار کړے وو اودهغه د پیغمبرانو نافرنی ئے کړے وه

رُسُلَهٗ وَاتَّبَعُوْٓا اَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ﴿۵۹﴾ وَاُتْبِعُوْا

د پیغمبرانو دهغۀ | اوروان شوی وو | په حکم | د هر سرکش | عنادی (جګړمار) پسے | اوپرله پسے اولیګلے شوې دوی پسے

اودهر ظالم (سرکش) اوعنادی (جګړمار) په حکم پسے روان وو۔ نو (نتیجه داشوه چه)

فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ

په دے دنیا کښے (هم) | لعنت | اوپه ورځ | د قیامت کښ (هم) | خبردار (واورئ) | بیشکه

په دے دنیا کښے هم لعنتی شواو په آخرت کښے به هم (لعنتی شی) یاد اوساتئ چه

عَادًا كَفَرُوْا رَبَّهُمْ ؕ اَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُوْدٍ ﴿۶۰﴾

عادیانو | کفر کړے وو | په رب خپل | خبردار! | هلاکت (لعنت) دے وی | د عادیانو دپاره | چه قوم وو | د هودؑ

عادیانو د خپل رب نه انکار کړے وو، خبردار چه د هودؑ قوم عاد د رحمت نه لرے پریوتل

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا

اوثمودیانو تهٖ (لیږلے وو مونږ) | ورور دهغوی | صالحؑ | هغه اووئیل | اے زما قومه | بندګی اوکړئ

اوثمودیانو ته مونږ دهغوی ورور صالحؑ لیږلے وو هغه (هم) دا اووئیل چه اے زما قومه! یوا څے دالله

اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ هُوَ اَنْشَاَكُمْ

یوا څے دالله | نشته دے | تاسو دپاره | بل هیڅ څوك حقدار دبندګۍ | سوا دهغه نه | هغه | پیدا کړی یئ تاسو

عبادت کوئ څکه چه دهغهٔ نه سوا بل هیڅ څوك ستاسو معبود نشته ۔ هم هغه تاسو دزمکے نه

مِّنَ الْاَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيْهَا فَاسْتَغْفِرُوْهُ ثُمَّ

د زمکے نه | او آباد کړی ئے یئ تاسو | په دے کښے | نو بخښنه اوغواړئ دهغه نه | بیا

پیدا کړی یئ اوپه دے کښے ئے آباد کړی یئ نو بخښنه ترے نه اوغواړئ بیا ورته توجه (رجوع) اوکړئ

تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ رَبِّيْ قَرِيْبٌ مُّجِيْبٌ ۝۶۱ قَالُوْا يٰصٰلِحُ

توبه اوباسئ | هغهٔ ته | بیشکه | رب زما | نزدے دے | قبلوونکے دے | دوی اووئیل | اے صالح!

یقین وساتئ چه زمارب (تاسوته) نزدے هم دے اودعاګانے قبلوونکے هم دے ۔ نودوی ورته اووئیل اے صالح!

قَدْ كُنْتَ فِيْنَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هٰذَآ اَتَنْهٰنَآ

یقیناً | ته خو وے | په مونږ کښے | دامیدونو آسره | پخوا | ددے نه | (نو) آیا (اوس) ته منع کوے مونږ

ددے نه مخکښے خوته مونږ کښے دا سے اوسیدے چه تاته زمونږ دیر امیدونه وو نو ایا (اوس) ته

اَنْ نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا وَاِنَّنَا لَفِيْ شَكٍّ

ددے نه چه مونږ عبادت وکړو | دهغه څه | چه عبادت ئے کولو | زمونږ پلار نیکه | اوبیشکه مونږ (خو) | خامخا په شك کښے یو

مونږ دهغه چا دعبادت نه منع کوے دچاعبادت چه زمونږ پلار نیکه کولو اوتهٔ چه مونږ ته دکوے

مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝۶۲ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ

دهغه خبرے نه | چه ته رابلے مونږ | هغے ته | په کلك شك کښے | هغه (ورته) اووئیل | اے زما قومه! | آیا تاسو فکر کړے دے

خبرے دعوت را کوے په هغے کښے زمونږ دیرزیات شك دے ۔ صالح (ورته داهم) اووئیل چه زما قومه!

اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَاٰتٰنِيْ مِنْهُ

که چرے | یم زهٔ | په ښکاره دلیل | دخپل رب دطرف نه | اوراکړے وی هغه ماته | دخپل طرف نه

ماته لږ دا اووائ چه که زه دخپل رب دطرف نه په یو ښکاره دلیل باندے قائم یم اوهغه ماته دخپل طرف نه

رَحْمَةً فَمَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ عَصَيْتُهٗ ۫

خاص رحمت (نبوت) | نو څوك به | مدد اوکړی زما | دالله په مقابله کښے | که چرے | زه نافرمانی اوکړم دهغه

خاص رحمت (نبوت) را کړے وی بیاهم که زهٔ دهغه نافرمانی اوکړم نو دهغه (دګرفت) نه به ے څوك بچ کړی

فَمَا تَزِيْدُوْنَنِيْ غَيْرَ تَخْسِيْرٍ ۝۶۳ وَيٰقَوْمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ

پس تاسو (خو) نه زیاتوئ ماد پاره | سوا | د نقصان نه | او اے زما قومه! | دا | اوښه ده | د الله

نو تاسو خو ماته د نقصان را رسولو نه سوا بل څه نهٔ کوئ ۔ او اے زما قومه! دا د الله تعالی

لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ

تاسو دپاره | یوه نخښه (معجزه) | نو پریږدئ دا | چه خوراك کوی (څریږی) | په زمکه کښے | د الله

اوښه ستاسو دپاره یوه نخښه (معجزه) ده نو دا (ازاده) پریږدئ چه د الله تعالی په زمکه کښے آزاده څریږی

وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ۝٦٤

اوتاسو مه رسوئ دے ته | څه تکليف | کئ او به نيسئ تاسو | عذاب | نزدے
او هيڅ تکليف ورته مهٔ رسوئ کئ نو ډير نزدے (زر) به درباندے عذاب راشي خو دوی (بياهم)

فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ۖ

پس دوی اووژله هغه | نو اووئيل ورته صالح | مزے واخلئ (ژوندنه) | په کورونو خپلو کښے | درے | ور څخے
هغه اوښه اووژله نو صالح ورته اووئيل چه په خپلو کورونو کښے صرف درے ور څخے نور مے تير مے کړئ

ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ۝٦٥ فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا

دا | وعده ده | چه نه ده | دروغ | پس هر کله | چه راغے | حکم زمونږ | (نو) بچ کړو مونږ
دا داسے وعده (نيته) ده چه هيڅ دروغ پکښے نشته. نو (بيا) کله چه زمونږ حکم (عذاب) راغے نو مونږ

صَالِحًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَمِنْ خِزْيِ

صالح | او هغه خلق | چه ايمان ئے راوړے وو | د دهٔ سره | په رحمت | خپل سره | او د رسوائ
صالح او دهغه مومنان ملگري په خپل خاص رحمت سره بچ کړل او د دغه ور څخے درسوائ نه مو وساتل

يَوْمِئِذٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ۝٦٦ وَأَخَذَ الَّذِينَ

دد غه ور څخے نه | بيشکه | رب ستا | هم هغه دے | لوے طاقت والا | زور آور (غالب) | او اونيول | هغه خلق
يقيناً ستا رب ډير قوت والا او غالب (زور آور) ذات دے. او په ظالمانو باندے يوه (ناترسه)

ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ ۝٦٧

چه ظلم ئے کړے وو | يوے تيزے چغے | نو شول دوی | په کورونو خپلو کښے | پرمخے مړهٔ پراته
چغه راغله نو په خپلو کورونو کښے داسے پرمخے پريوتل لکه چه (تابه وئيل چه)

كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا إِنَّ ثَمُودَ كَفَرُوا رَبَّهُمْ ۗ

لکه چه دوی | نه وو اوسيدلی | په هغے کښے | خبردار | بيشکه | ثمودیانو | کفر کړے وو | په رب خپل
هلته هډو اوسيدلی نه وو خبردار ثموديانو د خپل رب نه انکار کړے وو

أَلَا بُعْدًا لِّثَمُودَ ۝٦٨ وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا

خبردار | لرے والے (لعنت) دوی | د ثموديانو دپاره | او يقيناً | راوړے وو | ملائکو زمونږ
خبردار ثموديان هلاك شو ـ او يقيناً زمونږ فرشتو

إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ قَالُوا سَلَامًا ۖ قَالَ سَلَامٌ

ابراهيمؑ ته | زيرے | دوی اووئيل | (په تاډ) سلام (وی) | هغه اووئيل | (په تاسو ډ) سلام (وی)
ابراهيمؑ ته زيرے راوړو او سلام ئے ورته اوکړو ابراهيمؑ ورته هم د سلام (جواب) ورکړو

فَمَا لَبِثَ أَن جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ ۝٦٩ فَلَمَّا رَأَىٰ

نو وخت ئے تير کړے نه وو | چه راغے وړو | يو څخے | وريت شوے | پس کله چه | د هغه ليدل
بيا ابراهيمؑ حصار نهٔ شو تر دے چه يو وريت شوے څښے ئے راوړو ـ خو چه کله ئے اوکتل چه

اَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ اِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَاَوْجَسَ مِنْهُمْ

لاسونه ددوی | چه نۀ رسیدل | دے (خوراک) ته | نو دوی ـئ ناشنا اوګنړل | او محسوس ـئ کړه | ددوی نه

ددوی لاسونه هغے (څخی) ته نه وراندے کیږی نو دا میلمانۀ ـئ ناآشنا اوګنړل او زړۀ کښے ـئ ترینه

خِيْفَةً ؕ قَالُوْا لَا تَخَفْ اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمِ لُوْطٍ ؕ

ویره (په زړه کښے) | هغوی (ورته) اووئیل | مه یریږه | بیشکه مونږ | رالیږلے شوی یُو | قوم | دلوط ته

یره پیدا شوه فرشتو ورته اووئیل چه مه یَریږه مونږ دلوط دقوم دَهلا کولو دپاره رالیږلے شوی یُو

وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ

او بی بی ددۀ | ولاړه وه | نو وئے خندل | نو مونږ زیږے ورکړو هغے ته | د اسحاقؑ | او وروستو

او دا ابراهیمؑ بی بی دپردے نه اخوا ولاړه وه (په دے اوریدو سره) خوشحاله شوه نو مونږ ورله د اسحاقؑ او د

اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ۝ قَالَتْ يٰوَيْلَتٰٓى ءَاَلِدُ وَاَنَا عَجُوْزٌ

د اسحاقؑ نه | د یعقوبؑ | هغے اووئیل | چه هائے زما تعجبه | آیا زه به بچے راوړم | الوحلدا دے چه زه | بوډۍ یم

اسحاقؑ نه وروستو د یعقوبؑ زیږے ورکړو. هغے اووئیل هائے آیا زما به په دے حالت کښے خوئے کیږی چه زه پخپله بوډۍ یم

وَّهٰذَا بَعْلِىْ شَيْخًا ؕ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيْبٌ ۝

او دا | خاوند مِ هم | بوډا دے | بیشکه | دا (خو) | یوځیز دے | ډیر عجیبه

او دا خاوند مے هم بوډا دے واقعی دا خو ډیره ناشنا خبره ده۔

قَالُوْٓا اَتَعْجَبِيْنَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ رَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكٰتُهٗ

هغوی (ورته) اووئیل | آیا ته تعجب کوے | د حکم | د الله نه | رَحمت | د الله ډِوی | او دهغه برکتونه ډِوی

فرشتو ورته اووئیل چه اے ددے کور والو! آیا ته د الله تعالیٰ په حکم (کارونو) باندے تعجب کوے؟ په تاسو دے

عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ ؕ اِنَّهٗ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝ فَلَمَّا

په تاسو باندے | اے کور ئے والو! | بیشکه هغه (الله) | ستائیلے شوے | لوئے شان والا دے | نو هر کله

د الله تعالیٰ رحمتونه او برکتونه وی یقیناً هغه دهر تعریف حقدار او لوئ شان والا دے۔ بیا کله چه

ذَهَبَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ الرَّوْعُ وَجَآءَتْهُ الْبُشْرٰى يُجَادِلُنَا

چه لاړه | د ابراهیمؑ نه | یره | او راغۍ ورته | زیږے | نو بحث ـئ شروع کړو زمونږ سره

د ابراهیمؑ یره ختمه شوه او زیږے ورته ملاؤ شو نو د لوطؑ دقوم په باره کښے ـئ زمونږ سره بحث

فِىْ قَوْمِ لُوْطٍ ؕ ۝ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ۝

په باره دقوم | د لوط کښے | بیشکه | ابراهیمؑ | خامخا صبر ناک | نرم زړے | رجوع کوونکے وو (الله ته)

(جګړه) شروع کړه یقیناً ابراهیمؑ ډیر صبر ناک (برداشت والا) دردمند (نرم زړے) او الله ته رجوع کوونکے وو

يٰٓاِبْرٰهِيْمُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ۚ اِنَّهٗ قَدْ جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ۚ

اے ابراهیمؑ! | مخ واړوه | د دے نه | بیشکه | راغلے دے | حکم | د رَب ستا

(مونږ ورته اووئیل) اے ابراهیمؑ! داخبره پریږده یقیناً ستا د رب حکم (فیصله) راغلے دے

وَاِنَّهُمْ اٰتِيْهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُوْدٍ ﴿۷۶﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ

او بیشکه | راتلونکے دے په دوی باندے | عذاب | نه واپس کیدونکے | او هرکله | چه راغلے

اویقیناً په دے خلقو دا سے عذاب راتلونکے دے چه څوك ئے واپس کولے نه شی. او کله چه زمونږ فرشتے د

رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

فرشتے زمونږ | لوط ته | نوهغه خفه (غمژن) شو | دهغوی په وجه | اوتنګه ئے شوه | په دوی باندے | سینه

لوط خواله ورغلے نوهغه ددوی په راتلو خفه شو اوزړه ئے تنګ شو په راتلو دملاټکو باندے اووئیل چه

وَّقَالَ هٰذَا يَوْمٌ عَصِيْبٌ ﴿۷۷﴾ وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ

او اووئیل | دا ده | ورځ | ډیره سخته (دمصیبت) | اوراغے ده ته | قوم خپل | په منډه منډه

دا نئ ورځ (خو) ډیره سخته ده او د قوم خلق ورپسے په منډه منډه راغلل

اِلَيْهِ ؕ وَمِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ قَالَ

ده ته طرف ته | او دده نه مخکښ به | دوی کول | بد کارونه | هغه (ورته) اووئیل

او د ده نه مخکښے هغوی بد کارونه کول لوط ورته اووئیل

يٰقَوْمِ هٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيْ هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

اے زما قومه! | دا | زما لونړه دی | دوی | پاکے (حلالے) دی | تاسو دپاره | نو ویریږئ | دالله نه

اے زما قومه! دا (ستاسو ښځے) زما لونړه دی دا تاسو د پاره پاکے (حلالے) دی نو دالله نه اویریږئ

وَلَا تُخْزُوْنِ فِيْ ضَيْفِيْ ؕ اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ ﴿۷۸﴾

او مهٔ شرمویئ ما | زما د میلمنو په باره کښے | آیا نشته دے | ستاسو نه | یو سړے | هوښیار

او زما د میلمنو په باره کښے ما مهٔ رسوا کوئ آیا په تاسو کښے څوك هوښیار کس نشته

قَالُوْا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِيْ بَنٰتِكَ مِنْ حَقٍّ ۚ وَاِنَّكَ

هغوی (ورته) اووئیل | یقیناً | تاته پته ده | چه نشته زمونږ | ستا په لونړو کښ | څه حاجت | اوبیشکه ته

هغوی ورته جواب ورکړو چه یقیناً تاته ښه پته ده چه ستا لونړو ته زمونږ څه حاجت (شهوت) نشته

لَتَعْلَمُ مَا نُرِيْدُ ﴿۷۹﴾ قَالَ لَوْ اَنَّ لِيْ بِكُمْ

پوهیږے | په هغه څه | چه مونږ ئے غواړو | هغه (ورته) اووئیل | کاش (ارمان) چه وے زما سره | ستاسو په خلاف

او مونږ چه څه غواړو (یعنی بے حیائی د میلمنو سره) هغه درته هم ښه معلومه ده. لوط اووئیل کاش (ارمان) اچه ما سره ستاسو

قُوَّةً اَوْ اٰوِيْٓ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ ﴿۸۰﴾ قَالُوْا يٰلُوْطُ اِنَّا

څه طاقت | یا ما پناه اغستلے وے | یو قوم | زور آور ته | هغوی اووئیل | اے لوط! | بیشکه مونږ

دمقابلے څه طاقت وے او یا ما دیو مظبوط قبیلے سره پناه اغستلے وے. فرشتو ورته اووئیل اے لوط!

رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَّصِلُوْٓا اِلَيْكَ فَاَسْرِ بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ

فرشتے یو | د رب ستا | هیڅ کله نشی رسیدے دوی | تاته | (پس) نوته بوځه | خپله کورنئ | په څه حصه کښ

مونږ ستا د رب رالیږلے شوے فرشتے یو او هیڅ کله دوی تاته نزدے کیدے هم نشی نو دشپے شپے ته خپل کور والا

مِّنَ الَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَاَتَكَ ؕ اِنَّهٗ

د شپے نه | اوپه شا(وروستو)دِنه گوری | دَستاسو نه | هیڅ یو کس | سوا | دښځے ستانه | بیشکه شان دے

اوباسه او په تاسو کښے دِهیڅ یو کس شاته نه گوری سوا ستا دښځے نه چه په هغے باندے به هم

مُصِيْبُهَا مَآ اَصَابَهُمْ ؕ اِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ؕ

چه رسیدونکے دے دے ته | هغه عذاب | چه رسی به دوی ته | بیشکه | دوعدے وخت دَدوی | صَبا دے

هغه عذاب راځی کوم چه په دے نور قوم راروان دے یقیناً دوی دعذاب دپاره دصبا وخت مقرر دے

اَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيْبٍ ﴿۸۱﴾ فَلَمَّا جَآءَ اَمْرُنَا جَعَلْنَا

آیا نه دے | صَبا | (دیر) نزدے؟ | پس هرکله | چه راغ | حکم زمونږ | نو وگرځولو مونږ

آیا صبا دیر نزدے نه دے؟ بیا چه کله زمونږ عذاب راغے نو مونږ هغه کلی

عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۙ

برهطرف دهغه کلی | لاندے دهغے | اوراووړول مونږ | په هغے باندے | کانړی | دپخو کانړو نه

لاندے باندے کړو او پرله پسے د دا سے پخو کانړو باران موپرے اووړولو

مَّنْضُوْدٍ ﴿۸۲﴾ ۙ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ ؕ وَمَا هِيَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ

پرله پسے | نخښه دار | په نیزد دَرب ستا | او نه دے دا (کلی) | د ظالمانو نه

چه ستا د رب د طرف نه پرے نخښے لګیدلے وے او دا کلی د دے ظالمانو نه څه

بِبَعِيْدٍ ﴿۸۳﴾ ع وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ ع

څه لرے | او مدین ته (لیږلے وو مونږ) | ورُور دهغوی | شعیبؑ | هغه اووئیل | اے قومه زما!

لری (خو) نه دے. او مدین والوته مونږ دهغوی ورور شعیبؑ لیږلے وو هغه اووئیل اے زما قومه!

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ وَلَا تَنْقُصُوا

بندګی اوکړئ | یوا څے دالله | نشته دے | تاسو دپاره | بل هیڅ څوک معبود | سوا دهغه نه | اوکمے مه کوئ

یوا څے دالله تعالیٰ عبادت کوئ ځکه چه دهغه سوا ستاسو بل هیڅ څوک معبود نشته۔ او په ناپ تول کښے

الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ وَّاِنِّيْٓ اَخَافُ

په ناپ | اوتول کښے | بیشکه زه | وینم تاسو | په مالدارئ کښے | اوبیشکه زه | یریږم

کمے مه کوئ یقیناً زه گورم چه تاسو ښه خوشحاله یئ. اویقیناً زه په تاسو دهغے ورځے دعذاب نه

عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ﴿۸۴﴾ وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ

په تاسو | د عذاب | دورځے | راګیرونکے نه | اوا ے قومه زما | پوره ورکوئ | پیمانه

یریږم چه تاسو نه به چاپیره شی او اے زما قومه! ناپ او تول په انصاف سره

وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا

او تول | په انصاف سره | او مه کموئ | د خلقو نه | څیزونه دهغوی | او مه ګډئ

پوره پوره کوئ او خلقو ته دهغوی څیزونه کم مه ورکوئ او په زمکه کښے

فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝ بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ

په زمکه کښے | فساد خوروونکی | پاتے بچ شوے (کتلے) | د الله | غوره ده | تاسو دپاره | که چرے

فساد مهٔ خوروئ. که تاسوز ما خبره منځ نو د الله تعالیٰ (په درکړی مال کښے) بچ پاتے شوے کتله

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ۝ قَالُوْا

یئ تاسو | مومنان | اونهٔ یم زهٔ | په تاسو باندے | نگهبان | دوی اووئیل

تاسوله دیره ښهٔ (غوره) ده (او که نه منځ نو) زهٔ خوځه ستاسو نگران (پیرَدار) مقرر شوے نه یم.

يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ

اے شعیبؑ! | آیا ستامونځ (دین) | تاته حکم کوی | چه مونږ پریږدو | هغه څه | چه بندگی به ئے کوله

قوم وَرته اووئیل. اے شعیب! آیا ستا مونځ (دین) تاته ددے خبرے حکم کوی چه زمونږ پلار نیکه چه

اٰبَآؤُنَآ اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ۭ اِنَّكَ لَاَنْتَ

پلار نیکه زمونږ | یاداچه مونږ اونه کړو | په خپلو مالونو کښ | (هغه) څه | چه مونږ ئے غواړو | بیشکه ته (خو)

دچا عبادت کولو هغه مونږ پریږدو یا (دخپل) مال دولت باره کښے چه مونږ څه غواړو په هغے کښ هم مونږ خپله رضا پریږدو

الْحَلِيْمُ الرَّشِيْدُ ۝ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ

خامخا ډیر صبر ناک | اوهوښیار (ښه سړے) ئے | هغه (ورته) اووئیل | اے قومه زما! | الږسوچ اوکړئ تاسو | که چرے یم زهٔ

واقعی ته خو ډیر صبر ناک اوهوښیار سړے ئے. شعیبؑ ورته اووئیل اے زما دقوم خلقو الږدا راته اووایئ

عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ

په ښکاره دلیل | دخپل رب دطرف نه | اوهغه راکړی وی ماته | دخپل طرف نه | روزی | ښه

که زه دخپل رب دطرف نه په یو واضح دلیل باندے قائم یم اوهغه ماته دخپل طرف نه ښه روزی راکړی وی

وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ۭ اِنْ اُرِيْدُ

اوزهٔ نه غواړم | چه زه دمخالفت اوکړم ستاسو | دهغه څهٔ | چه تاسو منع کوم | دهغے نه | زه (خو) نه غواړم

اوزما دا اراده نه ده چه دکومے خبرے نه تاسو منع کوم ستاسو پشی شا هغه پخپله اوکړم

اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۭ وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ۭ

مګر | اصلاح (کول) | څومره چه | وَس لرم | اونه دے | ماله توفیق راکول | مګر په الله باندے دے

زما مقصد خو دخپل وس مناسب ستاسو اصلاح کول دی اوماله توفیق راکول په الله تعالیٰ دی

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۝ وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ

خاص په هغه | ماتوکل کړے دے | اوهم هغه ته به | وَرګړ څم | او اے قومه زما! | تیار دِنه کړی تاسو

خاص په هغه باندے ماځان سپارلے دے اودهغه طرف ته زه رجوع کوم او اے زما قومه! (هسے نه چه)

شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ

زما مخالفت (دشمنی) | دے نه چه ورسیږی تاسوته (عذاب) | پشان دهغے (عذابونو) | چه رسیدلی وو | قَوم | دنوحؑ ته

زما مخالفت ددے خبرے سبب جوړشی چه په تاسو هم هغه شان عذابونه راشی څنګه چه دنوحؑ په قوم

أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ؕ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ

یا قوم د هودٌ ته | یا د قوم د صالحٌ له | اونهٔ دے | قوم د لوطٌ | تاسو نه

یاد هودٌ په قوم باندے یاد صالحٌ په قوم باندے راغلی وو او د لوطٌ قوم هم تاسونه څه لرے نه دے

بِبَعِيْدٍ ﴿۸۹﴾ وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ؕ اِنَّ

څه لرے | او بخښنه اوغواړئ | درب خپل نه | بیا | توبه اوباسئ | هغه ته | بیشکه

او د خپل رب نه معافی اوغواړئ بیا هم هغه ته رجوع (توجه) اوکړئ یقیناً

رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ﴿۹۰﴾ قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ

رب زما | ډیر مهربانه | مینه کوونکے دے | دوی اووئیل | اے شعیب! | مونږ (خو) نه پوهیږو

زما رب ډیر مهربان زیاته مینه کوونکے دے۔ قوم ورته اووئیل اے شعیبؑ! ستاپه ډیرو خبرو خو مونږ

كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا ضَعِيْفًا ۚ

په ډیرو هغه خبرو | چه ته ئے کوے | او بیشکه | مونږ وینو تالره | په خپل مینځ کښے | کمزورے

پوهیږو هم نهٔ او ته مونږ ته په مونږ کښے ډیر کمزورے سړے ښکارے

وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ۡ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ﴿۹۱﴾

لوکهٔ چرے نه وے | ستا خاندان | نو مونږ به ته په کتو ویشتلے وے | او نه ئے ته | په مونږ باندے | څه عزتمند (غالب)

او که ستا خاندان نه وے نو مونږ به ته سنګسار کړے وے او ستاپه مونږ باندے څه زور نه چلی

قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

هغه اووئیل | اے زما قومه! | آیا زما خاندان | ډیر عزتمند دے | په تاسو | د الله نه

شعیبؑ ورته اووئیل اے زما قومه! آیا په تاسو باندے زما د خاندان دباؤ (حق) د الله تعالیٰ نه زیات دے؟

وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ؕ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

او تاسو غورزولے دے هغه | روستو د ځان خپل نه | بیشکه | زما رب | په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ

او تاسو هغه خپل شاته غوزولے دے (پریښودلے دے) یقیناً زما رب ستاسو په ټولو عملونو

مُحِيْطٌ ﴿۹۲﴾ وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ؕ

احاطه کوونکے دے | او اے قومه زما! | تاسو عمل کوئ | په خپله طریقه | او بیشکه زه هم | عمل کوونکے یم

احاطه کونکے دے او اے قومه تاسو (هم) خپل کفری عملونه کوئ او زهٔ هم د دعوت عمل کونکے یم

سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَمَنْ

زر ده | چه تاسو به پوهه شئ | چه څوك دی | چه رابه ئی هغه ته | دا سے عذاب | چه رسوا به ئے کړی | او څوك دے

او ډیر زر به تاسو ته پته اولګی چه په چا به هغه عذاب راځی چه رسوا به ئے کړی

هُوَ كَاذِبٌ ؕ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّيْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ﴿۹۳﴾ وَلَمَّا

چه دروغژن دے هغه | او تاسو هم انتظار کوئ | بیشکه زه هم | تاسو سره | انتظار کوونکے یم | او هر کله

او څوك دروغژن دے تاسو هم انتظار کوئ بیشکه زهٔ هم تاسو سره انتظار کونکے یم۔

جَآءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

چه راغے | حکم زمونږ | نو بچ کړو مونږ | شعیبؑ | او هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے وو | دهغه سره

اوکله چه زمونږ حکم (عذاب) راغے نو مونږ شعیب اودهغه مومنان ملګری په خپل رحمت سره بچ کړل

بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا

په رحمت | خپل سره | او راونیول | هغه خلق | چه ظلم ئے کړے وو | تیزے چغے | نو شول دوی

او په ظالمانو باندے یوه ناترسه چغه اووهلے شوه نو په خپلو کورونو کښے

فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۙ﴿۹۴﴾ كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ؕ اَلَا

په کورونو خپلو کښے | پرمخے (مړه) پراته | لکه چه | نه وو اوسیدلی دوی | په دے (کورونو) کښ | خبردار

دا سے پرمخے مړه پریوتل لکه چه هلته هیڅو اوسیدلی نه وو خبردار!

بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ؕ﴿۹۵﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا ع

هلاکت دِوی | مدین والو دپاره | لکه څنګه چه | هلاک شو | ثمودیان | او یقیناً | لیږلے وو مونږ

مدین (والا) هم درحمت نه دا سے لرے پریوتل لکه څنګه چه ثمودیان لرے پریوتلی وو۔ او یقیناً مونږ

مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۹۶﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

موسیٰؑ | په نخښو خپلو | او دلیل | ښکاره سره | فرعون | اودهغه سردارانو ته

موسیٰؑ د خپلو نخښو او ښکاره (واضح) دلیل سره فرعون او دهغه سردارانو ته لیږلے وو

فَاتَّبَعُوْۤا اَمْرَ فِرْعَوْنَ ۚ وَمَاۤ اَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيْدٍ ۚ﴿۹۷﴾

نو روان شو هغوی | په حکم (طریقه) | د فرعون پسے | او نه وو | حکم (طریقه) | د فرعون | څه فائدے والا

نو هغوی د فرعون خبره اومنله ـ او د فرعون خبره بالکل درست نه وه۔

يَقْدُمُ قَوْمَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَاَوْرَدَهُمُ النَّارَ ؕ

وړاندے به روان وی دے | د قوم خپل نه | په ورځ | د قیامت | نو وَرداخل به کړی دوی لره | اُور ته

هغه (فرعون) به د قیامت په ورځ د خپل قوم نه مخکښے مخکښے (روان) وی نو ټول به دوزخ ته ورلنباسی

وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُوْدُ ؕ﴿۹۸﴾ وَاُتْبِعُوْا فِيْ هٰذِهٖ لَعْنَةً

اوهغه ډیر بد | ځائے (کودن) دے | د وَرتللو | اوپرله پسے لګولے شو په دوی پسے | په دے دنیا کښے هم | لعنت

اودا (دوزخ) ډیر خراب (بد) ځائے د کوزیدو دے۔ او په دے دنیا کښے هم ورپسے لعنتونه دی

وَّيَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ ؕ﴿۹۹﴾ ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ

او په ورځ | د قیامت هم | هغه خراب | انعام دے ورکړے شوے | دا | بعضے خبرونه دی

او په قیامت کښے به هم وی اودا ډیره بده ورکړه او (خرابه) بدله ده چه دوی ته به ورکړے شی۔ دا دے د کلو څه حالات دی

الْقُرٰى نَقُصُّهٗ عَلَيْكَ مِنْهَا قَآئِمٌ وَّحَصِيْدٌ ؕ﴿۱۰۰﴾

د کلو | چه مونږ ئے بیانوو | تاته | بعضے ددے نه | ولاړ دی (آباد دی) | او بعضے ړیلے شوی (ختم شوی) دی

چه مونږ ئے تاته بیانوو چه څه کلی پکښے لاتر اوسه آباد (موجود) دی او څه پکښے ختم شوی دی

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَمَآ اَغْنَتْ

اومونږ ظلم نه دے کړے په دوی باندے | لیکن | دوی پخپله ظلم کړے وو | په ځانونو خپلو | نو لرے نه کړو
اومونږ په دوی هیڅ ظلم نه دے کړے لیکن دوی پخپله په پخپلو ځانونو ظلم کړے وو (نتیجه ئے داشوه)

عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِيْ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ

د دوی نه | خدایانو دوی | هغه خدایان | چه دوی به رابلل | د الله نه سوا | هیڅ څیز
چه کله ستا درب دعذاب حکم راغے نو کوم معبودان (خدایان) چه دوی دالله تعالی نه سوا رابلل

لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ وَمَا زَادُوْهُمْ غَيْرَ تَتْبِيْبٍ ۝

کله چه | راغے | حکم | درب ستا | اوهغوی (خدایانو) زیات نه کړو دوی له | سوا | د تباهۍ نه
هغه ئے هیڅ په کار رانغلل او د تباهۍ نه سوا ئے ورله هیڅ ورنکړل

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ؕ

اوهم دغه شان | نیول دی | ستا درب | کله چه | هغه نیسی | کلی | اوهغوی | ظالمان وی
او کوم کل چه ظالمان وی ستا رب چه کله هغوی را نیسی نو دهغه نیول هم دغه شان وی

اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ

بیشکه | دهغه نیول | دردناک | سخت دی | بیشکه | په دے کښے | خامخا نخښه ده | دهغه چا دپاره
یقیناً دهغه نیول ډیر دردناک اوډیر سخت دی. یقیناً په دے تولو خبرو کښے دهغه چا دپاره لوئے عبرت (نخښه) ده

خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ ؕ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوْعٌ ۙ لَّهُ النَّاسُ

چه یریږی | د عذاب | د آخرت نه | دا | (داسے) ورځ ده | چه جمع به کړے شی | دے ته | خلق
څوک چه د آخرت دعذاب نه یریږی هغه به داسے ورځ وی چه ټول خلق به پکښے (ورته) راټول کړے شی

وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُوْدٌ ۝ وَمَا نُؤَخِّرُهٗٓ اِلَّا لِاَجَلٍ

او دا | داسے ورځ ده | چه گواهی به او کړے شی (په دے کښ) | اومونږ نه ورسته کوو داورځ | مګر | نیټے
اوداسے ورځ به وی چه په یو بل به گواهۍ ورکړے شی۔ اومونږ خو (داورځ) یو مقرر نیټے پورے ورسته

مَّعْدُوْدٍ ؕ يَوْمَ يَاْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۚ

مقرر پورے | په کومه ورځ | چه راشی دا | نیټه (نو) خبرے به نشی کولے | هیڅ یو کس | مګر | دهغه په اجازت
کړے ده کله چه دغه ورځ راشی نو هیڅ څوک به دالله تعالی د اجازت نه بغیر خبرے نه شی کولے بیا به

فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ۝ فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا

بس بعضے به دوی نه | بدبخت وی | او (بعضے به) نیک بخت وی | نو (پس) | هغه خلق | چه بدبخت وی
څنے په دوی کښے بدحاله (بدبخت) وی او څنے به خوشحاله (نیک بخت) وی نو کوم خلق چه به بدبخته وی

فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ ۝ خٰلِدِيْنَ

نو دوی به په اور کښے وی | د دوی دپاره به | په هغے کښے | ساه راخکل (اسویلی) | اوساه ویستل (چغے) | همیشه به وی
هغوی به په دوزخ کښے وی چه پکښے به (دخر وغوندے) نعرے سورے اوبلسی دوی به په هغے (دوزخ) کښے همیشه همیشه وی

فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ

په هغے کښے | ترڅو چه وی | آسمانونه | او زمکه | ماسوا | دهغے | چه اوسے غواړی

ترڅوپورے چه (دَقیامت) اسمانونه اوزمکه موجودوی مگر هغه کناهکار مؤمنان چه ستارب ئے اوغواړی

رَبُّكَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ۝ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

رب ستا | بیشکه | رب ستا | کوونکے دے | دهغه څه | چه وے غواړی | او هغه خلق

نومعاف به ئے کړی یقیناً ستارب چه دڅه اراده اوکړی نوپه هغے باندے پوره عمل کوی۔ اوکوم خلق

سُعِدُوْا فَفِى الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ

چه نیك بخت کړے شوی دی | نو(هغوی به) په جنت کښے وی | همیشه به وی | په هغے کښے | ترڅو چه وی

چه نیك بخته وی هغوی به دابتداء نه په جنت کښے همیشه همیشه وی ترڅوپورے چه (دَقیامت)

السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً

آسمانونه | او زمکه | ماسوا | دهغے نه | چه وغواړی | ستارب | دا وَرکړه ده

آسمانونه اوزمکه قائم (موجود) وی مگرچه ستارب څه (نورڅه) وغواړی دانهٔ ختمیدونکی

غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ۝ فَلَا تَكُ فِىْ مِرْيَةٍ مِّمَّا يَعْبُدُ هٰٓؤُلَآءِ ؕ

نه ختمیدونکے | پس ته مه کیږه | په شك کښے | دهغه څه نه | چه عبادت ئے کوی | دا خلق

بے انتهاء ورکړه ده نو اے پیغمبره! دامشرکان چه دچا عبادت کوی دهغوی دبطلان په بارہ کښے معمولی شك هم مه کوه

مَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا كَمَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُهُمْ مِّنْ قَبْلُ ؕ

دوی عبادت نه کوی | مگر | پشان دهغے | چه عبادت به کولو | ددوی پلار نیکه | پخواد دے نه

دوی هم هغه شان عبادت کوی لکه څنګه چه ددوی نه مخکښے ددوی پلار نیکه کولو

وَاِنَّا لَمُوَفُّوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ غَيْرَ مَنْقُوْصٍ ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا

اوبیشکه مونږ | خامخا پوره ورکونکی یُو دوی ته | برخه ددوی | بغیر دکمولو نه | اویقیناً | مونږ ورکړے وو

اویقین اوساته چه مونږ به ټولوته ددوی برخه (دَعذاب) بغیر دڅه کمی نه پوره پوره ورکوو۔ اویقیناً مونږ

مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

موسیٰ ته | کتاب | نو اختلاف اوکړے شو | په هغے کښے | اوکه چرے نه وے | خبره

موسیٰ ته کتاب ورکړے وو نوپه هغے کښ بنی اسرائیلو اختلاف اوکړو کهٔ ستارب دطرف نه یوه خبره دَعذاب ورکولو دپاره

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ

چه مخکښے مقرر شوے دہ | ستارب دطرف نه | نو خامخا فیصله به (کړے) شوے وہ | ددوی ترمینځه | اوبیشکه دوی

دمخکښے نه تاکلے شوے نه وے نو ددوی فیصله به پخواشوے وے او داخلق په خپل کتاب کښ داختلاف کولو دوجه نه دے

لَفِىْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ۝ وَاِنَّ كُلًّا لَّمَّا

خامخا په شك کښے دی | ددے نه | په کلك شك کښے | اوبیشکه | هریو ددوی نه | چه کله (راپورته کړے شی دوی)

قرآن په بارہ کښ هم په کلك شك کښے پراته دی۔ اویقین اوساته چه دے ټولو خلقو ته به ستارب دقیامت په ورځ دخپلو عملونو بدله

لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ اَعْمَالَهُمْ ؕ اِنَّهٗ بِمَا يَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۱۱﴾

نو پوره بدله به ور کړی حوی نه | ربستا | د عملونو ددوی | بیشکه الله | په هغه څه | چه دوی ئے کوی | ښه خبردار دے
پوره پوره به ور کوی یقیناً هغه ددوی د ټولو عملونو له پوره خبر دے. نو اے پیغمبره! تاته چه څنګه حکم شوے دے دغسے مطابق

فَاسْتَقِمْ كَمَآ اُمِرْتَ وَمَنْ تَابَ مَعَكَ

پس کلك اوسه ته | لکه څنګه چه | حکم کړے شوے دے تاته | او هغه څوك (هم) | چه توبه ئے کړے ده | تاسره
په دین باندے ثابت قدم اوسه او هغه خلق دِهم ثابت قدم اوسی چه ستا په ملګرتیا کښ الله تعالی ته راګرځیدلی دی

وَلَا تَطْغَوْا ؕ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۲﴾ وَلَا تَرْكَنُوْٓا

او حد نه مه تیریږئ | بیشکه الله | هغه څه لره | چه تاسو ئے کوئ | ښه لیدونکے دے | او مه مائله کیږئ
او د حد نه مه اوځئ یقین او کړئ چه تاسو څه عمل کوئ هغه الله تعالیٰ وینی او (اے مسلمانانو!)

اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ ۙ وَمَا لَكُمْ

هغه خلقو ته | چه ظلم ئے کړے دے | ګنی او به رسی تاسو ته | اُور | او نشته دے | ستاسو دپاره
ظالمانو ته ځان لږ هم مه نزدے کوئ ګنی د دوزخ اور به مو اوسوزوی او

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَاَقِمِ

سِوا | د الله نه | هیڅ څوك دوستان | بیا به | ستاسو سره مدد هم نشی کیدے | او پابندی کوه
د الله تعالیٰ نه بغیر ستاسو هیڅ څوك بچ کونکے نشته بیا به تاسو سره هیڅ قسمه مدد نشی کولے او (اے پیغمبره!)

الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ الَّيْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ

د مانځه | په دواړو طرفونو | د ورځ کښے | او په څه حصه | د شپے کښے | بیشکه | نیکۍ
د ورځے په دواړو طرفونو کښے او د شپے په څه حصه کښے د مانځه پابندی کوه یقیناً نیکۍ

يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَاصْبِرْ

ختمولی | ګناهونه | دا | نصیحت دے | د پاره د نصیحت اغستونکو | او صبر کوه
بدئ ختمولی دا د نصیحت منونکو د پاره یو نصیحت دے او د صبر نه کار اخله

فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ فَلَوْلَا كَانَ

پس بیشکه | الله | نه ضائع کوی | اجر | د نیکانو | پس ولے نه وو
ځکه چه الله تعالیٰ د نیکانو اجر نه ضائع کوی ۔ تاسو نه چه مخکښے

مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ اُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ

د هغه قومونو نه | چه تاسو نه مخکښے وو | خاوندان د پوهے | چه منع ئے کړے وے
کوم اُمتونه اوپریږی تیرے شوے دی په هغوی کښ داسے عقلمند اوپوهه خلق وے لے موجود نه شو چه په زمکه کښے

عَنِ الْفَسَادِ فِى الْاَرْضِ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ اَنْجَيْنَا مِنْهُمْ ۚ

د فساد نه | په زمکه کښے | مګر | لږ | د هغه چا نه | چه مونږ بچ کړی وو هغوی | د دوی نه
ئے د فساد د خورولو نه خلق منع کړے وے سوا د هغه لږو خلقو نه چه مونږ د خپل عذاب نه بچ کړی وو

وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَآ اُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا

او روان شول | هغه خلق | چه ظلم ئے کړے وو | هغه څه پسے | چه عیش ور کړے شوے وو دی نه | په هغے کښے | اووو دی

او ظالمان خلق په خپل عیش عشرت پسے روان شول او

مُجْرِمِيْنَ ﴿۱۱۶﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ

مجرمان | او نه دے | رب ستا (داسے) | چه هلاک کړی | کلی | په وجه د ظلم

جرمونه ئے کول. اوستا رب داسے هیڅ کله نه کوی چه د کلو خلق دهغوی د ظلم او شرک په وجه تباه کړی

وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ

په داسے حال کښے چه هغه اوسیدونکی | اصلاح کونکی وی | اوکه چرے | غوښتلے | رب ستا | نو خامخا گرځولی به ئے وے

په داسے حال کښے چه بعضے خلق د هغے اصلاح اود دعوت کار کوی اوکه ستا رب غوښتلے نو ټول خلق به ئے په

النَّاسَ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلَا يَزَالُوْنَ مُخْتَلِفِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِلَّا مَنْ

(ټول) خلق | اُمت | یَو | او همیشه به وی دوی | اختلاف کونکی | مگر | هغه څوک

یوه طریقه روان کړی وے (یو امت جوړ کړے وے) خو دوی به اوس همیشه په اختلاف کښے پراته وی سوا د هغه چا نه

رَّحِمَ رَبُّكَ ؕ وَلِذٰلِكَ خَلَقَهُمْ ؕ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ

چه رحم (پرے) اوکړی | رَب ستا | او د دے دپاره ئے | دوی پیدا کړی دی | اوپوره شوے ده | فیصله

چه ستا رب پرے رحم وکړی ـ او هم د دے (امتحان) دپاره خو ئے دوی پیدا کړی دی او ستا د رب دا خبره

رَبِّكَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۱۹﴾

د رب ستا | چه خامخا زه به ډکوم | جهنم | د پیریانو | او انسانانو نه | ټول په یوځای

پوره شوے (فیصله شوے) ده چه زهٔ به دوزخ د پیریانو او انسانانو ټولو نه ډکوم۔

وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ

او هر یو خبر | چه بیانوو ئے مونږ | تاته | د خبرو | د پیغمبرانو نه | دا هغه (څه) دی | چه مونږ کلکوو

او اے پیغمبره! د تیرو شوو پیغمبرانو په قصو کښے مونږ تاته هغه قصے بیانوو چه په هغے سره مونږ

بِهٖ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِيْ هٰذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ

په دے سره | زړه ستا | او راغلے دے تاته | په دے قصو کښے | حق | او نصیحت

ستا زړه مظبوط کړو ـ او په دے قصو کښے تاته حق بیان او د مومنانو دپاره نصیحت او یاد داشت

وَّذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

او یاداشت | دپاره د مومنانو | او اووایه | هغه خلقو ته | چه ایمان نه راوړی

(یاد کیږ نه) راغلے ده۔ او اے پیغمبره! کوم خلق چه ایمان نه راوړی هغوی ته اووایه

اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ ؕ اِنَّا عٰمِلُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ وَانْتَظِرُوْا ۚ

چه تاسو عمل کوئ | په خپله طریقه | بیشکه مونږ (هم) | عمل کونکی یُو | او انتظار کوئ تاسو

چه تاسو په خپله طریقه عمل کوئ مونږ هم په خپله طریقه عمل کوو او تاسو هم د الله تعالیٰ د فیصلے انتظار کوئ

اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

بیشکه مونږ(هم) | انتظار کونکی یُو | اوخاص الله لره دے(علم) | دغیبو(پټو څیزونو) | د اسمانونو | او د زمکے

مونږ هم انتظار کوو. په اسمانونو اوزمکه کښے چه څومره پټ څیزونه دی هغه ټول دالله تعالیٰ په علم کښے دی

وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ؕ

اوخاص هغه ته به | واپس کیږی | کارونه | ټول | نو بندګی کوه دهغه | او توکل کوه | په هغه باندے

اوهغه ته به ټول معاملات (کارونه) واپس کیږی نو اے پیغمبره! هم دهغه بندګی کوه اوهم په هغه باندے خان سپارہ

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ ع

اونه دے | رب ستا | بے خبره | دهغه څه نه | چه تاسو ئے کوئ |

او ستا رب ستاسو د عملونو نه بے خبره نه دے۔

آیاتها [۱۱۱]	سورة یوسف مکّیّة	رکوعاتها [۱۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۱﴾ اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ

الٓرٰ | دا | آیتونه دی | د کتاب | واضح (روښانه) | بیشکه مونږ | رالیږلے دے دا

الف لام را۔ دا دهغه کتاب آیتونه دی چه د حق او باطل واضحه بیان کوی مونږ دا

قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ

قرآن | په عربی کښے | دے دپاره چه تاسو | پوهه شئ | مونږ | بیانوو | تاته

قرآن په عربی ژبه کښے نازل کړے دے چه تاسو (پرے) ښه پوهه شئ. اے پیغمبره! دے قرآن په ذریعه

اَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَاۤ اَوْحَيْنَاۤ اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ ۫

ډیر ښائسته بیان | په دے وجه | چه وحی (شروع) کړے دهمونږ | تاته | دے | قرآن

چه تاته مو نازل کړے دے مونږ تاته خائسته بیان اوروو (بیانوو)

وَاِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۳﴾ اِذْ قَالَ يُوْسُفُ

اویقیناً | ته وے | مخکښے دے نه | خامخا د بے خبرونه | کله چه | اووئیل | یوسف

او (یقیناً) دے قرآن نه مخکښے ته دے نه بالکل خبر نه وے۔ (دا دهغه وخت خبره ده چه)

لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا

پلار خپل ته | (چه) اے زما پلاره! | بیشکه زهٔ | اولیدل ما | یووولس | ستوری

کله یوسفٔ خپل پلار یعقوبٔ ته اووئیل چه اے باباجان ما (په خوب کښے) یووولس ستوری

وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَاَيْتُهُمْ لِيْ سٰجِدِيْنَ ۝ قَالَ يٰبُنَيَّ

اونمر | اوسپوږمۍ | اولیدل ما دوی | ماته | سجده کوونکی | هغه اووئیل | اے زما خویه!

اونمر اوسپوږمۍ اولیدل چه دا ټول ماته سجده کوی۔ پلار وَرته اووئیل اے زما خویه!

لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلٰٓى اِخْوَتِكَ فَيَكِيْدُوْا لَكَ كَيْدًا ؕ

مه بیانوه | خوب خپل | وړونړو خپلو ته | کنی دوی به چل جوړ کړی | ستا خلاف | څه چل

دا خپل خوب خپلو وړونړو ته مه بیانوه کنی ستا خلاف به دوی څه سازش (چال) جوړ کړی

اِنَّ الشَّيْطٰنَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۝ وَكَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ

بیشکه | شیطان | د انسان | دشمن دے | ښکاره | اودغه شان به | غوره کړی تا

څکه چه شیطان د انسان ښکاره دشمن دے۔ اودغه شان به ستا رب تا (د نبوت دپاره) غوره

رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهٗ

رب ستا (د نبوت دپاره) | او او به ښائی تاته | تعبیر بیانول | د خوبونو | اوپوره به کړی | نعمت خپل

کړی او تاته به د خوبونو صحیح تعبیر اوښائی او په تا او د یعقوب

عَلَيْكَ وَعَلٰٓى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَآ اَتَمَّهَا عَلٰٓى اَبَوَيْكَ

په تا باندے | اوپه خاندان (کورنۍ) | د یعقوب باندے | لکه څنګه چه | پوره کړے ئووه (نعمت) | ستا په پلار نیکه

په اولاد (کورنۍ) باندے به خپل نعمت دا سے پوره کړی لکه څنګه ئے چه د دے نه مخکښے ستا په پلار نیکه

مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

ددے نه مخکښے | په ابراهیمؑ | او اسحاقؑ باندے | بیشکه | رب ستا | پوهه | اوحکمت والا دے

ابراهیمؑ او اسحاقؑ باندے پوره کړے وو یقیناً ستا رب ښه پوهه او حکمت والا دے۔ یقیناً کوم خلق چه تانه

لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَاِخْوَتِهٖٓ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ ۝

یقیناً | شته دے | په (واقعه د) یوسفؑ کښے | او دهغه دورونړو کښے | نخښے (عبرتونه) | د تپوس کوونکو دپاره

ددے (واقعے پاره کښے) تپوس کوی دهغوی دپاره د یوسفؑ او دهغه دَورونړو په حالاتو کښے لوئے نخښے پرتے دی

اِذْ قَالُوْا لَيُوْسُفُ وَاَخُوْهُ اَحَبُّ اِلٰٓى اَبِيْنَا مِنَّا

کله چه | اووئیل دوی | چه خامخا یوسف | او ورور دهغهٔ | ډیر خوښ دے | پلار زمونږ ته | زمونږ نه

کله چه د یوسف ورونړو خپلو کښے یو بل ته اووئیل چه یقیناً یوسف او دهغه ورور زمونږ پلار ته زمونږ نه زیات خوښ دے

وَنَحْنُ عُصْبَةٌ ؕ اِنَّ اَبَانَا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝

او حال دا دے چه مونږ | پوره (مضبوط) ډله یُو | بیشکه | پلار زمونږ | خامخا دے په خطا ئی | ښکاره کښے

حالانکه مونږ خو یَو مظبوط جماعت (ډله) یو یقیناً زمونږ پلار په ښکاره غلط فهمئ او سادګئ کښے مبتلا دے

اِقْتُلُوْا يُوْسُفَ اَوِ اطْرَحُوْهُ اَرْضًا يَّخْلُ لَكُمْ وَجْهُ

اووژئ | یُوسف | یا ئے اوشړئ | یَو بل ملک ته | نو خالی به شی | تاسو ته | مخه

(اوس ددے حل دا دے چه بس) یوسف اووژئ یا ئے چرته بل ملک (زمکے) ته اوشړئ نو دپلار ټوله

اَبِيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا مِنْۢ بَعْدِهٖ قَوْمًا صٰلِحِيْنَ ۝ قَالَ قَآئِلٌ

د پلار ستاسو | او تاسو به شئ | د دے نه وروستو | خلق | نیکان | اووئیل | یو ویونکی

توجه به یواز ے تاسو ته شی او د دے هر څه کولونه پس به (په توبه ویستلو سره) تاسو نیکان شئ. هم په دوی کښے

مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوْا يُوْسُفَ وَاَلْقُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ

د دوی نه | (چه) مه وژئ | یُوسف | (بلکه) اوغورزوئ دے | په تیارو (دې) | دیو کچه کوهی کښ

یو کس ورته اووئیل چه یوسف وژئ مهٔ البته که تاسو خامخا څه کول غواړئ نو په یوشار کوهی کښے ئے اوغورزوئ

يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ السَّيَّارَةِ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۝

نو راوچت به کړی دهٔ لره | څوك | قافلے والا (مسافر) | که چرے | تاسو | (داسے) کوونکی یئ

څوك مسافر (قافله) به ئے راوباسی او د څان سره به ئے یوسی بس وړونړو ئے خپل پلار ته

قَالُوْا يٰٓاَبَانَا مَالَكَ لَا تَاْمَنَّا عَلٰى يُوْسُفَ

دوی اووئیل | اے پلاره زمونږ! | څه شوی دی په تا | چه اعتبار نه کوئ په مونږ باندے | په باره د یوسف کښے

اووئیل اے زمونږ پلاره! دا په تا څه شوی دی چه د یوسف په باره کښے په مونږ باندے اعتبار (اطمینان) نه کوئ

وَاِنَّا لَهٗ لَنٰصِحُوْنَ ۝ اَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَّرْتَعْ

اوبیشکه مونږ (خو) | د دهٔ | خامخا (دیر) خیر خواه یُو | تهٔ اولیږه دے | زمونږ سره | صبا | چه څه خوراك اوکړی

حالانکه دے کښے هیڅ شك نشته چه مونږ دهغه دیر خیر خواهان یُو صبا ته دے زمونږ سره اولیږه (پریږده)

وَيَلْعَبْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝ قَالَ اِنِّيْ

اولوبے اوکړی | اوبیشکه مونږ (به) | د دهٔ | خامخا حفاظت کوونکی یُو | هغه (ورته) اووئیل | (چه) بیشکه ما

چه څه وخوری (وځکی) او څه لوبے مشغولا اوکړی اویقین اوکړه چه مونږ به ددهٔ پوره حفاظت کوو

لَيَحْزُنُنِيْٓ اَنْ تَذْهَبُوْا بِهٖ وَاَخَافُ اَنْ يَّاْكُلَهُ الذِّئْبُ

غمگین (خفه) کوی | دا چه | تاسو بوځئ | دے | او زهٔ یریږم | چه اوبه خوری دهٔ لره | شرمخ

یعقوب ورته اووئیل که تاسو دے زمانه بوځئ نو ماسره به دیر غم وی او ماسره یره ده چه چرته تاسو ددهٔ نه غافله شئ

وَاَنْتُمْ عَنْهُ غٰفِلُوْنَ ۝ قَالُوْا لَئِنْ اَكَلَهُ الذِّئْبُ

اوتاسو به | ددهٔ نه | بے خبره یئ | دوی اووئیل | که چرے | اوخوړلو دے | شرمخ

نو شرمخ به ئے درنه اوخوری دوی ورته اووئیل چونکه مونږ یوه مضبوطه ډله یُو نو که بیاهم دے

وَنَحْنُ عُصْبَةٌ اِنَّآ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۝ فَلَمَّا

حالانکه مونږ | یوه (مضبوطه) ډله یو | (نو) بیشکه مونږ به | په دغه وخت کښے | خامخا تاوانیان یُو | بیا هر کله

شرمخ زمونږ نه اوخوری نو بیا خو به مونږ په دغه وخت کښ دیر تاوان والا یُو

ذَهَبُوْا بِهٖ وَاَجْمَعُوْٓا اَنْ يَّجْعَلُوْهُ فِيْ غَيٰبَتِ الْجُبِّ ۚ

چه دوی بوتلو | هغه لره | او اتفاق ئے اوکړو په دے | چه اوغورزوی دے | په تیاره (دې) | د کچه کوهی کښے

بیا چه کله دوی هغه د څان سره بوتلو او دا پخه فیصله ئے اوکړه چه دے په یوشار کوهی کښے اوغورزوی

وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُمْ بِاَمْرِهِمْ هٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝۱۵

او مونږ وحی او کړه | دۀ ته | (چه) خامخا ته به خبر وے دوی | د دوی په دے کار | او دوی | نه پوهیدل
او مونږ وحی او کړه یوسف ته چه (دا سے وخت به راشی چه) ته به دوی دے کار نه خبر کړے حکه دوی نه پوهیدل په مقام او مرتبه دیوسف باندے

وَجَآءُوْٓ اَبَاهُمْ عِشَآءً يَّبْكُوْنَ ۝۱۶ قَالُوْا يٰٓاَبَانَآ اِنَّا

او دوی راغلل | پلار خپل ته | ماسخوتن | چه ژړل ئے | دوی اووئیل | اے پلاره زمونږ! | بیشکه مونږ
او دشپے (ماسخوتن) ټول پلار ته خواله په ژړا راغلل۔ ورته ئے اووئیل اے زمونږ پلاره!

ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوْسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا فَاَكَلَهُ

تلی وو مونږ | منډے موو هلے | اوپریښودلے وو مونږ | یُوسفؑ لره | د سامان خپل سره | نو (پس) اوخوړلو هغه لره
مونږ د منډے مقابلے له تلی وو او یوسفؑ مو د خپل سامان سره پریښودلے وو (په دے کښے)

الذِّئْبُ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ ۝۱۷

شرمخ | اونه ئے ته | باور (یقین) کوونکے | په مونږ باندے | اګر که | یُو مونږ | رشتیني
شرمخ راغے او هغه ئے اوخوړلو اوستا زمونږ په خبره یقین نه راځی اګر که مونږ تاته رشتیا وایو۔

وَجَآءُوْ عَلٰى قَمِيْصِهٖ بِدَمٍ كَذِبٍ ۭ قَالَ بَلْ

او دوی راوړو | د هغه قمیص | چه ککړوو په وینه | د دروغو | یعقوبؑ اووئیل | بلکه
او د هغه په قمیص باندے ئے د دروغو وینه لګولے راوړه پلار ورته اووئیل (حقیقت دا نه دے)

سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ۭ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ۭ وَاللّٰهُ

خائسته کړے دے | تاسوته | زړونو ستاسو | ښو کار | نو صبر | ډیر ښه دے (زما سره) | او د الله
بلکه دا تاسو دځان نه یوه خبره جوړه کړے ده اوس خو زما د پاره بس هم صبر غوره دے او تاسو چه څه دروغ وایئ

الْمُسْتَعَانُ عَلٰي مَا تَصِفُوْنَ ۝۱۸ وَجَآءَتْ سَيَّارَةٌ فَاَرْسَلُوْا

نه مدد غواړ شتلے شی | په هغه څهٔ | چه تاسو ئے وایئ | او راغله | یوه قافله | نو (پس) اولیږلو هغوی
نو په هغے د الله تعالیٰ زما امداد او کړی او (بل خوا) یوه قافله راغله نو خپل یو کس (اوبه راوړونکی) ئے

وَارِدَهُمْ فَاَدْلٰى دَلْوَهٗ ۭ قَالَ يٰبُشْرٰى هٰذَا

| خپل اوبه راوړونکے | نو هغه زوړند ه کړه | بوقه خپله | وئے وئیل | اے زیړے دے | دا خو
دا اوبو راوړلو دپاره اولیږلو هغه چه خپله بوقه کوهی ته وغورزوله نو چغه ئے کړه راشئ زیړے مړ درباندے

غُلٰمٌ ۭ وَاَسَرُّوْهُ بِضَاعَةً ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا

یو هلک (غلام) دے | اودوی پټ کړو دے (دځان سره) | د تجارت دپاره | او الله | ښه پوهه وو | په هغه څه
دا خو پکښے یو هلک راوخته او دوی دۀ لره د مال تجارت په خیال پټ کړو او دوی چه څه کول الله تعالیٰ ته

يَعْمَلُوْنَ ۝۱۹ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍۢ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُوْدَةٍ ۚ

چه دوی کول | او دوی خرڅ کړو هغه | په قیمت | لږ (بے کاره) | په یو څو روپو | د شمار لوشو
دهغے پوره علم وو دوی بیا یوسفؑ په ډیر کم قیمت خرڅ کړو چه د شمار یو څو روپئ وے

ع ۳

وَكَانُوْا فِيْهِ مِنَ الزَّاهِدِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِي اشْتَرٰىهُ

او دوی وو | په ده کښے | بے رغبته (بیزاره) | اووئیل | هغه کس | چه دے ځاغستلے وو

اوپه یوسف کښے ددوی څه دلچسپی نه وه اوپه مصر کښے چه یوسف کوم سړی واغستلو هغه خپلے ښځے ته

مِنْ مِّصْرَ لِامْرَاَتِهٖٓ اَكْرِمِيْ مَثْوٰىهُ عَسٰٓى اَنْ يَّنْفَعَنَآ

په مصر کښے | ښځے خپلے ته | عزت اوکړه | داوسیدلو ددهٔ | کیدے شی | چه دے به فائده راکړی مونږ ته

اووئیل چه د ددهٔ ډیر خیال ساته کیدے شی چه دے به مونږ ته څه فائده راکړی

اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا ؕ وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِي الْاَرْضِ

یاپه اولادسو مونږ دے | دځوی په څاۍ | او دغه شان | مونږ ځاۍ ورکړو | یوسف ته | په زمکه (دمصر) کښے

یا به ځۍ مونږ خپل ځوۍ جوړ کړو او دغه شان مونږ په دغه ملک کښے یوسف ته ځاۍ ورکړو

وَلِنُعَلِّمَهٗ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ ؕ وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰٓى اَمْرِهٖ

اوچه مونږ اوښایو دهٔ څه | د تعبیر | د خوبونو نه | او الله | غالب دے | په کار خپل باندے

او مونږ ورته د خوب د خبرو صحیح تعبیر اوښایو او الله تعالیٰ په خپل هر کار باندے زور آور دے

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗٓ

لیکن | اکثر | خلق | نه پوهیږی | اوهر کله | چه دے (یوسف) اورسیدو | خوانۍ خپلے ته

لیکن ډیر خلق نه پوهیږی او هر کله چه یوسف خپلے خوانۍ ته اورسیدو

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝

نوور کړو مونږ دهٔ ته | حکمت | او علم | او دغه شان | مونږ بدله ورکوو | نیکانو ته

نو مونږ ورله طاقت ډپوهے او علم ورکړو او نیکانو خلقو ته مونږ هم دغه شان بدله ورکوو

وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَغَلَّقَتِ

او اوغولو لودهٔ لره | هغه ښځے | چه دے | په کور دهغے کښ وو | ددهٔ نفس په باره کښ | اوبندے ځۍ کړے

او دکومے ښځے په کور کښے چه یوسف اوسیدو هغے د یوسف د غلولو (ځان ته دمائله کولو) کوشش وکړو اوتولے

الْاَبْوَابَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ؕ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ اِنَّهٗ

تولے دروازے | اووے وئیل (هغه) | دلته راشه | تاته وایم | دهٔ اووئیل | پناه غواړم | د الله | بیشکه هغه

دروازے ځۍ بندے کړے او ورته ځۍ اووئیل چه دلته راشه یوسف اووئیل. په الله سره پناه غواړم هغه خو زما

رَبِّيْٓ اَحْسَنَ مَثْوَايَ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ۝ وَلَقَدْ

زما مالک دے | دهغه ښته کړے دے | زما داوسیدو ځاۍ | بیشکه | نه شی کامیابیدے | ظالمان | او یقینا

پالنهار دے چه زه ځۍ ډیر په ښهٔ طریقه ساتلے یم او یقیناً په کور دمولی کښ خیانت کونکی ظالمان کامیابیدے نشی. او یقیناً

هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ

هغے (ښځے) پوره اراده اوکړه | د ددهٔ | اودهغه (هم) اراده کړے وے | د هغے | که چرے نه وے لیدلے ده | دلیل

هغه ښځے (د یوسف سره د بدکارئ) پوره قصد کړے وو او د یوسف په زړه کښے به هم د دغه ښځے خیال راغلے وے که چرے

رَبِّهٖ ؕ كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ؕ اِنَّهٗ

دخپل رب | دغه شان | چه لرے کړو مونږ | د دغه نه | بدی | او بے حیائی (زنا) | بیشکه دے وو

هغه دخپل رب دلیل (علم د نبوت) نه وے لیدلے داکار مونږ ځکه وکړو چه مونږ دهغه نه بدکاری او بے حیائی لرے اوساتو

مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ ۝ وَاسْتَبَقَا الْبَابَ وَقَدَّتْ

زمونږ د (هغه) بندګانونه | چه خالص کړے شوی دی | او دواړو منډه کړه | دروازے ته | او هغے (ښځے) او شلولو

یقیناً هغه زمونږ په مخلصانو (بچ کړے شوے) بندګانو کښے وو او دواړو دروازے طرف ته منډه کړه او ښځے

قَمِيْصَهٗ مِنْ دُبُرٍ وَّاَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا الْبَابِ ؕ قَالَتْ

قمیص د ده | د ورستو نه | او وپیاموندلو دواړو | خاوند د ښځے | دروازے سره | هغے اووئیل

د ورستو (دشا) نه دهغه قمیص او شلولو په دے کښ دواړو د دروازے سره د ښځے خاوند عزیز مصر اولیدو نو دے ښځے

مَا جَزَآءُ مَنْ اَرَادَ بِاَهْلِكَ سُوْٓءًا اِلَّآ اَنْ يُّسْجَنَ

څه سزا کیدے شي | دهغه چا | چه غواړي | ستا کور والا سره | بدکاری | سوا | د دے نه چه قید کړے شي

فوراً اووئیل چه څوك ستا ښځے ته بد نیته شي دهغه د دے نه سوا نوره څه سزا کیدے شي چه یا خو قید کړے شي

اَوْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِيْ عَنْ نَّفْسِيْ

یا (بله څه) دردناکه سزا (ورکړے شي) | هغه اووئیل | (چه) دے (پخپله) | او غلولم زهٔ | زما د نفس پاره کښے

یا وَرله څه بله دردناکه سزا ورکړے شي یوسفؑ اووئیل دے خو پخپله زه ځان ته مائله کول غوښتلم

وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ اَهْلِهَا ۚ اِنْ كَانَ قَمِيْصُهٗ قُدَّ

او فیصله اوکړه | یو فیصله کوونکی | د دے (ښځے) د خاندان نه | که چرے | د دهٔ قمیص | شلیدلے وی

او د ښځے د خاندان نه یو عاقل فیصله کونکی په بیان د بعضو علامتونو سره فیصله اوکړه چه کهٔ چرے د یوسفؑ قمیص

مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝ وَاِنْ كَانَ

د مخے نه | نو دا ښځه رشتیا وائی | او دے | د دروغژنو نه دے | او که چرے

د مخے نه شلیدلے وی نو دا ښځه رشتیا وائی او یوسفؑ د دروغژن دے۔ او که چرے

قَمِيْصُهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

د ده قمیص | شلیدے وی | د ورُوستو نه | نو دا دروغ وائی | او دے | د رشتینو نه دے

د دهٔ قمیص دشا (ورستو) نه شلیدلے وی نو دا ښځه دروغ وائی او یوسف رشتینے دے

فَلَمَّا رَاٰ قَمِيْصَهٗ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ اِنَّهٗ

پس هر کله | چه هغه اولیدلو | قمیص د دهٔ | چه شلیدلے وو | د ورُوستو نه | نو وئیل | بیشکه دا کار

بیا کله چه خاوند د یوسفؑ قمیص دشا (ورستو) نه شلیدلے اولیدو نو وئیل چه دا ستاسو د ښځو مکر

مِنْ كَيْدِكُنَّ ؕ اِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيْمٌ ۝ يُوْسُفُ اَعْرِضْ

ستاسو (د ښځو) یو فریب دے | بیشکه | ستاسو فریب | ډیر لوئے دے | اے یوسف | مخ واړوه

(فریب) دے یقیناً ستاسو مکرونه (فریبونه) په مقابله د سړو کښ ډیر لوئے دی۔ اے یوسف اته د دے خبرے څه خیال (پروا)

عَنْ هٰذَا ۚ وَاسْتَغْفِرِیْ لِذَنْۢبِكِ ۖ اِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخٰطِـِٕیْنَ ۝۲۹

دے نه | اوته بخښنه اوغواړه (اے ښځے) | دګناه خپلے | بیشکه | هم ته ئے | د خطاکارو نه

مه کوه (دا خبره پریږده اوذکر ئے مکوه) او اے ښځے! ته دخپلے ګناه معافی اوغواړه ـ یقیناً هم ته خطاکاره ئے

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِی الْمَدِیْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِیْزِ تُرَاوِدُ

اوووئیل | زنانو | په ښار کښے | چه د عزیز ښځه | غلوی

اودښارځۀ ښځو خبرے شروع کړے چه د عزیز ښځه خپل غلام خپل ځان ته مائله کول غواړی

فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا

غلام خپل | دهغه دنفس په باره کښے | یقیناً | هغه ننوتلے دے دهغے زړه ته | په محبت کښے | بیشکه مونږ | وینو دا

اودهغه محبت د دے د زړۀ پرده ورننوتے دے زمونږ په خیال خو دا په ښکاره ګمراهۍ کښے

فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝۳۰ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ اَرْسَلَتْ

په ګمراهۍ (غلطۍ) | ښکاره کښے | پس هرکله | چه دے واوریدو | دهغوی طعن (بدنامے یا مکر) | نو پیغام ئے ولیږلو

مبتلا شوے ده ـ نو هرکله چه هغے دے ښځو دمکر خبرے واوریدے نو هغوی ئے ډوډئ له راوغوښتلے

اِلَیْهِنَّ وَاَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَاً وَّاٰتَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ

هغوی ته | او تیار ئے کړو | هغوی دپاره | یومجلس (څلئ ځتکیه کانو) | اوورئے کړه | هرے یوے ته

او دتکیه ګانو مجلس ئے ورله تیار کړو او هرے یوے ته ئے (په لاس کښے)

مِّنْهُنَّ سِكِّیْنًا وَّقَالَتِ اخْرُجْ عَلَیْهِنَّ ۚ فَلَمَّا رَاَیْنَهٗۤ

دهغوی نه | چاړه | اووئیل (یوسفۀ ته) | چه ته راوځه | دوی ته | پس هرکله چه | هغوی اولیدو دے

چاړه (چاقو) ورکړه اویوسفۀ ته ئے اووئیل چه لږ ددوی مخے ته راووځۀ نوکله چه هغوی یوسف ولیدو

اَكْبَرْنَهٗ وَقَطَّعْنَ اَیْدِیَهُنَّ وَقُلْنَ حَاشَ لِلّٰهِ مَا هٰذَا

نو دیر لوئے ئے اوګڼلو | اوپرے ئے کړل | لاسونه خپل | اووے وئیل | پاک دے | الله | نه دے دا

نو دهغۀ حسن ته حیرانے پاتے شوے او خپل لاسونه ئے پریکړل اووئے وئیل چه سبحان الله! (پاک دے الله)

بَشَرًا ؕ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا مَلَكٌ كَرِیْمٌ ۝۳۱ قَالَتْ فَذٰلِكُنَّ

انسان | نه دے دا | مګر | یوفرشته | عزتمنده | دے (ښځے) اووئیل | پس هم دا

داسړے خو بشر نه شی کیدے داخو بس یوه عزتمنده فرشته ده دعزیز ښځے ورته اووئیل اوګورئ کنه!

الَّذِیْ لُمْتُنَّنِیْ فِیْهِ ؕ وَلَقَدْ رَاوَدْتُّهٗ عَنْ نَّفْسِهٖ

هغه کس دے | چه تاسو ملامته کوئ ما | دهغه په باره کښے | او یقیناً | ما غلولے دے دے | ددۀ دنفس په باره کښے

داهم هغه کس دے دچا په باره کښے چه تاسو زه ملامته کولم او یقیناً ما دے خپل ځان ته مائله کولو

فَاسْتَعْصَمَ ؕ وَلَئِنْ لَّمْ یَفْعَلْ مَاۤ اٰمُرُهٗ لَیُسْجَنَنَّ

خودهغۀ ځان پوره بچ ساتلے دے | اوکه چرے | دے اونه کړی | هغه څه | چه زۀ ورته حکم کوم | نو خامخا به قیدی کړے شی

خو دۀ رانه ځان بچ کړو اوکه اوس هم دے زما په حکم (وینا) عمل اونکړی نو

وَلَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ ۝ قَالَ رَبِّ السِّجْنُ اَحَبُّ اِلَيَّ

اوخامخابه شی | د ذلیلو خلقو نه | ده اووئیل | اے زمارب! | قید | زیات خوښ دے | ماته

خامخابه دے قید کړے شی اوپیر بے عزته (رسوا) به شی یوسفؑ دعا اوغوښتله چه اے زمارب! دا ښځے

مِمَّا يَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَيْهِ ۚ وَاِلَّا تَصْرِفْ عَنِّيْ كَيْدَهُنَّ

دهغه څه نه | چه دوی رابلی ما | هغے ته | اوکه چرے ته لرے نه کړے | زمانه | مکر د دوی

چه دَ کومکار دعوت ماته را کوی ماته دهغے نه جیل زیات خوښ دے اوکه چرے ته ما د دوی دچالونو نه محفوظ نه کړے

اَصْبُ اِلَيْهِنَّ وَاَكُنْ مِّنَ الْجٰهِلِيْنَ ۝ فَاسْتَجَابَ لَهٗ

نوزهٔ به مائل شم | دوی ته | اوزه به شم | د جاهلانو نه | پس قبوله کړه | دعاددهٔ

نوزهٔ به (هم) دوی ته مائل شم اوپه جاهلانو کښے به شامل شم نو دیوسفؑ رب دهغه دعا قبوله کړه

رَبُّهٗ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۭ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

رب ددهٔ | نولرے ئے کړو | د ده نه | مکر دهغوی | بیشکه | هم هغه | اوریدونکے | پوهه دے

او دهغه ښځو د چالونو نه ئے محفوظ کړو یقیناً هم هغه الله اوریدونکے او پوهه ذات دے

ثُمَّ بَدَا لَهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا رَاَوُا الْاٰيٰتِ لَيَسْجُنُنَّهٗ

بیا | ښکاره شوه | دوی ته | پس ددے نه | چه دوی اولیدلے | نخښے | چه خامخابه دوی قید کوی دهغه

بیا دیوسفؑ دپاکدامنۍ دنخښو دلیدو نه پس دے خلقو دامناسب اوګنړله چه یوسفؑ دځه وخت دپاره

حَتّٰى حِيْنٍ ۝ وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيٰنِ ۭ قَالَ

ترڅه وخته پورے | او داخل شو | د ددهٔ سره | قیدخانے (جیل) ته | دوه ځلمی | اووئیل

قیدخانے ته اولیږی اودیوسفؑ سره دوه نور ځوانان هم قیدخانے ته داخل شول په هغوی کښے یو

اَحَدُهُمَآ اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَعْصِرُ خَمْرًا ۚ وَقَالَ الْاٰخَرُ

یو د دواړو نه | بیشکه ما | اولیدلو ځان (په خوب کښے) | چه زهٔ نچوړوم | شراب | او اووئیل | هغه بل

(یوه ورځ یوسفؑ ته) اووئیل چه زه په خوب کښے ځان وینم چه شراب نچوړوم (جوړوم) اوهغه بل (ورته) اووئیل

اِنِّيْٓ اَرٰىنِيْٓ اَحْمِلُ فَوْقَ رَاْسِيْ خُبْزًا تَاْكُلُ

چه بیشکه ما | اولیدلو ځان (په خوب کښے) | چه زه اوچتوم | په خپل سر باندے | دوډۍ | چه خوری

چه زه په خوب کښے ځان وینم چه د سر دپاسه مړ روټۍ اوچتے کړی دی او مارغان

الطَّيْرُ مِنْهُ ۭ نَبِّئْنَا بِتَاْوِيْلِهٖ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

مارغان | دهغے نه | ته مونږ خبر کړه | ددے (خوب) په تعبیر | بیشکه مونږ وینو (ګنړو) تا | د نیکانو نه

ترے نه خوراک کوی لږ راته ددے خوب تعبیر وښایه ته مونږ ته ډیر ښه سړے ښکارے

قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهٖٓ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا

ددهٔ وفرمائیل | نه به راځی تاسوته | (هغه) خوراک | چه تاسوته درکولے شی | مکر | زه به خبر درکړم تاسوته

یوسفؑ وَرته جواب ورکړو چه تاسوله به خپل مقرر رزق لا نه وی راغلے چه زهٔ به د هغے د راتلو نه

بِتَاْوِيْلِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّاْتِيَكُمَا ؕ ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِيْ

په حقیقت دهغے | مخکښے درڅے نه | چه هغه (خوراك) راشی تاسو ته | دا | هغه څه دی | چه ښودل دی ما ته

مخکښ مخکښ تاسو ته حقیقت بیان کړم دا دهغه علم یوه حصه ده چه ما ته زما رب

رَبِّيْ ؕ اِنِّيْ تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ

رب زما | بیشکه | ما پریښودلے دے | دین | دهغه قوم | چه ایمان نه راوړی | په الله باندے

را کړے دے (خو اول زما یوه خبره واوری هغه داچه) ما دهغه خلقو دین پریښودلے دے چه په

وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ۝ وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ اٰبَآءِيْ

او دوی | د آخرت نه هم | انکار کوی | اوزه روان یم | په دین | د خپل پلار نیکه

الله تعالیٰ ایمان نه لری او د آخرت نه هم منکر دی اوزه د خپل پلار نیکه

اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ مَا كَانَ لَنَآ اَنْ نُّشْرِكَ

چه ابراهیمؑ | او اسحاقؑ | او یعقوبؑ دے | نه دی جائز | مونږ له | چه شریك کړو

ابراهیمؑ اسحاقؑ او یعقوبؑ په دین باندے روان یم مونږ له داحق نشته (جائز نه دی) چه دالله تعالیٰ

بِاللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ

دالله سره | څه څیز | دا | فضل دے | د الله | په مونږ باندے | او په خلقو باندے

سره څه قسم څیز شریك کړو دا توحید په مونږ ه او په ټولو خلقو د الله فضل دے

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ۝ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ

لیکن | اکثر | خلق | شکر نه کوی | اے زما دواړو ملګرو | د جیل (قید)

خو اکثر خلق (ددے نعمت) شکر نه ادا کوی اے زما د جیل ملګرو (لږ دا راته اووایئ چه)

ءَاَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَيْرٌ اَمِ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ؕ

آیا خدایان (معبودان) | جدا جدا | ښه دی | او که هغه یو الله | چه زور اور (غالب) دے

آیا دیر جدا جدا (کمزوره) معبودان ښه دی که یو الله چه زور اور (زبردست) دے

مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوْهَاۤ اَنْتُمْ

تاسو عبادت نه کوئ | د هغه نه سوا | مګر | دهغه نومونو | چه ایښودی دی هغے لره | تاسو

تاسو د الله تعالیٰ نه سوا تش د دا سے نومونو عبادت کوئ چه تاسو او ستاسو پلار نیکه

وَاٰبَآؤُكُمْ مَّاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ

او ستاسو پلار نیکه | چه نه دے رالیږلے | الله | په هغے باندے | هیڅ دلیل | نه دے حکم (اختیار)

دڅان نه ایښودلی دی (او) الله تعالیٰ دهغوی په حق کښے هیڅ قسم دلیل هم نه دے رالیږلے حاکمیت خو

اِلَّا لِلّٰهِ ؕ اَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِيَّاهُ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ

مګر | د الله | هغه حکم کړے دے | چه عبادت به نه کوئ | مګر | هم دهغه | دا دے | دین

یوازے د الله تعالیٰ حق دے هم هغه داحکم کړے دے چه دهغه نه سوا دبل چا عبادت مه کوئ هم دا

الْقَيِّمُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ يٰصَاحِبَيِ السِّجْنِ

پوخ | لیکن | اکثر | خلق | نه پوهیږی | اے زما دواړو ملګرو | د جیل

درست او پوخ دین دے خو اکثر خلق نه پوهیږی اے زما د جیل ملګرو!

اَمَّآ اَحَدُكُمَا فَيَسْقِيْ رَبَّهٗ خَمْرًا ۚ وَاَمَّا الْاٰخَرُ

هرچه دے | یوپه تاسو کښے | نو هغه به څکوی | په خپل مالك باندے | شراب | اوهر چه | هغه بل دے

په تاسو کښے به یو خپل مالك باندے شراب څکوی او هغه بل به

فَيُصْلَبُ فَتَاْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَّاْسِهٖ ۭ قُضِيَ الْاَمْرُ

نو هغه به په سولۍ (پانسی) کولے شی | پس خوری به | مارغان | د سر دهغهٔ نه | فیصله کړے شوے ده | دکار

پانسی شی نو مارغان به ئے د سر غوښے خوری تاسو چه دځه په باره کښے تپوس کولو

الَّذِيْ فِيْهِ تَسْتَفْتِيٰنِ ۝ وَقَالَ لِلَّذِيْ ظَنَّ اَنَّهٗ

هغے چه دهغے په باره کښ | تاسو تپوس کولو | او دهٔ اووئیل | هغه کس ته | چه خیال وو دیوسفؑ | چه بیشکه دے به

دهغے فیصله (هم داسے) شوے ده او په دے دواړو کښے چه دچا باره کښے د یوسفؑ خیال وو چه

نَاجٍ مِّنْهُمَا اذْكُرْنِيْ عِنْدَ رَبِّكَ ۡ فَاَنْسٰىهُ الشَّيْطٰنُ

بچ شی | دَدے دواړو نه | ما یاد کړه | د خپل مالك په وړاندے | پس هیر کړل دهغه نه | شیطان

خلاص به شی دهغه ته ئے اووئیل چه ته خپل مالك ته زما تذکره او کړه خو شیطان دهغه نه خپل مالك ته د

ذِكْرَ رَبِّهٖ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ۝ وَقَالَ

یادول مالك خپل ته | نو پاتے شو دے (یوسفؑ) | په قید کښ | څو کاله (نور) | او اووئیل

یوسفؑ تذکره کول هیر کړل نو یوسف نور هم څو کاله په قید کښے پاتے شو

الْمَلِكُ اِنِّيْٓ اَرٰى سَبْعَ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ

بادشاه | بیشکه زه | وینم (په خوب کښے) | اووه | غواګانے | څرے | چه خوری دوی لره

او (څه وخت پس دمصر) بادشاه (خپلو درباریانو ته) اووئیل چه زه په خوب کښے وینم چه

سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعَ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۭ

اووه نورے | تهے غواګانے | او اووه | وَږی | شنه | او نور | اوچ

اووه څرے غواګانے دی چه اووه تهے (ماندہ) غواګانے ئے ماتوی (خوری) او اووه شنه وږی دی او نور اووه وږی اوچ دی

يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ اَفْتُوْنِيْ فِيْ رُءْيَايَ اِنْ كُنْتُمْ لِلرُّءْيَا

اے درباریانو | تعبیر را کړئ ماته | د خوب زما کښ | که چرے تاسو | د خوب

اے درباریانو که تاسو د خوب تعبیر ویستلے شئ نو زما دد ے خوب تعبیر ماته وښایئ

تَعْبُرُوْنَ ۝ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ ۚ وَمَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ

تعبیر ویستونکی یئ | هغوی اووئیل | دا پریشانه (ګډوډ) | خوبونه دی | او نه یُو مونږ | په تعبیر

هغوی ورته اووئیل چه دا خو هسے پریشانه ګډوډ خوبونه دی اود دا سے خوبونو په تعبیر مونږ پوهیدونکی نه یو

الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ ۝ وَقَالَ الَّذِیْ نَجَا مِنْهُمَا وَادَّكَرَ

د(دا سے) خوبونو | پوهه | او اووئیل | هغه کس | چه د جیل نه خلاص شوے وو | د دواړو نه | او یاد شوو رته

او په هغه دواړو قیدیانو کښے چه کوم کس خلاص شوے وو او ډیر وخت پس ورته د یوسفؑ خبره رایاده شوه هغه اووئیل

بَعْدَ اُمَّةٍ اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهٖ فَاَرْسِلُوْنِ ۝ يُوْسُفُ

څه مُوده پس | چه زه به | خبر کړم تاسو | په تعبیر د دے باندے | نو ما ولیږئ | اے یوسف

زهٔ به تاسو ته د دے خوب تعبیر اوښائم بس تاسو ما قید خانے ته یوسفؑ پسے ولیږئ قید خانے ته چه ورسید و نو یوسفؑ

اَيُّهَا الصِّدِّيْقُ اَفْتِنَا فِیْ سَبْعِ بَقَرٰتٍ سِمَانٍ يَّاْكُلُهُنَّ

اے رشتیا ویونکیه | تعبیر اوښایه مونږ ته | د اووهٔ | غواګانو | څربؤ | چه خوړی ئے

ته ئے اووئیل چه اے یوسف اے رشتینیا مونږ د دے خوب په تعبیر باندے پوهه کړه چه اووه څرب غواګانے دی چه

سَبْعٌ عِجَافٌ وَّسَبْعِ سُنْۢبُلٰتٍ خُضْرٍ وَّاُخَرَ يٰبِسٰتٍ ۙ لَّعَلِّیْٓ

اووهٔ | تپے | او د اووهٔ | وړو | شنو | او نورو | اُوچو | دے دپاره

نورے اووه تپے (ماندہ) غواګانے ئے خوړی او اووه شنه وړی دی او نور اووه وړی اوچ دی (کیدے شی)

اَرْجِعُ اِلَى النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ قَالَ تَزْرَعُوْنَ

چه زه واپس لاړشم | خلقو ته | کیدے شی چه هغوی | پوهه شی | او ئے فرمائیل | تاسو به کرونده کوئ

چه زه خلقو ته واپس لاړشم چه هغوی هم په حقیقت پوهه شی یوسف وَرته اووئیل چه تاسو به

سَبْعَ سِنِيْنَ دَاَبًا ۚ فَمَا حَصَدْتُّمْ فَذَرُوْهُ فِیْ سُنْۢبُلِهٖٓ

اووه | کاله | پرله پسے | بیا څه چه | لَو کړئ تاسو | نو پریږدئ هغه | په خپلو وړو کښے

اووه کاله پرله پسے (مسلسل) غله کړئ، په دے دوران کښے چه تاسو کوم فصل وریږئ نو هغه په خپلو وړو کښ بند پریږدئ

اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا تَاْكُلُوْنَ ۝ ثُمَّ يَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ

سوا | د هغے لږ و نه | چه تاسو ئے خوړئ | بیا به | راشی | د دے نه پس

سوا د هغه لږ مقدار غلے نه چه تاسو ئے خوړئ بیا به ورپسے اووه د سو کړے

سَبْعٌ شِدَادٌ يَّاْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ اِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّا

اووه کاله | سخت | چه خوړی به دا کلونه | هغه څه | چه تاسو د مخکښ نه جمع کړی وی | د هغه کلونه له | سوا | د هغه لږے غلے نه

سخت کلونه راشی چه تاسو څومره غله دے کلونو د پاره ذخیره کړی وی هغه ټوله به اوخوری سوا د هغه لږ

تُحْصِنُوْنَ ۝ ثُمَّ يَاْتِیْ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ عَامٌ فِيْهِ

چه تاسو ئے تخم د پاره ساتلی وی | بیا به | راشی | د دے نه پس | یو داسے کال | چه په هغے کښے به

مقدار نه چه تاسو د تخمونو د پاره ساتلی وی بیا به ورپسے یو داسے کال راشی چه په هغے کښے به

يُغَاثُ النَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿۴۹﴾ وَقَالَ الْمَلِكُ

باران اوشی | په خلقو باندے | اوپه هغے کښے به | دوی (دمیووڑس) نچوړوی | او اووئیل | بادشاه

په خلقو ښه ډیر باران اونه اوشی اوپه دغه کال کښے به خلق د انګورونه شیرے نچوړوی او بادشاه اووئیل

ائْتُونِي بِهِ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُولُ قَالَ ارْجِعْ

راوئ ماته | یوسف لره | پس هرکله | چه راغے ده ته | قاصد | (نو) ده ورته اووئیل | واپس لاړشه

چه داسړے ماله راوئ ـ خو (بیا) کله چه قاصد دهغه خواله راغے نو ورته ئے اووئیل چه خپل مالك ته واپس لاړشه

إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْئَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ

خپل مالك (بادشاه) ته | پس تپوس ترے اوکړه | چه څه حال دے؟ | د هغه زنانو | چه پریکړی وو هغوی

او تپوس ترے اوکړه چه د هغه ښځو څه قصه ده چه خپل لاسونه ئے پریکړی وو

أَيْدِيَهُنَّ ۖ إِنَّ رَبِّي بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ﴿۵۰﴾ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ

لاسونه خپل | بیشکه | رب زما | په مکر دهغوی | ښه پوهه دے | (بادشاه) اووئیل | څه واقعه ده ستاسو

یقیناً زما رب دهغوی دمکر (چال) نه ښه واقف (عالم) دے بادشاه (هغه ښځوته) اووئیل چه داستاسو څه قصه ده

إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ ۖ قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ

کله چه | تاسو غُلولو | یُوسفؑ لره | دهغه دنفس په باره کښے | هغوی اووئیل | پاك دے | الله

کله چه تاسو یوسفؑ د خپل مطلب دپاره غُلولو؟ نو هغوی اووئیل د الله تعالیٰ پناه!

مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ ۖ قَالَتِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ الْآنَ

مونږ نه ده معلومه کړے | په هغه کښے | څه بدی | اووئیل | ښځے | د عزیز | اُوس

مونږ په هغه کښے معمولی بدی هم نه ده لیدلے د عزیز ښځے اووئیل چه اوس خو

حَصْحَصَ الْحَقُّ أَنَا رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ وَإِنَّهُ

ښهٔ ښکاره شو | حق | مَا | مطالبه کړے وه ده نه | ده ده نفس په باره کښے | او بیشکه دے

حقه خبره ټوله ته ښکاره شوه ـ هم ما هغهٔ لره ځان ته د مائله کولو کوشش کړے وو او حقیقت دا دے

لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴿۵۱﴾ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ

د رشیتیا ویونکو نه دے | دا د دنے دپاره | چه پوهه شی دے | چه بیشکه | ما نه دے کړے هیڅ خیانت د ده

چه هغه بالکل رشتینے دے دامر ځکه وکړل چه هغه ته پته اولګی چه ما د هغه نه پشی شا څه خیانت نه دے کړے

بِالْغَيْبِ وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ ﴿۵۲﴾

پشی شا | او دا چه بیشکه | الله | نه کامیابوی | فریب (مکر) | د خیانت کړو

(په بهتان لګولو سره په هغهٔ باندے) او الله تعالیٰ د خیانت کړو خلقو چال (فریب) سَرته نه رسوی ـ

وَمَآ اُبَرِّئُ نَفْسِيْ ۚ اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا

اوزهٔ پاکی نه بیانوم | د نفس خپل | بیشکه | نفس | خامخا ډیر ښودونکے دے | د بدئ | ماسوا
اوزهٔ دا دعوی نه کوم چه زما نفس بلکل پاک دے حُکه چه نفس خو خامخا (بنده ته) بدے لارے ښائ

مَا رَحِمَ رَبِّيْ ۭ اِنَّ رَبِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَقَالَ

دهغے (نفس) نه | چه رحم (پرے) اوکړی | رب زما | بیشکه | رب زما | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان دے | او اووئیل
البته که زما رب په چا رحم اوکړی نو جدا خبره ده یقیناً زما رب ډیر بخښونکے مهربان دے. او بادشاه اووئیل

الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖٓ اَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِيْ ۚ فَلَمَّا كَلَّمَهٗ

بادشاه | راولئ ماته | دے | چه خاص ځان کړم | دپاره د ځان خپل | نوکله چه | خبرے ځاوکړے دهغسره
چه دے ماته راولئ چه زه ځے خالص خپل معاون جوړ کړم نو کله چه ورسره بادشاه خبرے اُترے اوکړے

قَالَ اِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِيْنٌ اَمِيْنٌ ۝ قَالَ اجْعَلْنِيْ

نووئیل | بیشکه ته | د ځان نه | زمونږ سره | عزتمند | امانتدار یے | او وئیل (ورته) هغهٔ | مقرر کړه ما
نوورته ځاووئیل چه د ځان نه به ستا په مونږ کښ لوړه مرتبه وی او په تا باندے به زمونږ پوره بروسه وی یوسف ورته اووئیل

عَلٰي خَزَآئِنِ الْاَرْضِ ۚ اِنِّيْ حَفِيْظٌ عَلِيْمٌ ۝ وَكَذٰلِكَ

په خزانو | د زمکے (د مصر) | بے شکه زهٔ | حفاظت کولکے | پوهه یم | او دغه شان
چه ما د مصر د خزانو په انتظام باندے مقرر کړه یقین او کړه چه زهٔ د دے حفاظت ډیر ښه کولے شم.

مَكَّنَّا لِيُوْسُفَ فِي الْاَرْضِ ۚ يَتَبَوَّاُ مِنْهَا حَيْثُ

مونږ وځای ورکړو | یُوسف ته | په زمکه کښ | چه دے به اوسیدو | په هغے کښ | چرته به ځے
اوزهٔ دده ے په تدبیر ښهٔ پوهیږم. او دغه شان مونږ یوسف ته په مصر کښ دا سے اختیار (اقتدار) ورکړو چه چرته ځے

يَشَآءُ ۭ نُصِيْبُ بِرَحْمَتِنَا مَنْ نَّشَآءُ وَلَا نُضِيْعُ اَجْرَ

چه غوښتل | مونږ رسوو | رحمت خپل | چاته چه | اوغواړو | او مونږ نه ضائع کوو | اجر (بدله)
زړه غواړی هلته دی اوسیږی مونږ چه چاته اوغواړو خپل رحمت ورکوو او دا سے نیکانو خلقو اجر نه ضائع کوو

الْمُحْسِنِيْنَ ۝ وَلَاَجْرُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا

د نیکانو | او خامخا بدله | د آخرت | ډیره ښه ده | هغه چا لره | چه ایمان راوړی | او هغوی
او د آخرت بدله خو دهغه خلقو دپاره ډیره ښه ده چه ایمان راوړی او په تقوی باندے کار بند وی

يَتَّقُوْنَ ۝ ع وَجَآءَ اِخْوَةُ يُوْسُفَ فَدَخَلُوْا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ

پرهیزګاری کوی | او راغلل | ورونړه | د یوسف | نو داخل شو | په ده باندے | نو ده ځاوپیژندل هغوی
(او دقحط په زمانه کښ چه) کله د یوسف ورونړه راغلل او د یوسف خوالهٔ اور سیدل نو یوسف خو هغوی اوپیژندل

وَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ۝ وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ

او هغوی | ده ځه لره | ناشنا ګڼونکی وو | او هر کله | چه ده ځه تیار کړو هغوی لره | سامان د سفر د هغوی | نو ده ځاووئیل
خو هغوی دے اونهٔ پیژندلو او کله چه یوسف د هغوی د سفر سامان تیار کړو نو ورته ځاووئیل

ائْتُوْنِیْ بِاَخٍ لَّكُمْ مِّنْ اَبِیْكُمْ ۚ اَلَا تَرَوْنَ اَنِّیْٓ اُوْفِی

راولئ ماته | ورور | ستاسو | چه ستاسو د پلار نه دے | آیا تاسو نه گورئ | چه بیشکه زه | پوره ور کوم

چه (آئنده) خپل پلار شریک (میرنے) ورور هم ماته راولئ تاسو گورئ نه چه زه پیمانه هم پوره ور کوم

الْكَیْلَ وَاَنَا خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۵۹﴾ فَاِنْ لَّمْ تَاْتُوْنِیْ بِهٖ

راشن (پیمانه) | او زه | نبه | میلمستیا ور کولکے یم | پس که چرے | رانه وستلو تاسو ماته | هغه

او میلمستیا هم دیره نبه ور کوم اوس هم که تاسو هغه ماله رانه وستلو نو نه خوبه درته

فَلَا كَیْلَ لَكُمْ عِنْدِیْ وَلَا تَقْرَبُوْنِ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا سَنُرَاوِدُ

نو نشته | څه پیمانه (راشن) | ستاسو دپاره | زما سره | (اوبیا) ماته نزدے هم راشئ | هغوی اووئیل | په تدبیر سره به طلب کوو مونږ

زما دطرف نه غله ملاویږی اونهٔ بیا زما خواله راشئ ورونړو ورته اووئیل چه مونږ به ئے

عَنْهُ اَبَاهُ وَاِنَّا لَفٰعِلُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَقَالَ لِفِتْیٰنِهِ اجْعَلُوْا

د هغه | دپلار دهغه نه | اوبیشکه مونږ | خامخا دا کار کوونکی یُو | اووئیل (یوسفؑ) | خپلو خادمانو ته | چه تاسو کیږدئ

دپلار نه ضرور مطالبه وکړو او دا کار به خامخا کوو او یوسفؑ خپلو نوکرانو ته اووئیل چه ددوی ادا کړے قیمت هم

بِضَاعَتَهُمْ فِیْ رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ یَعْرِفُوْنَهَآ اِذَا انْقَلَبُوْٓا

قیمت دسامان ددوی | په بارونو ددوی کښ | شاید چه دوی | اوپیژنی دا | کله چه | لاړ شی

ددوی په سامان کښ (پټ) کیږدئ شاید چه دوی کله خپلو خپلوانو ته واپس لاړ شی نو وے پیژنی او کیدے شی

اِلٰٓی اَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۶۲﴾ فَلَمَّا رَجَعُوْٓا اِلٰٓی اَبِیْهِمْ

خپلوانو خپلو ته | دے دپاره چه دوی | واپس راشی | پس هرکله | چه واپس اورسیدل دوی | پلار خپل ته

چه ددے احسان په وجه بیا راشی نو کله چه دوی واپس خپل پلار ته ورسیدل نو پلار ته ئے اووئیل چه

قَالُوْا یٰٓاَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَیْلُ فَاَرْسِلْ مَعَنَآ اَخَانَا

(نو) اووئیل دوی | اے زمونږ پلاره | منع کړے شوه | زمونږ نه | پیمانه (راشن) | لوته اولیږه | زمونږ سره | ورور زمونږ

اے زمونږ پلاره! آئنده (بیا) دپاره غله په مونږ باندے بنده کړے شوے ده نو ته مونږ سره زمونږ (دا میرنے) ورور اولیږه

نَكْتَلْ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ﴿۶۳﴾ قَالَ هَلْ اٰمَنُكُمْ

چه پیمانه (راشن) راوړو | اوبیشکه مونږ | ددده | حفاظت کولکی یُو | اووئیل یعقوبؑ | آیا | زهٔ اعتماد اوکړم په تاسو باندے

چه بیا (آئنده) غله راوړو، اویقین اوکړه چه مونږ به ددده پوره حفاظت کوو پلار ورته اووئیل چه آیا ددده په باره کښ هم زهٔ

عَلَیْهِ اِلَّا كَمَآ اَمِنْتُكُمْ عَلٰٓی اَخِیْهِ مِنْ قَبْلُ ؕ فَاللّٰهُ

ددهٔ په باره کښ | مکر | څنګه چه | ما اعتماد کړے وو په تاسو | ددهٔ دورور په باره کښ | د دے نه پخوا | پس الله دے

په تاسو دا سے اعتماد اوکړم لکه څنګه مے چه پخوا ددهٔ دورور په باره کښ په تاسو اعتماد کړے وو بهرحال

خَیْرٌ حٰفِظًا ۪ وَّهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَمَّا فَتَحُوْا

بهتر (نبهٔ) | حفاظت کولکے | اوهم هغه دے | دټولو نه زیات | رحم کوونکے | اوهرکله | چه دوی پرانستلو

الله ډیر نبه محافظ دے او د هرچا نه زیات رحم کوونکے (مهربان) دے او کله چه دوی

مَتَاعَهُمْ وَجَدُوْا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ اِلَيْهِمْ ؕ قَالُوْا

سامان خپل | نو وئے موندو | قیمت (مال) خپل | چه واپس کړے شوے وو | دوی ته | دوی اووئیل

خپل سامان پرانستلو نو وئے لیدل چه خپل مال (قیمت) هم ورته واپس کړے شوے وو نو وے وئیل

يٰۤاَبَانَا مَا نَبْغِيْ ؕ هٰذِهٖ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ اِلَيْنَا ۚ

اے زمونږ پلاره! | مونږ نور څه غواړو | دا دے | مال زمونږ | چه واپس کړے شوے دے | مونږ ته

اے زمونږ پلاره! نور څه غواړو؟ دا دے زمونږ هغه مال (قیمت) هم مونږ ته واپس کړے شوے دے

وَنَمِيْرُ اَهْلَنَا وَنَحْفَظُ اَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ ؕ

او مونږ به غله راوړو | خپلے کورنۍ دپاره | او حفاظت به کوو | د وور خپل | او زیات به راوړو | بار (پیمانه) | دیو اوښ

او دے حُل به خپل کور والو دپاره نوره غله هم راوړو او د خپل وور حفاظت به هم کوو او دیو اوښ بار به زیاتی راوړو

ذٰلِكَ كَيْلٌ يَّسِيْرٌ ۝ قَالَ لَنْ اُرْسِلَهٗ مَعَكُمْ حَتّٰى

دا | پیمانه ده | دیره آسانه | اووئیل هغه | هیڅ کله به اونۀ لیږم دے | تاسو سره | تر دے چه

(او) دا پیمانه د وور به دیره په آسانه ملاؤ شي پلار ورته اووئیل زه به دے تاسو سره هیڅ کله اونۀ لیږم تر سو چه

تُؤْتُوْنِ مَوْثِقًا مِّنَ اللّٰهِ لَتَاْتُنَّنِيْ بِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ يُّحَاطَ

تاسو را کړئ ماته | پوخ لوظ | په نوم د الله | چه خامخا به تاسو راوئ ماته | دے | مګر | داچه | راګیر کړئ شوئ

تاسو ما سره د الله تعالی په نوم باندے دا لوظ ونکړئ چه تاسو به دے خامخا ماته واپس راوئ البته که واقعی

بِكُمْ ۚ فَلَمَّاۤ اٰتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ قَالَ اللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوْلُ

تاسو ټول | پس هر کله | چه هغوی ور کړو دۀ ته | کلک لوظ خپل | نو اووئیل یعقوبؑ | چه الله | په هغه څه | چه مونږ وائو یا یو

تاسو بے بسه شئ (نو جدا خبره ده) نو کله چه ور سره هغوی لوظ او کړو نو پلار ورته اووئیل چه مونږ چه کوم لوظ کوو

وَكِيْلٌ ۝ وَقَالَ يٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوْا مِنْۢ بَابٍ وَّاحِدٍ

ذمه وار دے | اوورته ئے اووئیل | اے زما ځامنو (بچو) | مه ننوځئ | د دروازے | یو ے نه

الله تعالی په هغے نگهبان دے او ورته ئے دا هم اووئیل چه زما بچو ټول په یو ے دروازے (ښار ته) مه ننوځئ

وَّادْخُلُوْا مِنْ اَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ؕ وَمَاۤ اُغْنِيْ عَنْكُمْ

او ورننوځئ | د دروازو | جدا جدا نه | او زه نه شم لرے کولے | تاسو نه

بلکه په جدا جدا دروازو ورننوځئ او زه د الله تعالی د فیصلے (مشیت) نه تاسو نه شم بچ کولے

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ عَلَيْهِ

د الله د حکم (مصیبت) نه | هیڅ څیز | نه دے | حکم (اختیار) | مګر | صرف الله لره | خاص په هغه باندے

(څکه چه) د الله تعالی نه سوا د بل چا حکم (فیصله) نه چلیږی هم په هغه باندے

تَوَكَّلْتُ ۚ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝ وَلَمَّا دَخَلُوْا

ما توکل کړے دے | او هم په هغه باندے | دِ توکل او کړی | توکل کوونکی | او هر کله | چه دوی ورننوتل

ما خپل ځان سپارلے دے او څوک چه توکل کول غواړی نو هغوی له پکار دی چه هم په هغه باندے توکل او کړی

مِنْ حَيْثُ اَمَرَهُمْ اَبُوْهُمْ ؕ مَا كَانَ يُغْنِيْ عَنْهُمْ

په هغه طریقه | چه حکم ورته کړے وو | پلار خپل | الله وو دے چه لرے کړے ئے وے | دَهغوی نه

اوهر کله چه هغوی (ورونړه) هم هغه شان داخل شو څنګه چه ورته پلار وئیلی وو (نو دَهغه دے عمل دالله دمشیت (فیصلے)

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا حَاجَةً فِيْ نَفْسِ يَعْقُوْبَ قَضٰىهَا ؕ

دالله (دحکم) نه | څهٔ شے | لیکن | دایو ارمان وو | په زړه کښ | د یعقوبؑ | چه پوره ئے کړو

نه هغوی معمولی شان هم نه شو بچ کولے (حُکه چه تدبیر دتقدیر مقابله نشی کولے) خو دیعقوبؑ په زړهٔ کښ یو خواهش وو

وَاِنَّهٗ لَذُوْ عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

اوبیشکه هغه | خاوند دعلم وو | ددے وجنه | چه مونږ ورته علم ور کړے وو | لیکن | اکثر | خلق

چه پوره ئے کړو اوهغه دعلم خاوند وو حُکه چه مونږ ورته علم ور کړے وو لیکن اکثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَلَمَّا دَخَلُوْا عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰۤى اِلَيْهِ اَخَاهُ ع

نه پوهیږی | اوهر کله | چه داخل شو دوی | په یوسفؑ | نو خُلـٰـصُور کړوده | خَان سره | خپل وورته

نهٔ پوهیږی (اوتدبیر خپل مؤثر کړی) اوهر کله چه دوی (ورونړه) یوسفؑ ته اور سیدل نو هغهٔ خپل سکه وورته خَان سره

قَالَ اِنِّيْۤ اَنَا اَخُوْكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۹﴾

(ورته ئے) اووئیل | بیشکه | زه | ستا وور یم | نوتهٔ مه خفه کیږه | په هغه څه | چه دوی به | کول

خاص خُاځ ئے ور کړو او ورته ئے اووئیل چه زه ستا وور یم نو ته د دوی په کارونو مه خفه کیږه

فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ فِيْ رَحْلِ

بیاهر کله چه | تیار ئے کړو دوی دپاره | سامان دسفر دَدوی | نو دهٔ کیښودده | پیاله | په سامان

بیا کله چه یوسفؑ د دوی د سفر سامان تیار کړو نو د اوبو لو ښے (پیاله) ئے دخپل وور په سامان کښ

اَخِيْهِ ثُمَّ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ اَيَّتُهَا الْعِيْرُ اِنَّكُمْ لَسٰرِقُوْنَ ﴿۷۰﴾

دوُر ور خپل کښ | بیا | آواز او کړو | یو آواز کوونکی | اے قافلے والو! | بیشکه تاسو | ضرور غلهٔ یئ

کیښوده او بیا یو منادی (آواز کوونکی) آواز او کړو (چه) اے قافلے والو! تاسو خو غله یئ

قَالُوْا وَاَقْبَلُوْا عَلَيْهِمْ مَّاذَا تَفْقِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ قَالُوْا

دوی (ورته) اووئیل | او رامخامخ شول | هغوی ته | څه څیز | ورک کړے دے تاسو | هغوی اووئیل

نو دوی ورته مخ راوړو لو او ورته ئے اووئیل چه تاسو نه څه څیز ورک شوے دے؟ هغوی ورته اووئیل

نَفْقِدُ صُوَاعَ الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَآءَ بِهٖ حِمْلُ

مونږ ور که کړے ده | پیمانه | د بادشاه | اودَهغه چا دپاره | چه راځے وړه | دا پیمانه | یَو بار

چه مونږ نه د بادشاه پیمانه ورکه شوے ده او چا چه راپیدا کړه هغه دپاره د یو اوښ بار انعام مقرر

بَعِيْرٍ وَّاَنَا بِهٖ زَعِيْمٌ ﴿۷۲﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُمْ

داوښ (انعام) دے | او زه | ددے | ذمه واریم | دوی ورته اووئیل | قسم دے په الله | یقیناً | تاسو ته ښه پته ده

شوے دے او زه ددے (انعام ور کولو) ذمه واری اخلم هغوی ورته اووئیل په الله قسم!

مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْاَرْضِ وَمَا كُنَّا سٰرِقِيْنَ ۝

چه مونږ نه یو راغلی | (دے دپاره) چه فساد اوکړو | په زمکه کښې | او نه یُو مونږ | غله

چه تاسو ته ښه پته ده چه مونږ دے ملک کښې د فساد خورولو دپاره نه یو راغلی او نه مونږ غله یُو

قَالُوْا فَمَا جَزَآؤُهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ كٰذِبِيْنَ ۝ قَالُوْا جَزَآؤُهٗ

هغوی اوویل | نو څه سزا ده دهغه (غل) | که چرے | یئ تاسو | دروغژن | دوی (ورته) اووئیل | سزا د هغه

هغوی ورته اووئیل که چرے تاسو دروغژن ثابت شوئ نو دهغه (غل) به څه سزا وی؟ هغوی ورته جواب ورکړو چه سزا ئے دا ده

مَنْ وُّجِدَ فِيْ رَحْلِهٖ فَهُوَ جَزَآؤُهٗ ؕ كَذٰلِكَ

هغه څوک دے | چه او موندلی شی پیمانه | د چا په بار (سامان) کښې | نو هم دا کس به | بدله وی دده دے | دغه شان

چه د چا په بار (سامان) کښې پیمانه او موندلے شوه نو هم هغه دے په سزا کښې ایسار کړے شی څوک چه ظلم کوی هغوی ته

نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَبَدَاَ بِاَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ اَخِيْهِ

مونږ سزا ورکوو | ظالمانو ته | پس شروع ئے اوکړه | د هغوی د سامانونو نه | مخکے | د سامان | د وُرور خپل نه

مونږ هم دغه شان سزا ورکوو نو بس یوسف د خپل (سکه) وروړ د سامان نه مخکښې د نورو وروړو د سامانونو تلاشی

ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِنْ وِّعَآءِ اَخِيْهِ ؕ كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوْسُفَ ؕ

پیمانے | راویستله هغه (پیمانه) | د سامان | د وُرور خپل نه | دغه شان | تدبیر ښودلے وو مونږ | یوسف ته

شروع کړه پیمانے هغه (پیمانه) د خپل ورور د سامان نه راویستله دغه شان طریقه مونږ یوسف ته اوښودله

مَا كَانَ لِيَاْخُذَ اَخَاهُ فِيْ دِيْنِ الْمَلِكِ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ؕ

نه شو رانیولے ده | ورور خپل | په قانون | د بادشاه | مګر | داچه | اوغواړی | الله

که د الله مشیئت نه وے نو د بادشاه په قانون کښې یوسف خپل ورور نشو ایسارولے

نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ؕ وَفَوْقَ كُلِّ ذِيْ عِلْمٍ عَلِيْمٌ ۝

مونږ اوچتوو | درجے | د چا | چه وغواړو | او د هرې | دهر | عالم | یولوئے عالم شته دے

مونږ چه د چا دپاره اوغواړو درجے ئے اوچتوو او د هر عالم د هرې پاسه بل لوئے عالم شته

قَالُوْٓا اِنْ يَّسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ ۚ

دوی (ورته) اووئیل | که چرے | ده غلا کړی وی | نو یقیناً | غلا کړے وه | ورور | ده | د دے نه پخوا

بهرحال ورونړو اووئیل که ده (بنیامین) غلا کړی وی (نو څه خبره نه ده څکه چه) پخوا ده (سکه) ورور هم غلا کړے وه

فَاَسَرَّهَا يُوْسُفُ فِيْ نَفْسِهٖ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ

پس پته اوساتله داخبره | یوسف | په زړه خپل کښې | او ښکاره ئے نه کړه | دوی ته | وئے ویل

یوسف دا خبره په زړه کښې پته اوساتله او هغوی ته ئے ښکاره نه کړه او وے وئیل چه تاسو

اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۚ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَصِفُوْنَ ۝ قَالُوْا

چه تاسو | دیر بد ے | مرتبے والا یئ | او الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه تاسو ئے وایئ | هغوی اووئیل

دیر خراب خلق یئ او تاسو چه څه وایئ الله تعالیٰ د هغے په حقیقت ښه پوهه دے. هغوی ورته اووئیل

يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ اِنَّ لَهٗٓ اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا فَخُذْ اَحَدَنَا

اے عزیزہ! | بیشکه | د ده | پلار دے | بوډا | زیات عمر والا | لوته ونیسه | یو کس زمونږ نه

اے عزیز! یقیناً دده پلار دیر زیات بوډا دے نو دهٔ په ځای په مونږ کښ یو بل کس د ځان سره ایسار کړه

مَكَانَهٗ ۚ اِنَّا نَرٰىكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝ قَالَ مَعَاذَ اللّٰهِ

په ځائے د ده | بیشکه | مونږ تا وینو | د لیکالو نه | هغه ورته اووئیل | پناه (غواړم) | د الله

یقیناً مونږ تا دیر ښه سړے ګڼړو، یوسفؑ ورته اووئیل (د دے نا انصافۍ نه) زهٔ د الله نه پناه غواړم

اَنْ نَّاْخُذَ اِلَّا مَنْ وَّجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهٗٓ ۙ اِنَّآ اِذًا

چه زهٔ دِ اونیسم | سوا | دهغه چا نه | چه مونږ موندلے دے | سامان خپل | دهغه سره | بیشکه مونږ یه | دغه وخت کښ

چه دچا سره مو خپل سامان موندلے دے دهغهٔ په ځای بل کس اونیسم (ایسار کړم) که دا سے مے اوکړل نو

لَّظٰلِمُوْنَ ۝ فَلَمَّا اسْتَيْـَٔسُوْا مِنْهُ خَلَصُوْا نَجِيًّا ۭ قَالَ ع

خامخا ظالمان یُو | بیا هر کله | چه هغوی نا امیده شو | دهغه نه | لوجدا شول | جرګه کوونکی | اووئیل

یقینی طور به زه په ظالمانو کښ شامل شم نو کله چه دوی د یوسفؑ نه نا امیده شول نو د مشورے دپاره یو طرف ته (ځانله) شول

كَبِيْرُهُمْ اَلَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنَّ اَبَاكُمْ قَدْ اَخَذَ عَلَيْكُمْ مَّوْثِقًا

مشر د دوی | آیا تاسو ته پته نشته | چه پلار ستاسو | اغستلے وو | تاسو نه | پوخ لوظ

مشر ورور ورته اووئیل چه آیا تاسو ته معلومه نه ده چه پلار درنه د الله په نوم پوخ لوظ اخستے وو

مِّنَ اللّٰهِ وَمِنْ قَبْلُ مَا فَرَّطْتُّمْ فِيْ يُوْسُفَ ۚ فَلَنْ اَبْرَحَ

د الله په نوم | اودد ے نه مخکے (هم) | تاسو کوتاهی کړے ده | د یوسفؑ په باره کښ | پس زه هیڅ کله نه پریږدم

اود دے نه مخکے (هم) د یوسفؑ په باره کښ تاسو کوتاهی کړے ده (هغه درته هم معلوم دی) نو زهٔ خو

الْاَرْضَ حَتّٰى يَاْذَنَ لِيْٓ اَبِيْٓ اَوْ يَحْكُمَ اللّٰهُ لِيْ ۚ وَهُوَ

دا زمکه | تر دے | چه اجازت راولیږی | ماته | پلار زما | یا فیصله اوکړی | الله | زما د پاره | اوهغه

دد ے ملک نه تر هغے پورے نه خوزیږم تر څو چه راته پلار اجازت نه وی کړے یا الله زما په باره کښ څه فیصله اونهٔ کړی

خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ۝ اِرْجِعُوْٓا اِلٰٓى اَبِيْكُمْ فَقُوْلُوْا يٰٓاَبَانَآ

د ټولو نه ښه | فیصله کوونکے دے | تاسو واپس لاړ شئ | پلار خپل ته | پس (ورته) ووایئ | چه اے پلاره زمونږ!

او هغه د ټولو نه ښه فیصله کونکے دے تاسو خپل پلار ته واپس لاړ شئ او ورته اووایئ چه اے زمونږ پلاره!

اِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ ۚ وَمَا شَهِدْنَآ اِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا

بیشکه | ستا څوئ | غلا کړے ده | او مونږ ګواهی نهٔ کوو | مګر | په هغه څه | چه مونږته ثُبُت ده | او نه یو مونږ

ستا څوی غلا کړے ده او مونږ هم هغه خبره کړے ده کومه چه زمونږ په علم کښ ده باقی مونږ د غیبو خبر لرونکی

لِلْغَيْبِ حٰفِظِيْنَ ۝ وَاسْئَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِيْ كُنَّا فِيْهَا

د غیبو | حفاظت کوونکی | او تپوس وکړه | د کلی (والو) | هغے نه | چه مونږ وو | په هغے کښ

نهٔ یُو (چه حقیقتِ حال څهٔ دے) او (خیر) مونږ چه په کوم کلی کښ وو د هغے نه تپوس اوکړه او د هغے قافلے والو نه

وَالْعِيْرَ الَّتِيْٓ اَقْبَلْنَا فِيْهَا ؕ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ۝ قَالَ

اودَ قافلے | هغے نه | چه راغلی یو مونږ | په هغے کښ | اوبیشکه مونږ | رښتنی یُو | اوویل (یعقوبؑ)

(هم تپوس اوکړه) چه مونږ ورسره راغلی یو اوداښکل یقینی ده چه مونږ رښتیا وایو. یعقوبؑ چه داواوریدل نوورته ئے اوویل

بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا ؕ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ ؕ عَسَى

(نا) بلکه | ښائسته کړے دے | تاسو ته | ستاسو زړونو | یو کار | نو بس صبر | ډیر ښه دے | امید دے

نا. بلکه داخو تاسوته ستاسو زړونو یوه خبره ښائسته کړے ده نو (اوس) زما دپاره هم صبر ښه دے او داځه

اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَنِيْ بِهِمْ جَمِيْعًا ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝

چه الله | به راولی ماته | هغوی | ټول | بیشکه هم | هغه دے | پوهه | حکمت والا

لرے نه خو (بلکه زما یقین دے) چه الله تعالیٰ به هغه ټول ما ته واپس راولی. یقیناً دهغه علم هم کامل دے او حکمت ئے هم کامل دے

وَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰٓاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ وَابْيَضَّتْ

اومخ ئے واړولو | د دوی نه | اووے ویل | هائے افسوس (دے) | په یوسف پسے | اوسپینے شوے وے

اویعقوبؑ د دوی نه مخ واړولو اووئے ویل هائے زما افسوس دے په یوسف پسے او (په ژړا ژړا ئے) دغم نه

عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ۝ قَالُوْا تَاللّٰهِ تَفْتَؤُا

سترګے ددهٔ | د غم د وجے نه | اوږے وو | ډیر خفه | دوی (ورته) اووئیل | قسم په الله! | ته (خو) همیشه

سترګے سپینے شوے او ډیر زیات خفه وو بچو (حامنو) ورته اووئیل په الله قسم ته یوسفؑ

تَذْكُرُ يُوْسُفَ حَتّٰى تَكُوْنَ حَرَضًا اَوْ تَكُوْنَ مِنَ الْهٰلِكِيْنَ ۝

یاد وے | یُوسف | تر دے | چه ته به شے | بیمار | یا به شے | د مړو نه

یاد ول نه پریږدے تر دے چه یا خو به ورپسے بلکل رنځور (بیمار) شے یا به (د غمه) مړ شے

قَالَ اِنَّمَآ اَشْكُوْا بَثِّيْ وَحُزْنِيْٓ اِلَى اللّٰهِ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ

هغه اووئیل | بیشکه | زه بیکاره کوم شکایت | د خپل خفګان | اود خپل غم | الله ته | اوزه پوهیږم | د الله د طرف نه

هغه ورته جواب کښ اووئیل چه زه خو صرف الله تعالیٰ ته خپل غم او خفګان بیانوم اوزه د الله د طرف نه پوهیږم

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ

په هغه څه | چه تاسو (پرے) نه پوهیږئ | اے زما بچو | لاړ شئ | نو ډیر لټون اوکړئ | د یُوسفؑ

په هغه څه چه تاسو پرے نه پوهیږئ (یعنی اجابت د دُعاء د عاجز انسان) اے زما بچو! لاړ شئ اود یوسف اود هغهٔ

وَاَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ

اود ورور د هغهٔ | او مه نا امیده کیږئ | د رحمت | د الله نه | بیشکه | نه نا امیده کیږی

د ورور ښهٔ تلاش (لټون) اوکړئ او د الله تعالیٰ د رحمت نه مه مایوسه کیږئ. یقین اوکړئ چه د الله تعالیٰ

مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ۝ فَلَمَّا دَخَلُوْا عَلَيْهِ

د رحمت | د الله نه | مګر | قوم | کافران | پس هرکله | چه داخل شو دوی | په هغه

د رحمت نه خو صرف کافران مایوسه کیږی. بیا چه کله دوی (ورونړه) یوسفؑ ته ورغلل

قَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الْعَزِيْزُ مَسَّنَا وَاَهْلَنَا الضُّرُّ وَجِئْنَا

(نو)وے ویل | اے عزیزہ | رسید لے دے مونږ ته | او کورنۍ زمونږ ته | سختی | او مونږ او ږے دہ

نو ورته ئے اووئیل چه اے عزیزہ! مونږ او زمونږ کورنۍ ته ډیر سخت تکلیف رسید لے دے او مونږ څه

بِبِضَاعَةٍ مُّزْجٰىةٍ فَاَوْفِ لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا ؕ

سرمایه (قیمت) | معمولی | نوته پوره را کړه | مونږ ته | راشن (پیمانه) | اوته خیرات او کړه | په مونږ باندے

لکه غوندے سرمایه راوړے دہ (خو) ته مونږ ته غله پوره را کړه او احسان را باندے و کړه

اِنَّ اللّٰهَ يَجْزِى الْمُتَصَدِّقِيْنَ ۝۸۸ قَالَ هَلْ عَلِمْتُمْ مَّا

بیشکه | الله | بدله ورکوی | خیرات کوونکو ته | هغه (ورته) اووئیل | آیا | تاسوته معلوم دی | هغه څه

یقیناً الله تعالی احسان کوونکو ته لوئے اجر ورکوی (اوس ورته) یوسف اووئیل تاسو ته څه پته شته

فَعَلْتُمْ بِيُوْسُفَ وَاَخِيْهِ اِذْ اَنْتُمْ جٰهِلُوْنَ ۝۸۹ قَالُوْٓا ءَاِنَّكَ

چه کړی وو تاسو | د یوسف | اودهغه ورور سره | کله چه | تاسو | ناپوهه وئ | دوی ورته اووئیل | آیا بیشکه ته

چه د ناپوهئ په زمانه کښ تاسو د یوسف او دهغه د ورور سره څه څه کړی وو؟ (په دے خبره ورته) هغوی اووئیل آیا

لَاَنْتَ يُوْسُفُ ؕ قَالَ اَنَا يُوْسُفُ وَهٰذَآ اَخِىْ ۫ قَدْ مَنَّ

هم ته | یوسف ئے | هغه (ورته) اووئیل | زهٔ | یوسف یم | او دا مے | ورور دے | یقیناً | احسان کړیدے

هم ته یوسف ئے؟ هغه ورته اووئیل هاؤ! زه یوسف یم او دا مے ورور دے. الله تعالی په مونږ باندے

اللّٰهُ عَلَيْنَا ؕ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ

الله | په مونږ باندے | بیشکه | څوک چه | او ډیر ډیر د الله نه | او صبر او کړی | نو بیشکه | الله | نه ضائع کوی

ډیر احسان کړے دے حقیقت دادے چه څوک هم تقوی اختیار کړی او د صبر نه کار واخلی نو الله تعالی

اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝۹۰ قَالُوْا تَاللّٰهِ لَقَدْ اٰثَرَكَ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَاِنْ

اجر | د نیکانو | دوی اووئیل | قسم په الله | ته غوره کړے ئے | الله | په مونږ باندے | او یقیناً

د (داسے) نیکانو اجر نه ضائع کوی هغوی ورته اووئیل: په الله قسم. الله تعالی تالره په مونږ باندے فضیلت در کړے دے

كُنَّا لَخٰطِـِٕيْنَ ۝۹۱ قَالَ لَا تَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ؕ يَغْفِرُ

هم مونږ وو | خطاکار | هغه اووئیل | نشته هیڅ ملامتیا | په تاسو باندے | نن ورځ | بخښنه دِ او کړی

او یقینی خبره ده چه مونږ خطاکار وو. یوسف ورته اووئیل نن په تاسو باندے هیڅ ملامتیا (الزام) نشته

اللّٰهُ لَكُمْ ۫ وَهُوَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ۝۹۲ اِذْهَبُوْا بِقَمِيْصِىْ هٰذَا

الله | تاسو ته | او هم هغه | د ټولو نه زیات | رحم کونکے دے | (تاسو) یوسئ | زما قمیص | دا

الله تعالی دے درته معافی او کړی او هغه د ټولو نه زیات رحم کونکے دے. اوس تاسو زما دا قمیص یوسئ

فَاَلْقُوْهُ عَلٰى وَجْهِ اَبِىْ يَاْتِ بَصِيْرًا ۚ وَاْتُوْنِىْ بِاَهْلِكُمْ

پس ورواچوئ دا | په مخ | د پلار زما | شی به هغه | بینا | او راولئ ماته | خاندان خپل

او زما د پلار په مخ ئے واچوئ دے سره به هغه بینا شی. او خپله ټوله کورنۍ (خاندان) زما خوا له راولئ

اَجْمَعِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيْرُ قَالَ اَبُوْهُمْ اِنِّيْ لَاَجِدُ

ټول | اوهرکله | چه جدا شوه | قافله | اووئیل | پلار دهغوی | بیشکه زهٔ | خامخا محسوسوم
اوکله چه دا قافله (دمصر له) روانه شوه نو دهغوی پلار (خپلو لمسو اورشته دارانو ته) اووئیل چه که تاسو مے لیو نه نه کنړئ

رِيْحَ يُوْسُفَ لَوْلَآ اَنْ تُفَنِّدُوْنِ ﴿۹۵﴾ قَالُوْا تَاللّٰهِ اِنَّكَ

بوئ | د یوسفؑ | که چرے تاسو ما بے عقله نه ګڼړئ | هغوی اووایل | قسم په الله | بیشکه ته (پروت) ئے
نو په ما باندے خو د یوسف علیه السلام خوشبو لګی هغوی ورته اووئیل: قسم په الله ته تر اوسه پورے په خپله

لَفِيْ ضَلٰلِكَ الْقَدِيْمِ ﴿۹۵﴾ فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ اَلْقٰىهُ

په خپله مینه | زړه کښ | نو هرکله | چه | راغے | زیږی والا | نووائے چولو هغه (قمیص)
زړه مینه د یوسفؑ کښ پروت ئے، بیا چه کله زیږے ور کونکے راورسید و او قمیص ئے د هغه په مخ واچولو

عَلٰى وَجْهِهٖ فَارْتَدَّ بَصِيْرًا ۚ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ ۚ اِنِّيْٓ

په مخ د هغه | نو شو هغه | بینا | او اووئیل هغه | آیا نه ووو ئیلے ما | تاسو ته | چه بیشکه زهٔ
نو فورًا بینا شو او وے وئیل آیا ما تاسو ته نه وو وئیلے چه د الله تعالیٰ د طرف نه زهٔ

اَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوْا يٰٓاَبَانَا اسْتَغْفِرْ

پوهیږم | د الله د طرف نه | په هغه څه | چه تاسو (پرے) نه پوهیږئ | هغوی ورته اووایل | اے زمونږ پلاره! | بخښنه اوغواړه
په هغه خبرو پوهیږم چه تاسو پرے نه پوهیږئ، دوی ورته اووئیل اے زمونږ پلاره! زمونږ د پاره زمونږ

لَنَا ذُنُوْبَنَآ اِنَّا كُنَّا خٰطِـِٕيْنَ ﴿۹۷﴾ قَالَ سَوْفَ اَسْتَغْفِرُ

زمونږ د پاره | د ګناهونو زمونږ | بیشکه | مونږ | خطاکاریو | هغه اووئیل | زر ده | چه زه به بخښنه اوغواړم
د ګناهونو بخښنه اوغواړه یقیناً مونږ خطاکار وو، هغه ورته اووئیل: ډیر زر به زه ستاسو د پاره د خپل رب نه

لَكُمْ رَبِّيْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۹۸﴾ فَلَمَّا دَخَلُوْا

ستاسو د پاره | د رب خپل نه | بیشکه | هم هغه دے | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان | بیا کله چه | دوی داخل شول
بخښنه اوغواړم یقیناً هم هغه ډیر معافی کونکے زیات مهربان دے بیا چه کله دوی ټول یوسفؑ ته

عَلٰى يُوْسُفَ اٰوٰٓى اِلَيْهِ اَبَوَيْهِ وَقَالَ ادْخُلُوْا مِصْرَ

په یوسفؑ | نو هغه نزدے کړل | خپل ځان ته | مور او پلار خپل | او (ورته ئے) اوئیل | داخل شئ | مصر ته
اورسیدل نو هغه خپل مور او پلار د ځان سره جدا کینول او (ټولو ته ئے) اووئیل چه مصر ته داخل شئ

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ ﴿۹۹﴾ وَرَفَعَ اَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّوْا

انشاء الله | په امن به یئ | او اوچت ئے کینول | مور او پلار خپل | په تخت باندے | او ټینګ شول دوی
ان شاء الله په امن سره به اوسیږئ او خپل مور او پلار ئے (ځان سره) په تخت باندے کینول او

لَهٗ سُجَّدًا ۚ وَقَالَ يٰٓاَبَتِ هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَايَ

ددهٔ په وړاندے | سرونه خکته کوونکی | او اووئیل (یوسفؑ) | اے پلاره زما! | دا | تعبیر | د خوب زما د مے
ټول یوسفؑ ته په سجده پریوتل او یوسفؑ (پلار ته) اووئیل اے زما پلاره! دا زما د هغه پخوانی خوب

مِنْ قَبْلُ ۛ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّيْ حَقًّا ۭ وَقَدْ اَحْسَنَ بِيْٓ

(چه ما ایدلے وو) پخوا دے نه | یقیناً | اوګرځولے دے خوبلره | رب زما | رښتیا | او یقیناً | هغه احسان کړے دے | په ما

تعبیر دے چه الله تعالیٰ رښتیا ثابت کړو ۔ او ما سره ئے ډیر احسان اوکړو

اِذْ اَخْرَجَنِيْ مِنَ السِّجْنِ وَجَاۗءَ بِكُمْ مِّنَ الْبَدْوِ

کله ځچه | زه راویستلم | د جیل نه | اوراځوستلے | تاسو | د بانډے نه

چه د جیل نه ئے راویستلم او تاسو ټول ئے د کلی (بانډے) نه دلته راوستلئ

مِنْۢ بَعْدِ اَنْ نَّزَغَ الشَّيْطٰنُ بَيْنِيْ وَبَيْنَ اِخْوَتِيْ ۭ اِنَّ

پس دَدے نه | چه فساد پیدا کړے وو | شیطان | په مینځ زما | اوپه مینځ | دورونړو زما کښ | بیشکه

حالانکه دد ے نه مخکے شیطان زما او زما دورونړو په مینځ کښ فساد اچولے وو حقیقت دادے

رَبِّيْ لَطِيْفٌ لِّمَا يَشَاۗءُ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ١٠٠

رب زما | ښه تدبیر کوونکے دے | دهغه څه | چه اوئے غواړی | بیشکه | هم هغه دے | ښه پوهه | پوره حکمت والا

چه زما رب چه څه کول غواړی نو دهغے دپاره ډیر ښه تدبیر کوی یقیناً دهغه علم هم کامل او حکمت ئے هم کامل دے

رَبِّ قَدْ اٰتَيْتَنِيْ مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِيْ مِنْ تَاْوِيْلِ

اے ربه زما | یقیناً | تا را کړے ده ماته | بعضے بادشاهی | او تا ښودلے دے ماته | تعبیر

اے زما ربه! یقیناً تا ماله بعضے حکومت هم را کړو او د خوبونو په تعبیر دے هم پوهه کړم

الْاَحَادِيْثِ ۚ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اَنْتَ وَلِيّٖ

د خوبونو | اے پیدا کوونکیه | د آسمانونو | او د زمکے! | هم ته | زما مدد کار ئے

اے د آسمانونو او زمکے پیدا کونکیه! هم ته په دنیا او آخرت کښ زما کارساز

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَّاَلْحِقْنِيْ بِالصّٰلِحِيْنَ ١٠١

په دنیا | او آخرت کښ | مرګ راوله ماله | داسلام په حالت | اومایوځای کړه | د نیکانو سره

(مددګار) ئے ۔ ما د دنیا نه د تابعدارئ په حالت کښ اوچت کړه او په نیکانو خلقو کښ مے شامل کړه

ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَاۗءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ۚ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ

دا | بعضے خبرونه دی | د غیبو | چه مونږ ئے وحی کوو | تاته | او ته نه وے | د دوی سره

اے پیغمبره دا ټوله واقعه د غیب د خبرونو یوه حصه ده چه مونږ ئے تاته د وحی په ذریعه بنایو او ته د مرونړو د یوسف سره په هغه وخت

اِذْ اَجْمَعُوْٓا اَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُوْنَ ١٠٢ وَمَآ اَكْثَرُ النَّاسِ

کله چه | دوی مضبوط ولو | خپل تدبیر | او دوی | بد تدبیر جوړولو | او نه دی | اکثر | خلق

کښ موجود نه وی کله چه هغوی په خپله خبره (اراده) باندے اتفاق کړے وو او سازش (تدبیر) ئے جوړولو د دے باوجود

وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِيْنَ ١٠٣ وَمَا تَسْـَٔـلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۭ

اګر که | ته حرص کوے | ایمان راوړونکی | او ته نه غواړے د دوی نه | په دے باندے | څه اجر (بدل)

اکثر خلق ایمان نه راوړی اګر که ته ئے ډیر حرص کوے حالانکه ته د دوی نه په (تبلیغ باندے) څه اجرت هم نه غواړے

اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ وَكَاَيِّنْ مِّنْ اٰيَةٍ فِي السَّمٰوٰتِ

نه دے | دا | مگر | نصیحت | دپاره د مخلوقاتو | اوځومره ډیرے | نخښے دی | په آسمانونو

دا (قرآن) خو د ټول جهان د خلقو دپاره بس یو نصیحت دے او په آسمانونو او په زمکه کښ (څومره)

وَالْاَرْضِ يَمُرُّوْنَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُوْنَ ۝

او په زمکه کښ | چه دوی تیر یږی | په هغے باندے | او (بیا هم) دوی | د هغے نه | مخ اړوونکی دی

ډیرے نخښے (د توحید) دی چه دوی پرے وَر تیر یږی خو بیا ترینه هم مخ اړوی

وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ ۝

او ایمان نه راوړی | اکثر د دوی نه | په الله باندے | مگر | په دے حال کښ چه (ورسره) | شرک کونکی دی

او په دوی کښ اکثر خلق دا سے دی چه که په الله تعالیٰ ایمان لری نو دا سے لری چه ورسره شرک هم کوی

اَفَاَمِنُوْٓا اَنْ تَاْتِيَهُمْ غَاشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ

آیا په امن کیدے شی دوی | د دے نه | چه راشی په دوی باندے | یو راګیرونکے (آفت) | د عذاب | د الله نه

آیا دے خلقو سره د دے خبرے ویره (خطره) نشته چه د الله د طرف نه پرے یو دا سے عذاب راشی

اَوْ تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝ قُلْ

یا راشی دوی ته | قیامت | ناڅاپه | او دوی به | نه پوهیږی | اووایه

چه ټول راګیر کړی یا پرے ناڅاپه قیامت په دا سے حال کښ راشی چه دوی سره احساس هم نه وی؟

هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۣ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ

دا | زما لار ده | چه بلنه کوم | الله ته | په دلیل سره | زهٔ | او هغه څوک

اے پیغمبره! اووایه چه دا دعوت زما لار ده زهٔ پوره په بصیرت سره د الله توحید ته خلق را بلم زهٔ هم او څوک چه ما پسے

اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ وَمَآ اَرْسَلْنَا

چه ما پسے روان دی | او پاک دے | الله | او نه یم زه | د مشرکانو نه | او نه دی لیږلی مونږ

روان دی هغوی هم. او الله تعالیٰ د هر قسم شریک نه پاک دے. او زما د مشرکانو سره هیڅ تعلق (واسطه) نشته

مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى ۭ

مخکے ستا نه | مگر | سړی | چه وحی به کوله مونږ | هغوی ته | د کلو والو نه

او ستا نه مخکے چه مونږ څومره پیغمبران لیږلی دی نو هغه ټول د مختلفو کلو اوسیدونکی سړی وو

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

نو آیا دوی نه گرځی | په زمکه کښ | چه اوګوری | چه څنګه | شو | انجام

چه مونږ به ورته وحی کوله نو آیا دا خلق په زمکه کښ ګرځی راګرځی نهٔ چه دا ځیلے وے چه

الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ

دهغه خلقو | چه مخکښ وو دوی نه | او خامخا کور | د آخرت | ډیر ښه دے | دپاره د هغه خلقو

د پخوا نو خلقو څه انجام شو؟ او د آخرت کور یقیناً د هغه خلقو دپاره ډیر ښه دے چا چه تقوی اختیار کړه

اتَّقَوْا ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ حَتّٰۤى اِذَا اسْتَيْـَٔسَ الرُّسُلُ

چه پرهیزګاری ـــ ګرے ده | آیا تاسو عقل نه لرئ | تر دے | چه کله | نا اُمیده به شول | پیغمبران

آیا بیا هم تاسو د عقل نه کار نه اخلئ. تر دے چه نا اُمیده به شول پیغمبران د ایمان راوړلو دقوم نه

وَظَنُّوْۤا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا جَآءَهُمْ نَصْرُنَا ۙ فَنُجِّىَ

اوګمان به اوکړو | چه بیشکه دوی | دروغژن کړے شو | نو راغے دوی ته | زمونږ مدد | پس بچ به کړے شو

اوګمان به ـــ اوکړو چه بیشکه دوی دروغژن کړے شو (دقوم دطرفه) نو راغے به دوی ته مدد زمونږ او مونږ به چه

مَنْ نَّشَآءُ ؕ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝

هغه څوک | چه مونږ به غوښتل | اونه شی ولاس کیدے | عذاب زمونږ | د قوم | مجرمانو نه

څوک غوښتل (یعنی مومنان) هغوی به دعذاب نه بچ کړے شو اودمجرمانو خلقو نه زمونږ عذاب نه واپس کیږی

لَقَدْ كَانَ فِىْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّاُولِى الْاَلْبَابِ ؕ مَا كَانَ

یقیناً | شته | په بیان د دوی کښ | لوئے عبرت | دپاره د عقل مندو خلقو | نه دے دا (قران)

یقیناً د دوی په دے واقعاتو کښ د عقل مندو خلقو دپاره ډیر عبرت پروت دے دا قرآن څه

حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ

یوه خبره | دځان نه جوړه کړے شوے | لیکن | تصدیق دے | د هغه څه | چه مخکے دی د ده نه

دا سے خبره خونهٔ ده چه دځان نه جوړه کړے شوے وی بلکه داخو د پخوانو ټولو کتابونو تصدیق

وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَىْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝ ع

او تفصیل | د هر | څیز دے | او هدایت | او رحمت دے | دپاره د هغه خلقو | چه ایمان راوړی

او د دین د هر ډے ضروری خبرے وضاحت دے او هدایت او رحمت دے د مؤمنانو دپاره۔

آیاتها [۴۳]	سورة الرّعد مدنيّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓمّٓرٰ ۚ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ ؕ وَالَّذِىْۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

الٓمّٓرٰ | دا | آیتونه | د کتاب دی | او هغه څه | چه نازل کړے شوی دی | تاته

الف لام میم را، دا دالله د عظیم الشان کتاب آیتونه دی، (اے پیغمبره!) او ستا د رب د طرف نه چه څه په تا باندے

الَّذِیْ رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَیْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰی

هغه(ذات)دے | چه اوچت کړی ئے دی | آسمانونه | بے ستنو | چه تاسو ئے وینئ | بیا | برابر شوی دے

هغه ذات دے چه آسمانونه ئے د ستنو نه بغیر اوچت کړی دی لکه چه تاسو ئے وینئ بیا ئے

عَلَی الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ یَّجْرِیْ لِاَجَلٍ

په عرش باندے | اوپه کار ئے لګولی دی | نمر | او سپوږمئ | هریو | روان دے | تر یو نیټے

په عرش باندے استواء کړے ده، او نور او سپوږمئ ئے په کار لګولی دی هر یو مقرر نیټے پورے روان دے

مُّسَمًّی ؕ یُدَبِّرُ الْاَمْرَ یُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ لَعَلَّكُمْ

مقرر ے پورے | هغه انتظام کوی | دټولو کارونو | په تفصیل سره بیانوی | آیتونه | دے دپاره چه تاسو

هم هغه د ټولو کارونو تدبیر کوی هم هغه (دا) نخښے دقدرت خپلے پوره په تصیل سره دے دپاره بیانوی چه تاسو

بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ ۝ وَهُوَ الَّذِیْ مَدَّ الْاَرْضَ

په ملاقات | درب خپل | یقین اوکړئ | او هم الله | هغه ذات دے | چه غوړولے ئے ده | زمکه

د خپل رب په ملاقات یقین اوکړئ، او هم الله هغه ذات دے چه زمکه ئے خوره کړے ده

وَجَعَلَ فِیْهَا رَوَاسِیَ وَاَنْهٰرًا ؕ وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ جَعَلَ

اوپیدا کړی ئے دی | په دے کښ | (پاخه) غرونه | او نهرونه | او د هر قسمه | میوونه | پیدا کړی ئے دی

او پکښ ئے غرونه او نهرونه جوړ کړی دی او د هر قسمه میوو نه ئے پکښ

فِیْهَا زَوْجَیْنِ اثْنَیْنِ یُغْشِی الَّیْلَ النَّهَارَ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

په دے زمکه کښ | جوړے | دوه | اغوندوی | شپه | ورځ ته | بیشکه | په دے کښ

جوړے جوړے پیدا کړی دی او هم هغه شپه په ورځ (باندے) پټوی حقیقت دا دے چه کوم خلق

لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ وَفِی الْاَرْضِ قِطَعٌ

ضرور دیر ے نخښے دی | دپاره دهغه قوم | چه فکر کوی | او په زمکه کښ | (دیر ے) ټوټے دی

غور او فکر کوی هغوی دپاره په دے محسوسو باتو کښ دیر دلیلونه دقدرت دالله پراتهٔ دی اوپه زمکه کښ مختلفے ټوټے

مُّتَجٰوِرٰتٌ وَّجَنّٰتٌ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّزَرْعٌ وَّنَخِیْلٌ صِنْوَانٌ

دیو بل سره جوخت | او باغونه دی | د انګورو نه | او فصلونه دی | او قجورے دی | څانګو والا

(خطے) دی چه دیو بل سره نزدے (ملاو دی) او دانګورو باغونه او پتی (فصلونه) دی او قجورے دی چه څنے دیر و تنو

وَّغَیْرُ صِنْوَانٍ یُّسْقٰی بِمَآءٍ وَّاحِدٍ ۫ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا

او بغیر د څانګو والا | چه اوبه کیږی | په اوبو | یو قسم باندے | او مونږ غورزوالے ورکوو | بعضو ددیته

(شاخونو) والا دی او څنے دیو ے تنے والا دی داټول په یو قسم اوبو باندے خړوبیږی (خو) بیا مونږ بعضو ته

عَلٰی بَعْضٍ فِی الْاُكُلِ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ

په نور بعضو باندے | په خوند کښ | بے شکه | په دے کښ | ضرور دیر ے نخښے دی | دپاره دهغه قوم

په څنو باندے په مزه (خوند) کښ غورزوالے ورکوو یقیناً په دے عقلی څیزونو کښ دهغه خلقو دپاره دیر ے نخښے دی

يَّعْقِلُوْنَ ۝ وَاِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ ءَاِذَا كُنَّا

دعقل نه کار اخلی | اوکه چرے | ته تعجب کوے | نو ډیره عجیبه ده | (دا) خبره دَدوی | چه آیا کله | شو مونږ

چه دعقل نه کار اخلی او (اے پیغمبره!) که ته دَدے کافرانو په انکار دتوحید باندے تعجب کوے نو ددوی دا خبره هم ډیره

تُرٰبًا ءَاِنَّا لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

خاورے | (نو) آیا مونږ به | شو په پیدایش | نوی کښ | هم دا | هغه خلق دی | چه کفر ئے کړے دے

عجیبه (ناشنا) ده چه آیا هر کله چه مونږ (د مرګ نه پس) خاورے شو نو آیا بیا به راپیدا کیږو هم دا هغه خلق دی چه

بِرَبِّهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ الْاَغْلٰلُ فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

په رب خپل باندے | اوهم دا خلق دی | چه طوقونه به اچولے شی | په څټونو د دوی کښ | اوهم دا خلق دی

د خپل رب (د قدرت) نه ئے انکار کړے دے اوهم دا هغه خلق دی چه څټونو کښ به ئے طوقونه پراته وی اوهم دا خلق

اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالسَّيِّئَةِ

اُور والا | دوی به | په دے کښ | همیشه وی | او دوی زر غواړی ستا نه | بدی (عذاب)

دوزخ والا دی چه پکښ به همیشه اوسیږی او دوی دا ایمان راوړلو نه مخکے د عذاب مطالبه

قَبْلَ الْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمُ الْمَثُلٰتُ ؕ وَاِنَّ

مخکے | د نیکۍ نه | اویقیناً | تیر شوی دی | مخکے د دوی نه | عذابونه شرمۍنکی | اوبیشکه

ستا نه په تلوار سره کوی حالانکه د دوی نه مخکے ډیر (شرمۍنکی) عذابونه تیر شوی دی او حقیقت دا دے

رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلٰى ظُلْمِهِمْ ۚ وَاِنَّ رَبَّكَ

رب ستا | ضرور بخښنه کوونکے دے | خلقو ته | سره د ظلم د دوی | او بے شکه | رب ستا

چه د خلقو د ظلم زیاتی کولو باوجود ستا رب ډیر معافی کوونکے ذات دے اودا هم حقیقت دے چه ستا رب

لَشَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ

ډیر سخت | عذاب ورکوونکے دے | او وائی | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | ولے نه نازلیږی

عذاب هم ډیر سخت دے او کافران وائی چه په دے پیغمبر باندے (زمونږ د خوښے) د خپل رب د طرف نه

عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ

په ده باندے | یوه نخښه | د خپل رب د طرفه | بے شکه | ته (خو) ایره ورکوونکے ئے | او د هر پاره د هر یَو | قوم

یوه نخښه (معجزه) ولے نه نازلیږی؟ (اے پیغمبره!) اصل خبره داده چه ته خو صرف (د بد او نتیجو نه)

هَادٍ ۝ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا

یَولاړښوونکے دے | الله | پوهیږی | په هغه څه | چه په خیټه کښ ئے باروی | هره یوه | ښځه | او هغه څه

یَرونکے ئے او د هر یو قوم د پاره یو رهنما دے. یوه ماده چه کوم حمل اخلی الله تعالیٰ ته د هغے هم پوره علم دے

تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ؕ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ

چه کموی ئے | رحمونه | او هغه څه | چه زیاتوی ئے | او هر یَو | څیز | د هغه سره

دمینډو په رحمونو کښ چه کوم کمی زیاتے (داولاد) کیږی الله هغه هم ښه پیژنی او د هر یو څیز د هغه سره

بِمِقْدَارٍ ۝ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيْرُ الْمُتَعَالِ ۝۹

په یوه اندازه دے | پوهه دے | په پټو | او په ښکارو | ډیر لوئے دے | اوچت (شان والا) دے

یوه اندازه مقرر ده هغه یقے او ښکاره ټولے خبرے پیژنی د هغه ذات ډیر لوئے او شان ئے ډیر اوچت دے

سَوَآءٌ مِّنْكُمْ مَّنْ اَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهٖ

برابردی (هغه که) | ستاسو نه | هغه څوک | چه پټوی | خبره | او هغه څوک | چه ښکاره کوی | دا خبره

په تاسو کښ که څوک په پټه خبره کوی او که په زور (په ښکاره) او که څوک

وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِالَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِالنَّهَارِ ۝۱۰ لَهٗ

او هغه څوک | چه | پټیدونکے وی | د شپے | او ګرځیدونکے وی | د ورځے | خاص د هغه په اختیار کښ دی

د شپے په تپاره کښ پټ وی او که د ورځے (په رڼا کښ) ګرځی. دا ټول د الله په علم کښ برابر دی

مُعَقِّبٰتٌ مِّنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ يَحْفَظُوْنَهٗ

نګرانے (فرشتے) | مخکے د دے (بنده) نه | او وروستو د ده نه | حفاظت کوی هغوی د ده

د هر کس نه مخکے وروستو نګرانے فرشتے مقرر دی چه د الله تعالیٰ په اختیار او حکم سره وار په وار د هغه حفاظت کوی

مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى

په حکم | د الله سره | بیشکه | الله | نه بدلوی | هغه حالت | چه وی په یو قوم | تر دے

یقین او کړئ چه الله تعالیٰ د یو قوم حال د حفاظت تر هغے نه بدلوی تر څو چه هغوی (په نافرمانئ سره)

يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ؕ وَاِذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ

چه دوی بدل کړی | هغه څه | چه د دوی په نفسونو کښ دی | او کله چه | اراده وکړی | الله | یو قوم ته

خپل حالت پخپله بدل نه کړی هاں کله چه الله تعالیٰ په یو قوم باندے د مصیبت (آفت) راوستو اراده او کړی

سُوْٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ ۚ وَمَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّالٍ ۝۱۱

د مصیبت (رسولو) | نو نه وی هیڅ واپسی | د هغے | او نه وی د دوی | سوا د هغه نه | هیڅ څوک مددګار

نو بیا د هغے واپس کول هیڅ چا له ممکن نه دی او نه د الله نه سوا بل څوک د هغوی مدد کولے شی

هُوَ الَّذِيْ يُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنْشِئُ

هم الله هغه ذات دے | چه ښائی تاسو ته | بریښنا | د ډیرے | او د طمعے د پاره | او پیدا کوی

الله تعالیٰ هم هغه ذات دے چه تاسو ته د بجلئ برق ښائی چه په هغے سره ستاسو ډیره د تندر هم پیدا شی او امید د باران هم او هم هغه

السَّحَابَ الثِّقَالَ ۝۱۲ وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهٖ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

وریځے | درنے | او پاکی بیانوی | رعد | سره د تعریف د هغهٔ | او فرشتے (هم)

دا وینه په دے درنے درنے وریځے راوچتوی اور عد (فرشته یا آواز د وریځو) هم د هغه تسبیح او حمد وائی او نورے فرشتے هم

مِنْ خِيْفَتِهٖ ۚ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيْبُ بِهَا مَنْ

د هغهٔ د ډیرے نه | او رالیږی | تندرونه | پس رسوی | د هغه تندرونه | هغه چا ته

د هغهٔ د ډیرے نه (د هغهٔ پاکی بیانوی) او هم هغه تندرونه رالیږی نو په چا ئے چه اوغواړی په هغوی ئے راوغورځوی

يَّشَآءُ وَهُمْ يُجَادِلُوْنَ فِي اللّٰهِ ۚ وَهُوَ شَدِيْدُ الْمِحَالِ ۝

چه اوئے غواړی | او دوی | جګړه کوی | د الله پاره کښ | او هغه | ډیر سخت | نیونکے دے

او دکافرانو حال دادے چه هم د الله په پاره کښ بحثونه (جګړے) کوی حالانکه هغه (الله) سخت نیونکے ذات دے۔

لَهٗ دَعْوَةُ الْحَقِّ ؕ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَسْتَجِيْبُوْنَ

خاص دهغه | بلنه | حقه ده | او هغه څوک | چه دوی ئے رابلی | سوا دهغه نه | هغوی جواب نه شی ورکولے

هم د الله نه دعا غوښتل حق دی او د الله نه سوا چه دا خلق کوم معبودان رابلی نو هغوی د دوی دعا کانے

لَهُمْ بِشَيْءٍ اِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ

دوی ته | دهیڅ شیز | مګر | په شان د خورَه وونکی | دواړو لاسونو خپلو لره | اوبو ته

نشی قبلولے او دَدوی مثال دهغه چا پشان دے چه دا وبو طرف ته ئے لاسونه غځولی وی او اوبو ته آواز کوی

لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهٖ ؕ وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ

چه اورسیږی | د دهغوی خولے ته | اونه دی | هغه | رسیدونکے ده ته | او نه ده | بلنه | د کافرانو

چه د دهغوی خولے ته پخپله ورسیږی حالانکه هغه کله هم پخپله د دهغوی خولے ته نشی رسیدے ځکه او بهٔ نهٔ د دهٔ خبره اوری او نهٔ دے

اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝ وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

مګر | په ګمراهۍ کښ | او خاص الله ته | سجده کوی | هغه څوک | چه په آسمانونو | او زمکه کښ دی

لیدلے شی او د دے کافرانو دابلنه (دعا) بے اثره او ضائع ده، او د آسمانونو او د زمکے ټول مخلوق او د هغوی سوری سحر او ماښام

طَوْعًا وَّكَرْهًا وَّظِلٰلُهُمْ بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ۝ قُلْ مَنْ

په خوښه | او په نا خوښه | او سوری دَدوی (هم) | صبا | او بیګا | اووایه! | څوک دے

د الله تعالیٰ حکم تکوینی ته سر ښکته کوی ملائک او مومنان په خوښه او کافران په نا خوښه (اے پیغمبره ادے کافرانو ته) اووایه

رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلِ اللّٰهُ ؕ قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ

رب | د آسمانونو | او د زمکے | اووایه | (چه) الله (دے) | اووایه | آیا پس تاسو نیولی دی

چه د آسمانونو او د زمکے رب څوک دے؟ ته ورته جواب ورکړه چه صرف الله دے ورته اووایه چه آیا بیا هم تاسو

مِّنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا ؕ

سوا د هغه نه | (داسے) دوستان | چه هغوی اختیار نه لری | د ځانونو خپلو د پاره | د څهٔ فائدے | او نهٔ د څهٔ نقصان

ځانله د الله نه سوا داسے کارسازان (مددګاران) نیولی دی چه خپل ځان د پاره هم د فائدے او د نقصان اختیار نه لری

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ اَمْ هَلْ تَسْتَوِي

اووایه | آیا | برابر دے | روند | او بینا؟ | آیا | برابر دی

اووایه چه آیا روند او بینا برابر کیدے شی؟ یا آیا تیارے او رنړا یو شان (برابر) کیدے شی؟

الظُّلُمٰتُ وَالنُّوْرُ ۚ اَمْ جَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوْا

تیارے | او رنړا | یا | دوی جوړ کړی دی | د الله د پاره | (داسے) شریکان | چه پیدائش کړے دے هغوی

یا دوی د الله تعالیٰ سره داسے شریکان جوړ کړی دی چه هغوی (هم) د الله د مخلوق غوندے مخلوق پیدا

كَخَلْقِهٖ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ

پشان د پیدائش دهغهٔ | نو کله وشوے دے | پیدائش | په دوی باندے | اووایه | چه (یواځے) الله | پیدا کونکے

کړے دے چه دهغے دوے دوی ته دواړو پیدایش یو شان معلومیږی؟ (که داسے وی نو ورته) اووایه چه یواځے الله

كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ

د هرڅیز | څیز دے | او هغه | یَو دے | زورور دے | (هغه) راوروی | د آسمان نه

د هر څیز خالق دے او هغه ایک یو داسے ذات دے چه په ټولو غالب دے. هم هغه الله د آسمان نه

مَآءً فَسَالَتْ اَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا

اوبه | نو (بیا) اوبهیږی | خوږونه | په خپله اندازه | نو پورته کړی | سیلاب | زګ

اوبه راوروی چه په هغے سره خوږونه د خپلے اندازے مطابق اوبهیږی بیا د دغے سیلاب په سر باندے

رَّابِيًا ؕ وَمِمَّا يُوْقِدُوْنَ عَلَيْهِ فِي النَّارِ ابْتِغَآءَ حِلْيَةٍ

اوچت (په اوبو) | او دهغے څه نه | چه دوی ګرموی | هغے لره | په اور کښ | د پاره د طلب کولو | د کالو

زګونه راوخیژی او دوی چه د لوښو یا کالو جوړولو د پاره په اور کښ څه ګرموی

اَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهٗ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ ؕ

یا د سامان | زګ دے | پشان د دے | دغه شان | بیانوی | الله | حق | او باطل

په هغے باندے هم دغسے زګونه راوخیژی الله تعالیٰ د حق او د باطل مثال هم دغه شان بیانوی چه په دے دواړو

فَاَمَّا الزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۚ وَاَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ

نو کوم | چه زګ دے | نو هغه لاړ شی | په اوچید و سره | او هر چه هغه څه دی | چه فائده ور کوی | خلقو ته

قسمونو کښ چه زګ وی هغه خو وچ شی او هغه بیکاره لاړ شی او کوم څیز چه د خلقو د پاره فائده مند وی

فَيَمْكُثُ فِي الْاَرْضِ ؕ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ ؕ

نو هغه پاتے شی | په زمکه کښ | دغه شان | بیانوی | الله | مثالونه

هغه په دنیا کښ باقی پاتے شی. هم دغه شان الله تعالیٰ بیانوی مثالونه

لِلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمُ الْحُسْنٰى ؕ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْا

د هغه خلقو د پاره | چه خبره ئے منلے ده | د خپل رب | نه بدله ده | او هغه خلقو | چه خبره ئے نه ده منلے

نه بدله هم د هغه خلقو د پاره مقرر ده چا چه د خپل رب خبره منلے ده او چا چه د هغه خبره نه ده منلے

لَهٗ لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ

د هغه | که چرے شی | د هغوی د پاره | هغه څه | چه په زمکه کښ دی | ټول | او د دے هومره نور هم | د ۀ سره شی

که د هغوی سره د دنیا ټول څیزونه هم وی بلکه د دی هومره نور (ور سره وی) نو د خپل ځان

لَافْتَدَوْا بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ سُوْٓءُ الْحِسَابِ ۙ

نو خامخا به په فدیه کښ ورکړی | هغے لره | هم دا خلق دی | چه دوی د پاره | بد (سخت) | حساب دے

د بچ کولو د پاره به دے هر څه ورکولو ته تیار شی. د هغوی حساب به ډیر سخت وی

وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۸﴾ اَفَمَنْ يَّعْلَمُ

اوځائے ددوی | دوزخ دے | او(هغه)ډیر بد ځائے دے | د آرام | آیا نو هغه څوک | چه پوهیږی

او دوزخ به ئے ځائے وی او هغه ډیر بد ځائے دے د چا چه دا یقین وی چه په تا باندے

اَنَّمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ كَمَنْ هُوَ

چه یښکه هغه څه | چه نازل شوی دی | تاته | ستا د رب د طرفه | حق دی | پښان دهغه چا دے | چه هغه وی

د خپل رب د طرف نه کوم کتاب راغلے دے هغه بلکل حق دے آیا داد هغه چا پښان کیدے شی چه هغه بلکل د حق نه

اَعْمٰى ؕ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۱۹﴾ الَّذِيْنَ يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ

روند؟ | بے شکه | نصیحت قبلوی | عقل مند خلق | داهغه خلق دی | چه پوره کوی | وعده

روند وی؟ حقیقت هم داد دے چه عقل مند خلق نصیحت قبلوی یعنی هغه خلق چه د الله تعالی سره کړے

اللّٰهِ وَلَا يَنْقُضُوْنَ الْمِيْثَاقَ ﴿۲۰﴾ وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ

د الله | او نه ماتوی | پخه وعده | اودا هغه خلق دی | چه پیوند کوی | هغه څه

وعدے سر ته رسوی او د معاهدے خلاف ورزی نه کوی او د کومو رشتو د پالنے چه

اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ

چه حکم کړے دے | الله | دهغے | چه پیوند ډکړے شی | او یَریږی | د رب خپل نه | او یَریږی

الله تعالی حکم کړے دے دا خلق هغه پالی او د خپل رب نه یَریږی او د سخت حساب

سُوْٓءَ الْحِسَابِ ﴿۲۱﴾ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ

ډډ(سخت) | حساب نه | اوداهغه خلق دی | چه صبر کوی | د پاره د طلب کولو | د رضا | د رب خپل

کتاب نه هم ویریږی، او دا هغه خلق دی کوم چه د خپل رب د رضا مندئ په تلاش کښ د صبر نه کار اخلی

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

اوپابندی کوی | د مانځه | او خرچ کوی | دهغه څه | چه مونږ ورکړی دی دوی ته | په پټه | او په ښکاره

او د مونځونو پابندی کوی او مونږ چه ورله کوم رزق ورکړے دے د هغے نه په پټه او په ښکاره

وَّيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى

او لرے کوی | په نیکئ سره | بدی | هم دا خلق دی | چه دوی دپاره | ښه انجام

د الله په لاره کښ خرچ کوی او د نیکو په ذریعه بدی ختموی هم دے خلقو دپاره د آخرت

الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا وَمَنْ صَلَحَ

د کور(د آخرت) دے | چه جنتونه | د همیشوالی دی | چه داخلیږی به ورته دوی | او هغه څوک (هم) | چه نیکان وی

د کور ښه انجام (مقرر) دے یعنی د همیشه اوسیدو باغونه دی چه دوی به پکښ پخپله هم داخلیږی

مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ

د پلارانو د دوی نه | او د ښځو د دوی نه | او د اولاد د دوی نه | او فرشتے به | داخلیږی

او د دوی په پلار نیکه، بیبیانو او اولاد (بچو) کښ چه څوک نیک وی هغوی به ورته هم داخلیږی او فرشتے به ورته

عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا

په دوی باندے | د هرے | دروازے نه | (ورته به وائی) سلام دِوی | په تاسو | په دے وجه

د هرے دروازے نه راځی (او ورته به وائی چه) په تاسو دے سلامتیا وی ځکه چه تاسو (په دنیا کښی) د صبر

صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ۝ وَالَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ

چه تاسو صبر کړے دے | نو ډیر ښه دے | انجام | د کور (د آخرت) | او هغه خلق | چه ماتوی | وعده

نه کار اخستے وو او د آخرت په کور کښی ستاسو ډیر ښه انجام دے او (بل طرف ته چه) کوم خلق د الله سره

اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ

د الله | وروستو | د کلکوالی د هغے نه | او پریکوی | هغه څه | چه حکم کړے دے | الله | د هغے

کړے وعده د مضبوطولو نه پس ماتوی او الله چه د کومے رشتے (تعلق) د پالنے حکم کړے دے

اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ

چه پیوست دِ کړے شی | او فساد کوی | په زمکه کښی | هم دا خلق دی | چه دوی د پاره | لعنت دے

هغه پریکوی او په زمکه کښی فساد خوروی هم په دا سے خلقو باندے لعنت دے

وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ۝ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ

او د دوی د پاره | بَد | کور (د آخرت) دے | الله | فراخه کوی | رزق | د چا د پاره | چه وغواړی

او په آخرت کښی ئے انجام هم بد دے الله تعالیٰ چه چاله وغواړی نو رزق ورله فراخه کړی او (چاله چه وغواړی نو)

وَيَقْدِرُ ۭ وَفَرِحُوْا بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

او تنګوی (ځهم) | او دوی خوشحاله دی | په ژوند | دنیوی | او نه دے | ژوند | دنیوی

رزق ورله تنګ کړی او کافران د دنیا په ژوند خوشحالیږی حالانکه د آخرت په مقابله کښی د دنیا

فِى الْاٰخِرَةِ اِلَّا مَتَاعٌ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ

په مقابله د آخرت کښی | مګر | لږ سامان | او وائی | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه ولے نه نازلیږی

د ژوند حیثیت د معمولی غوندے فائدے دی او کافران وائی چه په دے پیغمبر باندے د خپل رب د طرف نه

عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ

په هغه باندے | یوه نخښه | د خپل رب د طرف نه | اووایه! | بے شکه | الله | ګمراه کوی | چا لره | چه اوغواړی

یوه نخښه (معجزه) ولے نه نازلیږی ته ورته جواب کښی اووایه چه الله تعالیٰ چه چاله اوغواړی ګمراه ئے کړی او څوک چه

وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَتَطْمَىِٕنُّ

او لاره ښائی | خپل طرف ته | هغه چا ته | چه راګرځی (الله ته) | دا هغه خلق دی | چه ایمان ئے راوړے دے | او مطمئن کیږی

الله ته رجوع کوی هم هغه ته (د خپل ځان طرف ته) سمه لار ښائی یعنی دا هغه خلق دی چه ایمان ئے راوړے دے

قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ۝

زړونه د دوی | په ذکر | د الله سره | خبر شئ | چه په ذکر | د الله سره | آرام مومی | زړونه

او د الله تعالیٰ په ذکر ئے زړونه آرام مومی یاد ساتئ چه هم د الله په ذکر زړونو ته تسلی ملاویږی

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ طُوْبٰى لَهُمْ

داهغه خلق دی | چه ایمان ځواړے دے | اوعملونه کوی | نیک | خوشحالی ده | دَدوی دپاره

(بهر حال) چا چه ایمان راوړے دے او نیک عملونه ځکړی دی د هغوی دپاره خوشحالی

وَحُسْنُ مَاٰبٍ ﴿۲۹﴾ كَذٰلِكَ اَرْسَلْنٰكَ فِيْٓ اُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ

اوښه ځائے | دورتلو دے | دغه شان | مونږ راولیږلے ته | په دا سے امت کښ | چه یقیناً | تیر شوی دی

اوښه ځائے دَورتلو دے اے پیغمبره (څنګه چه مونږ نور پیغمبران لیږلی وو) دغه شان مونږ ته هم یو دا سے امت کښ

مِنْ قَبْلِهَآ اُمَمٌ لِّتَتْلُوَا عَلَيْهِمُ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ

مخکے د هغے نه | ډیر امتونه | دے دپاره چه ته اولولے | په دوی باندے | هغه (کتاب) | چه مونږ ځے وحی کړے ده

راولیږلے ځے چه مخکے ترے ډیر امتونه تیر شوی دی چه ته دوی ته هغه (کتاب) واورو مے کوم چه مونږ تاته درلیږلے دے

اِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُوْنَ بِالرَّحْمٰنِ ؕ قُلْ هُوَ رَبِّيْ لَآ

تاته | اوحال دادے | چه دوی انکار کوی | د رحمن ذات نه | اووایه | (هم) هغه | زمارب دے | نشته دے هیڅوک

خوحال دادے چه دوی رحمن (ذات) نه منی ته ورته ووایه چه هم دغه مهربان (رحمن) ذات زمارب دے چه دهغه نه سوا

اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ مَتَابِ ﴿۳۰﴾ وَلَوْ

لائق د بندګۍ | سوا | دهغه نه | خاص په هغه باندے | توکل کړے دے ما | اوخاص هغه ته | زما ورتلل دی | اوکه چرے

بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته. هم په هغه باندے ما توکل کړے دے اودهغه طرف ته زما واپس تلل دی اوکه چرے

اَنَّ قُرْاٰنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ اَوْ قُطِّعَتْ بِهِ الْاَرْضُ

وے قرآن | چه روانولے شوے | دد ے په ذریعه | غرونه | یا شلولے شوے | په هغے سره | زمکه

داقرآن حاسے نازل شوے وے چه دد ے په ذریعے سره غرونه دخپل ځای نه خوځولی شوے یا په دے سره زمکه قطع کولے شوے

اَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتٰى ؕ بَلْ لِّلّٰهِ الْاَمْرُ جَمِيْعًا ؕ

یاخبرے کولے شوے | دَدے په وجه | مړوسره | بلکه | خاص الله دپاره | دے اختیار | ټول

یادَدے په ذریعه مړوسره خبرے کیدے شوے (نوبیا هم دے خلقو ایمان نه راوړو) بلکه دَدوی دَایمان

اَفَلَمْ يَايْئَسِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ

آیا نو نه پوهیږی | هغه خلق | چه ایمان ځواړے دے | په دے | که چرے | غوښتلے | الله

اختیار الله سره دے آیا اوس هم مؤمنان په دے پوهه نۀ شول چه که چرے الله غوښتلے

لَهَدَى النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

نوهدایت به ځکړے وے | خلقو | ټولو ته | اوهمیشه به وی | هغه خلق | چه کفر ځکړے دے

نو ټول خلق به ځے (په زوره) په سمه لار روان کړی وے؟ او په کافرانو باندے به د هغوی

تُصِيْبُهُمْ بِمَا صَنَعُوْا قَارِعَةٌ اَوْ تَحُلُّ قَرِيْبًا

چه رسیږی به دوی ته | په وجه د هغے عملونو | چه کړی دی دوی | سخت عذاب | اویا به نازلیږی | نزدے

دعملونو په وجه همیشه څه ناڅه آفت ضرور راځی یا به دوی د عبرت اخستلو دپاره دَدوی د کورونو خواوشا باندے راځی

مِّنْ دَارِهِمْ حَتّٰى يَاْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ

کورونو ددوی ته | تردے | چه راشی | وعده | د الله | بے شکه | الله | خلاف نه کوی
تردے چه د الله تعالی دوعدے (دقیامت د) پوره کیدو وخت راشی یقیناً الله تعالی دخپلے وعدے نه خلاف نه کوی

الْمِيْعَادَ ۝ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَمْلَيْتُ

دوعدے نه | او یقیناً | ټوقے شوی دی | په پیرو پیغمبرانو پورے | مخکے ستا نه | نوما مهلت ورکړو
او اے پیغمبره! حقیقت دادے چه ستا نه مخکے هم پیرو پیغمبرانو پورے ټوقے (خندا کانے) شوی دی

لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝

هغه خلقو ته | چه کفر ئے کړے وو | بیا | مے راونیول هغوی | نو څنګه | وو | عذاب زما
خو اول ما هغه کافرانو ته مهلت ورکړو او بیا مے راونیول نو لږ او کوره چه زما عذاب څنګه وو؟ پس آیا کوم الله چه

اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ؕ

آیا نو هغه څوک | چه هغه | ساتونکے دے | د هر یو نفس | سره د هغه عملونو | چه هغه کړی دی
آیا هغه ذات چه د هر کس او د هغه د عملونو نه خبر دے (هغه د هغه معبودانو په شان کیدے شی چه د هیڅ نه خبر نه دی) حالانکه دوی

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ ؕ قُلْ سَمُّوْهُمْ ؕ اَمْ تُنَبِّئُوْنَهٗ بِمَا

او دوی جوړ کړی دی | د الله د پاره | شریکان | اووایه | واخلئ نومونه ددوی | یا تاسو خبروئ کوئ هغه ته | د هغه څیز
د (دا سے خبر دار) الله سره شریکان جوړ کړی دی، ته ورته اووایه چه لږ د سے (خپلو معبودانو) نومونه او صفتونه خو لږ راته بیان کړئ آیا تاسو

لَا يَعْلَمُ فِي الْاَرْضِ اَمْ بِظَاهِرٍ مِّنَ الْقَوْلِ ؕ بَلْ

چه معلوم نه دے هغه ته | په زمکه کښ | یا کوئ تاسو سرسری | خبره | بلکه
الله تعالی د دا سے څیز نه خبروئ چه په د ے زمکه کښ ئے الله ته هم پته نشته؟ یا هسے سرسری خبره کوئ چه هیڅ حقیقت ئے نشته؟

زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مَكْرُهُمْ وَصُدُّوْا عَنِ السَّبِيْلِ ؕ

ښائسته کړے شوے دی | هغه خلقو ته | چه کفر ئے کړے دے | مکرونه خپل | اوبند کړے شوی دی | د سے لارے نه
حقیقت دادے چه کافرانو ته خپل د مکر خبرے ښائسته معلوم پیږی او (د هغه شان) دوی د سے لارے نه منع کړی شوی دی

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝ لَهُمْ عَذَابٌ

او هغه څوک | چه بے لارے ئے کړی | الله | نو نشته | د هغه د پاره | څوک لارښود ونکے | د دوی د پاره | عذاب دے
او چا لره چه الله تعالی بے لارے (گمراه) کړی هغه له بل هیڅوک په لاره کولے نشی دا سے خلقو د پاره

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَقُّ ۚ وَمَا لَهُمْ

په ژوند | دنیوی کښ | او خامخا عذاب | د آخرت (خو) | ډیر سخت دے | اونه به وی | د دوی د پاره
د دنیا په ژوند کښ هم عذاب (مقرر) دے او د آخرت عذاب خو ډیر زیات سخت دے او دوی لره د الله تعالی د عذاب نه

مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ۝ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ

د الله نه | هیڅوک بچ کونکے | مثال | د جنت | هغے | چه وعده ئے شوے ده | متقیانو سره
هیڅ څوک بچ کونکے نشته (بل طرف ته) د متقیانو خلقو سره چه د کوم جنت وعده شوے ده د هغے حال

تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اُكُلُهَا دَآىِٕمٌ وَّظِلُّهَا ؕ تِلْكَ

بهیږی به | لاندے دهغے نه | نهرونه | میوے دهغے به | همیشه وی | اوسوری دهغے هم | دا

(مثال) دا دے چه لاندے به ترے نهرونه بهیږی چه دهغے میوے به هم همیشه وی او سوری هم دا خو

عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا ۖ وَّعُقْبَى الْكٰفِرِيْنَ النَّارُ ۝ وَالَّذِيْنَ

انجام | دهغه چا دے | چه ویریدلی وو (دالله نه) | او انجام | د کافرانو | اوردے | او هغه خلق

د متقیانو انجام دے او د کافرانو انجام به دوزخ وی، او (اے پیغمبره!) کومو خلقو ته چه مونږ کتاب ورکړے دے

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَفْرَحُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

چه مونږ ورکړیدے هغوی ته | کتاب | هغوی خوشحالیږی | په هغه څه | چه نازل کړی شویدی | تاته

هغوی په هغه کتاب خوشحالیږی کوم چه تاته نازل شوے دے او هم په دے ډلو کښ بعضے دا سے خلق هم شته

وَمِنَ الْاَحْزَابِ مَنْ يُّنْكِرُ بَعْضَهٗ ؕ قُلْ اِنَّمَآ

او بعضے د ډلو نه | هغه څوک دی | چه انکار کوی | د بعضو خبرو دے (قرآن) نه | اووایه | بیشکه

چه هغوی د دے د بعضو خبرونه انکار کوی، ته ورته اووایه چه ماته خو دا حکم شوے دے چه زهٔ صرف دالله تعالی عبادت

اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَآ اُشْرِكَ بِهٖ ؕ اِلَيْهِ اَدْعُوْا

ماته حکم شویدے | چه زهٔ عبادت اوکړم | د الله | اوشریک دے نه کړم | دهغهٔ سره (هیڅوک) | خاص هغه ته | را بلم زه

اوکړم اوهیڅوک ورسره شریک نه کړم، هم د دے خبرے زه دعوت ورکوم او هم د هغه (الله) طرف ته زه بلنه کوم

وَاِلَيْهِ مَاٰبِ ۝ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ؕ وَلَىِٕنِ

او خاص هغه ته | ورتلل دی زما | او دغه شان | مونږ نازل کړیدے دا (قرآن) | فیصله | په عربی کښ | او که چرے

او هم هغه ته به واپس کیږم او هم دغه شان مونږ دا قرآن په عربی ژبه کښ دیو حکم (فیصلے) په طور نازل کړو

اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ

ته روان شوے | په خواهشاتو دَدوی پسے | پس | دَدے نه | چه راغے تاته | علم | (نو) نه به وی ستا دپاره

او (اے پیغمبره!) تاته چه کوم علم (قرآن) راغلے دے که دهغے نه پس هم ته د دے خلقو په خواهشاتو پسے روان شوے

ع ۳

مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا وَاقٍ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا

دالله په مقابله کښ | څوک مدد کار | اونه څوک بچ کوونکے | اویقیناً | لیږلی وو مونږ | دیر پیغمبران

نو دالله تعالی په مقابله کښ به دے نه څوک مدد کار وی او نه څوک بچ کوونکے، حقیقت دا دے چه ستانه مخکے هم

مِّنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ اَزْوَاجًا وَّذُرِّيَّةً ؕ وَمَا كَانَ

مخکے ستا نه | اوورکړے وے مونږ | هغوی ته | بیبیانے (ښځے) | او بچی (اولاد) | او نه وو اختیار

مونږ دیر پیغمبران لیږلی دی او هغوی له مو ښځے او بچی (اولاد) هم ورکړی وو او دهیڅ یو پیغمبر په اختیار کښ

لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ لِكُلِّ اَجَلٍ

دیو پیغمبر | چه راوړے ځے | یوه نخښه | بغیر | د اجازت | د الله نه | د هر یو | وخت (حکم دے)

دا خبره نه وه چه دالله تعالی د حکم نه بغیر دے څه نخښه (معجزه) راوړی د هر یے نیټے دپاره لیکل شته

كِتٰبٌ ۝ يَمْحُوا اللّٰهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۚ وَعِنْدَهٗٓ

لیکلی شوے | روانوی | الله | څه | چه اوغواړی | اوباقی ساتی (څه چه اوغواړی) | او دهغهٔ سره

الله تعالی چه کوم حکم دا حکم منزّلونه اوغواړی هغے لره (منسوخ) کوی او چه کوم اوغواړی هغه باقی پریږدی او دتولو کتابونو اصل

اُمُّ الْكِتٰبِ ۝ وَاِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ

اصل کتاب دے | او که چرے | اوښایُو مونږ تا ته | بعضے | هغه (عذاب) | چه مونږ ئے وعده کوو دوی سره

(لوح محفوظ) صرف دهغه سره دے اود کوم عذاب دهغوی (یره) چه مونږ دوی ته ور کوو که هغے څه حصه مونږ تا ته (ستاپه ژوند کښی) اوښایو

اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ۝

یا مونږ وفات کړو تا | نو بیشکه | په تا باندے (لازم) دی | رسول | اوپه مونږ باندے دی | حساب (اخستل)

یا (دهغے نه مخکښی) تا وفات کړو (نو ته دَدوی دَعذاب پرواه مهٔ کوه) څکه ستاپه ذمه خو صرف پیغام رسول دی او حساب

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ

آیا دوی فکر نه کوی | چه بیشکه | مونږ راځو | زمکے ته | چه کمووو دا | د دے د غاړو نه

اخستل زمونږ په ذمه دی آیا دے خلقو ته دا حقیقت په نظر نه راځی چه مونږ زمکه دهرے غاړے نه (په دوی باندے) را کموو

وَاللّٰهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهٖ ؕ وَهُوَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝

او الله | فیصله کوی | نشته هیڅوک روستو کونکے | فیصلے دهغهٔ لره | او هغه | ډیر زر | حساب اخستونکے دے

اوهر حکم (فیصله) الله تعالی کوی هیڅ څوک دهغه حکم (فیصله) واپس کولے نشی او هغه ډیر زر حساب اخستونکے دے

وَقَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلِلّٰهِ الْمَكْرُ جَمِيْعًا ؕ

اویقیناً | مکرونه کړی وو | هغه خلقو | چه مخکے ددوی نه وو | نوخاص (هم) الله لره دی | تدبیرونه | ټول

کوم خلق چه ددوی نه مخکے تیر شوی دی یقیناً هغوی هم چالونه (فریبونه) جوړ کړی وو خو تاثیر دَمکرونو

يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ؕ وَسَيَعْلَمُ الْكُفّٰرُ لِمَنْ

هغه پوهیږی | په هغه څه | چه کوی ئے | هر یَو | کس | اوډیر زر به پته اولگی | کافرانو ته | چه دچا دپاره دی

دَالله تعالی په اختیار کښی دے هر یو کس چه څه هم کوی هغه ټول الله ته معلوم دی او کافرانو ته به ډیر زر پته اولگی

عُقْبَى الدَّارِ ۝ وَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَسْتَ مُرْسَلًا ؕ

شپه انجام | (دآخرت) دکور دے | او وائی | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه ته نه ئے | رسول

چه د آخرت (د کور) شپه انجام د چا دے. او کافران وائی چه ته د الله رسول نه ئے ته ورته اووایه

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۙ وَمَنْ

اووایه | کافی دے | الله | گواه | زما په مینځ | اوستاسو په مینځ کښی | اوهغه څوک (هم)

چه زما او ستاسو په مینځ کښی د گواهۍ دپاره الله تعالی کافی دے او شهادت دهغه چا هم

ع ۲ عِنْدَهٗ عِلْمُ الْكِتٰبِ ۝

چه دهغه سره | علم | د کتاب دے |

چه د آسمانی کتاب علم ورسره دے.

آیاتها [۵۲]	سورة ابراهیم مکّیّة	رکوعاتها [۷]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ

الٓرٰ | دا یو کتاب دے | چه مونږ نازل کړے دے دے لره | تاته | چه ته راوباسے | خلق

الف لام را، دا یو عظیم الشان کتاب دے چه مونږ تاته دے دپاره نازل کړے دے چه ته خلقو لره

مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ

د تیارو نه | رنړا ته | په حکم | د رب د دوی | لارے دهغه ذات ته | چه زور اور

دخپل رب په حکم سره د تیارو د کفر او شرک نه رنړا د توحید او سنت ته راولے یعنی د هغه ذات لارے طرف ته

الْحَمِيْدِ ۙ① اللّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

ستایلے شوے دے | هغه الله ته | چه دهغه په اختیار کښ دی | هغه څه | چه په آسمانونو کښ دی | اوهغه څه

چه هغه غالب او د هر تعریف لائق دے هغه الله چه د آسمانونو او د زمکے هر څیز دهغهٔ (په اختیار کښ) دی

فِي الْاَرْضِ ؕ وَوَيْلٌ لِّلْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيْدِ ۙ② الَّذِيْنَ

چه په زمکه کښ دی | او تباهی ده | د کافرانو دپاره | د عذاب | سخت نه | داهغه خلق دی

او افسوس دے په هغه کافرانو باندے چه د هغوی دپاره ډیر سخت عذاب مقرر دے۔ داهغه خلق دی چه

يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ وَيَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ

چه خوښوی | ژوند | دنیوی | په آخرت باندے | او منع کوی خلق | د لارے

د آخرت په مقابله کښ د دنیا ژوند خوښوی او د الله د لارے نه خلق منع کوی

اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ③

د الله نه | او لټوی په هغے کښ | کوږوالے (عیبونه) | داخلق دی | په گمراهۍ | لرے کښ

او په هغے کښ عیبونه لټوی هم دغه خلق په گمراهۍ کښ ډیر لرے پریوتی دی

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِيُبَيِّنَ

اومونږ نه دے لیږلے | هیڅ یو پیغمبر | مګر | په ژبه | د قوم خپل | دے دپاره چه ښه وضاحت وکړی

او مونږ چه کله هم یو پیغمبر لیږلے دے نو د خپل قوم په ژبه مو لیږلے دے چه هغوی ته حق

لَهُمْ ؕ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

دوی ته | نوے لارے کوی | الله تعالی | چاته | چه وغواړی | اوهدایت ورکوی | چاته | چه اوغواړی

ښه واضح کړی بیا الله چه چاته اوغواړی نو گمراه ئے کړی اوچاته چه اوغواړی نو هدایت ورته وکړی

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ④ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَآ

اوهغه دے | زور ور (غالب) | حکمت والا | او یقیناً | مونږ لیږلے وو | موسیٰ | په خپلو نښو سره

اوهغه ډیر زور آور او حکمت والا ذات دے۔ او یقیناً مونږ موسیٰ په خپلو نښو سره لیږلے وو

اَنْ اَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۙ وَذَكِّرْهُمْ

چه راوباسه | خپل قوم | د تیارو نه | رڼرا ته | او وریاد کړه دوی ته

چه خپل قوم (د جهالت) د تیارو نه رڼرا ته راوله او د الله تعالی صبر تنا کے تاریخی ورځے

بِاَيّٰىمِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

ورځے (واقعات) | د الله | بیشکه | په دے کښ | خامخا ډیر ے نخښے دی | د پاره د هر یو | صبر کوونکی

ورته یاد ے کړه یقیناً په دے واقعاتو کښ د هر صبر کوونکی او شکر ویستونکی د پاره ډیر ے نخښے پرتے دی

شَكُوْرٍ ۝ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

شکر گزار | او کله چه | اووئیل | موسیٰ | قوم خپل ته | (چه) یاد کړئ | نعمت | د الله

او کله چه موسیٰ خپل قوم ته اووئیل چه الله تعالی چه په تاسو باندے کوم نعمتونه کړی دی هغه رایاد کړئ

عَلَيْكُمْ اِذْ اَنْجٰىكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ

په تاسو | کله چه | هغه بچ کړئ تاسو | د فرعونیانو نه | چه رسول به ئے تاسو ته | سخت

کله چه ئے تاسو د فرعونیانو نه خلاص کړئ چه تاسو له به ئے سخت تکلیفونه درکول

الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ

عذاب | او حلالول به ئے | خامن ستاسو | اوڑوندئ به ئے پریخودلے | زنانه (لونړه) ستاسو

خامن به ئے درله ذبح کول او لونړه (زنانه) به ئے درله ژوندئ پریخودلے

وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ۝ وَاِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ

او په دے کښ | از میښت وو | ستاسو درب د طرف نه | ډیر لوے | او کله چه | اعلان او کړو | رب ستاسو

په دے ټولو واقعاتو کښ په تاسو باندے ستاسو درب د طرف نه یو لوئے امتحان وو او کله چه ستاسو رب اعلان او کړو

لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِيْ

(چه) که چرے | شکر و کړو تاسو | نو خامخا زیات به درکړم تاسو ته | او که چرے | ناشکری و کړه تاسو | نو بیشکه | زما عذاب

چه که تاسو زما شکر و باسئ نو زه به تاسو له ضرور نور نعمتونه درکړم او که چرے تاسو زما ناشکری کوئ نو (بیا)

لَشَدِيْدٌ ۝ وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنْ تَكْفُرُوْٓا اَنْتُمْ وَمَنْ

خامخا ډیر سخت دے | او اووئیل | موسیٰ | که چرے | ناشکری او کړه | تاسو | او هغه چا

زما عذاب ډیر سخت دے او موسیٰ خپل قوم ته صفا وئیل وو چه که چرے تاسو او د ټولے مخلوق په مخ اوسیدونکی ټول

فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۝ اَلَمْ يَاْتِكُمْ

چه په زمکه کښ دی | ټولو | نو بیشکه | الله | خامخا بے پروا | ستایلے شوے دے | آیا نه دے راغلے تاسو ته

خلق ناشکری او کړی (نو د الله هیڅ نقصان نشته) خکه چه الله جے پروا او د هر تعریف لائق دے (اے مکے والو)

نَبَؤُا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۛؕ

خبر | د هغه خلقو | چه مخکے ستاسو نه وو | قوم | د نوح | او عادیان | او ثمودیان

آیا تاسو ته د هغه خلقو خبر نه دے رارسیدلے کوم چه تاسو له مخکے تیر شوی دی یعنی د نوح، د عاد، د ثمود قوم

وَالَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ لَا يَعْلَمُهُمْ اِلَّا اللّٰهُ ؕ جَآءَتْهُمْ

او هغه خلق | چه دَدوی نه وروستوو | (چه) نه دی خبر په هغوی باندے هیڅوک | سوا | دالله نه | راغلے وو هغوی ته

او د هغوی نه وروستو را تلونکی قومونو چه د الله تعالی نه سوائے بل څوک نه پیژنی دے تولو ته

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرَدُّوْٓا اَيْدِيَهُمْ فِيْٓ اَفْوَاهِهِمْ وَقَالُوْٓا

پیغمبران خپل | په ښکاره دلیلونو سره | پس هغوی ورکړل | لاسونه خپل | دخوی (پیغمبرانو په خولو کښې | او (ورته ئے) وویل

خپلو پیغمبرانو ښکاره دلیلونه راوړی وو نو دوی د هغوی په خولو خپل لاسونه کیخودل او ورته ئے اووئیل

اِنَّا كَفَرْنَا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ وَاِنَّا لَفِيْ شَكٍّ مِّمَّا

بیشکه | کفر کوو مونږ | په هغه څه | چه راليږلی شوی یئ تاسو | په هغے سره | او بیشکه مونږ | خامخا په شک کښې یُو | د هغه څه نه

چه مونږ خو ستاسو رسالت نه منو او تاسو چه مونږ ته د کومے خبرے دعوت را کوئ په هغے کښې

تَدْعُوْنَنَآ اِلَيْهِ مُرِيْبٍ ۝ قَالَتْ رُسُلُهُمْ اَفِي اللّٰهِ شَكٌّ

چه تاسو را ولئ مونږ | هغے ته | په کلک شک کښې | اووئیل | پیغمبرانو دَدوی | آیا په الله کښې | (ستاسو) شک دے

زمونږ د پیر پوخ شک دے نو خپلو پیغمبرانو ورته اووئیل چه آیا تاسو د هغه الله په توحید کښې شک کوئ

فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يَدْعُوْكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُمْ

چه پیدا کوونکے | د آسمانونو | او زمکے دے | هغه را بلی تاسو | چه اوبخښی | تاسو ته

چه هغه د آسمانونو او د زمکے خالق دے هغه تاسو (توحید ته) دے دپاره را بلی چه ستاسو ګناهونه معاف کړی

مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ قَالُوْٓا اِنْ اَنْتُمْ

ګناهونه ستاسو | او وروستو کړی تاسو | تر نیټے | مقرر ے پورے | دوی اووئیل | نه یئ تاسو

او یو مقرر وخت پورے درله مهلت درکړی نو قوم ورته اووئیل چه تاسو خو (هم)

اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ؕ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَصُدُّوْنَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ

مګر | انسانان | زمونږ پشان | تاسو غواړئ | دا چه واړوئ مونږه | د هغه څه نه | چه عبادت به ئے کولو

زمونږ پشان انسانان (بشر) یئ. تاسو دا غواړئ چه زمونږ پلار نیکه چه د چا عبادت کولو د هغے نه

اٰبَآؤُنَا فَاْتُوْنَا بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ

پلار نیکه زمونږ | پس راوړئ مونږ ته | څه دلیل | ښکاره | اووئیل | دوی ته | پیغمبرانو خپلو

مونږ واړوئ (منع کړئ) نو ځئ په دے څه ښکاره دلیل (معجزه) خو مونږ ته پیش کړئ نو پیغمبرانو ورته اووئیل

اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى مَنْ

نه یُو مونږ | مګر | انسانان | ستاسو په شان | لیکن | الله | احسان کوی | په چا

چه مونږ هم ستاسو په شان انسانان یُو لیکن الله تعالی په خپلو بندګانو کښې په چا او غواړی نو خصوصی احسان

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَمَا كَانَ لَنَآ اَنْ نَّاْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ

چه او غواړی | د بندګانو خپلو نه | او نشته (اختیار) | زمونږ | چه راوړو تاسو ته | څه دلیل

پرے کوی او زمونږ په اختیار کښې دا خبره نشته چه مونږ تاسو ته د الله د حکم نه بغیر څه معجزه راوړو

اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ وَمَا لَنَآ

مکر | په حکم | د الله سره | او خاص په الله دے | توکل او کړی | مؤمنان | اوځه عذر دے زمونږ

او مؤمنانو له (خو) صرف په الله باندے ځان سپارل پکار دی. او مونږ به په الله باندے توکل ولے نه کوو

اَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنَا سُبُلَنَا ؕ وَلَنَصْبِرَنَّ

چه مونږ به توکل نه کوو | په الله باندے | او حال دا دے چه هغه ښودلی دی مونږ ته | لارے زمونږ | او مونږ به خامخا صبر کوو

حالانکه هغه مونږ ته زمونږ د دین او د دنیا د کامیابۍ لارے ښودلی دی او تاسو چه مونږ ته کوم تکلیف را کوئ

عَلٰى مَآ اٰذَيْتُمُوْنَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ۝ ع

په هغه څه | چه تاسو تکلیف را کوئ مونږ ته | او خاص په الله دے | توکل او کړی | توکل کوونکی

په هغے به مونږ خامخا صبر کوو. او خاص په الله باندے دے توکل کوونکی توکل او کړی

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ اَرْضِنَآ

او وئیل | هغه خلقو | چه کفر ے کړی وو | پیغمبرانو خپلوته | چه مونږ به ضرور تاسو او باسو | د زمکے خپلے نه

او کافرانو خپلو پیغمبرانو ته اووئیل چه یا خو به مونږ تاسو د خپل ملک نه شړو یا به زمونږ

اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ؕ فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ

یا به خامخا تاسو واپس کیږئ | په دین زمونږ کښ | پس وحی او کړه | هغوی ته | رب خپل | (چه) مونږ به خامخا هلاک کړو

په دین کښ داخلیږئ نو (په دغه وخت کښ) پیغمبرانو ته خپل رب وحی او کړه چه یقین او کړئ چه

الظّٰلِمِيْنَ ۝ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ ذٰلِكَ

ظالمان | او مونږ به خامخا آباد کړو تاسو | په زمکه کښ | د دوی نه پس | دا (وعده ده)

مونږ به دا ظالمان خامخا تباه کوو. او د دوی نه پس به په دے زمکه کښ تاسو آباد کړو دا د هغه چا صله

لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ۝ وَاسْتَفْتَحُوْا وَخَابَ

د هغه چا د پاره | چه یریږی | داودریدونه ما ته | او یریږی | د عذاب زما نه | او هغوی فتح او غوښتله | او نامراده شو

(بدله) ده چه زما مخے ته داودریدو نه یریږی او زما د عذاب نه یریږی او پیغمبرانو فتح او مدد طلب کړو

كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ ۝ مِّنْ وَّرَآئِهٖ جَهَنَّمُ وَيُسْقٰى مِنْ مَّآءٍ

هر | سرکش | ضدی | (چه) مخکښ د دۀ نه | دوزخ دے | او څکولے به شی په ده باندے | داوبو نه

نو (نتیجه داشوه چه) هر یو سرکش ضدی نامراده (پاتے) شو او د هغے مخے ته دوزخ دے او (هلته به) په ده باندے

صَدِيْدٍ ۝ يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ

چه وینے زوے دی | چه په ګوټ ګوټ به څکی دے لره | او نزدے به نه وی | چه تیر ے کړی | او راځی به ده ته | مرګ

دوینو زوو (دنوونو) او به څکولی کیږی چه دے به ځنډ پر ځنډ سره موالی دوه جنه په ګوټ ګوټ څکی او په آسانه به ځیر ولے نه شی او

مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهٖ عَذَابٌ

د هر طرف نه | او نه به وی دے | مړ کیدونکے | او مخے ته د دۀ به | عذاب وی

اسباب د مرګ به پرے د هر ے غار ے نه راځی خو مری به نه او مخے ته به ځ بل سخت عذاب وی

غَلِيْظٌ ﴿۱۸﴾ مَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اَعْمَالُهُمْ كَرَمَادِ

دیر سخت | مثال | د هغه خلقو | چه کفر ئے کړے دے | په رب خپل باندے | عملونه دهغوی | په شان دایرے دی

کومو خلقو چه د خپل رب نه انکار کړے دے د هغوی دنیک عملونو مثال په شان د هغے ایرے دے

اِشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ يَوْمٍ عَاصِفٍ ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ

چه سخته اوچلیږی | په هغے باندے | سیلۍ (باد) | په داسے ورځ کښ | چه دتیزے سیلۍ والاوی | وس به ئے نه رسی

چه د سختے سیلۍ په ورځ ئے یو تیز باد والوځی هغوی چه څه کول په هغے کښ به ئے

مِمَّا كَسَبُوْا عَلٰى شَيْءٍ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۹﴾

دهغه (عملونو) نه | چه کړی ئے دی | په هیڅ شیز | دا | ده | گمراهی | ډیره لرے (دحد نه)

په هیڅ (ثواب) لاس بر نشی هم دا ډیره لرے (غټه) گمراهی ده۔

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ

آیا ته نه گورے | چه بیشکه | الله | پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | په حقه

آیا تا دے خبرے ته سوچ نه دے کړے چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه دیو حق مقصد دپاره پیدا کړی دی

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۲۰﴾ وَّمَا ذٰلِكَ

که چرے | اوغواړی هغه | لرے به کړی تاسو | اوراوبه ولی | مخلوق | نوے | او نه دے دا کار

که هغه اوغواړی نو تاسو ټول به فنا (ختم) کړی او (ستاسو په ځائے به) نوے مخلوق پیدا کړی او دا خبره

عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ ﴿۲۰﴾ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ جَمِيْعًا فَقَالَ الضُّعَفٰٓؤُا

په الله باندے | څه گران | اومخامخ په دا که به شی | الله ته | ټول | نو اوبه وائی | کمزوری

الله ته هیڅ گرانه نده۔ او دا ټول خلق به د الله تعالیٰ مخے ته پیش شی نو کمزوری خلق به

لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْٓا اِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ اَنْتُمْ

هغه خلقو ته | چه تکبر ئے کړے وو | (چه) بیشکه | مونږ وو | ستاسو | تابع | نو آیا (اوس) | تاسو

غټانو (متکبرینو) خلقو ته ووائی چه مونږ خو (په دنیا کښی) تاسو پسے روان وو نو آیا تاسو

مُّغْنُوْنَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ قَالُوْا لَوْ

لرے کولے شئ | زمونږ نه | د عذاب | د الله نه | څه شے | دوی به (ورته) ووائی | که چرے

اوس د الله د عذاب نه څهٔ حصه قدرے زمونږ نه لرے کولے شئ؟ هغوی به ورته جواب ورکړی که

هَدٰىنَا اللّٰهُ لَهَدَيْنٰكُمْ ؕ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَجَزِعْنَآ

هدایت کړے وے مونږته | الله | نو مونږ به سمه لاره ښودلے وے تاسو ته | (اوس خو) برابره ده | په مونږ (تولو) باندے | که فریاد کوو مونږ

الله تعالیٰ مونږ ته هدایت (نصیب) کړے وے نو مونږ به تاسو ته سمه لاره ښودلے وے اوس که مونږ چغے وهو

ع ۴ اَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۲۱﴾ وَقَالَ الشَّيْطٰنُ لَمَّا

یا صبر کوو مونږ | (نو) نشته زمونږ دپاره | څه ځائے د تختیدلو | او اوبه وائی | شیطان | هر کله چه

او که صبر کوو دوارہ صورتونه زمونږ په حق کښ برابر دی، زمونږ دپارہ د خلاصی هیڅ لاره نشته او کله چه د تولو خبرو

قُضِيَ الْاَمْرُ اِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُّكُمْ

فیصله اوکړے شی | د کار | (چه) بیشکه | الله | وعده کړے وه تاسو سره | وعده | د رشتیاؤ | اوما (هم) وعده کړے وه تاسو سره

فیصله اوشی نو شیطان (به خپلو تابعدارو ته) اووائی چه حقیقت داد ے چه الله تعالیٰ تاسو سره رشتینے وعده د دین کړے وه

فَاَخْلَفْتُكُمْ ؕ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ اِلَّآ

نو بیا ے خلاف وکړو تاسو سره | او نهٔ وو | زما | په تاسو باندے | څه زور | مکر

او ما د رسره د دروغو وعده کړے وه (نو دهغے خلاف ے او کړو) او زما خو په تاسو باندے د دے خبرے نه سوا څه (هیڅ)

اَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِيْ ۚ فَلَا تَلُوْمُوْنِيْ وَلُوْمُوْٓا

دا چه | ما راوبللئ تاسو | نو تاسو خبره اومنله | زما | پس مهٔ ملامته کوئ ما | او ملامته کړئ

زور نه چلید و چه ما صرف تاسو د الله نافرمانئ ته رابللئ نو تاسو زما خبره (بے دلیله) اومنله نو (لهذا) نن ما مه ملامته کوئ

اَنْفُسَكُمْ ؕ مَآ اَنَا بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ ؕ اِنِّيْ

خانونه خپل | نهٔ یم زهٔ | فریاد رسی کولکے ستاسو | اونهٔ تاسو | فریاد رسی کولے شئ زما | بیشکه زهٔ

بلکه خپل خانونه ملامته کړئ (نن) نه زه ستاسو فریاد اورسیدے شم او نه تاسو زما فریاد اورسیدے شئ (نن) زه

كَفَرْتُ بِمَآ اَشْرَكْتُمُوْنِ مِنْ قَبْلُ ؕ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ

انکار کوم | دهغه څه نه | چه تاسو شریک کړے وم زهٔ | مخکښ د دے نه | بیشکه | ظالمان | د دوی دپاره

پخپله د دے خبرے نه انکار کوم چه تاسو به پخوا زه د الله سره شریک ګڼرلم. یقیناً د ظالمانو دپاره خو

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۲۲﴾ وَاُدْخِلَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

عذاب دے | دردناک | او داخل به کړے شی | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عمله نه ئے کړی دی

دردناک عذاب مقرر دے او چا چه ایمان راوړے دے او نیک عمله نه ئے کړی دی

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

نیک | (داسے) جنتونو ته | چه بهیږی به | دهغے لاندے | نهرونه | (چه) دوی به همیشه وی

هغوی به داسے جنتونو ته داخل کړے شی چه دهغے لاندے به نهرونه بهیږی او دخپل رب په حکم سره به

فِيْهَا بِاِذْنِ رَبِّهِمْ ؕ تَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ﴿۲۳﴾ اَلَمْ تَرَ

په هغے کښ | په حکم | د خپل رب | دعا د ملاقات د دوی به | په هغے کښ | سلام وی | آیا ته نه ګورے

په هغے کښ همیشه اوسیږی. او هلته به د هغوی د ملاقات دُعا سلام وی. آیا تهٔ نهٔ ګورے چه الله تعالیٰ

كَيْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ

چه څنګه | بیان کړیدے | الله | یو مثال | د کلمے | پاکے | په شان د ونے | پاکے (فائدہ مندے)
د کلمے طیبے (د کلمے د توحید) څنګه مثال بیان کړے دے چه هغه کلمه د توحید دیو ے فائدہ مندے اوے (کجورے)

اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَّفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ ۝ تُؤْتِيْٓ اُكُلَهَا

چه جړے دهغے | مضبوطے وی | او څانګے ئے | په آسمان کښ وی | ور کوی | میوے خپلے
په شان ده چه جړے ئے (په زمکه کښ) مضبوطه وی (۱) او څانګے ئے د زمکے نه اوچتے وی (۲) د خپل رب

كُلَّ حِيْنٍ بِاِذْنِ رَبِّهَا ۭ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ

هر وخت | په حکم | د رب خپل سره | او بیانوی | الله | مثالونه | د خلقو د پاره
په حکم هر وخت خپله میوه ور کوی او الله تعالی خلقو ته دا سے مثالونه ځکه بیانوی چه هغوی ترے نه

لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيْثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيْثَةِ

د پاره د دے | چه نصیحت (ترے) واخلی | او مثال | د کلمے | ناپاکے | په شان د اونے | ناپاکے د دے
نصیحت واخلی. او د ناپاکے خبرے (کلمے د شرک) مثال دیو ے ناپاکے اونے (مرغونی) په شان دے

اِجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْاَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ ۝ يُثَبِّتُ

چه سر سری راتو کیدلے وی | په مخ | د زمکے | چه نه وی هغے له | هیڅ مضبوطوالے | کلک ساق
چه د زمکے د پاسه سر سری غوندے راتو کیدلے وی او د پاسه نه راوویستل شی چه هیڅ مضبوطیا ور له نه وی.

اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

الله | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | په خبرے | مضبوطے (پخے) | په ژوند | دنیوی کښ
الله تعالی مؤمنان د دے پاکے خبرے (کلمے) په ذریعه (باندے) د دنیا په ژوند کښ هم مضبوط ساتی

وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَيُضِلُّ اللّٰهُ الظّٰلِمِيْنَ ۙ وَيَفْعَلُ اللّٰهُ مَا

او په آخرت کښ (هم) | او بے لارے کوی | الله | ظالمان | او کوی | الله | څه چه
او په آخرت کښ هم. او الله تعالی ظالمان (بے انصافه) خلق گمراه کوی او الله چه څه او غواړی هغه کوی

يَشَآءُ ۝ ع اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا

غواړی | آیا ته نه گورے | هغه خلقو ته | چه بدل کړے ئے دے | نعمت | د الله | په کفر سره
آیا تا هغه خلق نه دی لیدلی چه د الله تعالی نعمت ئے په کفر (ناشکرئ) سره بدل کړو

وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ ۝ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۭ وَبِئْسَ

اوور کوزے کړو | قوم خپل | کور | د هلاکت ته | یعنی دوزخ ته | چه داخلیږی به هغے ته | او دا ډیر بد ځای
او خپل قوم ئے د تباهئ کور یعنی جهنم ته ور داخل کړو چه ټول به په کښ سوزیږی او هغه ډیر خراب ځای د آرام دے

الْقَرَارُ ۝ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا لِّيُضِلُّوْا عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ قُلْ

داوسیدو دے | اودوی جوړ کړی دی | الله لره | شریکان | دے دپاره چه گمراه کړی (خلق) | دهغه دلارے نه | اووایه

اودے خلقو دالله تعالی سره شریکان جوړ کړی دی چه خلق دالله تعالی دلارے نه گمراه کړی اے پیغمبره دوی ته اووایه

تَمَتَّعُوْا فَاِنَّ مَصِيْرَكُمْ اِلَى النَّارِ ۝ قُلْ لِّعِبَادِيَ الَّذِيْنَ

فائده واخلئ | پس بیشکه | ستاسو ورتلل | اور ته دی | اووایه | زمابندگانو | هغو ته

چه دخپل طاقت مطابق مزے واخلئ خکه چه هسے هم ددوزخ اور ته ستاسو ورتلل دی اے پیغمبره ازما کومو بندگانو

اٰمَنُوْا يُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ

چه ایمان ځړاوړے دے | چه قائموی دے | مونځ | اوخرچ کوی دے | دهغه څخه نه | چه مونږ ورته ورکړی دی

چه ایمان راوړے دے هغوی ته اووایه چه دمونځونو پابندی دِ کوی او مونږ چه ورله کوم رزق ورکړے دے دهغے نه دِ

سِرًّا وَّعَلَانِيَةً مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ

په پته | او په بنکاره | مخکے ددے نه | چه رابه شی | (هغه) ورځ | چه نه به وی اخستل خرڅول

په پته او په بنکاره دهغے ورځے دراتلو نه مخکے مخکے خرچ کوی چه نه به په هغے کښ اخستل خرڅول وی

فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ ۝ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

په هغے کښ | او نه دوستانه | الله | هغه ذات دے | چه پیدا کړی ځُدی | آسمانونه | او زمکه

اونه به پکښ څه دوستی پکار راځی الله تعالی هغه ذات دے چه آسمانونه او زمکه ځُپیدا کړی دی

وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا

اوراوړولی ځُدی | د آسمان نه | اوبه | نوراویستلی ځُدی | په هغے سره | میوے | روزی

اودآسمان نه ځُاوبه (باران) راوړولے دے بیادهغے په ذریعه ستاسو دخوراک (رزق) دپاره ځُمیوے پیدا کړی دی

لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ

ستاسو دپاره | اوتابع کړی ځُدی | ستاسو دپاره | کشتئ | چه روانے وی | په دریاب کښ | په حکم دهغهٔ

او کشتئ ځُے ستاسو تابع کړی دی چه دهغهٔ په حکم سره په دریاب کښ چلیږی

وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ۚ ۝ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

اوتابع کړی ځُدی | ستاسو دپاره | نهرونه | اوتابع کړی ځُدی | ستاسو دپاره | نوَر | او سپوږمئ

اونهرونه ځُهم ستاسو په خدمت (کار) کښ لګولی دی او نوَر او سپوږمئ ځُستاسو دپاره (په داسے طریقه) په کار لګولے دی

دَآئِبَيْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۚ ۝ وَاٰتٰىكُمْ

چه همیشه روان دی | اوتابع کړی ځُدی | ستاسو دپاره | شپه | او ورځ | اودر کړی ځُدی تاسو ته

چه همیشه روان وی (سفر کوی) او شپه او ورځ ځُهم ستاسو په خدمت (کار) کښے لګولی دی او تاسو چه

مِنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

د هر هغه څیز نه | چه تاسو ئے غواړئ | او که چرے | شمار (شروع) کړئ تاسو | نعمتونه | د الله

څه ته محتاج یئ هغه ئے تاسو له درکړے دی او که تاسو د الله تعالیٰ نعمتونه

لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ۝ وَاِذْ قَالَ ع

نو تاسو نه شئ شمارلے هغه | بیشکه | انسان | خامخا ډیر ظالم | ډیر ناشکره دے | او کله چه | اووئیل

شمارل غواړئ نو شمارلی ئے نه شئ حقیقت دادے چه انسان ډیر بے انصافه او ناشکره دے او کله چه

اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ

ابراهیمؑ | اے زما ربه! | جوړ کړه | دا | ښار | څای دامن | اولرے اوساته ما | او زما بچی

ابراهیمؑ دعا اوغوښتله چه اے زما ربه! دا ښار (مکه) د خلقو دپاره دامن څای جوړ کړه او ما او زما بچی (اولاد)

اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَ ۝ رَبِّ اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ كَثِيْرًا

دے نه | چه مونږ بندگی اوکړو | د بتانو | اے ربه زما! | بیشکه دوی | گمراه کړی دی | ډیر

د بتانو (غیر الله) د عبادت نه بچ اوساته. اے زما ربه! یقیناً دوی ډیر خلق گمراه (بے لارے) کړی دی

مِّنَ النَّاسِ ۚ فَمَنْ تَبِعَنِيْ فَاِنَّهٗ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ عَصَانِيْ

خلق | نو چا چه | تابعداری اوکړه زما | پس یقیناً هغه زمانه دے | او چا چه | نافرمانی اوکړه زما

نو څوک چه ما پسے روان شو هغه خو زما (ملګرے) دے او څوک چه زما خبره نه منی

فَاِنَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ رَبَّنَآ اِنِّيْٓ اَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِيْ

نو بیشکه ته | ډیر بخښونکے | ډیر مهربان ئے | اے ربه زمونږ! | بیشکه ما | آباد کړے دے | بعضے اولاد خپل

نو ته ډیر بخښونکے زیات مهربان ئے اے زمونږ ربه! ما خپل اولاد ستاد عزتمند کور په خوا کښ

بِوَادٍ غَيْرِ ذِيْ زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ ۙ رَبَّنَا

په میدان | بے فصله (شاړه) کښ | نزدے | ستاکور | عزتمند سره | اے ربه زمونږ

په یو داسے وادی (میدان) کښ آباد کړل چه هیڅ فصل او زرغونه پکښ نشته اے زمونږ ربه!

لِيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِيْٓ

دے چه پابندی اوکړی دوی | دمانځه | نوته کړه | زړونه | د خلقو | چه مائله شی

(دا خو ما څکه اوکړل چه) دوی د مونځونو پابندی اوکړی نو ته د خلقو زړونه دوی ته مائل کړه

اِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِّنَ الثَّمَرٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُوْنَ ۝ رَبَّنَآ

دوی ته | او رزق ورکړه دوی ته | د میوو نه | چه دوی | شکر اوباسی | اے ربه زمونږ!

او د (مختلفو) میوو نه ورله رزق (روزی) ورکړه چه دوی ستا شکر اداء کړی اے زمونږ ربه!

اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِيْ وَمَا نُعْلِنُ ۭ وَمَا يَخْفٰى

بیشکه | ته پیژنے | هغه څه | چه مونږ ئے پټوو | اوهغه څه | چه مونږ ئے ښکاره کوو | او نه شی پټیدے

مونږ چه څه کار په پټه کوو هغه هم تاته معلوم دے او څه چه په ښکاره کوو هغه هم (تاته معلوم دے)

عَلَى اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاۗءِ ۝ اَلْحَمْدُ

په الله باندے | هیڅ یو څیز | په زمکه کښ | او نه په آسمان کښ | صفتونه دی

او په زمکه او آسمانونو کښ هیڅ یو څیز په الله باندے پټ نۀ دے

لِلّٰهِ الَّذِيْ وَهَبَ لِيْ عَلَى الْكِبَرِ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ ۭ

هغه الله لره | چه راکړی ئے دی | ماته | په بوډاوالی کښ | اسماعیلؑ | او اسحاقؑ

ټول تعریفونه هم دهغه الله دپاره دی چه ماته ئے په بوډاوالی کښ اسماعیلؑ او اسحاقؑ راکړل

اِنَّ رَبِّيْ لَسَمِيْعُ الدُّعَاۗءِ ۝ رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ

بیشکه | رب زما | خامخا اوریدونکے | ددعا دے | اے ربه زما | همیشه اوساته ما | پابندی کوونکے | دمانځه

یقیناً زما رب دعا کا ئے اوری (قبلوی) اے زما ربه ! ما او زما اولاد (هم) همیشه دمانځه پابند اوساته

وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ۣ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاۗءِ ۝ رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ

او زما ذ اولاد نه هم | اے ربه زمونږ ! | او قبول کړه | دعا زما | اے ربه زمونږ ! | بخښنه اوکړه | ماته

اے زمونږ ربه او زما دعا قبوله کړه. اے زمونږ ربه ! په کومه ورځ به چه حساب کتاب کیږی

وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ۝ وَلَا تَحْسَبَنَّ ع

او مور او پلار زما ته | او مؤمنانو ته | په هغه ورځ | چه کیږی به | حساب | او ته گمان مه کوه

په هغه ورځ ماته اوزما مور او پلار ته او ټولو مؤمنانو ته معافی اوکړه اواوس دا ظالمان چه څه کوی

اللّٰهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظّٰلِمُوْنَ ۭ اِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ

په الله | چه بے خبره دے | دهغه څه نه | چه کوی ئے | ظالمان | بیشکه | الله وروستو کوی دوی لره

الله تعالی د هغے نه هیڅ کله غافل مه کنړه (بلکه) الله تعالی خو دوی ته د هغے ورځے پورے

لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيْهِ الْاَبْصَارُ ۝ مُهْطِعِيْنَ مُقْنِعِيْ

هغے ورځ ته | چه تښے کړوے به راوځی | په هغے کښ | ستر گے | چه منډے به وهی | اوچت کړی به ئے وی

مهلت ورکوی چه په هغے کښ د دوی ستر گے غړیدلے پاتے هی (او) سرونه به ئے اوچت نیولی وی

رُءُوْسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ اِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۚ وَاَفْـِٕدَتُهُمْ هَوَاۗءٌ ۝

سرونه خپل | نه به واپس کیږی | دوی ته | ستر گے د دوی | او زړونه د دوی به | خالی وی

(او) منډے به وهی (چه) د دوی نظر ونه به د دوی طرف ته نه واپس کیږی او (دویرے د وجے) زړونه به ئے الوتے وی

وَاَنْذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَاْتِيْهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ

او اویروه | خلق | دهغے ورځے نه | چه رابه هی دوی ته | عذاب | نو وائی به | هغه خلق

او (اے پیغمبره) ته خلق د هغے ورځ نه اویروه چه کله به پرے عذاب راشی نو (هغه وخت به) ظالمان وائی

ظَلَمُوْا رَبَّنَآ اَخِّرْنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ نُّجِبْ

چه ظلم ے کړے دے | اے ربه زمونږ! | وروستو کړه مونږ | نیتے | نزدے ته | (نو) مونږ به اومنو

اے زمونږ ربه! مونږ له څه مودے پورے لږ نور مهلت را کړه چه ستا دَ توحید دعوت اومنو

دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ ۭ اَوَلَمْ تَكُوْنُوْٓا اَقْسَمْتُمْ مِّنْ قَبْلُ

دعوت ستا | او روان به شو | په پیغمبرانو پسے | آیا نه وئ تاسو | چه قسمونه موکړی وو | ددے نه مخکے

او ستا د پیغمبرانو تابعداری اوکړو (نو ورته به اووئیلی هی چه) آیا تاسو پخوا په دے خبره قسمونه نه خوړل

مَا لَكُمْ مِّنْ زَوَالٍ ۙ۴۴ وَّسَكَنْتُمْ فِيْ مَسٰكِنِ الَّذِيْنَ

(چه) نه به وی تاسو له | هیڅ زوال (فنا) | او اوسیدلی وئ تاسو | په کورونو | دهغه خلقو کښ

چه په تاسو باندے به هیڅ کله زوال نه راځی؟ او تاسو دهغه خلقو په آبادو (کورونو) کښ اوسیدلی وئ چا چه

ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ

چه ظلم ے کړے وو | په ځانونو خپلو | او بنکاره شوے وه | تاسو ته | چه څنګه | کار کړے وو مونږ | دهغوی سره

په خپل ځانونو ظلم کړے وو او تاسو ته دا خبره بنه بنکاره (معلومه) شوے وه چه دهغوی سره مونږ څه څه کړی وو

وَضَرَبْنَا لَكُمُ الْاَمْثَالَ ۴۵ وَقَدْ مَكَرُوْا مَكْرَهُمْ ۭ

او بیان کړی وو مونږ | تاسو دپاره | مثالونه | او یقیناً | مکرونه کړی وو دوی | مکرونه (فریبونه) خپل

او ستاسو (دپوهے) دپاره مونږ مثالونه هم بیان کړی وو او یقیناً دوی دپیر لوے لوے تدبیرونه (چالونه) جوړ کړی وو

وَعِنْدَ اللّٰهِ مَكْرُهُمْ وَاِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُوْلَ مِنْهُ

او د الله سره دی | فریبونه دوی | اګر که | وو | تدبیرونه دوی | (داسے) چه اوخوزیږی | دهغے دوے نه

او دَ دوی د ټولو تدبیرونو جواب د الله سره وو اګر که دوی تدبیرونه (چالونه) داسے وو چه غرونه ورته

الْجِبَالُ ۴۶ فَلَا تَحْسَبَنَّ اللّٰهَ مُخْلِفَ وَعْدِهٖ رُسُلَهٗ ۭ

غرونه | پس ته خیال مه کوه | چه الله | مخالفت کونکے دے | د وعدے خپلے | د رسولانو خپلو سره

هم ټینګیدلی نه شو نو هیڅکله دا ګمان (خیال) مه کوه چه الله تعالیٰ د خپلو پیغمبرانو سره کومه وعده کړے ده

اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۴۷ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ

بیشکه | الله | زورور | بدله اخستونکے دے | په هغه ورځ | چه بدله به کړے شی | زمکه

دهغے خلاف به اوکړی یقیناً الله تعالیٰ ډیر زورور (غالب) او بدله اخستونکے ذات دے په هغه ورځ چه دا زمکه به

غَيْرَ الْاَرْضِ وَالسَّمٰوٰتُ وَبَرَزُوْا لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ۝

په یلے زمکے سره | او آسمانونه (هم) | او مخامخ په ډاګه به شی دوی | (هغه) الله ته | چه یو دے | زور ور دے

په یلے زمکے سره بدله شی او آسمانونه (به هم بدل شی) او ټول خلق به دایک یو زور ور (غالب) الله مخے ته پیش شی

وَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ۝ سَرَابِيْلُهُمْ

اوته به وینے | مجرمان | په دغه ورځ | چه تړلی شوی به وی | په زنځیرونو کښ | قمیصونه ددوی به وی

اوپه دغه ورځ به ته اووینے چه مجرمان به په زنځیرونو کښ تړلی شوی وی چه قمیصونه به ئے

مِّنْ قَطِرَانٍ وَّتَغْشٰى وُجُوْهَهُمُ النَّارُ ۝ لِيَجْزِيَ اللّٰهُ

د ګوګړو (رنزړو) نه | او پټوی به | مخونه ددوی | اور | دے دپاره چه بدله ورکړی | الله

د ګوګړو (تارکول) نه جوړ وی او په مخونو باندی به ئے اور راخور شوی وی (دا هر څه به ځکه کیږی چه)

كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝

هر کس ته | دهغه څه | چه کړی ئے دی | بیشکه | الله | ډیر زر | حساب اخستونکے دے

الله تعالی هر یو کس ته د هغه د عمل بدله ورکړی یقیناً الله تعالی ډیر زر حساب اخستونکے دے۔

هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمُوْٓا اَنَّمَا

دا (قرآن) | پیغام دے | خلقو دپاره | او (دے دپاره چه اویروی شی دوی) | په دے سره | او چه پوهه شی دوی | چه بیشکه

دا قرآن خلقو ته د الله یو پیغام در سولو دے (دے دپاره چه) دوی ددے په ذریعه اویروی شی او چه په دے پوهه شی

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّلِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝

هم هغه (الله) | معبود دے | یَو | او چه نصیحت واخلی | صفا عقل والا

چه په حقیقت کښ د عبادت لائق یوا ځے یَو الله دے او چه عقل مند خلق ترینه سبق واخلی۔

آیاتها [۹۹]	سورة الحجر مکّیّة	رکوعاتها [۶]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

الٓرٰ ۣ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَقُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝

الٓرٰ | دا | آیتونه دی | د کتاب | او د قرآن | واضحه

الف لام راء، دا د الله د کتاب او د واضحه قرآن آیتونه دی

رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ۝

ډیر ځله | خوښوی به | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے | چه کاش | دوی وے | مسلمانان

یو وخت به راشی چه کافران به په کثرت سره دا آرزو کوی کاش چه دوی مسلمانان وے

ذَرْهُمْ يَاْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ

پریږده دوی | چه خوراک اوکړی | اوفائده ے (مزے) واخلی | اوغافل کړی دوی لره | امیدونه | پس ډیر زر به

اے پیغمبره! دوی په خپل حال پریږده چه ښه اوخوری اوځکی اوښه مزے (فائده ے) واخلی او ددروغو امیدونه ئے

يَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَآ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَلَهَا كِتٰبٌ

دوی پوهه شی | اونه دے | هلاک کړے مونږ | یو کلے | مګر | دهغے دپاره | لیکلے شوے وخت

په غفلت کښ اوغورزوی ځکه چه ډیر زر به ورته ددے انجام معلوم شی اومونږ چه کوم یو کلے هم تباه کړے دے نو دهغے دپاره

مَّعْلُوْمٌ ۝ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ۝

مقرر وو | نه شی | مخکښ کیدے | هیڅ یو امت | دنیټے خپلے نه | اونه | دوی وروستو کیدے شی

یو مقرر وخت لیکلے شوے (معین) وو هیڅ یو قوم دخپل مقرر وخت نه نه وړاندے تلے شی اونه اوروستو پاتے کیدے شی

وَقَالُوْا يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْ نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ اِنَّكَ لَمَجْنُوْنٌ ۝

او دوی وائی | اے هغه سړیه | چه نازل کړے شوے دے | په هغه باندے | قرآن | بیشکه ته | خامخا لیونے ئے

او داخلق وائی اے هغه سړیه! چه ستا دوینا مطابق په تا باندے دنصیحت کتاب نازل شوے دے ته خو یقینا لیونے ئے

لَوْ مَا تَاْتِيْنَا بِالْمَلٰٓئِكَةِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝

ولے | ته نه راولے مونږ ته | فرشتے | که چرے | ئے ته | د رشتنو نه

که ته واقعی رشتینے ئے نو مونږ ته فرشتے ولے نه راولے؟ (ورته اووایه چه)

مَا نُنَزِّلُ الْمَلٰٓئِكَةَ اِلَّا بِالْحَقِّ وَمَا كَانُوْٓا اِذًا مُّنْظَرِيْنَ ۝

مونږ نه رالیږو | فرشتے | مګر | په حق (عذاب) سره | اونه به وی دوی | په دغه وخت | مهلت ورکړے شوی

مونږ چه فرشتے رالیږو نو په عذاب سره ئے رالیږو او بیا به دوی ته مهلت هم نشی ورکیدے

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ ۝ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

بیشکه | مونږ | نازل کړے دے | (دا) قرآن | اوبیشکه مونږ | ددے | حفاظت کوونکی یو | او یقینا | لیږلی دی مونږ

حقیقت دا دے چه دا قران هم مونږ نازل کړے دے او هم مونږ پخپله ددے حفاظت کوو اے پیغمبره!

مِنْ قَبْلِكَ فِيْ شِيَعِ الْاَوَّلِيْنَ ۝ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ

ستانه مخکښ (پیغمبران) | په ډلو | دورومبنو کښے | اونه به راتلو هغوی ته | هیڅ یو پیغمبر

مونږ ستانه مخکښ هم دورومبنو قومونو مختلفو ډلو ته خپل پیغمبران لیږلی وو نو هغوی ته چه کوم یو پیغمبر هم

اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ كَذٰلِكَ نَسْلُكُهٗ فِيْ قُلُوْبِ

مګر | دوی به وو | چه هغه پورے به ئے ټوکے کولے | دغه شان | مونږ ننبلسودا (استهزاء) | په زړونو

راغلے دے نو ټوکے ئے ورپورے کړی دی دمجرمانو په زړونو کښے مونږ داخبرے (ټوکے) هم دغه شان داخلوو (ورا چوو)

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٣﴾

د مجرمانو کښے | دوی ایمان نه راوړی | په دے باندے | او یقیناً | تیره شوے ده | طریقه | د وړومبنو

نو دوی په دے (قرآن) ایمان نه راوړی او دپخوا نو خلقو نه هم دا سے دستور (دَتکذیب) راغلے دے

وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوْا فِيْهِ

اوکه چرے | پرانیزو مونږ | په دوی باندے | یو دروازه | د آسمان نه | پس شروع شی دوی | چه په هغے کښے

اوکه چرے (بالفرض) مونږ دوی ته داسمان یوه دروازه پرانیزو او دوی په کښے په ننوتو اوچ

يَعْرُجُوْنَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوْٓا اِنَّمَا سُكِّرَتْ اَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ

اوخیژی | نو خامخا دوی به وائی | چه بیشکه | بند کړے شوی دی | نظرونه زمونږ | بلکه | مونږ

بره هم وخیژی نو بیا به هم دا وائی چه زمونږ نظر بندی کړے شوے ده بلکه په مونږ خو

قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا ع

دا سے خلق یو | چه جادو پرے شوے دے | او یقیناً | مونږ جوړ کړی دی | په آسمان کښے | برجونه (غټ ستوری)

جادو شوے دے او مونږ په آسمان کښے ډیر برجونه (غټ غټ ستوری) جوړ کړی دی

وَّزَيَّنّٰهَا لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٦﴾ وَحَفِظْنٰهَا مِنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ رَّجِيْمٍ ﴿١٧﴾

او ښائسته کړے دے مونږ دا | د کتونکو دپاره | او مونږ بچ ساتلے دے دا | د هر | شیطان | رټلے شوی نه

او دَکتونکو دپاره موښائسته کړے دے او دهر رټلے شوی شیطان نه مو محفوظ ساتلے دے

اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَالْاَرْضَ

مګر | هغه شیطان | چه غوږ سارنه اوکړی | نو ورپسے شی | یوه شغله | ښکاره (روښانه) | او | زمکه

البته هغه شیطان چه په پټه دځه داوریدو کوشش اوکړی نو یوه پرقیدونکے شغله ورپسے شی

مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا

غوړولے ده مونږ | او اچولی دی مونږ | په دے کښے | مضبوط غرونه | او راتوکولی دی مونږ | په دے کښے

او زمکه مونږ غوړولے ده او غرونه موپکښے اچولی دی او هر قسم څیزونه موپکښے په اندازے سره

مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُوْنٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ

د هر یو | څیز نه | په اندازه | اوپیدا کړی دی مونږ | تاسو دپاره | په دے کښے | اسباب دژوند

(په مناسب وزن سره) راتوکولی دی اوپه هغے کښے موتاسو له هم دژوند اسباب پیدا کړی دی

وَمَنْ لَّسْتُمْ لَهٗ بِرٰزِقِيْنَ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا عِنْدَنَا

اوهغه څوک هم | چه نه یئ تاسو | هغے لره | رزق ورکونکی | اونشته دے | هیڅ یو څیز | مګر | مونږ سره دی

او هغه مخلوقات هم چه تاسو ورله رزق نه ورکوئ او مونږ سره د هر یو څیز

خَزَآئِنُهٗ ۫ وَمَا نُنَزِّلُهٗٓ اِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿٢١﴾ وَاَرْسَلْنَا الرِّيٰحَ

خزانے دهغے | اونه راليږو مونږ هغه | مګر | په یو اندازه | مقرر سره | اولیږلی دی مونږ | هوا ګانے

خزانے موجود دی او مونږ هغه په یَو مناسب مقدار سره نازلوؤ او هغه هوا ګانے

لَوَاقِحَ فَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَسْقَيْنٰكُمُوْهُ ۚ وَمَآ اَنْتُمْ

پورته کونکے دَوریځو | پس رااوورووموږ | د آسمان نه | اوبه | پس څکوومونږ په تاسو باندے هغه | او نه یئ تاسو

چه داوبو نه ډکوریځولره پورته کوی هم مونږ رالیږو بیاموږ داسمان دطرفنه اوبه راوروو اوبیاموږ هغه په تاسو باندے څکوو

لَهٗ بِخٰزِنِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿۲۳﴾

هغے لره | جمع کوونکی | اوبیشکه | مونږ | ژوندوی کوو | اومرګ راولو | اومونږ | وارثان یو (مالکان یو)

اوتاسو پخپله دغه اوبه جمع (ذخیره) کولے نه شئ اویقیناً هم مونږ ژوندوی کوو اوهم مونږ مرګ راولو اوهم مونږ دتولو وارثان (مالکان) یو.

وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنْكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَاْخِرِيْنَ ﴿۲۴﴾

او یقیناً | پیژنو مونږ | مخکښ خلق | ستاسونه | او یقیناً | پیژنو مونږ | وروستنی خلق

اوپه تاسو کښے چه کوم خلق مخکښ تیرشوی دی هغه هم مونږ پیژنو اوکوم چه وروستو راتلونکی دی هغه هم مونږ ته معلوم دی

وَاِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ ۭ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵﴾ ع

اوبیشکه | ستا رب | هم هغه به | راجمع کوی دوی لره | بیشکه هغه | حکمت والا | پوهه ذات دے

اویقین اوساته اچه ستارب به (دقیامت په ورځ) داتول راجمع کوی یقیناً دهغه حکمت هم لوئ دے اوعلم ئے هم لوئ دے.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ مَّسْنُوْنٍ ﴿۲۶﴾

اویقیناً | پیدا کړے دے مونږ | انسان | د کړنګیدونکے | د تورے خټے | زړے شوے نه

او یقیناً مونږ انسان د کړنګیدونکے تورے خمیره شوے زړے خټے نه پیدا کړے دے

وَالْجَآنَّ خَلَقْنٰهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَّارِ السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ وَاِذْ قَالَ

او پیرے | پیدا کړے دے مونږ | مخکښ نه | د اُور | کرم بادوالا نه | اوکله چه | اووئیل

اودپیریانو پلار مودآدم نه مخکښ ددے اورنه پیدا کړے ووچه دکرم بادوالاؤ. اوکله چه ستارب فرشتوته اووئیل

رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَاٍ

ستارب | فرشتوته | (چه) بیشکه زه | پیدا کونکے یم | انسان لره | د کړنګیدونکے | د تورے خټے

(چه) زهٔ د کړنګیدونکے تورے څخا شوے خټے نه یو انسان پیدا کوم

مَّسْنُوْنٍ ﴿۲۸﴾ فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ

زړے شوے نه | نو هرکله | چه برابر کړم زه هغه | اوپوکړم (واچوم) | په هغهٔ کښے | دروح څخه نه

نو چه کله ئے زه برابر (پوره) جوړ کړم او د څخه طرف نه پکښے روح واچوم

فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿۲۹﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿۳۰﴾

نوپریوزئ تاسو | هغه ته | سجده کوونکی | پس سجده اوکړه | فرشتو | ټولو | په یوځائے (په جمع)

نو تاسو ټول هغهٔ ته په سجده د سلام اودا کرام اوکړئ بس (نو) ټولو فرشتو ورته په یوځائے سجده اوکړه۔

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ اَبٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ مَعَ السّٰجِدِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ

سوا | د ابلیس نه | انکار ئے وکړو | چه څه دے | د سجده کوونکو سره | اووئیل (الله)

سوا د ابلیس نه چه هغه په سجده کونکو کښ د شاملیدو نه انکار اوکړو الله ورته اووئیل!

يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ۝٣٢ قَالَ

اے ابلیس! | څه عذر وو ستا | چه ته نه شوے | د سجدې کونکو سره | هغه اووئیل

اے ابلیس! دا په تا څه وشول چه ته په سجده کونکو کښے شامل نه شوے؟ هغه ورته اووئیل!

لَمۡ أَكُن لِّأَسۡجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقۡتَهُۥ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ

نه یم زه | چه سجده وکړم | یوداسے انسان ته | چه تا پیدا کړے دے هغه | د کړنګیدونکے | د تورے خټے

زه (دومره پرې یوتے خو) نه یم چه یوداسے انسان ته د سجده او کړم چه تا د کړنګیدونکے تورے څخا شوے

مَّسۡنُونٖ ۝٣٣ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ۝٣٤ وَإِنَّ

زړے شوے نه | اووئیل (الله) | پس اووځه ته | دد ے (خائے) نه | بیشکه ته | رټلے شوے ئے | او بیشکه

خټے نه پیدا کړے دے الله ورته اووئیل خه! نو د دے خائے نه اوځه یقیناً ته رټلے شوے ئے او د قیامت

عَلَيۡكَ ٱللَّعۡنَةَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٣٥ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ

په تا باندے | لعنت دے | تر ورځے | د جزاء پورے | هغه اووئیل | اے زما ربه! | پس مهلت را کړه ماته

دور ځے پورے به په تا باندے لعنت وریږی هغه اووئیل اے ربه! (خه دې) ماته د هغے ور ځے پورے مهلت را کړه

إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ۝٣٦ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ۝٣٧

تر هغه ورځے پورے | چه مړی به یکښے پورته کولے شی | اووئیل (الله) | پس بیشکه ته ئے | د مهلت ورکړے شوو نه

چه خلق به د مړ ک نه پس دوباره (بیا) ژوندی کیږی الله ورته وفرمائیل چه څه تا ته مهلت در کړے شو

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ۝٣٨ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي

تر ورځ | د وخت | مقرر (معلوم) پورے | هغه اووئیل | اے زما ربه! | په دے وجه | چه تا زه بے لارے کړم

(خو) تر هغے ورځے پورے چه د هغے وخت (ماته) معلوم دے شیطان اووئیل اے ربه! په دے وجه چه تا زه گمراه کړم

لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ۝٣٩

نو خامخا به زه بنائسته کوم | دوی ته (گناه) | په زمکه کښے | او خامخا به زه گمراه کوم دوی | ټول

نو (زه قسم خورم چه) زه به هم په دنیا کښے خلقو ته گناهونه بنائسته بنکاره کوم او دوی ټول به (خامخا) بے لارے کوم

إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ۝٤٠ قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ

سوا | د بندګانو ستا نه | د دوی نه | هغه چه بچ ساتلے شوی دی | اووئیل الله | دا | لار ده | زما طرف ته

سوا ستا د هغه بندګانو نه چه تا د ځان د پاره مخلص کړی دی الله ورته اوفرمائیل

مُسۡتَقِيمٌ ۝٤١ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ

لیغه | بیشکه | خاص بندګان زما | نشته | ستا | په هغوی باندے | څه وس (غلبه)

چه ماته د رارسیدو هم دا لیغه لاره ده یقین اوساته چه زما په مخلص بندګانو ستا هیڅ زور (وس) نه چلیږی

إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ۝٤٢ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ

سوا | د هغه چا نه | چه تا سره روان شو | د سرکشو (گمراهانو) نه | او بیشکه | دوزخ | خامخا ځائے د موعدې دے

سوا د هغه گمراهانو خلقو نه چه ستا تابعداری کوی او یقیناً دوزخ د دا سے ټولو خلقو مقرر ځائے دے

اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۳﴾ لَهَا سَبْعَةُ اَبْوَابٍ ؕ لِكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ

د ټولو | دهغے | اووه | دروازے دی | د هرے | دروازے دپاره | د دوی نه | یوه برخه ده

چه د هغے اووه دروازے دی او دَ هرے دروازے دپاره د دے دوزخیانو نه یوه یوه ډله

مَّقْسُوْمٌ ﴿۴۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۴۵﴾ ؕ اُدْخُلُوْهَا

جدا مقرر شوے | بیشکه | متقیان به | په جنتونو | اوچینو کښے وی | داخل شئ تاسو دے ته

مقرر شوے ده (بل طرف ته) متقیان به په باغونو او چینو کښے وی (ورته به اووئیلے شی چه) په دے کښے

بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ

په سلامتئ سره | په امن سره | اومونږبه اوباسو | هغه | چه وی ددوی په سینو کښے | څه کینه (خفګان)

په سلامتئ اوپه امن سره داخل شئ او ددوی په سینو کښے چه څه خفګان (کینه) وی هغه به ترے اوباسو

اِخْوَانًا عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿۴۷﴾ لَا يَمَسُّهُمْ فِيْهَا نَصَبٌ

ورنړه ورونړه به وی | (ناست به وی په تختونو باندے | یو بل ته مخامخ | نه به رسی دوی ته | په هغے کښے | څه ستړیوالے (تکلیف)

لکه دورونړو په شان به یو بل ته مخامخ په اوچتو تختونو ناست وی هلته به نه دوی ستړے کیږی

وَّمَا هُمْ مِّنْهَا بِمُخْرَجِيْنَ ﴿۴۸﴾ نَبِّئْ عِبَادِيْٓ اَنِّيْٓ اَنَا الْغَفُوْرُ

او نه به دوی | د هغے نه | ویستلے شی | خبر کړه | بندګان زما | چه بیشکه هم زه | ډیر بخښونکے

اونه به ترے بهر ویستلے (شړلے) شی اے پیغمبره ! زما بندګانو ته اووایه (خبرور کړه) چه یقیناً زه ډیر بخښونکے

الرَّحِيْمُ ﴿۴۹﴾ وَاَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْاَلِيْمُ ﴿۵۰﴾ وَنَبِّئْهُمْ

ډیر مهربان یم | او یقیناً | زما عذاب | هم هغه دے | عذاب | دردناک | او خبر کړه دوی

اورحم کونکے یم اوداخبر هم ورکړه چه یقیناً زما عذاب ډیر دردناک عذاب دے او دوی دابراهیمؑ

عَنْ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۵۱﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ

د میلمنو | د ابراهیمؑ نه | کله چه | هغوی داخل شو | په هغه | اوورته ےئ ووئیل | چه په تاسلام وی

دمیلمنو دحال نه خبر کړه کله چه هغوی ده له ورغلل اوسلام ےئ ورته اوکړو نوابراهیمؑ ورته اووئیل

قَالَ اِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا لَا تَوْجَلْ اِنَّا

هغه (ورته) اووئیل | بیشکه مونږ خو | ستاسو نه | یرږدونکی یُو | هغوی (ورته) اووئیل | مه یَرږیږه ! | بیشکه مونږ

چه مونږ خو تاسو نه یَرږیږو هغوی ورته اووئیل ! مه یَرږیږه مونږ خو تاته دیو پوهه (هوښیار)

نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ ﴿۵۳﴾ قَالَ اَبَشَّرْتُمُوْنِيْ عَلٰٓى اَنْ

زیږے درکوو تاته | دیو هلک | پوهه (هوښیار) | هغه (ورته) اووئیل | ایاتاسو زیږے را کوئ ماته | سره د دے

هلک (د پیدا کیدو) زیږے درکوو ـ هغه ورته اووئیل ، ایاتاسو ماته په دے حالت کښے زیږے را کوئ

مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُوْنَ ﴿۵۴﴾ قَالُوْا بَشَّرْنٰكَ بِالْحَقِّ

چه رسیدلے ےم ماته | بوډا والے | نو دځه | زیږے ورکوئ تاسو | هغوی اووئیل | مونږ زیږے درکوو تاته | په رښتیا

چه زه بوډا شوے یم نو دځه زیږے را کوئ؟ هغوی ورته جواب ورکړو چه مونږ تاته رښتینے زیږے درکوو

فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقٰنِطِيْنَ ﴿۵۶﴾ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ

نو مه کیږه ته | د نا اُمیدو نه | هغه اووئیل | اونهٔ | نا اُمیده کیږی | د رحمت

نو ته مایوسه کیږه مه هغه ورته اووئیل دخپل رب درحمت نه دګمراهانو خلقو نه سوا څوک نا امیده کیدے شی؟

رَبِّهٖٓ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴿۵۷﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۸﴾

درب خپل نه؟ | مګر | ګمراهان | هغه اووئیل | څه لوئ کار دے ستاسو | اے لیږلو شوو فرشتو؟

بیا هغه تپوس اوکړو چه اے د الله لیږلے شوو فرشتو! تاسو په څه مهم پسے راغلی یئ.

قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۵۹﴾ اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ

هغوی اووئیل | بیشکه مونږ | رالیږلے شوی یُو | قوم | مجرمانو ته | سوا | د کورنئ | د لوط نه

هغوی ورته اووئیل چه مونږ خو یو مجرم قوم (باندے د عذاب د پاره) رالیږلے شوی یُو سوا د لوط د کورنئ نه

اِنَّا لَمُنَجُّوْهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۶۰﴾ اِلَّا امْرَاَتَهٗ قَدَّرْنَآ ۙ اِنَّهَا

بیشکه مونږ | خامخا بچ کونکی یو | هغوی ټولولره | سوا | د ښځے د هغهٔ نه | مقرر کړے ده مونږ | چه بیشکه هغه به وی

چه هغه ټول به مونږ بچ کړو سوا د هغه د ښځے نه چه مونږ دا فیصله کړے ده چه هغه به ورو ستو

لَمِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ ع فَلَمَّا جَآءَ اٰلَ لُوْطِ ۨ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۶۱﴾ ۙ قَالَ

د پاتے کیدونکو نه (په عذاب کښے) | پس هر کله | چه راغلے | کورنئ | د لوط ته | لیږلے شوے فرشتے | نو اووئیل هغه

پاتے کیدونکے کښے ده بیا کله چه فرشتے د لوط کورنئ ته راغلے (نو) هغهٔ ورته اووئیل

اِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۶۲﴾ قَالُوْا بَلْ جِئْنٰكَ بِمَا كَانُوْا

(چه) بیشکه تاسو (خو) | قوم یئ | ناشنا | هغوی اووئیل | بلکه | راوړے دے مونږ تاته | هغه څه | چه دوی

چه تاسو خو ناشنا خلق ښکاریئ فرشتو ورته اووئیل (نه) بلکه مونږ خو تاته هغه (عذاب) راوړے دے

فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَاَتَيْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۶۴﴾ فَاَسْرِ

په هغے کښے | شک کولو | او راوړے دے مونږ تاته | حق | او بیشکه مونږ | رشتینی یو | پس بوځه ته

چه دے خلقو په کښے شک کولو او مونږ تاته یقینی فیصله (د عذاب) راوړے ده او مونږ رشتیا وایُو

بِاَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ الَّيْلِ وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ

کورنئ خپله | په څه حصه | د شپے کښے | او څه تهٔ | وروستو دوی پسے | او په شا د نه کوری

نو ته د شپے په څه حصه کښے خپل کور والا او باسه اوته ورپسے وروستو وروستو څه اوپه تاسو کښے دِهیڅ یو کس په شا

مِنْكُمْ اَحَدٌ وَّامْضُوْا حَيْثُ تُؤْمَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَقَضَيْنَآ اِلَيْهِ

ستاسو نه | یو کس هم | او ځئ | چرته چه | تاسو ته حکم کولے شی | او فیصله اولیږله مونږ | دهٔ ته

نه کوری او هغه ځائے (شام) ته لاړ شئ چرته چه درته حکم کیږی او دغه شان مونږ لوط ته خپله

ذٰلِكَ الْاَمْرَ اَنَّ دَابِرَ هٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوْعٌ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۶۶﴾ وَجَآءَ

دا | فیصله | چه بیشکه | جړه | د دے خلقو به | پریکړے شوی وی | د صبا کیدو سره | او راغلل

دا فیصله اولیږله چه د دے قوم جړه به صبا راختو سره سره پریکړے شوی وی

اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝ قَالَ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِيْ

ښار والا | چه خوشحالی ئے کوله | هغه (ورته) اووئیل | چه بیشکه | دا خلق | میلمانه زمادی

اوښار والا خوشحاله خوشحاله (دلوط خواله) ور غلل لوط ورته اووئیل دا خلق زما میلمانه دی

فَلَا تَفْضَحُوْنِ ۝ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ ۝ قَالُوْٓا

نوتاسو ما مهٔ شرمنده کوئ | او اویریږئ | د الله نه | اوما مه بے عزته کوئ | هغوی (ورته) اووئیل

نوتاسو ما مهٔ شرمنده کوئ او د الله نه اویریږئ زما بے عزتی مه کوئ هغوی ورته اووئیل ایا مونږ ته د خلقو (د میلمستیا یا حمایت)

اَوَ لَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝ قَالَ هٰٓؤُلَآءِ بَنٰتِيْٓ اِنْ

آیا ته مونږ منع کړے نه ئے | د خلقو نه | هغه (ورته) اووئیل | دا | لونړه زمادی | که چرے

نه منع کړے نه ئے الوط ورته اووئیل که تاسو زما په وینا عمل کول غواړئ نو دا زما لونړه دی (چه ستاسو په نکاح کښے دی)

كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ۝ لَعَمْرُكَ اِنَّهُمْ لَفِيْ سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝

تاسو | پوره کوونکی ئے (د خپل شهوت) | قسم دے ستا په ژوند | (چه) بیشکه دوی | خامخا په نشه خپله کښے | ړاندهٔ کاږه پریشانه وو

اے پیغمبره ستاسو په ژوند قسم احقیقت دا دے چه دا خلق په خپله مستۍ (نشه) کښ ړاندهٔ کاږه شوی وو

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ ۝ فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا

پس اونیول دوی لره | یوے چغے (هیبتناکے) | دنور ختو په وخت کښے | پس اوګرځوو مونږ | بړه طرف دهغے (کلی) | لاندے دهغے

نو بس دنور اختو سره دوی یوے هیبتناکے چغے ونیول بیا مونږ هغه کلے لاندے باندے کړو اوپه هغوی

وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

اورا اوورول مونږ | په دوی باندے | کاږی | د پخو کاږو | بیشکه | په دے کښے

باندے مود کنکرو کاږی اوورول حقیقت دا دے چه په دے واقعه کښ د عبرت په نظر کتونکو د پاره

لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ۝ وَاِنَّهَا لَبِسَبِيْلٍ مُّقِيْمٍ ۝

خامخا ډیرے نخښے دی | د فکر کونکو د پاره | اوبیشکه دا (کلی) | خامخا دے په لاره | نیغه باندے

ډیرے نخښے دی او دغه کلے اوسه پورے په (دا سے) نیغه لاره (پروت) دے (چه خلق پرے ځی راځی)

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَاِنْ كَانَ اَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ

بیشکه | په دے کښے | خامخا نخښه ده | د مومنانو د پاره | او یقیناً | د بنړ والا هم

یقیناً په دے کښے د مومنانو د پاره لویه نخښه ده او یقیناً د بنړ والا (قوم د شعیبؑ) هم ډیر ظالمان وو

لَظٰلِمِيْنَ ۝ فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَاِنَّهُمَا لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ ۝ ع

ډیر ظالمان وو | نو مونږ انتقام واغستلو | د هغوی نه هم | او بیشکه دا دواړه کلی | دی په لاره | ښکاره باندے

نو مونږ د هغوی نه هم انتقام واخستلو او یقیناً دغه دواړه کلی په لویه (عامه) لاره باندے پراته دی

وَلَقَدْ كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَاٰتَيْنٰهُمْ اٰيٰتِنَا

او یقیناً | دروغ ګڼلی وو | حجر والو | پیغمبران | اوورکړے وو مونږ هغوی ته | نخښے خپلے

او حجر والو (قوم د صالحؑ) هم د پیغمبرانو تکذیب کړے وو۔ او مونږ هغوی ته خپلے ډیرے نخښے

فَكَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝ وَكَانُوْا يَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ

پس وو دوی | دھغے نه | مخ اړونکی | او وو دوی | چه کنستل (تراشل) به ئے | د غرونو نه

ور کړے وے خو دوی (بیاهم) دھغے نه مخ اړولو او دوی به د کورونو جوړولو دپاره غرونه کنستل

بُيُوْتًا اٰمِنِيْنَ ۝ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِيْنَ ۝ فَمَآ اَغْنٰى

کورونه | په امن او سیدل | پس اونیول دوی لره | هیبتناک چغے | دصبا په وخت کښے | پس لرے نه کړو

او په امن او سیدل نو دوی باندے هم د سحر په وخت کښے یوه هیبتناکه چغه اووهلے شوه نتیجه دا شوه

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ۝ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

دوی نه (عذاب لره) | هغه څه | چه دوی به | کول | اونه دی پیدا کړی مونږ | آسمانونه | او زمکه

چه څه دوی کول هغه ئے پکار بالکل رانغلل ـ او مونږ آسمانونه او زمکه

وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ

اوهغه څه | چه دے دواړو په مینځ کښے دی | مګر | په حق سره | او بیشکه | قیامت | خامخا راتلونکے دے

اوځه چه دے دواړو په مینځ کښے دی بے کاره نه دی پیدا کړی او قیامت خو خامخا راتلونکے دے

فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ ۝ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِيْمُ ۝

نو مخ واړوه | مخ اړول | په ښه طریقه | بیشکه | رب ستا | هم هغه دے | پیدا کونکے | پوهه ذات

نوته (ددوی نه) په ښه طریقه مخ واړوه یقین وساته چه هم ستا رب دتولو پیدا کونکے او په هر څه باندے پوهه دے

وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ۝

او یقیناً | درکړی دی مونږ تاته | اووه (آیتونه) | چه بیا بیا لوستلے کیږی | او قرآن | لوے شان والا

او مونږ تاته اووه داسے ایتونه درکړی دی چه بیا بیا لوستلے کیږی او عظیم الشان قران (مودرکړے دے)

لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

مه اوږدوه | ستر گے خپلے | هغه څه ته | چه څنډه ور کړے دی مونږ | په هغے سره | مختلفو قسمه (کافرانو) ته | ددوی نه

او مونږ چه دکافرانو مختلفو ډلو ته دفائدو کوم څیزونه ورکړی دی هغے ته درغبت په نظر بالکل اونه گورے

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۝ وَقُلْ

او غم مه کوه | په دوی باندے | او تیټ (ښکته) کړه | خپل وزر (مټ) | مومنانو ته | او اووایه

اودهغوی په حال باندے خفګان مه کوه او (ددوی په څنګ) مومنانو سره په تواضع (عاجزی) سره سلوک کوه او (کافرانو ته) اووایه

اِنِّيْۤ اَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ ۝ كَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ ۝

(چه) بیشکه زه | یَرونکے یم | ښکاره | پښان دهغه عذاب | چه راليږلے وو مونږ | په تقسیمونکو کافرانو باندے

چه زهٔ خو ښکاره یَرونکے یم (دے کافرانو ته به مونږ هغه شان عذاب ور کړو) لکه څنګه چه مونږ په تقسیمونکو باندے نازل کړے وو

الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ ۝ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ

هغه خلق | چه کړے ئے وو | قرآن | ټوټے | پس قسم دے ستا په رب | خامخا به مونږ تپوس کوو ددوی نه

کومو چه قران ټوټے ټوټے کړے وو نو ستا په رب قسم دے چه ددے ټولو نه به مونږ خامخا

أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٥٠﴾ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ

تولو نه | دهغه عملونو په بارہ کښے | چه دوی به | کول | پس صفا صفا بیان کړه | هغه څه | چه تاته (ئے) حکم کیږی

دهغه عملونو تپوس کوو کوم به چه دوی کول نو تاته چه دکومے خبرے حکم کیږی هغه صفا صفا بیان کړه

وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ ﴿٥١﴾ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴿٥٢﴾

او مخ واړوه | د مشرکانو نه | بیشکه مونږ | کافی یوستا دپاره | په مقابله دتوے کونکو کښے

اودمشرکانو پروامه کوه یقین اوساته چه مونږ ستا دپاره پوره (کافی) یُو چه تاپورے توے کوی

الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٥٣﴾

هغه (خلق) | چه جوړوی | د الله سره | مددگار (معبود) | بل | پس ډیر زر به | دوی پوهه شی

کوم چه د الله سره بل معبود کنړی (جوړوی) نو ډیر زر به دوی ته پته اولگی

وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٥٤﴾

او یقیناً | مونږ پوهیږو | چه بیشکه | تنگیږی | سینه ستا | په هغه خبرو | چه دوی ئے وائی

او یقیناً مونږ ته پته ده چه دوی تا پسے کومے خبرے کوی په هغے ستا زړه تنگیږی

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ ﴿٥٥﴾ وَاعْبُدْ

پس پاکی بیانوه | سره دَستائینے | درب خپل نه | او شه | د سجده کونکو نه | اوبندگی (عبادت) کوه

(نو ددے علاج دادے) چه ته دخپل رب دَحمد سره دهغه تسبیح (پاکی) بیانوه اوسجده کونکو کښے داخل شه (اوسه) او

رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴿٥٦﴾ ع ۳

درب خپل | تر دے | چه راشی تاته | یقینی خبره (مرگ) |

تر مرگه پورے د خپل رب عبادت کوه ۔

آیاتها [۱۲۸]	سورة النحل مكّيّة	رکوعاتها [۱۶]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد دَنوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم ۔

أَتَىٰ أَمْرُ اللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا

راغے | حکم (دَعذاب) | د الله | پس زړه غواړئ دے لره | پاک دے هغه | او اوچت دے | دهغه څه نه

دَالله تعالیٰ (دعذاب) حکم پس راور سیدونوا ے کافرانو تاتلو اوروباندے مه کوئ داخلق چه دَالله سره کوم څیز شریک جوړوی

يُشْرِكُونَ ﴿١﴾ يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ بِالرُّوحِ مِنْ أَمْرِهِ عَلَىٰ مَنْ

چه دوی (ئے) شریکوی | هغه رالیږی | فرشتے | دَ وحی سره | په حکم خپل | په چا چه

الله تعالیٰ دهغے نه پاک او ډیر اوچت دے هغه په خپل حکم سره په خپلو بندگانو کښی چه په چا اوغواړی

يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ اَنْ اَنْذِرُوْٓا اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا

اوغواړی | د بندګانو خپلو نه | چه اویروئ تاسو (خلق) | ددے نه | چه نشته هیڅ څوک لائق دبندګۍ | سوا | زمانه
فرشتے ورباندے دوحی سره رالیږی چه خلق خبردار کړئ چه زمانه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته

فَاتَّقُوْنِ ۝ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ تَعٰلٰى عَمَّا

نوهم زمانه اویریږئ | پیدا کړی دی هغه | آسمانونه | او زمکه | په حق سره | لوړ دے | دهغه څه نه
نو صرف زمانه اویریږئ هغهٔ آسمانونه او زمکه په یو حکمت پیدا کړی دی دهغه ذات ددے کافرانو دشرک نه

يُشْرِكُوْنَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ

چه دوی ګډوسره شریکوی | پیدا کړے دے هغه | انسان | دمنۍ (دیو څاڅکی) نه | نو اوس (ناڅاپه) | هغه دے
دیر اوچت دے هم هغه ذات انسان دنطفے نه پیدا کړے دے خو بیا دے بنکاره دالله تعالی په باره کښے

خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَالْاَنْعَامَ خَلَقَهَا ۚ لَكُمْ فِيْهَا دِفْءٌ

جګړه مار | بنکاره | او څاروی | پیدا کړی ئے دی هغه | ستاسو دپاره | په هغے کښے | سامان دے دګرمیدلو
جګړه کوی او څاروی هم هغه پیدا کړی دی چه پکښے ستاسو دپاره دیخنۍ نه دبچاؤ سامان او نورے دیرے فائدے دی

وَّمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ۝ وَلَكُمْ فِيْهَا جَمَالٌ حِيْنَ

او (نورے) فائدے دی | او دبعضے دهغے نه | تاسو خورئ | او ستاسو دپاره | په هغے کښے | بنائست دے | کومه وخت چه ئے
او بعضے پکښے تاسو خورئ هم او کله چه تاسو د څاروی دمانبامے واپس کورته راولئ او کله چه دصبا په وخت کښے څروئ

تُرِيْحُوْنَ وَحِيْنَ تَسْرَحُوْنَ ۝ وَتَحْمِلُ اَثْقَالَكُمْ اِلٰى بَلَدٍ

تاسو مانبام واپس راولئ | او کله ئے چه | تاسو دصبا وخت څروئ (څروئ) | او اوری هغه (څاروی) | درانه بوجونه ستاسو | هغه ښار ته
له بوځئ نو په دے کښے ستاسو دپاره بنائست (عزت او شان) هم دے او دا څاروی ستاسو بوجونه داسے لرے ښار ته وړی

لَّمْ تَكُوْنُوْا بٰلِغِيْهِ اِلَّا بِشِقِّ الْاَنْفُسِ ؕ اِنَّ رَبَّكُمْ

چه نه یئ تاسو | رسیدونکی هغے ته | مګر | په مشقت | د ځانونو | بیشکه | رب ستاسو
چه تاسو هلته دډیر مشقت نه بغیر نه ځئ رسیدے یقین اوسائ چه ستاسو رب په تاسو باندے

لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَّالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ

خامخا ډیر شفقت کونکے | ډیر رحم کوونکے دے | او (پیدا کړی ئے دی) اسونه | او خچرے | او خرونه
ډیر زیات ششفقت کونکے او مهربان دے او هم هغه اسونه او خچرونه او خرونه پیدا کړی دی چه تاسو پرے

لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً ؕ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

چه تاسو سورلی او کړئ په هغے باندے | او دپاره دبنائست | او هغه پیدا کوی | هغه څه | چه تاسو ئے (اوس) نه پیژنئ
سورلی هم او کړئ او ستاسو دزینت ذریعه هم شی او نور به هم داسے ډیر څیزونه پیدا کوی چه تاسو ئے (اوس) علم هم نشته

وَعَلَى اللّٰهِ قَصْدُ السَّبِيْلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ ؕ وَلَوْ شَآءَ

او په الله باندے | بیانول دی | دحقے لارے | او بعضے لارے | کږے دی | او که چرے | هغه غوښتلے
او الله تعالی دحقے (سمے) لارے دبیانولو ذمه داری اغستے ده، او ډیرے لارے کږے دی او که هغه غوښتلے

لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ع

نوهدایت به ګرځوے مګلو | تولو ته | هم هغه ذات دے | چه راوروی | د آسمان نه | اوبه

نوتاسو تول به ئے په سمه لاره روان کړی وئ الله تعالی هم هغه ذات دے چه د اسمان نه اوبه راوروی

لَّكُمْ مِّنْهُ شَرَابٌ وَّمِنْهُ شَجَرٌ فِيْهِ تُسِيْمُوْنَ ۝ يُنْۢبِتُ

(چه) تاسو دپاره | دهغے نه څه | د څکلو دی | او دهغے نه زرغونیږی | اوښے | چه په هغے کښ | تاسو (خپل څاروی) څروئ | هغه زرغونوی

(چه) تاسو دپاره د هغے نه څه د څکلو دی او د هغے نه زرغونیږی اوښے چه په هغے کښے تاسو (خپل څاروی) څروئ

لَكُمْ بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُوْنَ وَالنَّخِيْلَ وَالْاَعْنَابَ

ستاسو دپاره | په دغه اوبو سره | فصل | او خونه | او قجورے | او انګور

هغه ستاسو د فائدے د پاره په دغه اوبو سره فصلونه (پتی) خونه (زیتون) او قجورے او انګور

وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ

او هر قسمه | میوے | بیشکه | په دے کښے | خامخا نښه ده | د پاره د (هغه) قوم

او نور قسمه قسم میوے راز رغونوی یقیناً په دے تولو کښے د هغه خلقو د پاره د پوره لوی نښه ده چه

يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۙ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۭ

چه فکر کوی | او په خدمت لګولی دی | ستاسو | شپه | او ورځ | او نور | او سپوږمۍ

غور او فکر کوی او هغه شپه او ورځ او نور او سپوږمۍ ستاسو په خدمت کښے لګولی دی

وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرٰتٌۢ بِاَمْرِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

او ستوری (هم) | تابع کړے شوی | د هغهٔ د حکم | بیشکه | په دے کښے | خامخا د پوره نښے دی

او ستوری هم د هغه په حکم په کار لګیدلی دی یقیناً په دے کښے د عقل مندو خلقو د پاره

لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝ۙ وَمَا ذَرَاَ لَكُمْ فِي الْاَرْضِ

د پاره د (هغه) قوم | چه د عقل نه کار اخلی | او (الله) مسخر کړی دی) هغه څه | چه پیدا کړی ئے دی | ستاسو دپاره | په زمکه کښے

د پوره نښے دی دا رنګ هغه مختلف رنګونو والا څیزونه چه هغه ستاسو د فائدے د پاره

مُخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ۝

چه مختلف دی | رنګونه دهغے | بیشکه | په دے کښے | خامخا نښه ده | د پاره د (هغه) قوم | چه نصیحت اخلی

پیدا کړی دی هغه هم الله په حکم په کار لګیدلی دی یقیناً په دے کښے د نصیحت اخستونکو د پاره د پوره لوی نښه ده

وَهُوَ الَّذِيْ سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَاْكُلُوْا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا

او هم هغه | هغه ذات دے | چه تابع کړے ئے دے | دریاب | چه تاسو اوخورئ | د هغے | غوښه | تازه

او هم هغه الله سمندر تابع کړے دے (ستاسو په خدمت کښے لګولے دے) چه تاسو د هغے نه تازه غوښه اوخورئ

وَّتَسْتَخْرِجُوْا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ

او راوباسئ تاسو | د هغے نه | کالی | چه تاسو ئے اچوئ | او ته وینے | کشتۍ | شلونکی اوبو لره

او هغه کالی ترے نه راوباسئ چه تاسو ئے اچوئ او ته وینے (گورے) چه کشتۍ په دریاب کښے اوبه شلوی

فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٤﴾ وَاَلْقٰى

په هغے (دریاب) کښې | اودے دپاره چه اولتوئ تاسو | بعضے فضل دهغهٔ | اودے دپاره چه تاسو | شکر اوباسئ | اوهغه اچولی دی

(اوروانے دی) او (الله دریاب دے دپاره هم تابع کړے دے) چه تاسو دالله تعالیٰ فضل اولتوئ او چه تاسو شکر گذار شئ

فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَاَنْهٰرًا وَّسُبُلًا

په زمکه کښے | پاخه غرونه | چه اونهٔ خوزی | په تاسو باندے | او نهرونه | او لارے

اوهغه په زمکه کښے پاخه غرونه اچولی (پیدا کړی) دی چه تاسو باندے اونهٔ خوزی او نهرونه اولارے ځوړے کړی دی

لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥﴾ وَعَلٰمٰتٍ ؕ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿١٦﴾

دے دپاره چه تاسو | لارهٔ بیاموئ | او نورے نخښے هم | او په ستوری | دوی (خلق) | لار معلوموی

چه تاسو لار بیاموئ او نورے نخښے ځهم پیدا کړی دی او په ستورو هم د اخلق لارهٔ معلوموی نو اوس تاسو اووایئ چه کوم ذات

اَفَمَنْ يَّخْلُقُ كَمَنْ لَّا يَخْلُقُ ؕ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿١٧﴾

آیا نو هغه څوک | چه پیدا کول کوی | پشان دهغه چا کیدے شی | چه هیڅ نه پیدا کوی | آیا نو تاسو نصیحت نه اخلئ

داهر څه پیدا کوی ایا هغه دهغه چا په شان کیدے شی چه هیڅ هم نه شی پیدا کولے؟ نو ایا تاسو بیا هم نصیحت نه اخلئ

وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او که چرے | تاسو شمارئ | نعمتونه | د الله | نو اوبه نشئ شمارلے هغه | بیشکه | الله

او که چرے تاسو دالله تعالیٰ نعمتونه شمارل شروع کړئ نو سر ته ئے نه شئ رسولے یقین وساتئ چه الله تعالیٰ

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٨﴾ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ﴿١٩﴾

خامخا بخښونکے | دیر مهربان دے | او الله | پوهیږی | په هغه څه | چه تاسو ئے پټوئ | او په هغه څه | چه تاسو ئے ښکاره کوئ

دیر بخښونکے دیر مهربان دے او تاسو چه څه په پټه کوئ او څه چه په ښکاره کوئ هغه ټول الله تعالیٰ ته معلوم دی

وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَخْلُقُوْنَ شَيْئًا

او هغه کسان | چه دوی ئے رابلی | سوا د الله نه | نه شی پیدا کولے هغوی | هیڅ څیز

او دالله تعالیٰ نه سوا چه دوی کوم خلق (معبودان) رابلی هغوی هیڅ څیز نه شی پیدا کولے بلکه هغوی

وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمْوَاتٌ غَيْرُ اَحْيَآءٍ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۙ

او هغوی خو پخپله | پیدا کړے شوی دی | (هغوی) مړه دی | ژوندی نه دی | او هغوی نه پوهیږی

خو پخپله مخلوق دے هغوی خو مړه (بے ساه) دی ژوند پکښے نشته او دا احساس (پته) ورته هم نشته

اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٢١﴾ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ع

چه کله به | دوی بیا ژوندی کیږی | معبود ستاسو | معبود | یو دے | پس هغه خلق | چه ایمان نه راوړی

چه خلق به کله بیا ژوندی کیږی ستاسو اِله حاجت روا خو بس اِک یو اِله دے نو کوم خلق چه آخرت نه منی

بِالْاٰخِرَةِ قُلُوْبُهُمْ مُّنْكِرَةٌ وَّهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ

په آخرت | زړونه دهغوی | منکر دی | او هغوی | ځان لوے کنړونکی دی | خامخا

دهغوی زړونه (ددے نه) انکار کوی او ځان لوے کنړی. ښکاره خبره ده چه الله تعالیٰ ته

أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۭ اِنَّهٗ

بیشکه | الله | پیژنی | هغه څه | چه دوی ئې پټوی | او هغه څه | چه دوی ئې ښکاره کوی | بیشکه الله

هغه څه هم معلوم دی چه دوی ئې پټ کوی او هغه څه هم چه دوی ئې په ښکاره کوی یقیناً هغه

لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ ۝ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ مَّاذَآ اَنْزَلَ

نه خوښوی | ځان لوی کونکو نکی | اوکله چه | اووئیلے شی | دوی ته | چه څه | رالیږلی دی

تکبر کونکی خلق بالکل نه خوښوی او کله چه ددوی نه تپوس وشی چه ستاسو رب څه نازل کړی دی؟ نو دوی

رَبُّكُمْ ۙ قَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ۝ لِيَحْمِلُوْٓا اَوْزَارَهُمْ

رب ستاسو؟ | (نو) وائی چه | (هغه خو) قصے دی | د وړومبنو | دے دپاره چه دوی به اوچتوی | پیتی خپل

وائی چه داخو د پخوانو قصے دی ددے خبرے نتیجه دا ده چه دوی به د قیامت په ورځ د خپلو گناهونو پوره پوره پیتی

كَامِلَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ۙ وَمِنْ اَوْزَارِ الَّذِيْنَ يُضِلُّوْنَهُمْ

پوره پوره | په ورځ | د قیامت | او څه پیتی | د هغه خلقو (هم) | چه دوی ئې گمراه کوی

پورته کوی او کوم خلق ئې چه د دلیل (علم) نه بغیر گمراه کړی دی د هغوی د گناهونو پیتی به هم اوچتوی

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ اَلَا سَاۗءَ مَا يَزِرُوْنَ ۝ قَدْ مَكَرَ الَّذِيْنَ ع

بغیر | د علم نه | خبردار | ډیر بد دی | هغه څه | چه دوی ئې اوچتوی | یقیناً | مکر کړے وو | هغه خلقو

واورئ اکوم پیتی چه دوی اوچتوی هغه ډیر خراب دی ددوی نه مخکښ خلقو هم (د حق خلاف) د مکر منصوبے جوړے کړے وے

مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتَى اللّٰهُ بُنْيَانَهُمْ مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ

چه مخکښ وو ددوی نه | پس راغے | الله | آباد دود دوی ته | د بنیاد دونو نه | نور اپریوتل | په دوی باندے

(خو بیا اوشو دا چه) الله تعالیٰ د دوی په آباد و (عمارتونو) د بنیاد دونو نه راغے

السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ

چتونه | د پاسه د دوی | اوراغے دوی ته | عذاب | د داسے ځائے نه

او د پاسه نه پرے چت هم راپریوتلو او د الله تعالیٰ عذاب ورته د داسے ځائے نه راغے چه دوی ته ئے

لَا يَشْعُرُوْنَ ۝ ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُخْزِيْهِمْ وَيَقُوْلُ اَيْنَ

چه دوی (پرے) نه پوهیدل | بیا | په ورځ | د قیامت به | هغه دوی وشرموی | او (ورته) به اووائی | چه چرته دی

احساس (گمان) قدرے هم نه وو۔ بیا به د قیامت په ورځ الله تعالیٰ دوی (نور هم) رسوا کړی او توپوس به ترینه او کړی

شُرَكَاۗءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُشَاۗقُّوْنَ فِيْهِمْ ۭ قَالَ الَّذِيْنَ

زما شریکان | هغه | چه تاسو به | جګړه کوله | دهغوی په باره کښے | اوبه وائی | هغه خلق

چه زما هغه شریکان چرته دی چه تاسو به د مسلمانانو نو سره د هغوی په حقله جګړے کولے؟ (نو) چاته چه

اُوْتُوا الْعِلْمَ اِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْۗءَ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝ ۙ

چه ورکړے شوے وو | علم | (چه) بیشکه | رسوائی ده | نن | او بدی (سختی) | په کافرانو باندے

علم ورکړے شوے دے هغوی به اووائی چه د نن ورځے پوره رسوائی او بدحالی په کافرانو باندے مسلط ده

الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۠

داهغه خلق دی | چه (کله) ساه اخلی ددوی نه | فرشتے | په داسے حال کښے چه ظلم کوونکی وی | په ځانونو خپلو

هغه کافران چه فرشتے ترینه کله روحونه (ساکلے) نه په داسے حال کښے قبض کوی چه په ځان ځان ظلم کړے وی په شرک کولو سره ددے

فَاَلْقَوُا السَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوْٓءٍ ؕ بَلٰٓى اِنَّ اللّٰهَ

نو پیش به کړی | صلح (دروغ خبرے) | چه مونږ خو به نه کوله | هیڅ قسم بدی | ولے نه | بیشکه | الله

څنګه دن په صوقع به داکافران دروغ خبرے سره اندے کړی چه مونږ خو شرک نه کوے نو ورته به اووئیلے شی چه سوله مونه دی کړے؟

عَلِيْمٌۢ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ فَادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ

ښه پوهه دے | په هغه څه | چه تاسو به | کول | پس داخل شئ | دروازو | د دوزخ ته

الله تعالی ته ستاسو ټولو عملونه معلوم دی نو (اوس) همیشه په دوزخ کښے داوسیدو دپاره دهغے دروازو ته

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ فَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝ وَقِيْلَ

همیشه به پې (تاسو) | په دے کښے | پس ډیر بد دے | ځائے | د لوئی کوونکو | او (چه) اووئیلے شی

داخل شئ ځکه چه دتکبر کونکو هم دا بده استوګنه (تیکاونړه) ده او (بل طرف ته) دمتقیانو نه چه کله

لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ ؕ قَالُوْا خَيْرًا ؕ لِلَّذِيْنَ

هغه خلقو ته | چه یې ویرې دالله نه | څه | نازل کړی دی | رب ستاسو؟ | دوی وائی | (چه) خیر | دهغه خلقو دپاره

تهوس اوشی چه ستاسو رب څه نازل کړی دی نو هغوی به اووائی خیر (بهترین کلام) ځے نازل کړے دے دغه شان

اَحْسَنُوْا فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ؕ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ ؕ

چه نیکی ځے کړے ده | په دے | دنیا کښے | ښه بدله ده | اوخامخا کور | د آخرت | ډیر غوره دے

چاچه نیکی خپله کړه اوتوحید ځے منلے دے دهغوی دپاره په دے دنیا کښے هم ښه بدله ده اود آخرت کور خو دتولو نه بهتر دے

وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ۝ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا تَجْرِيْ

اوخامخا ډیر ښه دے | کور | د متقیانو | چه جنتونه | دهمیشه والی دی | چه داخلیږی به ورته دوی | بهیږی به

اویقیناً دمتقیانو کور ډیر بهتر ین دے یعنی دهمیشه اوسیدو دپاره هغه باغونه دی چه دوی به ورته داخلیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ ؕ كَذٰلِكَ

دهغے د لاندے | نهرونه | وی به دوی دپاره | په دے کښے | هغه څه | چه دوی به ځے غواړی | دغه شان

اولاندے به ځے نهرونه بهیږی، اوهلته به چه دوی څه غواړی هغه به ورته ملاویږی متقیانو ته الله تعالی

يَجْزِي اللّٰهُ الْمُتَّقِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

بدله ورکوی | الله | متقیانو ته | (دا) هغه خلق (دی) | چه (کله) ساه اخلی ددوی نه | فرشتے

هم دغه شان بدله ورکوی ددوی کیفیت دا دے چه فرشتے ځے کله روحونه په داسے حال کښے قبض کوی

طَيِّبِيْنَ ۙ يَقُوْلُوْنَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ۙ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ

پاک حال کښے چه پاک وی (د شرک نه) | نو (ورته) وائی (چه) | سلام دِوی | په | داخل شئ | جنت ته

چه دوی د کفر او شرک نه پاک وی (نو) ورته وائی چه په تاسو د سلام وی، دخپلو عملونو په بدله کښے جنت ته

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ

په بدله دهغه عملونو | چه تاسو به | کول | دوی انتظار نه کوی | مګر | د دے | چه راشی دوی ته

داخل شئ آیا دا کافران (د ایمان راوړو دپاره) صرف د دے خبرے انتظار کوی چه دوی ته فرشتے راشی

الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ اَمْرُ رَبِّكَ ؕ كَذٰلِكَ فَعَلَ الَّذِيْنَ

فرشتے | یا | راشی | حکم (فیصله) | د رب ستا | دغه شان | کار کړے وو | هغه خلقو

یا ستا د رب حکم راشی ، د دوی نه پخوانو خلقو هم دا سے کړی وو

مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

چه مخکښ وو د دوی نه | اوظلم نه وو کړے په هغوی باندے | الله | لیکن | دوی | په خپلو ځانونو

او الله تعالی په دوی ظلم نه وو کړے لیکن دوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم کولو

يَظْلِمُوْنَ ۝ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا وَحَاقَ بِهِمْ

ظلم کولو | پس اورسیدے دوی ته | سزاګانے (بدی نتیجے) | دهغه عملونو چه دوی کړی وو | او چاپیره شو | د دوی نه

نو آخر ورته د خپلو عملونو بده بدله ملاوشوه او کوم عذاب پسے ئے چه ټوقے کولے هغه

مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ ع وَقَالَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا

هغه (عذاب) | چه دوی به ورپورے | ټوقے کولے | او وائی | هغه خلق | چه شرک ئے کړے دے

ترے نه چاپیره شو۔ او مشرکان وائی که چرے الله غوښتلے

لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ نَّحْنُ

که چرے | غوښتلے | الله | نو مونږ به بندګی نه وه کړے | د هغه نه سوا | د هیڅ یو شئ | مونږ

نو د هغه نه سوا د بل چا عبادت به نه مونږ کړے وو

وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ

اونه پلار نیکه زمونږ | اونه به وو حرام کړی مونږ | د هغه (د اجازت) نه بغیر | هیڅ یو شئ | هم دغه شان

او نه زمونږ پلار نیکه او نه به مونږ د هغه د حکم نه بغیر څه شئ حرام کړے وو

فَعَلَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ اِلَّا

کار کړے وو | هغه خلقو | چه مخکښ وو د دوی نه | پس نشته | په رسولانو باندے | مګر

د دوی نه پخوانو خلقو هم دا سے کړی وو خو د پیغمبرانو ذمه داری خو صرف دا ده چه (د الله تعالی پیغام)

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا

تبلیغ (رسول) دی | ښکاره | او یقیناً | مونږ لیږلے دے | په هر یو | امت | یو رسول

صفا صفا ورسوی او یقیناً مونږ په هر یو امت کښے یو نه یو پیغمبر (په دے هدایت سره) رالیږلے وو

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ فَمِنْهُمْ

چه عبادت کوئ تاسو | (خاص) د الله | او ځان ساتئ | د (عبادت د) بتانو (غیر الله) نه | پس بعضے د دوی نه

چه د یو الله تعالی عبادت کوئ او د طاغوت نه ځان ساتئ نو په دوی کښے بعضے

مَنْ هَدَى اللّٰهُ وَمِنْهُمْ مَّنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ

هغه څوك وو | چه هدایت (ورته) اوكړو | الله | او بعضے دَ دوی نه | هغه څوك وو | چه ثابته شوه | په هغه باندے

خو داسے وو چه الله ورته هدایت وكړو او بعضے داسے وو چه گمراهی پرے ثابته (مسلط) شوه

الضَّلٰلَةُ ؕ فَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

گمراهی | پس اوگرځئ | په زمكه كښے | نو اوگورئ | چه څنگه | شو | (اُخری) انجام

نو لږ په زمكه كښے اوگرځئ اودَ عبرت په نظر اوگورئ چه د دروغژن كونكو انجام څنگه شو؟

الْمُكَذِّبِيْنَ ۝ اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ

د دروغ گنړونكو | كه چرے | ته حرص كوے | په هدایت دَ دوی باندے | نو بیشكه | الله

اے پیغمبره! كه ته دا حرص (تمنا) كوے چه دا خلق په هدایت شی نو حقیقت دا دے چه الله تعالی

لَا يَهْدِىْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝

هدایت نه كوی | هغه چاته | چه گمراه ئے كړی | اونه به وی | د دوی | هیڅ څوك مدد گار

چالره (دهغه دعناد دوجے) گمراه كړی بیا هغه ته هدایت نه كوی اوددا سے خلقو هیڅ څوك مدد گار نشته

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ

اودوی قسمونه كړی دی | په الله | پاخه (سخت) | قسمونه خپل | (چه) نه به راپاسوی | الله | هغه څوك

او دوی دالله تعالی په نوم پاخه (مضبوط) قسمونه خوری (او وائی) چه څوك مړ شی نو الله تعالی هغه بیا نه

يَّمُوْتُ ؕ بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

چه مړ شی | اولے نه | وعده ده | په هغه باندے | رشتینے (یقینی) | لیكن | اكثر | خلق

راڅوندے كوی ولے نه (راڅوندی كوی به ئے) دا خو دهغه (الله) په ذمه یوه رشتینی وعده ده لیكن اكثر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ ۙ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِىْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ

نه پوهیږی | دے دپاره چه واضحه كړی الله | دوی ته | هغه خبره | چه دوی اختلاف كولو | په هغے كښے

نه پوهیږی (بیا به ئے څكه راوندی كوی) چه هغه دے خلقو ته هغه خبره دے واضح (بنكاره) كړی چه دوی په كښ اختلاف كوی

وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰذِبِيْنَ ۝ اِنَّمَا

اودے دپاره چه پوهه شی | هغه خلق | چه كفر ئے كړے وو | په دے چه بیشكه دوی | دروغژن وو | بیشكه

او چه كافرانو ته پته اولگی چه دوی (كافرانو) دروغ وئیل او مونږ چه كله د یو څیز

قَوْلُنَا لِشَىْءٍ اِذَآ اَرَدْنٰهُ اَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ

زمونږ وینا | یو څیز ته | كله چه | مونږ اراده اوكړو هغے (پیدا كولو) | دا ده | چه مونږ وایو | هغه ته | شه (موجود)

د پیدا كولو اراده اوكړو نو بس دومره ورته اووایو چه شه (موجود شه) نو هغه

فَيَكُوْنُ ۝ ع وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِى اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا

نو هغه شی (موجود) | او هغه خلق | چه هجرت ئے كړے دے | دالله دپاره | ورسته ددے نه | چه ظلم پرے شوے دے

او شی (موجود شی) او چا چه د ظلم برداشت كولو نه پس دالله تعالی دپاره هجرت كړے دے یقین اوساتئ

لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ

خامخا به مونږ ځای ورکړو دوی ته | په دنیا کښے | ښه (ښائسته) | اوخامخا اجر | د آخرت | ډیر لوئے دے

چه مونږ به ورله په دنیا کښے هم ښه ځائے ورکړو او د آخرت اجر یقیناً ډیر لوئے دے

لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾

کاش | که دوی | پوهیدے | داهغه خلق دی | چه صبر ئے کړے دے | اوخاص په خپل رب باندے | توکل کوی

کاش چه داخلق پوهیدے داهغه خلق دی چه دصبر نه ئے کار اغستلے دے او صرف په خپل رب باندے ځان سپاری

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُّوحِي إِلَيْهِمْ

او نه دی لیږلی مونږ | مخکښ ستا نه | مګر | سړی (نارینه) | چه مونږ به وحی کوله | هغوی ته

او اے پیغمبره! مونږ ستانه مخکښ (پخوا) هم سړی پیغمبران لیږلی دی چه وحی به مو ورته کوله

فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِالْبَيِّنَاتِ

پس تپوس اوکړئ | د علم والو نه | که چرے | تاسو | علم نه لرئ | په ښکاره (واضحه) دلیلونو

نو که تاسو ته ددے خبرے پته نه وی نو د عالمانو نه تپوس اوکړئ هغه پیغمبران مودښکاره دلیلونو

وَالزُّبُرِ ۗ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا

او (ورو) کتابونوسره | اونازل کړے دے مونږ | تاته | دا قرآن | چه ښکاره (بیان) کړے | خلقو ته | هغه څه

او آسمانی کتابونوسره لیږلی وو، او مونږ تاته دا قران ددے دپاره نازل کړے دے چه خلقو ته دهغه خبرو

نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾ أَفَأَمِنَ الَّذِينَ

چه نازل کړے شوی دی | دوی ته | اودے دپاره چه دوی | فکر (سوچ) اوکړی | آیا په امن شول | هغه خلق

وضاحت اوکړے کومے چه ددوی دپاره نازلے شوی دی او چه دوی غور اوفکر نه کار واخلی نو آیا کوم خلق

مَكَرُوا السَّيِّئَاتِ أَن يَخْسِفَ اللَّهُ بِهِمُ الْأَرْضَ أَوْ

چه مکرونه جوړوی | ناکاره | (ددے نه) چه ښخ کړی | الله | دوی | په زمکه کښے | یا (ددے نه چه)

چه بد ے بد ے منصوبے جوړوی ددے خبرے نه بالکل بے پرے شوی دی چه الله تعالی ئے په زمکه کښے

يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ

رابه شی په دوی | عذاب | د داسے ځائے نه | چه دوی به (پرے) نه پوهیږی | یا (ددے نه چه) | اونیسی الله دوی لره

ننباسی (ځپ کړی) یا پرے ددا سے ځائے (طرف) نه عذاب راشی چه دوی ته ئے احساس هم نه وی یا ئے په

فِي تَقَلُّبِهِمْ فَمَا هُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوْ يَأْخُذَهُمْ

په سفر (تگ راتگ) ددوی کښے | پس نه دی دوی | عاجزه کونکی (الله لره) | یا (ددے نه چه) | اونیسی الله دوی لره

تگ راتگ کښے (ناګهانه) راونیسی ځکه چه دوی الله نه شی عاجزه کولے یا ئے دیرے په حالت کښے اونیسی

عَلَىٰ تَخَوُّفٍ ۖ فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا

دیرے په حالت کښے | پس بیشکه | رب ستاسو | خامخا ډیر شفقت کونکے | ډیر رحم کونکے | آیا دوی نه کوری

یقیناً ستا رب ډیر شفقت کونکے مهربان ذات دے آیا دوی نه کوری (سوچ نه کوی)

اِلٰی مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَیْءٍ یَّتَفَیَّؤُا ظِلٰلُهٗ عَنِ الْیَمِیْنِ

هغه څه‌ته | چه پیدا کړی دی | الله | هر قسمه شیزونه | چه کرښې (اوږی) | سوری دهغے | د بنی طرف نه

چه الله تعالی کوم څیز هم پیدا کړے دے د هغے سوری بنی

وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلّٰهِ وَهُمْ دٰخِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَلِلّٰهِ یَسْجُدُ

اودکس طرفونونه | سجده کونکی | الله ته | په خپل سحل کښې چه‌وی | عاجزی کونکی وی | او (خاص) الله ته | سجده کوی

او کس طرف ته کرښې (اوږی) (او) الله تعالی ته سجده کوی او ټول د عاجزئ اظهار کوی

مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ مِنْ دَآبَّةٍ وَّالْمَلٰٓئِكَةُ

هغه څه | چه په اسمانونو کښے دی | او هغه څه | چه په زمکه کښے دی | هر قسم جاندار (زنده سره) | او فرشتے هم

او اسمانونو او زمکه کښے چه څومره جاندار (زنده سره) دی او ټولے فرشتے (هم) الله ته سجده کوی

وَهُمْ لَا یَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۹﴾ یَخَافُوْنَ رَبَّهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ وَیَفْعَلُوْنَ

او دوی | لوئی (غرور) نه کوی | (دوی) یریږی | د رب خپل نه | (چه) ددوی د پاسه دے | او کوی

او دوی معمولی غوندے تکبر هم نه کوی د خپل هغه رب نه یریږی چه ددوی د پاسه دے او هم هغه کار کوی

مَا یُؤْمَرُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَقَالَ اللّٰهُ لَا تَتَّخِذُوْٓا اِلٰهَیْنِ اثْنَیْنِ ۚ

هغه څه | چه دوی ته حکم کیږی | او وئیلی دی | الله | (چه) مه نیسئ | معبودان | دوه

د څه چه ورته حکم کیږی او الله تعالی فرمائی چه دوه حقدار د بندګئ مهٔ جوړوئ.

اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَاِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۵۱﴾ وَلَهٗ

بیشکه | هغه (خو) | معبود دے | یو | نو خاص زمانه | اویریږئ | او خاص د (هغه په اختیار کښے) دی

یاد سائ چه حقدار د بندګئ هم الله اِلٰ یو دے نو خاص زمانه اویریږئ او آسمانونو او زمکه کښے

مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّیْنُ وَاصِبًا ؕ اَفَغَیْرَ

هغه څه | چه په آسمانونو | اوزمکه کښے دی | او خاص د هغه د پاره ده | تابعداری (بندګی) | لازم (واجب) | آیا پس سوا

چه څه دی ټول د هغه (په اختیار کښے) دی. او هم د هغه عبادت (اطاعت) په هر حال کښے لازم دے آیا

اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ

د الله نه (دبل چا نه) | تاسو یَرَه کوئ | او هغه | چه دے په تاسو باندے | څه نعمت | نو (هغه) د الله د طرف نه دی

(بیا هم) تاسو د الله تعالی نه سوا دبل چا نه یریږئ او تاسو ته چه کوم نعمتونه حاصل دی هغه ټول د الله تعالی

ثُمَّ اِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَاِلَیْهِ تَجْـَٔرُوْنَ ﴿۵۳﴾ ثُمَّ اِذَا

بیا | کله چه | اورسیږی تاسوته | تکلیف | نو خاص هغه ته | تاسو فریاد کوئ | بیا | کله چه

د طرف نه دی بیا چه کله تاسو ته څه تکلیف اورسیږی نو هم هغه ته تاسو فریاد کوئ بیا چه کله هغه الله

كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ اِذَا فَرِیْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ یُشْرِكُوْنَ ﴿۵۴﴾

هغه لرے کړی | تکلیف | تاسونه | نو هم هغه وخت | یوه ډله | ستاسونه | د رب خپل سره | شریکان جوړوی

تاسو نه تکلیف لرے کړی نو په تاسو کښے څه خلق فورا د خپل رب سره شرک شروع کوی نو انجام داشی چه مونږ ورته

لِيَكْفُرُوا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ؕ فَتَمَتَّعُوْا ۫ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۵﴾

انجلۍ کار دوی ناشکری لو کړی | دهغه څه | چه مونږ ورکړی دی دوی ته | پس مزے (فائدے) واخلئ | پس ډیر زر به | تاسو پوهه شئ

کوم نعمت ور کړے دے دهغے ناشکری او کړی نو (ښه ده) (لږے) مزے او کړئ ډیر زر به درته پته اولګی ـ او چه دوی ته الله

وَيَجْعَلُوْنَ لِمَا لَا يَعْلَمُوْنَ نَصِيْبًا مِّمَّا رَزَقْنٰهُمْ ؕ

او دوی مقرروی | دهغه چا دپاره | چه هغوی علم نه لری | برخه | دهغه څه نه | چه مونږ ورکړی دی دوی ته

کوم رزق ور کړے دے په هغے کښے دهغه چا دپاره حصه مقرروی چه هغوی ته پخپله هم ددے لاړ و نو حقیقت نه دے معلوم

تَاللّٰهِ لَتُسْـَٔلُنَّ عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَيَجْعَلُوْنَ

قسم په الله | خامخا به پوښتنه کیږی تاسو نه | دهغه څه باره کښے | چه تاسو به | دځان نه جوړول (ترل) | او دوی مقرروی

په الله قسم ! تاسو چه کوم دروغ جوړوئ دهغے به درنه خامخا پوښتنه کیږی ـ او دوی الله تعالیٰ لره لونډه مقرروی

لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ ۙ وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذَا بُشِّرَ

الله لره | لونډه | پاک دے دهغه (ددے نه) | اودوی دپاره دی | هغه څه | چه دوی غواړی | اوکله چه | زیږدے ورکړے شی

حالانکه هغه پاک دے او پخپله دځان دپاره هغه څه غواړی چه ددوی دخواهش مطابق وی ـ اوکله چه په دوی کښے

اَحَدُهُمْ بِالْاُنْثٰى ظَلَّ وَجْهُهٗ مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۵۸﴾ ۚ

یوتن ته په دوی کښے | د جینئ | نوشی | مخ ددۀ | تک تور | په دا لے حال کښے چه دے | دلته وی دغم نه

یو کس ته دلور زیږدے ورکړے شی نو مخ ئے تک تور شی او په زړه کښے ډیر خفه (غمژن وی)

يَتَوَارٰى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوْٓءِ مَا بُشِّرَ بِهٖ ؕ

پټیږی | د قوم (خلقو) نه | دوجے د بد هغه زیږدے نه | چه هغه ته زیږدے ورکړے شوے دے | دهغے

اود کوم څیز زیږدے چه ورکړے شوے دے دهغے د شرم دوجے د خلقو نه پټ کرځی (ځان پټوی)

اَيُمْسِكُهٗ عَلٰى هُوْنٍ اَمْ يَدُسُّهٗ فِى التُّرَابِ ؕ اَلَا سَآءَ

چه آیا اوساتی هغه ښکته | په ذلت سره | یا اومنډی هغه | په خاورو کښے | خبردار ! | بد دے

او داسوچ کوی چه ذلت برداشت کړی او داژوندئ پریږدی یا ئے خاورو کښے ښخه کړی او کوره دوی څومره بد ده

مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۵۹﴾ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ مَثَلُ السَّوْءِ ۚ

هغه | چه دوی ئے فیصله کوی | دهغه چا | چه ایمان نه راوړی | په آخرت | مثال | بد دے

فیصله کوی کوم خلق چه آخرت نه منی دهغوی دپاره ډیر بد مثال دے

وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۶۰﴾ ع وَلَوْ يُؤَاخِذُ

اوالله دپاره | مثال (صفت) دے | دټولو نه اوچت | اوهغه دے | زور آور | حکمت والا | اوکه چرے | رانیولے

او دلوئے درجے (اوچت) صفتونه صرف دالله تعالیٰ دی او هغه ډیر زور اور (غالب) او حکمت والا ذات دے او که الله تعالیٰ

اللّٰهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِنْ دَآبَّةٍ

الله | خلق | دوئ د ظلم نو په وجه | نه به ئے ږدے پریښودلے | په مخ د دے (زمکے) | یو دساه والا څیز (هم)

دا خلق د دوی د ظلم په وجه فوراً رانیولے نو په مخ د زمکه به ئے یو جاندار (ساه والا څیز) هم نه وے پریښودے

وَلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ

لیکن | هغه وروستو کوی دوی | تروخت (نیټې) | مقرر پورے | بیا چه کله | راشی | مقرروخت (نیټه) ددوی

لیکن الله تعالی دوی ته دیو مقرروخته پورے مهلت ورکوی بیا چه کله ددوی هغه مقرر وخت راشی

لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ۝ وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ

نونه به دوی وروستو کیدے شی | یو ساعت | او نه به مخکښ کیدے شی | او دوی مقرروی | دالله دپاره

نو یو ساعت به ترے دوی مخکښ وروستو کیدے نشی او دوی الله تعالی لره هغه څه مقرروی

مَا يَكْرَهُوْنَ وَتَصِفُ اَلْسِنَتُهُمُ الْكَذِبَ اَنَّ لَهُمُ

هغه څه | چه دوی ځان لپاره کنړی | او وائی (بیانوی) | ژبے ددوی | دروغ | داچه بیشکه | دوی دپاره

چه خان دپاره ځانه خوښوی (غواړی) اوبیا هم ددوی ژبے دا دروغ وائی چه (دقیامت په ورځ به) ددوی دپاره

الْحُسْنٰى ؕ لَا جَرَمَ اَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَاَنَّهُمْ مُّفْرَطُوْنَ ۝

بنه حال (جنت) دے | خامخا | بیشکه | ددوی دپاره دے | اور | اوبیشکه دوی به | مخکښ لیږلے شی (دوزخ ته)

بنه بدله (نجات) وی یقینی خبره ده چه ددوی دپاره اور تیار دے او دوی به ورته دتولو نه مخکښ اولیږلے شی

تَاللّٰهِ لَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ

قسم په الله | یقیناً | لیږلی دی مونږ (پیغمبران) | امتونو ته | مخکښ ستا نه | پس بنائسته کړی وو | هغوی ته

په الله قسم! یقیناً ستانه مخکښ امتونو ته هم مونږ خپل پیغمبران لیږلی وو، خو بیا به هم شیطان هغوی ته خپل بد عملونه

الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ

شیطان | (بد) عملونه خپل | پس هغه | ملګرے دے ددوی | نن ورځ | او ددوی دپاره | عذاب دے

بنائسته بنکاره کړل نو هغه (شیطان) نن هم ددوی ملګرے (سرپرست) دے او ددوی دپاره دردناک عذاب تیار دے

اَلِيْمٌ ۝ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ

دردناک | او مونږ نه دے نازل کړے | تاته | کتاب | مګر | دے دپاره چه ته بیان کړے | دوی ته

او مونږ تاته کتاب هم ددے دپاره لیږلے دے چه ته دوی ته دهغه خبرو وضاحت او کړے

الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ۙ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۝

هغه څه | چه دوی اختلاف کړے دے | په هغے کښے | او هدایت | او رحمت دے | دپاره دهغه قوم | چه ایمان راوړی

چه دوی پکښے اختلاف کړے دے او مومنانو دپاره هدایت او رحمت دے

وَاللّٰهُ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

او الله | راوروی دی | د آسمان نه | اوبه | پس ژوندئ کړے ځمکه | په هغے سره | زمکه

او الله تعالی د آسمان نه اوبه راوروی دی (راوروی) نو په هغے سره ئے زمکه د او چیدو

بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ۝ ع

پس | د مرګ دهغے نه | بیشکه | په دے کښے | خامخا نخبنه ده | دپاره دهغه قوم | چه آوری

نه پس بیا تازه کړے ده یقیناً په دے کښے دهغه خلقو دپاره لویه نخبنه پرته ده چه خبرے ته غوږ ږدی

وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا

او بیشکه | ستاسو دپاره | په څاروو کښے | خامخا عبرت دے | مونږ څکوو په تاسو | دهغه څه نه

او یقیناً ستاسو دپاره (خو) په څاروو کښے هم لوئے عبرت (سبق) شته. مونږ

فِيْ بُطُوْنِهٖ مِنْۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا

چه دوی په خیتو کښے دی | د مینځ | دغوشیانو (سوتو) | او د وینے نه | پاکه | صفا (سوچه)

دهغے په خیتو کښے چه کوم غوشیان او وینه ده دهغے د مینځ نه مونږ تاسو له دا سے صفا پاکه درکوو

سَآئِغًا لِّلشّٰرِبِيْنَ ۝ وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ

چه آسان تیریدونکی وی | څکونکو دپاره | او د میوو | د قجورو | او د انګورونه

چه څکونکی دپاره ډیر خوشګوار وی او د قجورو او د انګورو د میوو نه هم تاسو

تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّرِزْقًا حَسَنًا ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

تاسو جوړوئ | دهغے نه | دنشے څیزونه | او خوراک (روزی) | ښه (مزیدار) | بیشکه | په دے کښے

د نشے څیزونه جوړوئ او ښه رزق (ترے هم حاصلوئ). یقیناً په دے کښے

لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝ وَاَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ

خامخا نښه ده | دپاره دهغه قوم | چه عقل لری | او په زړه کښے اچولے ده | رب ستا | د شاتو مچئ ته

د عقل مند و خلقو دپاره لویه نښه ده او ستا رب د شاتو مچئ ته په زړه کښے دا خبره اچولے ده

اَنِ اتَّخِذِيْ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا وَّمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا

(دا خبره) چه جوړوه | د غرونو نه | کورونه | او د اونو نه | او د هغه څه نه

چه په غرونو کښے او په اونو کښے او په هغه ځایونو کښے چه دا خلق ئے آبادوی

يَعْرِشُوْنَ ۝ ثُمَّ كُلِيْ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِيْ سُبُلَ

چه دوی ئے چتونه جوړوی | بیا | خوره ته | د هر قسم | میوو نه | بیا څه (روانه شه) | په لاره

خپل کورونه جوړ کړه بیا د هر قسم بوټونه خپل خوراک حاصل کړه بیا د خپل رب په هغه لاره باندے څه

رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخْرُجُ مِنْۢ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ

د رب خپل | چه آسانے دی تاته | راوځی | د خیتو دهغے نه | د څکلو څیز | چه مختلف دی

چه هغه درته آسانے کړے دی د هغه شان دهغے د خیتو نه مختلف رنګونو والا د څکلو یو څیز

اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

رنګونه دهغے | په دے کښے | علاج دے | د خلقو دپاره | بیشکه | په دے کښے | خامخا نښه ده

(شات) راوځی چه په کښے د خلقو دپاره علاج دے یقیناً په دے کښے دهغه خلقو دپاره لویه نښه ده

لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ۝ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفّٰىكُمْ ۙ وَمِنْكُمْ

دپاره دهغه قوم | چه فکر کوی | او الله | پیدا کړی یئ تاسو | بیا به | مړه کوی تاسو | او بعضے ستاسو نه

چه غور او فکر کوی او الله تعالیٰ تاسو پیدا کړی یئ بیا هم هغه به تاسو مړه کوی او په تاسو کښے بعضے خلق دا سے دی چه

مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ

هغه څوك دی | چه واپس (کړے) شی | د خوارئ عمر ته | انجام ئے داشی چه هغه نه پوهیږی | پس | د پوهے نه

ناکاره عمر ته رسی نو نتیجه ئے داشی چه پس د علم نه په هیڅ نه پوهیږی یقیناً الله تعالی لوے علم والا

شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝ وَاللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ

په هیڅ څیز | بیشکه | الله | ښه پوهه | قدرت والا دے | او الله | غوره کړی دی | بعضے ستاسو

لوئے قدرت والا ذات دے۔ او الله تعالی په رزق کښے تاسو له

عَلٰى بَعْضٍ فِى الرِّزْقِ ۚ فَمَا الَّذِيْنَ فُضِّلُوْا بِرَآدِّىْ

په بعضو نورو باندے | په رزق کښے | پس نه دی | هغه خلق | چه غوره کړی شوی دی | ورکونکی

په یو بل باندے فضیلت درکړے دے نو چا ته چه فضیلت ورکړے شوے دے هغوی خپل رزق خپلو

رِزْقِهِمْ عَلٰى مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَهُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ ؕ

درزق خپل | هغه چا ته | چه مالکان دی | ښی لاسونه ددوی | چه شی دوی (ټول) | په هغے کښے | برابر

غلامانو ته داسے نه ورکوی چه ټول په کښے بطور اختیار برابر شی نو آیا داخلق د الله تعالی

اَفَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ۝ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ

آیا نو د نعمت | د الله نه | دوی انکار کوی | او الله | پیدا کړی دی | ستاسو دپاره | هم ستاسو دنفسونو نه

د نعمت نه انکار کوی او هم الله تعالی ستاسو د جنس نه ستاسو دپاره ښځے

اَزْوَاجًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ بَنِيْنَ وَحَفَدَةً

ښځے | او پیدا کړی ئے دی | ستاسو دپاره | ستاسو د ښځو نه | څامن | او نوسی

(جوړے) پیدا کړی دی او ستاسو د ښځو نه ئے ستاسو دپاره څامن او نسی پیدا کړی دی

وَّرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ اَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُوْنَ وَبِنِعْمَةِ اللّٰهِ

او درزق کړے ئے ستاسو ته رزق | دپاکو څیزونو نه | آیا نو په باطل باندے | دوی ایمان راوړی | او په نعمت | د الله باندے

او پاکیزه رزقونه ئے هم درکړی دی نو آیا بیا هم داخلق په باطل (بے بنیاده خبرو) باندے ایمان راوړی او د الله تعالی

هُمْ يَكْفُرُوْنَ ۝ وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ

دوی | کفر کوی | او دوی بندگی کوی | سوا | د الله نه | دهغه څه | چه اختیار نه لری

د نعمت نه انکار کوی۔ او د الله تعالی نه سوا دهغه چا عبادت کوی چه هغه دوی ته

لَهُمْ رِزْقًا مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ۝

د دوی دپاره | د رزق | د آسمانونو | او د زمکے نه | د هیڅ هم | اونه ددوی وس رسی

د اسمانونو او د زمکے نه د هیڅ قسم رزق ورکولو اختیار نه لری او نه ددے وس لرے شی

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الْاَمْثَالَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

پس مه بیانوئ | د الله دپاره | مثالونه | بیشکه | الله | پوهیږی | او تاسو | نه پوهیږئ

نو بس تاسو د الله تعالی دپاره غلط مثالونه د تشبیه مه بیانوئ، یقیناً الله پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوْكًا لَّا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ

بیان کړے دے | الله | مثال | دیو بنده | چه دبل په قبضه کښے وی | وَس نه لری | د هیڅ څیز

الله تعالی مثال بیانوی چه یو غلام دے چه دبل چا په اختیار کښے دے او په هیڅ څیز ئے پخپله قدرت نه رسی

وَمَنْ رَّزَقْنٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ

او بل طرف ته یو داسے آزاد کس دے چه مونږ ورته ښائسته رزق ورکړے دے | رزق | ښائسته | پس هغه | خرچ کوی

او بل طرف ته یو داسے آزاد کس دے چه مونږ ورته ښائسته رزق ورکړے دے او هغه په خپل اختیار سره دهغے نه

مِنْهُ سِرًّا وَّجَهْرًا ؕ هَلْ يَسْتَوٗنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ

د هغے نه | په پټه | او په ښکاره | آیا | دوی برابر کیدے شی؟ | حمد ونه دی | د الله دپاره | لیکن

په پټه او په ښکاره خرچ کوی آیا دا دواړه برابر کیدے شی؟ حمد ونه دالله دپاره دی (په وضاحت کولو دَمثال) لیکن

اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ اَحَدُهُمَآ

اکثر ددوی نه | نه پوهیږی | او بیان کړے دے | الله | یو مثال | د دوۀ سړو | یو په دے دواړو کښے

اکثر خلق نه پوهیږی او الله تعالی یو بل مثال بیانوی چه یو دوه کسان دی چه یو په کښے

اَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُوَ كَلٌّ عَلٰى مَوْلٰىهُ ۙ

گونگا دے | چه وَس نه لری | د هیڅ څیز | او هغه | بوج دے | په خپل مالک باندے

گونگا دے چه هیڅ کار نشی کولے او خپل مالك باندے بوج دے چه کوم ځائے ته ئے

اَيْنَمَا يُوَجِّهْهُّ لَا يَاْتِ بِخَيْرٍ ؕ هَلْ يَسْتَوِيْ هُوَ ۙ

کوم ځائے ته ئے | چه دے لیږی | نو نه راوړی | څه خیر | آیا | برابر دے | هغه

لیږی نو څه خیر نه راوړی (دا معبودِ باطل دے) آیا دا سے کس دهغه چا برابر کیدے شی چه هغه نور وته

وَمَنْ يَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ ع

او هغه څوک | چه حکم کوی | په انصاف | او هغه دے | په لاره | نیغه

د عدل او انصاف حکم کوی او پخپله هم په نیغه لار (روان) وی (دا معبودِ حق دے)

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَآ اَمْرُ السَّاعَةِ

او خاص الله لره دے | (علم) د پټو خبرو | د آسمانونو | او د زمکے | او نه ده | معامله | د قیامت

او د آسمانونو او د زمکے پټول د غیبو خبرو یوا ځے الله تعالی سره دے ، او د قیامت راتلل (د الله تعالی په نزد)

اِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ اَوْ هُوَ اَقْرَبُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ

مګر | په شان د رَپ | د سترګے | یا | هغه | زیات نزدے دے (دے نه هم) | بیشکه | الله | په هر

دا سے دی لکه د سترګے رپیدل بلکه ددے هم زیات نزدے یقیناً الله تعالی په هر څه باندے

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِّنْۢ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

څیز باندے | قادر دے | او الله | راویستلی یی تاسو | د خیټو | د مَیندو ستاسو نه

قدرت لری او الله تعالی تاسو د خپلو میندو د خیټو نه په دا سے حالت کښے راویستلئ

لَا تَعْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۙ وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ

چه نه پوهیدئ تاسو | په هیڅ څیز | او درکړی ئے دی | تاسو ته | غوږونه | او سترګے

چه تاسو په هیڅ نه پوهیدئ او هغه تاسو له غوږونه اوسترګے او زړونه دے دپاره

وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۸﴾ اَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ

او زړونه | دے دپاره چه تاسو | شکر اوباسئ | آیا نه کوری دوی | مارغانو ته

درکړی دی چه تاسو شکر ادا کړئ آیا دے خلقو مارغان نه دی لیدلی چه د آسمان په فضا کښے

مُسَخَّرٰتٍ فِيْ جَوِّ السَّمَآءِ ؕ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ ؕ اِنَّ

چه تابع کړے شوے دی | په فضا | د آسمان کښے | نه راتینګوی دوی | مګر | الله | بیشکه

د الله تعالی د حکم پابند دی . دوی صرف الله راتینګ کړی دی یقینا

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۷۹﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ

په دے کښے | خامخا ډیرے نښے دی | دپاره دهغه خلقو | چه ایمان لری | او الله | جوړ کړی دی | ستاسو دپاره

په دے کښے دهغه خلقو دپاره ډیرے نښے دی چه ایمان لری او الله تعالی ستاسو دپاره

مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ

دکورونو ستاسو نه | د آرام ځایونه | اوجوړ کړی ئے دی | ستاسو دپاره | د څرمنو | د څاروونه

ستاسو کورونه د ارام ځایونه جوړ کړی دی او ستاسو دپاره ئے د څاروو د څرمنو نه

بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ اِقَامَتِكُمْ ۙ

کورونه (خیمے) | چه تاسو سپک مومئ هغه | په ورځ | د سفر خپل | او په ورځ | د ډیره کیدو ستاسو کښ

دا سے کورونه جوړ کړی دی چه تاسو ئے د سفر په ورځ او د قیام په ورځ سپک (اسان) محسوسوئ

وَمِنْ اَصْوَافِهَا وَاَوْبَارِهَا وَاَشْعَارِهَآ اَثَاثًا وَّمَتَاعًا

او د وړئ دهغے نه | او د پشمونو دهغے نه | او د ویښتو دهغے نه | سامان | او د فائدے څیزونه

او دهغے د وړئ او د پشم او د ویښتونه ئے د کور (داستعمال) سامان او نور دا سے څیزونه پیدا (جوړ) کړی دی

اِلٰى حِيْنٍ ﴿۸۰﴾ وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّمَّا خَلَقَ ظِلٰلًا

تر یو وخت پورے | او الله | پیدا کړی دی | ستاسو دپاره | دهغه څه نه | چه پیدا کړی ئے دی | سوری

چه څه وخته پورے به تاسو ته فائده رسوی او الله تعالی دخپلو پیدا کړو څیزونو نه ستاسو دپاره سوری پیدا کړی دی

وَّجَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الْجِبَالِ اَكْنَانًا وَّجَعَلَ لَكُمْ

اوجوړ کړی ئے دی | ستاسو دپاره | په غرونو کښے | غارونه | اوپیدا کړی ئے دی | ستاسو دپاره

اوستاسو دپاره ئے په غرونو کښے دپناه ځایونه (غارونه) جوړ کړی دی او ستاسو دپاره ئے دا سے قمیصونه

سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ ؕ

(دا سے قمیصونه (جامے) | چه ساتی تاسو | د ګرمئ نه | او (دا سے قمیصونه (زغرے) | چه بچ کوی تاسو | ستاسو د جنګ نه

(جامے) پیدا کړی دی چه د ګرمئ نه مو بچ کوی او دا سے قمیصونه (جامے) هم چه ستاسو په جنګونو کښے ستاسو حفاظت کوی

كَذٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُوْنَ ۝

هم دغه شان هغه (الله) | پوره کوی | نعمت خپل | په تاسو باندے | دے دپاره چه تاسو | مسلمانان شئ (حکم ومنئ)

دغه شان هغه په تاسو باندے خپل نعمتونه دے دپاره پوره کوی چه تاسو مسلمانان (فرمانبردار) جوړ شئ

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝ يَعْرِفُوْنَ

پس که چرے | دوی مخ واړوی | نو بیشکه | په تاباندے دی | رسول | ښکاره | دوی پیژنی

که بیا هم داکافران مخ اړوی نو اے پیغمبره! ستاذمه داری خو صرف صفا رسول دی داخلق دالله نعمتونه

نِعْمَتَ اللّٰهِ ثُمَّ يُنْكِرُوْنَهَا وَاَكْثَرُهُمُ الْكٰفِرُوْنَ ۝ وَيَوْمَ ع

نعمت | د الله | بیا (هم) | انکار کوی دهغے نه | او اکثر دَدوی نه | ناشکره دی | او په هغه ورځ

پیژنی بیا هم ترے نه انکار کوی او اکثر پکښے ناشکره دی او هغه ورځ یاده کړه کله چه

نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِيْنَ

چه مونږ به راپاڅوو | د هر یَو | امت نه | گواه | بیا به | اجازت ورنکړے شي | هغه خلقو ته

مونږ د هر یو اُمت نه یو گواه راپاڅوؤ بیا به کافرانو ته د عذر پیش کولو اجازت نه ملاویږی

كَفَرُوْا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ۝ وَاِذَا رَاَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

چه کفر ئے کړے دے | اونه به دوی ته | دتوبے وئیلے شي | اوکله چه | اوویني | هغه خلق | چه ظلم ئے کړے دے

او نه به ورته د توبے کولو فرمائش کیږی او کله چه ظالمان عذاب په خپلو سترګو اوویني

الْعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ۝ وَاِذَا

عذاب لره | نوکم به نه کړے شي | د دوی نه عذاب | اونه به دوی ته | مهلت ورکړے شي | اوکله چه

نو نه خو به ئے عذاب کم (سپک) کړے شي او نه به ورته (نور) مهلت ورکړے شي اوکله چه

رَاَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا شُرَكَآءَهُمْ قَالُوْا رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ

اوویني | هغه خلق | چه شرک ئے کړے دے | شریکان خپل | نو اوبه وائی | اے ربه زمونږ! | دا دی

مشرکان خپل (جوړ کړی) شریکان اوویني نو وائی به چه اے زمونږ ربه! دا دی زمونږ هغه (جوړ کړی)

شُرَكَآؤُنَا الَّذِيْنَ كُنَّا نَدْعُوْا مِنْ دُوْنِكَ ۚ فَاَلْقَوْا اِلَيْهِمُ

شریکان زمونږ | هغه چه | مونږ به رابلل | سوا ستا نه | پس هغوی به اوغورځوی | دوی ته

شریکان چه مونږ به ستا نه سوا رابلل نو هغوی به ورله جواب ورکړی

الْقَوْلَ اِنَّكُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝ وَاَلْقَوْا اِلَى اللّٰهِ يَوْمَئِذِ ِۨالسَّلَمَ

داجواب | چه بیشکه تاسو | دروغژن یئ | اوپیش به کړی دوی | الله ته | په دغه ورځ | فرمانبرداری

چه تاسو خو دروغ وایئ اودوی به په دغه ورځ دالله تعالی مخے ته دفرمانبرداری خبرے شروع کړی

وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اوورک به شي | د دوی نه | هغه څه | چه دوی به | دځان نه ترل | هغه خلق | چه کفر ئے کړے دے

اوکوم دلیلونه دشرک یا اُمیدونه دَدشفارس چه دوی جوړ کړی دی هغه ټول به ترے نه ورک شي چاچه کفر کړے دے

وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ زِدْنٰهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ

اومنع کړی ئے دی (خلق) | د لارے | د الله نه | زیاتوؤ یه مونږ دوی لره | عذاب | د پاسه | د عذاب

او د الله تعالی دلارے نه ئے خلق بند کړی دی هغوی له به مونږ عذاب د پاسه عذاب زیاتوو ځکه

بِمَا كَانُوْا يُفْسِدُوْنَ ﴿۸۸﴾ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ

په ځے وجه | چه هغوی به | فساد کولو | اوپه هغه ورځ | چه مونږ به راپاڅوو | په هر یَو | امت کښے

چه دوی به فساد خورولو او هغه ورځ هم یاده کړه چه مونږ به په هر امت کښے د هغوی په خلاف

شَهِيْدًا عَلَيْهِمْ مِّنْ اَنْفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيْدًا

یَو گواه | په هغوی باندے | هم د هغوی دنفسونونه | او را به ولو مونږ | تا | گواه

د هغوی نه گواه راپاڅوو. او (اے پیغمبره!) تا به د دے خلقو په خلاف گواهۍ

عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ

په دے خلقو باندے | او مونږ نازل کړے دے | تا باندے | کتاب | وضاحت کونکے | د هر یَو | څیز

د پاڼه راولو او مونږ په تا باندے دا سے کتاب نازل کړے دے چه په هغے کښے د هر ضروری څیز پوره اصولی وضاحت

وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴿۸۹﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ

او هدایت | او رحمت | او زیرے | د مسلمانانو دپاره | بیشکه | الله | حکم کوی

او د مسلمانانو دپاره هدایت، رحمت او زیرے دے۔ یقیناً الله تعالی

بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآئِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ

دانصاف (کولو) | او دنیکۍ (احسان) | او د مدد کولو | خپلوانو سره | او منع کوی | د بے حیایئ نه

د انصاف، د احسان او خپلوانو ته (د حقونو) د ورکولو حکم کوی او د بے حیایئ

وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۹۰﴾ وَاَوْفُوْا

او بدئ (گناه) نه | او د ظلم نه | هغه نصیحت کوی تاسو ته | دے دپاره چه تاسو | نصیحت واخلئ | او پوره کړئ

بدئ او د ظلم نه منع کوی، او تاسو ته نصیحت دده دے دپاره کوی چه تاسو نصیحت قبول کړئ

بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْاَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيْدِهَا

وعده | د الله | کله چه | تاسو وعده او کړئ | او مهٔ ماتوئ | قسمونه | پس | د پخولو د هغے نه

او کله چه تاسو د الله سره عهد او کړئ نو هغه پوره کړئ او قسمونه د پخولو نه پس مه ماتوئ

وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَيْكُمْ كَفِيْلًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ

او حال داچه | تاسو جوړ کړی وی | الله | په خپلو ځانونو باندے | ذموار (گواه) | بیشکه | الله | پوهه دے

حالانکه تاسو الله تعالی په خپل ځان باندے گواه جوړ کړے دے تاسو چه څه کوئ الله تعالی

مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا

په هغه څه | چه تاسو ئے کوئ | او تاسو مه کیږئ | په شان د هغه ښځے | چه سپرلی ئے | خپل ریشمی تار و نه (سپنږسی)

په هغے پوهه دے او تاسو د هغے ښځے په شان مه کیږئ چه خپل تار و نه ئے

مِنۡۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ اَنۡكَاثًا ؕ تَتَّخِذُوۡنَ اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًا

رُوستو | د مضبوطوالی نه | تو تے تو تے | تاسو جوړوئ | قسمونه خپل | ذریعه د دھوکے (تګ)
د مضبوطولو نه پس تو تے تو تے (ریښه ریښه) کړل چه تاسو هم خپل قسمونه دفساد (او دھوکے) ذریعه

بَيۡنَكُمۡ اَنۡ تَكُوۡنَ اُمَّةٌ هِىَ اَرۡبٰى مِنۡ اُمَّةٍ ؕ اِنَّمَا

په خپل مینځ کښے | په دے وجه | چه شته | یوه ډله | زیات مال (فائدو) والا | د یلے ډلے نه | بیشکه
جوړه کړئ صرف په دے غرض چه څه خلق دنورو نه زیاته فائده حاصله کړی (خبره داده چه) ددے

يَبۡلُوۡكُمُ اللّٰهُ بِهٖ ؕ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَـكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ مَا كُنۡتُمۡ

ازمیښت کوی په تاسو | الله | په دے سره | اوخامخا بیان کړی | تاسوته | په ورځ | د قیامت | هغه څه | چه تاسو به
په ذریعه خو الله تعالیٰ تاسو ازمائی . او تاسو چه په کومو خبرو کښے اختلاف کولو د قیامت په ورځ به درته دهغے

فِيۡهِ تَخۡتَلِفُوۡنَ ﴿۹۲﴾ وَلَوۡ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمۡ اُمَّةً وَّاحِدَةً

په هغے کښے | اختلاف کولو | او که چرے | غوښتلے | الله | نوخامخا جوړ کړی به ئے تاسو | امت (ډله) | یوه
حقیقت ښکاره کړی او که الله تعالیٰ غوښتلے نو تاسو به ئے یو جماعت (ډله) جوړ کړے وے

وَّلٰكِنۡ يُّضِلُّ مَنۡ يَّشَآءُ وَيَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَلَتُسۡـَٔـلُنَّ

لیکن | گمراه کوی هغه | چا لره | چه اوغواړی | اوهدایت کوی | چا ته ئے چه | خوښه شی | اوخامخا به تاسو نه تپوس کیږی
لیکن هغه چه چا لره اوغواړی گمراه ئے کړی او چا لره چه اوغواړی نو په سمه لار ئے روان کړی . او تاسو چه

عَمَّا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۹۳﴾ وَلَا تَتَّخِذُوۡۤا اَيۡمَانَكُمۡ دَخَلًا ۢ بَيۡنَكُمۡ

دهغه عملونو چه تاسو به کول | او مه جوړوئ | خپل قسمونه | ذریعه د تګ | په خپل مینځ کښے
څه کوئ د هغے باره کښے به درنه خامخا تپوس کیږی او (اے مقتدا کانو) تاسو هم خپل قسمونه په خپل مینځ کښے

فَتَزِلَّ قَدَمٌ ۢ بَعۡدَ ثُبُوۡتِهَا وَتَذُوۡقُوا السُّوۡٓءَ بِمَا

گنی او به خوئیږی | قدم | وروستو | د کلکوالی د هغے نه | او وبه څکئ تاسو | عذاب (بدانجامه) | په دے وجه
د فساد (او د تګ) ذریعه مه جوړوئ چه په نتیجه کښے ئے هسے نه چه د چا قدم د مضبوطیا نه پس

صَدَدۡتُّمۡ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ۚ وَلَـكُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۹۴﴾

چه تاسو منع کړل خلق | د لارے | د الله نه | او تاسو د پاره | عذاب دے | ډیر لوئے
او خو یږی او بیا تاسو ته د الله د لارے نه د منع کولو په وجه تکلیف ورسی او تاسو د پاره ډیر لوے عذاب دے

وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِعَهۡدِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ اِنَّمَا عِنۡدَ اللّٰهِ

او مه اخلئ | په وعده | د الله | قیمت (پیسے) | لږے | بیشکه هغه څه | چه دی | د الله سره
او د الله تعالیٰ عهد د لږ قیمت په عوض مه خرڅوئ که تاسو په حقیقت پوهیږئ نو الله تعالیٰ سره چه څه (اجر) دے

هُوَ خَيۡرٌ لَّـكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۵﴾ مَا عِنۡدَكُمۡ يَنۡفَدُ

هغه | ډیر غوره دی | ستاسو د پاره | که چرے | تاسو | پوهیږئ | هغه څه | چه تاسو سره دی | هغه به ختمیږی
هغه تاسو د پاره ډیر غوره (بهتر) دے که چه تاسو سره چه څه هم دی هغه ټول به ختم شی

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ ؕ وَلَنَجْزِيَنَّ الَّذِيْنَ صَبَرُوْٓا

اوهغه څه | چه دالله سره دی | هغه پاتے کیدونکی دی | اوخامخا به مونږ ورکوو | هغه خلقوته | چه صبر ئے کړے دے

او الله تعالی سره چه څه دی هغه به همیشه باقی وی ـ او چا چه د صبر نه کار اغستلے وی

اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا

دهغوی اجر | ډیر غوره (بهتر) | دهغه عملونه | چه دوی به کول | څوك چه | عمل اوکړی | نیك

هغوی ته به مونږ دهغوی دکارونو مطابق بهترین اجر خامخا ورکوو چاهم چه دایمان په حالت کښے نیك عمل

مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ

نارینه وی | او که زنانه | اوحال داچه هغه | مومن وی | نوخامخا به ورکړو مونږ هغه ته | ژوند | پاکیزه (مزے دار)

کړے وی نارینه وی که زنانه ، نو مونږ به ورله خامخا پاکیزه (مزیدار دارام) ژوند ورکړو (په دنیا کښے)

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝ فَاِذَا

اوخامخا به ورکړو مونږ هغوی ته | اجر دهغوی | ډیر غوره | دهغه عملونه | چه دوی به | کول | پس کله چه

او (په آخرت کښے به هم) دهغوی دکارونو مطابق بهترین اجر خامخا ورکوو ـ نو کله هم چه

قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۝ اِنَّهٗ

لولے ته | قرآن | نو پناه غواړه | په الله سره | د شیطان | رټلی شوی نه | بیشکه

ته د قران دلوستلو ارادہ اوکړے نو د مردود شیطان (دشر) نه په الله تعالی پناه غواړه یقیناً دده وس

لَيْسَ لَهٗ سُلْطٰنٌ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ

نشته (دے) | دده | څه وس (زور) | په هغه خلقو باندے | چه ایمان ئے راوړے دے | اوپه خپل رب باندے

(قابو) په هغه خلقو نه رسی چه ایمان ئے راوړے دے او په خپل رب باندے

يَتَوَكَّلُوْنَ ۝ اِنَّمَا سُلْطٰنُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يَتَوَلَّوْنَهٗ وَالَّذِيْنَ

توکل کوی | بیشکه | وس (زور) دده | په هغه خلقو باندے شته | چه هغوی دوستی کوی دده سره | اوپه هغه خلقو باندے

څانونه سپاری دده وس خو په هغه خلقو رسی چه ده سره دوستی کوی اودده دوسو سو په وجه

هُمْ بِهٖ مُشْرِكُوْنَ ۝ وَاِذَا بَدَّلْنَآ اٰيَةً مَّكَانَ اٰيَةٍ ۙ

چه هغوی | دده دوسو سے په وجه | شرك کونکی دی | او کله چه | مونږ بدل کړو | یو آیت | په ځائے | دبل ایت

د الله سره شرك کوی او کله چه مونږ یو آیت په بل آیت سره بدل کړو

وَّاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مُفْتَرٍ ؕ

او الله | ښه پوهه دے | په هغه څه | چه هغه ئے نازلوی | نو دوی وائی | چه بیشکه | ته خو | دځان نه جوړولګے ئے

او الله تعالی چه څه نازلوی هغه ښه پیژنی نو دوی وائی چه یقیناً ته خو په الله تعالی باندے دروغ ترولګے ئے

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ

بلکه | اکثر دوی نه | نه پوهیږی | اووایه (چه) | راوړے دے داقرآن | پاك روح

بلکه په دوی کښے اکثر خلق په حقیقت نه پوهیږی ته ورته اووایه چه دا خو جبرئیل

مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى

ستا درب دطرف نه | په حق سره | دے دپاره چه کلك کړی | هغه خلق | چه ایمان ـ ړاوړے دے | او هدایت

ستا درب دطرفه په حقه ددے دپاره راوړے دے چه مومنان پرے مضبوط (کلك) کړی او دمسلمانانو (فرمانبردارو)

وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ۝ وَلَقَدْ نَعْلَمُ اَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ اِنَّمَا

اوزیږے دے | د مسلمانانو دپاره | او یقیناً | مونږ پوهیږو (په دے) | چه بیشکه دوی | وائی | چه بیشکه

دپاره هدایت او زیږے شی او (اے پیغمبره!) مونږ ته پته ده چه داخلق ستا باره کښے دا اوائی چه ده ته

يُعَلِّمُهٗ بَشَرٌ ؕ لِسَانُ الَّذِيْ يُلْحِدُوْنَ اِلَيْهِ اَعْجَمِيٌّ وَّهٰذَا

بنائی ده ته | یو انسان | ژبه | دهغه کس | چه دوی غلط نسبت کوی | هغه ته | عجمی ده | او دا (قرآن)

دا قرآن یو عجمی نصرانی انسان بنائی حالانکه دوی چه کوم سړی ته نسبت کوی دهغه ژبه خو عجمی ده او دا قران

لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِيْنٌ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۙ

ژبه | عربی ده | واضحه | بیشکه | هغه خلق | چه ایمان نه راوړی | په آیتونو | د الله

خو صفا عربی ژبه کښے دے ـ یقیناً څوك چه د الله تعالی په آیتونو باندے ایمان نه راوړی

لَا يَهْدِيْهِمُ اللّٰهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اِنَّمَا يَفْتَرِي

هدایت نه کوی هغوی ته | الله | او دهغوی دپاره | عذاب | دردناك دے | بیشکه | جوړوی

هغوی ته الله تعالی توفیق نه ور کوی او دهغوی دپاره دردناك عذاب (تیار) دے ـ یقیناً په الله باندے دروغ خو

الْكَذِبَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۝

دروغ | هغه خلق | چه ایمان نه لری | په آیتونو | د الله | اوهم داخلق | دروغژن دی

هغه څوك ترې چه د الله تعالی په ایتونو ایمان نه راوړی او په حقیقت کښے هم دا خلق دروغژن دی

مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ اِيْمَانِهٖٓ اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ

چاچه | کفر وکړو | په الله | پس | دایمان راوړلونه | سوا | دهغه چا نه | چه زور پرے اوکړے شو

څوك چه دایمان راوړونه پس په الله تعالی باندے کفر اوکړی سوا دهغه چا نه چه (چه څوك) په کفر کولو

وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ وَلٰكِنْ مَّنْ شَرَحَ بِالْكُفْرِ

اوزړۀ دهغه | کلك (مطمئن) وی | په ایمان | لیکن | چاچه | پرانستله | کفر ته

مجبوره کړے شی خو زړه ئے په ایمان باندے مطمئن وی . بلکه چاچه په کهلاؤ زړه کفر وکړو

صَدْرًا فَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ مِّنَ اللّٰهِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ

(خپله) سینه | نو په هغوی باندے | غضب دے | د الله | او دهغوی دپاره | عذاب دے

نو په هغوی باندے د الله غضب دے او د هغوی دپاره ډیر لوے عذاب تیار دے

عَظِيْمٌ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ۙ

ډیر لوے | دا ځکه | چه بیشکه دوی | خوښ کړے دے | ژوند | دنیوی | په آخرت باندے

دا ځکه چه دے خلقو د آخرت په مقابله کښے د دنیا ژوند زیات خوښ کړے دے

وَاَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

اودا(څکه)چه بیشکه | الله | هدایت نه کوی | قوم | کافرانو ته | دا | هغه خلق دی

او دا ځکه چه الله تعالی دا سے ناشکره (کافرانو) خلقو ته سمه لار نه ښائی هم ددے خلقو

طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ

چه مهرونه لګے | الله | په زړونو دَ دوی | اوپه غوږونو دَدوی | اوپه سترګو دَ دوی | اوهم دا خلق دی

په زړونو، غوږونو او سترګو باندے الله تعالی مهر لګولے دے او هم دا خلق

هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ۝ لَا جَرَمَ اَنَّهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝

بے پروا (بے خبره) | خامخا | بیشکه هم دوی | په آخرت کښے | نقصان موندونکی دی

دخپل انجام (ددین) نه غافله دی دالازمی خبره ده چه هم دوی به په آخرت کښے دتولو نه زیات تاوان کښے وی

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ هَاجَرُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا فُتِنُوْا

بیا | بیشکه | رب ستا | دهغه خلقو دپاره | چه هجرت ئے کړے دے | پس د دے نه | چه تکلیف ورکړے شوے وو

(د دے برعکس) بیا چا چه د تکلیفونو برداشت کولو نه پس هجرت وکړو

ثُمَّ جٰهَدُوْا وَصَبَرُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ

بیائے | جهاد وکړے دے | اوصبر ئے کړے دے | بیشکه | رب ستا | پس د دے عملونو نه | خامخا بخښونکے

بیائے جهاد وکړو اوصبر نه ئے ګاروا غستلو نو یقین اوساته چه دے دے تولو خبرونه پس ستا رب د ځ خلقو ته دیره بخښنه کونکے

رَّحِيْمٌ ۝ ع يَوْمَ تَاْتِيْ كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَنْ نَّفْسِهَا

مهربان دے | په هغه ورځ | چه رابه شی | هر یو کس | چه جګړه به کوی | دخپل طرف نه

اودیر مهربان دے۔ دا هر څه به په هغه ورځ وی چه کله به هر یو کس دخپل طرف نه د جګړے کولو دپاره راشی

وَتُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝

اوپوره به ورکړے شی | هر یو | کس ته | بدله دهغه عملونو | چه هغه کړی وی | اوپه دوی به | ظلم نه کیږی

او هر یو کس ته به دخپلو عملونو پوره پوره بدله ملاوشی او هیڅ ظلم به پرے نه کیږی

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ اٰمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَّاْتِيْهَا

اوبیان کړے دے | الله | مثال (حال) | دیو کلی | چه وو هغه | په امن | په اطمینان | راتلو به هغے ته

او الله تعالی دیو دا سے کلی مثال ورکوی (بیانوی) چه دیر په امن او اطمینان سره د هغے اهل اوسیدل

رِزْقُهَا رَغَدًا مِّنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِاَنْعُمِ اللّٰهِ

رزق د هغے | فراخه | د هر ځائے نه | نوناشکری اوکړه د هغه کلی | د نعمتونو | د الله

د هر طرف نه به ورته ښه فراخه رزق راتلو خو دالله تعالی دنعمتونو ناشکری ئے اوکړه نو دخپلو

فَاَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ۝

نو اوڅکوله هغے ته | الله | جامه | د لوږے | او د یرے | په سبب د هغه څه | چه دوی به | کول

عملونو په وجه الله تعالی هغوی باندے د امزه او ځکله چه لوږه تنده او یره د هغوی جامه جوړه شوه

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمُ

او یقینا | راغلے وو دوی ته | پیغمبر | هم د دوی نه | نو هغوی دروغژن وګڼلو هغه | پس را ونیول دوی لره

او یقیناً دوی ته هم د دوی نه یو پیغمبر راغلے وو خو دوی دروغژن او ګڼلو نو پس کله چه دوی ظلم اختیار کړو

الْعَذَابُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ۝ فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

عذاب | په حال کښے چه دوی | ظالمان وو | پس خورئ | د هغه څه نه | چه درکړی دی تاسو ته | الله

نو عذاب پرے راغے۔ نو الله تعالی چه کوم حلال پاکیزه څیزونه تاسو ته

حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ

حلال | پاکیزه | او شکر ادا کړئ | د نعمت | د الله | که چرے | تاسو | خاص دهغه

درزق په طور درکړی دی هغه خورئ او که تاسو واقعی دهغه عبادت کوئ نو د الله تعالی د نعمتونو

تَعْبُدُوْنَ ۝ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ

عبادت کوئ | بیشکه | هغه حرام کړی دی | په تاسو باندے | مردارہ | او وینه | او غوښه

شکر ادا کړئ۔ یقیناً هغه خو بس په تاسو باندے مردارہ ، وینه ، د خنزیر

الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ

د خنزیر | او هغه څه | چه نوم واغستلے شی | د غیر الله | په هغے باندے | پس څوك | چه مجبوره شو

غوښه او هغه څیز حرام کړے دے چه د غیر الله نوم پرے واغستلے شی البته (خو) څوك چه مجبوره شی

غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ وَلَا تَقُوْلُوْا

چه نه وی | سرکشی کوونکے | او د حد نه اوړیدونکے | نو بیشکه | الله | بخښونکے | مهربان دے | او مه وایئ تاسو

(او) دلذت د پاره ئے نه خوری (او) د ضرورت د حد نه هم نه اوړی نو الله تعالی ډیر بخښونکے ډیر مهربان دے

لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلٰلٌ وَّهٰذَا حَرَامٌ

هغه څه | چه بیانوی ئے | ستاسو ژبے | دروغ | چه دا | حلال دی | او دا | حرام دی

او د کومو څیزونو نوم بارہ کښے چه ستاسو ژبے دروغ خبرے جوړوی نو دا مه وایئ چه دا حلال دی او دا حرام دی

لِّتَفْتَرُوْا عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ

نتیجه به داشی چه تاسو به الله تړئ | په الله باندے | دروغ | بیشکه | هغه خلق | چه تړی (جوړوی) | په الله باندے

څکه چه دد ے مطلب خو به دا وی چه تاسو به په الله باندے دروغ اوتړئ. یقین اوسائ څوك هم چه په الله باندے

الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ ۝ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۖ وَّلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

دروغ | نشی کامیابیدے هغوی | دا خو فائده ده | لږه شان | او د دوی د پاره | عذاب دے | دردناك

دروغ جوړی هغوی نه شی کامیابیدے د غسے خلقو د پاره خو په دنیا کښے لږے فائدے دی او په آخرت کښے د لرد ناك عذاب تیار دے

وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ

او په هغه خلقو | چه یهودیان دی | حرام کړی وو مونږ | هغه څه | چه بیان کړی دی مونږ | تاته

او په یهودیانو باندے مونږ هغه څیزونه حرام کړی وو چه دهغے تذکره مونږ مخکښ

مِنْ قَبْلُ ۚ وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

ددے نه مخکښ | اومونږ ظلم نه ووکړے په هغوی | لیکن | هغوی | پخپله په خپلو ځانونو | ظلم کولو

تاته کړے ده ـ اومونږ په هغوی باندے هیڅ ظلم نه دے کړے بلکه هغوی پخپله په ځان ظلم کولو

ثُمَّ اِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِيْنَ عَمِلُوا السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوْا

بیا | بیشکه | رب ستا | دهغه خلقو دپاره | چه عملونه ئے کړی دی | بد | په ناپوهئ سره | بیا ئے | توبه اووبسته

بیا چا چه په ناپوهئ بد عملونه اوکړل بیا د هغے نه پس توبه اوباسی

مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْٓا ۙ اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ

پس | ددے نه | او اصلاح ئے اوکړه | بیشکه | ستا رب | ددے کارونونه وروسته | خامخا بخښونکے

او د ځان اصلاح اوکړی نو یقین اوساؤ چه د دے نه پس ستا رب دیر بخښونکے

رَّحِيْمٌ ﴿۱۱۹﴾ ع اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا لِّلّٰهِ حَنِيْفًا ؕ

مهربان دے | بیشکه | ابراهیمؑ | وو | پیشوا | تابعدار | دالله | کلك دالله په دین

دیر مهربان دے یقیناً ابراهیمؑ یو لوے پیشوا (او) دالله تعالی تابعدار (او) یومخیز انسان وو

وَلَمْ يَكُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۰﴾ ۙ شَاكِرًا لِّاَنْعُمِهٖ ؕ اِجْتَبٰىهُ

او نه وو هغه | د مشرکانو نه | شکر ادا کونکے وو | دهغه د نعمتونو | هغه غوره کړے ووالله

او هغه د مشرکانو نه نه وو د الله د نعمتونو شکر گزار وو الله تعالی غوره کړے وو

وَهَدٰىهُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۲۱﴾ وَاٰتَيْنٰهُ فِى الدُّنْيَا

اوهدایت ئے ورته کړے وو | لارے نیغے ته | اوورکړے وو مونږ هغه ته | په دنیا کښے

او نیغے لارے ته ئے رسولے وو اومونږ ورله په دنیا کښے هم ښه حالت ورکړے وو

حَسَنَةً ؕ وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ

نیك نامی (ښه ژوند) | اوبیشکه هغه دے | په آخرت کښے | خامخا د (کاملو) نیکانونه | بیا | وحی اوکړه مونږ

او په آخرت کښے خو یقیناً دهغه شمار په نیکانو کښے دے بیا (اے نبیؐ!) مونږ تاته هم

اِلَيْكَ اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ

تاته | چه روان شه | په ملت | دابراهیمؑ پسے | چه کلك ووالله په دین | او نه وو هغه

دوحی په ذریعه دا حکم اوکړو چه دهغه ابراهیمؑ په دین (لار) باندے روان شه چه یومخیز وو او

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ عَلَى الَّذِيْنَ

د مشرکانو نه | بیشکه | مقرر کړے شوے ووتعظیم | دور ځے دخالی | په هغه خلقو باندے

دمشرکانو نه نه وو یقیناً دهفتے دور ځے احکام خو په هغه خلقو لازم کړے شوی وو چه دهغے په باره کښے ئے

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَاِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

چه اختلاف یې کړے وو | په هغے کښے | او بیشکه | رب ستا به | خامخا فیصله کوی | په مینځ ددوی کښے | په ورځ | د قیامت

اختلاف کړے وو او یقین اوساته چه ستا رب به د قیامت په ورځ د دوی به مینځ کښے دهغه څولو خبرو

فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ۝ اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ

په هغه شے کښے | چه دوی به | پکښے | اختلاف کولو | را بله (خلق) | لارے | درب خپل ته | په حکمت

فیصله او کړی چه دوی به پکښے اختلاف کولو (اے نبیؐ!) ته په حکمت او په ښه نصیحت سره خلق

وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ

او په نصیحت | خائسته سره | او بحث کوه دوی سره | په هغه طریقه | چه هغه | ډیره ښه وی | بیشکه

دخپل رب لارے ته را بله او بحث ورسره هم په داسے طریقه کوه چه هغه بهترینه وی یقیناً

رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ وَهُوَ اَعْلَمُ

ستا رب | هغه | ښه پیژنی | هغه څوک | چه گمراه شوی دی | د هغه دلارے نه | او هغه | ښه پیژنی

ستا رب هغه خلق هم ښه پیژنی چه د هغه دلارے نه گمراه شوی دی او هغه خلق هم ښه پیژنی چه په

بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝ وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ

هدایت والا | او که چرے | بدل اخلئ تاسو | نو بدل واخلئ | په شان | د هغے | چه تکلیف کړے شوے مخلوق

سره لارروان دی او که چرے تاسو د چا نه د ظلم بدله اخلئ نو دومره بدله واخلئ څومره چه تاسو سره زیاتے

بِهٖ ؕ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ۝

په هغے سره | او که چرے | تاسو صبر او کړو | نو خامخا دا | ډیر غوره دے | د صبر نا کو د پاره

شوے وی او که صبر مو او کړو نو یقیناً دا د صبر کونکو د پاره ډیره غوره ده

وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ

او صبر کوه | اونۀ دے | صبر ستا | مگر | په (مدد د) الله | او ته غم مه کوه | په دوی باندے

او اے نبیؐ! ته د صبر نه کار واخله او ستا صبر خو بس د الله په توفیق (مدد) سره دے او د دوی په باره کښے غم مه کوه

وَلَا تَكُ فِيْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ

او مه کیږه ته | په تنګئ کښے | د هغه څه نه | چه دوی ځے تدبیر جوړوی | بیشکه | الله

او د دوی په تدبیرونو (چالونو) خپل زړۀ مۀ تنګوه یقین اوساته چه الله تعالیٰ

مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّالَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ۝ ع

د هغه خلقو سره دے | چه پرهیزګاری (د الله نه) | او د هغه خلقو (سره دے) | چه هغوی | نیکان دی

د هغه خلقو ملګرے دے څوک چه پرهیزګار وی او نیکو کار وی ۔

ایاتها[۱۱۱]	سورة بنیٓ اسرآئیل مکّیّة	رکوعاتها[۱۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)

خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

سُبْحٰنَ الَّذِیْٓ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

پاک دے | هغه ذات | چې بوځ تلو | بنده خپل | په شپه کښې | د مسجد حرام نه

الله تعالی هغه پاک ذات دے چه خپل بنده ځ د شپے د مسجد حرام نه

اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِيَهٗ

مسجد اقصی | هغے ته | چه برکت اچولے دے مونږ | چا ډیره دهغے | چه اوښایو مونږ هغه ته

هغه مسجد اقصی ته بوتلو چه دهغے چاپیره مونږ برکتونه اچولی دی (دا موځکه اوکړل) چه مونږ ده ته دخپل

مِنْ اٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝۱ وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

څه نښے خپلے | بیشکه | هم هغه (الله) | اوریدونکے دے | لیدونکے دے | اوورکړے وو مونږ | موسیٰ ته | کتاب

قدرت نښے اوښایو۔ یقیناً الله هره خبره اوری هر څه وینی۔ او مونږ موسیٰ ته کتاب ورکړے وو

وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِیْ

اوګرځولے وو مونږ هغه | هدایت | د بنی اسرائیلو دپاره | چه مه نیسئ تاسو | سوا زما نه

او د بنی اسرائیلو دپاره مو د هدایت ذریعه ګرځولے وه چه زما نه سوا بل هیڅوک کارساز

وَكِيْلًا ۝۲ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَبْدًا

بل کارساز | اے اولاده! | دهغه چا | چه سواره کړی وو مونږ | د نوحؑ سره | بیشکه هغه | وو | یو بنده

مه کنړئ۔ ای د هغه چا بچو (اولاده) چه مونږ د نوحؑ سره په کشتئ کښے سواره کړی وو۔ یقیناً نوح (خو)

شَكُوْرًا ۝۳ وَقَضَيْنَآ اِلٰى بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ فِی الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ

شکر ګزار | او مونږ فیصله اوروله | بنی اسرائیلو ته | په کتاب کښے | چه تاسو به ضرور فساد کوئ

ډیر شکر ګزار بنده وو۔ او مونږ په کتاب کښے بنی اسرائیلو ته دا فیصله (خبره) اوروله وه چه تاسو به

فِی الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝۴ فَاِذَا جَآءَ

په زمکه کښے | دوه ځله | اوتاسو به ضرور سرکشی کوئ | سرکشی | (لوئ) ډیره زیاته | پس هر کله | چه راغله

دوه کرته په زمکه کښے فساد خوروئ او ډیره سرکشی به کوئ ۔ نو بس کله چه

وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ اُولِیْ بَاْسٍ

وعده | اوله دهغے دواړو نه | نو راولیږل مونږ | په تاسو باندے | بندګان | خپل | جنګیالی

د دوهمے وعدے وخت راغے نو مونږ په تاسو باندے خپل داسے بندګان مسلط کړل

شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ۭ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ۝

ډیر سخت | نو هغوی به ورننوتل | په مینځ | د کورونو کښے | او دا | وعده وه | پوره کړے شوے

چه ډیر سخت جنګیالی وو ، نو هغوی ستاسو کورونو ته ورننوتل او دا یوه پوره کیدونکے وعده وه۔

ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَاَمْدَدْنٰكُمْ بِاَمْوَالٍ

بیا | اوس حرکړه مونږ | تاسو ته | غلبه | په هغوی باندے | او مدد او کړو مونږ ستاسو | په مالونو

بیا مونږ تاسو لره موقع درکړه او په هغوی مو غالب کړئ او ستاسو په مال دولت او اولاد کښے

وَّبَنِيْنَ وَجَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ۝ اِنْ اَحْسَنْتُمْ اَحْسَنْتُمْ

او څامنوسره | او کړئ مونږ تاسو | ډیر | لښکر والا | که چرے | نیکی او کړه تاسو | نو نیکی مو او کړه

مو اضافه او کړه او ستاسو تعداد مو زیات کړو که تاسو نیک کار کوئ

لِاَنْفُسِكُمْ ۣ وَاِنْ اَسَاْتُمْ فَلَهَا ۭ فَاِذَا جَاۗءَ وَعْدُ

دخپلو ځانونو دپاره | او که چرے | بدی او کړه تاسو | نو (هم) دخپلو ځانونو دپاره | بیا هر کله | چه راغله | وعده

نو دخپلے فائدے دپاره ئے کوئ او که بد کوئ نو دخپل ځان سره بد کوئ۔ بیا چه کله د دوهمے وعدے وخت

الْاٰخِرَةِ لِيَسُوْۗءٗا وُجُوْهَكُمْ وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِدَ كَمَا

د ورو ستنی ځل | چه ورانکړی هغوی | مخونه ستاسو | او چه داخل شی هغوی | جومات ته | څنګه چه

راغے نو دشمن مو درباندے مسلط کړو چه ستاسو مخونه خراب (ورانه) کړی او چه جومات ته هغه شان

دَخَلُوْهُ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّلِيُتَبِّرُوْا مَا عَلَوْا تَتْبِيْرًا ۝ عَسٰى

داخل شوی وو هغوی | په اول | ځل | او چه تباه کړی هغوی | هغه څه | چه غلبه پرے بیا مومی هغوی | پوره تباه کول | نزدے ده

داخل شی څنګه چه په اول ځل داخل شوی وو او چه په هغه څه ئے زور رسی هغه تس نس (پوره برباد) کړی۔

رَبُّكُمْ اَنْ يَّرْحَمَكُمْ ۚ وَاِنْ عُدْتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا

چه رب ستاسو | رحم او کړی په تاسو باندے | او که چرے | تاسو بیا اوس کړئ (فساد ته) | نو مونږ به هم واپس شو (عذاب ته) | او جهنم کړے مونږ

ممکن ده چه اوس ستاسو رب په تاسو باندے رحم و کړی خو که تاسو بیا هم هغه کار کوئ نو مونږ به هم

جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ حَصِيْرًا ۝ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ

دوزخ | د کافرانو دپاره | قید خانه | بیشکه | دا | قرآن | خودنه کوی | هغے لارے ته

هغه سلوک درسره کوو ، او مونږ دوزخ د کافرانو دپاره قید خانه جوړه کړے ده۔ حقیقت دا دے چه دا

هِيَ اَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ

چه هغه | دټولو نه نیغه ده | او زیرے ورکوی | مؤمنانو ته | هغه کسان | چه عمل کوی | نیک

قرآن هغه لار ښائی چه هغه د ټولو نه نیغه ده او هغه مؤمنانو ته چه نیک عملونه کوے دا زیرے ورکوی چه

اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا كَبِيْرًا ۝ وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

چه بیشکه | شته د دوی دپاره | اجر | ډیر لوے | او دا چه بیشکه | هغه خلق | چه ایمان نه راوړی

هغوی دپاره ډیر لوئ اجر تیار دے او دا هم بیانوی چه څوک آخرت نه منی

ع بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ

په آخرت | تیار کړے دے مونږ | دهغوی دپاره | عذاب | دردناک | او غواړی | انسان

دهغوی دپاره مونږ دردناک عذاب تیار کړے دے۔ او انسان بدی (شر) داسے غواړی

بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ۝ وَجَعَلْنَا

بدی (عذاب) | په شان دغوښتلو دهٗ | خیر لره | او دے | انسان | تلوار کونکے | اوجوړه کړے دے مونږ

لکه څنګه چه د خیر دپاره دعا غواړی او انسان فطری طور چیر تلوار کونکی دے۔ او مونږ شپه او ورځ

الَّيْلَ وَالنَّهَارَ اٰيَتَيْنِ فَمَحَوْنَآ اٰيَةَ الَّيْلِ وَجَعَلْنَآ اٰيَةَ

شپه | او ورځ | دوه نښانے | نو کمه کړے دے مونږ | نښه | د شپے | اوجوړه کړے دے مونږ | نښه

دوه دلیلونه د توحید او د قدرت خپل جوړ کړی دی بیا د شپے نښه خو مونږ تیاره (بے نوره) کړه او د

النَّهَارِ مُبْصِرَةً لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا

د ورځ | روښانه | دپاره دے چه تاسو ولټوئ | فضل | د خپل رب | او چه تاسو پوهه شئ

ورځ نښه مو روښانه کړه چه تاسو د خپل رب فضل تلاش کړئ او چه تاسو ته د کلونو شمار

عَدَدَ السِّنِيْنَ وَالْحِسَابَ ؕ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ۝

په شمار | د کلونو | او حساب باندے | او هر یو | څیز | وضاحت کړے دے مونږ دهغے | پوره تفصیل سره

او (دمیاشتو) حساب معلوم شی او مونږ د هر یو ضروری څیز ښه تفصیل سره اصولی وضاحت کړے دے

وَكُلَّ اِنْسَانٍ اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ ؕ وَنُخْرِجُ لَهٗ

او هر | انسان | لازم کړے دے مونږ دهغه سره | عمل دهغه | په غاړه د هغه کښے | او مونږ به را وباسو | د هغه لره

او مونږ د هر انسان عملنامه د هغه د غاړے سره زوړنده کړے ده او د قیامت په ورځ به ورته

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَّلْقٰىهُ مَنْشُوْرًا ۝ اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى

په ورځ | د قیامت | یو کتاب | چه مخامخ به شی دے دهغے سره | خور وور | اولوله | کتاب خپل | پوره ئے

د هغه عملنامه دیو تحریر (کتاب) په شکل کښے مخامخ کیږد وچه دی به ئے سپړ دلے او وینی (ورته به وویلی شی چه)

بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا ۝ مَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ

ته پخپله | نن ورځ | د خپل ځان خلاف | حساب کونکے | چا چه | سمه لار او موندله | نو بیشکه | هغه لار او موندله

خپله عملنامه او لوله نن ته پخپله د خپل ځان حساب اغستو دپاره کافی ئے۔ څوک چه سمه لار اختیار وی

لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ؕ وَلَا تَزِرُ

د خپل ځان دپاره | او څوک چه | لاړے شو | نو بیشکه | هغه لاړے شو | په (بلا) خپل ځان باندے | اونه به اوچتوی

نو د خپلے فائدے دپاره ے اختیار وی او څوک چه د گمراهئ په لار ځی نو نقصان ئے د خپل ځان دے او هیڅوک به

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ

یو بل اوچتونکے | پیتے | د بل چا | او نه یُو مونږ | عذاب ورکونکی | تر دے | چه مونږ اولیږو

د بل چا د گناه پیتی نه اوچتوی او تر څو پورے چه مونږ پیغمبر اونه لیږو تر هغے هیڅ چا ته هم عذاب نه ورکوو

رَسُوْلًا ﴿۱۵﴾ وَاِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا مُتْرَفِيْهَا

یو پیغمبر | او هر کله | چه مونږ ارادہ اوکړو | چه هلاک کړو مونږ | یو کلے | نو مونږ حکم اوکړو | دهغے مالدارو خلقوته

اوکله چه مونږ دیو کلی د هلاکولو ارادہ اوکړو نو مونږ دهغے مالدارہ (خوشحاله) خلقوته (دتابعدارئ) حکم اوکړو

فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿۱۶﴾

نوناقرمانی اوکړی هغوی | په هغے کښ | نو پوره شی | په هغه (کلی) باندے | فیصله د عذاب | نو هلاک کړو مونږ هغه (کلی) | پوره تباه

نو هغوی په هغے (کلی) کښے نافرمانی شروع کړی نو بس د عذاب حکم پرے ثابت شی نو پوره ئے تباه کړو

وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ

اوځومره (قومونه) | هلاک کړی دی مونږ | پیړئ (قومونه) | وروسته | د نوح نه | اوکافی دے | رب ستا

او د نوح نه وروستو مونږ ډیر امتونه (نسلونه) تباه کړی دی او ستا رب د خپلو بندګانو

بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ

په ګناهونو | د بندګانو خپلو | خبردار | لیدونکے | څوک چه | غواړی | دنیا

د جرمونو (ګناهونو) نه پوره خبر دی او هر څه وینی۔ څوک چه د دنیا فائده غواړی نو مونږ چه

عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا

نو زر به ورکړو مونږ | هغه ته | په دے کښے | هغه څه چه | مونږ (ئے) غواړو | چا دپاره | چه اوغواړو مونږ | بیا | مقرر کړی دی مونږ

اوغواړو او څومره چه د چا دپاره اوغواړو نو هغه ورله هم دلته (دنیا کښے) زر ورکوو خو بیا ورله مونږ

لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿۱۸﴾ وَمَنْ اَرَادَ

دهغه دپاره | دوزخ | چه داخل به شی هغے ته | بدحاله | ارتلے (شړلے) شوے | او څوک | چه غواړی

دوزخ تیار کړے دے چه هغے ته به ذلیل او خوار (بدحاله) داخل شی۔ او څوک چه د آخرت طلبګار وی

الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ

آخرت | او کوشش کوی | د هغے دپاره | کوشش د هغے (مناسب) | او وی دے | مؤمن | نو هم داخلق | دی

(د آخرت فائدے غواړی) او د هغے دپاره د هغے مناسب کوشش هم کوی او مؤمن هم وی نو دا سے خلقو

سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ

سعی هم | قبول شوے دے | هر یو سره | امداد کوو مونږ | دوی سره هم | او هغوی سره هم | د بخشش

کوشش به قابل قدر (مقبول) وی (اے پیغمبره) مونږ دے دنیا پرستو او دینداروهر یو سره مدد کوو دا

رَبِّكَ ؕ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُوْرًا ﴿۲۰﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ

د رب ستانه | او نه دے | بخشش (ورکړه) | د رب ستا | بند کړے شوے | اوکوره | چه څنګه

ستا د رب ورکړه ده او ستا د رب ورکړه د هیڅ چا دپاره بنده نه ده۔ اوکوره مونږ څنګه دوی په

فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ دَرَجٰتٍ

فضیلت ورکړے دے مونږ | بعضو ته د دوی نه | په بعضو باندے | او خامخا آخرت | ډیر د لوړو | درجو والا دے

یو بل باندے (په دنیا کښے) غوره کړی دی او یقین اوساته چه د آخرت درجے د تولو نه ډیرے لوړے دی

وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ﴿٢١﴾ لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَقْعُدَ

او دیرلوے | فضیلت والا دے | مه جوړه | د الله تعالی سره | حقدار د بندګۍ | بل | ګنے شے به ته
او د ټولو نه زیاتے فضیلت والا دے۔ او د الله تعالی سره بل معبود (مددګار) مه کړځوه ګنی ملامته او

مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ﴿٢٢﴾ وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ

بد حاله | شرمیدلے | او فیصله کړے ده | ستا رب | چه بندګی به نه کوئ تاسو | مګر | صرف دهغه
بے یاره مددګار به پاتے شے۔ او ستا رب دا حکم (فیصله) کړے ده چه د هغه نه سوا به دبل چا عبادت نه کوئ

وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ

او کوئ پلار او مور سره | ښیګړه | که چرے | ورسی | ستا په ژوند کښ | بوډاتوب ته | یو د دوی نه
او د مور او پلار سره ښیګړه (ښه سلوک) کوئ، که په دوی دواړو کښے یو یا دواړه ستا په ژوند (موجودګۍ)

اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ

یا دواړه | نو مه وایه | دوی ته | اُف قدرے (هم) | او مهٔ رټه | دا دواړه | او وایه
کښے بوډاولی ته ورسیږی نو اُف قدرے ورته هم ونه کړے او مه ځے رټه بلکه په نرمئ ورسره د ادب وینا کوه.

لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿٢٣﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ

دوی ته | خبره | عزتمنده (نرمه) | او تیټ ساته | دے دواړو ته | وزر (مټے) | د عاجزئ | د شفقت دوے
او د هغوی په وړاندے په مینه او محبت سره د عاجزئ نه تیټ اوسیږه او دا دعا کوه

وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا ﴿٢٤﴾ ؕ رَبُّكُمْ

او وایه | اے ربه زما | رحم او کړه په دواړو باندے | لکه څنګه چه | دوی زه پاللی یم | په وړوکوالی کښ | رب ستاسو
چه ای ربه! څنګه چه دوی په وړوکوالی کښے زما پالنه کړے ده ته هم دوی سره د رحمت معامله او کړه

اَعْلَمُ بِمَا فِيْ نُفُوْسِكُمْ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ فَاِنَّهٗ

ښه پوهه دے | په هغه څه | چه ستاسو په زړونو کښ دی | که چرے یئ تاسو | نیکان (اخلاص مند) | نو بیشکه هغه (الله)
ستاسو په زړونو کښے چه څه دی هغه ستاسو رب ته ښه معلومه دی که تاسو نیکان شوئ نو یقیناً هغه

كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ غَفُوْرًا ﴿٢٥﴾ وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ

دے | توبه کونکو دپاره | بخښونکے | او ورکړه | خپلوانو ته | حق د هغهٔ | او مسکین ته (هم)
د هغه خلقو ګناهونه معاف کوی چه هغه ته ډیره رجوع کوی۔ او رشته داران، محتاج او مسافر ته د هغوی

وَابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا

او مسافر ته (هم) | او مه لګوه مال | په بے ځایه خرچ کولو سره | بیشکه | بے ځایه مال خرچ کونکی | دی
حق اداء کړه او خپل مال بے ځایه مه لګوه (مه خرچ کوه)۔ یقین اوسئ چه بے ځایه مال خرچ کونکی

اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿٢٧﴾ وَاِمَّا

وُرونړه | د شیطانانو | او دے | شیطان | د خپل رب | ډیر ناشکره | او که چرته
د شیطان وړونړه (ملګری) دی، او شیطان خو د خپل رب ډیر ناشکره دی۔ او که چرے ته

تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا فَقُلْ

تہ مخ اړوے | د دوی نه | دپاره د تلاش | د رحمت | د رب خپل | چه ته امید ساتے دهغے | نو وایه

د خپل رب د رحمت په انتظار کښے چه ته ئے امید لرے د دوی د حق ادا کولو نه مخ اړوے نو بیا دوی ته

لَهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ۝ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ

دوی ته | خبره | نرمه (خوږه) | او مهٔ ساته | لاس خپل | ترلے (شوے) | څنګ خپل پورے

په نرمئ سره جواب ورکوه۔ او نه (خو دومره شوم جوړیږه چه) خپل لاس خپل څنګ پورے وترے

وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ۝ اِنَّ

او مهٔ ئے خورَوه | په پوره | خور والی سره | کنی کښینے به ته | ملامته | ستومانه | بیشکه

او (نه داسے بے ځایه فضول خرچه جوړیږه چه) ته لاس بلکل کولاو پریږدے گنے ملامته ټش تور لاس والا عاجز به پاتے شے

رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

رب ستا | فراخوی | رزق | چا دپاره | چه اوغواړی | او کموی ئے | بیشکه هغه | دے

حقیقت دا دے چه ستا رب دچا چه رزق اوغواړی فراخه کوی ئے ورله او دچا چه اوغواړی تنګوی ئے. یقیناً هغه

بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ۝ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ

په بندګانو خپلو | پوره خبردار | لیدونکے | او مه وژئ تاسو | بچی خپل | دوجے د ډیرے

د خپلو بندګانو د حالاتو نه پوره خبردار دے او هر څه وینی. او خپل بچی د غربت (غریبئ) د ډیرے نه

اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَاِيَّاكُمْ ؕ اِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْاً

دلوږے نه | مونږ | رزق ورکوو دوی ته (هم) | او تاسو ته (هم) | بیشکه | وژل د دوی | ده | ګناه

مه وژئ مونږ هغوی ته هم رزق ورکوو او تاسو ته هم. یقیناً د هغوی وژل ډیره لویه ګناه ده

كَبِيْرًا ۝ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰٓى اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ۝

ډیره لویه | او مه نزدے کیږئ | زنا ته | بیشکه دا | ده | بے حیائی | او بده | لار ده

او زنا ته ورنزدے هم نه شئ یقیناً دا خو د بے حیائی کار او ډیره بده لار (طریقه) ده

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ وَمَنْ قُتِلَ

او مهٔ وژئ | نفس | هغه | چه حرام کړے دے | الله تعالیٰ | مګر | په حق سره | او څوک | چا ووژلی شو

او د کوم نفس وژل چه الله تعالیٰ حرام کړی دی هغه مه وژئ مګر په جائزه. او څوک چه په ظلم سره

مَظْلُوْمًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهٖ سُلْطٰنًا فَلَا يُسْرِفْ

په ظلم سره | نو یقیناً | مونږ ورکړے دے | دهغهٔ وارث ته | قوت (اختیار) | پس هغه ته زیاتے نه کوی

ووژلی شو نو مونږ د هغه ولی (وارث) ته د قصاص اختیار ورکړے دے نو دا دے هم

فِّي الْقَتْلِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ مَنْصُوْرًا ۝ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ

په وژلو کښے | بیشکه | هغه سره به | امداد کولے شی | او مه نزدے کیږئ | مال | د یتیم ته

د قاتل په وژلو کښے زیاتے نه کوی. یقیناً دے د مدد لائق دے. او د یتیم مال ته هم ورنزدے نه شئ

اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ حَتّٰی یَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۪ وَاَوْفُوْا

مگر | په هغه طریقه | چه هغه | ډیره ښه ده | تردے | چه ورسی هغه | خوانۍ خپلے ته | اوپوره کړئ

مگر په هغه طریقه چه هغه بهتره وی تر دے چه هغه خوان شی. او د وعدے

بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلًا ۝ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ اِذَا

وعده | بیشکه | وعده | د دے به | تپوس کیږی | اوپوره ورکوئ | پیمانه | کله چه

پابندی کوئ. یقین اوسائ چه د وعدے باره کښے به تپوس کیږی. او کله چه یو څیز په پیمانه ورکوئ

كِلْتُمْ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ

تاسو پیمانه کوئ | او تول کوئ | په تله | نیغه (برابره) باندے | دا کار | ډیر غوره دے | او ډیر ښه

نو پوره پوره ئے پیمانه کوئ او د تول د پاره صحیح (سمه) تله استعمالوئ. دا طریقه ډیره ښه ده او د دے

تَاْوِيْلًا ۝ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۭ اِنَّ السَّمْعَ

انجام والا دے | او مه ځه ته | په هغه څه پسے | چه نه وی | ستا | په هغے باندے | څه علم (دلیل) | بیشکه | غوږ

انجام هم ډیر ښه دے. او (اے بنده) د کوم خبرے چه تا ته پوره علم (یقین) نه وی په هغے پسے مه ځه

وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰۗىِٕكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ۝ وَلَا تَمْشِ

او سترګه | او زړه | دا ټول چه دی | د دے باره کښے به تپوس کیږی | او مه ګرځه

یقین اوساته چه د غوږ، سترګو او زړه نو د دے ټولو د استعمال باره کښ به تپوس کیږی

فِي الْاَرْضِ مَرَحًا ۚ اِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْاَرْضَ وَلَنْ تَبْلُغَ

په زمکه کښ | په لویئ (غرور) سره | بیشکه ته | هیڅ کله نه شے شلولے | زمکه | او هیڅ کله نه شے رسیدے

او د زمکے په مخ ایڅ نیڅ (په غرور سره) مه ګرځه. نه خو ته زمکه شلولے شے او نه په اوږدوالی کښے

الْجِبَالَ طُوْلًا ۝ كُلُّ ذٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهٗ عِنْدَ رَبِّكَ مَكْرُوْهًا ۝

غرونو ته | په اوږدوالی کښے | دا ټول | دی | بدی ددے | په نزد | د رب ستا | ناخوښه

غرونو ته رسیدلے شے. دا ټول بد کارونه داسے دی چه ستا رب ته بلکل ناخوښ دی.

ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰٓى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ۭ وَلَا تَجْعَلْ

دا | بعضے هغه خبرونه دی | چه وحی کړے ده | تاته | رب ستا | د حکمت نه | او مه جوړوه

اے نبیٓ! دا د حکمت هغه خبرے دی چه تاته ئے ستا رب وحی کړے ده او (اے بنده) ته د الله تعالیٰ

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِيْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ۝

د الله تعالیٰ سره | معبود | بل | کښے اوبه غورځولے شے ته | په دوزخ کښے | ملامته | رټلے شوے

سره بل څوک معبود (مددګار) مه جوړوه کښے ملامته او په دیکو دیکو به (ذلیل) دوزخ ته اوغورځولے شے

اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰۗىِٕكَةِ اِنَاثًا ۭ

آیا نو غوره کړی ئے تاسو | رب خپل | په څامنو سره | او نیولی دی هغه | د فرشتو نه | لونړه

اے مشرکانو! آیا ستاسو رب تاسو ته خو څامن درکړل او د ځان د پاره ئے فرشتے لونړه جوړے کړی دی؟ حقیقت دا دے

ع

اِنَّكُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلًا عَظِيْمًا ۝ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِيْ هٰذَا

بیشکه تاسو | خامخا وایئ | خبره | دیره لویه | او یقیناً | قسما قسم بیان کړی دی مونږ | په دے

چه تاسو دیره نامعقوله دروغ خبره کوئ او یقیناً مونږ په دے قرآن کښے په قسما قسم طریقو سره د توحید وضاحت کړے دے

الْقُرْاٰنِ لِيَذَّكَّرُوْا ؕ وَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا نُفُوْرًا ۝ قُلْ لَّوْ كَانَ

قرآن کښے | چه نصیحت واخلی دوی | اونه زیاتوی دوی لره | مګر | نفرت (تیښته) | اووایه | که چرے | وے

چه خلق ښه پوهه شی او نصیحت قبول کړی خو دا خبره د دوی په تیښته (نفرت) کښے نوره هم اضافه کوی دوی ته اووایه که چرے

مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِي الْعَرْشِ

دهغه سره | خدایان | لکه چه | دوی وائی | نو دغه وخت | خامخا به لټولی وے دوی | د عرش والا ته

دهغه (الله) سره نور حقدار د بندګی وے لکه څنګه چه دوی وائی (چه داز مونږ شفعاء دی) نو هغوی به د عرش مالک ته رسیدو اود نزدیکت

سَبِيْلًا ۝ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا ۝

څه لار | پاک دے هغه | او اوچت دے | دهغه څه نه | چه دوی ئے وائی | په اوچتوالی | لوے سره

د پاره ضرور څه لار تلاش کړے وه (او دا به دلیل د عجز وے) حقیقت دا دے چه د اخلق چه څه وائی د الله ذات د هغے نه

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ

پاکی وائی | د هغه | آسمانونه | اووه | او ځمکه | او هغه څوک | چه په دے کښے دی

بلکل پاک او ډیر اوچت دے اووه واړه آسمانونه او ځمکه او په دے کښے موجود ټول مخلوق د هغه الله پاکی بیانوی

وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ

او نشته | هیڅ یو څیز | مګر | پاکی وائی | سره د حمد د هغه | لیکن | تاسو نه پوهیږئ

او دا سے یو څیز نشته مګر هغه د الله د حمد سره سره د هغه تسبیح (پاکی) وائی خو تاسو د هغوی په تسبیح

تَسْبِيْحَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ۝ وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ

په تسبیح د هغوی | بیشکه هغه | د ے | ډیر صبرناک | ډیر بخښونکے | او کله چه | ته لولے | قرآن

نه پوهیږئ. یقیناً هغه ډیر صبرناک او بخښونکی ذات دے. او اے نبی کله چه ته قرآن لولے (بیانوے)

جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ حِجَابًا

نو جوړوو مونږ | په مینځ ستا | او په مینځ | د هغه خلقو کښے | چه ایمان نه راوړی | په آخرت | یوه پرده

نو مونږ ستا او د هغه خلقو تر مینځه چه آخرت نه منی یوه پټه پرده اچوو

مَّسْتُوْرًا ۝ وَّجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ

پټه | او پیدا کړو مونږ | په زړونو د دوی باندے | پردے | چه پوهه نه شی دوی په دے (قرآن)

او په زړونو ورله د اسے پردے پیدا کړو چه منع کونکے وی دپوهے د قرآن نه او په غوږونو کښ ورله درونده والے پیدا کوو

وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِي الْقُرْاٰنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا

او په غوږونو د دوی کښ | درونده والے | او کله چه | ته یادوے | خپل رب | په قرآن کښ | اِک یواز ے | نو اوړی دوی

او کله چه ته په قرآن کښے د خپل رب یوا ځے ذکر او کړے (توحید بیان کړے) نو دوی په نفرت سره شا کړی او روان شی

عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا ۝ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُوْنَ بِهٖٓ

په شاګانو خپلو | نفرت کونکی | اومونږ | ښه پوهیږو | په هغه(غرض) | چه دوی غوږ ږدی | په هغے باندے

دا خلق چه کله ستا خبرو ته غوږ ږدی نو په کوم نیت چه دوی غوږ ږدی هغه مونږ ته ښه معلوم دے

اِذْ يَسْتَمِعُوْنَ اِلَيْكَ وَاِذْ هُمْ نَجْوٰٓى اِذْ يَقُوْلُ الظّٰلِمُوْنَ

کله چه | غوږ ږدی دوی | تا ته | او کله چه | دوی | پټے مشورے کوی | کله چه | وائی | ظالمان

او کله چه دوی پټے مشورے کوی (هغه هم مونږ ته معلوم دی) کله چه ظالمان (مسلمانانو ته) وائی

اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۝ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا

(چه) تاسو (خو) نه یئ روان | مګر | په یوسړی پسے | چه جادو پرے شوے دے | اوګوره | څنګه | بیانوی دوی

تاسو خو په یو داسے سړی پسے روان شوی یئ چه جادو پرے شوے دے. اوګوره کنه چه دا خلق ستا دپاره

لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝ وَقَالُوْٓا

ستا دپاره | مثالونه | پس بے لارے شول دوی | پس طاقت نه لری دوی | د سمے لارے | او وائی دوی

څنګه څنګه مثالونه بیانوی پس دوی پخپله کمراه شوی دی اوس په سمه لار نه شی راتلے

ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ۝

آیا کله چه | شو مونږ | هډوکی | اوخړه خړه (چوره) | نو آیا مونږ یه | خامخا یا راپاڅولے شو | په پیدائش | نوی سره

او دوی وائی چه آیا کله مونږ هډوکی او چوره چوره شو نو دنوی سره به بیا راپیدا کیږو؟ ته ورته ووایه چه تاسو کانړی شئ

قُلْ كُوْنُوْا حِجَارَةً اَوْ حَدِيْدًا ۝ اَوْ خَلْقًا مِّمَّا يَكْبُرُ

اووایه! شئ تاسو | کانړی | یا | اوسپنه | یا یو بل داسے مخلوق | د هغے نه | چه لوے ښکاری

یا اوسپنه شئ یا بل یو داسے مخلوق شئ چه ستاسو په زړونو کښے ددے نه هم سخت وی (نو بیا به هم تاسو

فِيْ صُدُوْرِكُمْ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ مَنْ يُّعِيْدُنَا ۭ قُلِ الَّذِيْ

ستاسو په سینو کښے | پس زړه چه دوی به وائی | (چه) څوک به | بیا ژوندی کوی مونږ؟ | اووایه | هغه ذات

دوباره پیدا کیږئ) نو اوس به دوی وائی چه څوک به مونږ دوباره ژوندی کوی؟ ته ورته اووایه چه هغه ذات

فَطَرَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ فَسَيُنْغِضُوْنَ اِلَيْكَ رُءُوْسَهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ

چه پیدا کړی ئوئ تاسو | په اول | ځل | پس زړه چه به خوزوی دوی | تا ته | سرونه خپل | او وائی به

به موپیدا کوی چا چه په اول ځل پیدا کړی وئ. نو په تعجب سره به ستا مخکښ سرونه اوخوزوی اووائی به

مَتٰى هُوَ ۭ قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَرِيْبًا ۝ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ

چه کله به وی | دا؟ | اووایه | امید دے | چه شی دا | نزدے | په هغه ورځ | چه راوبلی هغه تاسو

چه دا سے به کله کیږی؟ ته ورته اووایه امید دے چه دیر نزدے به وی په کومه ورځ به چه هغه تاسو راوبلی

فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ وَتَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا ۝

نو جواب به ورکوئ تاسو | د هغه په حمد سره | او تاسو به خیال کوئ | چه تاسو وخت نه مے تیر کړے | مګر | دیر لږ

نو تاسو به د هغه د حمد سره د هغه حکم و منئ او تاسو به دا خیال کوئ چه تاسو خو په دنیا کښے دیر لږ وخت تیر کړے دے

وَقُلْ لِّعِبَادِیْ یَقُوْلُوا الَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ؕ اِنَّ الشَّیْطٰنَ

او وایه | زما بندګانو ته | چه وائی دے | هغه خبره | چه هغه | زیاته ښه وی | بیشکه | شیطان

اوا ے نبیٔ! زما مؤمنانو بندګانو ته اووایه چه په وخت د دعوت کښ هم هغه خبره کوی کومه چه ډیره بهتره ده یقیناً شیطان

یَنْزَغُ بَیْنَهُمْ ؕ اِنَّ الشَّیْطٰنَ كَانَ لِلْاِنْسَانِ عَدُوًّا مُّبِیْنًا ۝

فساد اچوی | د دوی په مینځ کښ | بیشکه | شیطان | دے | د انسان | دشمن | ښکاره

د دوی په مینځ کښ فساد اچوی ، شیطان خو یقینی طور د انسان ښکاره دشمن دے۔

رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِكُمْ ؕ اِنْ یَّشَاْ یَرْحَمْكُمْ اَوْ اِنْ یَّشَاْ

رب ستاسو | ښه پوهه دے | په تاسو باندے | که چرے | اوغواړی هغه | نو رحم به درباندے اوکړی | اوکه چرے | اوغواړی

ستاسو رب تاسو ډیر ښه پیژنی، که هغه اوغواړی نو رحم به درباندے اوکړی اوکه هغه اوغواړی نو

یُعَذِّبْكُمْ ؕ وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ عَلَیْهِمْ وَكِیْلًا ۝ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ بِمَنْ

نو عذاب به درکړی تاسو ته | اونه ځ لیږلے مونږ ته | په دوی باندے | ذمه وار | اورب ستا | ښه پوهه دے | په حال د هغه چا

عذاب به درکړی او اے نبیٔ! مونږ خو ته په دے خلقو څه ذمه وار نه ځ لیږلے۔ او څوک چه په آسمانونو او زمکه

فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِیّٖنَ عَلٰی بَعْضٍ

چه په آسمانونو | او زمکه کښ دی | او یقیناً | غوره کړی دی مونږ | بعضے | پیغمبران | په بعضو باندے

کښے دی هغه ټول ستا رب ته ښه معلوم دی، او یقیناً مونږ بعضے پیغمبران وته په بعضو باندے فضیلیت ورکړے دے

وَّاٰتَیْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ۝ قُلِ ادْعُوا الَّذِیْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ

اوورکړے وو مونږ | داود ته | زبور | اووایه! | راوبلئ | هغه څوک | چه تاسو (پرے) ګمان کوئ | سوا د هغه نه

او داود علیه السلام ته مونږ زبور ورکړے وو۔ (اے نبیٔ! دے مشرکانو ته) اووایه چه ستاسو چه په چا باندے د حاجت روا ګمان دے

فَلَا یَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِیْلًا ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ

پس اختیار نه لری هغوی | د لرے کولو | د تکلیف | ستاسو نه | او نه د اړولو | دغه خلق

هغوی خو (لږ) راویلئ، هغوی خو نه ستاسو نه تکلیف (مصیبت) لرے کولے شی او نه ځ بدلولے شی کوم خلق چه دوی

یَدْعُوْنَ یَبْتَغُوْنَ اِلٰی رَبِّهِمُ الْوَسِیْلَةَ اَیُّهُمْ اَقْرَبُ

چه دوی ځ رابلی | هغوی لټوی | رب خپل ته | نزدیکت | چه کوم یو په هغوی کښے | زیات نزدے دے

رابلی هغوی خو پخپله د خپل رب سره (د) نزدیکت (فریعه) تلاش کوی چه په هغوی کښے به کوم یو الله تعالیٰ ته زیات نزدے وی

وَیَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَیَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ

او اُمید ساتی | د هغه د رحمت | او یَرِیږی | د هغه د عذاب نه | بیشکه | عذاب | ستا د رب

او د الله تعالیٰ د رحمت امید ساتی او د هغه د عذاب نه یرِیږی، یقیناً ستا د رب د عذاب نه

كَانَ مَحْذُوْرًا ۝ وَاِنْ مِّنْ قَرْیَةٍ اِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ

دے | چه یره ترے کیدے شی | او نشته | هیڅ یو کلے | مګر | مونږ | هلاکونکی د هغے یُو | مخکښ

یَرِیدل پکار دی۔ او د کافرانو یو کلے هم داسے نشته چه مونږ ځ د قیامت د ورځے نه مخکښ

يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ

دورځے | دقیامت نه | یا عذاب ورکونکی یُو هغے ته | عذاب | ډیر سخت | دے | دا (حکم)

هلاک نه کړو یا ورله سخت عذاب ورنه کړو. دا خبره (د تقدیر) په کتاب کښے

فِي الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۝ وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ

په کتاب کښے | لیکلے شوے | اونه یُو منع کړی مونږ | ددے نه چه راولیږو مونږ | نخښے | مګر

لیکلے شوے دهٔ او نخښے رالیږل او معجزات ورکول کوم چه دوی غواړی مونږ حُکمه موقوف کړی دی چه پخوا نو خلقو

اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ؕ وَاٰتَيْنَا ثَمُوْدَ النَّاقَةَ

دے خبرے | چه ډیرو خلقو نه کنړلے دے | هغه | وړومبنو خلقو | او ورکړے وه مونږ | ثمودیانو ته | اوښه

ئے تکذیب کړے وو او ثمودیانو ته مو اوښه (د صالحؑ د نبوت)

مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ؕ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ۝

یوه نخښه بښکاره | نو هغوی ظلم اوکړو | په هغے باندے | اونه رالیږو مونږ | نخښے | مګر | د ډیرولو دپاره

بښکاره نخښه ورکړه خو هغوی ورسره ظلم وکړو. او مونږ خو نخښے هم د ډیرولو دپاره رالیږو

وَاِذْ قُلْنَا لَكَ اِنَّ رَبَّكَ اَحَاطَ بِالنَّاسِ ؕ وَمَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا

اوکله چه | اوویل مونږ | تاته | (چه) بیشکه | رب ستا | راګیر کړی دی | خلق | اونه دے جوړ کړے مونږ | لیدل

اوے نبیؐ هغه وخت یاد کړه کله چه مونږ تاته وویل چه ستا رب په ټولو خلقو احاطه کړے ده. او مونږ چه تاته کومه نظاره

الَّتِيْٓ اَرَيْنٰكَ اِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ

هغه | چه ښودلے ده مونږ تاته | مګر | ازمیښت | د خلقو دپاره | او اُونه | هغه چه بد ئُویلی شوے دی

په شپه د معراج کښ ښودلے ده هغه مودکافرانو خلقو دپاره ازمیښت جوړ کړو او هغه ونه هم (امتحان جوړ کړو) چه

فِي الْقُرْاٰنِ ؕ وَنُخَوِّفُهُمْ ۙ فَمَا يَزِيْدُهُمْ اِلَّا طُغْيَانًا كَبِيْرًا ۝

پ ۱۵ | په قرآن کښ | او مونږ یَرَوو دوی | پس نه زیاتوی دوی لره | مګر | سرکشی | ډیره لویه

په قرآن کښے ئے بد صفات بیان شوی دی. او مونږ خو دوی یَرَوو خو په هغے سره دوی سرکشی نوره هم زیاتیږی

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ

اوکله چه | اوویل مونږ | فرشتو ته | (چه) سجده اوکړئ | آدمؑ ته | پس سجده اوکړه هغوی | سوا | دابلیس نه

او کله چه مونږ فرشتو ته اوویل چه د آدمؑ طرف ته سجده اوکړئ نو دابلیس نه بغیر ټولو اوکړه

قَالَ ءَاَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِيْنًا ۝ قَالَ اَرَءَيْتَكَ

اوویل هغه | چه آیا زه به سجده کوم | هغه چا ته | چه تا پیدا کړے دے | د څخے نه | اوئے ویل | خبر را کړه ماته

هغه اوویل آیا زه هغه چا ته سجده اوکړم چه تا د څخے نه پیدا کړے دے. وئے ویل: ته لږ اوګوره

هٰذَا الَّذِيْ كَرَّمْتَ عَلَيَّ ۖ لَئِنْ اَخَّرْتَنِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

چه دا | هغه کس دے | چه تاعزت ور کړے دے | په ما باندے | که چرے | تاوروسته کړم زه | تر ورځ | دقیامت پورے

دا هم هغه کس دے چه تاورله په ما باندے فضیلت ور کړے دے. که چرے تاما ته دقیامت د ورځے پورے مهلت را کړو

لَاَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ

نوخامخا زبه حویخه او بلسم | اولاد ددهٔ | سوا | د لږ یونه | اوویل (الله) | لارشه (څه) | پس څوک | چه روان شو تاسے

نو د لږ یونه سوا نور ددهٔ د تول اولاد جرړے به او بلسم الله تعالیٰ تعالیٰ ورته اوویل: زه لارشه اړه دوی کښ چه څوک تاسے

مِنْهُمْ فَاِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ۝ وَاسْتَفْزِزْ

د دوی نه | نو بیشکه | دوزخ | بدله (سزا) ده ستاسو | بدله (سزا) | پوره | اووخویوه (دهوکه کړه)

روان شول نو ستاسو د ټولو پوره پوره بدله به هم دوزخ وی. او په دوی کښے چه

مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَاَجْلِبْ عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ

هغه څوک | چه ستا پرے وس برشی | د دوی نه | په آواز خپل سره | اووزغلوه (راوله) | په دوی باندے | سواره خپل

په چاستا وس رسی هغوی په خپل آواز سره او غولوه او په هغوی باندے خپل سواره او پیاده فوجونه

وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ ؕ

او پیاده خپل | او شریک شه دوی سره | په مالونو | او بچو کښے | اووعدے کوه دوی سره

(لښکرے) راوخیژوه او دهغوی په مال او اولاد کښے خپله حصه جوړه کړه او ووعدے ورسره کوه او حقیقت دادے

وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ۝ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ

اووعده نه کوی د دوی سره | شیطان | مکر | د دهوکے | بیشکه | زما بندگان | نشته دے | ستا

چه د دوی سره د شیطان وعدے د دهوکے نه سوا بل څه نه دی. یقین اوساته چه زما په مخلصانو بندګانو باندے ستا

عَلَيْهِمْ سُلْطٰنٌ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ۝ رَبُّكُمُ الَّذِيْ

په هغوی باندے | څه زور (وس) | او کافی دے | ستا رب | ذمه وار (کارساز) | رب ستاسو | هغه (ذات) دے

هیڅ وس نه رسی. او اے نبیٔ! ستا رب یوا څے کارساز کافی دے ستاسو رب هغه ذات دے چه

يُزْجِيْ لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ

چه چلوی | تاسو دپاره | کشتۍ | په دریاب کښے | چه تاسو اولټوئ | بعضے فضل د هغهٔ | بیشکه هغه

ستاسو د فائدے دپاره په دریاب کښے کشتۍ چلوی چه تاسو د هغه فضل تلاش کړئ. یقیناً هغه په تاسو

كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ۝ وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ

دے | په تاسو باندے | ډیر مهربان | او کله | چه ورسی تاسو ته | تکلیف | په دریاب کښے | نو هیر شی تاسو نه

باندے ډیر مهربان دے. او کله چه په دریاب کښے تاسو باندے مصیبت راشی نو کوم خدایان (معبودان)

مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّآ اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا نَجّٰىكُمْ اِلَى الْبَرِّ

هغه څوک | چه تاسو ئے رابلئ | سوا | د هغه (الله) نه | پس هر کله | چه نجات درکړی هغه تاسو ته | د اوچے طرف ته

چه تاسو رابلئ د الله تعالیٰ نه سوا هغه ټول تاسو نه ورک شی. بیا کله چه هغه (الله) تاسو بچ کړی (او اوچے ته مو راولی)

اَعْرَضْتُمْ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ كَفُوْرًا ۝ اَفَاَمِنْتُمْ اَنْ يَّخْسِفَ

نو تاسو مخ اړوئ | او دے | انسان | ډیر ناشکره | آیا نو بے غمه شوئ تاسو | د دے نه | چه الله به ښخ کړی

نو تاسو مخ واړوئ. او کافر. مشرک انسان ډیر ناشکره دے آیا تاسو سره د دے خبرے یره (خطره) نشته چه هغه الله د اوچے په

بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ اَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُوْا

تاسو | په طرف | داوچه کښے | یا به راولیږی | په تاسو باندے | دکانړو باران | بیا به | اونه مومئ تاسو

یوه حصه کښ تاسو پشان دقارون بیخ کړی یا درباندے پشان دقوم لوط دکانړو باران اوکړی اوبیا به تاسو ته دخپل څان دپاره

لَكُمْ وَكِيْلًا ﴿۶۹﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ اَنْ يُّعِيْدَكُمْ فِيْهِ تَارَةً

دځان دپاره | څوک کارساز | آیا | بے غمه شوئ تاسو | ددے نه | چه بیا (واپس) بوځی تاسو | په دے (دریاب) کښے | یو ځل

څوک کارساز اوذمه وار ملاؤنشی. آیا تاسو ددے خبرے نه هم بے فکره (بے غمه) شوی یئ چه هغه تاسو بیا هم دے دریاب

اُخْرٰى فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ الرِّيْحِ فَيُغْرِقَكُمْ

بیا | پس راولیږی | په تاسو | سخت طوفان | د هوا | بیا غرق کړی تاسو

ته بوځی او بیا درباندے د هوا سخت طوفان راولیږی (او) ستاسو دناشکرئ په سزا کښے مو غرق کړی

بِمَا كَفَرْتُمْ ۙ ثُمَّ لَا تَجِدُوْا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهٖ تَبِيْعًا ﴿۷۰﴾

په دے وجه | چه تاسو کفر کړے دے | بیا به | اونه مومئ تاسو | دځان دپاره | په مونږ | ددے په باره کښے | څوک تپوس کونکے

او بیا به هیڅوک زمونږ نه دتپوس پوښتنے کولو قابل اونهٔ مومئ او حقیقت داد ے چه مونږ

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

او یقیناً | مونږ عزت ور کړے دے | اولاد | د آدم ته | اوسواره کړی دی مونږ دوی | په اوچه | اوپه دریاب کښے

د آدم اولاد ته ډیر عزت ور کړے دے او مونږ دوی دپاره په وچه اوپه دریاب کښے سورلئ مهیا (پیدا) کړی دی

وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ

اومونږ رزق ور کړے دے دوی ته | د پاکو څیزونو نه | اومونږ غوره کړی دی دوی | په ډیرو باندے | دهغه چا نه

او پاکیزه رزق مو ورله ورکړے دے او په خپل ډیر مخلوق باندے مو ورله

خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴿۷۱﴾ يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۢ بِاِمَامِهِمْ ۚ

چه مونږ پیدا کړی دی | په غوره کولو سره | په هغه ورځ | چه راوغواړو مونږ | هره | ډله | سره د عملنامو خپلو

فضیلت ور کړے دے. هغه ورځ یاده کړه کله چه مونږ ټول انسانان د خپلو عملنامو سره راوغواړو (راوبلو)

فَمَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَاُولٰٓئِكَ يَقْرَءُوْنَ كِتٰبَهُمْ

پس چاته | چه ور کړے شوه | عملنامه خپله | دهغه په ښی لاس کښے | نو دغه خلق به | لولی | عملنامے خپلے

بیا چاته چه خپله عملنامه په ښی لاس ور کړے شی نو هغوی به ئے لولی او په هغوی به

وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۲﴾ وَمَنْ كَانَ فِيْ هٰذِهٖٓ اَعْمٰى فَهُوَ

اوظلم به نه کیږی په دوی باندے | په قدر د تار دهڅوکی | اوهغه څوک | چه وی | په دے ژوند کښے | روند | نووی به هغه

د تار دهڅوکی د کجورے برابر هم ظلم نه کیږی اوهغوی چه په دے دنیا کښے د حق نه روند پاتے شو نو هغه به په آخرت کښے

فِي الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى وَاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۷۳﴾ وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ

په آخرت کښے (هم) | روند | اوزیات بلارے به وی | دلارے (دجنت) نه | اویقیناً وودوی نزدے | چه خامخا واړوی تا

هم روند وی بلکه (او) دنجات دلارے نه به ډیر زیات لرے وی. او اے نبیؐ! مونږ چه تاته کومه وحی درلیږلے ده

ع ۸

عَنِ الَّذِیْٓ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ لِتَفْتَرِیَ عَلَیْنَا غَیْرَهٗ ۫ وَاِذًا

د هغه څه نه | چه مونږ ستا ته وحی کړے ده | تاته | چه ته اوترے | په مونږ باندے | سواد هغے نه
قریبه وه چه دے کافر انوته د هغے نه اړولے وے (دے دپاره) چه ته په مونږ باندی د ځان نه څه دروغ وترے

لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِیْلًا ۝ وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ لَقَدْ كِدْتَّ

اودغه وخت به | دوی نیولے وے ته | دوست (خپل) | اوکه چرے | مونږ ته نه وے کلک کړے | نو یقیناً | نزدے وه
اوکه تادا کار کړے وے نو دوی به ته خپل خوږ دوست جوړ کړے وے اوکه مونږ ته مضبوط کړے نه وے نو ته به هم

تَرْكَنُ اِلَیْهِمْ شَیْـًٔا قَلِیْلًا ۝ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ ضِعْفَ

چه ته مائل شوے وے | دوی ته | لږ شان | دغه وخت به | مونږ خامخا څکولے وے تاته | دوچند عذاب
لږ لږ دوی ته مائله شوے وے۔ اوکه دا سے شوی وے نو مونږ به تاته په دنیا کښے هم

الْحَیٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَیْنَا نَصِیْرًا ۝

د ژوند | اودوچند عذاب | د مرګ | بیا به | نه موندلو تا | ځان دپاره | زمونږ په مقابله کښے | څوک مددګار
اودمرګ نه پس هم عبرتناکه سزا در کړے وے اوبیا به تازمونږ په مقابله کښے څوک مددګار هم نه وے موندلے

وَاِنْ كَادُوْا لَیَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِیُخْرِجُوْكَ مِنْهَا

اویقیناً وودوی نزدے | چه خامخا وخوږوی دوی تا | د زمکے نه | دے دپاره چه اوباسی تا | د دے نه
اونزدے وه چه دوی تاته مکرونه جوړ کړی وے اوددے مکے نه ځستاقدمونه خوږ لوے چه تاددے مکے نه بهر اوباسی

وَاِذًا لَّا یَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِیْلًا ۝ سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا

اودغه وخت | دوی به ایسار نشی | وروسته دستانه | مګر | لږ وخت | په شان دطریقے | دهغه چاسره | چه مونږ لیږلی وو
او که دا سے اوشوه نو دوی به هم ستادتلونه پس دلته ډیر وخت پاتے نه شی۔ دا زمونږ هغه طریقه (کار) دے چه ستانه مخکښ ډیرو

قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِیْلًا ۝ ع اَقِمِ الصَّلٰوةَ

مخکښ ستانه | پیغمبران خپل | اوته به اونهٔ مومے | زمونږ طریقے لره | څه بدلیدل | کوه | مونځ
پیغمبران و سره مونږ اختیار کړے وو اوته به زمونږ په طریقه (دستور) کښے هیڅ تبدیلی اونهٔ مومے۔ اے نبی! دنور دزوال

لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ اِلٰى غَسَقِ الَّیْلِ وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ؕ اِنَّ

د زوال | د نوَر نه | تر تیارے | دشپے پورے | اومونځ | د صبا (هم کوه) | بیشکه
نه پس دشپے دتیارې خوریدو پورے ته مونځونه کوه۔ اودصبا په وخت کښے دقرآن (چه رکن اصلی دمونځ دے) اهتمام کوه

قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ۝ وَمِنَ الَّیْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ

مونځ | د صبا | دے | وخت د حاضرئ | اودشپے په څه حصه کښے | تهجد کوه | په دے (قرآن) سره
یاد ساته چه د صبا د مونځ وخت د فرشتو د حاضرئ وخت دے۔ او دشپے په څه حصه کښے تهجد کوه

نَافِلَةً لَّكَ ۖ عَسٰٓى اَنْ یَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ۝

دازیاتی (نفل) دی | ستا دپاره | نزدے ده | چه ورسوی تالره | رب ستا | مقام | محمود ته
دا ستا دپاره یو اضافی عبادت دے۔ امید دے چه ستارب تامقام محمود (مقام دشفاعتِ کبرٰی) ته اورسوی

وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِیْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِیْ مُخْرَجَ

او اووایه | اے ربه زما | داخل کړه ما | په داخلیدو | غوره سره | او اوباسه ما | په ویستلو

او دا دعا کوه چه ای ربه ما چه چرته داخولے په ښه شان مے داخل کړه او ما چه د چرته نه اوباسے نو په

صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّیْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِیْرًا ﴿۸۰﴾ وَقُلْ

غوره سره | او را کړه | ماته | د خپل طرف نه | غلبه | چه مدد ورسره وی | او اووایه

عزت سره مے اوباسه. او ماته خاص د خپل طرف نه دا سے غلبه (اقتدار) را کړه چه ستا مدد ورسره وی.

جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ؕ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾

راغے | حق | او ورک شو | باطل | بیشکه | باطل | دی | ورکیدونکی

او اووایه چه حق راغے او باطل ختم شو یقیناً باطل ختمیدونکے څیز دے

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ ۙ

او مونږ را لیږو | د قرآن نه | هغه څه | چه هغه | شفاء | او رحمت دے | د مؤمنانو د پاره

او مونږ په قرآن کښے دا سے څیزونه را لیږو چه هغه د مؤمنانو د پاره د ظاهري او روحاني مرضونو شفاء او رحمت دے

وَلَا یَزِیْدُ الظّٰلِمِیْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا عَلَى الْاِنْسَانِ

اونه زیاتوی د اقرآن | ظالمانو لره | مکر | نقصان | او کله چه | مونږ انعام اوکړو | په انسان باندے

البته د ظالمانو په حق کښے (دهغوی د عناد د وجې) د تاوان نه سوا نور څه نه زیاتوی. او کله چه مونږ په انسان باندے انعام وکړو

اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ یَئُوْسًا ﴿۸۳﴾ قُلْ

نو مخ اړوی | او لرے کړی | د ډډه خپله | او کله چه | ورسی ده ته | مصیبت | نو وی | نا امیده | اووایه

نو هغه مخ اړوی د قرآن نه او تکبر شروع کړی. او کله چه پرے څه مصیبت راشی نو بیا نا امیده وی. اے نبیؐ! اووایه چه

كُلٌّ یَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ اَهْدٰى

هر یو | عمل کوی | په طریقه خپله باندے | پس رب ستاسو | ښه پیژنی | هغه څوک | چه دے هغه | زیات په صحیح

هر یو کس په خپله طریقه کار (عمل) کوی او ستاسو رب ته ښه پته ده چه څوک د ټولو نه زیات په سمه لار

سَبِیْلًا ﴿۸۴﴾ وَیَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ؕ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّیْ ع ۱۰

لار باندے | او دوی تپوس کوی ستانه | د روح په باره کښے | اووایه | (چه) روح | حکم د رب زما دے

روان دے. او اے نبیؐ! د اخلق ستانه د روح د مادے او پیدائش په باره کښے تپوس کوی نو ته ورته اووایه چه روح خو زما د رب یو حکم دے

وَمَاۤ اُوْتِیْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِیْلًا ﴿۸۵﴾ وَلَىِٕنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ

او نه دے د کړے شوے تاسو ته | د علم نه | مکر | لږ | او که چرے | مونږ اوغواړو | نو خامخا لرے به کړو

او تاسو ته چونکه لږ علم د کړے شوے دے دے د وجې تاسو د دے په حقیقت نشئ پوهیدلے. او که مونږ اوغواړو

بِالَّذِیْۤ اَوْحَیْنَاۤ اِلَیْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهٖ عَلَیْنَا

هغه څه | چه مونږ وحی کړے ده | تاته | بیا به | اونه مومے ته | د ځان د پاره | په دے سره | ز مونږ په مقابله کښے

نو کومه وحی موچه تاته کړے ده هغه به د نه واپس کړو بیا به ته د هغے په واپس راوړلو کښے ز مونږ په مقابله کښے څوک

وَكِيْلًا ۝ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ فَضْلَهٗ كَانَ عَلَيْكَ

مددگار | مگر | دوجے درحمت | د رب ستا نه | بیشکه | فضل دهغهٔ | دے | په تاباندے

مددگار اونهٔ مومی. لیکن مسلسل جاری پاتے کیدل ستا درب یو مهربانی ده. یقیناً په تاباندے دهغه دیر

كَبِيْرًا ۝ قُلْ لَّىِٕنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا

دیرلوئے | اووایه | که چرے | راجمع شی | انسانان | اوپیریان | په دے خبره | چه راوړی دوی

لوئے فضل دے ۔ته اووایه که چرے انسانان او پیریان په دے خبره اتفاق اوکړی چه

بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ

په شان | ددے | قرآن | نونه شی راوړے | ددے په شان | اگر که شی | بعضے ددوی نه

ددے قرآن په شان کلام جوړ کړی نو نه ئے شی جوړولے اگر که دیو بل سره

لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ۝ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

دبعضو دپاره | مددگار | او یقیناً | قسمقسم بیان کړی دی مونږ | خلقو ته | په دے | قرآن کښے

مددهم اوکړی۔او یقیناً مونږ د خلقو دپاره په دے قرآن کښے قسم قسم مثالونه اودلیلونه

مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۭ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ۝ وَقَالُوْا

د هر قسمه | مثال نه | پس نه کوی | دیر | خلق | مکر | ناشکری | اووائی دوی

بیان کړی دی بیاهم اکثر خلق د ناشکرئ کولو نه سوا په بل څه خوشحاله نه دی۔او دوی وائی چه

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ۝

(چه) هیڅکله مونږ ایمان نه راوړو | په تاباندے | تر دے | چه تهروانه کړے | زمونږ دپاره | د زمکے نه | یوه چینه

مونږ په تاباندے تر هغے پورے ایمان نه راوړو ترڅو چه زمونږ دپاره د زمکے نه یوه چینه راونه باسے.

اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ

یا دے شی | ستا | یو باغ | د کجورونه | او د انګورونه | پس روان کړے ته | نهرونه

یا دے ستا د کجورو او د انګورو یو باغ وے او ته دے د هغے په مینځ مینځ کښے

خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ۝ اَوْ تُسْقِطَ السَّمَاۗءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا

د هغے په مینځ کښے | په روانولو سره | یا راوغورځوے ته | آسمان | لکه څنګه چه | ته ګمان کوے | په مونږ باندے

نهرونه جاری کړے. یا څنګه چه ته دعوی کوے د اسمان نه ټکړے په مونږ باندے

كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰۗىِٕكَةِ قَبِيْلًا ۝ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ

ټوټے ټوټے | یا راولے ته | الله تعالی | او فرشتے | مخامخ (زمونږ) | یا دے وی | ستا | یو کور

راوغورځوے یا الله تعالی او فرشتے مونږ ته مخامخ راولے۔ یا دے ستا د سرو زرو

مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَاۗءِ ۭ وَلَنْ نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ

د سرو زرو نه | یا اوخیژے ته | آسمان ته | او هیڅ کله | مونږ یقین نه کوو | ستا په ختلو باندے

یو کور وی یا دے ته آسمان ته اوخیژے او مونږ ستا ختل هم تر هغے پورے نه منو

حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ ؕ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ

تر دے | چه ته نازل کړے | مونږ ته | یو کتاب | چه مونږ ئے ولولو | اووایه! | پاک دے | رب زما

ترڅو چه ته مونږ ته یو کتاب رانه وړے چه مونږ ئے ولولو، اووایه ورته سبحان الله (زما رب پاک ذات دے)

هَلْ كُنْتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوْلًا ۝۹۴ وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا ع

نه یم زهٔ | مګر | یو انسان | پیغمبر | او نه دی منع کړی | خلق | دے خبرے منه | چه ایمان راوړی

زه خو صرف پیغام رسونکے (پیغمبر) انسان یم او کله چه خلقو ته دهدایت پیغام راشی نو دایمان راوړونه صرف

اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ

کله چه | راغے دوی ته | هدایت | مګر | دے خبرے | چه وویل دوی | آیا رالیږلے دے | الله تعالی

دے خبرے منع کړی دی چه ویل به ئے آیا الله تعالی یو انسان

بَشَرًا رَّسُوْلًا ۝۹۵ قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ

یوانسان | پیغمبر | اووایه | که چرے! وے | په زمکه کښے | فرشتے | چه کرځیدے

پیغمبر رالیږلے دے، ورته اووایه که چرے په زمکه کښے هم فرشتے په اطمینان سره

مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ۝۹۶

په آرام | نوخامخا به مونږ رالیږلے وه | په دوی باندے | د آسمان نه | فرشته | پیغمبر

اوسیدے (کرځیدے راکرځیدے) نو مونږ به ضرور د آسمان نه یوه فرشته پیغمبر دوی ته رالیږلی وے

قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

اووایه | کافی دے | یواځے الله تعالی | گواه | په مینځ زما | او په مینځ ستاسو کښے | بیشکه هغه | دے

ته دوی ته اووایه چه زما او ستاسو په مینځ کښے د گواهۍ دپاره یواځے الله تعالی کافی (پوره) دے، یقیناً هغه

بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًۢا بَصِيْرًا ۝۹۶ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ

په خپلو بندګانو | ښه خبردار | لیدونکے | او چاته چه | لار اوښائی | الله تعالی | نو هم هغه | هدایت مومندونکے دے

د خپلو بندګانو نه ښه خبردے او هر څه وینی. او الله تعالی چه چاته هدایت اوکړی نو بس هم هغه په سمه لار شو

وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ

او چاله چه | بے لارے کړی هغه | نو هیڅ کله به ته ورسره نه مومے | د هغوی دپاره | مددګاران | سوا د هغه نه

او چا لره چه بے لارے کړی نو د الله نه سوا به د هغوی دپاره ته څوک مددګار اونه مومے

وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ؕ

او مونږ به راجمع کړو دوی | په ورځ | د قیامت | کرځیدونکي په مخونو دوی باندے | راانده | او کونګیان | او کانړه

او مونږ به دوی د قیامت په ورځ پر مخے دا سے راجمع کړو چه راانده کونګیان او کانړه به وی

مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ۝۹۷ ذٰلِكَ

ځای د دوی | دوزخ دے | هر کله | چه کمیږی (ډهلیږی) | نو زیات به کړو مونږ په دوی باندے | اور | دا

او دوزخ به ئے تیکاله (ځای) وی کله چه دهغے اور په کمیدو شی نو مونږ به ئے نور زیات په غرغنډو کړو. دا

جَزَآؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا

بدله دَدوی ده | حُکه چه دوی | کفر کړے وو | په آیتونو زمونږ | اووېل ئے | آیا هر کله | چه شو مونږ

ددوی سزا ده حُکه چه دوی زمونږ د آیتونو نه انکار کړے وو او اووېل ئے وو چه آیا مونږ کله چه (دمرګ نه پس)

عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ خَلْقًا جَدِيْدًا ۝ اَوَلَمْ يَرَوْا

هډوکی | او ذره ذره | آیا مونږ به | خامخا بیا راپاڅولی شو | په پیدائش | نوی سره | آیا دوی نه ګوری

هډوکی هډوکی او چوره چوره شو نو آیا بیا به دنوی پیدائش سره راپیدا کیږو۔ آیا (ولے) دوی دومره سوچ نه کوی

اَنَّ اللّٰهَ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ عَلٰٓى

چه بیشکه | الله تعالیٰ | هغه ذات | چه پیدا کړی دی | آسمانونه | او زمکه | قادر دے | په دے

چه کوم الله تعالیٰ چه اسمانونه او زمکه پیدا کړی دی (هغه) په دے هم قادر دے چه ددوی په شان خلق

اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيْهِ ؕ

چه پیدا کړی | په شان ددوی | اومقرر کړے دهغه | دپاره ددوی | یوه نیته | چه هیڅ شک نشته | په هغے کښے

راپیدا کړی او هغه ددوی دپاره یوه دا سے نیته مقرر کړے ده چه د هغے په راتلو کښے هیڅ شک نشته

فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ اِلَّا كُفُوْرًا ۝ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَآئِنَ

پس نه کوی | ظالمان | مګر | ناشکری | اووایه | که چرے تاسو | مالکان شئ | د خزانو

بیا هم ظالمان د ناشکرئ نه سوا په بله خبره راضی نه دی۔ (اے نبیٔ دے کافرانو ته) اووایه چه که چرے زما د رب

رَحْمَةِ رَبِّیْٓ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ

د رحمت | د رب زما | (نو) دغه وخت | خامخا به تاسو بند کړئ | د یَرے | د خرچ کیدونه | او دے | انسان

خزانے ستاسو په اختیار کښے شی نو (بیا به هم) تاسو د هغے د ختمیدو د یَرے نه ضرور لاسونه بند نیولی وی

قَتُوْرًا ۝ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ ع

دیر زړه تنګے | او یقیناً | ورکړے موے مونږ | موسیٰ ته | نهه | معجزے | ښکاره | پس تپوس او کړه

او انسان دیر زړه تنګے دے۔ او یقیناً مونږ موسیٰ علیه السلام ته نهه واضحے معجزے (نښے) ورکړے وے،

بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ اِنِّیْ

د بنی اسرائیلو نه | کله چه | راغے موسیٰ دوی ته | نو اووېل | ده ته | فرعون | بیشکه زه

اوس ته لږ د بنی اسرائیلو نه تپوس او کړه چه کله موسیٰ دوی ته راغے نو فرعون ورته اووېل چه اے موسیٰ!

لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى مَسْحُوْرًا ۝ قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ

خامخا ګمان کوم په تا باندے | اے موسیٰ | د جادو کړے شوی | اووېل هغه | یقیناً | تا ته پته ده | چه نه دی راالیږلی

ستا بارہ کښے خو زما دا خیال دے چه په تا باندے جادو شوے دے۔ موسیٰ ورته اووېل (چه) تا ته ښه پته ده

هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ ۚ وَاِنِّیْ لَاَظُنُّكَ

دا (نښے) | مګر | رب | د آسمانونو | او زمکے | ښکاره دلیلونه | او بیشکه زه | خامخا ګمان کوم په تا باندے

چه دا تولے نښے صرف د اسمانونو او د زمکے رب ستاسو د پوهے دپاره راالیږلی دی او اے فرعون استا بارہ کښے

يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ۝ فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ مِّنَ الْاَرْضِ

اے فرعون | دھلاک شوی | پس ارادہ او کړہ هغهٔ | چه اوشړی دوی | د زمکے نه

زما دا خیال دے چه ته تباه کیدونکے ئے۔ بیا فرعون دا ارادہ او کړہ چه دا بنی اسرائیل د مصر د زمکے نه

فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ۝ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ

نو غرق کړو مونږ هغه | او هغه څوک | چه ورسره وو | ټول | او مونږ اوویل | وروسته د هغهٔ نه

بهر او باسی خو مونږ هغه او د هغه ټول منګړی په یو ځای غرق کړل۔ او د هغهٔ د هلاکولو نه وروسته مونږ

لِبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ

بنی اسرائیلو ته | (چه) اوسیږئ | په زمکه کښے | پس کله چه | راشی | وعده | د آخرت

بنی اسرائیلو ته اوویل چه (اوس) تاسو په زمکه کښے اوسیږئ بیا چه کله د آخرت وعده راشی نو مونږ به تاسو

جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ۝ وَبِالْحَقِّ اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ

نوره ټوله مونږ | تاسو لره | غونډ (په جمع) | اوپه حق سره | نازل کړے مے مونږ دا (قرآن) | اوپه حق سره | نازل شوے دے

ټول راجمع کړو او مونږ دے قرآن نزول په حق سره شروع کړے دے او هم په حق سره ئے نزول پوره شوے دے

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝ وَقُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ

او مونږ نه ئے لیږلے ته | مګر | زیرے ورکونکے | او یرونکے | او قرآن | جدا جدا کړے مے مونږ دا

او اے نبیؐ ته خو مونږ صرف تا بعدار وته د زیری ورکولو او نافرمانو ته د ډیرولو د پاره لیږلے ئے او مونږ دا قرآن جدا جدا

لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّنَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا ۝

دے د پاره چه ګلوله | په خلقو باندے | په دمه دمه | او مونږ نازل کړے دا | په لږ لږ نازلولو سره

حصوته تقسیم کړے دے دے د پاره چه ته ئے خلقو ته په دمه دمه اولوله او مونږ لږ لږ نازل کړے دے

قُلْ اٰمِنُوْا بِهٖٓ اَوْ لَا تُؤْمِنُوْا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

اووایه | که ایمان راوړئ تاسو | په دے | یا ایمان نه راوړئ | بیشکه | هغه خلق | چه ورکړے شوے مے دی ته | علم

(اے نبیؐ کافرانو ته) اووایه چه تاسو په دے قرآن ایمان راوړئ او که نه راوړئ کوم خلق ته چه دے نه مخکښ علم ورکړے

مِنْ قَبْلِهٖٓ اِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ يَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ سُجَّدًا ۝

مخکښ دے نه | کله چه | اولوستلے شی دا (قرآن) | هغوی ته | نوپریوځی هغوی | په زنو (په مخونو) | سجده کونکی

شوے دے هغوی ته چه کله دا اولوستلے شی نو هغوی د ډیرے خشوع نه خپلے زنے جوخته کړی زمکے ته او سجده کونکی شی

وَّيَقُوْلُوْنَ سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُوْلًا ۝

او وائی دوی | پاک دے | رب زمونږ | بیشکه | ده | وعده | د رب زمونږ | خامخا پوره کړے شوے

او وائی چه زمونږ رب پاک دے۔ او زمونږ د رب وعده به خامخا پوره کیږی

وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا ۝ قُلِ

او پریوځی | په زنو باندے پر مخے | ژاړی دوی | او زیاتوی دوی لره | عاجزی | اووایه

اوپه ژړا ژړا پر مخے پریوځی او قرآن سره د دوی په زړونو کښے عاجزی نوره هم زیاته شی۔ اے نبیؐ ادوی ته اووایه که تاسو

ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ

او بلئ تاسو | الله | یا | او بلئ تاسو | رحمٰن | په هریو نوم | چه رابلئ تاسو (هغه) | نو هم دهغه دی | نو مونه
الله تعالی دالله تعالی په نوم سره رابلئ یا د رحمٰن په نوم سره. په کوم یو نوم چه تاسو هغه رابلئ نو یوه خبره ده ځکه چه

الْحُسْنٰى ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ

زیات ښائسته | اوته مه وایه په اوچت آواز سره | مونځ خپل | او مه ډیر په پټه وایه | دا (مونځ) | او اولټوه
تول ښائسته نومونه هم دهغه دی. اوته په خپلو تولو مونځونو کښ قرأت په جهر سره هم مه کوه او په تولو کښ اخفاء هم مه کوه بلکه

بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۝ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا

په مینځ ددے کښے | لار | او اووایه | حمدونه دی | الله لره | هغه ذات | چه نه ځدے نیولے | څوئ
یعنے په جهر سره او بعضے په اخفاء سره دا کوه او وایه چه تول حمدونه دهغه الله تعالی دی چه نه ځوک څوئ جوړ کړے دے

وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِی الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ

او نشته | دهغه | هیڅ څوک شریک | په بادشاهئ کښے | او نشته | دهغه
او نه ورسره په بادشاهئ کښے څوک شریک شته او نه ئے د کمزورئ (عاجزئ) دوجے مددګار ته

وَلِیٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ۝ ع

هیڅ څوک مددګار | د کمزورئ دوجے نه | اولوئ وایه دهغه | پوره لوئ
ضرورت شته او (بلکه) دهغه داسے لوئ بیان کړه څنګه چه د هغه دلویئ بیانولو حق وی۔

آیاتها [۱۱۰]	سورة الکهف مکّیّة	رکوعاتها [۱۲]

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خاص په نوم | د الله | چه ډیر مهربان | زیات رحم کونکے دے (شروع کوم)
خاص په مدد د نوم دهغه الله چه عام مهربان دے او خاص مهربان دے شروع کوم۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ

حمدونه دی | الله تعالی لره | هغه ذات | چه نازل کړے ئے دے | په خپل بنده باندے | کتاب | اونه ئے دے پیدا کړے
تول د خدائ صفتونه دهغه الله تعالی دی چه په خپل بنده باندے ئے دا کتاب نازل کړے دے او هیڅ قسم نقصان ئے پکښ

لَّهٗ عِوَجًا ۝ قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَاْسًا شَدِيْدًا مِّنْ لَّدُنْهُ

په دے کښے | څه کوږوالے | پوخ بیان والا دے | دے د پاره چه اویروی هغه | د عذاب | سخت نه | د الله د طرف نه
پریښودلے نه دے بلکه یوه نیغه لار ښودونکی (او اسلان) کتاب ئے دے د پاره نازل کړے دے چه د خپل (طرف نه) د سخت عذاب

وَيُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ

او زیری ورکړی | مؤمنانو ته | هغه کسان | چه عملونه کوی | نیک | چه بیشکه | شته د دوی د پاره
نه خلق اویروی او کوم مؤمنان چه نیک عمل کوی هغوی ته د دے خبرے زیری ورکړی چه د هغوی د پاره ډیر بهترین

اَجْرًا حَسَنًا ۙ﴿۲﴾ مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۙ﴿۳﴾ وَّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا

اجر | بنائسته | اوسیږی به | په دے کښے | همیشه | او اویږوی | هغه خلق | چه وائی

(بنائسته) اجر تیار دے چه په هغے کښے به همیشه همیشه اوسیږی. او هغه خلق اویروی چه هغوی وائی چه الله تعالی

اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۘ﴿۴﴾ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمْ ؕ

نیولی دے | الله تعالی | اولاد | نشته | دوی لره | په دے باندے | هیڅ علم | اونه ددوی پلار نیکه لره

دځان دپاره څوئ جوړ کړے دے۔ حالانکه په دے خبرے ددوی سره او ددوی د پلار نیکه سره هیڅ دلیل نشته

كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ؕ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۝﴿۵﴾

دیره غټه | خبره ده | چه راڅخه | د خولو د دوی نه | نه وائی دوی | مکر | دروغ

دیره غټه (خطرناکه) خبره د دوی د خولو نه راووځی، څه چه وائی هغه تش دروغ دی۔

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا

نو شاید چه ته | هلاکوونکے ئے | خپل ځان لره | په دوی پسے | که چرے | ایمان نه راوړی دوی

نو اوس اے نبی! که دا خلق په قرآن ایمان نه راوړی نو آیا دا سے ښکاری چه ته د دوی په غم کښے په

بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَسَفًا ۝﴿۶﴾ اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً

په دے | خبره (کلام) | د غم د وجه نه | بیشکه | مونږ جوړ کړی دی | هغه څه | چه په زمکه دی | بنائست

افسوس کولو کولو ځان هلاک کوے۔ یقین اوساته چه د زمکے په مخ دا ټول څیزونه مونږ د زمکے زینت

لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۝﴿۷﴾ وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ

دے (زمکے) | چه واز مایو مونږ دوی | چه کوم یو په دوی کښے | ډیر ښه | عمل والا دے | او بیشکه مونږ | خامخا کړ څونکی یو

(بنائست) څکه جوړ کړے دے چه دا خلق واز مایو چه څوک پکښې زیات ښه عمل کوی. او دا هم یقین اوساته چه

مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ۝﴿۸﴾ اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ

هغه څاڅکره | چه په دے (زمکه) دی | میدان | صفا (خالی) | آیا | ته ګمان کوے | چه بیشکه | غار والا

د زمکے په مخ چه څه هم موجود دی یوه ورځ به مونږ دا ټول یو صفا میدان جوړ کړو. ستا ګنے دا خیال دے چه غار والا

وَالرَّقِيْمِ ۙ كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ۝﴿۹﴾ اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ

او رقیم والا | وو | د نخښو زمونږ نه | ناشنا (عجیبه) | کله چه | پناه واخسته له | ځوانانو

او رقیم والا خلق زمونږ د قدرت په نخښو کښے څه ډیر عجیبه څیز دے۔ څه وخت چه دغه ځوانانو غار کښے

اِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّهَيِّئْ

غار ته | ووئیل | اے ربه زمونږ! | را کړه مونږ ته | د خپل طرف نه | رحمت | او اسان کړه

پناه واخسته له او په دے کښې ئے الله تعالی ته اوویل (چه) اے زمونږ ربه! مونږ ته د خپل طرف نه کلکوالے را کړه

لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ۝﴿۱۰﴾ فَضَرَبْنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ

زمونږ د پاره | د کار زمونږ نه | کامیابی | پس ټپول او کړل مونږ | د هغوی په غوږونو (د خوب) | په غار کښے

او زمونږ په کار کښے د کامیابۍ سامان (اسباب) را پیدا کړه۔ پس مونږ په غار کښے دوی په غوږونو باندے او ټپول

سِنِيْنَ عَدَدًا ﴿۲۵﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ لِنَعْلَمَ اَیُّ الْحِزْبَيْنِ اَحْصٰى

یو څو کلونه | په شمار | بیا | راپاڅول مونږ دوی | دے دپاره چه مونږ ښکاره کړو | چه کوم یو په دواړو ډلو کښے | ښه شمار کوی

(او) څو کاله مو اوده اوساتل. بیا مو دے دپاره راپاڅول چه مونږ ښکاره کړو چه د دوی په دوو ډلو کښے کومه

لِمَا لَبِثُوْٓا اَمَدًا ﴿۲۶﴾ نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ؕ

دهغے | چه تیره کړے ده دوی | موده | مونږ | بیانوو | تاته | خبر ددوی | په حقه

یوه ډله د اوده پاتے کیدو موده څومره ښه شمار لے شی. او مونږ تاته د دوی قصه ټیک ټیک بیانوو

اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ﴿۱۳﴾ وَّرَبَطْنَا

بیشکه دوی | یو څو ځوانان وو | چه ایمان یې راوړے وو | په رب خپل | او زیات کړے وو مونږ دوی ته | هدایت | او تړلی حصیر لکه مونږ

د څو ځوانانو وو چه په خپل رب ئے ایمان راوړے وو او مونږ ورله په هدایت کښ زیاته ترقی ورکړے وه او زړونه مو ورله کلک کړی وو

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ

په زړونو د دوی باندے | کله چه | اودریدل دوی | نو وئے ویل | (چه) زمونږ رب (خو) | رب | د آسمانونو

څه وخت چه دوی تیار پاڅیدل (مشرک بادشاه ته) او وئے ویل چه زمونږ رب هغه ذات دے کوم چه د آسمانونو او د زمکے رب

وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَآ اِذًا

او د زمکے دے | هیڅ کله به مونږ اونه بلو | سوا د هغه نه | بل حقدار دبندګۍ | یقیناً | ویلی به وی مونږ | دغه وخت

(مالک) دے او مونږ به هیڅ کله د هغه نه سوا بل معبود (مددګار) راونه بلو که مونږ داسے او کړل نو دا به مونږ د پیره بے ځایه خبره

شَطَطًا ﴿۱۴﴾ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا يَاْتُوْنَ

د حد نه تیره خبره | دا دے | قوم زمونږ | نیولی ئے دی | سوا د الله نه | نور معبودان | ولے نه راوړی دوی

کړی وی زمونږ خپل قوم د الله تعالیٰ نه سوا نور کنړ معبودان جوړ کړی دی، که د دوی عقیده صحیح وی نو دوی د خپلو

عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ

په هغوی باندے | څه دلیل | ښکاره | پس څوک دے | زیات ظالم | د هغه چا نه | چه تړی | په الله تعالیٰ باندے

معبودانو په ثبوت کښے څه ښکاره دلیل ولے نه پیش کوی. آیا د هغه چا نه هم لاڅوک غټ ظالم کیدے شی چه الله تعالیٰ باندے

كَذِبًا ﴿۱۵﴾ وَاِذِ اعْتَزَلْتُمُوْهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ فَاْوٗٓا

دروغ | او کله چه | جدا شوئ تاسو دوی نه | او د هغه څه نه | چه دوی ئے بندګی کوی | سوا | د الله تعالیٰ نه | نو پناه واخلئ

دروغ تړی او اے ملګرو! هر کله چه تاسو د قوم او د هغوی د هغه معبودانو نه چه دوی ئے عبادت کوی

اِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ

غار ته | خوره به کړی | ستاسو د پاره | رب ستاسو | د رحمت خپل نه | او پیدا به کړی | ستاسو د پاره

جدائی اختیار کړے ده نو راځئ اوس په غار کښے پناه واخلئ ستاسو رب به په تاسو خپل رحمت راخور کړی او ستاسو په کارونو

مِّنْ اَمْرِكُمْ مِّرْفَقًا ﴿۱۶﴾ وَتَرَى الشَّمْسَ اِذَا طَلَعَتْ تَّزٰوَرُ

د کار ستاسو نه | آسانی (فائده ے) | او ته به وینے | نور | کله چه | راخیژی | نو اوړی

کښے به روستو د مصیبتونو نه د اسانئ اسباب پیدا کړی. او (هغه غار داسے وو چه) تا به نور د راختلو په وخت کښے لیدلو

عَنْ كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَاِذَا غَرَبَتْ تَّقْرِضُهُمْ

د دوی د غار نه | ښی طرف ته | او کله چه | پریوځی | نو ډډه کوی د دوی نه

چه د هغوی د غار نه ښی طرف ته اوړی او د ډوبیدو په وخت کښے د هغوی نه کس طرف ته ډډه کوی

ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِيْ فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۭ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ ۭ

کس طرف ته | او دوی | په یوارت ځای کښے دی | د دے (غار) نه | دا دی | د نخښو | د الله تعالیٰ نه

او هغوی د دے غار په کولاو (فراخه) ځای کښے اوده دی. دا حالت د دوی د الله تعالیٰ د قدرت د نخښو نه یوه نخښه ده

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ

چا ته چه | سمه لار اوښائی | الله تعالیٰ | نو هم هغه دے | هدایت موندونکے | او هغه څوک | چه هغه (الله) ګمراه کړی

الله تعالیٰ چه چا ته هدایت او کړی نو هم هغه هدایت مومی او هغه چه څوک ګمراه کړی نو هیڅ څوک به ته

فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ وَلِيًّا مُّرْشِدًا ۝ وَتَحْسَبُهُمْ اَيْقَاظًا وَّهُمْ ع

نو هیڅ ګله به ته نه مومے | دهغه دپاره | څوک دوست | سمه لار ښودونکے | او ته به ګمان کوے په دوی باندے | دویښو | حال د دے چه دوی

دهغه مددګار او نه مومے چه سمه لار درته اوښائی. او ته (چه هغوی اوښے نو) دا ګمان به پرے کوے چه بیدار ه دی

رُقُوْدٌ ۚ وَّنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِيْنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۡ وَكَلْبُهُمْ

اوده دی | او مونږ اړوو راړوو دوی | ښی طرف ته | او کس طرف ته | او سپے د دوی

حالانکه هغوی اوده دی او د هغوی سپی په درشل دواړه لیچے خورے کړی دی

بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيْدِ ۭ لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ

خورونکے دے | خپلو دواړو څنګلونه | په دُرشل | که چرے | ورښکاره شے ته | په دوی باندے | نو خامخا شا به کړے ته

که تا ورته څومره هم د داخلیدو کوشش کړے وے نو په شا به تختیدلے وے

مِنْهُمْ فِرَارًا وَّلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا ۝ وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ

دوی ته | تیخته کونکے | او ډک به شے ته | د دوی نه | په یرے سره | او هم دغه شان | راپاڅول مونږ دوی

او د دوی رعب به درباندے خورشوے وے. او (څنګه چه موږ اوده کړی وو) دغه شان مو دے دپاره راویښ کړل

لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ۭ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْ ۭ

چه دیوبل نه تپوس او کړی | په خپل مینځ کښ | اووایل | یو ویونکی | د دوی نه | (چه) څومره | وخت تیر کړے دے تاسو

چه په خپل مینځ کښے دیوبل نه تپوس او کړی. (نو) یو لکے تپوس او کړو چه تاسو څومره وخت تیر کړے دے؟

قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۭ قَالُوْا رَبُّكُمْ

اووایل دوی | وخت تیر کړے دے مونږ | یوه ورځ | یا څه برخه | د ورځے | اووایل دوی | رب ستاسو

نو څه کسانو اووایل چه یوه ورځ یا د ورځے نه څه کم وخت به مونږ تیر کړے وی نو نور و اووایل ستاسو رب ته

اَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ۭ فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ

ښه پوهه دے | په هغه (وخت) | چه تاسو تیر کړے دے | پس اولیږئ | یو کس په تاسو کښ | په پیسو خپلو سره | چه دادی

پوره علم دے چه تاسو څومره وخت تیر کړے دے. اوس هم په دے پیسو سره خپل یو تن بنار ته اولیږئ

اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ

ښار ته | نواودے کوری | چه کوم یودے (ښار والو نه | پاک (حلال) | خوراک والا دے | نوراډ وړی هغه تاسو ته
اوښه غور او فکر (معلومات) دے او کړی چه د کوم یو کس خوراک د ټولو نه پاکیزه (حلال) وی نو د هغه مؤحد نه دے

بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ اَحَدًا ۝١٩

څه خوراک | د هغه نه | او نرمی دے کوی | اونه دے خبروی | په تاسو باندے | هیڅ څوک (هم)
ستاسو د پاره خوراک راوړی او په خبرو کښ دے دهوښیار توب (نرمئ) نه کار واخلی او په تاسو دے هیڅ څوک نه خبروی

اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ

بیشکه دوی | که چرے | زور ور (غالب) شو | په تاسو باندے | نوسنګسار به مو کړی | یا به مو واپس کړی
ځکه که د هغه ښار والا خلق په تاسو خبر (غالب) شی نو یا خو به مو سنګسار کړی یا به مو خپل دین ته

فِيْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اِذًا اَبَدًا ۝٢٠ وَكَذٰلِكَ اَعْثَرْنَا

دین خپل ته | او هیڅ کله به کامیاب نشئ تاسو | د هغه وخت | همیشه | او د هغه شان | مونږ خبر کړل خلق
واپس واړوی. او که داسے اوشوه نو هیڅ کله به کامیاب نه شئ۔ او د هغه شان مونږ خلق په دوی باندے

عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوْٓا اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاَنَّ السَّاعَةَ

په دوی باندے | دے د پاره چه پوهه شی دوی | چه بیشکه | وعده | د الله تعالی | حق (رښتینے) ده | او د اچه بیشکه | قیامت
د دے د پاره خبر کړل چه یقین ئے راشی چه د الله تعالی وعده حق ده او د قیامت په راتلو کښے هیڅ

لَا رَيْبَ فِيْهَا ۚ اِذْ يَتَنَازَعُوْنَ بَيْنَهُمْ اَمْرَهُمْ فَقَالُوا

نشته هیڅ شک | په هغے کښے | کله چه | جګړه کوله دوی دیو بل سره | په خپل مینځ کښے | په معامله د دوی کښے | پس اوویل دوی
شک نشته (بیا هغه وخت هم راغے چه) کله خلقو په خپل مینځ کښ دیو بل سره د دوی په حقله جګړه کوله. نو څنو خلقو ویل

ابْنُوْا عَلَيْهِمْ بُنْيَانًا ۭ رَبُّهُمْ اَعْلَمُ بِهِمْ ۭ قَالَ الَّذِيْنَ

جوړ کړئ | په دوی باندے | یوه آبادی | رب د دوی | ښه پوهه دے | په دوی باندے | اوویل | هغه خلقو
چه د دوی په غار باندے یوه آبادی (عمارت) جوړ کړئ. د دوی رب د د دوی د حال نه خبر دے. اخیر کوم خلق

غَلَبُوْا عَلٰٓى اَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِمْ مَّسْجِدًا ۝٢١ سَيَقُوْلُوْنَ

چه زور ور وو | په خپل کار باندے | (چه) مونږ به خامخا جوړ وو | په دوی باندے | یو جومات | زرده چه وائی به دوی
چه په خپل کار (معاملاتو) کښے غالب وو هغوی اوویل چه مونږ به د دوی په غار باندے یو جومات جوړ وو. څه خلق به وائی

ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ

چه درے وو | څلور م د دوی | سپی د دوی دے | او (بعضے) وائی | چه پنځه دی | شپږم د دوی | سپی د دوی دے
چه دوی درے وو او څلور م ئے سپے وو او څه خلق به وائی چه پنځه وو او شپږم ورسره سپے وو. دا بے دلیله اتکل خبرے دی

رَجْمًۢا بِالْغَيْبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۭ قُلْ

ویشتل کوی | په توک (غائبانه) | او (بعضے) وائی | چه اوه دی | او اتم د دوی | سپے د دوی دے | اووایه
او څه خلق به وائی چه اوه کسان وو او اتم ورسره سپے وو. اے نبی ته دے ټولو ته اووایه چه زما رب ته د هغوی

رَبِّیْٓ اَعْلَمُ بِعِدَّتِهِمْ مَّا یَعْلَمُهُمْ اِلَّا قَلِیْلٌ ۬ فَلَا تُمَارِ

رب زما | ښه پوهه دے | په شمیر دَدوی | نه پوهیږی ددوی په (تعداد) | مګر | لږ خلق | پس ته جګړه مه کوه

صحیح تعداد معلوم دے (او) دهغوی صحیح تعداد دلږو خلقونه سوا بل چاته پوره نه دے معلوم نوته دهغوی

فِیْهِمْ اِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۪ وَّلَا تَسْتَفْتِ فِیْهِمْ مِّنْهُمْ اَحَدًا ﴿۲۲﴾ ع

ددوی په بارہ کښے | مګر | بحث | سرسری | او تپوس مه کوه | ددوی په بارہ کښے | دَدے خلقونه | د هیڅ چانه

په بارہ کښے د دے خلقو سره د سرسری بحث نه سوا زیات بحث مه کوه. او نه د هغوی په بارہ کښے د چانه تپوس کوه

وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَایْءٍ اِنِّیْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾ اِلَّآ اَنْ

اوته هرګز مه وایه | دیو څیز په بارہ کښے | چه پیشکه زه | کونکے | د دے یم | صبا | مګر | داچه

اوا ے نبی ادهیڅ یو کار بارہ کښے کله هم دا مه وایه چه زه به صبا دا کوم. البته دا سے وایه چه که الله تعالیٰ غوښتل نو وا به ے کړم

یَّشَآءَ اللّٰهُ ۡ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِیْتَ وَقُلْ عَسٰٓی اَنْ یَّهْدِیَنِ

اوغواړی | الله | او یاد کړه | رب خپل | کله چه | هیر شی ستانه | اووایه | نزدے دے ده | چه اوبه ښائی ماته

اوکله چه درنه څه خبره هیره شی نو خپل رب یاد وه (په انشاء الله سره) یا په مغفرت سره) اوداوایه چه امید دے چه زما رب به په خیر

رَبِّیْ لِاَقْرَبَ مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿۲۴﴾ وَلَبِثُوْا فِیْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ

رب زما | زیاته نزدے | د دے نه | دښیګړے خبره | اوحصار شو دوی | په غار خپل کښ | درے | سوه

اوفائده کښ ماته ددے هیر شوی شی نه زیات غوره څیز اوښائی اودوی په خپل غار کښے نهه دپاسه درے سوه کاله وخت

سِنِیْنَ وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿۲۵﴾ قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا ۚ

کاله (شمسی) | اوزیات ے ګرل | نهه کاله (قمری) | اووایه | الله تعالیٰ | ښه پوهیږی | په هغه (موده) | چه دوی تیره کړے ده

تیر کړے وو که څوک د سره دَدوی په بارہ کښے بحث کوی نوورته اووایه چه هم الله تعالیٰ ته ښه پته ده چه دوی څومره وخت تیر کړے وو

لَهٗ غَیْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ؕ

خاص د هغه په پاره دے | (علم د) پټو څیزونو | د آسمانونو | او د زمکے | ښه لیدونکے دے | هغه | او ښه اوریدونکے دے

د اسمانونو او د زمکے د پټو لو خبرو علم هم هغه سره دے. هغه څومره ښه لیدل کوی او څومره ښه اوریدل کوی

مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ ۪ وَّلَا یُشْرِكُ فِیْ حُكْمِهٖٓ

نشته | د دوی د پاره | د هغه نه سوا | هیڅ څوک دوست | او هغه نه شریکوی | په خپل حکم (خدایئ) کښے

د هغه نه سوا د دوی هیڅ څوک دوست نشته او هغه په خپل حکومت (خدایئ) کښے هیڅ څوک

اَحَدًا ﴿۲۶﴾ وَاتْلُ مَآ اُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنْ كِتٰبِ رَبِّكَ ۚ لَا مُبَدِّلَ

هیڅ څوک | او لوله | هغه څه | چه وحی ے کړی | تاته | د کتاب | د رب خپل نه | نشته د هیڅ څوک بدلونکے

نه شریکوی ۔ او اے نبی تاته چه د خپل رب کوم کتاب نازل شوے دے هغه لوله (بیانوه) د هغه خبرے (حکمونه)

لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۷﴾ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ

خبرو (حکمونو) د هغه لره | اوته به هیڅ کله پیدا نه موے | سوا د هغه نه | ځائے د پناه | او ټینګ کړه | خان

هیڅ څوک نه شی بدلولے. او د هغه نه سوا ته هیڅ چرته پناه نه شے موندلے. او کوم خلق چه سحر او

مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ

دھغه خلقو سره | چه رابلی | رب خپل | صبا | او بیګا | غواړی دوی
مانښام خپل رب رابلی او دھغه رضا لټوی دھغوی سره ځان ټینګ اوساته

وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ ۚ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

رضا دھغه | او وادِ نهٔ وړی | ستر ګے ستا | دَ دوی نه | چه ته غواړے | ښائست | د ژوند | دنیوی
او ستا ستر ګے دِ د دنیا د ژوند د زینت (ښائست) په طلب د دوی نه لرے هم وانهٔ وړی.

وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ

او خبره مه منه ته | دھغه چا | چه غافله کړے دے مونږ | زړهٔ دھغهٔ | د ذکر خپل نه | اوروان شوے دے هغه
او د هغه چا خبره مه منه چه مونږ د هغه زړه د خپل یاد (قرآن) نه غافله کړے دے او خپل خواهش پسے

هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ۝ وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۫

په خواهش خپل پسے | او دے | کار دهغه | د حد نه اوړیدل | او اووایه | چه حق هغه دے | چه ستاسو رب د طرف نه وی
روان دے او معامله (هر کار ئے) د حد نه اوړیدلے دے او اووایه چه حق (قرآن) خو ستاسو رب د طرف نه راغلے دے

فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۙ اِنَّآ اَعْتَدْنَا

پس څوک | چه غواړی | نو ایمان دے راوړی | او څوک | چه غواړی | نو کفر دے اوکړی | بیشکه مونږ | تیار کړے دے
اوس چه د چا خوښه وی نو ایمان دے راوړی او چه د چا خوښه وی نو کفر دے اختیار کړی (خو یاد سائ چه) د ظالمانو د پاره

لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ۙ اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۭ وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا

د ظالمانو د پاره | (دا سے) اور | (چه) راګیر به کړی | دوی لره | دیوالونه دهغے | او که چرے | فریاد اوکړی دوی
مونږ دا سے اور تیار کړے دے چه دهغے دیوالونه (پردے) به په دوی باندے دهر ے غاړے نه راچاپیره وی او که چرے دوی

يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوْهَ ۭ بِئْسَ

نو فریاد به قبول کړے شی | په (دا سے) اوبو سره | چه وی به په شان د ویلی شوے کړے مټے | چه وریتوی به | مخونه | د بیر بد دی
دتندے فریاد اوکړی نو د فریاد جواب به ورته د ویلی شوے تانبے په شان په یشیدلو (خو تکیدلو) دا سے اوبو ملاویږی چه دوی مخونه به

الشَّرَابُ ۭ وَسَاۗءَتْ مُرْتَفَقًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

دا څکل | او بیر بد دے دا | ځائ د فائدے | بیشکه | هغه خلق | چه ایمان ئے راوړے دے | او عملونه ئے کړی دی
په سوزولو سره ایره کړی دا بیر ے خرابے او به دی او بیر خراب ځائ د فائدے اخستلو دے. البته چا چه ایمان راوړے دے

الصّٰلِحٰتِ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا ۝ اُولٰۗىِٕكَ

نیک | بیشکه مونږ | نه ضائع کوو | اجر | د هغه چا | چه ښائسته | عمل والا دے | د هغه خلق
او نیک عملونه ئے کړی دی نو یقین اوسائ چه مونږ د دا سے خلقو اجر نه ضائع کوو چه ښه عمل اوکړی

لَهُمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ يُحَلَّوْنَ

هم د دوی د پاره دی | جنتونه | د همیشه والی | چه بهیږی به | لاندے د دوی نه | نهرونه | اچولے به شی دوی ته
هم د دے خلقو د پاره همیشه جنتونه دی د دوی د باغونو د لاندے به نهرونه بهیږی او دوی ته به

فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّيَلْبَسُوْنَ ثِيَابًا خُضْرًا

په هغے کښے | بنګړی | د سرو زرو | او اغوندی به دوی | جامے | شنے

په هغے کښے د سرو زرو بنګړی اچولے شی او د شنو

مِّنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ؕ

د نرو ریښمو | او د غټو ریښمو | تکیه لګونکی به وی | په هغے کښے | په تختونو باندے

نرو او غټو ریښمو جامے به اغوندی . په اوچتو تختونو به ځ تکیه لګولی وی۔

ع نِعْمَ الثَّوَابُ ؕ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ۝ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا

ښه | بدله ده دا | او ډیر ښه دے دا | ځائے د فائدے | او بیان کړه | دوی ته | مثال

دا ډیره ښه بدله ده او ډیر ښائسته ځائ د فائدے حاصلولو دے او اے نبی! دے خلقو ته د هغه

رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِاَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ اَعْنَابٍ وَّحَفَفْنٰهُمَا

د دوو سړو | چه ور کړی وو مونږ | یو ته په هغوی کښے | دوه باغونه | د انګورو | اوراګیر کړی وو مونږ دا دواړه

دوو کسانو مثال بیان کړه چه یو ته پکښ مونږ د انګورو دوه باغونه ور کړی وو او چار چاپیره موترینه

بِنَخْلٍ وَّجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ۝ كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ اٰتَتْ

په قجورو سره | اوپیدا کړی وو مونږ | په مینځ د هغے دواړو کښے | نور فصل | دواړو | باغونو به | ور کولے

د قجورو بوټی پیدا کړی وو او د دواړو (باغونو) په مینځ کښے مونږ نور پټی (فصلونه) جوړ کړی وو دے دواړه باغونو

اُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ مِّنْهُ شَيْـًٔا ۙ وَّفَجَّرْنَا خِلٰلَهُمَا نَهَرًا ۝

میوے خپلے | او نهٔ ځ کمولے | د هغے نه | هیڅ شے | اوجاری کړی وو مونږ | د هغے دواړو په مینځ کښے | یو نهر (لختے)

به پوره میوه ور کوله یو باغ هم په میوه ور کولو کښے کمی نه وو کړے . او د دواړو په مینځ کښے مونږ یو نهر جاری کړے وو

وَّكَانَ لَهٗ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهٖ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَنَا اَكْثَرُ

او وے | د هغه | میوے | پس وئویل | خپل ملګری ته | او ده | خبرے کولے د هغه سره | چه زه | زیات یم

او د دغه کس نور دولت هم وو . نو ده خپل ملګری ته په خبرو کښے اووئیل چه زما مال هم

مِنْكَ مَالًا وَّاَعَزُّ نَفَرًا ۝ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ

ستا نه | په مال کښ | اوزیات عزتمند یم | په ډله کښ | اودے داخل شو | باغ خپل ته | حال دا دے چه دے | ظلم کونکے وو

ستا نه زیات دے اوزما ډله لښکر هم ستا نه ډیر (مضبوط) دی . او دے (یوه ورځ) خپل باغ ته ور داخل شو او په

لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ۝ وَّمَآ اَظُنُّ

په ځان خپل | وئویل | زه ګمان نه کوم | چه هلاک به شی | دا | هیڅ کله | او زه ګمان نه کوم

(په شرک کولو سره) په ځان ظلم کونکے وو . وئویل چه زه دا ګمان نه کوم چه دا باغ به چرته هلاک شی او زما خیال دا دے

السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّيْ لَاَجِدَنَّ خَيْرًا

چه قیامت | راتلونکے دے | او که چرے | واپس کړے شوم زهٔ | رب خپل ته | نو خامخا به بیا موهم | ډیر غوره

چه قیامت به هیڅ کله را نه شی او که بالفرض زه خپل رب ته واپس لاړم نو هلته به هم ماته ددے باغ نه

مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ۝ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ اَكَفَرْتَ

دد مے نه | ځائے د ورتلو | اوویل | ده ته | ملګری خپل | او هغه | خبرے کولے دهمسره | چه آیا ته کفر کوے
بهتر ځائ ملاویږی. د ده ملګری ده ته په خبرو خبرو کښے اوویل چه آیا ته د هغه ذات سره د کفر معامله کوے

بِالَّذِیْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ

په هغه ذات | چه ته ئے پیدا کړے ئے | د خاورے نه | بیا | د نطفے نه | بیا ئے | برابر (جوړ) کړے ته
چه ته ئے د خاورے نه او بیا د نطفے نه پیدا کړے او بیا ئے درنه سم دم (ښائسته برابر) سړے

رَجُلًا ۝ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّیْ وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّیْٓ اَحَدًا ۝

سړے | لیکن (زه خو وایم چه) | هم هغه | الله تعالی | زمارب دے | او زه نه شریکوم | د رب خپل سره | هیڅ څوک
جوړ کړو؟ البته زما خو داعقیده ده چه هم الله تعالی زمارب دے او زه د خپل رب سره هیڅ څوک نه شریکوم

وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ

او وے نه | کله چه | ته داخل شوے | باغ خپل ته | چه وئیلے وے تا | چه (هغه کیږی) څه چه | او غواړی | الله
او ته چه کله خپل باغ ته ور داخلیږے نو هغه وخت تا داوے اونه ویل چه ماشاء الله (الله چه څه غواړی هغه کیږی)

لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا

نشته دے قوت | مګر | صرف د الله تعالی | که چرے | ته وینے ما | چه زه | کم یم | ستانه | په مال
او هیڅ تدبیر په را ښکلو د نفعے نشته مګر په توفیق د الله سره. او که ته داخیال کوے چه زما مال او اولاد ستانه کم دی

وَّوَلَدًا ۝ فَعَسٰى رَبِّیْٓ اَنْ يُّؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ

او اولاد کښے | نو نزدے ده | چه زمارب به | راکړی ماته | زیات غوره | ستا د باغ نه | او راوبه لیږی
نو (هیڅ پروا نشته) خکه چه امید نږدے چه مارب ماته به زمارب ستاد باغ نه بهتر څیز راکړی او ستا په دے باغ

عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا ۝ اَوْ يُصْبِحَ

په هغے باندے | یو آفت | د آسمان نه | نو شی به هغه | میدان | صفا | یا به شی
باندے به څه آسمانی آفت راولیږی چه په هغے سره په داخویه (صفا) میدان پاتے شی. یا به ئے اوبه کوزے

مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِيْعَ لَهٗ طَلَبًا ۝ وَاُحِيْطَ بِثَمَرِهٖ

اوبه د هغے | اوچے (خکته) | نو ته به هیڅ کله طاقت اونه لرے | د هغے | د تلاش | او تباه کړے شوے | میوے د هغهٔ
(ژورے) لاړے شی بیا به ئے ته تلاش قدرے هم نه شے کولے او (بیا وشوه داسے چه) د هغه په ټول دولت

فَاَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلٰى مَآ اَنْفَقَ فِيْهَا وَهِیَ

پس شروع شو هغه | چه مرورل ئے | دواړه لاسونه خپل | په هغه څه پسے | چه خرچ کړی ئے وو | په هغے باغ کښے | او هغه
باندے عذاب راغلو چه صباشو نو په داسے حالت کښے چه په باغ ئے څه خرچ کړی وو په هغے پسے ئے خپل لاسونه مرورل

خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا وَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِیْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّیْٓ

راغورځیدلے وو | په خپلو چتونو باندے | او هغه ویل | هائے افسوس | چه نه مے شریک کړے | د خپل رب سره
او باغ په خپلو چتونو باندے نسکور پروت وو او هغه اوویل کاش! چه د خپل رب سره مے

اَحَدًا ۝ وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

هیڅ څوک | او نه وه | د هغه دپاره | څه ډله | چه مدد څخه سره کړے وے | سوا | د الله تعالی نه

هیڅوک نه وے شریک کړے او (په دغه وخت کښے) د هغه سره څه داسے ډله هم نه وه چه مدد څخه سره کړے وے

وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ۝ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ هُوَ

او نه وو پخپله | بدله اخستونکے | په دا سے موقع | اختیار | یوا خے د الله تعالی دے | چه حق دے | هغه

او نه هغه پخپله بدله اخستلے شوه په دا سے موقع کښ (انسان ته پته او لګی چه) د مدد اختیار یوا خے الله تعالی ته حاصل دے

خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا ۝ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ

ډیر غوره دے | په ثواب ور کولو کښے | او ډیر غوره دے | په نتیجه ور کولو کښے | او بیان کړه | دوی ته | مثال

او هم هغه بهترینه بدله او بهترین انجام ور کونکے دے۔ او دے خلقو ته د دنیا د ژوند دا مثال هم

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ

د ژوند | دنیوی | چه په شان د هغه اوبو دے | چه مونږ ئے راوړوو | د آسمان (برہ) نه | نو ګډ ډډ راوخیژی

بیان کړه چه د دنیا دا سے ده لکه چه د آسمان نه مونږ اوبه (باران) راوورو نو په هغے سره

بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِيْمًا تَذْرُوْهُ الرِّيٰحُ ؕ

په هغے (اوبو) سره | بوټی (شینکے) | د زمکے | بیا شی هغه | ذره ذره | چه الوځوی ئے | هوا کانے

ښه کور شینکے د زمکے نه راوخیژی بیا دا سے چوره چوره شی چه هوا کانے ئے اخوا دیخوا الوځوی

وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا ۝ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ

او دے | الله تعالی | په هر څه باندے | ډیر قدرت لرونکے | مال | او ځامن | ښائست

او الله تعالی په هر څه پوره قادر دے۔ مال او ځامن خو ټش د دنیا د ژوند

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ

د ژوند | دنیوی دے | او باقی پاتے کیدونکی | نیک کارونه | ډیر غوره دی | په نزد | د رب ستا

ښائست دے او باقی پاتے کیدونکی نیک کارونه د ثواب په لحاظ ستا د رب په نزد ډیر بهتر دی او د امید په لحاظ هم

ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ۝ وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْاَرْضَ

په ثواب کښے | او ډیر غوره دی | په امید کښے | او په هغه ورځ | چه مونږ به روان کړو | غرونه | او ته به وینے | زمکه

ډیر ښه دی او هغه ورځ ته سوچ او کړه په کومه ورځ به چه مونږ دا غرونه روان کړو او ته به د زمکه بلکل هواره داګه او وینے

بَارِزَةً ۙ وَّحَشَرْنٰهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ اَحَدًا ۝ وَعُرِضُوْا

داګه (هوار میدان) | او مونږ به راجمع کړو دوی | پس پرے به نه پرږدو مونږ | د دوی نه | یو تن هم | او دوی به پیش کړے شی

او مونږ به د اټول خلق راجمع کړو او هیڅ یو کس به پکښے پرے نه پرږدو او ټول به ستا رب ته په صفونو کښے ولاړ پیش کړے شی

عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا ؕ لَقَدْ جِئْتُمُوْنَا كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۭ

ستا رب ته | په قطار کښے | یقیناً | تاسو مونږ ته راغلئ | لکه څنګه چه | مونږ پیدا کړی وئ تاسو | په اول | ځل

(او ورته به اووئیلی شی چه آخر) تاسو زمونږ خوا له هم هغه شان راغلئ څنګه چه مونږ تاسو په اول ځل پیدا کړی وئ

بَلْ زَعَمْتُمْ اَلَّنْ نَّجْعَلَ لَكُمْ مَّوْعِدًا ۝ وَوُضِعَ الْكِتٰبُ

بلکه | تاسو (خو) گمان کولو | چه هیڅ کله به مقرر نه کړو مونږ | ستاسو دپاره | څه نیته (میعاد) | او کیښودلے به شی | عملنامه

بلکه ستاسو خو دعوی وه چه مونږ ستاسو دپاره د قیامت څه وخت نه دے مقرر کړے او عملنامے به مخامخ کیښودلے شی

فَتَرَى الْمُجْرِمِيْنَ مُشْفِقِيْنَ مِمَّا فِيْهِ وَيَقُوْلُوْنَ يٰوَيْلَتَنَا

پس ته به وینے | مجرمان | یریدونکی | دهغه څه نه | چه په هغے کښے وی | او وائی به | هائے افسوس

نو دغه وخت به ته مجرمان گورے چه دهغه خپلو بدو عملونو نه به یریږی او وائی به چه هائے زمونږ بدنصیبه!

مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً اِلَّآ

څه وجه ده | د دے | کتاب (عملنامے) | چه نه پریږدی | یَوه وړه گناه | او نه لویه گناه | مگر

دا لاځنکه کتاب دے چه نه ئے وړه گناه پریښودلے ده او نه غټه بلکه ټوله

اَحْصٰىهَا ۚ وَوَجَدُوْا مَا عَمِلُوْا حَاضِرًا ۭ وَلَا يَظْلِمُ

راګیره کړے ده | او دوی به بیا مومی | هغه څه | چه کړی ئے وو | حاضر (خپل مخامخ) | او ظلم به نه کوی

ئے لیکلی دی. او دوی به خپل عملونه خپلے مخے ته موجود اوویني او ستاسو رب به په هیڅ چا

رَبُّكَ اَحَدًا ۝ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰۗىِٕكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا ع

رب ستا | په هیڅ چا | او کله چه | اووایل مونږ | فرشتو ته | (چه) سجده او کړئ | آدم ته | نو سجده وکړه هغوی

باندے ظلم نه کوی۔ او هغه وخت هم یاد کړه کله چه مونږ فرشتو ته اووایل چه آدم ته سجده او کړئ

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ ۭ

سوا | د ابلیس نه | وو هغه | د پیریانو نه | نو نافرمانی ئے اوکړه | د حکم | د رب خپل نه

نو د ابلیس نه سوا نورو ټولو سجده اوکړه. هغه د پیریانو نه وو (نو) د خپل رب د حکم نه ئے نافرمانی اوکړه.

اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَاۗءَ مِنْ دُوْنِيْ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ۭ

آیا نو نیسئ تاسو دے | او اولاد ددهٗ | دوستان | زما نه سوا | او حال دا دے چه دوی | ستاسو | دشمنان دی

آیا بیا هم تاسو زما په ځای دے او د ده اولاد دوستان جوړوئ حالانکه هغوی ستاسو دشمنان دی

بِئْسَ لِلظّٰلِمِيْنَ بَدَلًا ۝ مَآ اَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ

ډیر بد دے دے | د ظالمانو دپاره | په بدل کښے | ما نه ووحاضر کړی دوی | پیدائش | د آسمانونو

د ظالمانو دپاره د شیطان ډیر بد دے د الله تعالیٰ په بدله کښ. ما خو دوی نه د اسمانونو او د زمکے پیدائش په وخت

وَالْاَرْضِ وَلَا خَلْقَ اَنْفُسِهِمْ ۠ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّيْنَ

او د زمکے ته | او نه پیدائش | د نفسونو د دوی ته | او نه یمزه | نیوونکے | گمراه کونکو لره

حاضر کړی وو او نه پخپله د دوی د پیدائش په وخت کښ، او زه گمراه کونکی خلق خپل مددگاران نه جوړوم۔

عَضُدًا ۝ وَيَوْمَ يَقُوْلُ نَادُوْا شُرَكَاۗءِيَ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

مددگار | او په هغه ورځ | چه اوبه وائی هغه (الله) | آواز او کړئ | زما شریکانو ته | هغه | چه تاسو پرے گمان کولو (معبودانو)

او (هغه ورځ یاده کړه چه کومه ورځ چه) الله تعالیٰ فرمائی چه اوس وغواړئ ملاتړ هغه شریکان چه تاسو ئے ملاتړ ته شرکت او دخدائیت په دعوے کولے

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ مَّوْبِقًا ۝

بس حوی به راولی هغوی | نو هیڅ جواب به ورنکړی هغوی | دوی ته | او مونږ به جوړ کړو | د دوی په مینځ کښے | یو ځای د تباهۍ

نو دوی به ځے راولی خو هغوی به هیڅ جواب ورنه کړی. او مونږ به د دوی په مینځ کښے د هلاکت یو ځای مقرر کړو

وَرَاَ الْمُجْرِمُونَ النَّارَ فَظَنُّوٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوهَا

او اوبه وینی | مجرمان | اور لره | نو گمان به او کړی | چه بیشکه دوی | (خو) ورپریوتونکی دی دے ته

او مجرمان چه کله د دوزخ اور وینی نو یقین به ځے او شی چه دوی خو اوس هم دے ته پریوتونکی دی

ع ۱۱ وَلَمْ يَجِدُوا عَنْهَا مَصْرِفًا ۝ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا فِي هٰذَا الْقُرْاٰنِ

او بیا به نه مومی دوی | د هغے نه | بل ځای د اوړیدلو | او یقیناً | مونږ تسما تسم بیان کړی دی | په دے | قرآن کښے

او دوی به د ځان د پاره د بچ کیدو څه ځای بیا نه مومی. او مونږ خو په دے قرآن کښے

لِلنَّاسِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَكَانَ الْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا ۝

د خلقو د پاره | هر قسم | مثال | او دے | انسان | زیات | د هر څیز نه | جګړه کونکے

د خلقو د فائدے د پاره قسما قسم مضمونونه بیان کړل (خو بیا هم) انسان د هر څیز نه سخت زیات جګړه مار دے

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰى

او نه دی منع کړی | خلق | د دے نه | چه ایمان راوړی | کله چه | راغے دوی ته | هدایت

او کله چه خلقو ته هدایت راغے نو (اوس) د ایمان راوړلو او د خپل رب نه د معافۍ غوښتلو نه صرف دے خبرے

وَيَسْتَغْفِرُوا رَبَّهُمْ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ

او چه بخښنه او غواړی | د رب خپل نه | مګر | دے (خبرے) | چه راشی دوی ته | طریقه | دوړو مبنو

منع کړی دی چه دوی ته هم د پخوانو په شان واقعات د استیصالی عذاب راشی

اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ۝ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ

یا راشی دوی ته | عذاب | مخامخ | او نه رالیږو مونږ | پیغمبران | مګر | زیری ورکونکی

یا ورباندے جزوی عذاب بلکل مخامخ راشی. او مونږ پیغمبران صرف د دے د پاره رالیږو چه مؤمنانو ته زیری ورکړی

وَمُنْذِرِيْنَ ۚ وَيُجَادِلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا

او یرہ ورکونکی | او جګړه کوی | هغه خلق | چه کفر ځے کړے دے | په ناحقه | د دے د پاره چه او نړوی

او کافران او ویروی او کافران خلق په باطله (په ناحقه) صرف د دے د پاره جګړے کوی چه د دے په ذریعه حق کمزورے

بِهِ الْحَقَّ وَاتَّخَذُوٓا اٰيٰتِيْ وَمَآ اُنْذِرُوْا هُزُوًا ۝ وَمَنْ اَظْلَمُ

پدے سره | حق | او نیسی دوی | آیتونه زما | او هغه څه | چه دوی پرے ویرولی شو | تو ے | او څوک دے | زیات ظالم

(بے اثره) کړی او زما مونږ آیتونو او د هغه نه چه دوی ویرولی شوی وو هغے سره تو ے شروع کړی او د هغه چا نه بل څوک ظالم

مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ فَاَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا

دهغه چانه | چه نصیحت ورته کړے شی | په آیتونو | د رب خپل سره | نو مخ واړوی | د هغے نه | او هیر کړی | هغه څه

څوک کیدے شی چه د خپل رب په آیتونو ورته نصیحت ورکړے شی او هغه ترے (بیا هم) مخ واړوی او خپل د کنړاه عملونه

قَدَّمَتْ يَدٰهُ ۭ اِنَّا جَعَلْنَا عَلٰي قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ

چه مخکے لیږلی دی | لاسونو دهغهٔ | بیشکه مونږ | اچولی دی | په زړونو د دوی باندے | پردے | چه پوه هغی په هغے (قرآن)

هیر کړی حقیقت دادے چه مونږ (د دوی د بد عملونو دوے) د دوی په زړونو باندے دا سے پردے لګولی دی چه

وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۭ وَاِنْ تَدْعُهُمْ اِلَى الْهُدٰى فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا

او د دوی په غوږونو کنښے | درونده والے (پوج) | او که چرے ته رابلے دوی | هدایت ته | نو هیڅ کله به دوی لار اونه مومی

دهغے په وجه په قرآن نه پوهیږی او د دوی غوږونه مونږ درانه کړی دی. او که ته دوی د هدایت طرف ته رابلے نو بیا هم

اِذًا اَبَدًا ۝ وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ۭ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ

دغه وخت | همیشه | او رب ستا | بخښونکے | رحمت والا دے | که چرے | هغه را نیولے دوی

دوی سمه لار بلکل نه اختیاروی۔ او ستا رب ډیر معافی کولکے ډیر رحمت والا دے که الله تعالیٰ دا خلق د خپلو

بِمَا كَسَبُوْا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ۭ بَلْ لَّهُمْ

په وجه د هغه عملونو | چه دوی کړی دی | نو زر به ئے ورکړے وے | دوی ته | عذاب | بلکه | د دوی د پاره

بد و عملونو په وجه (فوری) نیولے نو ډیر زر به ئے ورله عذاب ورکړے وو خو د دوی د پاره ئے یو وخت

مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ مَوْىِلًا ۝ وَتِلْكَ الْقُرٰٓى

یوه داسے نیټه ده | چه هیڅ کله به دوی اونهٔ مومی | مخکښ د هغے نه | ځای د پناه | او د هغه | کلی دی

مقرر کړے دے چه دوی به د هغے نه د بچ کیدو هیڅ د پناه ځای اونهٔ مومی. او دا ټول کلی چه وران پراته دی

اَهْلَكْنٰهُمْ لَمَّا ظَلَمُوْا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِمْ مَّوْعِدًا ۝ ع ۱۰

چه مونږ هلاک کړل هغوی | کله چه هغوی | ظلم او کړو | او مقرر کړے وه مونږ | د هغوی د هلاکت د پاره | یوه نیټه

کله چه دوی ظلم اختیار کړو نو مونږ هلاک کړل او د دوی د هلاکت د پاره هم مونږ یو وخت مقرر کړے وو

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰىهُ لَآ اَبْرَحُ حَتّٰٓى اَبْلُغَ مَجْمَعَ

او کله چه | اوویل | موسیٰ | خپل ځوان (خادم) ته | زه نه پریږدم (سفر) | تر دے | چه اورسیږم | ځای د جمع کیدو

او هغه وخت یاد کړه کله چه موسیٰ خپل خادم ته اوویل چه زه خو به تر هغے پورے خپل سفر جاری ساتم تر څو چه د دوو سمندرو

الْبَحْرَيْنِ اَوْ اَمْضِيَ حُقُبًا ۝ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا

د دوؤ دریاوبونو ته | یا به روان یم زه | ډیره زمانه | پس هر کله | چه دواړه ورسیدل | ځای د جمع کیدو | د دواړو ترمینځه

دیو ځای کیدو ځای ته اونهٔ رسیږم کنښے نو څو کلونه به روان اوسم نو کله چه د سمندرونو دیو ځای کیدو ځای ته دواړه

نَسِيَا حُوْتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ۝ فَلَمَّا

نو هیر کړو دواړو | خپل مهے (کب) | پس هغه اونیوله | لار خپله | په دریاب کښې | سورنگ | پس هر کله
اور سیدل نو مهی ترے نه هیر شو او هغه په سمندر کښے د سورنگ په شان لاره جوړه کړه. بیا چه کله

جَاوَزَا قَالَ لِفَتٰىهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا ۫ لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا

چه هوار هواوړیدل | نووے ټویل | خادم خپل ته | (چه) راوړه مونږ ته | ناشته زمونږ | یقیناً | اومونږلو مونږ | د سفر خپل نه
دواړه دَ مجمع البحرین نه مخکے لاړل نو موسیٰ خپل شاګرد ته اوویل چه زمونږ ناشته راوړه مونږ خو په دے

هٰذَا نَصَبًا ۝ قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّيْ

دا | ستړیوالے | اوویل هغه | آیا ته خبر ئے | کله چه | مونږ پناه واغستله | د ګټ خوا ته | نو بیشکه ما
روستنی سفر کښے ډیر ستړی شو هغه ورته اوویل ته خبر نه ئے چه کله مونږ د ګټے خوا ته ناست وو نو ما نه

نَسِيْتُ الْحُوْتَ ۫ وَمَآ اَنْسٰنِيْهُ اِلَّا الشَّيْطٰنُ اَنْ اَذْكُرَهٗ ۚ

هیر کړو | مهے | او هیر نه کړو زما نه دا | مکر | شیطان | چه یاد کړے مے وے دغه
هغه مهی هیر شو او تاته دهغے رایاد ول زما نه شیطان هیر کړل. او هغه مهی ډیر په

وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ۝ قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا

او هغه ونیوله | لار خپله | په دریاب کښے | ناآشنا | هغهٔ اوویل | هم دا | هغه ځائ دے | چه مونږ
عجیبه طریقه سره په سمندر کښې ځان دپاره لار جوړه کړه. موسیٰ ورته اوویل هم دا دے (مقام)

نَبْغِ ۚ فَارْتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا ۝ فَوَجَدَا عَبْدًا

لټوو | نو دواړه راواپس شول | د خپلو قدمونو په نخښو | واپس تلونکی | نو دواړو اومونډلو | یو بنده
تلاش کښے خو مونږ وو کنه، نو دواړو د خپلو خپو قدمونه کتل او واپس راروان شول. نو زمونږ د بندګانو نه

مِّنْ عِبَادِنَآ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا

د بندګانو زمونږ نه | چه ورکړی وو مونږ هغه ته | رحمت | د خپل طرف نه | اوښودلی وو مونږ هغه ته | د خپل طرف نه
ورته یو بنده ملاو شو چه مونږ د خپل طرف نه خصوصی رحمت ورکړے وو او د خپل طرف نه مو ورله علم (خارق للعادة)

عِلْمًا ۝ قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ

علم | اوویل | هغه ته | موسیٰ | آیا | زه ستا تابعداری کوله شم | په دے شرط | چه ته به تعلیم راکوے ما له
ورکړے وو. موسیٰ هغه ته اوویل چه زه تاسره په دے غرض پاتے کیدے شم چه تاته چه کوم

مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا ۝ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ

دهغه څه نه | چه بنودلے شوی دی تاته | دهدایت خبرے | اوویل هغه | بیشکه ته | هیڅ کله طاقت نه لرے | ما سره
علم درکړے شوے دے دهغے نه ماته هم دښیګړے څه خبرے اوښائے هغه ورته اوویل ته به ماسره په پاتے کیدو

صَبْرًا ۝ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى مَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ۝

د صبر کولو | او څنګه به | ته صبر او کړے | په هغه څه | چه احاطه نه ده کړے تا | په هغے باندے | د خبر تیا

صبر اونه کړے شاوخوا کوموخبروچه تاته پوره واقفیت نشته (اوظاهرًا ستاد دین نه خلاف ښکاری) په هغے ته څنګه صبر کولے شے؟

قَالَ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَّلَآ اَعْصِيْ لَكَ

اوویل هغه | زړه چه ته به یې ما سره | که چرے | اوغواړی | الله | صبر ناک | اوزه به نافرمانی نه کوم | ستا

موسیٰ علیه السلام ورته اوویل ان شاء الله تعالیٰ ته به ما صبر کونکے ییې اوزه به ستا دیو حکم نافرمانی هم نه کوم

اَمْرًا ۝ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ فَلَا تَسْـَٔلْنِيْ عَنْ شَيْءٍ

دیو کار هم | اوویل هغه | نو که چرے | ته تابعداری کوے زما | نو تپوس مه کوه زمانه | د هیڅ یو شیز

حضرؑ ورته اوویل چه بنه! که ته ما سره پاتے کیدل غواړے نو څو پورے چه ما پخپله تاته دیو شیز خبر نه وی درکړے

ع ۱۰ حَتّٰٓى اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ۝ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى اِذَا رَكِبَا

تردے پورے | چه زه بیان کړم | تاته | دهغے نه | څه ذکر | پس دواړه روان شول | تردے | چه کله | سواره شول دواړه

مانه به دهغے باره کښے تپوس نه کوے بس دواړه روان شول تردے چه کله په یوه کشتۍ کښے سواره شول

فِي السَّفِيْنَةِ خَرَقَهَا ۭ قَالَ اَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا ۚ

په کشتۍ کښے | نو سوړے کړه هغه | اوویل (موسیٰؑ) | آیا تاسوړۍ کړه دا | دے دپاره چه ډوب کړے | دده سواره (خلق)

نو حضر په هغے کښے یو سوړے اوکړو. موسیٰ علیه السلام ورته اوویل آیا تا په دیکښ سوړے اوکړو چه دا سواره خلق

لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا اِمْرًا ۝ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ

یقیناً | راتلل دِاوکړل | یو کار | ډیر عجیبه ته | اوویل هغه | ایانه ووویلی ما تاته | (چه) بیشکه ته | هیڅ کله طاقت نه لرے

ډوب کړے یقیناً تا خو ډیر خطرناک (عجیبه) کار اوکړو. هغه ورته اوویل چه آیا (ولے) ما تاته نه ووویلی چه ته

مَعِيَ صَبْرًا ۝ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِيْ بِمَا نَسِيْتُ

ما سره | د صبر کولو | اوویل هغه | ته مهٔ نیسه ما | په هغه څه | چه ما هیر کړی دی

زما سره صبر نه شے کولے. موسیٰؑ ورته اوویل چه زمانه هیر شوی وو. نو په هیره ما مهٔ نیسه

وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ اَمْرِيْ عُسْرًا ۝ فَانْطَلَقَا ۫ حَتّٰٓى اِذَا

اومه راڅوه په ما باندے | زما د کار نه | سختی | پس (بیا) دواړه روان شول | تردے | چه کله

او په دے معامله کښے زما سره ډیره سختی مهٔ کوه. هغه دواړه بیا روان شول تردے چه د هغوی ملاقات

لَقِيَا غُلٰمًا فَقَتَلَهٗ ۙ قَالَ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةًۢ


دواړه ملاوشول | دیو هلک سره | نو وئے وژلو هغه | اوویل (موسیٰ) | آیا تا اووژلو | یو کس (نفس) | پاک


دیو هلک سره اوشو نو حضرؑ هغه اووژلو موسیٰ علیه السلام ورته اوویل چه آیا تا یو پاک نفس (بے گناه کس) اووژلو

بِغَيْرِ نَفْسٍ ۭ لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا نُّكْرًا ۝

بے دبدلے (قصاص) | دیو نفس نه | یقیناً | تا راتلهٔ اوکړل | یو کار | ډیر بد (ناخوښه) ته

حالانکه هغه څوک وژلی هم نه وو، دا خو تا ډیر خراب کار اوکړو.


بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
مُحَمَّدٌ
اَحْمَدُ
حَامِدٌ
مَحْمُوْدٌ
قَاسِمٌ
عَاقِبٌ
فَاتِحٌ
شَاهِدٌ
حَاشِرٌ
مُتَقِّيٌ
بَشِيْرٌ
دَاعٍ
شَافٍ
هَادٍ
مَاحٍ
مُنْجٍ
نَاهٍ
رَسُوْلٌ
نَبِيٌّ
اُمِّيٌّ
تِهَامِيٌّ
هَاشِمِيٌّ
اَبْطَحِيٌّ
عَزِيْزٌ
حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ
رَءُوْفٌ
رَحِيْمٌ
طٰهٰ
مُجْتَبٰى
طٰسٓ
مُرْتَضٰى
مُتَوَسِّطٌ
مُصْطَفٰى
يٰسٓ
اَوْلٰى
مُزَّمِّلٌ
وَلِيٌّ
مُدَّثِّرٌ
مَتِيْنٌ
مُصَدِّقٌ
طَيِّبٌ
نَاصِرٌ
مَنْصُوْرٌ
سَيِّدٌ
اَمِرٌ
حِجَازِيٌّ
نَزَارِيٌّ
صَادِقٌ
اَمِيْنٌ
عَبْدُاللّٰهِ


لا الٰہ الا اللہ محمد رسول اللہ
کلیم اللہ
حبیب اللہ
نجی اللہ
صفی اللہ
خاتم النبیاء
عادل
باسر
شکور
مقتصد
رسول الرأفۃ
منیر
مبلغ
خطیب
عالم
حق
مبین
مطیع
اول
اخر
ظاہر
باطن
ناطق
رسول الرحمۃ
منیب
حکیم
فصیح
مذکر
مطہر
قریب
خلیل
عربی
جواد
صاحب
عادل
شہید
قائم
شفیع
مؤمن
مضری
حافظ
غنی
حجۃ
مختار
نور
نبی الرحمۃ
رسول الملاحم
جامع
فتاح
امام
قرشی